# ملتونه ولې ماتېږي؟

## د ځواک، بېوزلۍ او هوساینې ریښې

دارون عجم اوغلو او جېمز رابنسن

ژباړن: محمد نظیم سمون

Afghan Salar Library



Downloaded By: Afghan Salar Library

# ملتونه ولې ماتېږي؟

## د ځواک، بېوزلۍ او هوساينې ريښې

دارون عجم اوغلو او جېمز رابنسن

پښتو ژباړه:

محمد نظيم سمون

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



# لړلیک

سریـزه........................................................................................13

**لومړی څپرکی........................................................................19**

ډېر نږدې، خو ډېر توپیر.........................................................................19

د ریو ګرنډې سیمې اقتصاد.................................................... 19

له 'کجامارکا' څخه........................................................... 26

د جېمز ټاون په لور........................................................... 37...

د دوو اساسي قوانینو داستان.................................................. 53

د یوې ایډیا لړل، د شرکت جوړول او د پور اخیستل............................ 59

د تړلتیا په مسیر کې بدلون................. **Error! Bookmark not defined.**

یو میلیارد او که دوه میلیارده ډالر؟............................................ 70

د اقتصادي نا انډولۍ د نظریې په لور............................................ 73

**دویم څپرکی........................................................................81**

له کاره لوېدلې تیورۍ...........................................................................81

د نړۍ یو انځور.................................................................. 81

د جغرافیې فرضیه............................................................... 85

د کلتور فرضیه................................................................... 97

د ناپوهۍ فرضیه................................................................ 109

**درېیم څپرکی........................................................................117**

د بېوزلۍ او هوساینې رامنځته کول.................................................117

د ځمکې د ۳۸ درجو اقتصاد.................................................. 117

پرانیستي اقتصادي بنسټونه او زېبښونکي اقتصادي بنسټونه.................... 123

د اقتصادي هوساینې ماشین.................................................... 128

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



پرانیستي او زېښبونکي سیاسي بنسټونه ........... ............................... 132
ولې تل د هوسایني لار نه غوره کېږي؟............ ............................... 137
د کانگو اوږد رنځ............................... ............................... ...... 144
د زېښبونکو سیاسي بنسټونو تر سیوري لاندې وده ............................ 149

**ځلورم څپرکی ..........................................................................157**

کوچني توپیرونه او د تاریخ حساسې مقطعې:.............................................157
د تاریخ وزن ...........................................................................157

هغه نړۍ چې طاعون رامنځته کړه ............................... ................. 157
د پرانیستو بنسټونو جوړول ............................... ......................... 164
کوچني؛ خو مهم توپیرونه............................... ........................... 168
د تاریخ پېښېدونکې واقعې ............................... ......................... 177
د ځمکې لوړې ژورې............................... ............................... . 181

**پنځم څپرکی ...........................................................................196**

ما راتلونکې لیدلې او روښانه ده ........................................................196
تر زېښبونکو بنسټونو لاندې وده .......................................................196

ما راتلونکې لیدلې ............................... ............................... ..... 196
د کاسای پر غاړو ............................... ............................... ...... 209
اوږد اوړی............................... ............................. ............. 214
بې ثباته زېښناک............................... ............................... ....... 224
ستونزه څېرته ده؟............................... ............................... ....... 233

**شپږم څپرکی ...........................................................................237**

جلا کېدل.................................................................................237

وینز ښار ولې موزیم شو؟............................... ........................... 237
رومي ښېگڼې............................... ............................... ......... 247

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



...رومي بدګنې ................................................ 257
له ویندېولاندا څخه نور لیکونه نه راځي................................ 268
د جلا کېدو مسیرونه............................................ 272
د لومړنۍ اقتصادي ودې پایلې ........................................ 279
## اووم څپرکی ............................................ 283
د عطف ټکی ............................................ 283
له نساجانو سره ستونزه ............................................ 283
دوامداره سیاسي شخړې............................................ 286
پرتمین انقلاب ............................................ 295
صنعتي انقلاب............................................ 305
ولې په برېتانیا کې؟ ............................................ 321
## اتم څپرکی ............................................ 326
د پراختیا پر وړاندې خنډونه ............................................ 326
پر چاپ بندیز............................................ 326
کوچني توپیرونه چې مهم وو............................................ 333
له صنعت څخه وېره ............................................ 339
پر بېړۍ چلونې بندیز............................................ 352
د 'پرسټر جان' استبداد............................................ 357
د 'سامال' اولاده............................................ 362
تلپاتې وروسته پاتې والی ............................................ 369
## نهم څپرکی ............................................ 372
معکوسه پراختیا............................................ 372
درمل او ټولوژنه............................................ 372
ډېره مروجه پدیده ............................................ 379

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



دوه ګونی اقتصاد ....... ................................ ................................ 391
معکوسه پراختیا ....... ................................ ................................ 408
**لسم څپرکی ................................................................ 413**
د هوساینې خپرول.................................................................. 413
د مجرمینو جزیره ....... ................................ ................................ 413
د خنډونو ماتول: د فرانسې انقلاب................................ ................. 426
د انقلاب خپرېدل ................................ ................................ ...... 434
د موډرنېزم په لور ګامونه................................ ................................ 442
د نړیوالې نا انډولۍ رېښې ................................ ........................... 449
**یوولسم څپرکی ................................................................ 454**
سپېڅلې کړۍ ........................................................................ 454
تور قانون................................ ................................ ............... 454
د ولسواکۍ سوکه مزل ................................ ................................ 463
له 'ټرستانو' سره مبارزه................................ ................................ 473
له سترې محکمې سره ټکر ................................ ........................... 482
مثبت غبرګون (فیډبک) او سپېڅلې کړۍ ................................ ......... 490
**دولسم څپرکی................................................................ 493**
خبیثه کړۍ........................................................................... 493
تاسو نور نه شئ کولای چې په اورګاډي کې بو ته لاړ شئ..................... 493
له انکومینډا څخه د ځمکې تر غصب پورې................................ ....... 508
له مریتوبه تر جیم کرو ................................ ................................ 516
د اولیګارشۍ اوسپنیز قانون................................ ........................ 527
منفي غبرګون او خبیثه کړۍ ................................ ......................... 535
**دیارلسم څپرکی ................................................................ 540**

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



نن ورځ ملتونه ولې ماتېږي؟ ........................................................................ 540

په زیمبابوې کې د لاټرۍ ټکټ څنګه وګټو؟........................................ 540

د ماشومانو جګړه ................................................................ 548

څوک دولت دی؟ ................................................................ 553

اېل کوراليټو ................................................................ 560

نوی استبداد ................................................................ 567

د مالوچو پاچا ................................................................ 571

د مصر غمیزه ................................................................ 577

ملتونه ولې ماتېږي؟ ................................................................ 583

**څوارلسم څپرکی** ................................................................ 588

د طلسم ماتول ................................................................ 588

درې افريقايي مشران ................................................................ 588

په سوېل کې د زېبښناک پای ................................................................ 602

د چین بیا ظهور ................................................................ 607

**پنځلسم څپرکی** ................................................................ 619

د هوساینې او بېوزلۍ په اړه پوهېدل ................................................................ 619

تاریخي ريښې ................................................................ 619

د استبداد تر سیوري لاندې د اقتصادي ودې جذابیت ........................ 632

هوساینه رامنځته کېږي، جوړېږي نه ................................................................ 645

د بهرنیو مرستو ناکامي ................................................................ 651

پیاوړتیا ................................................................ 656

ماخذونه ................................................................ 666

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



# سریـزه

دا کتاب د نړۍ د شتمنو هېوادونو (د امریکا متحده ایالتونو، برېټانیا او جرمني) او د بېوزلو هېوادونو (د افریقا جنوبي صحرا، مرکزي امریکا او سوېلي اسیا) د عوایدو او د ژوند د معیارونو تر منځ د ژورو توپیرونو په اړه بحث کوي. همدا اوس چې د کتاب سریزه لیکو، شمالي افریقا او منځنی ختیځ د 'عرب پسرلي' پاڅونونو په سر اخیستی دی. دا پاڅونونه هغه وخت پیل شول، کله چې د ۲۰۱۰ کال د ډسمبر پر ۱۷ مه په تونس کې یوه ځوان غریبکار «محمد بوعزیزي» د حکومت د ناوړه چلند په غبرگون کې ځان ته اور واچاوه. د تونس ولسمشر «زین العابدین بن علي» د ۲۰۱۱ کال د جنورۍ پر څوارلسمه له واکه گوښه شو، خو په تونس کې د ځانگړې واکمنې ډلې پر وړاندې د انقلاب څپې چې نه مهارېدونکې ښکارېدې، پراخې شوې او د منځني ختیځ نورو برخو ته هم وغځېدې. د ۲۰۱۱ کال د فبرورۍ په ۱۱ مه مصر هم د پاڅون تر څپو لاندې راغی او حسن مبارک چې پر دغه هېواد یې څه باندې دېرش کاله حکومت کړی و، را و پرځول شو. د بحرین، لیبیا، سوریې او یمن برخلیک تر اوسه [د کتاب تر چاپ پورې] روښانه نه دی. په دې هېوادونو کې د خلکو د نا رضایتۍ لامل بېوزلي ده. د یوه مصري وگړي منځنی عاید په امریکا کې د یوه کس د منځني عاید ۱۲ سلنه جوړوي او په دې هېواد کې د عمر اوسط هم د امریکا په پرتله لس کاله کم دی. د مصر ۲۰ سلنه وگړي له سختې بېوزلۍ کړېږي. که څه هم د امریکا متحده ایالتونو او مصر تر منځ توپیر هیښوونکی دی، خو دا توپیر د نړۍ د نورو بېوزلو هېوادونو لکه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



شمالي کوريا، سيريليون او زيمبابوې په پرتله ډېر لږ دی؛ دا هغه هېوادونه چې د نړۍ کابو نیمايي نفوس په ځان کې را نغاړي. ولې مصر د امريکا متحده ايالتونو په پرتله دومره بېوزله دی؟ څه شی دي چې د مصر د هوسايني مخه يې نيولې؟ ايا بېوزلي نه بدلېدونکې پديده ده او کولای شو چې له منځه يې يوسو؟ د دې پوښتنو د ځوابولو لپاره غوره ده چې په خپله د مصريانو له خولې يې واورو او پر دې پوه شو چې هغوی ولې د مبارک د رژيم پر ضد راپاڅېدل. ۲۴ کلن «نوحه حامد» چې په قاهره کې د سوداګريزو اعلاناتو له يوې ادارې سره کار کوي، په تحرير ميدان کې د لاريون په اړه خپل نظر دا ډول بيانوي:«موږ له فساد، ظلم او د زده کړو له ناوړه وضعيت څخه کړېږو. موږ له يوه فاسد نظام سره مخ يوو چې بايد بدل شي.» په تحرير ميدان کې د فارمسۍ پوهنځي شل کلن محصل مصعب الشامي وايي:«هيله لرو چې د روان کال تر پايه يو منتخب حکومت ولرو، ازادۍ خوندي شي او هغه فساد ته چې ټول هېواد يې په سر اخيستی، د پای ټکی کېږدو.» په تحرير ميدان کې راټول شوي معترضين په يو غږ په حکومت کې د فساد پر ضد او د عامه خدمتونو او برابرو فرصتونو د نشتوالي په اړه شعارونه ورکوي. هغوی په ځانګړې توګه د زور زياتي او د سياسي ازاديو د نه شتون پر وړاندې اعتراض کوي. د اټومي انرژۍ د نړيوالې ادارې پخواني مشر محمد البرادعي د ۲۰۱۱ کال د جنورۍ په ۱۳ مه پر خپل ټويټر وليکل؛

ټونس: ظلم+د ټولنيز عدالت نه شتون+ د سوله ييز بدلون پر مخ پراته خنډونه = يو ساعتي بم.

مصريان او ټونسيان د سياسي حقونو نشتوالی، د خپلو اقتصادي ستونزو اصلي لامل ګڼي. د لاريون يو تن سمبالوونکي «وايل خليل»

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



چې د سافټ وېر انجینیر او بلاګر هم و، د لاریونوالو غوښتنې په یوه نوملړ کې منظمې کړې. په دې نوملړ کې ۱۲ غوښتنې شاملې وې چې تر ډېره یې پر سیاسي بدلونونو ټینګار کاوه او یوازې د مزد د لوړولو موضوع د اوږد مهالو غوښتنو په ډله کې راتله. د مصریانو په باور هغه څه چې دوی یې وروسته پاتې کړي، فاسد او ناکاره دولت دی او په یوه داسې ټولنه کې ژوند کوي چې خلک له خپلو وړتیاوو، انګېزو، نوښتونو او پوهې ګټه نه شي پورته کولای. هغوی همدارنګه په دې باور دي چې دا ټولې ستونزې سیاسي ریښه لري. ټولې هغه اقتصادي ناخوالې او ستونزې چې دوی ور سره لاس ګرېوان دي، د یوې کوچنۍ ډلې له لوري د واک انحصار او د هغوی له ناوړه سیاستونو څخه سرچینه اخلي. هغوی دې نتیجې ته رسېدلې چې لومړی باید دا وضعیت بدل کړي. خو کله چې په مصر او تونس کې د پاڅونونو د عواملو په اړه خبرې کېږي، مبصرین او پوهان په دې اړه ډېر متفاوت نظریات وړاندې کوي. ځینې کسان د مصر بېوزلي له جغرافیایي عواملو سره تړي او ادعا کوي چې دغه هېواد د شاړو ځمکو او کافي ورښتونو د نشتوالي له امله کرنیز محصولات نه لري او بېوزله دی. ځینې نور بیا د مصریانو کلتور ته ګوته نیسي او هغه د اقتصادي پرمختګ او هوساینې پر وړاندې خنډ ګڼي. د هغوی په باور، مصریان هغه کاري اخلاق او کلتوري ښېګڼې نه لري چې نور ملتونه یې هوسا کړې دي او د دې پر ځای یې پر عقیدوي مسایلو ډېره تکیه کړې ده، چې دغه کار د اقتصادي پرمختګ مخه نیولې. دریېم نظر چې د اقتصاد پوهانو او پالیسو جوړوونکو تر منځ دود دی، دا دی چې مصري واکمنان نه پوهېږي چې د خپل هېواد د هوساینې او شتمن کولو لپاره څه وکړي او په وینا یې اوسنی وضعیت

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



د مصر د واکمنانو د ناسمو تګلارو او سیاستونو له امله دی. دا نظریه زیاتوي چې که د مصر مشرانو غوره مشورې او لارښوونې عملي کړې وای، نو اوس به یې هېواد هوسا وای. دغه واقعیت ته په کتو چې په مصر کې د سیاسیونو یوې کوچنۍ ډلې چې ځانونه یې د ټولنې د لوی اکثریت په بیه شتمن کړل او د پرېمانه شتمنیو خاوندان شول، د پوهانو او مبصرینو پورتني نظریات د دې هېواد د اقتصادي ستونزو په پوهاوي کې مرسته نه کوي. په دې کتاب کې موږ په دې اړه بحث کړی چې په تحریر میدان کې راټول شوي مصریان پر حقه دي، نه مبصرین او نور پوهان. مصر په حقیقت کې ډېر بېوزله دي، ځکه چې حکومت د یوې کوچنۍ ډلې له لوري چې ځان یې د ټولنې د لوی اکثریت په بیه شتمنه کړې، اداره کېږي. هلته واک د ګوتې په شمار کسانو له لوري انحصار شوی او هغوی دا واک د ځان لپاره د شتمنۍ او ثروت د تولید لپاره کاروي، چې یوازې د حسن مبارک شتمنۍ ۷۰ میلیارده ډالرو ته رسېږي. د دې وضعیت بایلونکی د مصر عام خلک وو او هغوی دا واقعیت په ښه توګه درک کړی دی. د مصر دغه وضعیت په نړۍ کې د بېوزلو هېوادونو وضعیت په ښه ډول انځوروی شي. په نورو بېوزلو هېوادونو لکه شمالي کوریا، سیریلیون او زیمبابوې کې هم خلک د مصر په څېر له بېوزلۍ کړېږي. د لویې بریټانیا او متحده ایالتونو په څېر هېوادونه ځکه شتمن دي چې وګړو یې پر واک پورې نښتې ډلې را وپرځولې او داسې یوه ټولنه یې رامنځته کړه چې سیاسي حقوق په کې په پراخه کچه خوندي شول، حکومت د خلکو په وړاندې مسوول شو او خلکو اقتصادي فرصتونو ته لاسرسی پیدا کړ. موږ به دلته په ډاګه کړو چې ولې په نړۍ کې نابرابري حاکمه ده او په دې اړه د پوهېدو لپاره باید د ټولنو تاریخي

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



شالید مطالعه شي. بریتانیا نن ورځ تر مصر ډېره شتمنه ده، ځکه چې د ۱٦۸۸ کال انقلاب په دې هېواد کې سیاسي او اقتصادي فضا بدله کړه. هلته خلکو د خپلو حقونو لپاره اوږده مبارزه وکړه او له هغو ځخه یې د خپلو اقتصادي فعالیتونو د پراختیا لپاره ګټه واخیسته. په پایله کې د سیاسي او اقتصادي بدلونونو یو نوی مسیر را وټوکېد او دغه بدلون بالاخره صنعتي انقلاب ته لار هواره کړه. صنعتي انقلاب او نوې ټکنالوژي د مصر په برخه نه شوه، ځکه چې دغه سیمه د عثماني امپراتورۍ تر ولکې لاندې وه او عثمانیانو مصر ته هغه څه ډالۍ کړل چې وروسته د مبارک کورنۍ هلته وکړل. ناپیلیون بناپارټ په ۱۷۹۸ کال کې په مصر کې د عثماني خلافت حکومت رانسکور کړ، خو وروسته دا هېواد د بریتانویانو مستعمره شو، چې د عثمانیانو په څېر یې د دې هېواد اقتصادي پرمختګ ته لېوالتیا نه درلوده. که څه هم مصریان په ۱۹۵۲ کال کې د عثمانیانو او انګرېزانو له واکمنۍ خلاص شول، خو دا بدلون په حقیقت کې د بریتانیا د ۱٦۸۸ کال د انقلاب په څېر اغېزناک نه و او داسې خلک واک ته ورسېدل چې د عثمانیانو او انګرېزانو په څېر یې د مصر د پرمختګ او هوساینې هیله نه لرله. په پایله کې د ټولنې په اساسي جوړښت کې بدلون رانغی او مصر د بېوزلۍ په ګرداب کې ډوب پاتې شو. په دې کتاب کې به ولولئ چې د قدرت دغه کړۍ د وخت په تېرېدو څنګه بېرته ځان را ژوندی کوي او ولې ځیني وخت دا ډول بدلونونه داسې پایلې زېږوي لکه په ۱٦۸۸ کال کې چې په بریتانیا او په ۱۷۸۹ کال کې په فرانسه کې رامنځته شول. دا به له موږ سره د دې موضوع په پوهېدو کې مرسته وکړي چې ایا په مصر کې اوس وضعیت بدل شوی دی او ایا هغه انقلاب چې مبارک یې رانسکور کړ، د داسې

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



بنسټونو جوړېدو ته به لار هواره کړي چې له مخې يې مصر هوسا او شتمن شي؟ مصر په تېر کې هم ګڼ انقلابونه تجربه کړي دي چې هېڅ بدلون يې نه دی رامنځته کړی، ځکه دا ډول بدلونونه يوازې د حکومتونو د بدلون سبب شوي او کله چې نوی کس واک ته رسېدلی، د پخوا واکمن لار يې تعقيب کړې ده. د عام ولس له لوري د سياسي واک ترلاسه کول او بدلون ته لار هوارول په حقيقت کې يو ستونزمن کار دی، خو ناشونی نه دی او موږ به ووينو چې دا کار په برېتانيا، فرانسې، متحده ايالتونو، جاپان، بوتسوانا او برازيل کې څنګه ممکن شو. په ټوله کې د دې لپاره چې بېوزله ټولنې شتمنې شي، دغه ډول سياسي بدلون ته اړتيا ده. شواهد ښيي چې ښايي په مصر کې همداسې وشي. د تحرير ميدان يو بل لاريونوال 'رضا متوالي' وايي:«تاسو دلته مسلمانان او مسيحيان ګورئ چې په ګډه راټول شوي دي او همدارنګه ځوانان او لويان، ټول يوه غوښتنه لري.» موږ به ووينو چې د خلکو دا ډول ستر خوځښتونه په ټولنه کې د سياسي بدلونونه برخه کې څومره کليدي رول لوبوي. که پوه شو چې ولې او کله دا ډول بدلون پېښېږي، نو هغه وخت به په ښه ډول ارزيابي کړای شو چې څه وخت د دې ډول خوځښتونو د ماتې انتظار وکړو او کله بايد هيله من اوسو چې ياد خوځښتونه برياليتوب ته رسېږي او د ميليونونو انسانانو ژوند بدلوي.

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



# لومړۍ څپرکی

## ډېر نږدې، خو ډېر توپير

### د ريو ګرنډې سيمې اقتصاد[1]

نوګالس ښار د اوسپنيزو کټارو په واسطه پر دوو برخو وېشل شوی دی، که د کټارو تر څنګ ودرېږئ او شمال لور ته وګورئ، د نوګالس اريزونا سيمه به وګورئ چې په سانتا کروز ښار کې موقعيت لري، دلته د يوې کورنۍ کلنی عايد په منځنۍ کچه دېرش زره ډالره دی، زياتره تنکي ماشومان ښوونځيو ته ځي او نوي ځوانان يې له ښوونځيو فارغ وي. سربېره پر هغو ادعاوو چې خلک يې د امريکا متحده ايالاتو د روغتيايي سيستم په اړه لري، د دې ښار اوسېدونکي له نسبتاً ښو روغتيايي خدمتونو څخه برخمن دي او ژوند ته د هيله منديږ په نسبتاً لوړه کچه کې، له نړيوالو معيارونو سره برابر ژوند لري. د ښار لويه برخه وګړي تر ٦٥ کلنۍ د پورته عمر لرونکي دي او ټول روغتيايي خدمتونو ته لاسرسی لري. دولت د دې سيمې خلکو ته اړينې اسانتياوې لکه برېښنا، مخابرات، کاناليزاسيون، عامه روغتيايي خدمتونه او ټرانسپورټي شبکې چې نوګالس د سيمې له نورو ښارونو او متحده ايالتونو سره نښلوي، برابرې کړې دي. تر ټولو مهمه دا چې دولت د عامه نظم د ټينګښت او د قانون حاکميت په برخو کې هېڅ بې غوري نه کوي. د اريزونا نوګالس اوسېدونکي کولای شي چې د غلا، لوټمارۍ او هر ډول وېرې پرته، په بشپړه خوندي فضا کې ژوند وکړي او خپلې پانګونې او سوداګرۍ ته دوام

The Economies of Rio Grande[1]

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



ورکړي. د نوګالس اوسېدونکي خوښ دي چې دولت د دوی استازيتوب کوي. که څه هم په ځينو برخو کې ستونزې شته او خال خال فساد ليدل کېږي، خو پر دې سربېره؛ د نوګالس اوسېدونکي د ټاکنو له لارې خپل ښاروال، سناتوران او د کانګرېس لپاره استازي ټاکي. هغوی همدا راز خپل ولسمشر ټاکي او تصميم نيسي چې هېواد څوک رهبري کړي، خلک له ولسواکۍ سره اشنا شوي دي. خو له اوسپنيزو کټارو هاخوا، يوازې څو متره لېرې جنوب لور ته ژوند بل ډول دی. نوګالس سونورا چې د مکسيکو له ارامو او پرمختللو سيمو څخه ده، د کورنيو کلنی عايد پکې د نوګالس اريزونا په پرتله دوه برابره لږ دی. د نوګالس سونورا زياتره ځوانان د دولسم ټولګي د فراغت سند نه لري او ماشومان د زده کړو له نعمته بې برخې دي. د ماشومانو د مړينې لوړه کچه د ميندو لپاره لويه ننګونه ده. د سونورا نوګالس وګړي د خپل شمالي ګاونډي، يعنې نوګالس اريزونا په پرتله، د کمزروي روغتيايي سيستم له امله ژوند ته د هيله منديٖ په ټيټه کچه کې ژوند کوي. دوی همدا راز د عامه روغتيايي خدمتونو له ډېرو اسانتياوو بې برخې دي. پر پوله د لګېدلو کټارو په سوېلي برخه، يعنی په نوګالس سونورا کې د سړکونو وضعيت ډېر ناوړه دی. هلته د قانون حاکميت او نظم د اندېښنې وړ دي، د جرايمو کچه لوړه او اقتصادي چارې له ننګونو سره مخ دي. اقتصادي فعاليتونه او کاروبار نه يوازې د غلا او لوټمارۍ له ګواښ سره مخ دي، بلکې د کار د قانوني جواز د ترلاسه کولو اوږده او پېچلې پروسه خورا ستونزمنه ده. د نوګالس سونورا وګړي داسې مشران لري چې پر فساد ککړ، ناکاره او خورا کمزوري دي. د شمالي ګاونډي په پرتله، ولسواکي په سوېل کې يوه نوې تجربه ده. نوګالس

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



سونورا د مکسیکو د نورو برخو په څېر د ۲۰۰۰ م کال د سیاسي اصلاحاتو تر وخته پورې د انقلابي بنسټ د فاسد گوند[1] له خوا اداره کېده. څنگه شونې ده، چې د ښار دوه بېلې برخې چې سره ورته دي، تر دې اندازې متفاوتې وي؟

دلته د جغرافیې، اقلیم او په سیمه کې د خپرېدونکو ناروغیو ترمنځ هېڅ توپیر نه شته، ځکه چې میکروبونه له کوم خنډ و ځنډ پرته کولای شي چې د امریکا او مکسیکو ترمنځ تېرو بېر شي. البته چې روغتیایي معیارونه سره توپیر لري، خو دا له محیطي ناروغیو سره هېڅ تړاو نه لري، لامل یې دا دی چې د جنوبي نوگالس اوسېدونکي په ناوړه روغتیایي وضعیت کې ژوند کوي. خو د دواړو سیمو د اوسېدونکو ترمنځ ښایي ډېر توپیر وي. ایا دا دلیل کېدای شي چې د نوگالس اریزونا اوسېدونکي د اروپایي کډوالو اولاده ده، په داسې حال کې چې د جنوبي ښار اوسېدونکي له ازتېک (Aztec)کورنۍ سره تړاو لري؟ نه! د پولې دواړو غاړو ته مېشت ولسونه گډ تاریخ لري.

په ۱۸۲۱ کال کې، کله چې مکسیکو له هسپانیا خپلواکي ترلاسه کړه، د لاس دو نوگالس (Los dos Nogales) شاوخوا سیمې د مکسیکو د ویجا کلفورنیا ایالت برخه وه، چې ان په ۱۸۴۸- ۱۸۴٦ کلونو کې د مکسیکو او متحده ایالتونو ترمنځ تر جگړې وروسته هم د مکسیکو هېواد برخه پاتې شوه. د گاډسن[2] تر معاملې وروسته، په ۱۸۵۳ کال کې په دې سیمه کې د امریکا متحده ایالتونو پولې پراخه

[1] Institutional Revolutionary Party

[2] Gadsden purchase

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



شوې. کله چې ليتننت ان.ميکلر له سرحدي سيمو څخه ليدنه کوله، په لاس نوګالس کې يې ښکلو سيمو ته پام شو. همدا و چې د نوګالس سونورا او نوګالس اريزونا په نوم دوه سيمې رامنځته شوې. د دواړو نوګالسونو اوسېدونکي د يوه نيکه اولاد دي، يو ډول خواړه خوري او يو ډول موسيقي اوري، خو د کلتور په اړه به دغسې يوه ادعا ستونزمنه وي. ښايي تاسو به د دواړو سيمو د توپيرونو په اړه په خپل ذهن کې يو انځور جوړ کړی وي، يعنې د دواړو ترمنځ هغه پوله چې قلمرو مشخصوي. د امريکا متحده ايالتونو اړوند نوګالس اريزونا اوسېدونکي د خپل هېواد د اقتصادي بنسټونو له امتيازونو ګټه پورته کوي. هغوی ددغو بنسټونو پر مټ کولای شي چې د خپلې خوښې وړ شغل وټاکي، له غوره ښوونې او روزنې برخمن شي، کسب زده کړي او پانګوال د غوره ټکنالوژۍ پر مټ پانګونې ته وهڅوي. پر دې سربېره، د دې ښار وګړي داسې سياسي بنسټونو ته لاسرسی لري چې په ولسواکو يا ډيموکراټيکو بهيرونو کې ورته د ګډون زمينه برابروي. هغوی کولای شي چې په ازاده توګه خپل استازي وټاکي او که استازي په خپلو ژمنو کې پاتې راشي، پر ځای يې نور ټاکي. په پايله کې سياستوال هڅه کوي چې خلکو ته خدمتونه وړاندې کړي. دا خدمتونه د روغتيايي چارو، سړک جوړونې، د نظم ټينګښت او د قانون پلي کولو څخه عبارت دي، چې د هر وګړي غوښتنه او هيله ده.

خو د نوګالس سونورا وګړي بخت نه لري، هغوی له متفاوتو بنسټونو سره په يوه متفاوته نړۍ کې ژوند کوي. دغه متفاوت بنسټونه د دواړو سيمو د خلکو ترمنځ د جلا انګېزو او باورونو د رامنځته کېدو سبب شوي دي. دغه وضعيت همدارنګه د سوداګرۍ او پانګونې پر

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



بهیر هم اغېز کړی دی. په دواړو نوګالسونو کې رامنځته شوې دغه انګېزې هغه لاملونه دي، چې د پولو دواړو غاړو ته د اقتصادي هوساینې په برخه کې شته توپیرونه په ډاګه کوي. ولې د امریکا متحده ایالتونو اقتصادي او سیاسي بنسټونه د مکسیکو او لاتینې امریکا هېوادونو د بنسټونو په پرتله بریالي او غوره دي؟ د دې پوښتنې ځواب باید د استعمار پر مهال د هېوادونو او ټولنو د رامنځته کېدو په څرنګوالي کې ولټوو. هغه څه چې په دې وخت کې پېښ شول، پر جلا مسیرونو د دولتونو د سیاسي او اقتصادي بنسټونو د بدلون یا جلا کېدو پروسه وه، چې اغېزې یې تر ننه لیدل کېږي. د دې لپاره چې د بنسټونو د بدلون پر څرنګوالي سم پوه شو، په شمالي او لاتینې امریکا کې پر استعمار رڼا اچوو.

## د بونیس ایرس ښار جوړېدل

د ۱۵۱۶ میلادي کال په لومړیو کې هسپانوي اوبمزلي «جان دیاز ډي سلوس» خپله بېړۍ د سوېلي امریکا په لور وخوځوله او د ختیځ سمندر په یوه پراخه ساحلي سیمه کې یې لنګر واچاوه. ډي سلوس تر تم کېدو وروسته، دغه ټوله سیمه د «هسپانیا» او د سمندر غاړه یې د سپین زر سمندرګي[1] په نومونو ونومول. سپین زر سمندرګي ته یې ځکه دغه نوم وکاراوه، چې هلته د سیمې خلکو له سمندره سپین زر را اېستل. د کارایوس سمندرګي ساحلي بومي اوسېدونکو، چې اوس د یوروګوای هېواد په نوم یادېږي او د سمندر د بلې غاړې اوسېدونکو چې په نوي ارجنټاین کې د پامپاس او پخوا د کوراندي په نومونو پېژندل کېدل، د نویو راستنېدونکو کډوالو مخالفت وکړ. دا

[1] Rio de la plata-Silver River

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



پر کوچنیو ډلو وېشل شوي بومي اوسېدونکي هغه ښکاریان وو، چې مرکزي سیاسي قدرت او واحده مشري یې نه لرله. البته د کارایوس د اوسېدونکو ځینې ډلې وې، چې کله ډې سلوس د هسپانوي قلمرو د حاکمیت د پراختیا هڅه کوله، نوموړی یې د مرګ تر بریده وځپه، خو هسپانیا بیا هم په سوېلي امریکا کې د خپلې واکمنۍ د پراخولو هیله لرله؛ تر دې چې په ۱۵۳۴ کال کې د «پېډرو ډې مندوزا» په مشرۍ له هسپانیا څخه د کډوالو یوه ډله واستول شوه او په همدې کال کې یې د بونیس ایرس په نوم ښار تاسیس کړ. دا د اروپایانو لپاره د اوسېدو غوره ځای و. بونیس ایرس چې لغوي معنا یې «ښه هوا» ده، نرم او ښکلی اقلیم لري. د هسپانویانو ژوند هلته په لومړیو کې ډېر لنډ و، ځکه هغوی بونیس ایرس ته د دې لپاره ورغلي نه وو چې ښکلې هوا لري، بلکې هدف یې د طبیعي زېرمو استخراج او د کارګرو استثمار و. د کارایوس او کیوراندي خلک اړ نه و، چې هسپانویانو ته جبري کار وکړي، هغوی هسپانویانو ته د خوړو له برابرولو ډډه کوله او ان د وهلو ټکولو له لارې یې هم جبري کار ته مجبور نه شوی کړای. دوی په داسې حال کې چې غشي او لیندۍ ور سره وې، پر نویو راغلو کډوالو یرغل وکړ. هسپانویان د لوږې له سختو ورځو سره مخ شول، داسې چې کله یې هم دا فکر نه و کړی چې یوه ورځ به ځان ته په خپله خواړه برابروي. بونیس ایرس هغه ځای نه و، لکه څنګه چې هسپانویانو یې خوب لیدلی و. د سیمې له خلکو هېڅکله په زور استفاده نه شوی کېدای او نه هم د استثمار وړ و. په دې سیمه کې سره او سپین زر نه و، چې استخراج شي او هغه سپین زر چې ډې سولس د سیمې له خلکو سره لیدلي وو، هغه ټول د اندوس له غرونو د انکا دولت له قلمرو څخه راتلل او له دې ځایه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



بیا لرې لوېدیځ ته تلل. هسپانویانو چې هڅه کوله ژوندي پاتې شي، د نورو ورته سیمو د موندلو لپاره یې خپل پلاوي لېږل، څو معلومه کړي چې بډایه سرچینې او د استثمار وړ بشري قوه لري او که نه. په ۱۵۳۷ کال کې د اینکا سیمې د نیولو لپاره د جوان ډې ایولاس «Juan de ayolas» په مشرۍ یوه پلټونکې ډله د پانارا سیند ساحلي سیمې ته ورسېده. دغه ډله د لارې په اوږدو کې د ګوراني «Gurani» په نوم له یوه قوم سره مخ شوه، چې ژوند یې پر کرنه ولاړ و او د جورا او کاساوا په نامه نباتات یې کرل. ډې ایولاس ډېر ژر پر دې پوه شو چې د ګورانیانو وضعیت له کارایوس او کیوراندۍ قومونو سره توپیر لري او  د یوې لنډې نښتې په پایله کې ګورانیان هسپانیانو ته تسلیم شول. هسپانویانو هلته د «نویسترا سینورا ډې سانتیا ماریا ډې لا اسونشین» په نوم یو ښار چې اوس مهال د پاراګوای هېواد پلازمېنه ده، جوړ کړ. د دې ډلې مشرانو له ګوراني شهزادګانو سره واده وکړ او ډېر ژر یې ځانونه د ټولنې د اشرافو په ډله کې ورګډ کړل. هغوی د جبري کار موجوده سیستم پلی او د ګوراني مشرانو له لوري یې له خلکو باج اخیستل پیل کړل. دا هماغه استعمار و، چې دوی غوښت. بونیس ایرس ښار ډېر ژر د څلورو کلونو په ترڅ کې له هسپانویانو خالي او ټول دغه نوي ښار ته کډه شول. د سوېلي امریکا په پاریس مشهور د اروپا په بڼه د بونیس ایرس ښار چې اقتصاد یې پر کرنه ولاړ دی، تر ۱۸۵۰ میلادي کال پورې د کډوالو د مېشتېدو لپاره دایمي ځای نه و. د بونیس ایرس پرېښودل او ګورانیانو نیواک، په حقیقت کې د امریکا په لویه وچه کې د اروپایانو استعماري منطق په ډاګه کوي، نه یوازې هسپانویان؛

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



بلکې برېتانویان هم چې د دې کتاب په اوږدو کې به پرې خبرې وکړو، هېڅکله د بونیس ایرس په شنو او حاصلخېزه ځمکو کې د کښت په فکر کې نه وو، بلکې د سرو زرو، سپینو زرو او نورو قیمتي کاني موادو د لوټلو نیت یې درلود.

## ..له 'کجامارکا' څخه

From Cajamarca

د ډي سولیز، ډي میندوزا او ډي ایولاس په مشرۍ ماموریت یو په بل پسې د هغو مشهورو اکتشافاتو دوام و، چې د ۱۴۴۲ کال د اکتوبر په ۱۲ مه د کریسټف کولمب له خوا د «باهاما» د یوې ټاپو تر کشف وروسته پیل شوی و. په امریکا کې د هسپانویانو ښکېلاک او پراختیا غوښتنه، په ۱۵۱۹ کال کې د «هېرنان کورټېز» له لوري د مکسیکو په نیولو سره پیل شول. یوه نیمه لسیزه وروسته د «فرانسیسکو پیزارو» په مشرۍ یوې ډلې د پیرو خاوره لاندې کړه او کابو دوه کاله وروسته د ډي میندوزا په مشرۍ یوې ډلې د «ریو ډي لاپلاتا» یا د سپین زرسمندرګي پر خوا یرغل وکړ. هسپانیا د یوې پېړۍ په ترخ کې د مرکزي، لوېدیځې او سوېلي امریکا ډېرې برخې ښکېل او ونیولې. په ورته وخت کې پرتګال په ختیځه برخه کې د برازیل د مالکیت ادعا کوله. د هسپانویانو استعماري تګلاره چې لومړی د کورټېز له خوا په مکسیکو کې پلې شوې وه، خورا بریالۍ وه. د دې تګلارې له مخې د مخالفینو د اېل کولو لپاره به د هغوی مشران نیول کېدل. هسپانویانو به له دې لارې د ځایي مشرانو مالونه خپلول او بیا به یې د هغوی په واسطه خلک د باج ورکولو او خوړو برابرولو ته مجبورول، بیا به یې د ځایي مشرانو په توګه د چارو واګې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



په لاس کې اخيستې او د ماليې ټولونې، باج اخيستنې او په ځانګړې توګه پر خلکو به يې د جبري کارونو مشري کوله. دغه کار په لومړي ځل کورټېز په مکسيکو کې تر سره کړی و. په نويو ښارونو کې د هسپانيا استعماري تګلارې او کړنې ډېرې اغېزناکې ثابتې شوې. د ۱۵۱۹ کال د نومبر په ۸ مه کله چې کورټېز او ملګري يې د تينوشيتلان «Tenochitlan» امپراتورۍ پلازمېنې «لوی ازتېک» ته ورسېدل، چې د ازتک د امپراتور موکتيزوما له خوا يې تود هرکلی وشو. موکتيزوما ته يې خپلو سلاکارانو ويلي وو، چې له هسپانويانو سره ښه چلند وکړي، څو په دې توګه د دواړو لورو ترمنځ جګړه ونه وشي. خو هغه څه چې وروسته پېښ شول، د «فرانسيسکن برناردينو ډي ساوګون» په نوم يوه کشيش د «فلورنټاين کوډيسس» تر عنوان لاندې په خپل ليکلي يادښت کې چې په ۱۵۴۵ کال کې خپور شو، په ښه توګه څرګند کړي دي:

«هسپانويانو ناڅاپه موکتيزوما ونيوه...وروسته د ډزو غږونه غلي شول...وېرې ټول ځای په سر اخيستی و، تا به ويل چې د ټولو زړونو درېدلي. لا تياره خپره شوې نه وه، چې وېرې، حيرانۍ او اضطراب په هر ځای کې سيوری غوړولی و. خلک وېرېدلي وو. د هسپانويانو د اړتيا وړ شيان بايد تر سپيده دمه تيار شي: د جوارو سپينه ډوډۍ، سور کړی فيل مرغ، د چرګې هګۍ، د ښناک تازه اوبه، د سون لرګي او نور...دا شيان په حقيقت کې د موکتيزوما په امر تيار شوي وو. کله چې هسپانويان ښه ځای پر ځای شول، له موکتيزوما يې وغوښتل چې د ښار ټوله شتمنۍ او خزانه ور وسپاري...هغوی په ډېر حرص سره د سرو زرو په لټه کې وو او موکتيزوما مخکې شو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



چې رهنمايي ورته وکړي. هغه شاوخوا کلابند و... له لاسونو کلک نیول شوی و. کله چې خزانې ته ورسېدل چې د تيالکو په نوم په يو ځای کې خوندي وه، ټول قېمتي شيان لکه: زرين تاجونه، ډالونه، د سرو زرو قطعې، د سرو زرو اوسپنيزې خولۍ، زرين سربندونه او نور وسايل يې ترې را واېستل. له دې شيانو سره ګډ شوي سره زر يې ترې جلا کړل...اور يې ور ورته کړ او ويلې يې کړل...هغوی هرې خوا ولټېدل او هر څه چې يې خوښېدل، هغه يې واخيستل. د موکتيزوما شخصي خزانې ته لاړل، هغه ځای ته چې [توتوکالکو] يې باله. د هغه ټوله شخصي شتمنۍ يې راټوله کړه. ټول قيمتي شيان لکه ښکلي ګردنبندونه، بازو بندونه چې په قيمتي توکو ډېزان شوي وو، د سرو زرو بازو بندونه، لاسبندونه، طلايي فيتې... د سپينو زرو تاج او د پاچا نور شيان، ټول يې له ځان سره يوووړل.»

په ۱۵۲۱ کال کې ټول ازتېک د هسپانويانو لاس ته ولوېد. کورتېز د هسپانيا د نوې مستعمرې د مشر په توګه «د اېل کړه او بېل يې کړه» استعماري تګلاره پلې کړه. نوموړي د ايکومينډا «Ecomienda» په نوم د بنسټونو جوړولو له لارې د خلکو په بېلولو لاس پورې کړ. ايکومينډا په لومړي ځل په پنځلسمه ميلادي پېړۍ کې د هسپانويانو له لوري د اندلس ښار د بېرته نيولو لپاره چې له اتمې زېږديزې پېړۍ راهيسې پکې عرب او مراکشيان اوسېدل، وکارول شو. په دې نوې نړۍ کې ايکومينډا ورانوونکې بڼه خپله کړه. د سيمې خلکو دغه جوړښت د «اينکومينډېرو» په نوم پېژنده. دا چې د اينکومينډېرو په نوم مشهورو هسپانويانو به خلک د عيسويت دين ته ور بلل، نو په بدل کې يې ځايي خلکو باج ورکاوه او پر جبري کار کولو مکلف شوي وو. د ايکومينډا د کار د څرنګوالي په اړه په لومړي ځل د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



ډومینیکن کشیش «بارتولومو ډي لاس کاسیز» له خوا معلومات وړاندې شول، چې د هسپانیا د استعماري نظام پرضد يې سختې نیوکې کړې وې. ډي لاس کاسیز په لومړي ځل په ۱۵۰۲ کال کې د نوي والي «نیکولاس ډي اوینډا» په مشرۍ د «هسپانیلو» ټاپوګانو ته لاړ. هغه هلته له ځایي خلکو سره د هسپانویانو ظالمانه چلند او ځورونه په خپلو سترګو ولیدل. نوموړي د کشیش په توګه په ۱۵۱۳ کال کې د کیوبا په نیولو کې ګډون وکړ او د ښو خدمتونو له امله ورته د ډالۍ په توګه یو ایکومینډا ورکړل شو، نوموړي له دې فرصت څخه په ګټې اخیستنې د هسپانیا په استعماري بنسټونو او جوړښتونو کې د اصلاحاتو په موخه پراخ کمپاین پیل کړ، هغه د خپلو فعالیتونو په ترڅ کې په ۱۵۴۲ کال کې د «ځایي خلکو وژنې ته لنډه کتنه» په نوم کتاب ولیکه، چې د هسپانوي واکمنانو بربریت او کړنې پکې سپړل شوې وې. هغه د نیکاراګوای هېواد په اړه لیکي:«ټول کډوال هغه ځای ته یووړل شول چې د استوګنې لپاره ورته غوره شوی و. دغو نویو کډوالو ځایي یا بومي خلک کار ته مجبور کړل، د هغوی خوراکي توکي يې چې ډېر کم وو، لوټ کړل او پر کرنیزو ځمکو يې ورته خېټه واچوله. دغو کډوالو ځایي خلک – له ماشومانو نیولې تر مشرانو او ښځو پورې- ټول مجبورول چې له هر ډول استراحت پرته شپه او ورځ ورته کار وکړي.»

کاسیز د نیو ګرنډې یا د اوسنۍ کولمبیا د نیواک په اړه د هسپانویانو تګلاره په ټوله کې داسې را پېژني:«هسپانویان خپلو اوږد مهاله موخو او سروزرو ته د لاسرسي په خاطر له هماغې ستراتیژۍ څخه کار اخیسته؛ یعنې د ایکومینډا په واسطه به يې سیمې د مشرانو ترمنځ

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



وېشلې او بیا به یې له خلکو سره د مریانو یا غلامانو په څېر چلند کاوه. د هسپانوي اکتشافي پلاوي یا د استعماري مشرانو په امر به د ځایي خلکو پاچا نیول کېده، شپږ یا اووه میاشتې په زندان کې ساتل کېده او بیا به یې ترې طلا او زمرود غوښتل. له دې ډلې د بوګوتا په نامه له یو تن پاچا سره داسې وحشیانه چلند شوی و، چې د هسپانویانو له وهلو ټکولو د خلاصون لپاره یې باید یوه کوټه له طلا ډکه کړې وای. نوموړي به خپل کسان د طلا او جواهراتو په لټون پسې لېږل، هغوی به طلا او قیمتي ډبرې له ټوټو سره راوړلې، خو بیا هم کوټه نه ډکېده. هسپانویانو به پاچا ته ګواښنه کوله چې د ژمنې د نه پوره کېدو له امله به یې ووژني. هسپانوي قوماندان یا واکمن له دې امله چې ځان یې د قانون استازی باله، د دوسیې او بندي د ورسپارلو امر وکړ او په دې توګه یې پاچا ته د رسمي جزا اورولو حکم وکړ. بندي یې پر قمچینو وواهه، پر خېټه یې ورته سره کړي غوړي واچول، غاړه او پښې یې پر ځنځیرونو او اوسپنیزو میلو تړلې ول او په داسې حال کې چې دوو کسانو یې لاسونه نیولي وو، د پښو پر داغلو یې پیل وکړ. کله کله به هسپانوي قوماندان ورغی او ورته به یې وویل، که ډېره طلا برابره نه کړې، نو په شکنجې شکنجې به ووژل شې. بلاخره دا هغه عذاب او جزاګانې وې چې پاچا باید ورته غاړه ایښې وای.»

هغه استعماري تګلاره او بنسټونه چې په مکسیکو کې رامنځته شوي وو، د هسپانوي امپراتورۍ په نورو برخو کې هم پلي او دود شول. دغه تګلاره په هېڅ ځای کې دومره اغېزناکه او ګټوره نه وه، لکه پیزارو چې د خپل واک پر مهال په پیرو کې پلې کړه. ډي لاس کاسیز په دې اړه کاږي:«په ۱۵۱۳ کال کې یو بل ستر شریر انسان

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



له خپل یو شمېر ملګرو سره د پیرو پاچاهۍ ته رسېږي. نوموړي هم هغه تګلاره غوره کړه، چې پخوانیو ملګرو یې غوره کړې وه.»

پیزارو په پیرو کې «ټامبس» ښار ته له نږدې سواحلو څخه پیل وکړ او سوېل لور ته مخکې لاړ. د ۱۵۳۲ کال د نومبر په ۱۵ مه د «کاجامارکا» غرنۍ سیمې ته ورسېد؛ چېرته چې د انکا امپراتور «اتاهولپا» له خپل لښکر سره پوځي کمپ کړی و. تر څو ورځې تم کېدو وروسته اتوهولپا چې تازه د خپل پلار «هواینا کاپک» د ځایناستي په توګه د خپل ورور «وسکار» پر وړاندې په جګړه کې بریالی شوی و، د هسپانویانو کمپ ته ولاړ. نوموړی د هسپانویانو د ظلمونو او ورانیو او په ځانګړې توګه، د هسپانویانو له خوا د ( Sun god inti) په نوم د هغوی معبد ته سپکاوي سخت غوسه او عصباني کړی و. وروسته چې څه پېښ شول، روښانه دي. هسپانویانو، نوموړي ته لومه کېښوده او ویې نیوه. د اتاهولپا لښکر چې شمېر یې شاوخوا ۲۰۰۰ کسانو ته رسېده، ټول ووژل شول او په خپله پاچا ژوندی ونیول شو. اتاهولپا د خلاصون لپاره باید ژمنه کړې وای، چې یوه خونه به له طلا او دوه خونې له سپینو زرو ډکوي. نوموړي دې کار ته غاړه کېښوده، خو هسپانویانو هغه د ۱۵۳۳ کال په جون میاشت کې زندۍ کړ. د همدې کال په نومبر میاشت کې هسپانویانو د اینکا پلازمېنه کاسکو ونیوله او هغه څه چې له پاچا اتاهولپا سره شوي و، د سیمې له اشرافو سره هم وشول. دوی هم زنداني شول، څو هسپانویانو ته طلا او سپین زر برابر کړي او که به یې سرغړونه کوله، ژوندي په اور کې سوځول کېدل. د کاسکو سترې هنري خزانې هم د (Sun god inti) معبد په څېر چې له طلا او قیمتي

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



جواهراتو جوړ شوي و، لوټ او تالا شوې. هسپانویانو په دې وخت کې د اینکا امپراتورۍ اوسېدونکو ته خپل پام ور واړاوه، لکه د مکسیکو په څېر چې هلته خلک په ایکومینډیانو وېشل شوي وو او هر یو د هغو کسانو له خوا اداره کېده چې له پیزارو سره په سفر کې ملګري وو. ایکومینډا د استعمار په لومړیو کې د کاري ځواک د کنټرول او انسجام اصلي بنسټونه و چې ډېر ژر له قوي سیالانو سره مخ شول. په ۱۵۴۵ کال کې د سیمې یو اوسېدونکی «ډیاګو ګوالپا» په اندوس یا اوسني بولیویا کې د سپېڅلي معبد په لټه کې و، چې یو تند باد لېږې پر ځمکه وغورځاوه او نا څاپه د سپین زرو یو کان یې تر سترګو شو. دغه کان یا زېرمه د سپین زرو د هغې غونډۍ یوه برخه وه چې هسپانویانو وروسته د اېل کېرو ریکو[1] یا بډایه غونډۍ په نوم نوموله. د دې غونډۍ ترڅنګ د «پوتوسي» ښار جوړ شو، چې په ۱٦۵۰ کال کې یې نفوس ۱٦۰ زره تنو ته رسېده، یعنې هغه وخت له لېزبون او وینز ښارونو څخه ډېر و. هسپانویانو د سپینو زرو د استخراج لپاره کان کیندونکو ته اړتیا لرله. په همدې موخه د «فرانسیسکو ډي ټولدو» په نوم د سطلنت یو ځانګړی استازی سیمې ته واستول شو. نوموړي ته دنده سپارل شوې وه چې په سیمه کې د کاري قوې ستونزه حل کړي. ډي ټولدو په ۱۵٦۹ کال کې پیرو ته ولاړ او هلته یې په سیمه کې پنځه کاله پلټنې او څېړنې وکړې. نوموړي د سیمې د ټول بالغ نفوس په اړه چې پر کاري شرایطو برابر و، سروې تر سره کړه. ده د اړتیا وړ کاري ځواک د برابرولو په موخه ځایي اوسېدونکي د (Reductions) په نوم نویو ځانګړو ښارونو ته

[1] El Cerro Rico

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

Downloaded By: Afghan Salar Library



ولېږدول. هسپانویانو له دغو ښارونو څخه په اسانۍ ځان ته د اړتیا وړ بشري قوه برابروله. نوموړي وروسته، د «میتا» په نوم د اینکایي کارگرو یوه اداره رامنځته کړه چې ځانگړي شرایط یې لرل. دغې ادارې ته یې په اینکایي ژبه «کوچوا» ویل چې د نوبت معنا ورکوي. اینکایانو د میتا سیستم له لارې په سترو کروندو کې پر کارگرو د جبري کار کولو له لارې اشرافو، معبدونو او سپاهیانو ته خواړه برابرول. د اینکا واکمني طبقې د دې کار په بدل کې عامو خلکو ته د قحطۍ او وچکالۍ په وخت کې خواړه او امنیت برابرول. د ډې ټولدو په لاس جوړ شوی میتا او په ځانگړې توگه د پوتوسي ښار میتا، د استعمار په دوران کې د کارگرو د استثمار پر یوه ستر او سخت ملامتوونکي بنسټ بدل شوی و. نوموړي د کاري ځواک د استثمار لپاره د پوښښ یوه پراخه سیمه رامنځته کړه چې د ۲۰۰ زره مایله مربع په اوږدوالي سره د ننني پیرو له مرکزي سیمې پیلېده او د نوې بولیویا یوه لویه برخه یې په بر کې نیوله. په دې سیمه کې له هرو ۷ کسانو یو تن به چې د ریډیکشن ښارونو ته داخلېده، اړ و چې د پوتوسي ښار په کان کې کار وکړي. میتا پوتوسي د استعمار په ټوله دوره کې په خپل ځای پاتې شو، چې بیا په ۱۸۲۵ کال کې منع اعلان شو. لومړی (۱) نمبر نقشه د اینکا امپراتورۍ هغه سیمې ښیي چې د هسپانوي ښکېلاک پر مهال پکې میتا سیستم پلی شوی و.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



په دې نقشه کې همدا راز ښودل شوې چې میتا د دې امپراتورۍ مرکزي سیمې، په تېره پلازمېنه کاسکو خومره تر پوښښ لاندې راوستې وه. په پیرو کې اوس هم د میتا سیستم اغېزې لیدل کېږي. د دغه هېواد د دوو څنګلورو ولایتونو کالکا (Calca) او اکومایا

(Acomayo) ترمنځ توپیر په پام کې ونیسئ. د دغو دوو ولایتونو ترمنځ ډېر لږ توپیر لیدل کېږي. دواړه ولایتونه په غرنیزو سیمو کې موقعیت لري او اوسېدونکي یې د اینکا اولاده ده چې په کوچا (Quecha) ژبه خبرې کوي. اکومایا ډېره بېوزله سیمه ده،

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



اوسېدونکي یې د کالکا په پرتله یو پر درېیم (۱/۳) لږ عواید لري. ځایي خلک پر دې ښه پوهېږي. د اکوما ښار وګړي له بهرنیو سیلانیانو او مېلمنو څخه دا پوښتنه کوي چې ایا تاسو نه پوهېږئ چې د دې ځای خلک د کالکا په پرتله بېوزله دي؟ تاسو ولې غواړئ چې دلته راشئ؟

دا ځکه چې د لرغونې اینکا د امپراتورۍ مرکز «کاسکا» ته د کالکا په پرتله تګ ډېر ستونزمن دی. کالکا هوار او پاخه سړکونه لري، خو د اکومایا لاره خرابه او ویجاړه ده. که څوک غواړي دغې سیمې ته ورشي، نو د لېږد رالېږد لپاره باید له خره یا اس څخه کار واخلي. په دواړو سیمو «کالکا او اکومایا» کې خلک یو ډول غله دانه کري، د کالکا خلک خپل محصولات په بازار کې پلوري، خو د اکومایا خلک پرې ایله د خپل ژوند ورځنۍ اړتیاوې پوره کوي. دغه نا انډوله وضعیت چې مشاهدین او د سیمې خلک یې په خپلو سترګوویني، په دواړو سیمو کې د موجوده بنسټونو ترمنځ له توپیرونو څخه سرچینه اخلي، هغه توپیر چې تاریخي ریښه یې د (ډي ټولدو) له لوري د کاري ځواک د استثمار مهال ته ور ګرځي. د اکومایا او کالکا ترمنځ مهم تاریخي توپیر دا دی، چې اکومایا د پوتوسي ښار د میتا سیستم تر پوښښ لاندې و، خو کالکا په دې سیستم کې شامل نه و. ډي ټولدو سربېره پر دې چې د کار قوه یې متمرکزه کړه او د میتا سیستم یې جوړ کړ، دایکومینډا سیستم یې له هر فرد څخه  د جلا مالیې اخیستو په توګه پلی کړ. دغه مالیه له هر کس څخه د ټاکلې اندازې سپینو زرو اخیستل و. دا بله هغه تګلاره وه چې له مخې به یې د کار بازار ته د ځایي خلکو په مجبورولو سره پر هسپانوي ځمکوالو مزد

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



کمېده. بل هغه بنسټ چې د «ډې ټولدو» د ماموريت پر مهال تاسيس شو، ريپارټيمينټو ډې مرکانټسياس ( Repartimiento de mercancias) يې باله، چې د هسپانوی ژبې له «Repartir» فعل څخه اخيستل شوی او د «توکو د وېش» معنا ورکوي، يعنې پر ځايي خلکو په جبري توګه د هغو توکو پلور ته ويل کېده چې بيه يې د هسپانويانو له خوا ټاکل کېده. ټولدو بالاخره د «Trajin» په نوم يو بل بنسټ هم تاسيس کړ چې د «بار» په معنا دی. ټراجين د دې لپاره جوړ شوی و، چې د حيواناتو پر ځای، انسانانو هسپانوي سوداګرو ته توکي لکه شراب، منسوجات او د کوکا پاڼې لېږدولې. هسپانيا د خپل استعمار پر مهال په ټوله امريکا کې ورته بنسټونه او ټولنيز جوړښتونه رامنځته کړل.

هسپانويانو دغه بنسټونه د سرو او سپينو زرو له چور او تالا وروسته د بومي يا ځايي خلکو د استثمار په موخه جوړ کړي وو. دغه ټول بنسټونه [ايکوميندا، ميتا، ريپارټيمينټو او ټراجين] د دې لپاره جوړ شوي وو، څو د ځايي خلکو د ژوند معيارونه او کچه راټيټ او د هسپانويانو عوايد ډېر شي. دا هر څه د ځمکو د ملکيتونو د سلبولو، جبري کار، د لږ مزد ټاکلو، د درنو مالياتو وضع کولو او پر غير اړينو توکو د لوړو بيو له لارې ترسره کېدل. په دې توګه؛ دغو بنسټونو هسپانيا، واکمنې طبقې او د هغوی اولادې ته پراخه شتمنۍ راټوله کړه. خو لاتينه امريکا يې په نړۍ کې پر يوې نا انډوله لويې وچې بدله کړه او اقتصادي سرچينې او ظرفيتونه يې ور وزبېښل.

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



**...د جېمز ټاون په لور**

په ۱۴۹۰ یمه لسیزه کې، هغه مهال چې هسپانویان د امریکا لویې وچې ته راغلل، برېټانیا په اروپا کې یو کوچنی ځواک و او د «Wars of the Roses» تر ورانوونکې کورنۍ جګړې وروسته بېرته د غوړېدو په حال کې وه. برېټانیا په هغه وضعیت کې نه وه، چې طلا او سپین زر ولوټي او د امریکایي بومي خلکو استثمار ته مخه کړي. نږدې یوه پېړۍ وروسته، په ۱۸۵۵ کال کې د هسپانیا د پاچا «دویم فلیپ» له خوا پر برېټانیا د هسپانوي سمندري ځواکونو ناکام برید ټوله اروپا ویښه کړه. که څه هم د برېټانیا دغه بری د دې هېواد لپاره یو بخت و، خو په عین حال کې دا یې په سمندر کې د مخ پر ودې ځواکمنتیا نښه وه؛ هغه ځواکمنتیا چې له دغه هېواد سره یې په استعمار او د نوې امپراتورۍ په جوړولو کې مرسته کوله. په دې اساس، دا هېڅ کوم تصادف نه دی چې د برېټانیا له لوري د شمالي امریکا نیواک په همدې وخت کې پیل شوی و، خو هغوی ناوخته ورسېدل. انګرېزانو، شمالي امریکا د دې لپاره نه وه غوره کړې، چې زړه راښکونکې او ښکلې سیمې لري، بلکې د هغه څه لپاره ورغلل چې له نورو څخه پاتې و. د امریکا مهمې سیمې چې د استثمار وړ بشري ځواک او پرېمانه سره او سپین زر یې لرل، تر دې مخکې اشغال شوې وې. برېټانیا ته د دې غوړ سترخوان پاتې شونې ورسېدل. په اتلسمه پېړۍ کې انګلیسي لیکوال او د کرنیزو علومو متخصص ارتهر یانګ (Arthur Young) د دې پوښتنې په ځواب کې چې د کرنیزو محصولاتو د صادراتو لپاره کوم ځای غوره دی، ولیکل:«په ټوله کې داسې برېښي، چې زموږ په مستعمرو کې د

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



کرنیزو محصولاتو د تولید ارزښت، د استوا له کرښې «لمر» څخه د لرې واټن له کبله مخ په کمېدو دی. په لوېدیځ هند [ویسټ انډیز] کې چې تر ټولو گرمه سیمه ده، د کروندگرو د سړي سر عاید د ۸ پونډه، ۱۲ شیلینگه او ۱ پنس معادل دی. خو په جنوبي لویه وچه کې دغه کچه بیا ۵ پونډه او ۱۰ شیلینگ ده، په مرکزي سیمو کې ۹ شلینگه او ٦ پنسه او په شمالي کډوال مېشته سیمو کې ۲ شیلینگ او ٦ پنسو ته رسېږي. دغه شمېرې موږ ته رانښيي، چې په شمالي عرض البلد کې د پرتو سیمو له نیولو څخه باید ډډه وشي.»

د ۱۵۸۵ او ۱۵۸۷ کلونو ترمنځ د انگرېزانو هغه هڅه له ماتې سره مخ شوه، چې غوښتل یې د شمالي کارولینا په «Roanoke» سیمه کې مستعمره جوړه کړي. د ۱٦۰٦ کال په وروستیو کې یو ځل بیا د 'کرسټوفر نیوپورټ' په مشرۍ د «سوسان کانسټنټ»، «گاډ سپیډ» او «ډیسکوري» په نومونو درې بېړۍ ویرجینا ته واستول شوې. ښکېلاکگر د ویرجنیا کمپنۍ په ملاتړ او لارښوونه د چساپیک «Chesapeak» خلیج او تر هغه سمندرگي پورې چې وروسته د بریټانیا د لومړي پاچا «جېمز اول» په نوم ونومول شو، وړاندې ولاړل او د ۱٦۰۷ کال د مې په څوارلسمه یې د «جېمز ټاون» په نوم د نویو راغلو کډوالو یو ښارگوټی جوړ کړ. که څه هم هغه کډوال چې د ویرجینیا کمپنۍ په کښتیو کې لېږدول شوي وو، انگرېزان وو؛ خو استعماري تگلاره او چلند یې کورټېز، پیزارو او ډي ټولډو ته ورته و. لومړی پلان یې د ځایي مشرانو نیول او له هغوی څخه د خوړو او شتمنیو په برابرولو کې کار اخیستل و. کله چې انگرېزان په لومړي ځل په جمېز ټاون کې مېشت شول، خبر نه وو چې د پوهاتان اتحادیې «Powhatan confederacy» قلمرو ته ور ننوتي دي.

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



پوهاتان اتحادیه د ډېرشو سیاسي جوړښتونو یو ګډ ایتلاف و، چې د واهنسن کاک پاچا ته وفادار و. د واهنسن کاک پلازمېنه «Werowocomoco» د جېمز ټاون په شل مایله مترۍ کې پرته وه. د ښکېلاکګرو پلان دا و، چې لومړی د دې سیمې د ځانګړنو په اړه پوه شي. د هغوی انګېرنه دا وه، چې که په دې ونه توانېدل چې ځایي خلک د خوړو برابرولو او جبري کار کولو ته مجبور کړي، نو لږ تر لږه به ورسره سوداګریزو معاملاتو ته زمینه برابره کړي. خو ښایي هغوی به هېڅکله په دې اړه فکر نه و کړی، چې یوه ورځ به خپله کار ته مجبورېږي او ځان ته به خواړه برابروي. د نوې نړۍ تېر فاتحان هېڅکله له داسې وضعیت سره مخ شوي نه وو. د واهنسن کاک پاچا ډېر ژر د نویو ورغلو کډوالو د شتون په اړه پوه او د هغوی پر نیت یې شک څرګند کړ. سره له دې چې نوموړی په شمالي امریکا کې د یوې سترې امپراتورۍ خاوند و، خو دښمنان یې هم کم نه و او له اینکا امپراتورۍ سره یې توپیر په دې کې و، چې دی له منسجم مرکزي قدرت څخه برخمن و. د دې لپاره چې واهنسن کاک د انګرېزانو پر نیت او موخو ځان پوه کړي، لومړی یې د اړیکو جوړولو لپاره د یوې ډلې په لاس پیغام ور ولېږه. د ۱٦٠٧ کال د ژمي په نږدې کېدو سره، نوي کډوال د خوراکي توکو له کمښت سره مخ شول او د ستونزې د حل په اړه د جېمز ټاون مستعمرې د حکومتي شورا مشر اډوارد ماري وینګفیلډ «Edward Marie Wingfield» سرګردانه او بې ارادې ښکارېده. خو کپتان جان سمېت دغه ستونزه حل کړه. سمېت چې لیکنې او یادښتونه یې د جېمز ټاون مستعمرې د پراختیایي چارو د څرنګوالي په اړه زموږ لپاره د معلوماتو اساسي

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



سرچینه جوړوي، په خپل وخت کې د یوه پیاوړي شخصیت او کرکټر خاوند و. نوموړی د «Lincolnshire» په نوم د برېټانیا په یوه کلیوالي سیمه کې زېږېدلی و او د خپل پلار د هغې هیلې خلاف چې غوښتل یې سمېت باید یو بریالی سوداگر شي، نوموړی پوځ ته ولاړ او یو بریالی سرتېری ترې جوړ شو. هغه لومړی د انگلیسانو د پوځ په لیکو کې په هالنډ کې جگړه وکړه، وروسته په هنگري کې له اتریشي پوځ سره یو ځای شو او د عثماني امپراتورۍ د پوځ پر وړاندې جگړه کې یې برخه واخیسته. وروسته په رومانیا کې ونیول شو او د غلام په ډول خرڅ شو چې په کروندو کې یې کار کاوه. سمېت د تېښتې لپاره یو پلان جوړ کړی و، د خپل مشر له جامو او آس څخه په استفادې وتښتېد او بېرته اتریش ته لاړ. نوموړي ویرجینیا ته د اکتشافي سفر په لړ کې ځان ته کار وکوت او د «سوسن کانسټنټ» په کښتۍ کې د سرغړونې له امله د وینگفیلډ له خوا بندي شو. ټاکل شوې وه چې نوي ځای ته تر رسېدو وروسته سمېت محاکمه شي؛ خو کله چې وینگلفیلډ، نیوپورټ او د مستعمرې نور مشرتابه غړي د ویرجینیا کمپنۍ مهر شوي فرمانونه خلاصوي، په حیرانۍ سره گوري چې سمېت د یادې کمپنۍ له خواد جمېز ټاون ښارگوټي د حکومتي شورا د مهم غړي په توگه ټاکل شوی دی. کله چې نیوپورټ د نویو کډوالو او د چارو د سمبالښت لپاره برېټانیا ته لاړ، د مستعمرې رسمي چارې سمېت ته وسپارل شوې او نوموړي د خپلې پیاوړې ارادې او نه ستړي کېدونکي کار په پایله کې وکولای شول چې مستعمره وژغوري. نوموړي یو لړ سوداگریز ماموریتونه پیل کړل چې په ترڅ کې یې د خوراکي توکو زېرمې ډاډمنې شوې. د همدغو ماموریتونو په لړ کې یوه ورځ د واهنسن کاک د ځوان ورور «اوپنچاکانوف» له

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



خوا ونیول شو او په وروو کومو کې یې پاچا ته یوور. دا لومړنی انګرېز و، چې له واهنسن کاک سره مخ شو او دا ډېره مهمه مخامخ کېدنه وه چې د ځینو روایتونو له مخې، نوموړی د واهنسن کاک د ځوانې لور «پوکاهونتاس» په مداخلې له مرګه بچ شو. سمېت د ۱۶۰۸ کال د جنورۍ په لومړۍ نېټه خوشې او بېرته جېمز ټاون ته ستون شو، خو له برېټانیا څخه د نیوپورټ تر بېرته راستنېدو پورې جېمز ټاون لا هم د خوراکي توکو له کمښت سره مخ و. د جېمز ټاون استعماري مشرانو له دې تجربو ډېر څه زده نه کړل. هغوی د ۱۶۰۸ کال په اوږدو کې د سرو زرو او قیمتي فلزاتو لټون ته دوام ورکړ. هغوی لا هم پر دې نه پوهېدل چې د ژوندي پاتې کېدو او خوړو برابرولو لپاره به تر کله د ځایي خلکو پر استثمار او تجارت متکي وي. سمېت لومړنی کس و چې پوه شو، هغه استعماري تګلاره چې کورتیز او پیزارو په شمالي امریکا کې په بریالۍ توګه پلې کړې وه، دلته په هېڅ ډول عملي کېدای نه شي، ځکه چې د دواړو سیمو شرایط ډېر سره توپیر لري. سمېت پوه شوی و، چې د ازتېک او اینکا برعکس؛ ویرجینیا سره زر او سرچینې نه لري. هغه په خپلو ورځنیو یادښتونو کې لیکلي دي:«باید پوه شو چې خوراکي توکي د هغوی یوازینۍ شتمني ده.»

د جېمزټاون له لومړنیو کډوالو یو تن «Anas todkill» هم په خپل یادښت کې د سمېت اونورو د ناهیلۍ او خستګۍ په اړه چې په شمالي امریکا کې یې د طبیعي زېرمو د نه شتون په اړه درلوده، لیکلي دي:«بله هېڅ خبره نه وه، هېڅ هیله نه وه، هېڅ کار نه و؛ مګر د سرو زرو کیندنه، د سرو زرو چاڼ او د سرو زرو بارول.»

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



د ۱٦۰۸ کال په اپرېل میاشت کې کله چې نیوپورټ برېټانیا ته روانېده، د قیمتي ډبرو او تقلبي سرو زرو یو بار یې هم له ځان سره یووړ. نوموړی د سپټمبر تر وروستیو پورې بېرته جېمز ټاون ته راستون شو چې د ویرجینیا کمپنۍ له خوا د ځایي خلکو د شدیدې ځارنې په موخه یې یو فرمان هم له ځان سره راوړی و. هغوی پلان درلود چې د پاچا واهنسن کاک پر سر به د تاج په ایښودو سره، هغه د برېټانیا د پاچا «لومړي جېمز» تابع کړي. هغوی، پاچا واهنسن کاک ته بلنه ورکړه چې جېمز ټاون ته ورشي، خو هغه چې د ښکېلاکګرو په اړه شکمن و، نه غوښتل چې ورشي او ونیول شي. جان سمېت د واهنسن کاک ځواب داسې را نقل کړی دی:«که ستاسو پاچا ما ته ډالۍ رالېږلې ده، زه هم یو پاچا یم او دا زما خاوره ده... ستاسو پلار باید دلته راشي، نه دا چې زه هغه ته ورشم. زه نه ستاسو ځای ته درځم او نه به په دې شیانو دوکه شم.»

په داسې یو حالت کې چې واهنسن کاک حاضر نه و، چې جېمز ټاون ته لاړ شي؛ نو نیوپورټ او سمېت باید پلازمېنې وېروکومو ته د پاچا د تاج ایښودو لپاره ورغلي وای. داسې څرګندېده چې کیسه ټوله له یوې شرموونکې ماتې سره مخ ده او دا د واهسن کاک لپاره ښه فرصت و چې د استعمار له شره ځان خلاص کړي. نوموړي د انګرېزانو پر وړاندې سوداګریز محدودیتونه ولګول، جېمز ټاون نور نه شوای کولای چې خپلې اړتیاوې پوره کړي او واهنسن کاک هغوی باید له ښاره ایستلو ته اړ کړي. د ۱٦۰۸ کال په ډسمبر کې نیوپورټ یو ځل بیا برېټانیا ته روان شو. نوموړي د سمېت له خوا لیکل شوی هغه وړاندیز له ځان سره یووړ چې له ویرجینیا کمپنۍ څخه په شمالي امریکا کې د استعماري تګلارې د بدلون غوښتنه په

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



کې شوې وه. د مکسیکو او پیرو په څېر چې استعمار په کې بریالی و او ډېر ژر ترې شتمنۍ ترلاسه شوې، له ویرجینیا دا ډول تمه کول بې ځایه وه. هلته سره زر او قیمتي توکي نه و او نه د خوړو د برابرولو لپاره له ځایي خلکو په زوره کار اخیستل کېدای شوی. سمېت پر دې پوه شوی و، چې که غواړي هلته تلپاتې مستعمره ولري، نو استعمارګر باید خپله کار وکړي. په دې توګه نوموړي خپلو مشرانو ته وړاندیز وکړ چې سم او مناسب خلک ور ولېږي:«که بیا کسان رالېږئ، نو هیله ده چې د هغو زرګونو کسانو پر ځای چې اوس یې لرو؛ دېرش تنه نجاران، کروندګر، بڼوال، کب نیوونکي، اهنګران او کیندونکي راولېږئ.»

سمېت نور بې کاره زرګرانو ته اړتیا نه لرله. یو ځل بیا د هغه د درایت په پایله کې جېمز ټاون وژغول شو. نوموړي به ځایي خلک غولول چې تجارت ور سره وکړي او کله به چې خلکو ډډه کوله، نو هغه څه یې کول چې له وسې یې پوره و. سمېت د ټول ښار مسوولیت پر غاړه اخیستی و او د جېمز ټاون اوسېدونکو لپاره یې داسې یو قانون وضعه کړ چې:«څوک چې کار نه کوي، ډوډۍ دې نه خوري». جېمز ټاون له دویم ژمي هم روغ ووت. د ویرجینیا کمپنۍ ګڼلې وه، چې پیسه جوړوونکې به وي؛ خو د دوو کلونو په تېرېدو سره د ګټې وټې هېڅ درک ونه لګېد. د کمپنۍ مشرانو پرېکړه وکړه چې د حکومتولۍ نوي ماډل ته اړتیا ده، داسې ماډل چې له حکومتي شورا څخه واک یو کس ته وسپارل شو. هغه لومړنی کس چې دې څوکۍ ته وټاکل شو، توماس ګېټس نومېده. د سمېت مخکنیو خبرداریو ته په پام، کمپنۍ پرېکړه کړې وه چې پر نوي پلان باید غور وکړي. د کمپنۍ

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



دغه پرېکړه د ۱۶۰۹ او ۱۶۱۰ کلونو د ژمي لپاره شوې وه. د حکومتولۍ په نوي ماډل کې سمبت ته ځای ور نه کړل شو او د ۱۶۰۹ کال په مني کې د برېټانيا پر لور وخوځېد، خو د سمېت د نه شتون او د واهنسن کاک له خوا د بنديزونو او محدوديتونو له امله د جمېزټاون اوسېدونکي له منځه لاړل. د ښار له ۵۰۰ اوسېدونکو څخه يوازې ۶۰ تنه يې له ژمي روغ ووتل. وضعيت دومره کړکېچن شو چې خلکو د انسانانو خوړلو ته مخه کړه. هغه څه چې د ګېټس او د هغه د مرستيال «سر توماس ډيل» له خوا د مستعرې لپاره په پام کې نيول شوي وو، هغه ظالمانه کاري رژيم و، چې له اشرافو پرته د ښار د عادي انګليس مېشته کډوالو لپاره جوړ شوی و. دا ډيل و، چې د «الهي، اخلاقي او نظامي» قوانينو ټولګه يې خپره کړه، چې لاندې مسايل په کې شامل و:

«- هېڅ نارينه يا ښځه نه شي کولای چې له مستعمرې څخه د ځايي خلکو خوا ته وتښتي، که نه جزا يې مرګ دی.

- که هر څا له شخصي يا عامه بڼ څخه غلا وکړه او يا يې د جوارو وږي او انګور وشکول، جزا يې مرګ دی.

- د مستعمرې هېڅ اوسېدونکی نه شي کولای چې د خپلې شخصي ګټې لپاره د دې مستعمرې کوم توکی بهر ته د لېږد لپاره پر چا وپلوري، سرغړوونکي ته به د مرګ جزا ورکړل شي.»

د ويرجينيا کمپنۍ انګېرلې وه، چې که د ځايي خلکو پر استثمارولو بريالي نه شول، نو وبه کولای شي چې د مستعمرې له اوسېدونکو کار واخلي. د استعماري ادارې د نوې کړنلارې له مخې د ټولو ځمکو مالکيت په ويرجينيا کمپنۍ پورې تړاو درلود. کمپنۍ نارينه په يو ځای کې راټولول او  په جيره به يې ډوډۍ ورکوله. کارګر چې د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



کار لپاره ټاکل کېدل، هر یو د کمپنۍ د استازو له خوا ټاکل کېدل. دلته لکه د عسکرۍ غونډې نظام حاکم و، چې لومړۍ او وروستۍ جزا اعدام و. د مستعمرې د نوې کرنلارې د یوې برخې په توګه، د

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



دې قوانينو لومړۍ ماده ډېره مهمه وه. کوم کسان چې به تښتېدل، د کمپنۍ له خوا پر مرګ ګواښل کېدل. د کار د نوي رژيم له امله خلکو غوره ګڼله چې د پاتې کېدو پر ځای وتښتي او د عادي ځايي

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*




وګړو په توګه له مستعمرې چېرته لېرې ژوند وکړي. دا چې هغه مهال
په ويرجينيا کې د ځايي خلکو شمېر لږ و، نو دې کار هم خلک
هڅول چې د ويرجينيا کمپنۍ تر ولکې لاندې استعماري سيمو څخه

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



چېرته لېږې یوازې ژوند وکړي. دې ډول سیمو ته د ویرجینیا کمپنۍ واک او لاسرسی محدود و او کمپنۍ نه شوای کولای چې پر انګلیسي کډوالو جبري کار وکړي.




۲یمه نقشه: په ۱۵۰۰ کال کې د امریکا لویه وچه کې د نفوسو تراکم

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



دویمه نقشه د هسپانوي ښکېلاک پر مهال د امریکا په بېلابېلو برخو کې د نفوسو اټکلي تراکم څرگندوي. له ځینو سیمو پرته، هغه مهال د امریکا په متحده ایالتونو کې په هر کیلو متر مربع کې تر ۳ پورې کسان اوسېدل؛ خو په مرکزي مکسیکو یا انډین پیرو کې په هر کیلو متر مربع کې تر ۴۰۰ سوو پورې کسان مېشت و، یعنې د امریکا په پرتله ۵۰۰ چنده زیات. هغه څه چې په پیرو او مکسیکو کې شوني و، په ویرجینیا کې نه و. ویرجینا کمپنۍ وروسته پوه شوه چې استعماري تگلاره یې کار نه ورکوي او همدارنگه د وخت په تېرېدو د الهي، اخلاقي او پوځي قوانینو ناکامي هم څرگنده شوه. د ۱۶۱۸ کال په پیل سره، په ډراماټیک ډول یوه نوې ستراتیژي د عمل ډگر ته وړاندې شوه. دا چې پر ځایي خلکو او کډوالو جبري کار کول ناشوني وو، نو یوازینی بدیل دا و، چې کډوالو ته د کار انگېزه ورکړل شي. په ۱۶۱۸ کال کمپنۍ د سرې سر حقوقو سیستم «Headright system» رامنځته کړ، چې له مخې یې هر نارینه کډوال ته پنځوس ایکره (۲۰ هکتاره) ځمکه ورکړل شوه، همدارنگه د کورنیو هر هغه غړي او هغو خدمتگارانو ته هم پنځوس ایکره ځمکه ورکول کېده، چې ویرجینا ته به یې یوه کورنۍ راوستله. کډوالو ته کورونه ورکول کېدل او له قراردادونو څخه معاف و. دغه راز په ۱۶۱۹ کال کې یوه عمومي غونډه جوړه شوه چې بالغو کسانو ته د مستعمرې په اداري بنسټونو او قوانینو کې د رایې ورکونې حق ورکړل شو. دا په امریکا متحده ایالتونو کې د ولسواکۍ پیلامه وه. د ویرجینا کمپنۍ مشران دولس کاله وروسته پوه شول، چې هغه استعماري تگلاره چې هسپانویانو په مکسیکو، مرکزي او سوېلي

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



امریکا کې پلې کړې وه؛ په شمالي امریکا کې کارنده نه وه. د اولسمې پېړۍ پاتې برخه د دویم درس د زده کولو لپاره په اوږدو هلو ځلو تېره شوه: داسې چې د پر ځان بسایني لپاره یوازینۍ لار د داسې بنسټونو جوړول دي چې خلکو ته د سخت کارکولو او پانګونې انګېزه ورکړي. د شمالي امریکا په پراخېدو سره، انګرېز مشرانو پرلپسې هڅې وکړې، څو داسې بنسټونه رامنځته کړي چې سیاسي او اقتصادي امتیازات د ټولو وګړو پر ځای باید یوازې د مستعمرې ځانګړو کسانو ته ورکړل شي، لکه هسپانویانو چې دا کار وکړ. خو دغه ټولې تګلارې د ویرجینا په څېر دلته هم له ماتې سره مخ شوې.

د ویرجینا کمپنۍ په ستراتیژۍ کې تر بدلون وروسته، ډېر ژر د پام وړ بدلونونه رامنځته شول. د برېټانیا پاچا لومړي چارلېز په ۱۶۳۲ کال کې د بالتیمور مشر سیسیلیوس کالورټ «Cecilius Calvert» ته د بر چېساپیک بای «Upper chesapeak Bay» لس میلیونه ایکره ځمکه ورکړه. د مریلنډ منشور د بالتیمور مشر ته بشپړ واک ورکاوه چې په خپله خوښه حکومت جوړ کړي او د دې منشور په اوومه ماده کې راغلي وو:«د خوشاله او سوکاله حکومت لپاره، بشپړ اختیار لري چې قانون رامنځته او پلی یې کړي.» بالتیمور د یوې اشرافي ټولنې د جوړولو لپاره یو تفصیلي پلان جوړ کړ چې له مخې یې په شمالي امریکا کې د برېټانیا اولسمې پېړۍ کلیوالي ژوند ته ورته یوه ایډیالي ټولنه رامنځته کړي. په دې پلان کې د زرګونه ایکره ځمکې وېش شامل و، چې د اشرافو له لوري اداره کېدې. اشرافو دغه ځمکې خلکو ته په اجاره ورکولې چې کار پکې وکړي او ګټه یې دوی ته ورکړي. په ۱۶۶۳ کال کې په کارولینا کې هم د اتو سترو ځمکوالو له خوا چې «سر انتوني اشلي کوپر» پکې شامل و، ورته

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



پلان عملي شو او کارولینا هم په همدې وخت کې تاسیس شوه. کوپر او د هغه سلاکار انګرېز فیلسوف «جان لاک» د کارولینا لپاره اساسي قانون جوړ کړ. دا د مریلنډ منشور ته ورته سند و، چې د ځمکوالو د واک پر اساس یې د نخبګانو یوه سلسله مراتبي ټولنه معرفي کوله. د دې سند په سریزه کې راغلي وو:«د دې ایالت حکومت ښایي دهغه شاهي نظام متابعت وکړي، چې موږ یې تر سیوري لاندې ژوند کوو او دا ایالت د هغه یوه برخه ده. په دې اساس موږ د ګڼو ډیموکراسیو له جوړېدو ډډه کوو.» دغه اساسي قانون یو سخت ټولنیز جوړښت رامنځته کاوه. د Leet-men په نوم طبقې د دې جوړښت په سر کې ځای درلود. د قانون په ۲۳ ماده کې راغلي وو:«د لیټ من اولاده به د تل لپاره لیټ من پاتې کېږي.» له لیټمن څخه پورته طبقه چې سیاسي قدرت یې نه درلود، «landgraves» او «Caziques» وو چې د اشرافو په ډله کې راتلل. هر لېنډ ګریو ته ۴۸ زره او هر کاسیک ته ۲۴ زره ایکره ځمکه ورکول کېده. د دوی لپاره یو پارلمان هم جوړ شوی و او په پارلمان کې به یوازې پر هغو موضوعاتو بحث کېده چې د ځمکې د اتو مالکانو له خوا به تایید شوي وو. لکه څرنګه چې په ویرجینا کې ملا ماتوونکي قوانین ناکام شول. د کارولینا او مریلنډ لپاره هم جوړ شوی پلان له ورته برخلیک سره مخ شو. په دې ټولو هڅو کې دا په ډاګه شوه چې په یوه سخته طبقاتي ټولنه کې پر خلکو جبري کار کول ناشوني دي، ځکه چې په دې نوې نړۍ یعنې په نویو مستعمرو کې ډېر نور انتخابونه موجود وو. د دې پر ځای، نورو هڅوونکو تګلارو کولای شول چې د مستعمرې اوسېدونکو ته د کار کولو

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



انګېزه ورکړي. هغوی ډېر ژر د اقتصادي ازاديو او سياسي حقوقو غوښتونکي شول. مريلنډ مېشتو کډوالو ټينګار کاوه چې ځمکې بايد د دوی شخصي ملکيت وګرځول شي او لارډ بالتيمور يې د يوې جرګې جوړولو ته اړ کړ. جرګې په ١٦٩١ کال کې د برېټانيا له پاچا وغوښتل چې مريلنډ د شاهي مستعمرې په توګه اعلان کړي او په دې توګه د بالتميور او د هغه د اشرافو سياسي امتيازات لغوه کړي. په کارولينا هم کې ورته اوږده مبارزه وشوه چې په پايله کې ځمکوالو وبايلله. سوېلي کارولينا په ١٧٢٩ کال کې د شاهي مستعمرې په توګه اعلان شوه. تر ١٧٢٠ لسيزې پورې ټولو ١٣ مستعمرو چې وروسته پر متحده ايالتونو بدلې شوې، ورته حکومتي جوړښتونه لرل. ټولو ايالتونو په راس کې والي او د قانون جوړونې يوه جرګه چې له ځمکوالو څخه جوړه وه، درلوده. دا ولسواک حکومتونه نه و، ځکه چې ښځو، مريانو او بې ځمکو کسانو پکې د رايې ورکونې حق نه درلود، خو بيا هم د هغه وخت د نورو ټولنو په پرتله په دې مستعمرو کې د خلکو سياسي حقوق خوندي و. د همدغو حکومتونو مشران او جرګې راټول شول او په ١٧٧٤ کال کې يې د يوې لويې وچې په کچه لومړنی کانګرېس جوړ کړ. دا د امريکا د متحده ايالتونو د خپلواکۍ ترلاسه کولو لومړنۍ پيلامه وه. د قانون جوړونې جرګې په دې باور وې، چې هم په کانګرېس کې د تصميم نيونې له حق څخه برخمنې دي او هم د ماليات د ټاکلو واک لري. لکه څنګه چې پوهېږو، دغه کار د انګليسانو استعماري دولت ته ستونزې وزېږولې.

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



## د دوو اساسي قوانینو داستان

اوس باید څرګنده شوې وي، چې د مکسیکو برعکس؛ د امریکا متحده ایالتونو له خوا پر ډیموکراټیکو ارزښتونو ولاړ د یوه اساسي قانون جوړول چې سیاسي واک یې محدود او د ټولنې ترمنځ یې ووېشه، کومه تصادفي پېښه نه وه. هغه سند چې د ۱۷۸۷ کال په مې میاشت کې په فلادلفیا کې چمتو شو، د هغې اوږدې پروسې پایله وه، چې په ۱٦۱۹ کال کې د جېمزټاون په عمومي غونډه کې پیل شوې وه. د اساسي قانون جوړونې هغه بهیر چې د امریکا متحده ایالتونو د خپلواکۍ له ترلاسه کولو وروسته پیل شوی و، له هغه بهیر سره یې ښکاره توپیر درلود چې څه موده وروسته په مکسیکو کې پیل شو. د ۱۸۰۸ کال په فبرورۍ میاشت کې د فرانسې امپراتور «ناپلیون بناپارټ» پر هسپانیا یرغل وکړ او د همدې کال تر مې پورې یې د هسپانیې امپراتورۍ پلازمېنه مادرید ونیوله. په سپټمبر میاشت کې د هسپانیا پاچا «فردیناند» له واکه ګوښه کړای شو، د نېشنل جونټا «National junta» په نوم یوې پوځي ډلې د چارو واګې په لاس کې واخیستې او د فرانسوي ښکېلاک پر وړاندې یې جګړه پیل کړه. پوځي دولت په لومړیو کې تر ارانجویز «Aranjuez» پورې پرمختګ وکړ، خو وروسته جنوب لور ته پر شا شو. پوځي دولت بالاخره کادیس بندر ونیوه. هسپانویان دلته د ناپلیون پوځ له لوري کلابند شول، خو تسلیمي یې ونه منله. د هسپانیا پوځي دولت همدلته د «کورتس» په نوم یو پارلمان جوړ کړ. کورتس په ۱۸۱۲ کال کې یو سند تصویب کړ چې د «کادیس اساسي قانون» په نامه یادېده، په دې قانون کې د خلکو د حاکمیت پر بنسټ د یوه مشروطه شاهي نظام پر

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



جوړولو، د ځانګړو امتيازاتو د ختمولو او د قانون په وړاندې د ټولو وګړو پر برابرۍ ټينګار شوی و. په لاتينه امريکا کې د هسپانيا تر ولکې لاندې استعماري حکومتونو چې د ايکومينډا په چوکاټ کې يې خلک استثمارول، دغه نوي بدلونونه وغندل. کله چې د ناپليون د يرغل په پايله کې په هسپانيا کې شاهي نظام ړنګ شو، په لاتينه امريکا کې استعماري دولتونو د مشروطه غوښتنې غږونه پورته کړل. د مرکزي جونټا يا پوځي دولت د رسميت پېژندنې پر سر ډېرې ناندرۍ پېښې شوې او د لاتينې امريکا يو شمېر مستعمرو د دې کار په غبرګون هر يو ځان ته د خپلواک جونټا پر جوړولو پيل وکړ. لا وخت ته اړتيا وه چې دوی له هسپانيا څخه د خپلواکۍ د ترلاسه کولو په فکر کې شي. د خپلواکۍ لومړنی اعلان په ۱۸۰۹ کال کې د بوليويا په «لا پاز» کې وشو، خو د خپلواکۍ دغه پورته شوی غږ ډېر ژر له پيرو څخه د استول شويو هسپانوي سرتېرو له لوري غلی شو. د مکسيکو واکمنې طبقې دغه پېښې د هيډالګو پاڅون ته چې په ۱۸۱۰ کال کې د «ميګوېل هيډالګو پلار»په مشرۍ ترسره شوی و، ورته بللې. د هيډالګو سرتېرو د سپټمبر په ۲۳ مه د «ګواناجواتو» تر لوټلو وروسته، د مستعمرې مشر و واژه او بيا يې د سپين پوستو پر وژلو لاس پورې کړ، د هيډالګو دغه خوځښت د ازادۍ غوښتنې پر ځای تر ډېره قومي او توکميز اړخ درلود، چې د دې عمل په غبرګون کې ټول سياسي مخالفين په يو صف کې ودرېدل. که دغو ازادي غوښتونکو خوځښتونو خلکو ته په سياست کې د ګډون زمينه برابره کړې وای، نو نه يوازې هسپانويانو؛ بلکې ځايي مشرانو به يې هم مخالفت کړی وای. په پايله کې، د مکسيکو د مشرانو هغه انګېرنه چې د کاديس اساسي قانون خلکو ته د مشارکت زمينه برابره کړې،

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



خلک شکمن کړل او هېڅکله یې مشروعیت پیدا نه کړ. په ۱۸۱۵ کال کې د ناپیلیون د امپراتورۍ له ړنګېدو وروسته، پاچا اووم فردیناند یو ځل بیا واک ترلاسه کړ او د کادیس اساسي قانون لغوه شو. د تاج اینبنودنې تر مراسمو وروسته، پاچا په امریکا کې د خپلو مستعمرو د بېرته ترلاسه کولو غوښتنه وکړه او دا غوښتنه د مکسیکو د وفادار حکومت له کوم مخالفت سره مخ نه شوه. په ۱۸۲۰ کال کې په کادیس کې د هسپانوي ځواکونو یوه ډله چمتو شوې وه، څو د امریکا لویه وچه کې د هسپانیا مستعمرې بېرته را ژوندۍ کړي، خو دغو ځواکونو د پاچا فردیناند پر وړاندې پاڅون وکړ او ډېر ژر د هېواد له ګوټ ګوټ څخه نور سرتېري هم له دوی سره یو ځای شول. پاچا مجبور شو چې د کادیس قانون بېرته عملي او کورتس یا پارلمان ته د کار پیلولو امر وکړي، دا پارلمان «کورتس» د مخکېني هغه په پرتله چې د کادیس اساسي قانون یې لیکلی و، تند یا راډیکال و. په دې قانون کې د هر ډول جبري کار د منع کولو وړاندیز شوی و، په نوي قانون کې همدا رنګه هغه ځانګړي امتیازات هم لغوه شول، چې د ټولنې ځینې ځانګړو طبقو ته په پام کې نیول شوي وو. د بېلګې په توګه، په دې قانون کې د هغو پوځیانو لپاره چې په جرم مرتکب کېدل، د ځانګړې پوځي محکمې د جوړېدو غوښتنه شوې وه. یاد قانون د مکسیکو واکمنې طبقې ته د زغملو نه و او په غبرګون کې یې خپله ازادي اعلان کړه. دغه ازادي غوښتونکی غورځنګ د هسپانوي پوځ د یوه افسر اګوستین ډې اتورباید « Augustin de Iturbide» له خوا رهبري کېده. نوموړي د ۱۸۲۱ کال د فبرورۍ په ۲۴ مه د ډې ایګوالا «de iguala» په نوم یو پلان اعلان کړ، چې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



د ازادۍ مکسیکو لپاره په کې د نوموړي لیدلوری په ډاګه شوی و. په دغه پلان کې د یوې هسپانوي امپراتورۍ په اډانه کې د مشروطه شاهي دولت جوړول شامل و او د کادیس اساسي قانون هغه اصول یې لغوه کړل، چې د مکسیکو واکمنې طبقې د خپلو ګټو او امتیازاتو پر وړاندې ګواښ باله. د اګوستین دا پلان له شک پرته د خلکو له هرکلي سره مخ شو او هسپانویان پوهېدل چې په مکسیکو کې له رامنځته شوي وضعیت څخه انکار نه شي کېدای. اګوستین نه یوازې مکسیکو له هسپانوي امپراتورۍ جلا کړه، بلکې د واک له تشې څخه په استفادې یې د پوځ په ملاتړ ځان امپراتور اعلان کړ. د جنوبي امریکا د خپلواکۍ ستر مشر سیمون بولیوار د اتورباید د دې موقف په اړه وایي: هغه ډېر ژر پر یوه دیکتاتور واکمن بدل شو او د ۱۸۲۲ کال په اکتوبر کې یې هغه اساسي قانون لغوه کړ چې د کانګرېس له خوا تصویب شوی و او ځای یې د جونتا په نوم منتخب پوځي دولت ډک کړ.

که څه هم د اګوستین دولت تر ډېره دوام ونه کړ، خو په نولسمه پېړۍ کې په مکسیکو کې دغه ډول پېښې بیا بیا تکرار شوې. د متحده ایالتونو اساسي قانون پر نویو معیارونو ولاړه ولسواکي رامنځته نه کړه، په دې اړه چې چا په ټاکنو کې د ګډون او رایې ورکونې حق درلود، هر ایالت ته د جلا پرېکړې نیونې حق ورکړل شو. په شمالي ایالتونو کې پرته له دې چې د خلکو د مالیې او شتمنۍ کچه په پام کې ونیول شي، ټولو سپین پوستو ته د رایې ورکونې حق ورکړل شو؛ خو په جنوبي ایالتونو کې دغه بهیر ډېر ورو او په تدریجي توګه پلی کېده. په هېڅ ایالت کې ښځو او مریانو ته د رایې ورکونې حق ور نه کړل شو. په عین وخت کې د سپین پوستو پر

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



عوایدو او د شتمنۍ پر څومره والي لګېدلي محدودیتونه له منځه یووړل شول، خو تور پوستي په ښکاره له دې حق څخه بې برخې وو. البته، مریتوب هغه وخت قانوني بڼه خپلوله چې په فلادلفیا کې د متحده ایالتونو اساسي قانون تدوین او د کاغذ پر مخ لیکل کېده او د استازو ترمنځ تر ټولو ناوړه بحث دا و، چې د استازو جرګې څوکۍ باید د ایالتونو ترمنځ ووېشل شي. په کانګرېس کې د څوکیو وېش د هر ایالت د نفوسو د شمېر په اندازه ترسره کېده، خو د جنوبي ایالتونو استازو ټینګار کاوه چې د نفوسو په شمېرنه کې مریان هم باید حساب شي، خو د شمال استازو ور سره مخالفت وکړ. بالاخره د څوکیو د وېش پر سر د شوې هوکړې پر بنسټ له هرو پنځو مریانو څخه درې یې له یو تن ازاد انسان سره برابر وشمېرل شول. د اساسي قانون د تدوین پر مهال به چې د شمالي والو او جنوبي والو ترمنځ کوم اختلافات رامنځته کېدل، دواړو غاړو به د حللارې لپاره د ۳ پر ۵ قانون له طریقې کار اخیسته. د وخت په تېرېدو سره په قانون کې نوي بدلونونه رامنځته شول. د بېلګې په توګه؛ د مسیوري تړون پر بنسټ یو ایالت به تل د مریتوب د مخالف او بل د موافق په توګه یو اتحاد جوړاوه، څو د مخالفو او موافقو ترمنځ انډول وساتل شي، دغه تړون او وېش سبب شو، چې د امریکا سیاسي بنسټونه او ادارې په ارامه زړه خپلو چارو ته دوام ورکړي، خو د وخت په تېرېدو سره کورنۍ جګړې دغه مسئله د شمالي والو په ګټه پای ته ورسوله. که څه هم دغه کورنۍ جګړه خونړۍ او ورانوونکې وه، خو تر هغې مخکې او وروسته د خلکو یوه لویه برخه او په ځانګړې توګه، د متحده ایالتونو د شمال او لوېدیځ اوسېدونکي له پراخو اقتصادي

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



فرصتونو څخه برخمن شول. په مکسیکو کې بیا وضعیت بل ډول و. که د امریکا متحده ایالتونو د ۱۸۶۰ او ۱۸۶۵ کلونو ترمنځ پنځه کاله بې ثباتي تجربه کړه، مکسیکو بیا تر خپلواکۍ وروسته پنځوس کاله پرله پسې له سیاسي بې ثباتۍ سره مخ وه. د «انتونیو لوپېز ډي سانتا انا» د ژوند داستان دغه وضعیت په ښه توګه انځوروي. سانتانا د وراکروز په مستعمراتي سیمه کې د یوه چارواکي زوی و، چې د هسپانیا د ملاتړي په توګه یې د مکسیکو د خپلواکۍ په جګړه کې شهرت وموند، نوموړي په ۱۸۲۱ کال کې خپل دریځ بدل او د مکسیکو د نوي واکمن اتوربایډ تر څنګ ودرېد. سانتانا د ۱۸۳۳ کال په مې کې په لومړي ځل د مکسیکو ولسمشر شو، خو تر یوې میاشتې واکمنۍ وروسته یې غوره وګڼله چې د ولسمشرۍ دا مسوولیت «والنتیاین ګومېز فارایاس» ته وسپاري، ګومېز یوازې پنځلس ورځې د مکسیکو ولسمشر و او واک بېرته سانتانا ته وسپارل شو. د انا د ولسمشرۍ دا دوره هم ډېره لنډه وه او د همدې کال په جولای کې بېرته ګومېز فارایاس ولسمشر شو. د سانتانا او فارایاس دغه کار د ۱۸۳۵ کال تر نیمایي پورې، یعنې کله چې مګوېل باراګان د سانتانا ځایناستی شو، دوام وکړ. خو سانتانا غلی کېنناست. هغه یو ځل بیا په ترتیب سره په ۱۸۳۹، ۱۸۴۱، ۱۸۴۴ او ۱۸۴۷ کلونو او په پای کې د ۱۸۵۳ او ۱۸۵۵ کلونو ترمنځ د مکسیکو ولسمشر شو، چې ټولټال یوولس دورې یې حکومت وکړ. هغه په دې موده کې د الامو او تکزاس سیمې وبایللې او همدارنګه د مکسیکو-امریکا متحده ایالتونو ترمنځ په جګړه کې یې د نیو-مکسیکو او اریزونا سیمې هم له لاسه ورکړې. له ۱۸۲۴ کال څخه تر ۱۸۶۷ کال پورې په مکسیکو کې ۵۲ ولسمشران راغلل او لاړل،

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



چې له دې ډلې يوازې څو محدود شمېر يې د اساسي قانون پر بنسټ واک ته رسېدلي وو.

پر اقتصادي بنسټونو او نورو چارو د دغې سياسي بې ثباتۍ اغېزې ډېرې څرګندې دي. دغه وضعيت په مکسيکو کې د مالکيت د حقونو د ناخونديتوب سبب شو، چې له همدې امله مکسيکو اوس مهال د عامه خدمتونو د وړاندې کولو او مالياتي عوايدو د ډېرولو په برخو کې ناتوانه دی. که څه هم سانتانا عملاً د مکسيکو ولسمشر و، خو پر ټول هېواد يې بشپړ واک نه درلود او دا کار د دې لامل شو، چې تکزاس د امريکا متحده ايالتونو برخه وګرځي. پر دې سربېره، لکه څرنګه چې ومو ليدل، د مکسيکو د خپلواکۍ تر اعلان وروسته، انګېرنه دا وه چې د استعمار د وخت اقتصادي بنسټونه بايد وساتل شي، هغه بنسټونه چې د لاتينې امريکا په برخه کې د جرمني څېړونکي او جغرافيه پوه «الکساندر وون هومبولټ»په وينا مکسيکو يې د «نا برابرو هېوادونو» په ډله کې ودروله. دغو بنسټونو چې په ټولنه کې يې د ځايي خلکو د استثمار او د انحصار اساس کېښود، د خلکو د يوې سترې ډلې اقتصادي انګېزه ووژله. په داسې حال کې چې متحده ايالتونو د نولسمې پېړۍ په نيمايي کې صنعتي انقلاب تجربه کاوه، مکسيکو ورځ تر بلې د بېوزلۍ په ګرداب کې ډوبېده.

## د يوې ايډيا لرل، د شرکت جوړول او د پور اخيستل

په برېټانيا کې صنعتي انقلاب پيل شوی و، له پنبې څخه د ټوکر توليد لومړنۍ بريالۍ تجربه وه. د ټوکر د توليد يا نساجۍ ماشين په لومړيو کې د اوبيزې او بيا وروسته د بخار انرژۍ په واسطه چلېده. د پنبې توليد په ميکانيزه کېدو سره، لومړی د نساجۍ او وروسته په نورو

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



صنایعو کې د بشري ځواک اړتیا په بېساري ډول لوړه شوه. نوښت او پنځونه د اقتصاد په ټولو برخو کې د ټکنالوژیکي پرمختګونو لپاره محرکه قوه وه. سوداګر، پانګوال، کسبګر او نورو هغو کسانو چې غوښتل یې خپلې نوې ایډیاوې په کار واچوي، د دې حرکت ملګري او سرلاري شول. د نېکمرغه بدلون دغه څپه شمالي اتلانتیک او تر امریکا ورسېده. هغه ټکنالوژي چې په برېټانیا کې پنځول شوې وه، خلک یې په مټ په امریکا کې له سترو اقتصادي فرصتونو څخه برخمن شول، هغوی په صنعت کې د نوښت او خلاقیت په موخه، په برېټانیا کې له رامنځته شویو بدلونونو څخه الهام واخیست. د دغه ډول اختراعاتو او نوښتونو په اړه د لا پوهاوي لپاره اړینه ده، پوه شو چې په دې دوره کې خلکو ته څرنګه د معنوي مالکیت حق ورکول کېدل او د دې حق پرمټ یې څنګه د خپلو اختراعګانو حقوق خوندي کول. د اختراعګانو د ثبت سیستم چې د شخص له معنوي ملکیت څخه یې ملاتړ کاوه، د «انحصاراتو قانون» پر بنسټ رامنځته شوی و، دغه قانون چې په ۱٦۲۳ کال کې د برېټانیا د پارلمان له خوا تصویب شو، یوه موخه یې د پاچا له لوري په خپل سر د معنوي مالکیت حق د ورکولو مخنیوی و، د معنوي مالکیت حق یوازې سوداګرو، صنعتکارانو او پانګوالو ته ورکول کېده. د امریکا په متحده ایالاتو کې د معنوي مالکیت د حقوقو په اړه شواهد ښیي چې هلته نه یوازې شتمنو کسانو او کسبګرو ته دا حق ورکول کېده، بلکې د ټولنې نورو اقشارو هم کولای شول چې له دغه امتیازه ګټه واخلي او زیاتره کسان د دغه امتیاز په برکت د لویو شتمنیو خاوندان شول. د بېلګې په توګه، د فون ګرام او برېښنا مخترع او د نړۍ د الکټرونیکي وسایلو د تولید د سترې کمپنۍ «جنرال الکټریک»

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



بنسټګر «ټوماس اډیسن» له دغو کسانو یو تن و. هغه د پلار اووم او وروستی اولاد و، پلار یې «ساموېل اډیسن» د کورونو د چتونو له پوښولو نیولې تر خیاطۍ او هوټلدارۍ پورې، بېلابېل کارونه کړي وو. توماس په ښوونځي کې ډېرې لږې زده کړې وکړې، خو په کور کې یې د مور له لوري روزنه ورکول کېده. په متحده ایالتونو کې د ۱۸۲۰ او ۱۸۴۵ کلونو ترمنځ د ټولو هغو کسانو له ډلې چې خپل اختراعات یې ثبت کړي وو، یوازې ۱۹ سلنه یې ځمکوال او کسبګر وو او پاتې ۴۰ سلنه د اډیسن په څېر هغه عادي کسان وو، چې ابتدايي او یا ډېرې لږې زده کړې یې لرلې. په دې لړ کې یو شمېر کسانو د معنوي مالکیت حق څخه په ګټې اخیستنې د شرکتونو پر جوړولو لاس پورې کړ، چې توماس اډیسن یې ژوندی مثال دی. دا چې په نولسمه پېړۍ کې د نورو هېوادونو په پرتله په متحده ایالتونو کې تر یوه بریده ولسواکي حاکمه وه، خلکو ته د نوښت او پنځونې زمینه برابره وه. هغه څه چې امریکا یې د اقتصاد په برخه کې د نړۍ د نوښتګرو هېوادونو په ډله کې ودروله، همدا ولسواکي وه چې په صنعتي بهیر کې یې نوښتونه حمایه او هڅول. که بېوزله وې، یو فکر او ایډیاله دې لرله، نو یوازې د معنوي مالکیت حق ترلاسه کولو ته اړتیا وه چې تر لاسه کول یې اسانه و او دومره لګښت یې هم نه درلود، د دې امتیاز ترلاسه کول د پیسو ګټلو لپاره ښه وسیله وه. د معنوي مالکیت حق د ترلاسه کولو یوه بله ګټه دا وه چې دغه امتیاز پر بل کس پلورل کېدای هم شوی. اډیسن په پیل کې د پانګې پیدا کولو لپاره همداسې کول، نوموړي د ۱۰ زره ډالرو په بدل کې د «Quadruplex» ټلګراف جواز پر «ویسټرن یونین» شرکت وپلوره،

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



خو د دې ډول امتیازاتو خرڅول یوازې د اډیسن په څېر کسانو لپاره ګټور و، ځکه چې یوه اختراع به یې عملي کړې نه وه، چې بله نوې ایډیا به یې ذهن ته ورغله. (هغه په امریکا کې د ۱۰۹۲ اختراعاتو او په ټوله نړۍ کې د ۱۵۰۰ اختراعاتو په ثبتولو سره نړیوال ریکارډ لري.)

د معنوي مالکیت له لارې د پیسو د لاسته راوړولو لپاره غوره لار د یوه تجارت او کاروبار پیلول و، د دې ډول کار د پیلولو لپاره مالي سرچینو او بانکونو ته اړتیا وه، څو خلکو ته د پورونو د ورکولو اسانتیاوې برابرې کړي. په امریکا متحده ایالتونو کې مخترعین نېکمرغه او خوشبخته وو، امریکا په نولسمه پېړۍ کې د بانکوالۍ او نورو مالي پور ورکوونکو بنسټونو د جوړېدو په برخه کې د پاموړ پرمختګونو شاهده وه، چې دغه بدلون د امریکا په اقتصادي پرمختګ او صنعتي کېدو کې بنسټیز رول ولوباوه. په ۱۸۱۸ کال کې په متحده ایالتونو کې ۳۳۸ بانکونو فعالیت درلود، چې ټولټال ۱۶۰ میلیونه ډالره پانګه یې لرله، خو په ۱۹۲۴ کال کې دغه شمېر ۲۷،۸۴۶ بانکونو ته لوړ شو چې ټولټال ۲۷،۳ میلیارده ډالره پانګه یې لرله. په دغه هېواد کې بالقوه مخترعینو، نوښتګرو او کسبګرو کولای شول چې د نوي کار او سوداګرۍ د پیلولو لپاره د خپلې اړتیا وړ پانګه د پور په ډول ترلاسه کړي. د بانکونو او مالي بنسټونو ترمنځ سختې سیالۍ خلکو ته په ارزانه بیه د پورونو اسانتیاوې برابرې کړې وې، خو په مکسیکو کې وضعیت بل ډول و.

په ۱۹۱۰ کال کې چې په مکسیکو کې صنعتي انقلاب نوی پیل شوی و، په دغه هېواد کې یوازې ۴۲ بانکونه فعال وو، چې د ټولې پانګې ٪۶۰ سلنه یې په دوو بانکونو پورې اړه لرله. په داسې حال کې چې

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



په متحده ایالتونو کې د بانکونو ترمنځ سخته سیالي روانه وه، خو په مکسیکو کې داسې څه نه تر سترګو کېدل. د بانکونو ترمنځ د رقابت نه شتون په دې معنا و، چې بانکونو په لوړه بیه خلکو ته پورونه او خدمات وړاندې کول او پورونه هم د ټولنې بډایه خلکو ته ورکول کېدل، چې په هغو به یې په بېلابېلو اقتصادي برخو کې پانګونه کوله. په مکسیکو کې د بانکدارۍ نظام هغه بڼه چې په نولسمه او شلمه پېړۍ کې رامنځته شوې وه، د خپلواکۍ تر ګټلو وروسته د دې هېواد د سیاسي بنسټونو نتیجه وه. د ۱۸۶۴ او ۱۸۶۷ کلونو او د سانتانا د واکمنۍ پر مهال چې وضعیت ترینګلی او ګډوډې وه، د فرانسې دویم ناپلیون په مکسیکو کې د «ماکسیمیلیان» په مشرۍ د یوه استعماري دولت د جوړولو ناکامه هڅه وکړه. فرانسویان پر شا وتمبول شول او نوی اساسي قانون جوړ شو. خو هغه دولت چې په لومړي سر کې د «بونیتو جواریز» او بیا د هغه تر مرګ وروسته د «سباسټین لیردو تیجادا» له خوا جوړ شو، د «پور فیریو دیاز» په نوم د یوه ځوان پوځي له خوا له ننګونو سره مخ کړل شو. دیاز هغه جنرال و، چې د فرانسویانو پر وړاندې جګړه کې بریالی شوی و او واک ته د رسېدو هیله یې لرله، نوموړي ځان ته پوځ جوړ او د ۱۸۷۶ کال په نومبر کې د «ټي کواک» په نوم جګړه کې یې دولتي ځواکونو ته ماتې ورکړه. د بل کال په مې میاشت کې نوموړي ځان د مکسیکو د منتخب ولسمشر په توګه اعلان کړ. دیاز په داسې حال کې چې ورو- ورو د استبداد خوا ته روان و، ۳۴ کاله په واک کې پاتې شو او بالاخره د یوه انقلاب پایله کې را وپرځول شو. نوموړي د مکسیکو د پخوانیو واکمنانو «اتوربییده او سانتانا» په څېر خپل ژوند

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



له یوځې ډگره پیل کړ. د امریکا متحده ایالتونه هم د یوځ له ډگره سیاست ته د ځینو خېرو د راتگ تجربه لري. د امریکا لومړنی ولسمشر «جورج واشنگټن» یو مخکښ او بریالی جنرال و، چې د خپلواکۍ جگړه یې رهبري کوله. د کورنۍ جگړو یو بل مخکښ جنرال «اولیسس اس. گرانټ» هم په ۱۸۶۹ کال کې ددې هېواد ولسمشر شو، همدارنگه د دویمې نړیوالې جگړې پر مهال په اروپا کې د متفقینو عمومي قوماندان «ډوایټ ایزنهاور» هم د ۱۹۵۳-۶۱ کلونو ترمنځ د امریکا ولسمشر و. خو د اټوربیته، سانتانا او دیاز برعکس؛ دغو امریکایي مشرانو د واک د لاسته راوړولو لپاره له زوره کار وانخیست، هغوی هېڅکله د واک د پایښت او بل ولسمشر ته د واک لېږد د مخنیوي لپاره زور ونه کاراوه، بلکې اساسي قانون ته ژمن پاتې شول. که څه هم مکسیکو په نولسمه پېړۍ کې اساسي قانون درلود، خو دغه قانون پر هغه څه ډېر لږ محدودیتونه لگول چې د اتوربیته، سانتانا او دیاز له خوا ترسره کېدل، هغوی څرنگه چې واک د زور له لارې ترلاسه کړی و، همدغسې له واکه لرې هم شول. دیاز د خلکو د مالکیت حقونه تر پښو لاندې کړل، شخصي ملکیتونه یې ضبط او د بانکدارۍ په گډون ټول اقتصادي فعالیتونه یې انحصار او خپلو پلویانو ته ډالۍ کړل. دا کټ مټ هغه څه و، چې هسپانوي ښکېلاکگرو په مکسیکو کې وکړل او بیا وروسته سانتانا هم د همدغو یرغلگرو پر پلونو قدم کېښود. دا چې د امریکا متحده ایالتونو کې د بانکدارۍ صنعت ددې هېواد په اقتصادي پرمختگ کې رغنده رول لوباوه، لامل یې هغه متفاوتې انگېزې نه وې، چې د بانکونو مالکینو لرلې. د گټې هغه انگېزه چې د مکسیکو په بانکي نظام کې موجوده وه، په امریکا کې هم ورته وضعیت و، خو دا انگېزه

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



په دوارو هېوادونو کې د موجوده بنسټونو له اړخه کاملاً متفاوتې وې. امریکایي بانکداران له داسې اقتصادي بنسټونو څخه برخمن وو، چې هغوی یې په خپلو کې سیالۍ ته هڅول، دا ځکه چې امریکایي بانکونو ته داسې سیاستوالو قوانین جوړول چې د مکسیکویي سیاستوالو برعکس یې جلا او متفاوت سیاسي بنسټونه او سیستمونه لرل. د اتلسمې پېړۍ په وروستیو کې د امریکا د اساسي قانون تر پلي کېدو وروسته په دغه هېواد کې هم د یوې مودې لپاره مکسیکو ته ورته بانکي نظام عملي شو، چارواکو هڅه کوله چې په بانکي نظام کې محدودیتونه رامنځته او د دولتي بانکونو په جوړولو سره ګټې په خپلو کې سره ووېشي. امریکایي بانکونو د مکسیکویي هغو په څېر هغه چا ته پورونه ورکول چې پر دوی یې څار او نظارت کاوه، خو دغه وضعیت تر ډېره دوام ونه کړ، ځکه چې د مکسیکو برعکس؛ په متحده ایالتونو کې قانون او پالیسي جوړوونکي د ټاکنو له لارې انتخابېدل. د بانکونو انحصار او د پورونو ترلاسه کول د چارواکو د ګټې ښه وسیله وه، خو په دې شرط چې دوام یې ورکړی وای. خو دا وضعیت په هېڅ صورت د عامو خلکو په ګټه نه و. د مکسیکو برعکس، د امریکا خلکو کولای شول چې پر خپلو سیاستوالو نظارت وکړي او د هغو کسانو مخه ونیسي چې له واک څخه یې ناوړه ګټه اخیسته، په پایله کې بانکي انحصار له منځه یووړل شو. په امریکا کې د سیاسي حقوقو پراختیا او پلي کېدو خلکو ته د پورونو او مالي مرستو زمینه برابره کړه، بالاخره دغه وضعیت هغو خلکو ته د فعالیت لار پرانېسته، چې ایډیاګانې یې لرلې او نوښتونه یې پنځول.

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



## د اتکا په مسیر کې بدلون

نړۍ په ۱۸۷۰ یمه او ۱۸۸۰ یمه لسیزه کې د بدلون په حال کې وه، لاتینه امریکا هم له دغه بدلون څخه بې برخې نه وه. هغه بنسټونه چې «پورفیریو دیاز» په مکسیکو کې جوړ کړي وو، د هسپانوي استعمار او سانتانا د واکمنۍ پر مهال د جوړو شویو بنسټونو په څېر نه وو. د نړۍ اقتصاد په نولسمه پېړۍ کې حیرانوونکې پرمختګ وکړ. د لېږد رالېږد یا ټرانسپورټ په برخه کې نویو اختراعاتو لکه د بخار کښتۍ جوړېدو، د نړیوالې سوداګرۍ لمن پراخ کړه. دا نړیوال بدلون په دې معنا و، چې د مکسیکو په څېر هېوادونو چې پرېمانه طبیعي زېرمې یې لرلې، کولای شوای چې د شتمن کېدو لپاره خپل خام طبیعي توکي د شمالي امریکا او لوېدیځې اروپا مخ پر صنعتي کېدونکو هېوادونو ته صادر کړي. له همدې امله دیاز او ملګرو یې ځان په داسې نړۍ کې لیده چې په چټکۍ سره د بدلون په حال کې وه، هغوی وپتېیله چې مکسیکو هم باید د دې بدلون ملګرې شي. خو دا بدلون په دې معنا نه و، چې د هسپانوي استعمار میراثي بنسټونه رنګ او پر ځای یې امریکایي ډوله نوي بنسټونه ساز کړي، بلکې دا بدلون پر هماغه مسیر روان و چې پخوا ټاکل شوی و؛ یعنې د بنسټي بدلون هغه پېښه چې تر دې مخکې یې لاتینه امریکا بېوزله او له پښو وغورځوله. نړیوالتوب د امریکا په لویه وچه کې پرانیستې فضا رامنځته او پرانیستو پولو دغه سیمه نوره هم ارزښتمنه کړه. دغه پولې په رښتینې معنا خلاصې نه وې، بلکې د پولو شاوخوا مېشت بومي یا ځایي خلک تر ظلم او ستم لاندې وو. د نولسمې پېړۍ په نیمایي کې د امریکا په لویه وچه کې نویو ارزښتناکه سرچینو ته لاسرسی پر یوه نوي تعریف شوي بحث بدل شوی و. د دې سیمې د پولو ناځایي

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



خلاصېدا، نه یوازې په متحده ایالاتو او لاتینه امریکا کې یو رنګ بدلون ته لار هواره نه کړه؛ بلکې د هغوی ترمنځ یې بنسټي یا نهادي توپیرونه- په ځانګړې توګه په دې اړه چې کوم کسان د ځمکې مستحق کېدای شي- لا ژور کړل. په متحده ایالاتو کې د تقنیني فرمانونو ټولګې چې د ۱۷۸۵کال «د ځمکو فرمان» او د ۱۸۶۲ کال « دکورونو قانون» په پرتله یې جامع مقررات او احکام لرل، عامه خلکو ته د نویو ځمکو د وېش زمینه برابره کړه. که څه هم ځایي خلک یا بومیان ګوښه کړل شول، خو دا کار په دې سرحدي سیمو کې د برابرۍ او اقتصادي ودې سبب شو؛ په داسې حال کې چې د لاتینې امریکا په زیاترو هېوادونو کې د سیاسي بنسټونو کړنې تر دې متفاوتې پایلې وزېږولې. دلته سرحدي ځمکې هغو خلکو ته ووېشل شوې چې زور، شتمنۍ او قومي اړیکې یې لرلې او دا کار د هغوی د لا ځواکمنېدو سبب شو. دیاز چې فکر یې کاوه د نړیوال تجارت ډګر ته په ورتګ سره به دی او ملګري یې شتمن شي، د استعمار د وخت هغه بنسټونه یې له منځه یوړل چې د تجارت پر وړاندې خنډ و. هغه تګلاره چې نوموړي په دې برخه کې غوره کړې وه، د اقتصادي پراختیا هغه ماډل نه و، چې نوموړي د «ریو ګرنډې» په شمال کې لیدلی و، بلکې دا د کورتېز، پیزارو او ډې ټولدو ماډل و. د دې تګلارې له مخې شتمنۍ د ټولنې د لوړ پاړکي په ولکه کې وې او د ټولنې نور پاړکي ورځ تر بلې منزوي کېدل. هغه مهال چې د ټولنې لوړ پاړکي پانګونه کوله، اقتصادي وده ډېره ټکنۍ وه او د ښه کېدو هیله یې ډېره تته وه. دا وده د هغو خلکو پر زیان وه، چې په نوي سیستم کې له خپلو حقونو بې برخې و. لکه د سونورا د یاکوی

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



«Yaqui» خلک چې د نوګالس په لېرو پرتو ځمکو کې اوسېدل. د ۱۹۰۰ او ۱۹۱۰ کلونو ترمنځ شاوخوا ۳۰ زره «یاکوی» وګړي له خپلو ځمکو وشړل شول او د مریانو په توګه د هېنکوېن«Henequen»[1] په نامه د یو ډول بوټي په کروندو کې د کار لپاره یوکاتان ته ولېږدول شول. د دې بوټي الیاف ډېر ارزښتناک ګڼل کېدل او له دغه الیاف څخه د پړي په جوړولو کې ګټه اخیستل کېده. د شلمې پېړۍ په پیل کې په مکسیکو او ټوله لاتینه امریکا کې د پرمختګ ضد دغه سیستم لا هم پر ځای پاتې شو، چې د نولسمې پېړۍ په څېر یې رکود، سیاسي بې ثباتي، کورنۍ جګړه او بېلابېلې کودتاګانې له ځان سره لرلې، ځکه چې هرې ډلې د خپلو ګټو لپاره مبارزه کوله. بالاخره دیاز په ۱۹۱۰ کال کې واک انقلابي ځواکونو ته وسپاره. د مکسیکو تر انقلاب وروسته په ۱۹۵۲ کال کې په بولیویا، په ۱۹۵۹ کال کې په کیوبا او په ۱۹۷۹ کال کې نیکاراګوا کې انقلابونه رامنځته شول. په همدې وخت کې په کولمبیا، السلوادور، ګواتیمالا او پیرو کې کورنۍ جګړې پیل شوې. په بولیویا، برازیل، چیلي، کولمبیا، ګواتیمالا، پیرو او وینزویلا کې د ملکیتونو استملاک او د خلکو د ملکیتونو او جایدادونو د سلبولو لړۍ په چټکۍ سره روانه وه. انقلابونه د ځمکو د مصادرې، سیاسي بې ثباتۍ، پوځي حکومتونو او د دیکتاتورۍ د واکمنېدو سبب شول. دا چې د لاتینې امریکا په ډېری هېوادونو کې د سیاسي حقونو د لاسته راوړلو لپاره مبارزې وشوې او د لاتینې امریکا یو شمېر هېوادونو په ۱۹۹۰ کلونو کې د ولسواکۍ مزه وڅکله، خو له سیاسي پلوه اوس

[1] په مکسیکو کې د الیاف یو ډول بوټی دی چې رسۍ ترې جوړېږي

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

Downloaded By: Afghan Salar Library



هم دغه هېوادونه د بې ثباته دولتونو په ډله کې راځي. دا بې ثباتي له ځينو او وژنو سره مله وه. د چيلي هېواد په اړه د «حقيقت موندنې او پخلاينې ملي کمېسيون» په ۱۹۹۱ کال کې په خپل راپور کې په ډاګه کړه چې د پنوشه «Pinochet» د ديکتاتورۍ پر مهال د ۱۹۷۳ او ۱۹۹۰ کلونو ترمنځ په دې هېواد کې د سياسي انګېزو له مخې ۲۲۷۹ کسان وژل شوي دي. دغه راز په دې موده کې ۵۰،۰۰۰ کسان بنديان او شکنجه شوي دي او سلګونه زره نور د کار پرېښودو ته اړ کړل شوي دي. همدارنګه د«تاريخي وضاحت لپاره د ګواتيمالا کمېسيون» راپور چې په ۱۹۹۱ کال کې خپور شو، ښيي چې د ۱۹۶۲ او ۱۹۹۲ کلونو ترمنځ په دغه هېواد کې د تاوتريخوالي په پېښو کې ټولټال ۴۲،۲۷۵ وژل شوي دي. خو ځينې نورې سرچينې دا شمېره ان ۲۰۰،۰۰۰ تنه په ګوته کوي. له دې ډلې يوازې ۷۰ زرو تنو د جنرال اېفرين ريوس مونټ «Efrain Rios Montt» د واکمنۍ پر مهال خپل ژوند له لاسه ورکړی و او نوموړي له دومره ستر بشري جنايت سره سره، د ۲۰۰۳ کال ولسمشريزو ټاکنو ته ځان کانديد کړ، خو له نېکه مرغه بريالی نه شو. په ارجنټاين کې د «نادرکه شويو کسانو ملي کمېسيون» د هغو ارجنټاينانو شمېر چې د ۱۹۷۶ او ۱۹۸۳ کلونو ترمنځ د پوځ له خوا وژل شوي وو، شاوخوا ۹ زره تنه وښود، خو کمېسيون زياته کړه چې ښايي دا شمېر تر دې هم لوړ وي. د يادونې ده، هغه څېړنې چې د بشري حقونو د ادارو له خوا ترسره شوې، دا شمېر شاوخوا ۳۰،۰۰۰ تنه اټکلوي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



## یو میلیارد او که دوه میلیارده ډالر؟

هغه څه چې د متحده ایالاتو او مکسیکو او بیا د نوګالس د دوو شمالي او سویلي برخو ترمنځ ژور توپیرونه په ډاګه کوي، د استعمار د وخت راپاتې بنسټونه او د وخت له اړتیا سره سم نوي بنسټونه دي. د بیل ګېټس او کارلوس سلایم ترمنځ (وارن بوفیټ هم له دوی سره د سیالۍ په لیکه کې ولاړ دی) توپیر چې څنګه دواړه د نړۍ پر دوو شتمنو کسانو بدل شول، د هغه قوت ښکارندویي کوي چې په دې برخه کې مهم رول لوبوي. د ګېټس او مایکروسافټ په اړه ټول پوهېږي، خو د نړۍ د تر ټولو لوی شتمن او د ټکنالوژۍ د یوې سترې نوښتګرې کمپنۍ د بنسټګر په توګه د ګېټس موقف هېڅکله دې خنډ نه شو، چې د امریکا متحده ایالاتو عدلیې وزارت د ۱۹۹۸ کال د مې میاشتې پر اتمه د انحصار حق څخه د ناوړه ګټه اخیستنې په تور د مایکروسافټ پر وړاندې دوسیه پرانېزي. موضوع داسې وه چې مایکروسافټ خپل انټرنېټ پلټونکی «اکسپلورر» د وینډوز عملیاتي سیستم سره تړلی و. دولت تر یوې مودې د ګېټس فعالیتونه څارل او له هماغه پیله په هغه څېړنیز راپور کې چې د تجارت فدرالي کمېسیون په ۱۹۹۱ کال کې خپور کړ، دا موضوع تر بحث لاندې ونیول شوه چې ایا مایکروسافټ د وینډوز عملیاتي سیستم کې له انحصاري حق څخه ناوړه استفاده کړې او که نه؟ دا قضیه روانه وه چې بالاخره د ۲۰۰۱ کال په نومبر میاشت کې میکروسافټ کمپنۍ له عدلیې وزارت سره یوې پرېکړې ته ورسېده. د پرېکړې له مخې مایکروسافټ د دې سرغړونې په تور نغدي جریمه شو.

خو په مکسیکو کې کارلوس سلایم د نوښت او پنځونې له لارې شتمن نه شو. نوموړي لومړی د ونډو په بازار کې څو معاملې ترسره

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



کړې او بیا وروسته یې د غیر انتفاعي شرکتونو په پېرلو او جوړولو لاس پورې کړ. د هغه لویه لاسته راوړنه او بریا د ټېلمکس «Telmex» په نوم د هغه مخابراتي شرکت پېرل و، چې په ۱۹۹۰ کال کې د ولسمشر «کارلوس سالینا» له خوا خصوصي سکتور ته وسپارل شو. دولت په ۱۹۸۹ کال کې د شرکت د ۵۰ سلنه عادي ونډې یعنې د ټولې ونډې د ۲۰،۴ سلنې د پلور اعلان وکړ او د ۱۹۹۰ کال په نومبر کې یې د داوطلبو شرکتونو له خوا وړاندیزونه ترلاسه کړل. سلایم د ټیټې بیې د وړاندې کولو له امله، د داوطلبۍ ګټونکی نه شو؛ خو د «کورسو ګروپ» په نوم د ده کنسرشیوم یا ګډ شرکت وکولای شول چې داوطلبي وګټي. سلایم د دې پر ځای چې خپله ونډه پر خپل وخت ورکړي، هغه یې وځنډوله او بېرته د شرکت له ګټې څخه یې د خپلې ونډې حق ورکړ. هغه ګټه چې مخکې په عامه انحصار کې وه، وروسته د سلایم په انحصار کې شوه او له دې درکه یې پرېمانه ګټه لاسته راوړه. هغه اقتصادي بنسټونه چې کارلوس سلایم یې نن دې ځای ته رسولی دی، په متحده ایالتونو کې له موجوده بنسټونو سره ډېر توپیر لري. په مکسیکو کې د پانګوالو او سوداګرو پر وړاندې بلا خنډونه پراته دي. د جوازونو لوړې بیې، له سرو کرښو تېرېدل، د چارواکو او سیاستوالو له لوري د خنډونو جوړول او له مالي بنسټونو په ډېرې سختۍ د پورونو ترلاسه کول، بالاخره سړی دې ته مجبوروي، څو له هغه چا سره چې غواړې سیالي وکړې، باید ور سره شریک شې. دا خنډونه کېدای شي نه لرې کېدونکي وي، له ګټې مو لرې وساتي او یا مو هم پر سیالي کوونکي بدل کړي. دا چې په عمل کې څه روان دي، په دې پورې

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



اړه لري چې څوک پېژنئ او یا څومره پر هغوی اغېز لرئ او څوک دي چې ور ته بډې ورکړئ. تکړه او هدفمند انسان کارلوس سلایم چې د ژوند مخینه یې د لبناني کډوالو یوې متوسطې کورنۍ ته ور ګرځي، د ځانګړو قراردادونو په اخیستو کې مهارت درلود. نوموړي د مکسیکو د مخابراتو او اړیکو ګټور بازار په خپل انحصار کې واخیست او وروسته یې خپل فعالیتونه د لاتینې امریکا ټولو سیمو ته وغځول. که څه هم د سلایم د ټېلمکس د انحصار پر وړاندې ځینې خنډونه رامنځته شول، خو د هغه د فعالیت مخه یې ډېر نه شوای کړی. د «Avantel» په نوم د لرې واټن ټیلیفوني خدمتونو د چمتو کولو یوې کمپنۍ د رقابت د څارنې کمېسیون ته عریضه وکړه، څو معلومه کړي چې ایا ټېلمکس د مخابراتو بازار انحصار کړی دی او که نه؟ دغه کمېسیون په ۱۹۹۷ کال کې اعلان وکړ چې ټېلمکس د محلي اړیکو، کورنیو او نړیوالو اړیکو په برخه کې معتبر انحصار لري. خو په بازار کې د دغه انحصار د محدودولو لپاره د چارواکو هڅو کوم ځای ونه نیوه. هغه څه چې ټېلمکس او سلایم د دلیل په توګه وړاندې کول، هغه د «recurso de amparo» یعنې د خوندیتوب اصل و، چې پر بنسټ یې یوه شخص ته د قانون په وړاندې خوندیتوب ورکول کېږي. دغه اصل «ډي امپارو» په حقیقت کې د مکسیکو د ۱۸۵۷ کال له اساسي قانون څخه سرچینه اخلي چې موخه یې د فردي حقوقو او ازادیو خوندیتوب و، خو وروسته یاده قاعده په مکسیکو کې د ټېلمکس او یو شمېر نورو انحصارګرو لپاره د انحصار پر یوې هولناکې وسیلې بدله شوه. امپارو د خلکو د حقونو د خوندیتوب پر ځای، خلکو ته له قانونه د تېښتې لار هواره کړه. هغه شتمني او دولت چې سلایم د مکسیکو په اقتصاد کې پیدا

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



کړه، دا د نوموړي د سیاسي اړیکو له برکته ده. کله چې نوموړي په امریکا متحده ایالتونو کې پانګونې ته مخه کړه، هلته بریالی نه و. د کورسو ګروپ په نوم د کارلوس سلایم شرکت په ۱۹۹۹ کال کې د «CompUSA» په نوم د کمپیوټرونو زنځیري پلورنځي وپېرل. هغه مهال په مکسیکو کې د «CompUSA» انحصاري څانګه له «COC services» سره وه او سلایم د شوي تړون خلاف، په مکسیکو کې د «COC services» په موجودیت کې خپل زنځیري پلورنځي پرانېستل، خو سي.او.سي شرکت د «CompUSA» له لارې د ټکزاس ایالت د دالاس ښار په یوه محکمه کې د سلایم پر وړاندې دعوه وکړه. دا چې په دالاس کې د امپارو قانون نه شته، سلایم دعوه وبایلله او د ۴۵۴ میلیونه ډالرو نغدي جریمې پر ورکړې محکوم شو. د محکمې په پای کې د سي.او.سي شرکت وکیل وویل:«د دې حکم پیغام دا دی، هغه شرکتونه چې غواړي په متحده ایالتونو کې فعالیت وکړي، نو قوانینو ته یې باید درناوی ولري.» کله چې سلایم له امریکایي بنسټونو سره مخ شو، نو د شتمنیو د لاسته راوړلو لپاره یې پخوانیو تکتیکونو کار نه ورکاوه.

## د اقتصادي نا انډولۍ د نظریې په لور

موږ په یوه نا برابره نړۍ کې ژوند کوو. د نړۍ د ملتونو ترمنځ توپیر، د نوګالس ښار د دوو برخو ترمنځ توپیر ته ورته دی. د شتمنو هېوادونو وګړي ښه روغتیا، اوږد عمر او غوره زده کړې لري. دوی دغه راز د ژوند له ټولو ښو اسانتیاوو «له رخصتیو نیولې تر ډاډمن کاري چاپېریال پورې» برخمن دي؛ هغه څه چې د بېوزلو هېوادونو د وګړو لپاره یوازې یو خیال دی. په پرمختللو او شتمنو هېوادونو کې

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



خلک پر پخو معیاري سړکونو ډریوري کوي او په خپلو کورونو کې د برېښنا، پاکو اوبو او عصري تشنابونو له اسانتیاوو برخمن دي. هغوی داسې دولتونه لري چې په خپل سر څوک نه نیسي او انساني کرامت ته سپکاوی نه کوي. دولت خلکو ته د روغتیا، پوهنې، رغونې او د قانون د حاکمیت په برخو کې خدمات وړاندې کوي. همدارنګه په دې هېوادونو کې خلک په ټاکنو کې د ګډون حق لري او په سیاسي ډګر کې يې غږ اورېدل کېږي. په نړۍ کې دا ښکاره توپیرونه او نابرابري ټولو ته څرګند دي، ان هغو خلکو ته چې په بېوزلو هېوادونو کې ژوند کوي، په داسې حال کې چې زیاتره يې ټلویزیون او انټرنېټ ته لاسرسی نه لري. همدې توپیرونو او واقعیتونو ته په کتو، خلک د ښه ژوند په هیله له ریوګرانډې یا مدیترانې سمندر څخه په غیر قانوني توګه بډایو هېوادونو ته اوړي. دغه نابرابره وضعیت نه یوازې د بېوزلو هېوادونو د وګړو ژوند اغېزمنوي، بلکې په امریکا متحده ایالتونو او نورو سیمو کې د ژورو سیاسي اغېزو ترڅنګ په پراخه کچه نا رضایتۍ او اختلافونه هم رامنځته کړي. زموږ د کتاب بحث هم پر همدغه توپیرونو او د هغو د لاملونو پر څرنګوالي راڅرخي. د دې حقیقت سپړنه او موندنه د کار پای نه دی، بلکې د هغو میلیاردونو انسانانو د ژوند د ښه والي لپاره د یوې تیورۍ یا حللارې موندل دي چې په فقر او بېوزلۍ کې ژوند کوي. د نوګالس د دواړو سیمو ترمنځ توپیر په نړۍ کې د نابرابرۍ یوازې یوه کوچنۍ بېلګه ده. دا چې د مکسیکو د شمال اوسېدونکي له متحده ایالتونو سره سوداګریزه راکړه ورکړه کوي، د نوګالس سونورا اوسېدونکي د مکسیکو د نورو وګړو په پرتله ښه ژوند لري او د دې سیمې د اوسېدونکو د سړي سر کلنی عاید ۵۰۰۰ امریکایي ډالره

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



دی. دغه نسبي هوساينه د «maquiladora» د صنعتي بنسټونو له برکته ده، چې په صنعتي پارکونو کې موقعيت لري او په لومړي ځل په کلفورنيا کې د باسکېټ توليدوونکي ريچارډ کمپبل له خوا پيل شول. دغه بنسټونه په لومړي ځل د «Coin-Art» په نوم د موسيقي سامان الاتو د توليد يوه شرکت په اجاره واخيستل، چې مشر يې ريچارډ باسس نومېده، نوموړی په نوګالس اريزونا کې د «ارټلي فلوټ» او «ساکسوفون» کمپنيو مالک هم و. تر کاين آرټ وروسته، د مموريکس په نوم د کمپيوټري وايرونو د توليد، د اوينټ په نوم د روغتونونو لپاره د جامو د توليد، د ګرېنټ په نوم د لمر ضد عينکو د توليد، د چمبرلاين په نوم د سيرز د زنځيري پلورنځيو لپاره د ګراج دروازو د توليد او د سامسونيټ په نوم د سويټ کېسونو د توليد شرکتونه جوړ شول، دغه ټول تجارت له امريکا سره تړاو درلود او د امريکا پانګه کارول کېده. د مکسيکو د نورو برخو په پرتله، د نوګالس سونورا نسبي هوساينه او پرمختګ، بهرني عوامل لري، بيا هم د نړۍ د نورو هېوادونو په پرتله د امريکا متحده ايالتونو او مکسيکو ترمنځ توپير لږ دی، امريکايان د مکسيکويانو په پرتله اووه چنده، د پيرو او د مرکزي امريکا د نورو اوسېدونکو په پرتله لس چنده، د افريقا د صحرا په پرتله شل چنده او د افريقا د نورو بېوزلو هېوادونو لکه مالي، ايتوپيا او سيريليون په پرتله کابو پنځوس چنده هوسا ژوند لري. دا يوازې د امريکا متحده ايالات نه دي؛ بلکې دلته پر استراليا، جاپان، نيوزلينډ، سينګاپور، سوېلي کوريا او تايوان سربېره، په اروپا او شمالي امريکا کې د شتمنو هېوادونو يوه کوچنۍ ډله شته چې اوسېدونکي يې د نړۍ د نورو هېوادونو په پرتله ښه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



هوسا ژوند لري. د دې دلیل چې نوګالس اریزونا د نوګالس سونورا په پرتله شتمن ښار دی، ډېر ساده دی؛ د پولې دواړو غاړو ته داسې بنسټونه وجود لري چې له یو بل سره ډېر متفاوت دي او د دواړو ښارونو د اوسېدونکو لپاره متفاوتې انګېزې رامنځته کوي. امریکا نن د مکسیکو او پیرو په پرتله په مراتبو بډایه ده، ځکه چې په دغه هېواد کې موجوده سیاسي او اقتصادي بنسټونه خلکو، سوداګرو او سیاستوالو ته د خوځښت او هڅونې انګېزه ورکوي.

هره ټولنه د یو لړ اقتصادي او سیاسي قوانینو پر بنسټ عمل کوي، دغه قوانین د دولت او خلکو له خوا په ګډه رامنځته او پلي کېږي، اقتصادي بنسټونه اقتصادي انګېزې زېږوي: د زده کړو انګېزه، د سپما او پانګونې انګېزه، د نوښت او پنځونې انګېزه او بالاخره د نوې ټکنالوژۍ د پنځونې او کارونې انګېزه. دا سیاسي پروسې دي چې ټاکي، خلک د څه ډول اقتصادي بنسټونو تر چتر لاندې ژوند وکړي او همدارنګه دا سیاسي بنسټونه چې په ډاګه کوي چې دغه پروسې څه ډول کار کوي. د بېلګې په توګه، دا سیاسي بنسټونه دي چې خلکو ته د سیاستوالو پر کړنو د څارنې او پر هغوی د اغېز ښندلو زمینه برابروي، دا بنسټونه دغه راز مشخصوي چې ایا چارواکي د خلکو خدمتګاران دي او که له واکه ناوړه ګټه اخیستونکي؟

البته سیاسي بنسټونه یوازې تر ډیموکراتیکو ټولنو پورې چې لیکلي اساسي قوانین لري، محدود نه دي؛ سیاسي بنسټونه د ټولنې د اداره کولو او تنظیم لپاره د دولت ځواک او وړتیا ته وایي. دا هم اړینه ده، څو پر هغو فکټورونو او عواملو ژور فکر وشي چې په ټولنه کې سیاسي واک څنګه وېشل کېږي، په ځانګړې توګه د ګډو کارونو لپاره د بېلابېلو ډلو ګډ اقدامات چې د خپلو موخو د ترسره کولو یا د

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



همدې موخو د تعقیب لپاره یې د نورو د مخنیوي لپاره ترسره کوي. له دې کبله چې بنسټونه پر انساني انګېزو او کړنو اغېز ښندي، نو همدا بنسټونه دي چې د ملتونو او دولتونو په بریا او ناکامۍ کې مهم رول لري. فردي استعدادونه د ټولنې په هره برخه کې مهم دي، خو ان د همدې فردي استعدادونو مدیریت او انسجام داسې یوه چوکاټ ته اړتیا لري، چې هغه پر یوې مثبتې قوې بدل کړي. بل ګېټس هم د ټکنالوژۍ په صنعت کې د نورو افسانوي څېرو لکه «پاول الن»، «سټیف بولمیر»، «سټیو جابز»، «لاري پیج»، «سیرجي برین» او «جیف بیزوز» په څېر د بېسارې وړتیا او لوړ همت خاوند و، چې بالاخره یې خپلو انګېزو ته ځواب ووایه. د امریکا متحده ایالتونو ښوونیز سیستم ګېټس او د هغه په څېر نورو کسانو ته دا وړتیا ورکړه، چې ځانګړې مهارتونه زده او خپلې وړتیاوې وځلوي، د امریکا متحده ایالتونو اقتصادي بنسټونو هغوی ته دا اسانتیاوې برابرې کړې چې له کوم خنډ و ځنډ پرته ځان ته شرکتونه جوړ کړي، دغو بنسټونو دغه راز هغوی ته مالي امکانات برابر کړل، څو خپل کارونه پر مخ یوسي، د امریکا د کار مارکېټ هغوی ته دا اسانتیا برابره کړه چې خپلو شرکتونو ته مسلکي او وړ کسان جذب کړي، همدارنګه د امریکا نسبتاً رقابتي مارکېټ هغوی ته دا امکان په لاس ورکړ چې خپلو شرکتونو او تولیداتو ته پراختیا ورکړي، دغه پانګوال له پیله ډاډه وو، چې کولای شي خپلې خیالي پروژې په ربښتیني معنا عملي کړي، ځکه هغوی پر بنسټونو باور درلود او د قانون د حاکمیت په موجودیت کې د خپل ځاني امنیت او فکري مالکیت د حقونو په اړه یې اندېښنه نه لرله. بالاخره ویلی شو، چې سیاسي بنسټونه د وضعیت

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



ثبات او تداوم رامنځته کوي، تر ټولو مهمه دا چې یاد پانګوال له دې اړخه خوندي او ډاډمن وو، چې ګڼې سیاسي واک به د یوه دیکتاتور لاس ته ورځي اوهر څه به بدلوي، د هغوی شتمنۍ به لوټي او زندان ته به یې اچوي او یا دا چې د هغوی ژوند به ګواښي. هغوی دغه راز ډاډه وو، چې په ټولنه کې هېڅ داسې کوم ځانګړی تمایل به دولتي مشران دې ته ونه هڅوي چې په خپله خوښه ناوړه پرېکړه وکړي، ځکه چې په دغو ټولنو کې سیاسي واک محدود او په ښه توګه وېشل شوی دی. هغوی په دې باوري وو چې موجوده سیاسي بنسټونو داسې اقتصادي بنسټونه رامنځته کړي دي، چې پانګوالو ته انګېزه ورکوي.

دا کتاب به په ډاګه کړي، چې که څه هم اقتصادي بنسټونه د یوه هېواد په شتمن کېدو او بېوزله کېدو کې ټاکوونکی رول لري، خو دا سیاست او سیاسي بنسټونه دي چې مشخصوي یو هېواد باید څه ډول اقتصادي بنسټونه ولري. د امریکا متحده ایالتونو غوره اقتصادي بنسټونه، د دې هېواد د سیاسي بنسټونو پایله ده چې له ۱۶۱۹ کال وروسته د یوې تدریجي پروسې په ترځ کې رامنځته شوي دي، د نا انډولۍ او نا برابرۍ نړۍ په اړه زموږ تیوري به په ډاګه کړي چې سیاسي او اقتصادي بنسټونه د یوه هېواد پر شتمن کېدو او بېوزله کېدو کې څومره اغېز لري او همدارنګه د نړۍ هېوادونه له څه ډول سیاسي او اقتصادي بنسټونو برخمن دي. په کتاب کې د امریکا لویې وچې پر تاریخ لنډه کتنه به د هغو عواملو او قوتونو په پېژندنه کې را سره مرسته وکړي، چې پر بنسټ یې سیاسي او اقتصادي بنسټونه رامنځته کېږي. د اوسنیو بنسټونو بېلابېلې نمونې په تېر وخت کې

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



ژورې ریښې لري، ځکه څه ډول چې د یوې ټولنې بنسټ کېښودل شي، په هماغه ډول پاتې کېږي.
موږ به دا په ډاګه کړو چې دغه حقیقت څنګه د اقتصادي او سیاسي بنسټونو له تعامل څخه سرچینه اخلي، د دې وضعیت دوام او هغه عوامل به را وسپړو چې په نړۍ کې د نابرابرۍ له منځه وړل او د بېوزلو هېوادونو هوساینه ولې ستونزمن دي؟ که څه هم د متحده ایالتونو او د مکسیکو د نوګالس دواړه ښارونه نن ورځ په نړۍ کې د بنسټیز توپیرونو یو مهم مثال جوړوي، خو دا په دې معنا نه ده چې په مکسیکو به د دې وضعیت د بدلون لپاره په اسانۍ یوه عمومي اجماع رامنځته شي. شونې نه بریښي چې یوه ټولنه داسې بنسټونه جوړ او رامنځته کړي، چې هغه د هېواد د اقتصادي ودې او د عامه هوساینې سبب کېږي، ځکه؛ سیاسي واکداران داسې بنسټونه غواړي چې د هغوی په ګټه او خوښه وي. د سیاسي واکمنانو او د ټولنې د وګړو ترمنځ په دې اړه د نظر اختلاف موجود دی، چې کوم بنسټونه باید په خپل ځای او کوم باید بدل کړل شي. کارلوس سلایم به هېڅکله دا ونه زغمي، چې په دولت کې د هغه ارتباطي او ملګري چارواکي له دندو ګوښه او یا د بازار انحصار مات شي، ولو که دا کار د میلیونونو مکسکویي وګړو پر شتمن کېدو هم تمام شي، ځکه په دې اړه هېڅ اجماع نه شته چې په ټولنه کې باید څه ډول قوانین او مقررات عملي شي؟ دا چې قدرت له چا سره دی او له قدرته باید څنګه استفاده وشي، یوه ګونګه او مبهمه موضوع ده، کارلوس سلایم د هر څه واک او صلاحیت لري، خو د بېل ګېټس واک محدود دی.
له همدې امله، زموږ تیوري یا نظریه یوازې اقتصاد نه، بلکې سیاست

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



هم په ځان کې را نغاړي، زموږ تیوري پر دې راڅرخي چې بنسټونه د دولتونو په بریا او ناکامۍ کې څومره اغېز لري، دغه تیوري په عین حال کې څرګندوي چې بنسټونه څنګه غوره کېږي او د وخت په تېرېدو څنګه بدلون مومي او همدارنګه کله چې بنسټونه میلیونونه انسانان له فقر او بدمرغۍ سره مخ کوي، څنګه ماتېږي؟

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



# دویم څپرکی

## له کاره لوېدلې تیورۍ

### د نړۍ یو انځور

زموږ د کتاب بحث په نړۍ کې د اقتصادي نا انډولۍ او په دې اړه د هغو مثالونو په وړاندې کولو را څرخي، چې دغه وضعیت پکې په ښه توګه انځورېدای شي. لومړی هېواد چې با ثباته اقتصادي وده یې تجربه کړې، انګلینډ یا لویه برېټانیا ده. دا تدریجي وده د اتلسمې پېړۍ په نیمایي کې هغه وخت پیل شوه، کله چې له ټکنالوژۍ سره مل صنعتي انقلاب را و ټوکېد. د برېټانیا د صنعتي کېدو لمن ډېر ژر د اروپا نورو لوېدیځو هېوادونو او د امریکا متحده ایالتونو ته پراخه شوه، وروسته د برېټانویانو د پرمختګ دغه څپه د هغوی مستعمرو یعنی کاناډا، استرالیا او نیوزلینډ ته هم وغځېده. اوس مهال ۳۰ هېوادونه د نړۍ د شتمنو هېوادونو د نوملړ په سر کې ځای لري، چې جاپان، سنګاپور او سوېلي کوریا هم پکې شامل دي. د وروستیو دریوو هېوادونو اقتصادي هوساینه هر یو په خپل وار د هغې مخبېلګې «نمونې» یوه برخه ده، چې پر بنسټ یې د ختیځې اسیا یو شمېر هېوادونو، له دې ډلې تایوان او چین چټکه اقتصادي وده تجربه کړې ده. لاندې نقشه په نړۍ کې د عوایدو وېش ښیي، دغه نقشه ښیي چې د بېوزلو هېوادونو ټیټ عواید، د شتمنو هېوادونو د لوړو عوایدو په څېر هیښوونکي او متفاوت دي. که تاسو په نړۍ کې د ۳۰ بېوزلو هېوادونو یو نوملړ جوړ کړئ، نو وبه وینئ چې د دې هېوادونو ډېره برخه د افریقا سترې صحرا په سوېل کې موقعیت لري.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



افغانستان، هایتي او نیپال هم په دې نوملړ کې راځي. که څه هم وروستي درې هېوادونه په افریقا لویه وچه کې موقعیت نه لري، خو له افریقایي هېوادونو سره ورته والی او ګډ ټکي لري، چې وروسته به پرې خبرې وکړو. که پنځوس کاله پخواني حالت ته وګورو، دنقشې پاس او لاندې یاد دېرش هېوادونه به له نن سره چنداني توپیر ونه لري. هغه مهال سینګاپور او سوېلي کوریا د شتمنو هېوادونو په ډله کې نه وو او یو شمېر نور هېوادونه هم له سختې بېوزلۍ کړېدل، خو که یو عمومي تصویر وړاندې کړو، له نننۍ حالت سره دومره توپیر نه لري. که ۱۰۰ یا ۱۵۰ کاله پخواني حالت ته نظر وکړو، بیا هم دغه هېوادونه په همدې ډله کې موندلی شو.


درېیمه (۳) نقشه په ۲۰۰۸ کال کې د نړۍ د اقتصاد یو انځور ښیي. هغه هېوادونه چې په تور رنګ ښودل شوي دي، د نړۍ تر ټولو بېوزله هېوادونه دي. په دې هېوادونو کې د سړي سر کلنی عاید ۲ زره امریکایي ډالره دی. د افغانستان، هایتي او شمال ختیځې اسیا لکه د کمبودیا او لاووس په ګډون زیاتره افریقایي هېوادونه په همدې ډله کې راځي. شمالي کوریا هم په همدې ډله کې دی. په سپین رنګ ښودل شوي هېوادونه، د نړۍ تر ټولو شتمن هېوادونه دي چې د سړي سر کلنی عاید په کې ۲۰ زره امریکایي ډالره دی. شمالي امریکا، لوېدیځه اروپا، استرالیا او جاپان په همدې ډله کې راځي. د امریکا په لویه وچه کې یوه بله په زړه پورې مخبېلګه هم موندلی شو. که په دې لویه وچه کې د بېوزلو او بډایو هېوادونو یو نوملړ جوړ کړو، نو متحده ایالتونه او کاناډا د نوملړ په سر کې راځي او ورپسې هېوادونه چیلي، ارجنټاین، برازیل، مکسیکو، یوروګوای او وینزویلا دي. ورپسې کولمبیا، ډومینیکن جمهوریت، اېکوادور او پیرو

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



هېوادونه دي. د دې نوملړ په وروستۍ برخه کې د بېوزلو هېوادونو یوه کوچنۍ ډله چې بولیویا، ګواتیمالا او پاراګوای په کې شامل دي؛



۳یمه نقشه: په ۲۰۰۸ کال کې د نړۍ په بېلابېلو برخو کې د اقتصادي هوساینې وضعیت

قرار لري.

که پنځوس، سل او یوسلو پنځوس کاله پخواني حالت ته ستانه شو، همداسې یو جدول به ومومو. په دې توګه، مسئله یوازې دا نه ده چې متحده ایالتونه او کاناډا تر لاتینې امریکا شتمن دي؛ بلکې په خپله د

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



لاتینې امریکا دننه هم د بېوزلو او شتمنو هېوادونو ترمنځ ژور توپیرونه شته. وروستی د پامور مخبېلګه د منځني ختیځ په اړه ده، دلته د سعودي عربستان او کوېټ په څېر شتمنو نفت لرونکو هېوادونو سره مخ کېږو، چې د عوایدو له پلوه د نړۍ ډېرش شتمنو هېوادونو ته نږدې دي؛ خو که د نفتو بازار سقوط شي، دغه هېوادونه په چټکۍ د نوملړ ښکتنۍ برخې ته راځي. د منځني ختیځ پاتې نور هېوادونه چې لږ یا هېڅ نفت نه لري -لکه مصر، اردن او سوریه- د عوایدو له پلوه د ګواتیمالا او پیرو هېوادونو سره ورته دي. له نفت پرته د منځني ختیځ ټول هېوادونه بېوزله دي، البته د مرکزي امریکا او د اندوس هېوادونو په څېر؛ نه د افریقایي هېوادونو.

کله چې د هوساینې پر وړاندې بلا دوامداره خنډونه پراته وي، نو بدلون ممکن نه دی. لومړی، څرنګه چې مخکې مو اشاره وکړه، په نړۍ کې اوسنۍ نا انډولي تر ډېره د اتلسمې پېړۍ په وروستیو کې له صنعتي انقلاب سره پیلېږي. د اتلسمې پېړۍ په نیمایي کې د نړۍ د هېوادونو ترمنځ اقتصادي نا انډولي نه یوازې ډېره کمه وه، بلکې هغه وده چې تر هغې وروسته تر ډېر وخته ثابته پاتې شوه، د نن په څېر نه وه. د بېلګې په توګه، که د امریکا ۱۵۰ کاله مخکې حالت ته وګورو، نو له ۵۰۰ کاله مخکې حالت سره کاملاً توپیر لري.

دویم دا چې یو شمېر دولتونو څو لسیزې چټکه اقتصادي وده تجربه کړه، لکه تر دویمې نړیوالې جګړې وروسته د ختیځې اسیا هېوادونه چې چین یې ښه مثال دی، خو په ځینو نورو هېوادونو برعکس وضعیت درلود. مثلاً؛ ارجنټاین تر ۱۹۲۰ کاله پورې پنځه لسیزې چټکه وده درلوده، چې د نړۍ د شتمنو هېوادونو په ډله کې و، خو وروسته له اوږده رکود او ځوړتیا سره مخ شو. شوروي اتحاد بل هغه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



مثال دی چې د ۱۹۳۰ او ۱۹۷۰ کلونو ترمنځ يې چټکه اقتصادي وده تجربه کړه، خو ډېر ژر ټکنی شوه.

هغه څه دي چې د بېوزلۍ، هوساینې او ودې ترمنځ اساسي توپیرونه په ډاګه کوي؟ ولې د لوېدیځې اروپا هېوادونو او د هغو مستعمرو په نولسمه پېړۍ کې اقتصادي وده تجربه کړه او ډېر لږ داسې مثالونه موندلی شو چې دغه هېوادونه وروسته پاتې او بېوزله وو؟ د امریکا لویه وچه کې د نا انډولۍ عوامل کوم دي؟ ولې د افریقا جنوبي صحرا او د منځني ختیځ هېوادونو و نه کولای شول چې د لوېدیځې اروپا د هېوادونو په څېر وده وکړي، په داسې حال کې د ختیځې اسیا هېوادونو په لوړه کچه اقتصادي وده تجربه کړه؟ ښایي یو څوک فکر وکړي چې په نړۍ کې د نابرابرۍ مسئله ډېره پراخه او ژوره ده او همدارنګه دا ډول مثالونه او نمونې کولای شي چې هر څه په ښه توګه تشریح کړي، خو داسې نه ده. زیاتره هغه فرضیې او نظریات چې ټولنپوهانو د بډاینې او بېوزلۍ په اړه وړاندې کړي دي، کار نه ورکوي او د ځمکې پر سر د موجوده حقایقو په اړه قانع کوونکي ځوابونه نه شي وړاندې کولای.

## د جغرافیې فرضیه

The Geography Hypothesis

د نابرابرۍ په اړه یوه منل شوې او مشهوره نظریه د جغرافیې فرضیه ده. د دې فرضیې له مخې د بېوزلو او بډایو هېوادونو ترمنځ توپیرونه له جغرافیې څخه سرچینه اخلي. زیاتره بېوزلو هېوادونه لکه د افریقا، مرکزي امریکا او سوېلي اسیا هېوادونه د ځمکې د سرطان او جدي کرښو ترمنځ موقعیت لري؛ خو په مقابل کې زیاتره بډایه هېوادونه بیا

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



د ځمکې په معتدلو عرض البلدونو کې پراته دي. د بېوزلۍ او بډاینې په اړه دغه لید لوری، جغرافیوي فرضیې ته ظاهري او سطحي جذابیت ورکوي، کوم چې د نورو تیوریو د پیل ټکی او همدارنګه د ټولنیزو علومو د ډېرو پوهانو لیدلوری جوړوي، خو دا ټولې نظریې د دې فرضیې تېروتنې نه شي جبرانولی. د اتلسمې پېړۍ په وروستیو کې ستر فرانسوي سیاستپوه «مونتیسکیو» د ملتونو د بېوزلۍ او بډاینې په اړه جغرافیوي فرضیه راپورته کړه. نوموړي څرګنده کړه، چې د ګرمو یا استوایي سیمو اوسېدونکي لټ یا ټمبل دي، خواریکښ او نوښتګر نه دي چې همدا یې د بېوزلۍ لوی لامل دی. د مونتیسکیو په باور ټمبل یا لټ خلک دا خوښوي، چې نور پرې حکومت وکړي، د هغه په باور ګرمې استوایي سیمې نه یوازې بېوزله دي، بلکې په ټولنه کې د دیکتاتورۍ په څېر ځینې ناوړه سیاسي پدیدې زېږوي.

خو په وروستیو کې د سینګاپور، مالیزیا او د بوتسوانا په څېر هېوادونو چټکې اقتصادي ودې دا نظریه ونګوله چې ګنې د ګرمو سیمو هېوادونه په طبیعي ډول بېوزله دي، خو لا هم ځینې کسان پر دغې تیورۍ ټینګار کوي لکه اقتصاد پوه جیفري ساچس. د دې نظریې نوې بڼه پر دې بحث نه کوي چې اقلیم او تفکر پر کار مستقیم اغېز لري، بلکې پر دوو نورو مسایلو تمرکز کوي: لومړی دا چې په استوایي سیمو کې ناروغۍ په ځانګړې توګه ملاریا پر بشري ځواک ناوړه اغېز کوي. دویم، دا چې د استوایي سیمو ځمکې لږ حاصل ورکوي. په پایله کې ویلی شو، چې معتدله سیمې د استوایي او نیمه استوایي سیمو په پرتله له نسبي امتیاز څخه برخمنې دي. په هر حال، په نړۍ کې موجوده نابرابري د اقلیم، ناروغیو او نورو

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



جغرافیي فرضیو له مخې نه شي معلومېدلی. یوازې نوګالس ته پام وکړئ. هغه څه چې دغه دوه سیمې سره جلا کوي، اقلیم، جغرافیه یا ناروغ چاپېریال نه دی، بلکې د متحده ایالتونو او مکسیکو ترمنځ پرته پوله ده. کله چې د جغرافیې فرضیه د شمالي او جنوبي نوګالس، د سوېلي او شمالي کوریاګانو او یا هم پخواني لوېدیځ او ختیځ جرمني ترمنځ توپیر نه شي په ډاګه کولی، نو ایا کولی شو چې د شمالي او جنوبي امریکا ترمنځ د توپیر د په ډاګه کولو لپاره یې یوه ګټوره نظریه وګڼو؟ هېڅکله نه! تاریخ په وضاحت سره څرګندوي چې د جغرافیې او اقتصاد ترمنځ هېڅ ډول اړیکه نشته. د بېلګه په توګه، دا سمه نه ده چې ګرمې سیمې د معتدلو هغو په پرتله بېوزله دي. په تېر څپرکي کې مو ولوستل، چې د کرستېف کولمب له خوا د امریکا لویې وچې د کشف پر مهال د جدي کرښې په اوږدو کې جنوبي سیمو او د سرطان کرښې په اوږدو کې شمالي سیمو، چې اوسنۍ مکسیکو، مرکزي امریکا، پیرو او بولیویا پکې شاملېږي؛ د ازتېک او اینکا سترو تمدنونو او امپراتوریو ته په خپل غېږ کې ځای ورکړی و. دغو امپراتوریو چې له سیاسي پلوه یې پېچلی او متمرکز جوړښت درلود، نښلوونکې لارې جوړې کړې وې او د قحطۍ لپاره یې له مخکې تدابیر په پام کې لرل، ازتکیانو پیسې او د لیک لیکلو امکانات هم لرل. اینکایانو که څه هم دغه دوه اسانتیاوې په واک کې نه لرلې، خو پر غوټه شویو رسیو یا پړیو به یې معلومات ثبتول چې کیوپوس «quipus» یې باله. په یوه لنډه پرتلنه کې، د اینکا او ازتک تمدنونو پر مهال، شمالي او جنوبي سیمې چې ازتکیان او اینکایان په کې مېشت وو او اوس مهال د امریکا متحده ایالتونه،

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



کاناډا، ارجنټاین او چیلي هېوادونه په کې موقعیت لري؛ د ډېرې زمانې «عصر حجر» د تمدنونو استوګنځایونه وو، چې له دې ټکنالوژۍ یا اسانتیاوو بې برخې وو. په دې اساس، د امریکا په لویه وچه کې استوایي ګرمې سیمې د معتدلو سیمو په پرتله په مراتبو بډایه وې، نو ښکاره ده چې په ګرمو سیمو کې بېوزلي هېڅ حقیقت نه لري او نه هم داسې کومه ښکاره بېلګه لیدلی شو. برعکس، د امریکا متحده ایالتونو او کاناډا پراخه شتمني د هغه بدمرغه حالت ښکارندویي کوي، چې د امریکا لویه وچه کې د اروپایي نیواک پرمهال حاکم و، خو لکه څرنګه چې مخکې مو ولوستل، د بخت دغې چپه کېدنې له جغرافیې سره نه، بلکې په دې سیمه کې له استعمار سره نېغه اړیکه لرله. دا معکوس بهیر یوازې د امریکا تر لویې وچې محدوده نه و، په سوېلي اسیا او په ځانګړې توګه، د هند نیمه وچه او چین کې خلک د اسیا د نورو اوسېدونکو او حتی د نیوزلېنډ او استرالیا په پرتله هوسا وو. دا معکوس یا پر شا تلونکی وضعیت د سوېلي کوریا، سینګاپور او جاپان چې اوس په اسیا کې تر ټولو شتمن هېوادونه ګڼل کېږي او همدارنګه استرالیا او نیوزلېنډ چې تر ګردو اسیایي هېوادونو ښه اقتصاد لري؛ صدق کوي. د افریقا صحرا په جنوب کې هم دغه شان معکوس وضعیت حاکم و. مثلاً، افریقا ته د اروپایانو تر تګ او پام اوښتو مخکې، د دې لویې وچې په سوېلي سیمو کې ډېر لږ خلک مېشت وو او د داسې یو پرمختللي مرکزي دولت موجودیت چې پر ټولو سیمو یې واکمني لرلای، لرې خبره وه. سوېلي افریقا اوس مهال د افریقا په جنوب صحرا کې تر ټولو هوسا او شتمن هېواد دی. که بیا هم د تاریخ تېر دور ته وګرځو، نو وبه ګورو چې زیاتره استوایي سیمې بډایه وې. پخوانیو تمدنونو

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



لکه په کامبوديا کې د «انگکور»، د هند په سوېل کې د «ويجاياناگرا» او په ايتوپيا کې د «اکسوم» تمدنونو، په گرمو سيمو کې وده او پرمختگ وکړ، همدارنگه د اوسني پاکستان په سند يا اندوس سيمه کې د «موهنجو دارو» او «هاراپا» تمدنونه د يادولو دي. په دې اساس، تاريخ حتی ذره هومره شک هم نه پرېږدي چې گنې د اقتصادي هوساينې او اقليم ترمنځ دې کومه اړيکه موجوده وي، جوته ده چې په گرمو استوايي سيمو کې ناروغيو گڼې ستونزې زېږولې دي، چې دغه کار په افريقا کې د ماشومانو د مړينې کچه لوړه کړې ده، خو دا د هغوی د بېوزلۍ دليل نه شي کېدلی، دغه ناروغۍ له بېوزلۍ، د دولتونو له نه پاملرنې او د عامه خدماتو له کمښته سرچينه اخلي. برېتانيا هم په نولسمه پېړۍ کې د روغتيا له پلوه يو ډېر ناوړه ځای و، خو دولت په تدريجي توگه د پاکو اوبو په برابرولو، د چټلو اوبو يا فاضلاب د ستونزې د حل لپاره پانگونه وکړه. په برېتانيا کې د ژوند او سلامتيا د کچې لوړول په دې هېواد کې د اقتصادي بريا له امله نه و، بلکې په دې هېواد کې د اقتصادي او سياسي بدلون يوه لاسته راوړنه وه. په نوگالس اريزونا کې هم ورته کار شوی و.

د جغرافيوي فرضيې بله برخه پر دې راڅرخي چې تودې سيمې له دې امله بېوزله دي چې ځمکې يې لږ حاصل ورکوي، د ځمکې په استوايي برخه کې د خاورې ژوروالی لږ دی او معدني مواد سم نه شي جذبولی. دغه فرضيه زياتوي چې موسمي او سېل زېږوونکي بارانونه د ځمکې ښوييدو سبب کېږي، له شک پرته چې په دې کې مهم ټکي شته، خو هغه بنسټيز عامل چې په بېوزله سيمو او په

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



ځانګړې توګه، د افریقا جنوب صحرا کې یې د کرنیزو محصولاتو ارزښت راټیټ کړی دی، خاوره نه ده؛ بلکې دغه ستونزه هلته د ځمکو د مالکیت موجوده سیستم، انګېزو او دولتي بنسټونو څخه سرچینه اخلي. موږ به دغه راز دلته روښانه کړو چې نړیواله نا انډولي د کرنیز سکتور حاصلاتو سره تړاو نه لري. د اوسنۍ نړۍ دا ژوره نا انډولي په نولسمه پېړۍ کې د صنعتي ټکنالوژۍ له نا انډوله وېش او تولید څخه سرچینه اخلي. د جغرافیوي فرضیې بله نوې د پاموړ نسخه د نامتو بیولوژي پوه او ایکالوژیست 'جارېډ ډایمونډ' له خوا وړاندې شوه. نوموړی استدلال کوي چې د لویو وچو ترمنځ نابرابري باید د نوي عصر (۵۰۰ کاله مخکې) د نباتاتو او حیواناتو د ډولونو په بېلابېلو تاریخي لورینو کې ولټوو، چې په وینا یې دغه توپیر بالاخره په کرنه کې د حاصل کچه زیانمنه کړه. په ځینو سیمو کې د بېلګې په توګه په «زرغون هلال» یعنې په اوسني منځني ختیځ کې د ځارویو بېلابېل ډولونه موجود وو، چې د انسان په لاس اهلي کېدل. خو په ځینو نورو سیمو لکه د امریکا لویه وچه کې د حیواناتو داسې ډولونه نه وو او دا کار سبب شو چې بېلابېلې انساني ټولنې له ښکار څخه کرنې ته مخه کړي، له همدې امله په زرغون هلال کې کرنې پراختیا موندە، د خلکو نفوس ډېر شو او دغې چارې کاروبار، ښاري ژوند او سیاسي پراختیا ته لار هواره کړه. دلته د پام وړ خبره دا ده، په هغو سیمو کې چې کرنه ډېره دود وه؛ د نورو سیمو په پرتله پکې ټکنالوژیکي نوښتونه په چټکۍ رامنځته شول. په دې اساس، د ډایمونډ د نظریې پر بنسټ د بېلابېلو نباتي او حیواني ډولونو شتون د کرنې په برخه کې پراختیا ته لار هواره کړه او بالاخره دا کار په بېلابېلو سیمو کې د ټکنالوژیکي بدلونونو او د شتمنۍ د تولید سبب

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



شو. که څه هم د ډايمونډ نظريه د ستونزې د يوې حللارې په توګه مطرح شوه؛ خو په اوسنۍ نړۍ کې موجوده نابرابرۍ ته ځواب نه شي ويلی. د بېلګې په توګه، ډايمونډ وايي هسپانويان په کرنه کې د تاريخي سابقې او غوره ټکنالوژۍ د لرلو له امله پر امريکا برلاسي شول، خو موږ غواړو چې روښانه کړو ولې مکسيکويان او پيرويان چې پخوا د ازتېک او انکا سيمو اوسېدونکي وو، اوس بېوزله دي؟ سره له دې چې د نباتاتو بېلابېلو ډولونو لکه غنمو او اوربشو او ډول-ډول حيواناتو لکه اسونو ته لاسرسی، هسپانويان د اينکايانو په پرتله شتمن نښودل، خو د دواړو ترمنځ په عوايدو کې چندانې توپير نه ليدل کېده. تر استعمار مخکې يوه هسپانوي د اينکايي په پرتله په منځني ډول دوه برابره لږ عوايد لرل. که د ډايمونډ نظريه سمه وه، نو که د هسپانويانو له راتګ سره اينکايانو له حيواناتو او نباتاتو او ټکنالوژۍ څخه ګټه اخيستې وای، ډېر ژر به يې ژوند د هسپانويانو په څېر شوی وای، خو دا کار هېڅکله ونه شو، برعکس په نولسمه پېړۍ کې د هسپانيا او پيرو ترمنځ په عوايدو کې ژور توپير موجود و. نن يو هسپانوی د يوه متوسط پيرويي وګړي په پرتله شپږ چنده شتمن دی. که څه هم د عوايدو ترمنځ دغه واټن د صنعتي ټکنالوژۍ له نا انډوله وېش سره نېغه اړيکه لري، خو د حيواناتو او نباتاتو د بېلابېلو ډولونو له شتون سره چندانې اړيکه نه لري. که څه هم هسپانيا د بخار په انرژۍ چلېدونکې ټکنالوژۍ لکه اورګاډي، برېښنا، ماشينايزېشن او فابريکوي توليداتو ته وروسته مخه کړه، خو پيرو دا کار ونه کړ او يا هم ډېر ورو او زړه نا زړه له دغه بهير سره يو ځای شوه. دا ټکنالوژيکي توپيرونه تر اوسه په خپل ځای پاتې دي. نوې

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



ټکنالوژي په ځانګړې توګه معلوماتي ټکنالوژي د پرمختللو هېوادونو د بېساري پرمختګ سبب شوې ده. د معلوماتي ټکنالوژۍ لاسته راوړنې د دې لامل شوي چې یو شمېر دولتونه د پرمختګ پر لور چټک ګامونه واخلي. د ډایمونډ نظریه موږ ته دا نه شي ویلی چې ولې دغه ټکنالوژي په ټوله نړۍ کې نه خپرېږي او د هېوادونو ترمنځ اقتصادي انډول نه رامنځته کوي؟ همدارنګه دغه نظریه نه شي په ډاګه کولای چې د دوو نوګالسونو ترمنځ چې دواړه د پنځه زره کلن تمدن برخه وو، ولې دومره ژور توپیر وجود لري؟

لکه څرنګه چې ومو لوستل، په ۱۵۳۲ کال کې د ازتېک او اینکا امپراتورۍ له خپلو ټولو ستونزو سره سره، د هغو سیمو په پرتله چې وروسته پر کاناډا او متحده ایالتونو بدلې شوې، هوسا او ارامه وې. شمالي امریکا له دې امله شتمنه شوه چې له صنعتي انقلاب او ټکنالوژۍ څخه یې په ښه ډول او په ډېرې لېوالتیا ګټه پورته کړه. د شمالي امریکا وګړو زده کړو ته مخه کړه او په پراخو دښتو کې رېل کرښې وغځول شوې، خو په سوېلي امریکا کې وضعیت برعکس و. دا موضوع په شمالي او سوېلي امریکا کې د طبیعت او جغرافیې له ځانګړنو سره هېڅ اړیکه نه لري، خو که دا توپیر مطرح وای، نو سوېلي امریکا ګټه کوله. پر اوسنۍ نړۍ واکمنه نا برابري په لویه کې د ټکنالوژۍ له نابرابره وېش او د دې ټکنالوژۍ له محدود لاسرسي سره تړاو لري، چې ډایمونډ په دې اړه په خپله رساله کې یو مهم بحث کړی دی. د بېلګې په توګه، نوموړی د «ویلیام مکنیل» په نوم د یوه تاریخ لیکونکي په استناد لیکي چې د لوېدیځ او ختیځ ترمنځ غځېدلې سیمه (ایروشیا) د دې امکان برابر کړ چې له زغورن هلال څخه غلې- دانې، اهلي حیوانات او نوښتونه لوېدیځې اروپا ته خپاره

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



شي؛ خو د امریکا لویې وچې شمالي او جنوبي سیمې ښیي چې په مکسیکو کې د لیکنې رامنځته شوی سیستم د اندوس او شمالي امریکا سیمو ته ونه غځېد. د ځمکې هرې کرښې ته د لویو وچو نږدېوالی یا لرېوالی په اوسنۍ نړۍ کې د نابرابرۍ لپاره دلیل نه شي کېدای. افریقا ته پام وکړئ. که څه هم ویل کېږي چې د دې قارې سترې دښتې له شمال څخه سوېل ته د سوداګریزو توکو او ایډیاوو د لېږد پر وړاندې خنډ دي، خو دا هم دلیل نه شي کېدای. پرتګالیانو او بیا وروسته اروپایانو چې هغه وخت د افریقا په سمندرونو کې تګ راتګ کاوه، کولای شول چې د ملتونو د پوهې د کچې ترمنځ توپیر چې هغه مهال د عوایدو ترمنځ د توپیر په څېر دومره ژور نه و، له منځه یوسي، خو بیا هم دغه لویه وچه تر اروپا ډېره وروسته پاتې شوه او دا دی وینو چې د دواړو لویو وچو تر منځ لوی اقتصادي واټن وجود لري.


دا باید روښانه شي چې دلویو وچو ترمنځ د نا انډولۍ په اړه د ډایمونډ نظریات قانع کوونکي نه دي. د بېلګې په توګه؛ که د ایروشیا سیمه څرګنده کړي چې برېټانیا څنګه د منځنۍ ختیځ له نوښتونو بې له دې چې هغه بیا را وپنځوي، ګټه واخیسته؛ دا په دې معنا نه ده چې ولې صنعتي انقلاب د برېټانیا پر ځای په مولداوي کې نه رامنځته کېده؟ همدارنګه د ډایمونډ د نظریې پر بنسټ، چین او هند د نباتاتو او حیواناتو پراخو سرچینو ته لاسرسی درلود او د دې ترڅنګ د ایروشیا له امتیازه هم برخمن دي، خو نن ورځ د نړۍ ډېری بېوزله وګړي په دغو دوو هېوادونو کې ژوند کوي. د ډایمونډ د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



نظریې په اړه د ډېر پوهاوي لپاره باید د هغه له خوا وړاندې شویو بدلوونکو (متغیرونو - variable) ته سر ور ښکاره کړو.





٤مه نقشه: د تاریخ په اوږدو کې د وحشي غواګانو او خوګانو ویش

د «ساس سکروفا» یا د اوسنیو ییړانو د نیکونو او د «اوروچ» یا د اوسنیو غویانو د نیکونو د خپرېدو او وېش په اړه معلومات په ډاګه کوي، چې دواړه ډوله حیوانات په ایروشیا او ان د افریقا په شمال کې په پراخه پیمانه پیدا کېدل.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*






۵مه نقشه: د تاریخ په اوږدو کې د وحشي وریجو او غنمو وېش

د اوسنیو اصلاح شویو نباتاتو د وحشي نیکونو د وېش څرنگوالی لکه «Oryza sativa» یا په اسیا کې په لومړي ځل کرل شوې وریجې او د اوسنیو اوربشو او غنمو نیکونه په ډاگه کوي. دا د دې څرگندونه کوي چې د وریجو وحشي ډول د ختیځ او سوېل په ټولو برخو کې په پراخه پیمانه موجوده وې، په داسې حال کې چې د غنمو او اوربشو د وحشي نیکونو ډولونو د زرغون هلال په پراخه لمن کې له ایران څخه افغانستان او بیا همداسې «ستانونو» لکه ترکمنستان، تاجکستان او قرغېزستان ته پراختیا موندلې. دغه لومړني ډولونه د ایروشیا په عمده برخو کې شته، خو د هغو پراخ او ستر پوښښ دا څرگندوي چې په لوېدیځ او ختیځ کې شته نا انډولي د نباتي ډولونو

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



د وېش د نظرېې پر اساس نه شي توجیه کېدای. په جغرافیوي فرضیه کې د ملتونو د هوساینې او بډاینې د تاریخي ریښو را سپړنه نه یوازې یو بې ګټې کار دی او پر ناسمو ټکو تمرکز کوي، بلکې هغو حقایقو ته د ځواب ویلو وړتیا هم نه لري، چې د دې څېرکي له لومړي سره مو پرې خبرې وکړې. ښايي یو څوک دغو بېلګو ته په کتو لکه په امریکا کې د عوایدو سلسله مراتب او یا د اروپا او منځني ختیځ ترمنځ ژور توپیر، داسې و انګېري چې جغرافیوي موقعیت نه بدلېدونکی دی، خو دا خبره سمه نه ده. لکه څرنګه چې ومو لیدل، دا ډېر کمزوری دلیل دی چې ګنې په امریکا کې بېوزلي او بډاینه جغرافیوي عوامل لري. له ۱۴۹۲ میلادي کلونو مخکې د مکسیکو د مرکزي دَرې تمدنونه «مرکزي امریکا او د اندوس غرونو اړونده سیمې» د شمالي امریکا د نننۍ چیلي او ارجنټاین هېوادونو په پرتله له ښې ټکنالوژۍ او د ژوند له غوره معیارونو څخه برخمن وو. جغرافیه هماغه جغرافیه ده، خو هغه استعماري بنسټونه چې اروپایانو په میراث پرېښودل، د دې سیمې بخت یې چپه کړ. دغه راز بل ورته دلیل د منځني ختیځ په اړه دی. که ووایو چې په منځني ختیځ کې بېوزلي له جغرافیوي عواملو سره تړلې، نو ډېر کمزوری دلیل به مو وړاندې کړی وي. دا منځنی ختیځ و، چې د نوې ډبرې انقلاب «Neolithic Revolition» یې رهبري کړ او په دې سیمه کې لومړنی ښار چې اباد شو، اوسنی عراق و. د اوسپنې ویلې کولو صنعت په لومړي ځل په ترکیه کې پیل شو او منځنی ختیځ د منځنۍ پېړۍ تر وروستیو پورې د ټکنالوژۍ له اړخه فعاله او خوځنده سیمه وه.

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



په پنځم څپرکي کې به ووینو چې په منځني ختیځ کې د نوې دېرې انقلاب له جغرافیې سره تړاو نه درلود او نه هم په دې سیمه کې اوسنۍ بېوزلي له جغرافیې سره کومه اړیکه لري، بلکې دا د عثماني امپراتورۍ میراثي بنسټونه وو، چې منځنی ختیځ یې د فقر او بېوزلۍ گرداب ته ورټېل واهه. په پایله کې ویلی شو چې جغرافیوي عوامل نه یوازې په نړۍ کې د موجوده نا انډولۍ او توپیرونو په پېژندنه کې له موږ سره مرسته نه کوي، بلکې ان دې پوښتنې ته هم له ځواب ویلو عاجز دي چې په اسیا کې د جاپان او چین په څېر ملتونو څنگه تر اوږده رکود وروسته په ډېرې چټکۍ د ودې پر لور حرکت پیل کړ؟ موږ دغې پوښتنې ته د ځواب لپاره یوې غوره تیورۍ ته اړتیا لرو.

## د کلتور فرضیه

The Culture Hypothesis

دویمه منل شوې تیوري، د کلتور فرضیه ده چې اقتصادي هوساینه له کلتور سره تړي. دغه فرضیه هم د جغرافیوي فرضیې په څېر تاریخي ریښه لري چې د جرمن ټولنپوه «ماکس وېبر» له نظریاتو سرچینه اخلي. د هغه په باور د پروتستان مذهب د اصلاح بهیر «ریفورم» او د دغه مذهب اخلاقي اغېزو په لوېدیځه اروپا کې د موډرنې صنعتي ټولنې په رامنځته کېدا کې مهم رول ولوباوه. د کلتور فرضیه یوازې پر مذهب ولاړه نه ده، بلکې بېلابېل باورونه، ارزښتونه او اخلاقیات هم په ځان کې رانغاړي. که څه هم له سیاسي پلوه سمه نه ده چې دغه موضوع په لویه کچه مطرح شي، خو لا هم یو شمېر خلک په دې اند دي، چې افریقایان د ښو کاري اخلاقو د نه لرلو، پر سحر او جادو د

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



باور او له نوې غربي ټکنالوژۍ سره د ضديت له امله بېوزله او غريب دي. همدارنګه زياتره خلک په دې باور دي چې د لاتينې امريکا وګړي به هېڅکله شتمن نه شي، ځکه چې دغه خلک ذاتاً بې پروا او مفلس دي او د «Iberian» يا «mañana» له کلتور «د نن کار سبا ته پرېښودل» څخه اغېزمن شوي دي. همدارنګه يو وخت ويل کېدل، چې په چينايي کلتور کې د کنفوسيوس باورونه د چينايانو د اقتصادي پرمختګ پر وړاندې خنډ و، په داسې حال کې چې اوس د چينايانو کاري اخلاقو د ودې د خوځنده ماشين په توګه په چين، هانکانګ او سينګاپور کې بېساري بدلونونه رامنځته کړي دي. ايا د کلتور فرضيه د نړيوالې نا انډولۍ په پوهاوي کې مرسته کولای شي؟ هو او نه!

هو په دې معنا چې، هغه ټولنيز نورمونه چې له کلتور سره اړيکه لري، ارزښتمن او په سختۍ سره د بدلېدو وړ دي. دغه نورمونه ځيني وخت بنسټي يا نهادي توپيرونه تقويه کوي، چې دغه توپيرونه په دې کتاب کې د نړيوالې نابرابرۍ په اړه زموږ د بحث مهم ټکی جوړوي. همدارنګه هېڅکله نه؛ ځکه هغه کلتوري ابعاد چې تر ډېره پرې تاکيد کېږي لکه دين، ملي دودونه، افريقايي يا لاتيني ارزښتونه، په دې اړه په پوهاوي کې چې څنګه دلته رسېدلي يو او ولې په نړۍ کې نابرابري حاکمه ده، له موږ سره مرسته نه کوي او نه هم د ارزښت وړ دي. د کلتور يو شمېر نور اړخونه، لکه يو پر بل د خلکو باور يا له يو بل سره همکاري، که څه مهم دي؛ خو دا د بنسټونو پايله ده، نه د نا انډولۍ په اړه کوم مستقل دليل. راځئ چې يو ځل بيا نوګالس په پام کې ونيسو. څرنګه چې مخکې مو يادونه وکړه، د نوګالس په شمال او جنوب کې زياتره کلتوري اړخونه سره ورته دي - ښايي د

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



دواړو ښارونو په اوبو، نورمونو، کړنو او ارزښتونو کې ځینې توپیرونه موجود وي- خو دا عوامل نه دي؛ بلکې د پراختیایي بهیر هغه پایله ده چې یادو دواړو ښارونو طی کړې ده. د بېلګې په توګه، په نظر پوښتنو کې څرګنده شوې چې مکسیکویان پر نورو خلکو باور نه کوي، په داسې حال کې چې د امریکا متحده ایالتونو وګړي وایي چې پر نورو باور کوي. د مکسیکویانو دغه بې باوري حیرانوونکې نه ده، ځکه چې د مکسیکو دولت د مخدره توکو د بانډونو او کاروبار په مخنیوي او د یوه پاک قضایي نظام په رامنځته کولو کې پاتې راغلی دی. ورته موضوع په سوېلي او شمالي کوریاګانو کې هم صدق کوي، چې د کتاب په بل څپرکي کې به پرې خبرې وکړو. سوېلي کوریا د نړۍ د شتمنو هېوادونو په ډله کې راځي، په داسې حال کې شمالي کوریا له وقفه یي قحطۍ او بېوزلۍ سره لاس او ګرېوان ده. که څه هم د دواړو کوریاګانو تر منځ ډېر کلتوري توپیرونه شته، خو دغو توپیرونو د دواړو سیمو په اقتصادي برخلیک کې هېڅ ونډه نه ده لرلې. کوریا ټاپو وزمې د ګډ تاریخ اوږده مرحله تېره کړې ده. د کوریا تر جګړې او د ځمکې د کُرې په ۳۸ درجو کې د هغې تر وېش مخکې، دغو دوو شمالي او جنوبي سیمو د ژبې، قومیت او کلتور له پلوه بېساری کلک تړاو درلود، لکه د نوګالس په څېر؛ خو هغه څه چې د دواړو ترمنځ توپیر په ډاګه کوي، هغه پوله ده. په شمال کې یو متفاوت سیاسي رژیم داسې بنسټونه رامنځته کړي چې د متفاوتو انګېزو سبب شوي دي. په دې توګه، د نوګالس د شمال او جنوب یا د دواړو کوریاګانو د کلتور ترمنځ توپیرونه د دې سیمو د اقتصادي هوساینې یا بېوزلۍ لپاره دلیل نه شي کېدای، بلکې دا د بنسټونو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



نتیجه ده. د افریقا او افریقایي کلتور په اړه څه فکر کوئ؟ له تاریخي پلوه افریقا د نړۍ د نورو سیمو په پرتله بېوزله ده او د دې لویې وچې لرغونو تمدنونو څرخ، لیک (له سومالیا او ایتوپیا پرته) او سپاره[1] اختراع نه کړل. که څه هم افریقایانو د دغې ټکنالوژۍ په اړه له پخوا معلومات لرل او پوهېدل، خو د نولسمې پېړۍ په وروستیو او د شلمې پېړۍ تر لومړیو پورې د اروپایي استعمار له رسمي پیل سره ترې هېڅ ګټه وانخیستل شوه. اروپایانو ان د پنځلسمې پېړۍ په وروستیو کې د افریقا په لوېدځو سواحلو کې بېړۍ چلونه پیل کړې وه، اسیایانو تر دې هم ډېر پخوا د افریقا په ختیځ کې بېړۍ چلولې. په افریقا کې د کانګو سیند پر غاړه د کانګو پاچاهۍ د تاریخ په مطالعې سره چې اوس د کانګو ډیموکراټیک جمهوریت په نوم

[1] plow


*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



يادېږي، کولای شو چې د دې ټکنالوژۍ د نه کارونې پر لاملونو پوه شو.

شپږمه نقشه، د مرکزي افريقا د نورو دولتونو يعنې د کيوبا پاچاهۍ ترڅنګ چې وروسته به پرې بحث وکړو، د کانګو موقعيت رانښيي.
کله چې «ملوان ډياګو» په ۱۴۸۳ کال کې په لومړي ځل د کانګو له سيمې ليدنه کوله، دغې ليدنې له پرتګال سره د کانګو سيمې د پراخې اړيکې زمينه برابره کړه. دغې سيمې هغه مهال پر افريقايي معيارونو



٦مه نقشه: د کانګو پاچاهي، د کيوبا پاچاهي، بوشونګ او لي لي

برابر، سياسي متمرکز جوړښت درلود او يوازې په پلازمېنه مبانزا «Mbanza» کې يې شاوخوا ٦٠ زره وګړي اوسېدل، چې دغه شمېر د پرتګال د پلازمېنې «لېزبون» له ټول نفوس سره برابر و او همدارنګه

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



د لندن په پرتله چې په ۱۵۰۰ میلادي کال کې یې شاوخوا ۵۰ زره نفوس درلود، ډېر و. د کانګو پاچا «Nzinga a Nkuwu» کاتولیک مذهب ومانه او خپل نوم یې پر «João I» او د پلازمېنې مبانزا نوم یې پر ساو سلوادور[1] بدل کړل.

د پرتګالیانو له برکته د کانګو خلک له څرخ او سپارې سره اشنا شول او ان د ۱۵۱۲ او ۱۵۹۱ کلونو ترمنځ پرتګالیانو د ترویجي ماموریت په ترسره کولو سره د کانګو اوسېدونکي د کرنې په برخه کې نوښتونو ته وهڅول، خو دغه ټول نوښتونه له ماتې سره مخ شول. په ټوله کې له نوې ټکنالوژۍ څخه د ګټې اخیستنې پر سر د کانګویانو ترمنځ اختلاف لا لرې خبره وه، هغوی ډېر ژر د لوېدیځ له یوې اختراع (وسلې) څخه کار واخیست، کانګویانو له دغې ځواکمنې وسیلې څخه د بازار د اړتیا او هڅوونکي عامل په توګه کار واخیست، یعنې د وسلې پر مټ یې د مریانو رانیولو او د هغوی صادرولو ته مخه کړه. تر دې دمه داسې نښې نښانې نه دي لیدل شوي چې ګنې افریقایي کلتور او ارزښتونه دې د نوې ټکنالوژۍ د کارونې پر وړاندې خنډ ګرځېدلي وي. همدارنګه کله چې کانګویان له اروپایانو سره ژورې او نږدې اړیکې ټینګوي، نو غربي دودونه لکه سواد، د جامو سټایل او د کورونو ډیزاین را خپلوي، په نولسمه پېړۍ کې زیاتره افریقایي ټولنو د صنعتي انقلاب په پایله کې له رامنځته شویو اقتصادي فرصتونو څخه د خپلو تولیداتو لپاره د نمونې په توګه کار واخیست. لوېدیځې افریقا د نباتي غوړیو او د بادامو د صادراتو له برکته چټکه اقتصادي وده تجربه کړه، افریقایانو خپل

[1] São Salvador

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



صادرات د سوېلي افريقا د رنګ سيمې په لور چې د کاني سرچينو لرونکې او مخ پر ودې صنعتي سيمه وه، پراخ کړل. خو دغه هيله ښنوونکې اقتصادي تجربې د افريقايي کلتور يا د دې لويې وچې د خلکو د ناتوانۍ له امله نه، بلکې په لومړي سر کې د اروپايي استعمار او بيا تر خپلواکۍ وروسته د افريقايي دولتونو د ناسمو تګلارو په پايله کې له منځه لاړې. د انګېزې نشتوالی هغه بنسټيز عامل و، چې د کانګو خلکو د وخت له غوره ټکنالوژۍ څخه ګټه پورته نه کړه. هغوی چې کاتوليک مذهب منلی و او هغوی چې نه و منلی، دواړه له داسې مصيبت سره مخ شول چې پاچا به يې يا مالونه مصادره کول او يا به يې هم د ماليې په توګه ترې اخيستل. نه يوازې د هغوی مالونه خوندي نه وو، بلکې ژوندي پاتې کېدل هم يو چانس ګرځېدلی و، زياتره به نيول کېدل او بيا به د مريانو په توګه پلورل کېدل.

څنګه شونې ده چې په داسې يوه ناخوندي چاپېريال کې خلک پانګونې ته وهڅول شي؟! پاچا د اوسپنې د صنعت ترويج او يا د کرنې پراختيا ته لومړيتوب نه ورکاوه، ځکه چې د مريانو صادرات ډېر ګټور وو. ښايي دا خبره سمه وي چې افريقايان نن ورځ د نړۍ د نورو وګړو په پرتله يو پر بل لږ باور لري او دا د هغو بنسټونو اغېزې دي، چې په دې لويه وچه کې يې بشري او د مالکيت حقونه پايمال کړي دي. د انسانانو نيول او د مري په توګه د هغوی خرڅول له شک پرته چې د تاريخ په اوږدو کې د افريقايانو ترمنځ د بې باورۍ لامل شوي دي.

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



د ماکس وېبر د پروتستانت مذهب د اخلاقو په اړه څه فکر کوئ؟ دا خبره سمه ده چې د نوي عصر لومړني اقتصادي بریالیتوبونه پروتستانت مذهبه هېوادونو لکه برېټانیا او هالنډ تجربه کړي دي، چې دلته د مذهب او اقتصادي بریالیتونو ترمنځ یوه اندازه رابطه موجوده ده. فرانسې د یوه کاتولیک مذهبه هېواد په توګه په نولسمه پېړۍ کې د هالنډ او برېټانیا له اقتصادي پروګرامونو تقلید وکړ. همدارنګه ایټالیا نن ورځ د دغو ټولو هېوادونو په پرتله ارامه او سوکاله ده، که ختیځ ته پام وکړو، وبه ګورو چې په ختیځه اسیا کې هېڅ ډول اقتصادي پرمختګ او بریالیتوب له مسیحیت سره تړاو نه لري، په دې سیمه کې به هېڅ داسې نښې نښانې پیدا نه کړئ چې د پروتستانېزم او اقتصادي بریالیتوبونو ترمنځ اړیکه په ډاګه کړي.

راځئ چې د کلتور فرضیې د پلویانو سیمې، یعنې منځنی ختیځ ته ورشو. د دې سیمې زیاتره هېوادونه اسلامي دي او په ځانګړې توګه په دې ډله کې هغه هېوادونه ډېر بېوزله دي چې نفت نه لري. هغه هېوادونه چې نفت لري، ډېر شتمن دي؛ خو د نفتو دغې باد راوړې شتمنۍ په سعودي عربستان او کویټ کې د موډرن اقتصاد په رامنځته کېدا کې ډېر کم رول لوبولی دی. ایا دغه حقایق په قانع کوونکې توګه د دین ارزښت نه په ګوته کوي؟ دغه استدلال ظاهراً معقول ښکاري، خو سم نه دی. د منځني ختیځ هېوادونه لکه سوریه او مصر بېوزله دي او زیاتره وګړي یې مسلمانان هم دي، خو دغه هېوادونه د بېلابېلو لاملونو پر بنسټ په سیستماتیک ډول له نورو سره توپیر لري.

لومړی دا چې دغه هېوادونه د عثماني خلافت ولایتونه وو، چې په شدت سره یې د پراختیا له مسیره را وګرځول. وروسته له هغه چې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



عثماني امپراتوري ړنګه شوه، منځنی ختیځ د فرانسوي او انګلیسي استعماري امپراتوریو ترمنځ ووېشل شو، چې دې پېښې بیا هم د هغوی د پرمختګ مخه ډپ کړه. که څه هم یاد هېوادونه وروسته خپلواک شول، خو د پخوانۍ استعماري نړۍ پر پلونو یې قدم کېښود، استبدادي او سلسله مراتبي سیاسي رژیمونو ته یې مخه کړه. یادو هېوادونو یوازې یو څو سیاسي او اقتصادي بنسټونه چې د اقتصادي ودې او پرمختګ په برخه کې ارزښتناک ګڼل کېږي، جوړ کړل. د دې تیاره مسیر بنسټ عثماني خلافت او اروپایي ښکېلاک ایښی و. په منځني ختیځ کې د بېوزلۍ او اسلام ترمنځ اړیکه هېڅ حقیقت نه لري.

د منځني ختیځ په اقتصادي بهیر کې د دې تاریخي پېښو رول، د کلتوري فکټورونو په نسبت ډېر څرګند دی. دا مسئله هم د پام وړ ده، کله چې د منځني ختیځ یو شمېر سیمې لکه مصر چې د محمد علي په مشرۍ له ۱۸۰۵ څخه تر ۱۸۴۸ کاله پورې د عثماني امپراتورۍ او اروپايي استعمار له ولکې ووتلې، چټک اقتصادي پرمختګ تجربه کړ. په مصر کې د ناپلیون بناپارټ په مشرۍ د فرانسوي پوځیانو له ماتې وروسته محمد علي واک ته ورسېد، محمد علي د عثمانیانو له کمزورتیاوو د ځان په ګټه کار واخیست او پاچاهي نظام یې تاسیس کړ، دغې پاچاهۍ تر ۱۹۵۲ کال پورې د جمال عبدالناصر په مشرۍ د مصریانو تر انقلاب پورې دوام وکړ. سره له دې چې د محمد علي اصلاحات له زور سره مله وو، خو د مصر لپاره د پرمختګ سبب شول، نوموړي نوې دولتي بیروکراسي، پوځ او مالیاتي سیستم رامنځته کړل او همدارنګه د کرنې او صنعت

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



په برخه کې يې پرمختګ ته لار هواره کړه، خو د محمد علي تر مړينې وروسته کله چې مصر د اروپا تر نفوذ لاندې راغی، د موډرنيزېشن او ودې دغه بهير په ټپه ودرېد، خو ښايي دا د کلتور په اړه ناسم ليدلوری وي. ښايي هغه کلتوري فکتورونه چې مهم دي، له مذهب سره نه؛ بلکې تر ډېره له ملي کلتور سره تړاو ولري.

ايا دا د انګليسي کلتور امتياز دی چې د امريکا متحده ايالتونه، کاناډا او اسټراليا نن ډېر شتمن دي؟ که څه هم دغه نظريه په لومړي سر کې جالبه ښکاري، خو قانع کوونکې نه ده. هو! له شک پرته کاناډا او د امريکا متحده ايالتونه يو وخت د انګليس مستعمره وو، خو سيريليون او نايجيريا هم د برېټانيا استعمار تېر کړي دي. د برېټانيا د پخوانيو مستعمرو ترمنځ اقتصادي توپير لکه په نړۍ کې د نورو موجوده توپيرونو هومره پراخ دی. د انګليسي والي ميراث په شمالي امريکا کې د اقتصادي برياليتوبونو لامل نه ګڼل کېږي. دلته د کلتوري فرضيې يوه بله نسخه هم شته، دا يوازې انګليسي والی او غير انګليسي والی نه دی چې ارزښت ورکول کېږي، بلکې د اروپايي والي او غير اروپايي والي نظريه هم شته. ايا کېدای شي اروپايان له دې امله غوره وګڼو چې ښه کاري اخلاق، ژوند ته ښه ليد، يهودي-مسيحي ارزښتونه او د لرغوني روم په ميراث پاتې امتيازونه لري؟ دا سمه ده چې ختيځه اروپا او شمالي امريکا چې په لومړيو کې له اروپايي توکم څخه ډکې شوې، د نړۍ هوسا سيمې دي، ښايي دا د اروپايانو غوره کلتوري ميراث وي چې د اقتصادي ښېرازۍ ريښه لري او د کلتوري فرضيې وروستی تمځای دی. له بده مرغه چې د کلتوري فرضيې دغه نسخه هم د نورو نسخو په څېر، واقعيتونو ته سم ځواب نه لري. د امريکا متحده ايالتونو او کاناډا په

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



پرتله د ارجنټاين او يوروگوای زياتره وگړي اروپايي توکمه دي، خو د يوروگوای او ارجنټاين اقتصادي وضعيت نن د قناعت وړ نه دی. جاپان او سينگاپور هېڅکله [له يو کم شمېر پرته] اروپايي وگړي نه دي لرلي، خو د لوېديځې اروپا د ډېرو سيمو په پرتله ښه اقتصاد او ژوند لري. چين سره له دې، چې په خپل سياسي او اقتصادي نظام کې ځيني د پام وړ نيمگړتياوې لري، خو په وروستيو دريوو لسيزو کې يې په نړيواله کچه چټکه اقتصادي وده خپله کړې ده. د ماوو زيدونگ په وخت کې د چينايانو بېوزلي له چينايي کلتور سره اړيکه نه لرله، بلکې دا د ماوو له ناورينه د ډک اقتصادي او سياسي مديريت او مشرۍ له امله و. نوموړي په ۱۹۵۰ کال کې د «لوی ټوپ مخ په وړاندې»[1] په نوم د صنعتي کېدو يوه افراطي طرحه چمتو کړه چې پراخه لوږه او قحطي يې وزېږوله. هغه په ۱۹۶۰ مه لسيزه کې يو کلتوري انقلاب پيل کړ چې په ترڅ کې گڼ روڼ اندي، لوستي او هر هغه څوک وځورول يا ووژل شول چې له کمونېست گوند سره به يې پر ژمنتيا شک کېده. دغه تگلاره له هېواده د بشري سرچينو او کادرونو د تېښتې او ضايع کېدو لامل شوه. په دې توگه د چين اوسنۍ وده له چيني ارزښتونو او کلتوري بدلونونو سره کومه اړيکه نه لري، بلکې له هغو اقتصادي بدلونونو او اصلاحاتو سرچينه اخلي چې د ماوو تر مړينې وروسته د «دينگ شياپونگ» او د هغه د ملگرو له خوا عملي شول. دغه اصلاحات او بدلونونه لومړی په کرنيز او بيا وروسته په صنعتي سکتورونو کې د سوسياليستي اقتصادي تگلارو او بنسټونو تدريجي له منځه وړل و.

[1] Great Leap forward

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



د جغرافيوي فرضيې په څېر د کلتور فرضيه هم په نړۍ کې د نابرابرۍ او لوړو – ژورو په روښانه کولو کې موږ سره مرسته نه شي کولای، البته د متحده ايالتونو او لاتيني امريکا ترمنځ د باورونو، کلتوري رويو او ارزښتونو په برخه کې ډېر توپيرونه شته، خو دا توپيرونه هغسې دي چې د نوګالس اريزونا او نوګالس سونورا يا سوېلي او شمالي کوريا ترمنځ ليدل کېږي، کوم چې له متفاوتو بنسټونو او د بنسټونو د تاريخ پايله ده. کلتوري فکتورونه چې ښرګندوي، څنګه هسپانوي يا لاتيني کلتور په هسپانوي امپراتورۍ کې ځای پيدا کړی و، په لاتينه امريکا کې توپيرونه نه شي په ډاګه کولی. د بېلګې په توګه، دا پوښتنه نه شي ځوابولی چې ولې نن ارجنټاين او چيلي د پيرو او بوليويا په پرتله ارام او هوسا دي. د کلتور په اړه دې ته ورته نورې ګڼې نظريې او دلايل هم کار نه ورکوي. د بوليويا او پيرو په پرتله په ارجنټاين او چيلي کې ډېر لږ بوميان يا د سيمې اصلي اوسېدونکي ژوند کوي. له همدې امله بومي کلتور د ستونزې د په ډاګه کولو لپاره يو کارنده دليل نه دی. سره له دې چې کولمبيا، پيرو او ايکوادور د عوايدو په برخه کې په يوه رديف کې قرار لري، خو په کولمبيا کې نن ډېر لږ شمېر بومي وګړي ژوند کوي، په داسې حال کې چې پيرو او ايکوادور تر دې ډېر بومي وګړي لري.

په پايله کې کلتوري رويې چې ډېر ورو بدلون مومي، ستونزمنه ده چې ووايو د چين او ختيځې اسيا له چټکې او جادويي ودې سره يې مرسته کړې ده. که څه هم بنسټونه تلپاتې او دومداره دي، خو په ځينو ځانګړو شرايطو کې بنسټونه هم په چټکۍ سره بدلون موندلای شي، چې په راتلونکي څپرکي کې به يې روښانه کړو.

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



## د ناپوهۍ فرضیه

The Ignorance Hypothesis

د ملتونو د بډاینې او بېوزلۍ په اړه وروستۍ او مشهوره تیوري د «ناپوهۍ فرضیه» ده. د دغې فرضیې له مخې په نړۍ کې ځکه نابرابري خوره ده، چې موږ او زموږ واکمنان نه پوهېږي چې څنګه بېوزله هېوادونه شتمن کړو. ډېری اقتصاد پوهانو دغه نظریه د نامتو انګلیسي اقتصاد پوه «لیونل رابېنز» له هغې نظریې راخیستې چې په ۱۹۳۵ کال کې یې وړاندې کړه. د دې نظریې پر بنسټ «اقتصاد هغه علم دی چې د انسان د موخو او محدودو امکاناتو ترمنځ چې بدیل مصارف لري، د هغه سلوک څېړي.»

له همدې ځایه، دې پایلې ته رسېږو چې د اقتصاد علم باید د ټولنیزو مقاصدو د ترلاسه کولو لپاره له محدودو یا کم پیدا وسایلو څخه پر ګټې اخیستنې ډېر تمرکز وکړي. په اقتصاد کې مشهوره تیوریکې پایله یا د «هوسایني لومړی اصل» په حقیقت کې هغه شرایط تعریفوي، چې پر بنسټ یې د اقتصاد بازار کې د اقتصادي لیدلوري له پلوه د سرچینو ځانګړي کول د ټولنیز هدف لپاره وي. د بازار اقتصاد یو جلا مفهوم دی، یعنې افرادو او شرکتونو ته د داسې شرایطو برابرول دي چې د هغه په رڼا کې ازاد تولید، پېر او پلور او خدمات وړاندې کړي، خو کله چې دغه شرایط برابر نه شي، مارکېټ له ماتې سره مخ کېږي او دغه ماته په نړۍ کې د نابرابرۍ د نظریې اساس جوړوي. څومره چې په مارکېټ کې د ماتې یا ناکامۍ عوامل پر ځای پاتې کېږي، هغومره ور سره یو هېواد بېوزله کېږي. د ناپوهۍ فرضیه کاږي چې بېوزله هېوادونه، بېوزله دي؛ ځکه چې دغه هېوادونه د اقتصاد

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



پوهانو د پخوانیو ناسمو لاربنوونو او تګلارو له امله د بازار له پرله پسې ماتې سره مخ دي او نه پوهېږي چې څنګه له دې ستونزې خلاصون ومومي. په مقابل کې شتمن هېوادونه شتمن دي، ځکه چې دغه هېوادونه د غوره تګلارو په خپلولو سره له ستونزو بریالي راوتلي دي.

ایا د ناپوهۍ فرضیه په نړۍ کې د اوسنۍ نا انډولۍ عوامل په ډاګه کولای شي؟ ایا کولای شو، ووایو چې افریقایي هېوادونه ځکه د نړۍ د نورو هېوادونو په پرتله بېوزله دي چې مشرانو یې تېروتنې کړي دي؟ ایا اروپایي مشران د دې وضعیت په اړه له مخکې خبر وو او پوهېدل؟ سره له دې چې موږ د نړۍ د مشرانو د تېروتنو ډېرې مشهورې بېلګې لرو چې د ناسمو سیاستونو له امله یې خپل هېوادونه له ناورین سره مخ کړي دي، خو ناپوهي او بې غوري ښايي په نړۍ کې د شته نابرابرۍ د یوه کوچني عامل په توګه وګڼل شي. د دې یو ښه مثال افریقایي هېواد ګانا دی. ګانا له انګرېزانو د خپلواکۍ تر ګټلو وروسته له دوامداره اقتصاد رکود سره مخ شو، چې لامل یې بې غوري او ناپوهي وه. انګرېز اقتصاد پوه «ټوني کلیک» چې د ولسمشر «قوام نکرومه» اقتصادي سلاکار و، په خپلو یادښتونو کې د ګڼو ستونزو یادونه کړې ده. د نکرومه اقتصادي تګلاره چې د دولتي صنایعو پر پراختیا را څرخېده، ډېره ناکامه او بې ګټې ثابته شوه. کلیک په خپلو یادښتونو کې کاږي:«د بوټانو د تولید فابریکه باید په شمال کې د ۵۰۰ میله په واټن د غوښې د تولید فابریکې سره د ټرانسپورټ په وسیله نښلول شوې وای، د ذبح شویو څارویو څرمنې او پوستکي باید په ۵۰۰ مایله مترۍ کې جنوب سیمې ته د چرم د تولید په موخه او بیا تولید شوی چرم بېرته کوماسي سیمې ته چې د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



هېواد په مرکز کې یې موقعیت درلود، لېږدول شوی وای. دا چې د بوټانو د خرڅلاو بازار د اکرا ښار په مرکزي سیمه کې موقعیت درلود، نو تولید شوي بوټان باید ۲۰۰ میله مترۍ کې سوېل خوا ته لېږدول شوي وای»

کلیک غواړي ووایي چې د دې پروژې بنسټ ډېر خام او ناکاره اېښودل شوی و او د بوټانو د تولید پروژه یو له همدغو پروژو څخه وه. دې ته ورته یوه بېلګه د عم مېوې د پروسس فابریکه وه. دغه فابریکه د ګانا په داسې سیمه کې جوړه شوې وه، چې هلته د عم حاصلات نه وو او تولید یې هم د ټول نړیوال مارکېټ د تقاضا په پرتله ډېر وو. د نامعقولې اقتصادي پراختیا دغه ناپایه جریان د قوام نکرومه او د هغه د اقتصادي سلاکارانو د ناپوهۍ او بې غورۍ له امله نه و، له نوموړي سره د کلیک او سر ارتر « Sir Arthur Lewis» په څېر اقتصادي سلاکاران چې لیوس حتی د نوبل جایزه هم اخیستې وه، ملګري وو او پر دې ښه پوهېدل چې دغه تګلارې یا پالیسۍ کارنده نه دي. حقیقت دا دی چې نکرومه د یادو اقتصادي تګلارو په پلي کولو کې رښتینی نه و، بلکې د دې سلاکارانو په وجود کې یې سیاسي ملاتړ تر لاسه کاوه او په دې توګه یې د خپل غیر ډیموکراټیک رژیم د پایښت هڅه کوله. تر خپلواکۍ وروسته په ګانا کې د پراختیایي پروګرامونو د ناکامېدو او د ناسم اقتصادي مدیریت پړه پر «ناپوهۍ» نه شو ور اچولای. که ستونزه په نا پوهي کې وه، نو مشران باید له څو پرله پسې تېروتنو وروسته ژر پوه شوي وای، چې د خلکو د ژوند او د اقتصاد ښه والي لپاره بله تګلارې غوره کړي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



د امریکا متحده ایالتونو او مکسیکو ترمنځ توپیر په پام کې ونیسئ. دا به ډېره بېځایه خبره وي، چې د دغو دوو هېوادونو ترمنځ اوسنۍ نابرابري د هغوی د مشرانو د ناپوهۍ له امله وګڼو، کله چې د استعمار پر مهال جان سمېت او کورتېس د دواړو هېوادونو ترمنځ د بېلتون تخم شینده، د دواړو په پوهه او اراده کې هېڅ توپیر نه و. همدارنګه د امریکا د ولسمشرانو روزولټ او ووډرو‌یلسن او د مکسیکو د ولسمشر پورفیرو دیاز د پوهې ترمنځ هېڅ توپیر نه و، دیاز د اتلسمې پېړۍ په وروستیو او د نولسمې پېړۍ په لومړیو کې په مکسیکو کې داسې اقتصادي بنسټونه جوړ کړل چې د واکمنې طبقې په خدمت کې وو او ټولنې ته په ډېره درنه بیه تمام شول، خو امریکایي مشرانو د دې برعکس کار وکړ. دغه راز د هغو افریقایي هېوادونو مشرانو چې په وروستۍ نیمه پېړۍ کې یې د مالکیت د نا خوندي حقونو او ناسمو اقتصادي بنسټونو له امله ځان کمزوری او خلک یې بېوزله کړل، له دې کبله بې غوري کوله چې فکر یې کاوه سمه اقتصادي تګلاره یې غوره کړې ده. هغوی همداسې وکړل او د ولس د ژوند په بیه یې خپل ځانونه شتمن کړل، هغوی فکر کاوه چې سمه لار یې غوره کړې او په دې ډول به د ټولنې د مخورو او اشرافو د ملاتړ ترلاسه کولو له لارې تر ډېره په واک کې پاتې شي. په ۱۹۷۱ کال کې د ګانا د لومړي وزیر «کوفي بوسیا» تجربې ښیي چې د ناپوهۍ فرضیه څومره ګمراه کوونکې ده. بوسیا په خپل وخت کې له یوه خطرناک اقتصادي ناورین سره مخ شو، نوموړي چې تر نکرومه وروسته په ۱۹۶۹ کال کې واک تر لاسه کړ، بې ثباته اقتصادي تګلاره خپله کړه، په مارکېټ کې یې د بېلابېلو توکو بیې په کنټرول کې واخیستې او د بهرنیو اسعارو پر وړاندې یې د پیسو ارزښت تر

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



حقيقي ارزښت لوړ وساته. که څه هم بوسيا د نکرومه له سيالانو څخه و او د يوه ډيموکراټيک دولت مشري يې کوله، خو له ډېرو ورته سياسي محدوديتونو سره مخ و. دی هم د نکرومه په څېر د خپلو غوره کړو تګلارو په اړه بې خبره نه و، بلکې په دې باور و چې اقتصادي تګلاره يې ګټوره يا د هېواد د پرمختګ لپاره يو ايډيال ده، بوسيا ځکه دغه پاليسي غوره کړې وه، چې غوښتل يې سرچينې او امکانات ځواکمنو سياسي ډلو ته ولېږدوي، لکه د ښاري سيمو اوسېدونکي، چې بايد خوښ او راضي ساتل شوي وای. د بيو کنټرول چې په ترڅ کې يې ښاري ټاکنيزو حوزو ته بايد ارزانه خواړه عرضه او د دولتي لګښتونو د پوره کولو لپاره عوايد برابر شوي وای، کروندګر له سختو ستونزو سره مخ کړل، خو دغه کنټرول ډېر دوام و نه کړ. ګانا ډېر ژر د تادياتو د بيلانس کسر او د بهرنيو اسعارو د کمښت له بحران سره مخ شو، د دې اقتصادي کړکېچ په ترڅ کې بوسيا د ۱۹۷۱ کال د ډسمبر په ۲۷ مه د پيسو نړيوال وجهي صندوق سره يو تړون لاسليک کړ، چې له امله يې د هېواد ملي کرنسۍ ارزښت په بېساري توګه راټيټ شو.

د پيسو نړيوال صندوق، نړيوال بانک او نړيوالې ټولنې پر بوسيا فشار راووړ، چې په تړون کې شامل ټول اصلاحات پلي کړي. که څه هم نړيوال مالي بنسټونه نا خبره وو، خو بوسيا خبر و او پوهېده چې په يوه ستر قمار کې ښکېل شوی دی. د پيسو ارزښت ټيټېدو او اقتصادي ناورين له امله خلکو په پلازمېنه «اکرا» کې پاڅون وکړ، چې په ترڅ کې يې بوسيا د ډګروال «اچومپونګ» په مشرۍ د پوځ له لوري را وپرځول شو.

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



د جغرافيې او کلتور او د ناپوهۍ فرضيو ترمنځ توپير دا دی، چې د ناپوهۍ فرضيه د بېوزلۍ د ستونزې د حل لپاره چټک وړانديزونه کوي، يعنې: که ناپوهي مو له دغسې برخليک سره مخ کوي، نو واکمنان او پاليسي جوړوونکي کولای شي چې هغه له موږ سره يې شريک کړي او موږ به د منل شويو اقتصادي تګلارو په چوکاټ کې د سمو لارښوونو او سپارښتنو پر مټ وکولای شو چې ټولې نړۍ ته پراختيايي پروګرامونه طرحه کړو. خو د بوسيا تجربه پر دې واقعيت ټينګار کوي چې د بازار د ماتې د مخنيوي او د اقتصادي ودې د پاليسو پر وړاندې اصلي خنډونه د سياستوالو ناپوهي نه ده، بلکې هغه انګېزې او محدوديتونه دي چې ناکارو او کمزورو اقتصادي او سياسي بنسټونو زېږولي دي.

که څه هم د ناپوهۍ فرضيې اوس هم د يو شمېر اقتصاد پوهانو او د لوېديځوالو پاليسي جوړوونکو ترمنځ د غوره نظريې په توګه خپل ارزښت ساتلی، خو دا هم د هغو نظرياتو له جملې ده چې کار نه ورکوي. دا فرضيه نه په نړۍ کې د اقتصادي هوساينې ريښې په ډاګه کولای شي او نه هم د ځمکې پر سر لوړې ژورې. مثلاً، ولې ځينو هېوادونو لکه پيرو او مکسيکو داسې بنسټونه او تګلارې يې تر لاس لاندې ونيول چې لويه برخه وګړي يې بېوزله کړل؟ او يا ولې د افريقا جنوب صحرا او د مرکزي امريکا زياتره برخې د لوېديځې اروپا او ختيځې اسيا په پرتله بېوزله دي؟

کله چې يو شمېر هېوادونه ناکاره او فقر زېږوونکي بنسټونه له منځه وړي او د اقتصادي ودې پر لور پر نوي مسير مزل پيلوي، معنا يې دا نه ده چې ناپوه او بې خبره مشران يې خپلو ټېروتنو ته متوجې شوي، شخصي ګټې يې پوره شوي او يا هم تکړه اقتصاد پوهانو مشوره

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



ورکړې ده. د بېلگې په توگه؛ چين ډېر ژر هغه سياستونه د اقتصادي ودې پر هڅوونکو سياستونو بدل کړل؛ چې ميليونونه انسانان يې له لوږې او فقر سره مخ کړي وو، خو لکه څرنگه چې وروسته به يې په تفصيل وڅېړو، دغه بدلون له دې امله نه وو، چې گنې د چين کمونېست گوند پوه شوی و، چې اشتراکي مالکيت او صنايعو په خلکو کې ناوړه اقتصادي انگېزې رامنځته کړي. دنگ شياپونگ او د هغه ملگري که څه هم د شخصي گټو پاللو په برخه کې له خپلو سيالانو کم نه و، خو متفاوتې گټې او سياسي موخې يې لرلې او د چين په کمونېست گوند کې يې خپلو ځواکمنو سيالانو ته ماتې ورکړه او د هغه سياسي انقلاب سرلاری شو، چې د کمونېست گوند په مشرۍ کې يې ژور بدلونونه راوستل. د همدې سياسي اوښتون په پايله کې د هغوی اقتصادي اصلاحات د کرنې او صنعت په سکتورونو کې د پانگونې د هڅونې لامل شول. دا يوازې غوره سياسي تصميم و، چې چين يې له کمونېزم څخه د بازار هڅوونکي مسير ته سم کړ، نه غوره سپارښتنې يا نورې اقتصادي لارښوونې.

زموږ بحث دا دی چې په نړۍ کې د نا انډولۍ په اړه د پوهېدو لپاره بايد د دې پوښتنې ځواب ومومو چې ولې ځيني ټولنې په ډېر ناسم او له ټولنيز پلوه په نا مطلوب ډول سمبال يا سازمان شوې دي. کله کله يو شمېرملتونه د کارنده بنسټونو د جوړولو هڅه کوي او اقتصادي هوساينې ته رسېږي، خو له بده مرغه ډېر لږ داسې پېښېږي. زياتره اقتصاد پوهان او پاليسي جوړوونکي پر دې تمرکز کوي چې «سمه لار» وټاکي، په داسې حال کې چې پر دغې موضوع پوهېدو ته اړتيا ده چې ولې بېوزله هېوادونه «ناسمه لار» غوره کوي؟ د ناسمې لار

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



غوراوی له کلتور يا ناپوهۍ سره تړاو نه لري، بېوزله هېوادونه بېوزله دي؛ ځکه هغه څوک چې واک ته راځي، هغوی په خپله بېوزلۍ او فقر ته زمينه برابروي. هغوی د تېروتنې يا ناپوهۍ له امله ناسمه لار نه ده غوره کړې، بلکې قصداً همداسې کوي. د اقتصاد پوهانو او کارپوهانو له سلا مشورو هاخوا، دا بايد مطالعه شي چې پرېکړې يا تصاميم څه ډول نيول شوي؟ څوک دا ډول پرېکړې کوي؟ او ولې دا ډول پرېکړې کوي؟

دا د سياست او سياسي پروسو مطالعه ده. د اقتصاد علم له پيله سياسي علوم له پامه غورځولي دي، په داسې حال کې په نړۍ کې د نابرابرۍ په اړه د پوهاي لپاره د سياسي علومو زده کړه او مطالعه اړينه ده. د ۱۹۷۰ يمې لسيزې اقتصاد پوه ابا لرنر[1] وايي:«د اقتصاد علم له دې امله د ټولنيزو علومو د مَلکې لقب تر لاسه کړ، چې حل شوي سياسي مسايل يې د خپل فعاليت برخه وګڼل.»

موږ به دلته په ډاګه کړو، چې اقتصادي هوسايني ته رسېدل، د ځينو بنسټيزو سياسي مسايلو په حل پورې اړه لري. د اقتصاد علم تر اوسه د دې ستونزې په حل کې بريالی نه دی، ځکه چې تر اوسه يې سياسي مسايل حل شوي ګڼل. که څه هم د نړيوالې نابرابرۍ سپړنه د اقتصاد علم ته اړتيا لري، څو پوه شو چې د تګلارو يا پاليسيو بېلابېل ډولونه او ټولنيز مناسبات د اقتصاد پر خوځنده عواملو او رويو څه اغېز لري؛ خو سياسي علوم هم بايد له پامه ونه غورځول شي

[1] Abba Lerner

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



# درېیم څپرکی

## د بېوزلۍ او هوساینې رامنځته کول

### د ځمکې د ۳۸ درجو اقتصاد

د دویمې نړیوالې جګړې په وروستیو کې د ۱۹۴۵ کال په دوبي کې په کوریا کې د جاپان ښکېلاک وپاشل شو. د جاپان تر تسلمېدو وروسته د همدې کال د اګست پر پنځلسمه کوریا د ځمکې د کُرې په ۳۸ درجو کې پر دوو برخو ووېشل شوه: سوېل د امریکا متحده ایالتونو او شمال د روسیې له خوا اداره کېده. په دې سیمه کې د سړې جګړې نیم بنده سوله هغه وخت ماته شوه، کله چې د ۱۹۵۰ کال په جون میاشت کې شمالي کوریا پر سوېلي کوریا یرغل وکړ. که څه هم شمالي کوریا په لومړي سر کې پراخ تهاجمي بریدونه وکړل او د سوېلي کوریا پلازمېنه «سیول» یې ونیوله، خو د کال تر منې پورې د شمالي کوریا پوځ پر شا وتمبول شو، همدا وخت و چې «هوان پیونګ وون» او ورور یې سره جلا شول. هوان پیونګ وون د شمالي کوریا د پوځ له وېرې ځان په یوه خوندي ځای کې پټ او په سوېل کې مېشت شو. هغه وروسته د درمل جوړونې کاروبار پیل کړ. د نوموړي ورور جراحي ډاکټر و، چې په سیول کې یې د سوېلي کوریا د پوځ د ټپیانو درملنه کوله، خو کله چې د شمالي کوریا پوځ شاتګ وکړ، هغه هم شمال ته لاړ. دغه دوه ورونه چې په ۱۹۵۰ کال کې سره جلا شوي وو، تر پنځوس کلني بېلتون وروسته په لومړي ځل یې په ۲۰۰۰ میلادي کال کې د سوېلي کوریا په پلازمېنه سیول کې سره ولیدل. د دې لیدنې زمینه هغه وخت برابره شوه، کله چې دواړو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



دولتونو د جلا شویو کورنیو د لیدنې پر یوه محدود پروګرام هوکړه وکړه. د هوان پیونګ وون ورور چې په هوايي ځواکونو کې د یوه ډاکټر په توګه کار کاوه، په یوه دیکتاتور پوځي نظام کې یې نسبتاً ښه دنده درلوده. په شمالي کوریا کې هغه وګړي چې ان له ځانګړو امتیازونو هم برخمن دي، ښه ژوند نه لري. کله چې دواړه ورونه سره یو ځای کېږي، هوان پیونګ وون له خپل وروره پوښتنه کوي چې د شمال په ۳۸ درجو کې ژوند څنګه و؟ هوان یو موټر درلود، خو ورور یې نه درلود. له وروره یې وپوښتل چې ایا ټیلفون لرې؟ هغه ځواب ورکړ:«نه، لور مې چې په بهرنیو چارو وزارت کې کار کوي، یو ټیلیفون لري، خو هغه هم کوډ لري چې هر څوک ترې کار نه شي اخیستی.»

د هوان پیونګ وون ناڅاپه دې خبرې ته پام کېږي چې څنګه د جلا شویو کورنیو د لیدنې په مراسمو کې له شمال څخه راغلو خلکو د پیسو غوښتنه کوله او په دې توګه خپل ورور ته یوه اندازه پیسې ورکوي. خو ورور یې وایي:«که له پیسو سره بېرته ستون شم، نو دولت به راته ووايي چې پیسې موږ ته راکړه. دا پیسې بېرته واخله» هوان پیونګ د خپل ورور زړې او شړېدلې کورتۍ ته پام کېږي:«کوټ دې لرې کړه او چې بېرته تللې دا واغونده» هغه ورته په ځواب کې وایي:«دا کار نه شم کولای، دا کورتۍ راته دولت یوازې دلته د تګ لپاره په پور راکړې ده.»

تر جلا کېدو وروسته، هوان ګوري چې ورور یې څومره زهیر، ناروغ او عصباني شوی، د لیدنې پر مهال نارامه و او فکر یې کاوه چې څوک یې خبرو ته غوږ نیسي. د شمالي کوریا دغه اوسېدونکی له هغه ډېر بېوزله و، څومره چې ورور یې هوان پیونګ وون فکر کاوه. ورور

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



يې ويل چې ښه ژوند لري، خو هوان د هغه بد حالت په خپلو سترګو ليده او لکه نرى سيم داسې ډنګر شوى و.

په سوېلي کوريا کې د خلکو د ژوند معيارونه د هسپانويانو او پرتګاليانو د ژوند له معيارونو سره برابر دي، خو په شمالي کوريا يا په اصطلاح د «کوريا د خلکو ډيموکراټيک جمهوريت» کې د ژوند معيارونه د يوه افريقايي هېواد له معيارونو سره ورته دي، چې که دا وضعيت له سوېلي کوريا سره پرتله شي، لس چنده ټيټ دى. د شمالي کوريا خلک په ډېر بد روغتيايي وضعيت کې ژوند کوي. د شمالي کوريا وګړي د خپلو تربورانو يعنې د سوېلي کوريا د اوسېدونکو په پرتله په اوسط ډول لس کاله کم عمر کوي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



اوومه نقشه د دوو کوریاگانو ترمنځ توپیر په تصویري بڼه را ښيي. دغه انځور چې له سپوږمکۍ اخیستل شوی دی، په کوریا ټاپو وزمه کې د شپې مهال د برېښنا د رڼا کچه ښيي. دغه ژور توپیر دومره

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



اوږده مخینه نه لري. دغه توپیرونه تر دویمې نړیوالې جګړې مخکې نه وو، خو تر ۱۹۴۵ کال وروسته چې کله په شمال او سوېل کې دوه جلا دولتونه جوړ شول، دواړو د اقتصادي مدیریت لپاره ډېرې متفاوتې تګلارې تر لاس لاندې ونیولې. د سوېلي کوریا سیاسي او اقتصادي بنسټونه د ساینګمن ري «Syngman Rhee» له خوا جوړ شول، نوموړی چې سخت کمونېست ضد سړی و، د امریکا متحده ایالتونو قوي ملاتړ یې له ځان سره درلود او زده کړې یې هم د امریکا په هاروارډ او پرنسټون پوهنتونونو کې کړې وې. ري په ۱۹۴۸ کال کې د سوېلي کوریا ولسمشر شو، دا چې سوېلي کوریا د کوریا جګړې پر مهال د سوېل په ۳۸ درجو کې د کمونېزم خطر د مخنیوي په موخه جوړه شوه، نو هغه مهال یو ډیموکراټیک هېواد نه و. ري او د هغه ځایناستی جنرال «پارک چونګ هي» دواړه په تاریخ کې د ټولواک یا غیر ډیموکراټیک ولسمشرانو په نوم یادېږي. خو دواړو د بازار اقتصادي سیستم رامنځته کړی و، چې د خصوصي مالکیت حق په کې ازاد و. جنرال پارک له ۱۹۶۱ کال وروسته د هېواد اقتصادي ودې ته پاملرنه وکړه او تولیدوي فابریکو ته یې د پورونو او کریډټونو اسانتیاوې برابرې کړې، خو په شمالي ۳۸ درجو کې وضعیت بل ډول و. کله چې «کېم ایل سونګ» په ۱۹۴۷ کال کې د شوروي اتحاد په مرسته د شمالي کوریا واکمن شو، د جوچې «Juche» په نامه یې یو سخت متمرکز اقتصادي نظام جوړ کړ. سونګ د دویم نړیوالې جګړې پر مهال جاپان ضد کمونېست چریکي جنګیالی و، هغه خصوصي مالکیت او مارکېټ بند اعلان کړل، ازادي نه یوازې د بازار بلکې د ژوند په ټولو برخو کې محدوده

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



شوه، یوازې د کیم اېل سونګ او وروسته د هغه د ځایناستي کیم جونګ اېل یوې کوچنۍ ډلې ازادي لرله. د دواړو کوریاګانو ترمنځ دومره ژور اقتصادي توپیر د حیرانۍ وړ نه دی. د کېم اېل سونګ د جوچې اقتصادي نظام ناورین زېږوونکې پایلې وروسته را برسېره شوې. د شمالي کوریا د مرموز او پټ دولت له امله تر اوسه د دې هېواد په اړه رسمي شمېرې او معلومات په لاس کې نه شته، خو د پرله پسې قحطۍ او لوږې په اړه شته معلومات په ډاګه کوي چې په شمالي کوریا کې نه یوازې تولیدي صنایع له پښو وغورځېدې، بلکې دغه هېواد د کرنیزو تولیداتو په برخه کې هم له سقوط سره مخ شو. د خصوصي مالکیت له منځه وړل د پانګونې او تولید د انګېزې د له منځه وړلو په معنا و. مستبد او ځپونکي رژیم، نوښتونو او نوې ټکنالوژۍ ته په بد نظر کتل.

کېم اېل سونګ، کېم اېل جونګ او د هغو ملګرو د نظام د اصلاح، د خصوصي مالکیت د ازادۍ، د بازار او سیاسي بنسټونو د اصلاح لپاره هېڅ اراده او پلان نه لرل، خو په عین وخت کې د سوېلي کوریا اقتصادي بنسټونو بیا د پانګونې او سوداګرۍ لپاره د هڅونې زمینه برابره کړې وه. د جنوبي کوریا سیاستوالو پر ښوونې او روزنې لویه پانګونه وکړه او د دې هېواد وګړي په لوړه کچه له زده کړو برخمن شول. د جنوبي کوریا کمپنیو ډېر ژر د روزل شوې او مسلکي بشري قوې، د پانګونې، صنعتي کېدو او صادراتي تګلارو او نورو سیمو ته د ټکنالوژۍ د لېږدولو له امتیازاتو ګټه واخیسته. سوېلي کوریا په ختیځه اسیا کې ډېر ژر یو معجزه یي اقتصاد جوړ کړ، یعنې په نړۍ کې د چټکو مخ پر ودو هېوادونو په ډله کې ودرېد. یوازې نیمه پېړۍ وروسته یعنې په ۱۹۹۰ کال کې د سوېلي کوریا پرمختګ او د شمالي

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



کوريا ځوړتيا، دواړه په دومره لوی واټن کې ودرول، چې ترمنځ يې توپير لس برابره شو. فکر وکړئ چې په راتلونکي کې به د دواړو هېوادونو ترمنځ نور څومره توپير راشي؟ کله چې د شمالي کوريا اقتصادي ناورين چې د ميليونونو انسانانو د لوږې سبب شو، د سويلي کوريا له اقتصادي برياليتوبونو سره پرتله کوو؛ رښتيا هم سړی ټکان خوري. نه کلتور، نه جغرافيه او نه هم ناپوهي کولای شي چې د دواړو کورياګانو د برخليک مسيرونه واضح کړي، بلکې د موضوع د ښه سپيناوي لپاره اړينه ده چې د دواړو هېوادونو بنسټونه مطالعه کړو.

## پرانيستي اقتصادي بنسټونه او زبېښونکي اقتصادي بنسټونه[1]

د دولتونو اقتصادي برياليتوبونه له يو بل سره توپير لري؛ ځکه چې د بنسټونو، قوانينو او هڅوونکو انګېزو له اړخه سره ورته نه دي. د سوېلي او شمالي کوريا ځوانان په پام کې ونيسئ، چې څه هيلې لري. د شمال اوسېدونکي د کار پنځوونکو نوښتونو، پنځونو او د کار د لازمو مهارتونو له زده کولو پرته، په ډېرې بېوزلۍ کې ژوند تېروي. هغه درس چې زده کوونکو ته په ښوونځيو کې ورکول کېږي، تر ډېره د نظام د مشروعيت او پايښت لپاره نږه تبليغات او پروپاګند دي. زده کوونکي کتابونو ته ډېر لږ لاسرسی لري، کمپيوټر خو بېخي لرې خبره ده. د ښوونځي تر پای ته رسولو وروسته د شمالي کوريا هر وګړی بايد لس کاله په پوځ کې خدمت وکړي. دغه تنکي ځوانان پوهېږي چې هېڅکله به د کاروبار، سوداګرۍ او سوکالۍ خاوندان نه شي،

[1] Inclusive Economic Institutions and Extractive Economic Institutions

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



مګر دا چې یو شمېر کسان د خپل ژوند د پر مخ بیولو لپاره په غیر قانوني توګه پر اقتصادي فعالیتونو لاس پورې کړي. دوی هم پوهېږي چې قانوني مارکېټ ته لاسرسی نه لري، څو خپل تولیدات او مهارتونه وپلوري، دوی دغه راز په دې هم نه پوهېږي چې څه ډول بشري حقوق لري. خو هغوی چې په سوېلي کوریا کې ژوند کوي، له غوره زده کړو او له داسې هڅوونکو تګلارو څخه برخمن دي چې نوښت او په خپل مسلک کې یې لا ډېر کوښښ ته هڅوي. سوېلي کوریا د بازار اقتصادي سیستم لري چې د خصوصي یا شخصي مالکیت حقوق پکې خوندي دي. د سوېلي کوریا ځوانان پوهېږي چې که د یوه متشبث یا کاروباري په توګه فعالیت پیل کړي، یوه ورځ به هرومرو د خپلې پانګونې مزه وڅکي. هغوی کولای شي چې د خپل ژوند معیارونه لوړ کړي، موټر، کور او روغتیایي خدمتونو ته لاسرسی ولري. په سوېلي کوریا کې دولت د اقتصادي فعالیتونو او خصوصي پانګونو ملاتړ کوي، پانګوال او سوداګر بانکي پورونو او مالي بازارونو ته لاسرسی لري. دغه راز بهرني شرکتونه کولای شي چې له کوریایي شرکتونو سره ګډه پانګونه وکړي او افراد کولای شي چې د کورونو د اخیستو لپاره رهني یا ګروي پورونه ترلاسه کړي. که په سوېل کې مو هر ډول تجارت ته زړه کېږي، ازاد یاست. خو په شمال کې دا ډول ازادي نشته. په سوېل کې تاسو کولای شئ چې کارګر استخدام کړئ، خپل تولیدات او خدمات وپلورئ او څنګه مو چې زړه غواړي خپلې پیسې په بازار کې مصرفولای شئ، خو په شمال کې دا هر څه یوازې په تور بازار کې شوني دي. دا متفاوت شرایط په شمالي او سوېلي کوریا کې له موجوده بنسټونو څخه سرچینه اخلي. پرانیستي بنسټونه -لکه سوېلي

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



کوریا او متحده ایالتونه چې ترې برخمن دي- هغه بنسټونه دي چې خلکو ته د اقتصادي فعالیتونو زمینه برابروي او دې ته یې هڅوي چې له خپلو وړتیاوو او مهارتونو څخه په ښه توګه استفاده وکړي او د انتخاب واک ولري. د دې لپاره چې اقتصادي بنسټونه پرانیستي یا عام شموله وي، خصوصي مالکیت پکې باید خوندي وي، عادلانه او ناپېیلی حقوقي سیستم ولري او د عامه خدمتونو د وړاندې کولو لپاره داسې اقدامات تر لاس لاندې ونیسي، چې خلکو ته د راکړې ورکړې او تړونونو یو ډول زمینه برابره شي. همدارنګه دا بنسټونه باید خلکو ته د نوي کسب و کار زمینه برابره کړي. د سوېلي او شمالي کوریاګانو او د امریکا متحده ایالتونو او لاتیني امریکا ترمنځ توپیر یو عمومي اصل را ښیي. پرانیستي اقتصادي بنسټونه د اقتصادي فعالیتونو له پراختیا، د ګټې له ډېرښت او د هوساینې له چټکتیا سره مرسته کوي. د خصوصي مالکیت حق مهم رول لري، ځکه یوازې هغه کسان به پانګونې ته زړه ښه کوي، چې له دې ډول حقونو څخه برخمن وي. که یو سوداګر یا پانګوال احساس کړي چې خواري یې په اوبو لاهو کېږي او یا ټوله ګټه یې په مالیاتو کې مصرفېږي، نو د کار انګېزه به یې ډېره کمه وي؛ پانګونه او نوښت خو لرې خبره ده. د ټولنې ټول وګړي باید امنیت او خوندي چاپېریال ته لاسرسی ولري. برېتانیا په ۱٦۸۰ کال کې په لوېدیځ هند «West Indias» کې د باربادوس په مستعمره کې د خلکو سرشمېرنه پیل کړه. دغې سرشمېرنې په ډاګه کړه چې د دې ټاپو د ټولو ٦۰ زره وګړو له ډلې ۳۹ زره یې افریقایي توکمه مریان وو چې د ۱/۳ برخې نفوس مال ګڼل کېده، دا مریان په حقیقت کې د کرنیزو ځمکو د ۱۵۷ مالکینو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



مال وو، چې د ګنيو د توليد په سترو کروندو کې يې کار کاوه. د باربادوس ټاپو کابو نيمايي ځمکه د همدغو ۱۵۷ ځمکوالو وه. دغه ستر ځمکوال يا فيوډالان د خپل مالکيت له حقونو ډاډه وو او د دولت له ملاتړه هم برخمن وو، هغوی نه يوازې له دې اړخه مطمين وو، بلکې د مريانو د ساتنې په اړه يې هم پوره اطمينان درلود. يوه ځمکوال کولای شول چې پر بل ځمکوال، مريان وپلوري او پر دې ډاډه و چې محکمه دا او دې ته ورته نور قراردادونه به په ښه توګه عملي کوي. دا ولې؟ ځکه چې په باربادوس ټاپو کې د ۴۰ قاضيانو له ډلې ۲۹ تنه يې ستر ځمکوال وو. همدارنګه ۸ تنه لوړ پوړي پوځي چارواکي د سترو کروندو او ځمکو خاوندان وو. سره له دې چې د باربادوس لوړ پاړکی يا اشراف د مالکيت له خوندي او تضمين شويو حقونو برخمن وو، خو پرانيستي سياسي او اقتصادي بنسټونه يې نه لرل. د دې هېواد له هرو درې اوسېدونکو دوه يې مريان وو، هغوی زده کړو او اقتصادي بنسټونو ته لاسرسی نه درلود او نه يې له خپلو وړتياوو او مهارتونو د ګټې اخيستنې انګېزه لرله. عام شموله يا پرانيستي اقتصادي بنسټونه بايد د مالکيت خوندي حقوق او اقتصادي فرصتونه ولري، دا حقوق بايد يوازې د ټولنې مخورو او اشرافو لپاره نه وي، بلکې عام شموله او د ټولنې هر وګړی ترې برخمن کېدای شي. د مالکيت تضمين شوي حقوق، قانون، عامه خدمتونه، د تجارت او قرادادونو ازادي ټول په دولت پورې اړه لري، کوم چې د يوه بنسټ په توګه د عامه نظم د ټينګښت لپاره د مشروع ځواک د کارونې، له غلا او درغلۍ څخه د مخنيوي او د وګړو ترمنځ د قراردادونو د پلي کولو واک لري. ټولنه نورو عامه خدمتونو ته هم اړتيا لري: د توکو او محصولاتو د لېږد لپاره د سړکونو

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



او ټرانسپورټي شبکو رامنځته کول، د اقتصادي فعالیتونو د غوړېدا او چټکتیا لپاره د عامه زېربنا جوړول او د درغلیو او ناوړه چارو د مخنیوي په موخه د یو لړ اساسي قواعدو – مقرراتو رامنځته کول. که څه هم مارکېټ او خلک هم کولای شي چې دغه ډول اسانتیاوې رامنځته کړي، خو هغه امکانات او همغږي چې په دې برخه کې ضرور دي، یوازې د یوه مرکزي دولت د وس خبره ده. په دې توګه؛ دولت د عامه نظم د ټینګوونکي، د قانون پلي کوونکي، د خصوصي مالکیت ملاتړ کوونکي، د قراردادونو تضمینوونکي او د عامه خدمتونو وړاندې کوونکي په توګه په اقتصادي بنسټونو کې اوبدل شوی دی. پرانیستي اقتصادي بنسټونه دولت ته اړتیا لري او له هغه کار اخلي. د شمالي کوریا، د لاتیني امریکا استعماري بنسټونه (میتا، ایکومینډرا یا ریپارټیمنټو) هغه بنسټونه دي چې له دې ډول ځانګړنو بې برخې دي.

په شمالي کوریا کې خصوصي مالکیت نه شته. د لاتیني امریکا په مستعمرو کې یوازې هسپانویان د خصوصي مالکیت اه حقونو برخمن وو، خو د ځایي خلکو ملکیت خوندي نه و. د دې ټولنو لویه برخه وګړو د خپلې خوښې وړ اقتصادي پرېکړو کې هېڅ واک نه درلود او د زور او فشار له لارې ځنډې ته شوي وو. په یادو ټولنو کې د اساسي عامه خدمتونو د وړاندې کولو لپاره د دولت واک چې د اقتصادي هوساینې لپاره اړین و، ونه کارول شو. په شمال کوریا کې دولت داسې یو ښوونیز نظام رامنځته کړ، چې یوازې د دولت د پایښت لپاره پروپاګند او تبلیغ کوي، خو د بېوزلۍ او لوږې مخه یې ونه شوی نیولای. د لاتیني امریکا د استعماري دولتونو ټول تمرکز پر

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



دي و، چې څنګه ځايي وګړي استثمار او جبري کارونه پرې وکړي. موږ دغه ډول بنسټونه چې ځانګړنې يې له پرانيستو بنسټونو سره په ټکر کې دي، د «زېښبونکو بنسټونو» په نوم يادوو؛ ځکه دغه ډول بنسټونه د دې لپاره جوړ شوي، چې د ټولنې د يوې طبقې شتمنۍ او عوايد د ټولنې بلې بډايه طبقې ته په خوله کې ورکړي.

## د اقتصادي هوساينې ماشين

پرانيستي اقتصادي بنسټونه، پرانيستي مارکېټونه زېږوي او دا کار خلکو ته نه يوازې دا ازادي ورکوي چې د خپلې خوښې وړ مسلک وټاکي، بلکې له دې ډول فرصتونو څخه د ګټې اخيستنې زمينه هم ورته برابروي. هغه څوک چې يوه ښه ايډيا يا طرحه لري، کولای شي چې کاروبار پيل کړي. متشبث يا کاروباري سړی کولای شي هر هغه ځای ته لاړ شي، چېرته چې يې ګټه وي. کمزوري او بې خونده شرکتونه خپل ځای مخکښو شرکتونو ته پرېږدي. وګورئ، چې په پيرو او بوليويا کې د استعمار پر مهال د پرانيستي مارکېټ تر چتر لاندې خلک څه ډول خپل شغل غوره کوي. په دغو هېوادونو کې د ميتا قانون پر بنسټ خلک د سپينو زرو او قيمتي فلزاتو کانونو کې په زور کار ته مجبور او بې له دې چې د هغوی د خوښې وړ مسلک په پام کې ونيول شي، دې کار ته اړ ايستل کېدل. پرانيستي مارکېټونه يوازې ازادو مارکېټونو ته نه وايي. باربادوس هم په اولسمه پېړۍ کې ازاد بازارونه لرل، خو دا چې هلته هم د مالکيت حقوق يوازې تر ځمکوالو پورې محدود وو، بازار يې له ازاد بازار سره ډېر لږ ورته والی درلود. د مريانو بازار په حقيقت کې د اقتصادي بنسټونو يوه برخه وه چې خلک يې په منظم ډول جبري کار ته مجبورول، د

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



مسلک د غوراوي او له استعداد څخه د ګټې اخیستنې حقوق ترې تروړل کېدل. پرانیستي اقتصادي بنسټونه پر دې سربېره، د هوساینې دوو نورو څرخونو ته هم زمینه برابروي: ټکنالوژي او زده کړه. دوامداره اقتصادي وده چې د کاري ځواک، ځمکې او پانګې ګټمنتیا لوړوي، تل د ټکنالوژۍ له پرمختګ سره ملګرې وي. که یوه پېړۍ مخکې خپلو نیکونو ته نظر وکړو، هغوی هېڅ ډول اسانتیاوو لکه الوتکې، موټر، روغتیایي خدمتونو، درملو، په ودانیو کې نل غځونې، برېښنایي کولرونو، لویو مارکېټونو، راډیو او سینما چې زموږ په اوسني ژوند کې یو عادي خبره ده، لاسرسی نه درلود، نو معلوماتي ټکنالوژي، روباټونه او کمپیوټري ماشین الات خو بیخي لرې خبره ده. که تر دې هم یو نسل مخکې انسانانو ژوند ته پام وکړو، نو وبه ګورو چې هغه وخت ژوند او ټکنالوژي تر دې هم په ټیټه کچه کې وه، په داسې حال کې چې په اوس وخت کې د دې ډول ژوند او شرایطو په اړه فکر کول ډېر ګران دي. دغه پرمختګونه د اډیسن په څېر د کار پنځوونکو اشخاصو د علم او محصول لاسته راوړنه ده چې د ګټور کار او کسب د رامنځته کولو لپاره یې خپله پوهه په کار واچوله. د نوښتونو دغه بهیر د هغو اقتصادي بنسټونو پر مټ پرمخ بیول کېږي، چې خصوصي مالکیت هڅوي، د قراردادونو ملاتړ کوي، د اقتصادي لوبغاړو یا کاروباریانو لپاره یو ډول اسانتیاوې او امکانات برابروي او همدارنګه په هغو نویو کارونو پسې ځي چې د خلکو په ژوند کې د نوې ټکنالوژۍ د واردولو لامل کېږي. حیرانوونکې نه ده چې توماس اډیسون په امریکایي ټولنه کې وزېږېد، نه په مکسیکو یا پیرو کې. همدارنګه دا شمالي کوریا نه،

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



بلکې سوېلي کوريا ده چې د سمسونګ او هيونډا په څېر د ټکنالوژۍ نوښتګر شرکتونه لري. نوې ټکنالوژي ښوونې روزنې، مهارتونو، مسلکي او روزل شوي کاري ځواک ته اړتيا لري، چې دغه اړتيا په ښوونځيو، کورونو او د کار په محيط کې رامنځته کېږي. نن زمونږ د ټکنالوژۍ دغه لاسته راوړنه چې تر يوې پېړۍ مخکې څو چنده ډېره ده، يوازې د ماشين الاتو او ټکنالوژۍ له امله نه، بلکې د هغې تخنيکي پوهې له امله ده چې د کار قوه ترې برخمنه ده. اوسنۍ هر ډول ټکنالوژي د مسلکي کارکوونکو له شتون پرته د استفادې وړ نه ده. د ماشين الاتو د کارونې او جوړونې په پرتله مهارت او تخصص ډېر ارزښت لري. دا ښوونه -روزنه او د بشري قوې مهارتونه دي چې علمي پوهه زېږوي، هغه پوهه چې زمونږ پرمختګ پرې بنا شوی او د کسب و کار په بېلابېلو څانګو کې د ټکنالوژۍ د کارونې زمينه را ته برابروي.

په لومړي څپرکي مو يادونه وکړه چې د صنعتي انقلاب او له هغه وروسته دوره کې زياتره نوښتګر او مخترعين لکه ټوماس اډيسن له لوړو زده کړو برخمن نه وو، خو د هغه وخت نوښتونه د اوسنۍ مډرنې ټکنالوژۍ په پرتله ډېر ساده وو. د ټکنالوژۍ په اوسني عصر کې کارګرو او نوښتګرو دواړو ته لوړې زده کړې ضرور دي، همدا ده چې د اقتصادي بنسټونو ارزښت چې يو ډول اسانتياوې برابروي، په ډاګه کېږي. د امريکا متحده ايالتونو وکولای شول چې بېل ګېټس، سټيوجابز، سرګي برين، لري پيج، جېف بزوس او نور سلګونه نوښتګر شخصيتونه چې د معلوماتي ټکنالوژۍ، هستوي انرژۍ، بيو-ټکنالوژۍ او د نورو علومو په برخو کې يې بنسټيزې پنځونې او اکتشافات ترسره کړي، جذب او وروزي. په امريکا متحده ايالتونو

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



کې خلک له خپلو استعدادونو او وړتیاوو څخه د ګټې اخیستنې پراخ امکانات په لاس کې لري او هر ځوان په اسانۍ زده کړې کولای شي. راځئ چې د کانګو او هایټي په څېر ټولنو ته نظر وکړو. د دې هېوادونو لویه برخه وګړي د زده کړو نیت نه لري او یا که وغواړي ښوونځي ته لاړ شي، د زده کړو کیفیت خورا د اندېښنې وړ دی، ښوونکي ښونځیو ته نه ورځي او که لاړ هم شي، درسي کتابونه نه شته. په بېوزلو هېوادونو کې د زده کړو ټیټه کچه د اقتصادي بنسټونو له امله ده، چې والدین نه شي کولای خپل اولادونه زده کړو ته وهڅوي. دا کار بیا په خپل وار له سیاسي بنسټونو سره اړیکه لري چې دولت یې د ښوونځیو په جوړولو او د مالي اړتیاوو په پوره کولو کې له ماتې سره مخ کړی دی. هغه بیه چې دغه هېوادونه یې خلکو ته د بې کیفیته زده کړو او د پرانېستو بازارونو د نشتون له امله پرې کوي، ډېره درنه ده. دغه هېوادونه د استعدادونو په ځلونه کې ناکام دي. هغوی ښایي ډېر بالقوه بېل ګېټسیان او انشټاینیان ولري، چې اوسمهال د بېوزله کروندګرو په توګه یې زده کړې نه دي کړي او د خپلې خوښې خلاف کارونو یا هم په پوځ کې خدمت ته مجبورېږي، ځکه هغوی ته هېڅکله د خپلې خوښې وړ کسب او مسلک د غوراوي فرصت نه ورکول کېږي. د اقتصادي ودې لپاره د پرانېستو بازارونو له ظرفیتونو استفاده، د ټکنالوژیکي نوښتونو هڅونه، پر اشخاصو پانګونه او د استعدادونو ځلول ډېر مهم دي. د دې خبرې روښانه کول چې ولې زیاتره اقتصادي بنسټونه دغو ساده موخو ته په رسېدو کې پاتې راغلي دي، د دې کتاب اصلي موضوع ده.

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



## پرانیستي او زبېښونکي سیاسي بنسټونه

Extractive and Inclusive Political instuitions

اقتصادي بنسټونه د خلکو له لوري جوړېږي. مثلاً؛ د شمالي کوریا اقتصادي بنسټونه د کمونېستانو له لوري چې په ۱۹۴۰ مه لسیزه کې واک ته ورسېدل، جوړ شول. همدارنګه د لاتیني امریکا د یو شمېر مستعمرو اقتصادي بنسټونه د هسپانویانو له خوا تاسیس شول او سوېلي کوریا د شمالي کوریا په پرتله متفاوت اقتصادي بنسټونه جوړ کړل، ځکه چې د جلا او متفاوتو تګلارو لرونکو سیاستوالو د ټولنې د جوړښت په اړه متفاوتې پرېکړې وکړې، په بله وینا؛ سوېلي کوریا جلا سیاست غوره کړ.

سیاست هغه پروسه ده چې پر ټولنه د حکومت کولو لپاره قوانین ټاکي. بنسټونه د سیاست په محوطه کې ځای لري، چې ښکاره مثال یې پرانیستي بنسټونه دي. دغه بنسټونه د دولتونو د اقتصادي هوساینې او ښېرازۍ لپاره ګټور دي، خو خپل ځای استثماري بنسټونو ته پرېږدي، ځکه چې د یو شمېر کسانو لکه په شمالي کوریا کې د کمونېستانو او د باربادوس مستعمره کې د ځمکو د مالکینو ګټې همدا ایجابوي. کله چې د بنسټونو پر سر شخړې پېښېږي، پایله یې په دې پورې تړلې وي چې کوم کس یا ډله د سیاست په دې لوبه کې بریالي کېږي، څوک ډېر ملاتړ خپلولای شي، ډېرې سرچینې لاس ته راوړلای شي او په پایله کې یو ګټور اتحاد رامنځته کولای شي. لنډه دا چې د بنسټونو په جګړه کې، نتیجه په ټولنه کې د سیاسي واک د وېش په څرنګوالي پورې اړه لري. سیاسي بنسټونه هغه جوړښتونه دي چې د دې لوبو نتیجه ټاکي، دغه بنسټونه یو لړ هغه قواعد دي چې په سیاسي مناسباتو کې پر انګېزو واک چلوي، همدا

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

Downloaded By: Afghan Salar Library



بنسټونه دي چې په ډاګه کوي، چې حکومت څه ډول ټاکل کېږي او د حکومت کومه برخه د کوم کار د ترسره کولو مسوولیت لري، همدارنګه په ډاګه کوي چې په ټولنه کې واک د چا په لاس کې دی او دغه واک د کومو موخو لپاره باید وکارول شي. که واک په غیر مشروط ډول تعریف او په محدودو کړیو پورې وتړل شي، نو په دې صورت کې سیاسي بنسټونه مطلقه بنسټونه ګڼل کېږي، لکه هغه مطلقه شاهي نظامونه چې د تاریخ په اوږدو کې د نړۍ په بېلابېلو سیمو کې واکمن وو. هر چا چې په مطلقه سیاسي نظامونو کې واک ترلاسه کړ (لکه په شمالي کوریا او د لاتیني امریکا په مستعمرو کې)، کولای شي چې د واک او شتمنۍ د زیاتوالي لپاره اقتصادي بنسټونه په خپل ولکه کې واخلي، خو د دې برعکس، دا پراخ بنسټه «Puluristic» بنسټونه دي چې واک په ټولنه کې په پراخه کچه وېشي او د قانون په چوکاټ کې یې محدودوي. په دې ډول ټولنو کې واک د یو تن یا یوې ډلې پر ځای د یوه ستر ائتلاف یا د ډلو د نسبي اکثریت لاسته ورځي. ښکاره خبره ده چې د پراخ بنسټه او پرانېستو سیاسي بنسټونو ترمنځ نږدې اړیکه وجود لري، خو په دې اړه د پوهېدو راز چې ولې سوېلي کوریا او متحده ایالتونه پرانیستي اقتصادي بنسټونه لري، یوازې په پراخ بنسټه یا کثرت پاله سیاسي بنسټونو کې نه دی، بلکې واک او د دولت کافي مرکزیت «سنټرالیزېشن» هم په دې برخه کې مهم ګڼل کېږي. د دې یو ښه مثال د ختیځې افریقا په سومالیا هېواد کې موندلای شو، دلته کلونه کېږي چې سیاسي واک په ټولنه کې په لویه کچه تیت شوی دی، دلته په حقیقت کې هېڅ داسې یو ربښتینی واحد قدرت نه شته چې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



کنټرول او څار رامنځته کړي، ټولنه پر بېلابېلو متخاصمو قبیلو وېشل شوې ده چې هېڅ یوه یې پر یو بل نه شي برلاسې کېدای، د هرې قبیلې زور یوازې د مقابلې قبیلې په زور محدودېدای شي، د واک یا قدرت دغه ډول پاشلتیا هېڅکله د پرانېستو بنسټونو د جوړېدو سبب نه شي کېدای، بلکې دا وضعیت ټولنه نوره هم بې نظمۍ او ګډوډۍ ته ور ټېل وهي. دا وضعیت له دې سرچینه اخلي چې د سومالیا دولت له مرکزي سیاسي قدرت څخه برخمن نه دی، څو د هغه پر مټ خلکو ته د قانون واکمني او حاکمیت ټینګ کړي، اقتصادي او سوداګریز فرصتونه رامنځته او عامه خدمتونه وړاندې کړي.

د دولت د تعریف په اړه د ماکس وېبر د مشهور او منل شوي تعریف له مخې «دولت په ټولنه کې د مشروع ځواک کارونې لپاره انحصاري حق» بلل شوی دی، د دغه ډول انحصار او د لازم مرکزي واک له موجودیت پرته، دولتونه هېڅکله په ټولنه کې نظم او قانون نه شي ټینګولی؛ د عامه خدمتونو وړاندې کول او د اقتصادي فعالیتونو هڅونه خو لا لرې خبره ده. کله چې یو دولت د سیاسي قدرت په مرکزي کولو کې ناکام شي، ټولنه ډېر ژر یا وروسته د سومالیا په برخلیک اخته کېږي. موږ هغه سیاسي بنسټونه چې متمرکز او پراخ بنسټه دي، د پرانېستو بنسټونو په نوم یادوو او هغه چې دا دوه ځانګړنې نه لري، د زبېښونکو یا استثماري بنسټونو په نامه نوموو. د سیاسي او اقتصادي بنسټونو ترمنځ ډېر ګډ او نږدې وجوهات شتون لري، زبېښونکي بنسټونه واک د ټولنې د یوې کوچنۍ ډلې په لاس ورکوي او د دې واک پر وړاندې اندکې محدودیتونه وضع کوي، چې همدغه واکمنه ډله بیا د عامه سرچینو د زبېښاک په موخه په خپله خوښه اقتصادي بنسټونه جوړوي، نو ویلی شو چې زبېښونکي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



سیاسي بنسټونه په طبیعي توګه زبېښونکي اقتصادي بنسټونه له ځان سره لري. زبېښونکي اقتصادي بنسټونه د خپلې بقا لپاره زبېښونکو سیاسي بنسټونو ته اړتیا لري، خو برعکس؛ پرانیستي سیاسي بنسټونه له واک یا قدرت څخه د ګټې اخیستنې ساحه پراخوي، دا ډول بنسټونه د هغو اقتصادي بنسټونو د مخنیوي او د له منځه وړلو غوښتونکي دي چې عامه ګټې او سرچینې لوټي، په مارکېټ کې د خلکو د ګډون مخه نیسي او د نویو فعالیتونو پر وړاندې خنډونه جوړوي، مثلا؛ باربادوس ټاپو ته نظر وکړئ، دلته د مریانو د استثمار پر اساس موجود کرنیز سیستم د سیاسي بنسټونو له ملاتړ پرته دوام او فعالیت نه شوی کولای، دا هغه سیاسي بنسټونه وو چې مریان یې له سیاسي بهیره څنډې ته او له سختو فشارونو سره مخ کړي وو. همدارنګه په شمالي کوریا کې د حاکم اقتصادي نظام موجودیت چې د یوې ځانګړې ډلې د ګټو لپاره په میلیونونه انسانان یې د بېوزلۍ او لوږې خولې ته ورکړي، د کمونېست ګوند له سیاسي ملاتړ او واک پرته ناشونی دی. د زبېښونکو سیاسي او اقتصادي بنسټونو ترمنځ دغه اړیکه د واټن د رامنځته کېدو لامل کېږي او د ځینو عواملو پر اساس بېرته تقویه کېږي. سیاسي بنسټونه واکمنې طبقې ته دا امکان ورکوي چې ځان ته اقتصادي بنسټونه جوړ کړي، داسې بنسټونه چې ټول د دوی په خدمت کې وي او خنډ جوړوونکو قوتونو ته د سر پورته کولو فرصت نه ورکول کېږي. زبېښونکي سیاسي بنسټونه همدا راز حاکمې طبقې ته د دې امکان برابروي چې راتلونکي سیاسي بنسټونه په خپله خوښه جوړ کړي او په هغو کې د تدریجي بدلونونو زمینه برابره کړي. زبېښونکي اقتصادي بنسټونه په نوبت سره همدا

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



حاکمه طبقه شتمنه کوي او دغه اقتصادي ملاتړ بیا له دوی سره د واک او ځواک په ټینګښت کې مرسته کوي. مثلا؛ په باربادوس یا لاتیني امریکا کې ښکېلاکګرو له سیاسي واک څخه د یو لړ اقتصادي بنسټونو په جوړولو کې کار اخیست او له دې لارې یې د ټولنې پر شتمنۍ او ثروت خېټه اچوله، هغوی کولای شول چې د دې شتمنۍ پر مټ د خپل واک او ځواک د پاینښت او حتی د پوځ او لښکر جوړولو لپاره کار واخلي. دا وضعیت د دې حقیقت ښکارندویي کوي چې زبېښونکي سیاسي او اقتصادي بنسټونه د یو بل تقویه کوونکي دي او د یو بل پاتې کېدو ته تمایل لري، د یادو بنسټونو ترمنځ نږدې والی تر دې هم ډېر دی، کله چې د دغسې واکمنې ډلې پر ځای نوې ډله حکومت ته راځي، هغوی هم له ورته وضعیت سره مخ کېږي او غوره ګڼي چې زبېښونکي بنسټونه په خپل حال پرېږدي او له پخوانیو هغو سره په ډېر لږ توپیر نوي اقتصادي بنسټونه رامنځته کوي، هغه کار چې د نولسمې پېړۍ په وروستیو کې پورفیریوس دیاز او د هغه ملګرو په مکسیکو کې وکړ.

د دې برعکس، پرانیستي اقتصادي بنسټونه د پرانیستو یا پراخ بنسټه سیاسي بنسټونو پر اساس رامنځته کېږي، دلته په ټولنه کې واک په پراخه کچه وېشل کېږي او د افرادو خپلسري او شخصي سلیقې په کې محدودېږي. دا ډول سیاسي بنسټونه همدارنګه د واک د غصب مخه نیسي او نه پرېږدي چې نور کسان د خپلو ګټو لپاره د دې ډول بنسټونو ستنې کمزورې او ونړوي. هغه کسان چې د سیاسي واک پر ګدۍ ناست دي، واک په خپله ګټه نه شي کارولای او نه هم دا واک د زبېښونکو اقتصادي بنسټونو د جوړولو لپاره کارولی شي. پرانیستي اقتصادي بنسټونه په ټولنه کې شته سرچینې په عادلانه توګه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



وېشي او په دې توګه د پرانېستو سیاسي بنسټونو پاینښت او دوام ته لار هواروي. دا کومه تصادفي پېښه نه وه چې ویرجینا کمپنۍ په ۱۶۱۸ کال کې هغو کډوالو ته چې مخکې ترې د بېګار په توګه استفاده کېده، د ځمکې د ورکولو ترڅنګ یو لړ ازادۍ هم ورکړې او پخواني سخت قراردادونه یې ورته معاف کړل، همدارنګه یو کال وروسته د یادې استعماري کمپنۍ عمومي غونډې کډوالو ته په خپله خوښه د یوه خپلواک حکومت د جوړولو اجازه ورکړه. دغه کډوال چې تر دې مخکې یې د ویرجینیا کمپنۍ زورزیاتی او ظلمونه لیدلي وو، د سیاسي حقوقو له خوندیتوب پرته یې په ورکړل شویو اقتصادي حقونو باور نه درلود. په عمل کې دا ډول اقتصادي سیستمونه دوامداره نه دي. د زبېښونکو بنسټونو ترکیب په حقیقت کې بې ثباته دی. د پرانیستو سیاسي بنسټونو تر حاکمیت لاندې زبېښونکي اقتصادي بنسټونه لکه څرنګه چې د باردوس په اړه بحث کې مو پرې خبرې وکړې، د ډېر وخت لپاره دوام نه شي کولای. پرانیستي سیاسي بنسټونه نه شي کولای چې په زبېښونکو سیاسي بنسټونو کې خپل ژوند ته دوام ورکړي.

## ولې تل د هوساینې لار نه غوره کېږي؟

سیاسي او اقتصادي بنسټونه چې خلک یې په خپله ټاکي، که پرانیستي وي، نو له شک پرته اقتصادي وده او پرمختګ به زېږوي، خو برعکس زبېښونکي بنسټونه د اقتصادي ودې او پرمختګ پر وړاندې خنډ دي. ملتونه هغه وخت ماتېږي چې زبېښونکي سیاسي او اقتصادي بنسټونه ولري، ځکه چې دغه بنسټونه اقتصادي وده ټکنۍ او یا یې په ټپه دروي. د بنسټونو انتخاب د ملتونو په بریا او

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



ماتې کې بنسټيز رول لري. د دولتونو د ماتېدو پر عواملو د پوهېدو په اړه، پر دې موضوع پوهېدل اړين دي چې د پرانېستو بنسټونو د رامنځته کېدو په برخه کې د ځينو دولتونو سياستونه د اقتصادي ودې لامل شوي دي، په داسې حال کې د ځينو نورو دولتونو سياستونو بيا زبېښونکي بنسټونه زېږولي چې د اقتصادي ودې مخه يې نيولې ده. ښايي ځيني فکر وکړي چې د اقتصادي پرمختګ زېږوونکي بنسټونه د ټولو په ګټه دي، ايا د نړۍ ټول ملتونه، سياستوال او ان ديکتاتوران په رښتيا نه غواړي چې هېواد يې شتمن شي؟

راځئ چې يو ځل بيا د کانګو پاچاهي په پام کې ونيسو. د کانګو پاچاهي په اولسمه ميلادي پېړۍ کې ړنګه شوه او بيا په ۱۹۶۰ کال کې له بلجيم څخه د خپلواکۍ تر ګټلو وروسته د «نوي کانګو» په نامه نوی هېواد جوړ شو. کانګو د ۱۹۶۵ او ۱۹۹۷ کلونو ترمنځ د «جوزېف موبوټو» په واکمنۍ کې له دوامداره اقتصادي ځوړتيا او بېوزلۍ سره مخ و. لورنټ کابيلا د موبوټو حکومت نسکور کړ، خو کانګو بيا هم له دې وضعيته خلاصون و نه موند. موبوټو په کانګو کې په لويه کچه زبېښونکي اقتصادي بنسټونه رامنځته کړل، خلک سختې بېوزلۍ پسې واخيستل، موبوټو او د هغه ډله چې پر «سترو سبزيجاتو» مشهور وو، د بې خرته مال او شتمنۍ خاوندان شول. موبوټو د هېواد په شمال کې په خپل پلرني ټاټوبي «ګباډولايت» کې يوه بې شانه ماڼۍ جوړه کړه، نوموړي د ځان لپاره يو هوايي ډګر هم جوړ کړی و، چې د کانکورډ په نوم د «Air france» شرکت له خوا په اجاره اخيستل شوې الوتکه پکې ښکته پورته کېده، هغه به په دې الوتکه کې اروپايي هېوادونو ته سفرونه کول. نوموړي په اروپا کې ځان ته ګڼې ماڼۍ واخيستې او د بلجيم په بروکسل کې د جايدادونو

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



څښتن شو. ایا غوره نه وه چې موبوتو د خلکو د بېوزله کولو پر ځای داسې بنسټونه رامنځته کړي وای چې د خلکو د ژوند او اقتصاد ښه کېدو سبب شوي وای؟ او که هغه دا کار کړی وای، ممکنه نه وه چې د ښه اقتصاد په صورت کې یې د کنکورډ الوتکې د اجاره کولو پر ځای ځان ته یوه الوتکه پېرلې وای او د لوکسو ماڼیو پر ځای یې یو پیاوړی پوځ رامنځته کړی وای؟

له بده مرغه د نړۍ ډېری ملتونه دې پوښتنې ته منفي ځواب لري. اقتصادي بنسټونه چې د اقتصاد پرمختګ او هوساینې تشویقوونکی عامل ګڼل کېږي، ښايي قدرت او ثروت په یو وخت کې داسې ووېشي چې د لوټمارو دیکتاتورانو یا د نورو واکمنو ډلو عاید او شتمنۍ مهار کړي. اساسي ستونزه دا ده چې د اقتصادي بنسټونو پر سر شخړې او ناندرۍ حتمي دي، ځکه چې متفاوت بنسټونه د یوه ملت د هوساینې پر څرنګوالي متفاوتې اغېزې ښندي. اقتصادي وده چې د بنسټونو پر مټ رامنځته کېږي، کېدای شي ګټونکي او بایلونکي دواړه ولري. د برېټانیا د صنعتي انقلاب پر مهال چې د اوسنۍ نړۍ د شتمنو هېوادونو د اقتصادي پرمختګ اساس ګڼل کېږي، دا ټکی ډېر واضح و. دا انقلاب د بخار انرژۍ، ټرانسپورټ او د نساجۍ د تولید په برخو کې پر نویو ټکنالوژیکي پرمختګونو متمرکز و. د کارونو مکانیزه کېدو عواید زیات کړل او په پایله کې دغې چارې یوه موډرنه صنعتي ټولنه سازه کړه. خو ځینو له دغې پروسې سره سخت مخالفت وکړ. دا مخالفت د لنډ فکرۍ یا ناپوهۍ له امله نه و، بلکې یو بشپړ منطقي مخالفت بلل کېده. اقتصادي ودې او ټکنالوژیکي بدلونونو نوي تحولات له ځان سره لرل، چې ستر

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



اقتصاد پوه جوزېف شومپټر يې «خلاق تخريب- Creative Destruction» بولي. خلاق تخريب، يعنی نوی د زوړ ځای نيسي. نوي اقتصادي سکتورونه له زړو سکتورونو څخه ځان ته سرچينې راکاږي. نوي شرکتونه له زړو هغو څخه کارونه ځان ته راجلبوي. نوې جوړې شوې کمپنۍ له پخوانيو هغو کارونه د ځان په لور تشويقوي. نوې ټکنالوژي او مهارتونه د موجوده زړو ماشين الاتو ځای نيسي. پرانيستي اقتصادي بنسټونه او د اقتصادي ودې پروسه، ګټونکي او بايلوونکي دواړه لري، له پرانيستو بنسټونو سره د مخالفت لامل هم له «خلاق تخريب» څخه وېره ده. د اروپا تاريخ د خلاق تخريب د اغېزو په اړه موږ ته يو روښانه مثال وړاندې کوي.

په اتلسمه پېړۍ کې د صنعتي انقلاب په ترڅ کې زياتره اروپايي حکومتونه د ټولنې د لوړې او شتمنې طبقې په لاس کې وو. دوی خپل عوايد له کرنيزو ځمکو يا د پاچا له لوري ځينو سوداګرو ته د ډالۍ په توګه د ورکړل شويو انحصاري حقونو له درکه ترلاسه کول. د خلاق تخريب د نظرېې له مخې د صنعت، فابريکو او ښارونو پراخېدو، ځمکو د اساسي سرچينو په توګه خپل ارزښت له لاسه ورکړ، د ځمکو اجاره کمه شوه او په پايله کې په هغه مزد کې زياتوالی راغی، چې ځمکوالو به کارګرانو ته ورکاوه. دغه راز په دې موده کې داسې نوي کارونه او سوداګرۍ پيل شوې چې د يادو اشرافو او ځمکوالو امتيازات يې له خطر سره مخ کول. هغوی د صنعتي انقلاب مطلق بايلونکي وو. د ښاري کېدنې او د منځنې پاړکي او د کارګرانو د ټولنيز ويښتابه د کچې د لوړېدو په پايله کې د اشرافو سياسي انحصار پای ته ورسېد. په دې اساس د صنعتي انقلاب په پراخېدو سره، اشرافو نه يوازې اقتصادي سرچينې له لاسه

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



ورکولې، بلکې په سیاسي ډګر کې هم د انزوا له ګواښ سره مخ و. اشراف چې د خپل سیاسي او اقتصادي ځواک پر وړاندې یې ګواښونه په خپلو سترګو لیدل، د صنعتي کېدو پر وړاندې پیاوړي مخالف جریانونه رامنځته کول. یوازې اشراف د صنعتي کېدو له بهیره په وېره کې نه وو، بلکې د لاسي صنعت کارګران هم د دې انقلاب د پراختیا مخالف وو. ډېری خلک د دې بهیر پر ضد وپارول شول او د هغو کارخانو یا ماشین الاتو په ویجاړولو یې لاس پورې کړ، چې د دوی کاروبار یې پنچر کړی و، دغه خلک د لودیتیانو « luddites» په نامه یادېدل، چې په اوس وخت کې د ټکنالوژۍ ضد کلیمې سره مترادف ګڼل کېږي. د نساجۍ د دستګاه د تار نیونکي آلې «flying shuttle» د مخترع جان کي کور په ۱۷۵۳ کال کې د لودیتنیانو له لوري وسوځول شو، ځکه چې یادې وسیلې د نساجۍ په صنعت کې د پام وړ پرمختګ او اسانتیا رامنځته کړې وه. جېمز هارګریفس هم چې د نساجۍ په ماشین کې د څرخ « spining jenny» په اختراع سره یې د نساجۍ په صنعت کې یو ستر بدلون راوست، د جان کي له برخلیک سره مخ شو.

د صنعتي کېدو بهیر سره د لاسي صنایعو د کارګرانو مخالفت د واکمنې طبقې په پرتله دومره جدي نه وو، ځکه چې دې ډلې د ځمکوالو اشرافو په څېر ځواک نه درلود. د لودیتیانو له مخالفت سره سره، په برېټانیا کې صنعتي انقلاب د پراختیا په حال کې و او سره له دې چې اشرافو سخت مخالفت کاوه، خو مخالفت یې اغېز نه درلود. خو د اتریش-هنګري او روسیې په امپراتوریو کې چې اشراف په کې ډېر پیاوړي وو، د صنعتي کېدو بهیر له خنډ سره مخ و. دغه کار د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



اتریش-هنګري او روسیې اقتصاد ټکنی او له نورو اروپایي هېوادونو، چې په نولسمه پېړۍ کې یې اقتصادي پرمختګ په برخه شوی و، وروسته پاتې کړل. په هر حال، له پورته مسایلو یوازې یو درس اخیستلی شو: د واک کړۍ تل د اقتصادي پرمختګ او هوساینې پر وړاندې خنډ ګرځي، اقتصادي وده یوازې د ډېرو او غوره ماشین الاتو کارونه یا د ډېرو لوستو وګړو لرل نه دي، بلکې د بدلون، بې ثباتۍ او همدارنګه د خلاق تخریب یوه پروسه هم ده. له همدې امله اقتصادي وده یوازې هغه وخت شونې ده، کله چې سیاسي او اقتصادي لوبغاړي د دې پروسې پر وړاندې خنډ نه شي.

د کم پیدا سرچینو، عوایدو او واک پر سر شخړه، د لوبې پر قواعدو د شخړې په معنا ده. اقتصادي بنسټونه اقتصادي فعالیتونه مشخصوي او دا په ډاګه کوي چې له یادو بنسټونو ګټه اخیستونکي څوک دي. کله چې شخړه وي، د ټولو ښکېلو ډلو د غوښتنو پوره کېدل شوني نه دي، ځینې یې مغلوب او ناکامېږي، خو ځینې یې بیا بریالي کېږي. د لوبې یا شخړې ګټونکی د هېواد اقتصادي مسیر ټاکي، که د اقتصادي ودې پر وړاندې درېدونکې ډلې ګټونکې شي، د اقتصادي ودې پر وړاندې به خنډ شي او په پایله کې دا کار د اقتصادي ځوړتیا لامل ګرځي. د ځواک خاوندان یوازې د اقتصادي پرمختګ زېږوونکو بنسټونو د رامنځته کولو پر وړاندې خنډ نه دي، بلکې د سیاسي بنسټونو په برخه کې هم ورته چلند کوي. په یو غیر ډیموکراټیک رژیم کې یوه ډله کولای شي چې د خپلې خوښې اقتصادي بنسټونه جوړ کړي. ایا هغوی به دې ته حاضر شي چې پرانیستي سیاسي بنسټونه رامنځته کړي؟ هېڅکله نه، ځکه چې دا کار د هغوی سیاسي واک کمزروی کوي. دلته یو ځل بیا د شخړې

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



له يوه عامل يا سرچينې سره مخ کېږو. له انحصاري بنسټونو زيانمن وګړي دا هيله نه لري چې مستبد چارواکي به په سياسي بنسټونو کې بدلونونه راولي او په ټولنه کې د واک وېش ته به غاړه ږدي، په دغسې بنسټونو کې د بدلون يوازينۍ لار دا ده چې واکمنه طبقه د پرانېستو بنسټونو جوړولو ته مجبوره کړل شي. هېڅ دليل نه شته چې زبېښونکي سياسي بنسټونه دې په اتومات يا خپلسري ډول له انحصاره راووځي، ځکه چې دا د سياسي واک د انحصار طبيعي تمايلات دي. ښايي په يو شمېر ټولنو کې زبېښونکو سياسي بنسټونو لپاره ډېره انګېزه وجود ولري، په ځانګړې توګه په هغو هېوادونو کې چې دغه ډول بنسټونه پکې نشته، مثلا؛ که په سوماليا کې يوه قبيله انحصاري حکومت جوړ او اقتصادي بنسټونه په خپله ولکه کې واخلي، ښايي ډېره شتمنه شي، خو څه شی د دې کار مخه نيسي؟ د سياسي تمرکز د رامنځته کېدو پر وړاندې اصلي خنډ له بدلون څخه وېره ده. هره قبيله، ډله او سياستوال چې په حکومت کې د واک متمرکز کولو يا انحصار کولو هڅه کوي، په دې معنا ده چې ټول سياسي واک په خپله ولکه کې اخلي او دا کار به د نورو ډلو، قومونو او خلکو چې د دې بهير بايلونکي دي، غوسه راوپاروي. د سياسي تمرکز يا سنټراليزېشن نه شتون په يوه هېواد کې نه يوازې د نظم او قانون د نشتوالي په معنا دی، بلکې د يوه ډېر زورور لوبغاړي په معنا دی چې د چارو پر وړاندې خنډ ګرځي. سياسي تمرکز هغه وخت ممکن دی، کله چې د خلکو يوه ډله په پوره قوت او ځواک حکومت جوړ کړي. په سوماليا کې د واک يو انډول وجود لري او هېڅ ډله يا

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



قبیله نه شي کولای چې پر بلې هغې بر لاسې شي، له همدې امله د سیاسي تمرکز تشه په خپل ځای پاتې کېږي.

## د کانګو اوږد رنځ

په کانګو کې به د دې یوه ډېره ښه بېلګه پیدا کړو چې د زبېښونکو اقتصادي او سیاسي بنسټونو تر سیوري لاندې اقتصادي هوساینه څومره ناشونې ده. کله چې پرتګالیانو او هالنډیانو په پنځلسمې او شپاړسمې پېړیو کې له کانګو لیدنه کوله، په دې هېواد کې یې د سختې بېوزلۍ په اړه خبر ورکړ. د اروپایي معیارونو په پرتله کانګویانو ډېره ابتدایي ټکنالوژي لرله، دوی حتی لیک، څرخ او سپاره «د ځمکې د قلبې اله» هم نه لرل. په کانګو کې د بېوزلۍ او دا چې ولې هغوی د ټکنالوژۍ له پراختیا سره سره بیا هم له هغې ګټه پورته نه کړه، عوامل ډېر روښانه دي، چې ریښه یې د دې هېواد د اقتصادي بنسټونو زبېښونکی یا استثماري طبیعت دی. مخکې مو ولوستل چې د کانګو پاچاهي په مبانزا کې د پاچا له لوري اداره کېده چې وروسته بیا د «ساو سلوادور» لاس ته ورغله. د پاچاهۍ له پلازمېنې په لرې پرتو سیمو کې هغو کسانو واک چلاوه، چې د سلطنت په بېلابېلو چارو کې یې د مشرانو په توګه دنده لرله. کروندې او مالیات د لوړ پاړکي مهمې عایداتي سرچینې وې چې د مریانو په وسیله به یې لاسته راوړل. مریتوب د اقتصاد اصلي رکن ګڼل کېده او واکمنانو به په کروندو کې ترې د بشري ځواک په توګه کار اخیسته او د اروپایانو له لوري نورو سیمو ته صادرېدل. مالیات په خپله خوښه ټاکل کېدل او پاچا کولای شول چې یوه دوره مالیه څو ځله راټوله کړي. د کانګو خلکو د شتمن کېدو لپاره باید سپما او پانګونه

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



کړې وای، مثلا؛ دوی باید د ځمکو لپاره وسایل پېرلی وای، خو خلکو دا حق نه درلود، ځکه هغه اضافي وسایل چې باید په تولید کې ترې کار اخیستل شوی وای، د پاچا او ځایي حاکمانو له لوري راټول او مصادره کېدل. کانګویانو به د ګټې وټې او محصولاتو د زیاتوالي لپاره خپل کورونه پرېښودل او لرې سیمو ته به کوچېدل، هغوی هڅه کوله چې له لوټمارۍ او مریتوبه د خوندي پاتې کېدو لپاره داسې سیمې ته کډه شي، چې له سړکونو او لویو لارو لرې وي. په دې توګه، د کانګو بېوزلي د هغو اقتصادي بنسټونو سوغات و، چې د هوساینې او پرمختګ ټول ماشینونه یې له پښو غورځول او حتی خلک یې دې ته مجبورول چې په مخالف عمل لاس پورې کړي. دولت خلکو ته ډېر ناچیزه عامه خدمات وړاندې کول، حکومت حتی خلکو ته لومړني خدمات لکه د امنیت ټینګښت، د قانون پلي کول او د ملکیتونو د حقوقو خوندیتوب هم خپل مسوولیت نه ګڼل، بلکې برعکس حکومت په خپله د خلکو سر و مال او بشري حقونو ته لوی ګواښ و.  په کانګو کې د مریانو د ساتنې او راټولونې مرکز په دې معنا و، چې په دې هېواد کې بل هېڅ داسې بازار چې خلکو ته د خپلې خوښې وړ کارونه رامنځته کړي، وجود نه درلود. پر دې سربېره، ټول سوداګریز فعالیتونه د پاچا په واک کې و او د تجارت دروازې یوازې د هغو کسانو پرمخ خلاصې وې چې له پاچا سره یې نږدې اړیکې لرلې. که څه هم د پرتګالیانو له لوري د لیک تر دود کېدو وروسته د ټولنې پورته قشر په چټکۍ لیک او لوست زده کړل، خو پاچا د عام ولس د باسواده کولو لپاره هیڅ و نه کړل. دغو ناخوالو او ځینو نورو کې بېوزلۍ د واک خاوندان وپرسول. په شپاړسمه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



میلادي پېړۍ کې د کانګو پاچا او اشرافو دا حق درلود چې ښکلي اروپايي توکي وارد او ځان ته غلامان او خدمتګاران ولري.

د کانګو زبېښونکو اقتصادي بنسټونو په دې هېواد کې د سیاسي واک د وېش له څرنګوالي سره تړاو درلود. له پاڅون پرته بله هېڅ لار نه وه چې پاچا د خلکو د شتمنیو له لوټلو او ځورونې راوګرځوي. که څه هم دغه ګواښ حقیقت درلود، خو د خلکو د ځان او مال د خوندیتوب لپاره کافي نه و. د کانګو سیاسي بنسټونو د مطلقه واک يو داسې جوړښت رامنځته کړی و چې پاچا او واکمنې طبقې ځان د هېچا پر وړاندې مسوول نه باله او په ټولنه کې خلکو د نظر څرګندولو حق نه درلود. په کانګو کې د سیاسي بنسټونو او د پرانیستو سیاسي بنسټونو ترمنځ توپیر او د ټکر عوامل څرګند دي. په کانګو کې پوځ د مستبد او مطلقه نظام ساتنه کوله. د اولسمې پېړۍ په نیمايي کې پاچا پنځه زره کسیز وسله وال پوځ جوړ کړی و، چې اصلي هسته يې له ۵۰۰ وسله والو کسانو څخه جوړه شوې وه، دغه پوځ په خپل وخت کې ستر ځواک ګڼل کېده. له همدې امله په اسانۍ پوهېدای شو چې پاچا او اشرافو څنګه ګرمې اروپايي وسلې په شور او لېوالتیا وکارولې.

د دې ډول اقتصادي بنسټونو تر سیوري لاندې د اقتصادي ودې هېڅ څرک نه ترسترګو کېده او ان د يوې موقتي اقتصادي ودې لپاره هېڅ راز انګېزه نه وه موجوده. د مالکیت د حقونو په برخه کې د اقتصادي بنسټونو اصلاح کولای شول چې ټولنه شتمنه کړي، په داسې يو حالت کې واکمنې طبقې د پیسو او ثروت د لاسته راوړلو هیله نه درلوده. په لومړي سر کې دغه ډول اصلاحاتو کولای شول چې د مریانو سوداګر او د ځمکو مالکان پر بایلوونکو بدل کړي. په دویم

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



قدم کې دا اصلاحات هغه وخت شوني وو چې د پاچا او واکمنې طبقې واک محدود کړای شوی وای. مثلا، د پاچا د پنځه سوه کسیز پوځ په مقابل کې چا دا جرئت کولای شوای چې د مریتوب پرضد ودرېږي؟ څه تضمین موجود و، چې د اصلاحاتو تر اعلان وروسته هم پاچا له خپل دریځه نه اوښته؟ یوازینی تضمین، په سیاسي بنسټونو کې د اصلاحاتو عملي کول و. په دې صورت کې ممکنه وه چې ولس د خپلو حقونو د لاسته راوړلو لپاره د واکمنې ډلې پر وړاندې درېدلی وای. که داسې شوي وای، نو د پاچا او د هغه د پلویانو شتمنۍ او ژوند به د ولس د لېست په لومړیتوب کې نه وای. که غوره اقتصادي بنسټونو په ټولنه کې بدلون ته لار هواره کړې وای، نو د وخت په تېرېدو سره پاچا او اشراف په سیاسي او اقتصادي ډګر کې له ماتې سره مخ کېدل.

پنځه سوه کاله مخکې د سیاسي او اقتصادي بنسټونو اغېزې اوس هم له دې موضوع سره چې ولې کانګو نن له مرګونې بېوزلۍ سره مخ ده، تړاو لري. د نولسمې پېړۍ په وروستیو کې اروپایانو دغې سیمې او په ټوله کې د کانګو سمندرګي شاوخوا سیمو ته مخه کړه چې دا وخت «د افریقا نیولو هڅه» په نامه یادېږي، دغې چارې په کانګو کې د بشري حقونو او د مالکیت د حقونو داسې یو ناورین رامنځته کړ، چې کانګویان ورسره تر استعمار مخکې نه و مخ شوي. اروپایانو په دې هېواد کې له سره استبدادي او استثماري بنسټونه واکمن کړل، چې یوازې د یوې کوچنۍ ډلې د ثروت له ډېرېدو سره یې مرسته کوله، دغه کوچنۍ ډله بلجیمي ښکېلاکګر او په ځانګړې توګه پاچا لیوپولډ و.

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



په ۱۹۶۰ کال کې، کله چې کانګو خپلواکي ترلاسه کړه، دغه وضعيت يو ځل بيا سر راپورته کړ. د کانګو زبېښونکي اقتصادي بنسټونه يو ځل بيا د سياسي زبېښونکو بنسټونو له لوري هڅول کېدل. وضعيت لاپسې خراب شو، ځکه چې استعمار په کانګو کې داسې سياسي او ټولنيز جوړښتونه رامنځته کړي وو چې دولت پرې ډېر لږ کنټرول درلود. ولسمشر موبوټو د ځان او ملګرو د شتمنولو لپاره له خپل واکه ناوړه ګټه اخيسته، لکه په ۱۹۷۳ کال کې د زايريانيزېشن «Zairianization» په نامه يې يو پروګرام عملي کړ چې په اقتصادي فعاليتونو کې د بهرنيانو د ونډو مصادره کول پکې شامل و. موبوټو د يوه داسې غير متمرکز دولت مشر و، چې د هېواد پر ډېره کمه برخه يې واک درلود. په ۱۹۶۰ لسيزه کې په کاټانګای او کاسای ولايتونو کې له بېلتون پالو سره د مبارزې لپاره، نومړی اړ و، چې د بهرنيانو مرستو ته لاس وغځوي. د سياسي مرکزيت نشتوالی د کانګو او د افريقا جنوب صحرا ترمنځ ګډه ځانګړنه ښيي.

د کانګو ډيموکراټيک جمهوريت اوس هم همداسې بېوزله پاتې دی، ځکه چې لا هم داسې اقتصادي بنسټونه نه لري چې په خلکو کې انګېزه او خوځښت رامنځته کړي او ټولنه اقتصادي هوساينې ته بوځي. د کانګويانو بېوزلي د جغرافيې، کلتور يا د سياستوالو د ناپوهۍ له امله نه ده، بلکې لامل يې زبېښونکي اقتصادي بنسټونه دي، دغه بنسټونه له پېړيو راهيسې پر خپل ځای پاتې دي، ځکه چې سياسي قدرت لا هم له داسې يوې کوچنۍ ډلې سره دی چې د خلکو د حقونو د خونديتوب، د عامه خدمتونو د وړاندې کولو او اقتصادي پرمختګ لپاره د بدلون هوډ نه لري، بلکې په واک کې د پاتې کېدو او د ډېرې ګټې د لاسته راوړلو په هڅه کې دي. واکمنان له خپل

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



قدرته د یوه مرکزي حکومت د جوړولو لپاره کار نه اخلي، ځکه د واک تمرکز کولای شي سیاسي مخالفین او ننګوني وزېږوي او همدا راز ښايي اقتصادي پرمختګ ته لار هواره کړي. همدا راز د افریقا په جنوب صحرا کې د زبېښونکو بنسټونو د لاس ته راوړلو لپاره خپلمنځي نښتې د مرکزي حکومت د جوړولو په هدف ټولې هڅې له خنډ سره مخ کوي. د شاهي کانګو پخوانی او اوسنی تاریخ دا په ډاګه کوي چې سیاسي بنسټونه څنګه اقتصادي بنسټونو او له دې لارې اقتصادي فرصتونو او ودې ته لار هواروي. دا همدارنګه د سیاسي مطلقیت او اقتصادي بنسټونو ترمنځ سمبولیکې اړیکې په ډاګه کوي، کوم چې د خلکو د یوې سترې کتلې په بیه یوه کوچنۍ ډله شتمنوي.

### د زبېښونکو سیاسي بنسټونو تر سیوري لاندې وده

کانګو نن ورځ په نړۍ کې د ناقانونۍ او د مالکیت د نا خوندي حقونو یوه روښانه بېلګه ده. خو په ډېری مواردو کې دغه ډول بوږنوونکی وضعیت هم د واکمن پاړکي ګټې نه شي خوندي کولی، ځکه چې د اقتصاد ټول هڅوونکي عوامل له منځه ځي او د استثمار لپاره ډېرې لږې سرچینې پاتې کېږي. د دې کتاب د بحث محوري ټکی دا دی چې اقتصادي وده او هوساینه له پرانېستو سیاسي او اقتصادي بنسټونو سره تړلې دي او استثماري بنسټونه د بېوزلۍ او بدمرغۍ زېږوونکي دي. البته دا په دې معنا نه ده چې د زبېښونکو بنسټونو تر سیوري لاندې اقتصادي وده هېڅ امکان نه لري، یا ټول دغه ډول بنسټونه یو ډول منځپانګه او جوړښت لري. دوه متفاوتې، خو بشپړې نسخې شته چې پربنسټ یې په سیاسي زبېښونکو بنسټونو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



کې ودې ته زمینه برابرېږي. د لومړۍ طرحې له مخې که چېرې بنسټونه زبېښونکي هم وي، خو چې واکمنه طبقه تر خپل واک لاندې سرچینې د ګټې د تولید لپاره وکاروي، ودې ته زمینه برابرېږي، د دې یو ښه مثال د شپاړسمې او اتلسمې پېړۍ ترمنځ په کارابین ټاپوګانو کې موندلی شو. دلته زیاتره خلک په مریتوب اخیستل شوي وو او په کرنیزو ځمکو کې یې په ډېرو ناوړه شرایطو سره کار کاوه، ډېری خلک به د ستومانۍ او خوارځواکۍ له امله مړه کېدل. په اتلسمه او نولسمه پېړۍ کې په باربادوس، کیوبا، هایټي او جامیکا کې سیاسي واک له یوه کوچني اقلیت یعنې ځمکوالو سره و او د غلامانو په شمول یې هر ډول شتمنۍ په واک کې لرلې، په داسې حال کې چې د خلکو لوی اکثریت له دې هرڅه بې برخې و. د ځمکوالو د شتمنیو په ښه توګه ساتنه کېده.

سره له دې چې هلته زبېښونکي بنسټونه حاکم وو، خو دغه ټاپوګان د نړۍ تر ټولو بډایه سیمه ګڼل کېده، ځکه چې ځایي ځمکوالو او واکدارانو ګني کرل او بیا یې نړیوالو مارکېټونو ته صادرول. د دې سیمې اقتصاد هغه وخت له ځوړتیا سره مخ شو، کله چې په اقتصادي فعالیتونو کې د بدلون اړتیا ولیدل شوه، داسې فعالیتونه چې د سترو ځمکوالو عواید او سیاسي واک یې له ګواښ سره مخ کاوه. د اقتصادي ودې او صنعتي کېدو په برخه کې د پخواني شوروي اتحاد پنځه کلن پلان، چې له ۱۹۲۸ څخه پیل تر ۱۹۷۰ لسیزې پورې یې دوام وکړ، په دې برخه کې بل مثال دی. دلته هم سخت زبېښونکي سیاسي او اقتصادي بنسټونه فعال وو او پر مارکېټونو سخت محدودیتونه لګول شوي وو. شوروي وکولای شول چې په لږ وخت کې چټکې اقتصادي ودې ته ځان ورسوي، ځکه دولت د کرنې

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



سکتور هغه سرچینې چې مخکې په ناسم ډول کارېدلې، د صنعت سکتور کې یې په سمه توګه مدیریت کړې. د زبېښونکو بنسټونو تر چتر لاندې دویم ډول اقتصادي وده هغه وخت رامنځته کېږي، کله چې ځانګړي شرایط تر یوه بریده پرانېستو اقتصادي بنسټونو ته د ودې لار پرانېزي. په زیاترو هېوادونو کې زبېښونکي سیاسي بنسټونه د «خلاق تخریب» له وېرې د پرانېستو اقتصادي بنسټونو مخه نیسي. په نړۍ کې بېلابېلې حاکمې طبقې په بېلابېلو بڼو واک په خپل انحصار کې اخلي. ښايي ځیني واکمنان په دې ډاډه وي چې د پرانېستو اقتصادي بنسټونو په لور حرکت یې واک ته زیان نه شي رسولای، له همدې کبله ځینو بدلونو ته زړه ښه کوي. بل حالت دا دی چې ښايي د یوه زبېښونکي سیاسي رژیم تاریخي حقیقت نسبتاً پرانېستو اقتصادي بنسټونو ته لار هواره کړي، چې دا د زبېښونکو سیاسي بنسټونو تر چتر لاندې اقتصادي ودې ته د رسېدو دویمه لار ده.

د جنرال پارک په وخت کې د سوېلي کوریا چټک صنعتي کېدل د همدې پېښې یو ښه مثال دی. پارک په ۱۹۶۹ کال کې د یوې پوځي کودتا په مرسته واک ته ورسېد، خو هغه پر یوې داسې ټولنې واکمن شو چې د امریکا متحده ایالتونو ملاتړ ورسره و او پرانیستي اقتصادي بنسټونه پکې حاکم و. سره له دې چې د پارک رژیم غیر ډیموکراټیک یا استبدادي و، خو اقتصاد ته یې ډېره پاملرنه کړې وه او په دې برخه کې خورا فعال و. ښايي یو لامل یې دا وي چې نظام په مستقیم ډول د زبېښونکو اقتصادي بنسټونو له لوري نه حمایه کېده. سوېلي کوریا په ۱۹۸۰ لسیزه کې د شوروي او نورو هغو

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



هېوادونو برعکس چې زبېښونکي بنسټونه يې لرل، د پرانېستو بنسټونو په لور مزل پيل کړ، هغه مزل چې د تېروتنو په جبرانولو سره خپل منزل ته ورسېد.

تر ۱۹۷۰ لسيزې پورې د سوېلي کوريا اقتصادي بنسټونه هغه مهال نسبتاً پرانيستي شول، کله چې په زبېښونکو سياسي بنسټونو کې اصلاحات راغلل، پر اقتصادي چارو واکمنې طبقې، له پوځ يا سياسي کړۍ څخه ډېرې سرچينې ترلاسه کولې. سوېلي کوريا کې په عوايدو کې نسبي برابري په دې معنا وه چې واکمنې طبقې له ولسواکۍ او سياسي پلوراليزم وېره نه لرله. د شمالي کوريا ګواښونو ته په پام، په سوېلي کوريا کې د امريکا متحده ايالتونو کليدي رول د دې لامل شو چې پوځ د ولسواکي غوښتونکو غورځنګونو پر وړاندې له زغمه کار واخلي. جنرال پارک په ۱۹۷۹ کال کې ترور شو. له هغه وروسته د «چان دوهان» په مشرۍ يوه بله پوځي کودتا وشوه او «رو تا وو» يې د خپل ځايناستي په توګه وټاکه. تا وو پر سياسي اصلاحاتو لاس پورې کړ چې يادو اصلاحاتو له ۱۹۹۲ کال وروسته په سوېلي کوريا کې يوې پراخ بنسټه ډيموکراسۍ ته غېږ پرانېسته، خو په شوروي کې پيل شوي ورته بهير نتيجه ور نه کړه. د شوروي اقتصاد مخ په ځوړ شو، په ۱۹۸۰ کال کې د پاشل کېدو خوا ته روان شو او په ۱۹۹۰ لسيزه کې په بشپړه توګه له منځه ولاړ.

د چين اوسنی اقتصاد هم د سوېلي کوريا او شوروي په څېر وضعيت لري. که څه هم د بازار سيستم د اصلاحاتو په بهير کې د چين اقتصادي وده په لومړي سر کې د کرنې سکتور کې په افراطي اصلاحاتو سره پيل شوه، خو د صنعت په برخه کې بيا اصلاحات په ارامۍ سره پلي شول، حتی اوس هم په چين کې دولت او کمونېست

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



ګوند دا واک لري چې کوم سکتورونه او کومې کمپنۍ پانګه ولري، کوم یو یې پراختیا ومومي او کوم نه. د فرصتونو رامنځته کول او له منځه وړل دواړه یې په لاس کې دي. چین نن ورځ د پخواني شوروي د «سوکالۍ ورځې» د عصر په څېر په چټکۍ د ودې په حال کې دی، خو دغه وده د دولت تر څارنې او د زېبښونکو بنسټونو په محدوده کې روانه ده چې پرانېستو بنسټونو ته د بدلون یا ورتګ ډېرې کمې نښې پکې لیدل کېږي. دا واقعیت چې د چین د اوسنیو اقتصادي بنسټونو او د سوچه پرانېستو اقتصادي بنسټونو ترمنځ ډېر واټن دی، د دې ښکارندویي کوي چې د سوېلي کوریا په څېر د بدلون په لور د چین د حرکت احتمال ډېر لږ دی، خو ناشونی نه دی. په دغه دواړو حالاتو کې کله چې د زېبښونکو بنسټونو تر چتر لاندې اقتصادي ودې ته زمینه برابرېږي، د سیاسي واک تمرکز په کې بنسټیز رول لري. په باربادوس، کیوبا، هایټي او جامیکا کې د سیاسي مرکزیت له شتون پرته د پراخو ځمکو خاوندانو نه شوای کولای چې نظم او قانون ټینګ او د خپلو شتمنیو ساتنه وکړي. همدارنګه د یوه مرکزي دولت په نه شتون کې نه د سوېلي کوریا او نه هم د چین کمونېست ګوند د خپلو اصلاحاتو لپاره د کافي امنیت احساس کولای شوای. د مرکزیت د نشتوالي په صورت کې چین او شوروي نه شوای کولای چې د اقتصادي فعالیتونو په موخه خپلې سرچینې په ښه توګه همغږې کړي. په دې توګه هغه څه چې د ښو او بدو زېبښونکو سیاسي بنسټونو ترمنځ د بېلتون کرښه ګڼل کېږي، هغه د سیاسي تمرکز کچه یا درجه ده. یو شمېر هېوادونه لکه د افریقا جنوبي صحرا

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



هېوادونه له دغې ځانګړنې «د سياسي مرکزيت نشتون» څخه کاملاً بې برخې دي او ان محدوده وده په کې هم ناشونې ده.
زبېښونکي بنسټونه کولای شي چې محدوده وده رامنځته کړي، خو دوامداره وده نه شي رامنځته کولای او په اطمينان سره چې دغه وده د خلاق تخريب له ډلې نه ده. کله چې سياسي او اقتصادي بنسټونه دواړه زبېښونکي وي، د خلاق تخريب لپاره انګېزه او ټکنالوژيکي بدلونونه امکان نه لري. ښايي دولت د سرچينو د تخصيص او مديريت له لارې تر يوې مودې چټکې اقتصادي ودې ته زمينه برابره کړي، خو دا بهير له طبيعي خنډونه سره مل وي او کله چې اقتصاد د دې خنډونو پولو ته رسېږي، وده په ټپه درېږي، لکه په ۱۹۷۰ يمه لسيزه کې چې په شوروي کې وشول. کله چې شوروي د اقتصادي ودې پر مسير ور روان شو، د هېواد په بېلابېلو اقتصادي برخو کې ټکنالوژيکي اسانتياوې ناچيزه وې. که څه هم شوروي اتحاد نظامي برخې ته د ډېرو سرچينو او امکاناتو په ځانګړې کولو سره وکولای شول چې په دې برخه کې يو لړ ټکنالوژيکي پرمختګونه وکړي او ان د يوې لنډې مودې لپاره په فضايي او اټومي برخه کې له متحده ايالتونو څو ګامه مخکې هم شو، خو له خلاق تخريب او د ټکنالوژيکي نوښتونو لپاره د پخو بنسټونو له شتون پرته دغه پرمختګ ونه پايېد او ناخاپه ودرېد. پر دې سربېره، د زبېښونکو بنسټونو تر څارنې لاندې اقدامات چې د اقتصادي ودې ملاتړ کوي، ماتېدونکی طبيعت لري. ښايي د هغو داخلي اصطکاکونو له امله چې خپله زبېښونکي بنسټونه يې زېږوي، دغه اقدامات له منځه لاړ شي. زبېښونکي اقتصادي او سياسي بنسټونه په حقيقت کې د داخلي شخړو لپاره تمايل لري، ځکه چې د واکمنې طبقې لاس ته د شتمنۍ

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



د لوېدو او د سیاسي قدرت د متمرکز کېدو لامل کېږي. که نور پر دغې ډلې برلاسي او حکومت په واک کې واخلي، نو له دې قدرت او ثروت څخه به برخمن شي.

په پایله کې لکه څرنګه چې د روم امپراتورۍ او مایا ښارونو د رنګېدو په اړه به زموږ په بحث کې جوته شي، په مطلقه یا استبدادي حکومتونو کې د واک د لاسته راوړلو لپاره تل کشمکش او مبارزې روانې وي، دا کشمکشونه په وقفه یي او دوراني بڼه زور اخلي او کله هم پر کورنۍ جګړې او کله د نظام په پاشل کېدو تمامېږي. د دې حقیقت یو دلیل دا دی چې د زبېښنونکو بنسټونو تر چتر لاندې ولو که یو هېواد له پیله هم متمرکز نظام ولري، دغه تمرکز به ډېر دوام ونه کړي. په حقیقت کې د زبېښنونکو بنسټونو د لاسته راوړلو پر سر شخړې او کشمکشونه د کورنیو جګړو او پراخې ناقانونۍ سبب کېږي، هغه څه چې نن د افریقا جنوب صحرا، لاتینې امریکا او سوېلي اسیا په هېوادونو کې لیدل کېږي، د مرکزي دولتونو دوامداره نشتون پر یوه عادي چاره بدلوي. کله چې د زبېښنونکو سیاسي بنسټونو تر چتر لاندې په نسبي پرانېستو اقتصادي بنسټونو کې اقتصادي وده صورت نیسي- لکه سوېلي کوریا- هلته تل د اقتصادي بنسټونو د استثماري کېدو وېره موجوده وي او وده ټکنۍ کېږي. بالاخره د واک خاوندان به پوه شي چې که د اقتصادي پرمختګ د هڅونې پر ځای د سیالۍ د محدودولو په موخه خپل واک وکاروي، په عایداتي سرچینو کې خپله ونډه پراخه کړي یا حتی د نورو لوټلو او غلا ته مخه کړي، ډېره ګټه به وکړي. تر څو چې سیاسي بنسټونه له زبېښنونکي حالته پرانیستي حالت ته لاړ نه شي، د ګټو ټکر او د

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



واک په عملي کولو کې ناتوانايي به بلاخره د اقتصادي پرمختګ ډېر بنسټونه کاواکه کړي.

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



# ځلورم څپرکی

## کوچني توپيرونه او د تاريخ حساسې مقطعې:

## د تاريخ وزن

### هغه نړۍ چې طاعون رامنځته کړه

په ۱۳۴٦ کال کې طاعون ناروغي «تورمرگی» د تور سمندر د «ډون» سيند غاړې ته څېرمه د «تانا» بندري ښار ته ورسېده. طاعون دغې سيمې ته د صحرايي موږکانو پر بدن د ناستو وربړو له لارې هغو سوداگرو راولېږدوله چې له چين څخه به يې د وربښمو پر لرغوني لار سوداگريز مالونه تېرول. د سوداگرو له لوري تانا ښار ته د صحرايي موږکانو او وربړو له لارې رالېږدول شوی طاعون ډېر ژر د مديترانې سيمې ته  خپور شو. د ۱۳۴۷ کال په لومړيو کې دغه ناروغي قسطنطنيې او د ۱۳۴۸ کال تر پسرلي پورې فرانسې، د افريقا شمال او ايټاليا ته ورسېده. طاعون به چې هرې سيمې ته خپرېده، له نيمايي ډېر خلک يې له منځه وړل. ايټالوی ليکوال «جيواني بوکاسيو» د پېښې د عيني شاهد په توگه د خپل سترگو ليدلی حال داسې بيانوي:

«د طاعون د گډېدو پر وړاندې ټولې انساني هڅې له ماتې سره مخ شوې. طاعون په ډېره بېړه او وحشتناکه توگه خپور شو، څو خپل تباه کوونکي اغېزې راڅرگندې کړي. په ختيځه اروپا کې خلکو ويل چې کله د چا له پزې وينه جاري شي، نو دا يې د حتمي مرگ نښه ده. خو په لوېديځ کې د دې ناروغۍ نښې نه ليدل کېدې. د دې ناروغۍ لومړنۍ نښې نښانې د بدن د ورانه په بېخ او تخرگ کې د دانو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



راختل و، چې ځينو يې د چرګې هګۍ په څېر او ځينو نورو يې د منې شکل درلود... وروسته د ناروغۍ نبضې بل ډول شوې، د ګڼو خلکو پر مټو، ورنونو او د بدن په نورو برخو باندې تور او شنه داغونه راڅرګند شول. د ډاکټرانو هر ډول هڅې او درمل بې ګټې وو او ډېر کله به د پورتنيو نښو له راڅرګندېدو درې ورځې وروسته ناروغ خپل ژوند له لاسه ورکاوه.»

په برېتانيا کې خلک پوهېدل چې طاعون راتلونکی دی او د ناروغۍ له ورانوونکو اغېزو هم خبر وو. د ۱۳۴۸ کال په اګست کې پاچا «درېيم ايډوارد» له ستر پادري څخه وغوښتل چې دعاګانو او عبادتونو ته مخه کړي. يو شمېر پادريانو کشيشانو ته ليکونه واستول څو له هغو خلکو سره مرسته وکړي چې د دې ناروغۍ تر ګواښ لاندې و. د بت پادري «رالف شروزبري» خپلو کشيشانو ته وليکل:«مهربانه خدای غواړي د خپل تندر، برېښنا او نورو عذابونو په واسطه چې د هغه له عرشه سرچينه اخلي، خپل هغه رښتيني بنده ګان ووهي چې د هغه خوښه ده، نو که خدای ته د زړه له تله دعا ونه کړو، د طاعون هغه ناروغي چې له ختيځه زموږ ګاونډ پاچاهۍ ته رسېدلې ده، ډېر احتمال او وېره شته چې د ورته وژونکې ناورغۍ څپه دلته هم راورسېږي او د خلکو ژوند واخلي، نو ټول بايد خدای ته رجوع او عبادتونو ته مخه کړو.»

خو دې کار ګټه ونه کړه. طاعون په برېتانيا ورګډ شو او په ډېرې چټکۍ يې د دې هېواد نږدې نيمايي وګړي د مرګ خولې ته ورکړل. دا ډول ناورينونه د ټولنې پر بنسټونو ژور اغېز ښندلی شي، دغې ناروغۍ ګڼ خلک لېونيان کړل. بوکاسيو ليکي:«ځينو به ويل چې د دې خطرناک شيطان له شره د خلاصون يوه لار دا ده چې درنه نشه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



یا څښاک وکړو، له ژونده خوند واخلو، سندرې او زمزمې وکړو، خوشالۍ وکړو، په داسې یو موکه کې باید ټولې اړتیاوې او خوشالۍ پوره کړو، داسې چې ګویا دا پېښې له مبالغې ډکې او خوشې کیسې دي...دا داستان ښیي، هغه ښځې چې له دغه ناورینه خوندي وتلې وې، وروسته یې ډېرې کمې پاک لمنې پاتې شوې.»

طاعون له سیاسي، اقتصادي او ټولنیز پلوه د اروپا د منځنۍ پېړۍ پر ټولنو ژور اغېز وښند. د څوارلسمې پېړۍ په لومړیو کې په اروپا کې فیوډالي نظام واکمن و؛ هغه نظام چې د روم امپراتورۍ له ړنګېدو وروسته په لوېدیځه اروپا کې رامنځته شو. دغه نظام د پاچا، خانانو، اشرافو او ټیټې طبقې ترمنځ پر یو لړ سلسله مراتبو ولاړ و. ځمکې د پاچا په لاس کې وې او له هغه به یې یوه برخه لارډانو یا خانانو ته د دې په بدل کې ورکولې چې پاچا ته یې په نظامي برخه کې خدمتونه ترسره کول. خانانو به دغه ځمکې د درنو کارونو او مالیاتو په بدل کې خواریکښو کروندګرو ته ورکولې، دا چې دغو کروندګرو مریانو ته ورته وضعیت درلود، نو هغوی به یې سرف «Serf» باله. سرفیان په کروندو کې داسې بوخت کړل شوي وو چې د خانانو له اجازې پرته چېرته خوځېدای نه شول. خانان یوازې د ځمکو مالکین نه وو، بلکې دوی په عین وخت کې قاضي، منصفه پلاوی او پولیس هم وو. دا هغه ملا ماتوونکی او زبېښونکی نظام و، چې د خواریکښو کروندګرو له خوا تولیدېدونکې شتمنۍ به د خانانو د یوې کوچنۍ ډلې جېب ته تللې. خو طاعون ناروغۍ په دې سیمه کې بشري ځواک ته سخته ضربه ورسوله او په دې توګه د فیوډالي نظام ستنې یې کاواکه کړې، دا چاره بلاخره د دې لامل شوه چې کروندګر د خپل ژوند د بدلون په

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



فکر کې شي. د بېلګې په توګه د اینشام په صومعه کې کروندګرو د جریمو د کمولو او له مزد پرته د کار د بندولو غوښتنه وکړه، هغوی خپل هدف ته ورسېدل او د کار نوی تړون یې په دې شعار پیل شو چې د طاعون وژونکې ناروغۍ پرمهال چې په ۱۳۴۹ کال کې خپره شوې وه، په دې سیمه کې یوازې دوه اجاره اخیستونکې پاتې شول او هغوی هم دا شرط ایښی و چې که د نیکولاس ورور چې هغه مهال د صومعې او د څمکو مشر و، ورسره نوی تړون ونه کړي؛ نو کار به پرېږدي، چې بالاخره د هغوی دا شرط ومنل شو. اینشام ته ورته پېښه په نورو سیمو کې هم وشوه. کروندګرو له جبري کار او د خانانو له ظلمه د خلاصون په موخه هڅې پیل کړې، مزد لوړ شو، دولت هڅه کوله چې د دې بهیر مخه ونیسي او په ۱۳۵۱ کال کې یې د کاګرانو نظامنامه اعلان کړه:«د خلکو یوه لویه برخه په ځانګړې توګه کارګران او خدمتګاران د طاعون ناروغۍ له امله مړه شوي دي، څیني د خانانو د بې عدالتۍ او د کارګرانو د کمښت له امله کار ته زړه نه ښه کوي او ډېر مزد غواړي... موږ د هغو ستونزو د مخنیوي لپاره چې ښايي له دې امله پېښې شي، امر کوو چې: د برېتانیا د پاچاهۍ ټول اوسېدونکي (ښځې او نارینه) اړ دي څو د هغه چا خدمت ته ورشي چې خپله یې د ځان لپاره مناسب ګڼلي دي او دا کارګر باید یوازې هغه مزد، د قرارداد له درکه امتیازات او نور هغه میاشتني حقوق لاسته راوړي چې زموږ د حکومت په شلم کال کې او یا پنځه -شپږ کاله مخکې په هغه ځای کې چې دی خدمت ته استخدام شوی و، ورته ورکول کېدل.»

په عمل کې د دې فرمان موخه دا وه چې مزد هماغسې چې له طاعون یا تورمرګې مخکې ورکول کېده، ثابت وساتي. هغه څه چې انګرېز

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



نخبګان يې ډېر انديښمن کړي وو، د اشرافو له لوري د خپلو ځمکو لپاره د کم پيدا کروندګرو يرغمل کول و. د دې ستونزې د هوارې لار دا وه چې هر هغه چا چې د خپل کارمشر له اجازې پرته کارځای پرېښوده، بايد زندان ته اچول شوی وای: «که لوګرى، کروندګر يا بل هر څوک چې پر خدمت بوخت دی، له ټاکلې نېټې مخکې او له کوم منطقي دليل پرته کار پرېږدي، جزا به يې زندان وي. ددې ترڅنګ، لکه څرنګه چې ووېل شول هېڅوک اجازه نه لري... مزد، لباس، د قرارداد پيسې يا تر ټاکلې اندازې زيات حقوق چا ته ورکړي او يا هم چاته د هغو د ورکړې اجازه ورکړي.»

د بنسټي بدلونونو او د طاعون ناروغۍ له امله د مزد په برخه کې د رامنځته شوي وضعيت د بدلولو په موخه د برېټانيا د دولت هڅو نتيجه ورنه کړه. د لرې کليو او باندېو اوسېدونکو په ۱۳۸۱ کال کې په پاڅون لاس پورې کړ او د «واټ ټايلر» په مشرۍ يې د لندن ښار ځيني برخې ونيولې. که څه هم پاڅونوال مات او ټايلر اعدام شو، خو دولت د نظامنامې د عملي کېدا هڅه ونه کړه. کار ته د خلکو په جبري ډول استخدام ورو ورو کم شو، په برېټانيا کې پرانيستي مارکېټونه رامنځته او مزد زيات شو. طاعون د نړۍ ډېرو برخو ته خپور شو او ډېر خلک يې ووژل. دغې ناروغۍ لکه څرنګه چې په ختيځه اروپا کې ډيموګرافيکې اغېزې تر شا پرېښودې، دغه راز لوېديځه اروپا او برېټانيا يې هم له ورته برخليک سره مخ کړل. د هغوی ټولنيز او اقتصادي ځواک هم سره ورته و. کاري قوه محدوده وه او خلکو د لا ډېرو ازاديو غوښتنه کوله، خو په ختيځ کې يو بل متناقض منطق موجود و، د کار په يوه پرانيستي مارکېټ کې د ډېرو

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



لږو کسانو شتون د لوړ مزد په معنا و، خو دغه وضعیت په ختیځ کې اشرافو او خانانو ته قوي انګېزه ورکړه چې د کار بازار استثمار او کروندګر په مریتوب کې وساتي. البته په برېتانیا کې هم دغه ډول انګېزه لکه څرنګه چې د کارګرانو په نظامنامه کې ورته اشاره شوې وه، موجوده وه؛ خو کارګرانو د خپلو موخو د ترلاسه کولو لپاره کافي قوت درلود. په ختیځه اروپا کې وضعیت بل ډول و. له طاعون وروسته کروندګرو سترو ځمکو ته مخه کړه او خپلې ځمکې یې چې پخوا هم د لوېدیځې اروپا د ځمکو په پرتله پراخې وې، لا پسې پراخې کړې، ښارونه کمزوري او کم نفوسه و، کارګران د دې پرځای چې لا ډېره ازادي ترلاسه کړي، شته ازادي یې هم په خطر کې شوه. د دې وضعیت تاثیرات له ۱۵۰۰ کال وروسته هغه وخت رابرسېره شول کله چې د ختیځې اروپا د کرنیزو محصولاتو لکه غنمو، وریجو او مالدارۍ لپاره د لوېدیځې اروپا تقاضا زیاته شوه. امسټرډام ته اتیا سلنه غنم له الب، ویسټولا او د اودر سیند له درو څخه واردېدل. د هالند د مخ پر ودې سوداګرۍ مخه ډېر ژر د ختیځې اروپا په لور شوه. څومره چې د لوېدیځوالو تقاضا لوړېده، هغومره د ختیځ کروندګرو په تدریجي توګه پر کاري قوې خپله ولکه ټینګوله، څو عرضه لوړه کړي. دغه وضعیت چې د «دویم مریتوب» په نوم یادېده، په منځنۍ پېړۍ کې د هغه د اصلي بنې په پرتله ډېر متفاوت او سخت و. خانانو او ځمکوالو پر اجاره اخیستونکو مالیات خورا لوړ کړل، چې کابو له نیمایي ډېره ګټه به یې د دوی جېب ته ورتله. په ۱۵۳۳ کال کې د پولنډ په کورسین کې خانانو د کار په بدل کې پیسې ورکولې، خو په ۱۶۰۰ کال کې له نیمایي ډېرو کارګرو له مزد پرته کار وکړ. په ۱۵۰۰ کال کې د جرمني د ختیځ په مکلنبورګ کې

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



کارګرو په کال کې یوازې څو ورځې له مزد پرته کار کاوه، خو په ۱۵۵۰ کال کې دا بیګاري په اونۍ کې یوه ورځ او په ۱۶۰۰ کال کې په اونۍ کې درې ورځو ته ورسېده. د ټیټې طبقې یا عامو خلکو بچیان اړ وو، چې کلونه کلونه اشرافو ته وړیا کار وکړي. د پولنډ ځمکوالو په ۱۵۱۴ کال کې د هر تن لپاره په اونۍ کې یوه ورځ بېګار ټاکلی و. په ۱۵۵۰ کال کې په اونۍ کې دوه ورځو او د پېړۍ په وروستیو کې درې ورځو ته لوړ شو. هغه سرفیان چې د دې قوانینو تر حکم لاندې راتلل، د کلیوالي سیمو د نفوس ۹۰ سلنه یې جوړول.

په ۱۳۴۶ کال کې د سیاسي او اقتصادي بنسټونو په برخه کې د ختیځې او لوېدیځې اروپا ترمنځ ډېر لږ توپیر و، خو په ۱۶۰۰ کال کې دغه دوه نړۍ سره جلا شوې. په لوېدیځه اروپا کې کارګران له فیوډالي مقرراتو، جریمو او نورو مکلفیتونو څخه معاف و او د بازار سیستم پر غوړېدونکي اقتصاد بدلېدونکی و. په ختیځ کې هم کارګران په ورته اقتصاد کې شامل و، خو د سرفیانو په څېر په بیګارۍ بوخت کړل شوي وو، دلته د بازار نظام ته ورته یو اقتصاد حاکم و، خو پرانېستی نه و، د بنسټونو دا بېلتون د هغه وضعیت پایله وه، چې د یادو برخو ترمنځ توپیرونه په لومړي سر کې ډېر کوچني وو: په ختیځ کې اشراف لږ شان ښه منظم شوي وو، حقوق یې یو څه ډېر او د ځمکوالۍ قواعد یې ټینګ و، هلته ښارونه کوچني او کمزوري وو او خلک یې هم منظم یا سازمان شوي نه وو. د تاریخ په یوه روښانه انځور کې، دغه توپیرونه ناچیزه ګڼل کېږي، خو کله چې طاعون یا تورمرګي فیوډالي نظم څپڅپانده کړ، همدغه ناچیزه

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



توپيرونه د لوېديځ او ختيځ د اوسېدونکو په ژوند کې د مثبت بدلون او پراختيا سبب شول. تورمرگی د تاريخ د يوې حساسې مقطعې بېلگه، يوه ستره پېښه يا د هغو قوتونو پيوست کول دي چې په ټولنه کې موجوده سياسي او اقتصادي انډول له خنډ سره مخ کوي. د تاريخ حساسه مقطعه دوه مخې تورې ته ورته ده چې ښايي د يوه ملت په لار کې د تېزې ځرخېدا لامل شي، دا توره له يوې خوا کولای شي چې له زېښښونکو بنسټونو گرد چاپېرې کړي، ماتولو ته لار خلاصه کړي او پرانېستو بنسټونو ته چانس ورکړي-لکه برېټانيا- له بل پلوه کولای شي چې د ختيځې اروپا په څېر د مريتوب دويمې بڼې نظام په رامنځته کولو سره د زېښښونکو بنسټونو لا ډېر تکامل او پياوړتيا ته لار هواره کړي. په دې اړه پوهېدل چې تاريخ او حساسه مقطعه، سياسي او اقتصادي بنسټونه په کوم لوري بيايي، موږ هڅوي چې د بېوزلۍ او بډاينې د ريښې موندنې لپاره غوره تيورۍ او نظريې وړاندې کړو. ددې ترځنگ دا کار موږ ته فرصت راکوي چې د نا انډوله نړۍ د لوړو ژورو په اړه پوه شو او دې پوښتنې ته چې ولې ځيني هېوادونه د پرانيستو سياسي او اقتصادي بنسټونو په لور ځي او ځيني نور بيا له دې پروسې پر شا کېږي، ځواب پيدا کړو.

## د پرانيستو بنسټونو جوړول

په اولسمه پېړۍ کې د برېټانيا اقتصادي وده په نړۍ کې بېسارې وه. په برېټانيا کې يوه سياسي انقلاب د ځانگړو پرانيستو بنسټونو يوه ټولگه دغه هېواد ته په ميراث پرېښوده چې دغه بنسټونه وروسته د نورو اقتصادي بدلونونو او پرمختگونو لپاره پيلامه شول. دغو بنسټونو نه يوازې پر اقتصادي هوساينې او انگېزو، بلکې پر هغو کسانو يې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



هم ژور اغېز وښند چې د یادو بنسټونو له امتیازاتو یې ګټه اخیسته. په بریټانیا کې دا بنسټونه د عمومي اجماع له لارې نه دي رامنځته شوي، بلکې د واک پر سر د بېلابېلو ډلو ترمنځ د سختو نښتو په پایله کې رامنځته شول. هرې ډلې هڅه کوله چې بنسټونه په خپله ګټه را وڅرخوي. په شپاړسمه او اولسمه پېړۍ کې د بنسټونو پر سر دغه مبارزه بلاخره پر دوو برخلیک ټاکونکو پېښو تمامه شوه: د بریټانیا کورنۍ جګړه (۱۶۴۲ – ۱۶۵۱) او پرتمین انقلاب (۱۶۸۸).

پرتمین انقلاب د پاچا او د هغه د کابینې واکونه محدود او د اقتصادي بنسټونو د څرنګوالي واک یې پارلمان ته پرېښود. دغه انقلاب په ورته وخت کې د ټولنې د بېلابېلو اقشارو پر مخ د سیاسي نظام دروازې پرانېستې، چې په دې توګه خلکو ته د حکومت پر کړنو او کارونو د نظارت حق ورکړل شو. پرتمین انقلاب د یوې پراخ بنسټه[1] ټولنې په لور حرکت و او دغه راز د سیاسي مرکزیت یا سنټرالیزېشن رامنځته کېدا ته یې لار پرانېسته او دا بهیر لاپسې چټک شو. پرتمین انقلاب د پرانیستو بنسټونو یوه ټولګه وزېږوله او په پایله کې اقتصادي بنسټونو هم د پرانیست والي پر لور حرکت پیل کړ. د اولسمې پېړۍ په لومړیو کې په بریټانیا کې د فیوډالېزم د وخت مریتوب او سخت محدودیتونه نور له منځه تللي وو، خو لا هم د خلکو د اقتصادي فعالیتونو پر وړاندې بلا خنډونه پراته وو؛ کورنی اقتصاد او بهرنۍ سوداګري له سخت انحصار سره مخ وو، حکومت په خپل سر د مالیاتو ټاکلو ته مخه کړې وه او په حقوقي سیستم کې یې لاسوهنه کوله، د ځمکو په برخه کې داسې زاړه او سولېدلي

[1] Pluralistic

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



قوانین حاکم وو، چې د سوداګرۍ او پانګونې پر وړاندې یې خنډونه رامنځته کړي وو، خو له پرتمین انقلاب وروسته وضعیت بدل شو. حکومت د اقتصادي بنسټونو یوه داسې ټولګه رامنځته کړه چې پانګونه، سوداګري او نوښتونه یې هڅول. د دې بنسټونو پر مټ د مالکیت حقوق- له دې جملې د نوښت یا اختراع د ثبت حقوق او په ټوله کې د فکري مالکیت حقوق پلي او په رسمیت وپېژندل شول. په پایله کې د نوښتونو د پنځولو انګېزه ایجاد شوه او د قانون او نظم ټینګښت ته لار هواره شوه. هغه څه چې له تاریخي پلوه یو بېساری ګام بلل کېده، هغه د برېټانیا پر ټولو وګړو د قوانینو عملي کول و. خپلسري مالیات او انحصارات په بشپړ ډول له منځه یووړل شول، حکومت تشبثات او اقتصادي فعالیتونه وهڅول، حکومت د صنعت د پراختیا په موخه نه یوازې د دې سکتور پر مخ پراته خنډونه اوبه کړل، بلکې ټول سمندري ځواک یې د برېټانویانو د کاروبار د خوندیتوب لپاره وقف کړ. د مالکیت حقونو په بنسټیزه کېدو سره، دولت د اقتصادي ودې په موخه د زېربنا او په ځانګړې توګه د سړکونو، کانالونو او وروسته د رېل کرښو پر جوړولو لاس پورې کړ چې د صنعت په پراختیا کې یې حیاتي رول درلود. دغو بنسټونو له شک پرته خلک هڅول، د اقتصاد پرمختګ ماشین یې په خوځښت راوست او په پایله کې صنعتي انقلاب ته نوره هم لار هواره شوه. په دې لړ کې تر ټولو مهمه خبره دا وه چې صنعتي انقلاب پر ټکنالوژیکي پرمختګونو ولاړ و او دا انقلاب په اروپا کې د تېرو پېړیو له علمي لاسته راوړنو خړوبېده. دا د تېر په پرتله یو بېساری پرمختګ و، چې د علمي څېړنو او د یو شمېر کسانو د نبوغ پرمټ رامنځته شو. د انقلاب انرژي له مارکېټه سر راپورته کړی و چې د

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



ټکنالوژۍ د پراختیا او ایجاد لپاره یې ګټور فرصتونه رامنځته کړل. دا د مارکېټ پرانیستی طبیعت و، چې خلک یې هڅول څو خپله ورڅتیا او پوهه وکاروي. دا بدلون همدا راز پر زده کړو او مهارتونو ولاړ و، ځکه چې هغه وخت همدا وړتیا او زده کړې وې چې کارګرانو د ټکنالوژۍ پنځونې ته مخه کړه. دا کومه تصادفي پېښه نه وه، چې له پرتمین انقلاب یوازې څو لسیزې وروسته په برېټانیا کې صنعتي انقلاب هم پیل شو. د برېټانیا ستر مخترعین لکه د بخار ماشین بشپړوونکی جېمز واټ، د بخار د لومړني لوکوموټیف جوړوونکی «ریچارډ تروتیک»، د نساجۍ ماشین مخترع «ریچارډ ارکرایټ» او د بخار کښتۍ مخترع «ایسبارډ کېنګ ډام برونل»؛ خپلې طرحې او ایډیاوې هغه وخت بریالیتوب ته ورسولې، کله چې د مالکیت حقونو له خوندیتوب څخه ډاډه شول. دوی داسې مارکېټونه وموندل چې محصولات او نوښتونه په ښه ګټه پکې پلورل کېدل او په لویه کچه ترې استفاده کېده. جېمز واټ په ۱۷۷۵ کال کې وروسته له هغه چې په د بخار ماشین یا د هغه په وینا د «اور ماشین» د اختراع مالکیت یا حق تمدید کړ، خپل پلار ته یې په لیک کې ولیکل:

«ګرانه پلاره! له یو لړ مخالفتونو او جنجالونو وروسته په دې وتوانېدم چې د خپل اورماشین د مالکیت حق په اړه له پارلمانه قانوني سند واخلم، دا سند به په ټوله برېټانیا او د هغه په مستعمرو کې د راتلونکو ۳۵ کلونو لپاره زما او زما د ځایناستو حقوق تضمینوي، هیله لرم چې دا به زما لپاره ډېر ګټور وي، په داسې حال کې چې اوسمهال د دې ماشینونو لپاره د پاموړ تقاضا موجوده ده.»

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



په لیک کې دوه شیان ډېر څرګند دي: واک په برېټانیا او د هغې په مستعمرو کې د بازار هغو فرصتونو هڅولی و، چې ده يې اټکل کړی و. دویم دا چې واک څنګه بريالی شو چې له پارلمانه د خپل فکري مالکيت د حقوقو په اړه سند ترلاسه کړي.؟ په برېټانیا کې ټکنالوژيکي پرمختګونه، کار ته د کسبګرو او کارګرو جذبول، د پانګونې هڅول او له وړتیاوو او مهارتونو ګټوره استفاده، ټول د پرانيستو اقتصادي بنسټونو پر مټ ممکن شول. دغه بنسټونه په خپل وار په دې هېواد کې له سیاسي بنسټونو سره تړلي وو. د برېټانیا د سياسي بنسټونو په وده او پراختيا کې دوه عوامل خورا اغېزناک و؛ لومړی عامل سیاسي بنسټونه وو چې متمرکز سیاسي نظام يې رامنځته کړی و او دې کار بیا په برېټانیا کې د پرانیستو بنسټونو جوړېدا ته لار هواره کړه. که څه هم دغه فکټور برېتانیا پر نورې نړۍ برلاسې کوله، خو نور اروپايي هېوادونه لکه فرانسه او هسپانیا هم ترې کم نه و. تر دې هم مهم فکټور، د پرتمين انقلاب په نتیجه کې د پاچا او دولتي چارواکو د واکونو محدودېدل و. دغې پېښې د پراخ بنسټه سیاسي بنسټونو جوړېدو ته لار پرانیسته او بیا وروسته د پرانيستو اقتصادي بنسټونو په رامنځته کېدو سره لومړنی صنعتي انقلاب را وټوکېد.

## کوچني؛ خو مهم توپیرونه

د برېټانیا له صنعتي انقلاب سره نړیواله نابرابري په ډراماتیک ډول زياته شوه، ځکه چې ټکنالوژي او نوښتونه سراسري شوي نه وو او د ارکرايټ او واټ په څېر يوازې د نړۍ يوې کوچنۍ برخې دغو اسانتیاوو ته لاسرسی درلود. د ټکنالوژۍ د دغې را پورته شوې څپې

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



په وړاندې د نړۍ ملتونو دوه انتخابه لرل: يا به بېوزلۍ ته تسليمېدل او يا به يې د دوامدارې اقتصادي ودې په لور ګامونه اخيستل. دغه بدلون په لويه کچه له هغو بنسټونو سرچينه اخيسته، چې د نړۍ هېوادونو د تاريخ په اوږدو کې ځان ته غوره کړي وو. د اتلسمې پېړۍ په نيمايي کې د نړۍ په بېلابېلو برخو کې په سياسي او اقتصادي بنسټونو کې د پاموړ توپيرونه موجود و، خو دغه توپيرونه له کوم ځايه راغلي وو؟

په ۱۶۸۸ کال کې د برېټانيا سياسي او اقتصادي بنسټونه د يو شمېر هېوادونو لکه فرانسې او هسپانيې په پرتله د سياسي پراختيا لور ته په حرکت کې و، خو که سل کاله مخکې حالاتو ته نظر وکړو، يعنې په ۱۵۸۸ کال کې دغه توپيرونه کابو له صفر سره ضرب و. په درې واړو هېوادونو کې استبدادي شاهي نظامونه واکمن و: لومړۍ اليزابت په برېټانيا کې، دويم فليپ په هسپانيا کې او دويم هنري په فرانسه کې. دغه واکمنان د ټولنې له ولسي بنسټونو لکه په برېټانيا کې له پارلمان، په هسپانيا کې له کورتس او په فرانسه کې له جنرل اسټېټس سره په تقابل کې و. دوی د ډېرو حقوقو او پر پاچاهۍ د نظارت غوښتنه کوله. د يادو بنسټونو د واکونو او د عمل ازادۍ ترمنځ توپير موجود و، مثلاً؛ د بريټانيا پارلمان او د هسپانيا کورتس دواړو پر مالياتو د نظارت حق درلود، خو د فرانسې جنرل اسټېټس دا واک نه درلود. په هسپانيا کې دا موضوع ډېره کمرنګه هم وه، ځکه چې له ۱۴۹۲ کال وروسته هسپانوي واکمنانو د امريکا لويه وچه کې ستره امپراتوري جوړه کړې وه او هلته يې له سرو او سپينو زرو عظيمه ګټه ترلاسه کوله. په برېټانيا کې بل ډول حالت و. لومړۍ اليزابت په مالي چارو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



کې پوره خپلواکه نه وه، نو له دې کبله د ډېرو مالیاتو وضعه کولو لپاره یې د پارلمان رضایت ته اړتیا درلوده، خو پارلمان د دې کار په بدل کې له الیزابت څخه د انحصاراتو په برخه کې د هغې د واکونو محدودېدل غوښتل. په دې کشمکش کې پارلمان بالاخره ګټونکی شو، خو په هسپانیا کې ورته لوبه د کورتس پر زیان پای ته ورسېده. هلته کاروبار او سوداګري نه یوازې انحصار شوه، بلکې دا انحصار د هسپانوي سلطنت لاس ته ولوېد. دغه توپیرونه چې په لومړي سر کې کوچني ګڼل کېدل، په اوولسمه پېړۍ کې یې ډېر اهمیت پیدا کړ. سره له دې چې د امریکا لویه وچه په ۱۴۹۲ کال کې کشف شوې وه او «واسکو ډا ګاما» په ۱۴۹۸ کال کې د «Cape of Good Hope» په دورې وهلو سره د افریقا د سوېل په وروستۍ برخه کې هند ته رسېدلی و، خو له ۱۶۰۰ کال وروسته و، چې په نړۍ او په ځانګړې توګه په اتلانتیک کې د سوداګرۍ د پراختیا بهیر پیل شو. په ۱۵۸۵ کال کې برېټانیا د اوسنۍ شمالي کارولینا په ریونویک «Roanoke» ټاپو کې خپله مستعمره جوړه کړه. په ۱۶۰۰ کال کې د برېټانیا ختیځ هند کمپنۍ جوړه شوه. دغې کمپنۍ په ۱۶۰۲ کال کې هالنډي سیال پیدا کړ. ویرجینیا کمپنۍ په ۱۶۰۷ کال کې د جېمز ټاون مستعمره مېشتی ښار جوړ کړ. په ۱۶۲۷ کال کې د باربادوس تر اشغال وروسته، د کارابین بحیرې شاوخوا سیمې هم په ۱۶۲۰ مه لسیزه کې د استعمار منګولو ته ولوېدې. فرانسه هم د اتلانتیک په لور راوخوځېده او په ۱۶۰۸ کال کې یې کیوبک چې اوسنۍ کاناډا یې بولي، د خپل نوې پلازمېنې په توګه وټاکله. د اقتصادي پراختیایي غوښتنې دغو سیاستونو د فرانسې او هسپانیې په پرتله د برېټانیا پر بنسټونو ډېر متفاوت اثرات پرېښودل. لومړۍ الیزابت او د هغې

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



ځايناستي د امريکا په لويه وچه کې د تجارت په انحصارولو برياليي نه شول، خو نورو اروپايي پاچاهانو دا کار وکړ. په برېتانيا او اتلانتيک کې استعمار د شتمنو سوداګرو يوه ستره ډله رامنځته کړې وه او له شاهي دربار سره يې دومره اړيکې نه لرلې، خو په هسپانيا او فرانسه کې داسې نه و. انګرېزي سوداګرو د پاچا نظارت نه مانه او په سياسي بنسټونو کې د بدلون او همدارنګه د پاچا د واکونو محدودول يې غوښتل. هغوی د برېتانيا په کورنۍ جګړه او پرتمين انقلاب کې مهم رول ولوباوه. په نورو ځايونو کې هم ورته پېښې وشوې. د ۱۶۴۸ او ۱۶۵۲ کلونو ترمنځ د فرانسې پاچاهي د فرانډ «Fronde» پاڅون سره مخ وه، خو د فرانسې او برېتانيا ترمنځ توپير دا و، چې په برېتانيا کې د استبداد مخالفين واک ته ورسېدل، ځکه هغوی نسبتاً شتمن او په فرانسې او هسپانيې کې د استبداد ضد ډلو په پرتله مخکښ او بانفوذه و. هغه جلا مسيرونه چې برېتانيا، فرانسې او هسپانيا په اولسمې پېړۍ کې طی کړي وو، د تاريخ په يوه حساسه مقطعه کې د کوچنيو بنسټيي توپيرونو غبرګون په ډاګه کوي. د حساسې مقطعې په جريان کې يوه مهمه تاريخي پېښه کولای شي چې د يوه هېواد د سياسي او اقتصادي قدرت ترمنځ موجوده توازن کاواکه کړي، دا ډول پېښې کولای شي چې يوازې يو هېواد اغېزمن کړي، لکه په ۱۹۷۶ کال کې چې د چين د کمونېست ګوند د مشر «ماوو» مرګ د کمونېست چين لپاره د تاريخ يوه حساسه مقطعه رامنځته کړه. په دې توګه حساسه مقطعه معمولاً د ټولنې يوه ستره برخه متاثره کوي، لکه استعمار او تر استعمار وروسته حالاتو چې نړۍ يې اغېزمنه کړه. د تاريخ دا حساسه مقطعه ډېره مهمه ګڼل

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



کېږي، ځکه چې د زېښبونکو سیاسي او اقتصادي بنسټونو ترمنځ همکاري او له یو بل څخه ملاتړ، د تدریجي پراختیا پر وړاندې غټ خنډ دی. د دې وضعیت دوام یوه خبیثه کړۍ رامنځته کوي. هغه کسان چې له دغسې وضعیت څخه ګټه اخلي، شتمن او په ښه توګه منظم شوي دي؛ نو ځکه په اسانۍ بدلون او اصلاحاتو ته غاړه نه ږدي. کله چې حساسه مقطعه رارسېږي، ځیني کوچني توپیرونه خپل ارزښت په ډاګه کوي او دا لومړني بنسټي اختلافونه دي چې د دې حساسې مقطعې پر وړاندې د ډېرو متفاوتو غبرګونونو د رامنځته کېدو لامل کېږي. دا چې ولې د پراختیایي بهیر د تاریخ په اوږدو کې د فرانسې، بریټانیا او هسپانیا ترمنځ ناچیزه توپیرونه موجود دي، لامل یې همدا دی. د تاریخ دا ټولې حساسې مقطعې له هغې پېښې سرچینه اخلي، کله چې اروپایان په اتلانتیک کې له اقتصادي فرصتونو برخمن شول.

د تاریخ په دې برخلیک ټاکونکي پړاو کې ان کوچني بنسټي توپیرونه هم مهم رول لوبوي، پاتې شول لوی توپیرونه چې ارزښت یې تر دې هم لوړ دی. په ۱۵۸۸ کال کې د فرانسې او بریټانیا ترمنځ توپیرونه ډېر لږ، خو د ختیځې او لوېدیځې اروپا ترمنځ ډېر ژور و. په لوېدیځ لکه بریټانیا، فرانسې او هسپانیا کې متمرکز حکومتونه موجود و، چې د پارلمان، کورټېس او جنرل اسټېټس په څېر مشروطه بنسټونو څخه برخمن و. د دوی ترمنځ د اقتصادي بنسټونو په برخه کې ځیني شباهتونه موجود و، لکه د سرفډم یا د خان-رعیت طبقې پکې نه وې. په ختیځه اروپا کې وضعیت بل ډول و، د بېلګې په توګه؛ د پولنډ-


*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



لېتوانيا پاچاهي د سلکتا[1] په نوم د يوه ډله اشرافو له خوا اداره کېده. دوی ډېر ځواکمن وو چې حتی د پاچا د ټاکلو لپاره يې په خپل منځ کې ټاکنې کولې. دا پاچاهي د فرانسې په څېر نه وه چې پاچا څوارلسم 'لويي' په يوازې ځان اداره کوله، بلکې د واکمنانو د يوې ډلې ګډه پاچاهي وه او زبېښونکو سياسي بنسټونو ته ورته بڼه يې لرله. سلکتا معمولا پر يوې کليوالې ټولنې حکومت کاوه چې اوسېدونکي يې تر ډېره سرفيان وو، کوم چې هېڅ ډول سياسي ازادي يې نه لرله او له اقتصادي فرصتونو محروم وو. په لرې ختيځ کې د روس امپراتور «ستر پېټر» ان د فرانسې د څوارلسم لويي په پرتله هم يو سخت استبدادي او زبېښونکی رژيم ساز کړی و.

اتمه نقشه د نولسمې پېړۍ په ترڅ کې د ختيځې او لوېديځې اروپا ترمنځ شته ستر توپيرونه په ډاګه کوي.




[1] Szlachta

۸مه نقشه: په ۱۸۰۰ کال کې خان-رعيت نظام په اروپا کې

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



دا نقشه ښيي چې په ۱۸۰۰ کال کې په کومو هېوادونو کې طبقاتي نظامونه موجود او په کومو کې نه و. هغه هېوادونه په تت یا پیکه رنګ ښودل شوي دي، هلته دا نظام موجود و او هغه چې په تور تېز رنګ ښودل شوي دي، هلته له منځه تللي وو. ختیځه اروپا په تت رنګ او لوېدیځه په تېز رنګ ښودل شوي دي، خو په لوېدیځ کې بنسټونه د ختیځ هغو په پرتله ډېر متفاوت نه و. لکه څرنګه چې ومو لیدل، د دواړو ترمنځ توپیرونه په څوارلسمه پېړۍ یعنی په ۱۳۴۶ کال کې هغه مهال چې طاعون په اروپا کې خپور شوی و، رابرسېره شول. له دې وړاندې د لوېدیځ او ختیځ د سیاسي او اقتصادي بنسټونو ترمنځ توپیرونه ډېر لږ و، حتی برېتانیا او هنګري د یوې کورنۍ د غړو «Angevins» له خوا اداره کېدل. هغه مهم بنسټي توپیرونه چې د طاعون له خپرېدو وروسته رابرسېره شول، په اولسمه، اتلسمه او نولسمه پېړۍ کې یې د پاموړ توپیرونو ته زمینه برابره کړه. خو دغه کوچني بنسټي توپیرونه چې وروسته د سترو توپیرونو د پیل سبب شول، لومړی له کومه ځایه پیل شول؟ ولې ختیځې اروپا په څوارلسمه پېړۍ کې د لوېدیځې اروپا په پرتله متحول سیاسي او اقتصادي بنسټونه لرل؟ ولې د فرانسې او هسپانیې په پرتله په برېتانیا

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



کې د پارلمان او پاچا ترمنځ د قدرت اندېول متفاوت و؟ په راتلونکي څپرکي کې به ولولو، چې حتی هغه ټولنې چې د ننني هغو په پرتله ډېر لږ پېچلې جوړښت لري، داسې اقتصادي او سياسي بنسټونه زېږوي چې د وګړو پر ژوند يې ژور اغېز ښندي، لکه څرنګه چې په نننۍ بوتسوانا کې د «سن» وګړو د ټولنې په اړه له مطالعې څخه جوتېږي، دا چاره حتی د «د ښکار له سرچينو تغذيه کېدونکو ټولنو» په اړه چې دايمي استوګنځي يې نه لرل او کرنې ته يې مخه نه وه کړې، هم صدق کوي. دوه ټولنې هېڅکله مشابه بنسټونه نه شي جوړولای. دوی هر يو جلا دودونه، د مالکيت جلا سيستمونه او ان د ښکار شوې غوښې د وېش په برخه کې جلا کړنلارې لري. ښايي ځيني يې د مخورو او سپين ږيرو واک ته په درنښت قايل وي، خو ځيني يې په رسميت نه پېژني، يو شمېر يې په هماغه لومړيو کې د واک سياسي تمرکز رامنځته کوي، خو نور يې نه کوي. انساني ټولنې تل د تاريخي توپيرونو، واک او يا يوازې د تصادف له امله له سياسي او اقتصادي کشمکشونو سره مخ وي، چې دا شخړې په بېلابېلو طريقو حل و فصل کېږي. دا توپيرونه ښايي په لومړي سرکې کم وګڼل شي، خو وروسته ژور کېږي او د بنسټي بېلتون يوه پروسه رامنځته کوي. لکه د موجوداتو دوه جلا شوې ډلې چې د جينټيکي دوران په نامه پروسه کې له يوه بل څخه په ځنډ جلا کېږي، ځکه په تصادفي ډول نور بېلابېل جينټيکي بدلونونه ورسره يو ځای کيږي. نو په دې توګه دوه مشابه ټولنې هم په ورته ډول خو په ځنډ له يوه بله په بنسټي توګه جلا کېږي. جنټيکي بدلون د ټولنيز بدلون په څېر مسير يې له وړاندې نه شي اټکل کېدای او هېڅ اړتيا هم نه شته چې له يو

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



بل سره يو ځای شي. دا پېړۍ وخت نيسي تر څو د دوی بدلون محسوس شي او ځينې وخت خو حتی ستر بدلونونه پکې رامنځته کېږي. د نړۍ په بېلابېلو برخو کې د اقتصادي ودې متفاوت مثالونه له هغه تعامل سره بشپړه اړيکه لري چې د تاريخ په حساسه مقطعه او د بنستي انتقال پروسه کې رامنځته شوې وي. موجوده سياسي او اقتصادي بنسټونه چې د انتقال په يوه بنستي پروسه کې رامنځته شوي وي او ځينې يې بيا د متقابل غبرگون نتيجه وي، داسې بنيادونه جوړوي چې پر اساس يې ياد بدلونونه رامنځته کېږي.

طاعون او له ۱۶۰۰ کال وروسته د سوداگرۍ بېساري پراختيا، دواړه د اروپايي قدرتونو لپاره د تاريخ حساسه مقطعه وه او له لومړنيو متفاوتو بنسټونو سره تعامل يو ستر توپير رامنځته کړ. دا چې په ۱۳۴۶ کال کې د لوېديځې اروپا اوسېدونکو د ختيځې اروپا په پرتله ډېره خپلواکي او قدرت درلود، هلته طاعون د فيوډالېزم په زوال تمام شو، خو په ختيځ کې يې د سرفډام يا د فيوډالي نظام دويمه بڼه رامنځته کړه، ځکه چې ختيځې او لوېديځې اروپا په څوارلسمه ميلادي پېړۍ کې په سياسي او اقتصادي لحاظ له يو بل څخه بېلتون ته مخه کړې وه. دغه راز د اولسمې، اتلسمې او نولسمې پېړيو اقتصادي فرصتونو هم د دوی لپاره متفاوتې پايلې لرلې. له دې کبله چې په ۱۶۰۰ کال کې د برېټانيا پاچا د فرانسې او هسپانيې د پاچاهانو په پرتله محدود واکونه لرل، په اتلانتيک سيمه کې د سوداگرۍ پيل شوي بهير په برېټانيا کې نويو بنسټونو او سياسي پلورالېزم ته لار هواره کړه، خو په فرانسې او هسپانيې کې برعکس، سلطنتي نظامونه لاپسې ټينگ شول.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



## د تاريخ پېښېدونکې واقعې

د حساسې مقطعې په جريان کې د پېښو پايلې د تاريخ وزن ته په کتو خپله پرېکړه کوي؛ ځکه چې موجوده سياسي او اقتصادي بنسټونه د قواوو توازن ته شکل ورکوي او دا څرګندوي چې له سياسي پلوه کوم شيان ممکن دي. البته دا پايلې له تاريخي پلوه له مخکې اټکل شوې نه دي، بلکې محتملې يا پېښېدونکې وي. په دې لړ کې د بنسټي ودې کره مسير په دې پورې تړلی چې کوم سيال قدرتونه به برلاسي کېږي، کومې ډلې به مخکښ ايتلافونه تشکيلوي او کوم مشران کولای شي چې پېښې په خپله ګټه را وڅرخوي.

که په برېټانيا کې د پرانېستو سياسي بنسټونو شاليد راوسپړو، نو د پېښېدونکو واقعاتو رول به راته په ښه توګه جوت شي. د برېټانيا د ۱٦۸۸ پرتمين انقلاب کې نه يوازې د انقلابينو د برياليتوب پايلې له وړاندې اټکل شوې نه وې، بلکې ټول هغه انتخاب شوي مسيرونه چې دغه بدلون ته يې لار هواره کړه، د پېښېدونکو واقعاتو محصول و. د ګټونکو ډلو برياليتوب د تاريخ له هغې مقطعې سره نه شلېدونکې اړيکه درلوده چې په اتلانتيک کې يې د سوداګرۍ په برخه کې بدلون ته لار هواره کړې وه، ځکه چې دغې پېښې د پاچا مخالف سوداګر شتمن او زړور کړل. خو يوه پېړۍ وروسته دا امکان ډېر کم ليدل کېده چې ګنې برېټانيا به يوه ورځ پر سمندر تسلط پيدا کوي، د کارابين حوزې او شمالي امريکا ډېرې برخې به اشغالوي او يا د امريکا لويې وچې او د ختيځ د ګټور تجارت ډېره برخه به خپلوي. په برېټانيا کې نه لومړۍ اليزابت او نه له هغې مخکې واکمنان په دې وتوانېدل چې يوه ځواکمنه سمندري قوه رامنځته کړي. د برېټانيا

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library




سمندري ځواک د سوداګرو له شخصي بېړیو او ماڼوګانو جوړه وه چې د هسپانیې په پرتله ډېره کمزورې وه، خو په اتلانتیک حوزه کې شته ګټو او فرصتونو دغه ماڼوګان ځان ته راکاږل او هلته یې د هسپانیا انحصار وننګاوه. هسپانیا په ۱۸۵۵ کال کې د دې ستونزې د هوارې او همدارنګه په هالنډ-هسپانیا کې د برېټانیا د مداخلې د مخنیوي لپاره اقدام وکړ. د هسپانیا پاچا دویم فلیپ د سیدونیا په مشرۍ د «ارمادا» په نامه ستره جنګي بېړۍ واستوله، په لومړي سر کې داسې ګڼل کېده چې انګرېزان به حتمي ماته خوري او هسپانویان به په اتلانتیک سمندرګي کې خپلې پښې ټینګوي او حتی د لومړۍ الیزابت د راپرځېدو او د هسپانویانو په لاس د برېټانوي ټاپوګانو د نیول کېدو وړاندوینې کېدې، خو د تمې خلاف پېښه وشوه. خرابه هوا او د سیدونیا ستراتیژیکې تېروتنې چې د یوه تجربه کار قوماندان تر مړینې وروسته تازه ټاکل شوی و، د ارمادا د ماتې لامل شول. انګرېزانو د هسپانویانو ډېر شمېر بېړۍ ویجاړې کړې. اتلانتیک سمندر اوس له لا ډېرو فرصتونو سره د انګرېزانو پرمخ پرانیستل شو، له دغې غیر متوقع بریا مخکې ممکنه نه وه چې له پرتمین انقلاب وروسته په برېټانیا کې رامنځته شوي بنسټونه دې په ښه توګه پرمختګ وکړي. نهمه نقشه هسپانوي بېړۍ ښيي چې انګرېزانو د جګړې پرمهال د برېټانوي ټاپوګانو شاوخوا په نښه کړې.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

***Downloaded By: Afghan Salar Library***






۹مه نقشه: د هسپانوي ارمادا ماتې شوې کښتۍ او هغه مهمې سيمې چې حساسې مقطعې يې و زيږولې.

په ۱۸۵۵ کال کې هېچا نه شواى کولاى چې د دې بريا پايلې اټکل کړي. هغه وخت ښايي ډېر لږ کسان په دې پوهېدل چې دا بريا د تاريخ حساسه مقطعه زيږوي او يوه پېړۍ وروسته به يوه مهم سياسي انقلاب ته لار هواروي. داسې بايد ونه انګېرل شي چې د

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



تاریخ هره حساسه مقطعه یو بریالی سیاسي انقلاب یا مثبت بدلون رامنځته کوي. په تاریخ کې د ډېرو داسې انقلابونو او خوځښتونو مثالونه شته چې یو استبداد یې ختم کړی، خو بل ته یې لار هواره کړې، هغه مثال چې جرمنی ټولنپوه رابرټ مېشلز یې «د اولیګارشۍ اوسپنیز قانون» بولي. دا قانون د «خبیثه کړۍ» یو مضر جوړښت دی.

تر دویمې نړیوالې جګړې په راوروسته لسیزو کې د استعمار د دورې له منځه تګ، د نویو خپلواکو دولتونو لپاره حساسې مقطعې وزېږولې. په افریقا او اسیا کې نویو ازاد شویو دولتونو هر یو د رابرټ مېلشز د کتاب پاڼې ځان ته ځانګړې کړې او د خپلو نیکونو تېروتنې یې بیا تکرار کړې. دوی تر ډېره د واک د وېش کړۍ راتنګې کړې، استبداد یې پیل کړ او حتی هغه نسبي هڅوونکي عوامل یې هم له منځه یوړل چې تر دې مخکې اقتصادي بنسټونو د پانګونې د جذب او اقتصادي ودې لپاره په ځان کې لرل. ډېر کم شمېر ټولنو لکه بوتسوانیا د تاریخ له دې حساسې مقطعې څخه د سیاسي او اقتصادي بدلونونو په موخه ګټه واخیسته. د تاریخ حساسه مقطعه دغه راز کولای شي چې د زېبښونکو بنسټونو د فلجولو پر ځای د هغوی په ګټه کار وکړي، دا تکاملي سایکل کولای شي چې معکوس حرکت وکړي او د حساسې مقطعې په جریان کې د شته ننګونو له امله ښایي ورو ورو د استثماري کېدو لور ته میلان وکړي. دا چې دغه پېښه رامنځته کېږي او که نه، دا بیا د وړاندوېنې وړ نه ده. لکه څرنګه چې په شپږم څپرکي کې به یې ولولو، په منځنۍ پېړۍ کې د وینز جمهوریت د پراخېستو سیاسي او اقتصادي بنسټونو په لور مهم او چټک ګامونه واخیستل، خو دا حرکت د برېټانیا د پرتمین انقلاب

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



برعکس د زېښبونکو بنسټونو د رامنځته کېدا لامل شو او يوې کوچنۍ ډلې سیاسي او اقتصادي قدرت په خپل انحصار کې واخیست.

## د ځمکې لوړې ژورې

په اتلسمه پېړۍ کې په برېټانیا کې د پرانیستو بنسټونو تر چتر لاندې د بازار اقتصاد او د دوامدارې اقتصادي ودې څپه د نړۍ نورو هېوادونو ته هم خپره شوه او دې کار برېټانویانو ته فرصت برابر کړ چې د نړۍ یوه لویه برخه اشغال کړي. که څه هم د برېټانیا د اقتصادي ودې اغېز د نړۍ ګوټ ګوټ ته وغځېد، خو دغه بدلون نه شوای کولی چې د نړۍ د هېوادونو اقتصادي او سیاسي بنسټونه په اتومات ډول له ځان سره راونغاړي. د صنعتي انقلاب خپرېدو پر نړۍ داسې اغېز وښند، لکه طاعون چې لوېدیځه او ختیځه اروپا اغېزمن کړل. دغه راز په اتلانتیک کې د سوداګرۍ پراختیا د برېټانیا او هسپانیا برخلیکونه بدل کړل، همدغه بېلابېل بنسټونه وو چې د نړۍ په بېلابېلو برخو کې یې پایلې په یو بل پسې راخرګندېدې. دا بنسټونه په حقیقت کې له یو بل څخه ډېر متفاوت و، د دوی ترمنځ کوچني توپیرونه د وخت په تېرېدو او د تاریخ د حساسې مقطعې په جریان کې ژور شول. دغه بنسټي یا ساختاري توپیرونه او د هغې اغېزې دا تمایل لري چې د سپېڅلې او خبیثه کړۍ د شتون له امله موجوده وضعیت حفظ کړي. دا هغه مهم موضوعات دي چې موږ ته په نړۍ کې د نابرابرۍ او زموږ ګردچاپېره د ځمکې لوړې ژورې راښیي.

یو شمېر هېوادونو برېټانیا ته ورته بنسټونه رامنځته کړل، خو له مختلفو لیدلورو. دا موضوع په اروپایي مستعمرو لکه کاناډا، استرالیا

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



او امریکا متحده ایالتونو کې ډېر صدق کوي. که څه هم د صنعتي انقلاب په لړ کې د یادو هېوادونو سیاسي او اقتصادي بنسټونه تازه د جوړېدو په حال کې وو. لکه څرنګه چې په لومړي څپرکي کې مو ولوستل، هغه بهیر چې په ۱٦۰۷ کال کې د جېمز ټاون ښار په جوړېدو سره پیل او د متحده ایالتونو د خپلواکۍ جګړې او بیا د اساسي قانون د تصویب پر مهال اوج ته ورسېد، د برېټانیا پرتمین انقلاب سره ډېر مشترکات لري، ځکه چې په متحده ایالتونو کې پیل شوي دغه بهیر هم د یوه متمرکز او پراخ بنسټه سیاسي نظام جوړېدو ته لار هواره کړه. وروسته صنعتي انقلاب ډېر ژر یادو هېوادونو ته خپور شو. د صنعتي انقلاب په پېر کې لوېدیځه اروپا د تاریخ د بېلابېلو پړاوونو په تېرولو سره ایله د برېټانیا په څېر بنسټونو څخه برخمنه شوه. د برېټانیا او نورو اروپايي هېوادونو ترمنځ کوچني؛ خو مهم توپیرونه د دې لامل شول چې صنعتي انقلاب په برېټانیا کې سر راپورته کړي، نه په فرانسه کې. دغه انقلاب د اروپايي هېوادونو لپاره کاملاً نوی حالت او ننګوني وزېږولې او د فرانسې انقلاب په رامنځته کېدو سره یې د شخړو او ټکر نوی تخم وکره. د فرانسې انقلاب د تاریخ بل هغه حساس پړاو یا مقطعه وه، چې د لوېدیځې اروپا بنسټونه یې د برېټانیا په څېر کېدو ته هڅول، خو ختیځه اروپا نوره هم پر شا ولاړه. د نړۍ نورو هېوادونو نورې لارې تعقیب کړې. اروپايي استعمار د امریکا په لویه وچه کې بنسټي توپیرونه رامنځته کړل.

په داسې حال کې چې په متحده ایالتونو او کاناډا کې پرانیستي بنسټونه رامنځته شول، خو لاتیني امریکا بیا زبېښونکي بنسټونه خپل کړل، چې په امریکا کې د اقتصادي نابرابرۍ وضعیت په ډاګه کوي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



په لاتینه امریکا کې له هسپانوي ښکېلاکه په میراث پاتې بنسټونه پر خپل ځای پاتې شول، چې په پایله کې یې د یادې سیمې لویه برخه د بېوزلۍ د بلا خولې ته ورکړه. خو ارجنټاین او چیلي د دې سیمې نېکمرغه هېوادونه وو، په یادو دوو هېوادونو کې سرچینې کمې او اوسېدونکي یې بومي خلک وو، نو ځکه هسپانویانو خپل ټول پام د ازتېک، مایا او اینکا تمدنونو قلمرو په لور اړولی و او هغوی یې هېر کړي وو. دا چې د ارجنټاین شمال لوېدیځه سیمه ډېره بېوزله ده، کوم تصادف نه دی، ځکه یاده سیمه یو وخت د هسپانوي استعمار تر قلمرو لاندې وه. په دې سیمه کې دوامداره فقر چې د زبېښنونکو بنسټونو میراث دی، هغه ناورین ته ورته دی چې «پوتسي» د میتا بنسټونو په واسطه په پیرو او بولیویا کې رامنځته کړی و. (لومړی څپرکی)

افریقا د نړۍ هغه لویه وچه وه چې د صنعتي انقلاب په پایله کې له رامنځته شویو فرصتونو څخه یې په ډېره کمه پیمانه ګټه پورته کړه، دغه لویه وچه په تېرو ۱۰۰۰کلونو کې له یو څو محدودو برخو پرته؛ د سیاسي پراختیا، ټکنالوژۍ او اقتصادي هوساینې په برخو کې له نورې نړۍ ډېره وروسته پاتې ده. دا د نړۍ هغه لویه وچه ده چې پیاوړي متمرکز دولتونه په کې ډېر وروسته او په ډېر ناقص ډول رامنځته شول. د کانګو په څېر په ګڼو افریقایي هېوادونو کې استبدادي نظامونه واکمن و، چې معمولا لنډ عمر یې درلود او ډېر ژر ړنګېدل. افغانستان، هایټي او نیپال هم له افریقا سره په دې میراث کې شریک دي، دغه درې هېوادونه پر خپل قلمرو کې د سراسري حاکمیت په ټینګولو او ان نسبي اقتصادي پرمختګ ته په

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

Downloaded By: Afghan Salar Library



رسېدو کې پاتې راغلي دي. که څه هم افغانستان، هایتي او نیپال د نړۍ په نورو برخو کې موقعیت لري، خو د بنسټونو له پلوه د افریقا جنوبي صحرا او نورو بېوزلو هېوادونو سره نږدې ورته والی لري. دا چې افریقایي بنسټونه ولې همداسې تر ننه په استثماري بڼه پاتې شول، لامل یې د تاریخ هغه حساسه مقطعه وه چې د اتلانتیک سیمه کې د مریانو تجارت د پراختیا پرمهال رامنځته شوې وه. کله چې اروپایي سوداګر اتلانتیک ته ورسېدل، هلته د کانګو پاچاهۍ لپاره ګڼ نوي اقتصادي فرصتونه په مخ کې پراته وو. د لرې واټن تجارت چې اروپا یې بدله کړې وه، پر کانګو یې هم اغېز وښند، خو بیا هم لومړنیو بنسټي توپیرونو ځان راڅرګند کړ. له زبېښونکو بنسټونو سره مل استبدادي حکومت د خلکو کرنیز محصولات په زور اخیستل او ډلې ډلې خلک به یې د مریانو په توګه د وسلو او اشرافو ته د زینتي توکو په بدل کې پر پرتګالیانو پلورل.

د برېتانیا او کانګو ترمنځ لومړني توپیرونه په دې معنا چې، څومره چې د لرې واټن نویو اقتصادي فرصتونو په یوه حساسه مقطعه کې نور هېوادونه د پراخ بنسټه سیاسي بنسټونو په لور سوق کول، همدومره په کانګو کې د استبداد له منځه تلو ته هیله مندي کمه وه. د مریتوب په سوداګرۍ کې د پرېمانه ګټې له امله نه یوازې په افریقا کې دا پدیده لا پسې پراخه شوه او ان د خلکو د مالکیت حقوق یې وګواښل، بلکې د شخړو او د بنسټونو د ویجاړتیا سبب شوه. هلته د پېړیو په اوږدو کې د حکومت د مرکزي کولو هر ډول هڅې له ناکامۍ سره مخ شوې او ګڼو افریقایي حکومتونو د ړنګېدو بدې پېښې تجربه کړې. که څه هم د مریتوب د ګټورې سوداګرۍ له کبله په افریقا کې یو شمېر ځواکمن دولتونه هم رامنځته شول، خو دا

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



دولتونه پر جګړې او لوټمارۍ ولاړ وو. د امریکا د لویې وچې کشف بنایي د تاریخ د یوې حساسې مقطعې په توګه د برېټانیا د پراخېستو بنسټونو له پراختیا سره مرسته کړې وي، خو افریقایي بنسټونه یې له پخوا هم پسې زبېښونکي کړل. له ۱۸۰۷ کال وروسته د مریتوب سوداګري تر ډېره ختمه شوې وه، خو د اروپايي استعمار نوي پیل نه یوازې د افریقا لویې وچې په سوېل او لوېدیځ کې اقتصادي بیارغونه پر شا وتمبوله، بلکې د نظام په داخل کې یې هر ډول احتمالي اصلاحات هم له خنډ سره مخ کړل. دا په دې معنا و، چې حتی بهر سیمو لکه کانګو، ماداګاسکار، نامبیا او تانزانیا کې - هغه سیمې چې غلا، ناامنۍ او جنایت پکې خورا زیات و- د بنسټونو د بدلون لپاره ډېر لږ چانس درلود. تر ټولو ناوړه دا چې د استعمار له پای ته رسېدو وروسته په ۱۹۶۰ مه لسیزه کې، له استعماره پاتې پېچلو جوړښتونو افریقایي هېوادونه د استعمار له دورې هم پسې له بدو بدتر کړل. په زیاترو افریقایي هېوادونو کې د اقتصادي او سیاسي بنسټونو پراختیا په دې معنا وه چې، د دې پرځای چې د خپلواکۍ ترلاسه کول د وضعیت د بدلون لپاره حساسه مقطعه وګرځوي، نااهله مشرانو نور هم د بنسټونو استثماري کولو ته مخه کړه. کومې انګېزې چې یادو جوړښتونو رامنځته کړې، د هغو تاریخي پېښو بیا تکرار و، چې د مالکیت حقوق په کې غیر خوندي، استبداد په کې حاکم او د واک مرکزیت په نشت حساب و. افریقا اوس هم د صنعتي انقلاب مزه نه ده څکلې، ځکه چې دغه لویه وچه د زبېښونکو سیاسي او اقتصادي بنسټونو د یوې خبیثه کړۍ په منګلو کې ایساره ده. بوتسوانا یوه استثنا ده. لکه څرنګه چې په راتلونکي څپرکي کې به یې ووینو، په

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



نولسمه پېړۍ کې پاچا خاما «له ازادۍ وروسته د بوتسوانا د لومړي وزیر سېرتس خاما لمسی» د خپلې قبیلې د سیاسي او اقتصادي بنسټونو په اصلاح او مودرنیزه کولو لاس پورې کړ، دا بدلونونه د استعمار په وخت کې له منځه لاړ نه شول، چې لامل یې د استعمار پر وړاندې د خاما او نورو قبایلي مشرانو ځیرکانه مبارزه وه. د تاریخ حساسې مقطعې سره چلند چې له استعمار څخه د خپلواکۍ ترلاسه کول و، د بوتسوانا لپاره د اقتصادي او سیاسي بریالیتوبونو زړي وکرل. دا هم د تاریخ د کوچنیو توپیرونو یوه بله بېلګه وه. دلایل شته چې تاریخي پېښې د ژورو ریښو لرونکو پټو قوتونو پایلې ګڼل کېږي. موږ که څه هم په دې باور یوو چې د سیاسي او اقتصادي بنسټونو تاریخ ملتونو ته بدمرغي او نېکمرغي ورکوي، خو په دې هم باور مند یو چې د برېتانیا د پرتمین انقلاب په څېر نااټکل شوې پېښې هم بنایي یو مهم عامل وګڼل شي. کله چې سېرتس خاما په ۱۹۴۰ مه لسیزه کې په اروپا کې زده کړې کولې، د «رات ویلیمز» په نامه پر یوې سپین پوستې نجلۍ مین شو. د سوېلي افریقا اپارتایډ رژیم د برېتانیا حکومت وهڅاوه چې بوتسوانا ته د نوموړي د راتګ مخه ونیسي، دا سیمه چې هغه مهال د بچوالېنډ په نامه یادېده، د سوېلي افریقا د عالي کمېشنرۍ له لوري اداره کېده. هغه له خپلې پاچاهۍ استعفا وکړه. کله چې نوموړی بېرته د استعمار ضد مبارزې لپاره راستون شو، دا ځل یې د پخوانیو بنسټونو پر ځای د نویو بنسټونو د ایجاد طرحه له ځان سره راوړې وه. خاما یو ځانګړی انسان و، له مال او شتمنۍ سره یې مینه نه درلوده او د هېواد بادۍ سره یې مینه لرله. ډېری افریقایي هېوادونو داسې بخت نه درلود. په بوتسوانا کې د بنسټونو تاریخي پراختیا او هم نااټکل شوي عوامل، دواړه په دې

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



برخه کې له اهمیت څخه برخمن و، ځکه چې دا عوامل د بوتسوانا په ګټه تمام شول.

په نولسمه پېړۍ کې د اسیا لویې وچې په لویه برخه کې ابسلوټېزم یا استبدادي رژیمونو د افریقا او ختیځې اروپا په څېر د صنعتي کېدو مخه ډپ کړه. په چین کې مطلق العنان استبدادي نظام واکمن و. مستقل ښارونه، سوداګر او صنعتکاران یا نه وو او یا له سیاسي پلوه ډېر کمزوري وو. چین له اروپایانو پېړۍ- پېړۍ مخکې یو ستر سمندري ځواک و، چې د لرې واټن په سوداګرۍ کې یې پراخه ونډه لرله، خو دغه هېواد هغه مهال له سمندره ګوښه کړل شو، کله چې د پنځلسمې پېړۍ په لومړیو کې د مینګ امپراتورۍ پرېکړه وکړه چې د لرې واټن د سوداګرۍ پراختیا چې خلاق تخریب له ځان سره لري، واکمنۍ ته یې ګواښ جوړولی شي. په هند کې د بنسټي حرکت بهیر متفاوتې پایلې لرلې، دلته یو ځانګړی طبقاتي او میراثي نظام رامنځته شو چې د بازار فعالیتونه او په اړونده برخو کې د کاري قوې وېش یې محدوداوه. دا هغه حالت و، چې په منځنۍ پېړۍ کې د اروپا فیوډالي نظام حاکم کړی و. هند دغه راز د مغولو تر واک لاندې یو بل مطلقه نظام هم تجربه کړ. په منځنۍ پېړۍ کې زیاترو اروپایي هېوادونو دا ډول نظامونه لرل. «بېکر»، «کوپر» او «سمېت» په هند کې هغه انګلیسي کورنۍ وې چې د بېلابېلو شغلونو د ایجاد او میراث بنسټګر ګڼل کېږي. بېکریان پخوونکي وو، چې خواړه به یې تیارول، کوپریانو د بیرل جوړولو کاروبار کاوه او سمېت کورنۍ اهنګري کوله. خو د کارونو د وېش دغه ډلبندي هېڅکله په هند کې د کېست نظام په څېر توپیرونه نه لرل او د افرادو د شغل په اړه شوې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



وړاندوېنې په تدریج خپل ارزښت له لاسه ورکړ. که څه هم هندي سوداګرو د هند سمندر کې پر سوداګرۍ بوخت وو او په دې هېواد کې د نساجۍ ستر صنعت راټوکېدلی و، خو د مغولو استبدادي او کېست نظامونو د پرانیستو اقتصادي او سیاسي بنسټونو د جوړېدو مخه ډپ کړې وه. په پنځلسمه پېړۍ کې، کله چې هند د انګرېزي ښکېلاک لاس ته ولوېد، د دې هېواد صنعتي کېدل ناشوني شول. چین هېڅکله د اروپايي زبرځواکونو له لوري اشغال نه کړل شو، خو د ۱۸۳۹ او ۱۸۴۲ کلونو ترمنځ او بیا د ۱۸۵۶ او ۱۸۶۰ کلونو په اوږدو کې د برېټانیا پر وړاندې د تریاکو په نامه جګړه کې له ماتې وروسته مجبور شو چې ننګینو تړونونو ته غاړه کېږدي او اروپايي توکو ته اجازه ورکړي چې چینايي مارکېټونو ته لار پیدا کړي. په اسیا کې له جاپان پرته؛ هند، چین او نور هېوادونه چې د سوداګریزو فرصتونو په ګټه اخیستنه کې پاتې راغلي وو، له لوېدیځې اروپا چې په چټکۍ د پرمختګ په حال کې وو؛ وروسته پاتې شول. د بنسټونو د پراختیا هغه مسیر چې جاپان په نولسمه پېړۍ کې ځان ته ټاکلی کړی و، یو ځل بیا موږ ته د حساسې مقطعې او کوچنیو توپیرونو پر وړاندې چلند یا غبرګون په ګوته کوي. جاپان هم د چین په څېر مطلقه نظام درلود. د توکوګاوا کورنۍ چې په ۱۶۰۰ کال کې واک ته ورسېده، په هېواد کې فیوډالي سیستم حاکم کړی و، چې بهرنۍ تجارت پکې منع شوی و. په جاپان هم د لوېدیځ د مداخلې په پایله کې د تاریخ حساسې مقطعې سر راپورته کړ. د ۱۸۵۳ کال په جولای کې د «متیو سي پیري» تر قوماندې لاندې «ایدو» خلیج ته څلور امریکایي جنګي بېړۍ داخلې شوې. امریکایانو هم له جاپان څخه هغسې امتیازات وغوښتل لکه د تریاکو جګړې پرمهال چې برېټانیا له

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



چين څخه اخيستي وو، خو په جاپان کې دغې حساسې مقطعې ډېر متفاوت رول ولوباوه. که څه هم په چين او جاپان کې رامنځته شوي دواړو پېښو ډېر نږدېوالی سره درلود، خو په نولسمه پېړۍ کې دواړو هېوادونو د بنسټونو له پلوه جلا مسيرونه او لارې غوره کړې وې. توکوګاوا کورنۍ، که څه هم په جاپان کې استثماري او استبدادي حکومت چلاوه، خو پر ځايي فيوډالي حکومتونو او مشرانو يې ډېر لږ کنټرول درلود، چې ورته يو ستر چلنج ګڼل کېده. خو د کروندګرو پر پاڅونونو او کورنيو شخړو سربېره، په چين کې مطلقه نظام پياوړی او مخالفين کمزوري وو. په چين کې هېڅ دا وړتيا نه لرله چې د حکومت پر وړاندې ودرېږي او د خپلې خوښې بنسټونه جوړ کړي. همدې کوچنيو بنسټي توپيرونو چې چين او جاپان يې له لوېديځې اروپا څخه جلا کاوه، سيمې ته د امريکا او برېټانيا د راتګ په پايله کې د رامنځته شوې حساسې مقطعې په جريان کې پرېکنده اغېزې تر شا پرېښودې.

چين د ترياکو له جګړې وروسته هم استبدادي ډوله رژيم ته دوام ورکړ، خو د جاپان پر وړاندې د امريکا ګواښ د حکومت مخالفين د توکوګاوا حکومت سره پيوستون ته وهڅول او دغه وضعيت په جاپان کې يوه سياسي انقلاب يعنې د امپراتور مېجي بياراتګ ته لار هواره کړه. سياسي انقلاب په جاپان کې د پرانيستو سياسي او اقتصادي بنسټونو پراختيا ته لار پرانېسته او په راتلونکي کې يې د چټکې اقتصادي ودې اساس کېښود، په داسې حال کې چې چين د استبداد تر مراندو لاندې نور هم کمزوری شو. دا چې جاپان څنګه د بنسټونو د بدلون پروسې په پيلولو سره د امريکا د جنګي بېړيو پر وړاندې

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



غبرګون وښود، له موږ سره مرسته کوي چې زموږ ګردچاپېره د ځمکې په نورو لوړو ژورو هم پوه شو: له ځوړتیا تر چټکې ودې.

تر دویمې نړیوالې جګړې وروسته سوېلي کوریا، تایوان او چین د هغه ډول مسیر د انتخاب په پایله کې چې جاپان ځان ته غوره کړی و، بېسارې اقتصادي وده تجربه کړه. دا وده په اقتصادي بنسټونو کې د تاریخي اصلاحاتو نتیجه وه. خو په سیاسي بنسټونو کې اصلاحات را نه وستل شول چې ښه مثال یې چین دی. دا منطق چې د چټکې اقتصادي ودې بهیر ولې ناڅاپه ټکنی کېږي او معکوس حرکت خپلوي، له همدې مسئلې سره تړاو لري، څومره چې د پرانېستو بنسټونو په لور رغنده ګامونه چټکه اقتصادي وده زېږولی شي، په همدې کچه له دغه ډول بنسټونو څخه واټن او لرېوالی اقتصادي ځوړتیا او رکود رامنځته کوي. د چټکې اقتصادي ودې د درېدو لامل چې شوروي او ارجنټاین ورسره مخ شول، تر ډېره د زبېښونکو بنسټونو موجودیت دی. لکه څرنګه چې ومو لیدل، ښایي دا موضوع د استثمار د غنیمتونو پر سر د کشمکشونو له امله پېښه شي یا د رژیم د پرځېدو لامل شي او یا هم د استثماري بنسټونو تر سیوري لاندې د نوښتونو او خلاق تخریب د نشتوالي له کبله رامنځته شي او د دوامداره ودې پر وړاندې خنډونه ایجاد کړي. له دې ډول خنډونو سره د شوروي اتحاد د مخ کېدو په اړه به په راتلونکو څپرکو کې تفصیلي خبرې وکړو. که د ۵۰۰ کلونو په اوږدو کې د لاتیني امریکا ټول اقتصادي او سیاسي بنسټونه د هسپانوي استعمار په لاس جوړ شوي وو، په منځني ختیځ کې بیا دا ډول بنسټونه د عثماني امپراتورۍ له لوري رامنځته شول. د عثماني امپراتورۍ بنسټګر سلطان محمد فاتح په ۱۴۵۳ کال کې قسطنطنیه تصرف او هغه یې خپله پلازمېنه

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



وټاکله، عثمانيانو د همدې پېړۍ په ترځ کې د بالکان او نننۍ ترکيې پاتې سيمې لاندې کړې. د شپاړسمې پېړۍ په لومړۍ نيمايي کې د عثماني امپراتورۍ قلمرو ټول منځني ختيځ او شمالي افريقا ته وغځېد. په ١٥٦٦ کال کې د سلطان سليمان د مړينې پرمهال د عثماني امپراتورۍ پولې په ختيځ کې تر ټونس، مصر او د مکې په اوږدو کې عربي ټاپو وزمې او تر نننی عراق پورې رسېدلې وې. عثماني خلافت يو مطلق العنان رژيم و. دولتمشر چې سلطان يې باله، د نورو په وړاندې ډېر لږ ځواب ويونکي او واک يې ټول ځان ته منحصر کړی و. د عثمانيانو له لوري جوړ شوي اقتصادي بنسټونه کاملاً زبېښونکي وو، شخصي مالکيت نه و او حکومت د ټولو ځمکو او جايدادونو رسمي مالک ګڼل کېده. د ځمکو او کرنيزو محصولاتو ماليات د دولت مهمې عايداتي سرچينې وې، خو عثماني خلافت ونه شوای کولی چې ان د خپل اصلي پلازمېنې اناتوليا يا پر لاتينې امريکا د هسپانوي ښکېلاک په اندازه هم د منځني ختيځ پر ټوله خاوره ولکه ټينګه کړي. عثماني امپراتوري به په پرله پسې توګه د صحرا مېشتو عربانو او نورو قبايلو له لوري له ننګونو سره مخ کېده. عثمانيانو نه يوازې په ټول منځني ختيځ کې ټيکاو او ثبات ټينګ نه شوی کړی، بلکې د مالياتو د راټولولو په برخه کې يې لازم ظرفيت هم نه درلود، له همدې امله به يې د مالياتو راټولولو امتياز د قرارداد په ډول پر نورو پلوره او قرارداديانو به له خپلې خوښې سره سم له خلکو ماليات اخيستل، دغه قرارداديان د وخت په تېرېدو ځواکمن او خپلواک شول. په منځني ختيځ کې د مالياتو کچه ډېره لوړه وه چې د کروندګرو د ټولو محصولاتو له نيمايي سره معادل ګڼل کېدل او د دې

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



مالیاتو لویه برخه د قراردادیانو جېب ته ورتله. له دې کبله چې عثماني حکومت په سیمه کې د نظم او ثبات په ټینګښت کې پاتې راغلی و، د مالکیت حقوق ډېر نا خوندي او د قدرت پرسر د ځایي وسله والو ډلو ترمنځ سیالیو ناقانوني او شوکماري اوج ته رسولې وه. مثلاً، د شپاړسمې پېړۍ په وروستیو کې په فلسطین کې وضعیت دې حد ته ورسېد، چې کروندګرو خپلې کرنیزې ځمکې پرېښودې او د لوټمارۍ له امله غرنیو سیمو ته کډه شول. د عثماني امپراتورۍ په ښاري سیمو کې زېښښونکي اقتصادي بنسټونه لږ زېښښونکي نه و، سوداګري د دولت په کنټرول کې وه او صنفي/انحصاري اتحادیو پر کاري شغلونو جدي مقررات وضع کړي وو.

په ټوله کې د صنعتي انقلاب په پېر کې د منځنۍ ختیځ اقتصادي بنسټونه استثماري وو او همدا لامل و، چې دا سیمه له اقتصادي پلوه له رکود سره مخ شوه. عثمانیانو په ۱۸۴۰ لسیزه کې د بنسټونو د اصلاح هڅه وکړه. د بېلګې په توګه، په قرارداد یا اجارې د مالیاتو ورکولو سیستم یې لغوه او ځایي خپلواک حکومتونه یې کابو کړل، خو مطلقیت یا استبداد تر دویمې نړیوالې جګړې دوام وکړ. په واک کې یو شمېر ډلو له خلاق تخریب او د اصلاحاتو په پایله کې د هغوی د نامشروع ګټو د له منځه تلو له وېرې د دې اصلاحي بهیر مخه نیوله. که څه هم عثماني اصلاح غوښتونکو د کرنیزو حاصلاتو د ډېروالي په موخه د خصوصي مالکیت د حقونو د خوندیتوب خبره کوله، خو له سیاسي واک او مالیاتو سره د لېونۍ مینې له امله هېڅ عملي ګام وانخیستل شو. له ۱۹۱۸ کال وروسته د عثماني استعمار ځای اروپایي استعمار ډک کړ. کله چې اروپایي استعمار پای ته ورسېد، د افریقا په څېر واک د حریصو ډلو لاس ته ورغی او د ځایي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



حکومتونو مشرانو د استعمار د وخت زېښبونکي بنسټونه ولکه کړل. په ځینو مواردو کې لکه د اردن پاچاهۍ په څېر واکمنه طبقه د استعماري قدرتونو لاسپوڅي وو. لکه څرنګه چې وروسته به پرې خبرې وکړو، دا ډول پېښې په افریقا کې هم په پرله پسې ډول تکرار شوې. د منځني ختیځ هغه هېوادونه چې نفت نه لري، عواید یې د لاتینې امریکا بېوزلو هېوادونو سره ورته دي. دوی د غلامانو د تجارت په څېر له ناوړه پدیدې څخه بچ وو او له هغې ټکنالوژۍ څخه برخمن شول چې له اوږدې مودې راهیسې له اروپا څخه د هغوی په لور ور ماته شوې وه. همداراز منځنی ختیځ په منځنۍ پېړۍ کې د نړۍ د اقتصاد نسبتاً پرمختللې سیمه ګڼل کېده، له همدې امله ده چې نننی منځنی ختیځ د افریقا هومره بېوزله نه دی، که څه هم ډېری وګړي یې د بېوزلۍ تر کرښې لاندې ژوند کوي.

****

ومو لیدل چې نه د جغرافیې، نه د کلتور او نه هم د ناپوهۍ نظریه د ملتونو له بډاینې او بېوزلۍ سره تړاو لري. دا نظریې په نړۍ کې د موجوده نابرابرۍ په اړه قانع کوونکي ځوابونه او دلایل نه شي وړاندې کولای، لکه: د اتلسمې او نولسمې پېړیو په ترځ کې له صنعتي انقلاب سره هممهاله په برېټانیا کې د بنسټونو د بدلون پروسه چې وروسته ختیځې او لوېدیځې اروپا او د هغو مستعمرو ته وغځېده؛ د امریکا لویه وچه کې د بنسټونو ترمنځ د توپیرونو دوام؛ په منځني ختیځ او افریقا کې بېوزلي؛ د ختیځې او لوېدیځې اروپا ترمنځ بنسټي توپیرونه او یا له ځوړتیا څخه د ودې په لور حرکت او

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



ځيني وخت د چټکې ودې ناڅاپه درېدل. زموږ د بنسټونو تيوري دغو ټولو پوښتونو ته ځواب وايي.

په پاتې څپرکو کې به د بنسټي تيورۍ په اړه پراخ بحثونه وکړو او همدارنگه پر هغو پديدو به وغږېږو چې د دې تيورۍ په لا روښانتيا کې راسره مرسته کوي. دا بحث د «نوې ډبرې انقلاب» عصر څخه پيل او د بېلابېلو تمدنونو تر محوه کېدو پورې موضوعات په ځان کې رانغاړي، چې هر يو يا د طبيعي محدوديتونو په پايله کې د زبېښونکو بنسټونو د موجوديت او يا د پرانېستو بنسټونو په لور د لازمو گامونو د نه اخيستو له امله ناکام شول. په راتلونکو بحثونو کې به دغه راز ووينو چې برېټانيا د پرتمين انقلاب په جريان کې ولې او څه ډول د پرانېستو سياسي بنسټونو پر لور گامونه واخيستل. موږ به په ځانگړې توگه لاندې موضوعات وڅېړو:

- ولې په اتلانتيک کې د سوداگرۍ په پراخېدو سره د حساسې مقطعې د رامنځته کېدو په پايله کې په برېټانيا کې پرانيستي بنسټونه رامنځته شول؟

-ولې د دې بنسټونو يو شمېر يې د خبيثه کړۍ او ځيني يې د نااټکل شويو پېښو له امله دوام پيدا او مستحکم شول، څو صنعتي انقلاب ته زمينه برابره کړي؟

- ولې د استبدادي او استثماري بنسټونو لرونکي سياسي نظامونه د صنعتي انقلاب په پايله کې د پراخېدونکې ټکنالوژۍ پر وړاندې ودرېدل؟

- ولې اروپايانو په خپلو مستعمرو کې د اقتصادي ودې فرصتونه وځپل څو د هغوی گټې ونه گواښي؟

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



- ولې خبیثه کړۍ د استثماري بنسټونو دوام ته زمینه برابره کړه او هغه سیمې چې د صنعتي انقلاب تر پوښښ لاندې راغلې، نسبتا بېوزله پاتې شوې؟

- ولې صنعتي انقلاب او ټکنالوژي د نړۍ هغو سیمو ته چې متمرکز دولتونه یې پیدا نه کړل، ونه غځېدل او ښايي په راتلونکي کې هم ونه شي؟

دا به هم ولولو چې ځیني ځانګړې سیمې لکه فرانسه او جاپان چې د پرانېستو بنسټونو د خپلولو په لور یې ګامونه واخیستل، یا د متحده ایالتونو او استرالیا په څېر هېوادونه چې د زېښښونکو بنسټونو مخه یې ونیوله؛ صنعتي انقلاب ته هرکلی ووایه او د نړۍ تر نورو هېوادونو مخکې شول. د بریټانیا تاریخ ښيي چې په دې هېواد کې د بنسټونو د پراختیا بهیر له ستونزو خالي نه و، بلکې پرانېستو بنسټونو په خپل پیل کړي حرکت کې د خبیثه کړۍ دننه د موجوده قوتونو او کله هم د تاریخ د نااټکل شوي مسیر له امله د رامنځته شویو ننګونو پر وړاندې مقاومت وکړ.

په پایله کې به پر دې خبرې وکړو چې ولې د ملتونو ماتېدل د هغوی د بنسټونو له تاریخ څخه اغېزمن دي؟ وړاندې شوې تګلارې ولې پر ناسمو فرضیو ولاړې او ګمراه کوونکي دي؟

همدارنګه د نړۍ هېوادونه څنګه کولای شي چې د تاریخ حساسه مقطعه غنیمت وګڼي او د خپلو بنسټونو د اصلاح او اقتصادي هوساینې په موخه موجوده جوړښتونه مات کړي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



# پنځم څپرکی

## ما راتلونکې لیدلې او روښانه ده

## تر زبېښونکو بنسټونو لاندې وده

### ما راتلونکې لیدلې

بنسټيي توپيرونه د تاريخ په بېلابېلو پړاوونو کې د اقتصادي ودې په ځرنګوالي کې اساسي رول لوبوي، خو ايا هغه ټولنې چې د تاريخ په اوږدو کې يې زبېښونکي سياسي او اقتصادي بنسټونه لرل، کوم وخت يې اقتصادي وده تجربه کړې؟ ځرګنده ده چې نه! زبېښونکي بنسټونه د خپل منطق له مخې بايد يوې ځانګړې ډلې ته ثروت توليد کړي، څو استثمار ته زمينه برابره شي. هغه واکداران چې سياسي قدرت انحصاروي او مرکزي حکومت په واک کې لري، کولای شي چې قوانين او مقررات په خپله خوښه پلي او اقتصادي فعاليتونه کنټرول کړي، خو تر زبېښونکو بنسټونو لاندې اقتصادي وده په خپل ذات کې د پرانيستو بنسټونو په پرتله ډېره متفاوته ده، لوی توپير يې دا دی چې دغه وده تلپاتې او پر ټکنالوژيکي بدلونونو استواره نه وي، بلکې يوازې له موجوده ټکنالوژۍ څخه ګټه اخيستل کېږي. د شوروي اتحاد اقتصادي وده يې يو ښه مثال دی چې ښيي تر زبېښونکو بنسټونو لاندې د حکومت له لوري د ودې پيل شوې پروسه له څه ډول برخليک سره مخ شوه.

لومړۍ نړيواله جګړه پای ته رسېدلې وه، فاتح او مغلوب دولتونه پاريس ښار ته څېرمه د ورسا په ښکلې ماڼۍ کې د سولې د خبرو په تړاو سره جرګه شوي وو. د غونډې د ټولو ګډونوالو ترمنځ د امريکا

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



متحده ایالتونو د ولسمشر «ووډرو ویلسن» حضور ډېر برجسته و، خو ددې ترځنګ په غونډه کې د روسیې د استازو نه شتون د ټولو پام ځان ته ور اړولی و. د روسیې پخوانی تزاري نظام د ۱۹۱۷ کال په اکتوبر کې د بلشویکانو له خوا و پرځول شو. د بلشویک انقلاب په پایله کې د سرو «بلشویکانو» او سپینو ترمنځ کورنۍ جګړه پیل شوه. بریټانیا، امریکا او فرانسې د بلشویکانو د ځپلو په موخه ځواکونه ولېږل، په دې وخت کې د ځوان ډیپلوماټ «ویلیم بولیټ» په مشرۍ چې روڼ اندی ژورنالېست «لینکولن سټېفنس» هم ورسره ملګری و، مسکو ته یو پلاوی واستول شو، څو د انقلاب له مشر لینین سره د بلشویکانو د موخو او له هغوی سره د جوړجاړي په اړه خبرې وکړي. سټېفنس له دې امله ډېر مشهور شوی و، چې تل به یې په امریکا کې د پانګوالۍ او پانګوالو په اړه سپینې خبرې او رسوا کوونکي مطالب خپرول. هغه د انقلاب پر مهال په روسیه کې و. په لېږل شوي پلاوي کې د نوموړي ګډون د دې لپاره و، چې د مقابل لوري باور خپل کړي. پلاوی له یو لړ داسې یادښتونو سره چې لینین به په نوي رامنځته شوي شوروي اتحاد کې د سولې لپاره څه کوي، راستون شو. هغه څه چې سټېفنس په شوروي رژیم کې د ستر پوتنشیل یا ظرفیت په توګه لیدلي وو، نوموړی یې سخت اغېزمن کړی و. هغه په ۱۹۳۱ کال کې په خپل ژوندلیک کې ولیکل:((روسیه- شوروي له تکاملي پلان سره یو انقلابي دولت و. د هغوی تګلاره دا نه وه د بېوزلۍ، د شتمنۍ انحصار، مالي فساد، ځانګړي امتیازونه، استبداد او د جګړې په څېر شیطاني پدیدې په مستقیمه توګه له منځه یوسي، بلکې هغوی د دغو ناخوالو په ریښو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



پسې تلل او هغه يې له منځه وړل. هغوی يوه ديکتاتوري جوړه کړې وه چې د يوې کوچنۍ روزل شوې ډلې له خوا حمايه کېده، څو د اقتصادي قوتونو يو نوی علمي جوړښت رامنځته او د څو نسلونو لپاره يې خوندي کړي، چې دا به په لومړي پړاو کې اقتصادي ډيموکراسي او په پايله کې به پر سياسي ډيموکراسۍ بدلېږي.))

سټېفنس له ډيپلوماټيک ماموريت څخه تر ستنېدو وروسته د خپل پخواني مجسمه جوړوونکي ملگري «جو ډيوېډ سن» ليدو ته ورغې او گوري چې نوموړی د «برنارډ باروچ» په نوم د يوه شتمن کس د انځور په جوړولو لگيا دی. باروچ پوښتنه کوي: له روسيې بېرته راغلې؟ سټېفنس ځواب ورکوي:«زه له هغې راتلونکې راستون شوی يم، چې روښانه ده» نوموړي دا خبره د هغه تاريخي روايت پر بنا کړې وه چې وايي:«ما راتلونکې ليدلې او روښانه ده.»

د ۱۹۸۰ يمې لسيزې تر لومړيو پورې زياترو لوېديځوالو د نړۍ راتلونکې د شوروي اتحاد کې په پرمختگ کې ليده او په دې باور وو، چې د شوروي تگلاره د ستونزو يوازينۍ نسخه ده. لينين په ۱۹۲۴ کال کې مړ شو او جوزېف ستالين تر ۱۹۲۷ کال پورې پر هېواد واکمني وکړه. هغه يو په بل پسې خپل سيالان له مخې لرې کړل او د هېواد د صنعتي کېدو چټکه پروسه يې پيل کړه. ستالين دا پلان د دولت د پلان جوړونې کمېټې «گوسپلن» په تقويه کولو سره چې په ۱۹۲۱ کال کې جوړه شوې وه، پلی کړ. گوسپلن خپل لومړنی پنځه کلن پلان چمتو او د ۱۹۲۸ او ۱۹۳۳ کلونو ترمنځ يې پلی کړ. د ستالين ماډل اقتصادي وده ساده او اسانه وه: د دولت تر کنټرول لاندې د صنعت پراختيا او پر کروندگرو د مالياتو لوړولو له لارې صنعت ته د سرچينو برابرول. کمونېستي دولت يو کارنده مالياتي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



سیستم نه درلود او ستالین د هغه پر ځای د کرنې سکتور په اشتراکي سازۍ[1] لاس پورې کړ. د اشتراکي کېدو په بهیر کې د خصوصي مالکیت لغوه کول او د کمونېستي دولت تر کنټرول لاندې سترو کرنیزو ځمکو ته د ښاري خلکو کډه کول شامل و، ځکه ستالین غوښتل چې په دې توګه کرنیز محصولات تر خپل کنټرول لاندې راولي او د هغو خلکو د مړولو لپاره یې وکاروي چې په کارخانو کې بوخت وو. دغه کار د کلیوالي سیمو د اوسېدونکو لپاره تباه کوونکې پایلې لرلې. اشتراکي کروندو خلکو ته د کار هېڅ انګېزه نه ورکوله، له همدې کبله تولید له سخت سقوط سره مخ شو. هغه څه چې تولیدېدل ایله د دولت اړتیا یې پوره کوله، چې له همدې کبله ګڼ خلک له لوږې مړه شول. د کمونېستي دولت د دې پروګرام په پایله کې نږدې ۵۰ میلیونو انسانانو د قحطۍ له امله ژوند له لاسه ورکړ. دغه راز د زور او جبر له لارې د اشتراکي کولو پروسې په پایله کې زرګونه نور ووژل شول او یا سایبیریا ته تبعید کړای شول. له اقتصادي پلوه نه نوی صنعت او نه هم د ځمکو اشتراکیت اغېزناک او ګټور و، یعنې هغه سرچینې چې شوروي اتحاد په واک کې لرلې، سمه ګټه ترې وا نخیستل شوه. دا اقتصادي ناورین او ځوړتیا او که مبالغه ونه شي، پاشلتیا ته ورته عمل و. خو شوروي اتحاد په چټکۍ وده وکړه. پر عواملو یې پوهېدل سخت نه دي. د دې لپاره چې یوه ټولنه له خپلو سرچینو سمه ګټه واخلي، اړتیا ده چې د بازار نظام په چوکاټ کې خلکو ته د تصمیم نیولو حق ورکړل شي، خو کله چې حکومت او یوه کوچنۍ ډله سرچینې په خپل کنټرول کې اخلي، نو نه

[1] Collectivization

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



به د اقتصادي فعالیتونو لپاره کومه انګېزه رامنځته شي او نه به هم د خلکو له وړتیاوو او مهارتونو څخه اغېزناکه ګټه واخیستل شي. البته ښايي په ځینو ځانګړو برخو کې د کاري ځواک او پانګې اغېزمنتوب او ګټمنتیا لوړه وي، لکه د شوروي د درنو صنایعو سکتور؛ یعنې داسې چې ښايي د زبېښونکو بنسټونو تر چتر لاندې یوه پروسه له پورته څخه لاندې خوا ته وده رامنځته کړي. په درېیم څپرکي کې مو ولوستل چې د کارابین ټاپوګانو په باربادوس، کیوبا، هایټي او جامیکا کې استثماري بنسټونو وکولای شول چې نسبتاً لوړ عواید تولید کړي، ځکه چې هلته ټولې سرچینې د بورې د تولید لپاره چې هغه مهال په نړیوال مارکېټ کې ګټور محصول و، ځانګړې شوې. د بورې د تولید لپاره د ګنیو په کروندو او فابریکو کې د مریانو استخدام په هېڅ صورت اغېزناک نه و او په یادو ټولنو کې ټکنالوژیکي بدلونونه یا خلاق تخریب هم نه و، خو نه شتون یې تر زبېښونکو بنسټونو لاندې د یوه اندازه اقتصادي ودې پر وړاندې خنډ نه شو. په شوروي اتحاد کې هم ورته وضعیت و او دلته صنعت په کارابین کې د بورې د تولید په څېر رول لوباوه. سره له دې چې شوروي اتحاد هغه مهال د ټکنالوژۍ په برخه کې د امریکا متحده ایالتونو او اروپا په پرتله وروسته و، خو د صنعت د ودې او پراختیا لپاره له وړاندې اسانتیاوې برابرې شوې وې، نو له همدې امله د صنعت سکتور ته د سرچینو په بېلولو سره کېدای شوای چې په لویه کچه ګټه ترلاسه شي؛ که څه هم دا هر څه په ناسم ډول او د زور له لارې ترسره کېدل. له ۱۹۲۸ کال وړاندې د روسیې زیاتره وګړو له ښارونو د باندې ژوند کاوه. کروندګرو ډېره ابتدايي ټکنالوژي کاروله او د ګټې د تولید لپاره ډېره لږه انګېزه موجوده وه. په روسیه کې د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



فیوډالېزم وروستۍ پاتې شوني په حقیقت کې د لومړۍ نړیوالې جګړې یو څه مخکې له منځه تللې وې. له کرنې څخه صنعت ته د بشري ځواک استخدام او ځانګړي کول یو نا اشنا او ستر اقتصادي ظرفیت رامنځته کوي. په شوروي کې له همداسې یو ظرفیت څخه د استفادې لپاره د ستالین د صنعتي کېدو بهیر یوه ظالمانه تګلاره وه. دغه بشري سرچینې چې په ډېر ناسم ډول کارول کېدې، د ستالین په امر د صنعت سکتور ته ولېږدول شوې. که په صنعت کې ستونزې هم وای، خو کېدای شوای چې یادې سرچینې په صنعت کې په ښه ډول کارول شوې وای. د ۱۹۲۸ او ۱۹۶۰ کلونو ترمنځ د شوروي کلني ملي عاید وده شپږ سلنه (٦٪) وه، چې احتمالاً په نړۍ کې تر ټولو چټکه اقتصادي وده وه چې نن یې هم ساری نه لیدل کېږي. دا وده د ټکنالوژیکي بدلونونو پرمټ نه وه رامنځته شوې، بلکې د کاري ځواک د ځانګړي کولو او د نویو وسایلو او فابریکو د جوړولو له لارې د پانګې په غونډولو سره رامنځته شوې وه. دا وده دومره چټکه وه چې نه یوازې لینکلن سټېفنس بلکې د لوېدیځ څو نسلونه یې غافل کړي وو. د امریکا د مرکزي استخباراتو اداره «سي ای اې» او حتی په خپله د شوروي مشران هم پرې غلط شوي وو، لکه نیکیتیا خروچوف چې لوېدیځو ډیپلوماتانو ته په یوه غونډه کې وویل: موږ به تاسې تر خاورو لاندې کړو!

یوه انګلیسي اقتصاد پوه په ۱۹۷۷ کال کې په خپل معتبر درسي کتاب کې ولیکل چې شوروي ډوله اقتصاد د ودې له پلوه د کار پنځونې، د بیو د ثبات او ان د هغو خلکو د روزنې په برخه کې چې د بشریت د ګټو لپاره قربانۍ ورکوي، د پانګوال نظام په پرتله غوره

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



دی. د لوېديځ شرېدلي پانګوال نظام يوازې د سياسي ازاديو په برخه کې يو څه پرمختګ کړی و. د نوبل جايزې ګټونکي «پاول ساموېلسن» د اقتصاد په اړه په خپل مشهور کتاب کې چې په پوهنتونونو کې تدريس کېده، تکراراً وړاندوينه کوله چې د شوروي پراخېدونکی اقتصاد به ډېر ژر نړۍ ولکه کړي. ساموېلسن په ۱۹۶۱ کال کې په خپل کتاب کې وړاندوينه کړې وه چې تر ۱۹۸۴ يا تر ۱۹۹۷ کلونو پورې به د شوروي ملي عوايد د امريکا متحده ايالتونو په پرتله لوړ شي. کتاب په ۱۹۸۰ کال کې له يو څه بدلونونو سره بيا چاپ شو، خو د هغه يادې دوه اټکل شوې نېټې تر ۲۰۰۲ او ۲۰۱۲ کلونو پورې هم رښتيا نه شوې. که څه هم د ستالين او د شوروي د نورو مشرانو د سياستونو په پايله کې د دې هېواد اقتصادي وده چټکه شوه، خو تلپاتې او دوامداره نه وه. د اقتصادي ودې بهير په ۱۹۷۰ يمه لسيزه کې کابو په ټپه ودرېد. تر ټولو مهم درس چې بايد زده يې کړو، دا دی چې زبېښونکي بنسټونه د دوو لاملونو پر بنسټ نه شي کولای چې ټکنالوژيکي بدلونونه رامنځته کړي: د هڅوونکو انګېزو نه شتون او د دې ډول بدلونونو پر وړاندې د واکمنې طبقې خنډونه. پر دې سربېره، ټولې هغه سرچينې چې مخکې په ناسم ډول کارول کېدې، که صنعت ته ځانګړې شي، د اقتصادي هوساينې او پرمختګ هيله ترې نه شي کېدای. د شوروي کمونېست نظام هم د ټکنالوژيکي نوښتونو او د اقتصادي هڅوونکو انګېزو د نشتون له امله له داسې خنډونه سره مخ شو، چې د هر ډول پرمختګ احتمال يې ناشونی کاوه. يوازينی سکتور چې شوروي په کې پرمختګ وکړ، پوځي او فضايي برخه وه. شوروي د دغو هڅو په پايله کې «يوري ګرګارين» له يوه سپي «ليکا» سره فضا ته واستاوه او دغه راز د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



«Ak47» په نوم سپکه وسله يعنې کلاشينکوف يې نړۍ ته په ميراث پرېښود. گوسپلن د پلان جوړونې يو پياوړی بنسټ و، چې د شوروي په اقتصاد کې يې د متمرکزې پلان جوړونې مسووليت پرغاړه درلود. د گوسپلن پنځه کلن پلان لرليد دا و، چې په اوږد مهال کې به د ښتينې پانگونې د جذب او د نوښتونو د رامنځته کولو لپاره زمينه برابروي، خو هغه څه چې په عمل کې ترسره کېدل، له پلان سره يې ډېر لږ ورته والی درلود. که څه هم پر پلان به يو ځل له سره کتنه کېده او ځينې بدلونونه به په کې راتلل يا به بېخي له پامه غورځول کېده. د صنعت پراختيا د ستالين او د کمونېست گوند مرکزي دفتر «پوليټ بورو» په امر ترسره کېده، وخت نا وخت به يې نظريات بدلول او پر پخوانيو پرېکړو به يې له سره کتنه کوله. ټول پلانونه به د خامو طرحو په توگه پاتې کېدل. يوازې يوه طرحه چې د برېښنا صنعت په برخه کې وه، په ۱۹۳۹ کال کې د عمل ډگر ته وړاندې شوه. ستالين به خپله ويل:«يوازې بيروکراټان کولای شي فکر وکړي چې د پلان جوړونې چارې د پلان په رامنځته کولو پای ته رسېږي، پلان يوازې د کار پيل دی، د دې دواړو برخو له بشپړېدو وروسته پلان ښتينې بڼه خپلوي.» ستالين ته هغه څوک ډېر نږدې او له واکونو برخمن و، چې نوموړي ته يې سياسي وفاداري درلوده. خو هغه څوک چې نه و، هغه مجرم گڼل کېده. د گوسپلين رول دا و، چې ستالين ته د هغه د دوستانو او دښمنانو په اړه اطلاعات راټول کړي. د گوسپلين غړو به زړه نه ښه کاره چې کومه پرېکړه وکړي، ځکه چې د ناسمې پرېکړې جزا مرگ و او له همدې کبله يې غوره گڼله چې بې مسووليته کار تر سره کړي. د ۱۹۳۷ کال سرشمېرنه په دې اړه

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



هغه ژوندی مثال دی چې که تاسو د کمونېست ګوند د غوښتنو په اړه د حدس وهلو پر ځای خپله در سپارل شوې دنده جدي ګڼلې وای، څه به پېښ شوي وو؟ د دې سرشمېرنې پایلې د شوروي ټول نفوس په اټکلي توګه ۱۶۲ میلیونه ښوده چې دا شمېر د ستالین له ۱۸۰ میلیونه اټکل شوي نفوس څخه کم و. د شوروي نفوس په حقیقت کې له ۱۶۸ میلیونه څخه چې ستالین په ۱۹۳۴ کال کې اعلان کړی و، کم و. د ۱۹۳۷ کال کې سرشمېرنه له ۱۹۲۶ کال وروسته لومړنۍ سرشمېرنه وه چې د پراخې قحطۍ او د ۱۹۳۰ لسیزې په لومړیو کې د سیاسي تصفیې په لړ کې ترسره شوه. د نفوس کره شمېر، د دې پېښو څرګندونه کوي. ستالین د سرشمېرنې یو شمېر مامورین ونیول، څه یې ووژل او یو شمېر نور یې سایبریا ته تبعید کړل. د هغه د نوي فرمان له مخې په ۱۹۳۹ کال کې نوې سرشمېرنه ترسره شوه. دا ځل مامورنیو خپله دنده سمه ترسره کړه، هغوی وموندل چې د شوروي اصلي نفوس ۱۷۱ میلیونه وو. ستالین پوهېده چې د شوروي په اقتصاد کې د سخت کار لپاره د خلکو انګېزه کمه ده. طبیعي عواملو کولای شول چې دا ډول انګېزې وزېږوي، نوموړي به ځیني وخت همداسې کول لکه هغو سیمو ته یې خوراکي توکي لېږدول چې محصولات یې د افتونو په پایله کې له منځه تللي وو. پردې سربېره نوموړي په ۱۹۳۱ کال کې د «سوسیالېست نارینه او ښځه» تر نامه لاندې ایډیا هم، چې له مخې یې ښځو او نارینه وو باید له مالي انګېزې پرته کار کړی وای، شا ته وغورځوله. هغه په خپله یوه مشهوره وینا کې د «برابرښت پلور» په اړه سختې نیوکې وکړې او په دې توګه د بېلابېلو کسبونو خاوندانو نه یوازې بېلابېل مزدونه ترلاسه کول، بلکې ترڅنګ یې یو امتیازي سیستم هم رامنځته شو. دا د زده

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



کړې لپاره له تجربو ډک يو عمل و. د متمرکزې پلان جوړونې له مخې به معمولا د هرې فابريکې لپاره د توليد کچه ټاکل شوې وه، خو ځيني وخت به پر دغو پلانونو بيا کتنه هم کېده. له ۱۹۳۰ کال وروسته د فابريکو هغو کارګرانو مياشتنی امتياز يا بونېس ترلاسه کولای شوای، چې ټاکلی هدف يې پوره کړی و. دا د لوړې کچې مديرانو او انجينيرانو له ۳۷ سلنه مزد څخه يو څه ډېر و. د امتيازونو په ورکړه کې دا ډول توپيرونه د ټکنالوژيکي بدلونونو لپاره د کاري انګېزو د وژنې لامل کېده. مثلا؛ د يوه نوښت يا پنځونې لپاره بايد د توليد په جريان کې کارېدونکې منابع لرې کړل شوې وای، چې دغه کار نه يوازې د توليد لپاره د ټاکل شوي هدف مخه نيوله، ترڅنګ يې کارګرانو ته د امتياز يا بونېس د نه ورکول کېدو لامل هم کېده. د يو بل مثال په توګه، د توليد لپاره نوی هدف به معمولاً د تېر توليد په اندازه ټاکل کېده، دې کار به يوه ستره انګېزه رامنځته کوله چې توليد هېڅکله پراخ نه شي، ځکه چې دغه کار په راتلونکې کې ډېر توليد ته لار هواروله او کولای يې شول چې د توليد هدف څو ځله لوړ کړي. د کارګرانو لپاره ټاکل شوي هدف ته د رسېدو او د اميتاز د ترلاسه کولو اسانه لار په کارونو کې ناغېړي کول و. مياشتني امتيازات د دې لامل شوي وو، چې ټول پر موجوده وضعيت بسنه او تمرکز وکړي، په داسې حال کې چې د نوښت پرمټ د سبا ګټې لپاره نن بايد قرباني ورکړل شي. دا چې مياشتني امتيازات او انګېزې د سلوک د بدلون په برخه کې اغېزناک و، نو دې چارې نورې ستونزې وزېږولې. مرکزي پلان جوړونه پر هغه څه عوض کول چې د اتلسمې پېړۍ ستر اقتصاد پوه ادم سمېت يې د بازار «پټ لاسونه» بولي، هم

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



بې ګټه کار و. کله چې پلان په ټولو اوسپنیزو ورقو کې لیکل کېږي، نو له شک پرته چې ډېر وزن به لري. په ۱۹۴۰ مه لسیزه کې، که د شوروي اتحاد لوېدیځوال مینان خبر نه وو، خو د شوروي مشران په دې حقیقت ښه پوهېدل. د شوروي مشرانو داسې ګڼله چې ګنې د تخنیکي ستونزو له امله رامنځته شوی وضعیت د کابو کولو دی. د بېلګې په توګه، هغوی د ټاکل شوي تولیدي هدف پر اساس امتیازات لغوه کړل او شرکتونو ته یې اجازه ورکړه چې د امتیازاتو د ورکړې لپاره د خپلو ګټو له یوې برخې تېر شي، خو دواړو سیستمونو ونه شوای کولای چې نوښتونه تشویق کړي. د ګټې د محاسبې لپاره د قیمتونو سیستم د نوښتونو او ټکنالوژۍ له ارزښتونو سره هېڅ اړیکه نه لرله. د بازار اقتصاد خلاف، په شوروي کې د توکو بیې د دولت له لوري ټاکل کېدې چې له همدې امله یې د خدمتونو او توکو له ارزښت سره بې معنا اړیکه درلوده. د نوښتونو د هڅونې په موخه، شوروي په ۱۹۴۶ کال کې د امتیازونو د ورکړې یو بل پروګرام معرفي کړ. سره له دې چې د ۱۹۱۸ کال قوانینو له مخې نوښتګر یا پنځوونکي اشخاص باید په نغدي مکافاتو ستایل شوي وای، خو دا مکافات ډېر لږ او د نوې ټکنالوژۍ په تناسب له نشت سره حساب و، خو دا مقرره په ۱۹۵٦ کال کې نوې شوه او امر وشو چې امتیازات باید له نوښت سره متناسب وي. دا چې د تولید ګټه د قیمتونو سیستم له مخې محاسبه کېده، نو دا هم د نوښتونو د تشویق لپاره چنداني ګټور کار ثابت نه شو. ددې ګمراه کوونکې طرحې ډېر مثالونه وړاندې کولای شو. د مثال په توګه، نوښتونو ته د ځانګړې شوې بودیجې کچه د شرکت د پانګې په کچې پورې محدوده وه. دا چاره د نوښتونو د رامنځته کولو انګېزه چې کولای شي د کار په قوه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



کې سپما رامنځته کړي، په چټکۍ سره کموي. د دې ډول سیستمونو او طرحو د رامنځته کولو موخه دا وه چې د نظام پر نیمګړتیاوو او ستونزو پرده واچوي. تر هغې چې واک او ځواک د کمونیست ګوند په لاس کې و، شونې نه وه چې کار ته د خلکو په انګېزه بنسټیز بدلون راوستل شي.

د هغو کارګرانو لپاره چې په کارونو کې یې ناغېړي کوله، د جزایي قوانینو یوه ټولګه جوړه شوه. د مثال په توګه، له کار څخه د تېښتې د مخنیوي په موخه په ۱۹۶۰ کال کې ځانګړی قانون جوړ شو، چې له مخې یې هغه کسان چې ۲۵ دقیقې غیر حاضر او یا به یې وخت ضایع کاوه، جزا یې شپږ میاشتې سخت کار او ۲۵ سلنه کسر معاش و. دا ډول ډېرې جزاګانې تعین او پلې شوې. د ۱۹۴۰ او ۱۹۵۵ کلونو ترمنځ څه باندې ۳۶ میلیونه وګړي چې د ټول نفوس یو پر درېیمه برخه یې جوړوله، په کار کې د سرغړونو له امله پر بېلابېلو جزاګانو محکوم شوي وو، له دې ډلې یوازې ۱۵ میلیونه یې زنداني او ۱۳ زره نور پر ګولیو ووژل شول. هر کال یو میلیون لویان د کاري سرغړونو له امله زندان ته اچول کېدل. ۲،۵ میلیونه نور خلک چې ستالین د جبري کار لپاره سایبریا ته تبعید کړي وو، په دې ډله کې نه دي شمېرل شوي. په دې توګه د کمونیست ګوند هېڅ تګلاره کارنده نه وه. کېدای شي یو څوک په مرګ د ګواښولو او زنداني کولو له لارې کار ته په ورتګ مجبور کړو، خو د زړه له تله کار او په خپل کار کې نوښت ته یې نه شوای مجبورولی. دغه ډول جبر کېدای شي په باربادوس او جامیکا کې د بورې د تولید په زیاتوالي کې مرسته کړې وي، خو په یوه موډرن اقتصاد کې د انګېزې نه شتون نه شي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



جبرانولی. دا چې د یوې متمرکزې پلان جوړونې اقتصادي نظام کې ولې هڅوونکې انګېزه نه وه، لامل یې د امتیازاتو په سیستم کې تخنیکي ستونزې نه وې، بلکې زېښبونکي بنسټونه وو چې د ربښتینې ودې مخه یې نیوله. د حکومت تر کنټرول او څارنې لاندې اقتصادي وده کولای شي چې لومړنۍ اقتصادي ستونزې هوارې کړي، خو تلپاتې اقتصادي ودې ته د رسېدو لپاره خلک باید خپلې وړتیاوې او مفکورې په کار واچوي، خو د شوروي په اقتصادي نظام کې ددې شونتیا نه وه. د شوروي اتحاد مشرانو زېښبونکي اقتصادي بنسټونه باید له منځه وړي وای، خو دې کار یې سیاسي واک له خطر سره مخ کاوه. کله چې میخایل ګورباچوف په ۱۹۸۷ کال کې د زېښبونکو بنسټونو د له منځه وړلو هڅې پیل کړې، د کمونېست ګوند واک او شوروي اتحاد دواړه وپاشل شول. شوروي اتحاد د زېښبونکو بنسټونو پرمټ په لومړیو کې چټکه اقتصادي وده تجربه کړه، ځکه چې بلشویکانو یو پیاوړی مرکزي دولت جوړ کړی و او د هغه پرمټ یې د صنعت لپاره د سرچینو په برابرولو کې کار واخیست، خو له دې کبله چې شوروي د نورو هېوادونو په څېر ټکنالوژي له پامه غورځولې وه، اقتصادي وده یې دوامداره نه وه. وده په لومړي سر کې پخه او وروسته چورلټ ودرېده. دا عجولانه وده په عین حال کې څرګندوي چې زېښبونکي بنسټونه د اقتصادي فعالیتونو په هڅونه کې څه ډول کردار لوبولی شي.

د تاریخ په اوږدو کې زیاتره هغه ټولنې چې د زېښبونکو بنسټونو له لوري اداره شوې دي او په هېواد کې یې څه ناڅه نظم ټینګ کړی، ان د محدودې ودې مزه یې هم نه ده څکلې. په حقیقت کې د تاریخ د حساسو مقطعو یوه ځانګړنه هغه نوښتونه وو چې زېښبونکي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



بنسټونه یې پیاوړي کول او له زېښناک څخه د ګټې اخیستنې په برخه کې یې د یوې ځانګړې ډلې واک و ځواک ډېرول. د دې څپرکي په پیل کې به لومړی د بنسټي نوښتونو پر ماهیت چې د دولت د مرکزیت کچه ممکنه او د زېبښونکو بنسټونو په اډانه کې ودې ته زمینه برابروي، بحث وکړو، وروسته به روښانه کړو چې څنګه دا ایډیاوې د نوې ډېرې انقلاب په پوهېدو کې له موږ سره مرسته کوي، ځکه چې دا انقلاب کرنې ته د ورتګ یوه برخلیک ټاکونکې پروسه وه او زموږ د ننني تمدن ډېرې برخې یې بنا کړې دي. موږ به د مایا دولت-ښارونو د مثال په وړاندې کولو سره وښیو چې تر زېبښونکو بنسټونو لاندې وده محدوده ده، دا نه یوازې د ټکنالوژیکي نوښتونو د نشتوالي له امله، بلکې د هغو ډلو د خپلمنځي شخړو له کبله چې غواړي پر واک او سرچینو کنټرول ترلاسه کړي. په دې ډول به دا څپرکی پای ته ورسوو.

## د کاسای پر غاړو

د کانګو سیند یو لوی مرستیال یا څانګه د کاسای سیند دی، چې له انګولا څخه سرچینه اخلي او شمال لور ته په بهېدو سره، د کینشاسا په شمال ختیځ کې د کانګو اوسني ډیموکراټیک جمهوریت پلازمېنې ته رسېږي. کانګو د نړۍ ډېر بېوزله هېواد دی، دلته د اقتصادي هوساینې په برخه کې د خلکو ترمنځ همېشنۍ نابرابري حاکمه ده. کاسای سیند په دې هېواد کې د دوو پاړکیو یعنې د شتمنو او بېوزلو ترمنځ د بېلتون کرښه ده. کانګو ته په رسېدو سره د ختیځې تراړې په اوږدو کې په «بوشونګ» سیمه کې د «لې لې» په نوم یوه ډله خلک ژوند کوي. [شپږم نمبر نقشه]

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



د دوی په لیدو سره به په کانګو کې د دوو ډلو ترمنځ له اقتصادي پلوه لږ توپیر تر سترګو شي. دوی یوازې د یوه سیند په واسطه له یو بله جلا شوي دي چې د یوې کوچنۍ کښتۍ له لارې د سیند دواړو غاړو ته تګ راتګ کولای شي. دا دوه قبیلې ګډه ژبه او ګډه قومي ریښه لري. پر دې سربېره، ډېر شیان لکه کورونه، جامې او لاسي صنایع یې سره ورته دي. خو کله چې ارکیا لوجیست یا لرغون پېژندونکي ماري ډاګلاس «Mary Douglas» او تاریخ پوه جان واسینا «Jan Vansina» په ۱۹۵۰ مه لسیزه کې د دوی په اړه څېړنې وکړې، ترمنځ یې هیښوونکي توپیرونه په ډاګه کړل. ډاګلاس لیکي: «لې لیان بېوزله، خو بوشونګان شتمن دي...هغه څه چې لې لیان لري او یا غواړي ترسره یې کړي، د هغې په پرتله څو چنده زیات یې بوشونګان لري او په ښه توګه یې ترسره کولای شي.» د دې نابرابرۍ لامل ډېره ساده و. یو عمده توپیر – چې په پیرو کې د پوتسي میتا نظام رایادوي- دا و، چې لې لیانو یوازې د ځان لپاره خواړه او توکي برابرول، په داسې حال کې چې بوشونګانو بازار ته د خرڅلاو لپاره هم تولیدول. ډاګلاس او وانسینا همدا راز ومونده چې لې لیان ډېره ناکاره ټکنالوژي استعمالوي. د بېلګې په توګه، هغوی د ښکار کولو لپاره له لومې څخه استفاده نه کوله، په داسې حال کې چې دا ډېره ګټوره وسیله وه. د ډاګلاس په باور:«د ښکار لپاره د لومې نه کارول د لې لې خلکو شوق او لېوالتیا څرګندوي، ځکه چې دوی د وخت سپما او د دوامداره کاري وسایلو شتون نه غواړي.»
همدارنګه د یادو قبیلو ترمنځ د کرنیزې ټکنالوژۍ او نظم په برخه کې د پاموړ توپیرونه موجود وو: بوشنګانو د کښت یو داسې سیستم درلود چې د کال په دوو فصلونو کې به یې له خپلو ځمکو پنځه ډوله

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



محصولات راټولول. هغوی د کچالو بېلابېل ډولونه، حبوبات او لوبیا کرل او په کال کې به یې د جوارو دوه یا درې فصله محصولات ترلاسه کول. د نظم او قانون له پلوه هم د سیند دواړه غاړې ډېرې متفاوتې وې. لې لیان په بندو کلیو کې اوسېدل، چې ترمنځ به یې دوامداره شخړې وې. که چا به د دوه کلیو ترمنځ سفر کاوه او یا به د خوړو پیدا کولو لپاره ځنګل تلل، حمله پرې کېده او یا تښتول کېده. خو د بوشنګانو په سیمه کې دا ډول پېښې ډېرې کمې وې. د دواړو قومونو ترمنځ د تولید، کرنیزې ټکنالوژۍ او نظم په برخه کې د شته توپیرونو راز په څه کې دی؟

دا هېڅ امکان نه لري چې ګنې د لې لې خلک د جغرافیوي موقعیت له کبله په ښکار او کښت کې ناکاره ټکنالوژي کاروي. ناپوهي هم نه وه، ځکه چې دوی د بوشنګانو له لوري له کارول کېدونکې ټکنالوژۍ سره اشنا وو. که د کلتور خبره وي، نو ایا دا کلتور و، چې لې لیان یې د ښکار لپاره د دام کارولو او د ښکلو او کلکو کورونو جوړولو ته نه هڅول؟ دا هم دلیل نه شي کېدای. لېلیانو د کانګو د نورو وګړو په څېر د ټوپک اخیستو سره علاقه لرله او ان ډاګلاس هم دې موضوع ته اشارې کړې ده:«له وسلې سره د هغوی لېوالتیا څرګندوله چې کلتور یې د نوې ټکنالوژۍ مخالف نه و.»

نو په دې توګه د ټکنالوژۍ په اړه نه کلتوري محدودیتونه، نه ناپوهي او نه هم جغرافیه کولای شي چې د دواړو قبیلو ترمنځ اقتصادي توپیرونه واضح کړي. د دواړو قبیلو ترمنځ د توپیر اصلي عامل د سیاسي بنسټونو تفاوت دی. مخکې مو یادونه وکړه چې لېلیان په مورچل ډوله کلیو کې اوسېدل او واحد سیاسي جوړښت یې نه

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



درلود، خو د سیند بلې غاړې ته وضعیت بل ډول و. په ۱۶۲۰ کال کې د «شیام» په نوم د یوه کس په مشرۍ سیاسي انقلاب راوټوکېد چې دا انقلاب د کیوبا پاچاهۍ په رامنځته کېدو تمام شو. (۶ مه نقشه وګورئ). شیام په خپله پاچا و او بوشنګان د دې پاچاهۍ په زړه کې پراته وو. تر دې دمه د لېلیانو او بوشنګانو ترمنځ توپیر ډېر لږ و، خو د سیند د ختیځ او لوېدیځ ترمنځ ژور توپیرونه هغه مهال راڅرګند شول، کله چې شیام د خپلې سیمې د مدیریت لپاره نوې تګلاره غوره کړه، هغه یو دولت او د سیاسي بنسټونو یو هرم رامنځته کړل، هغه نه یوازې تر پخوا یو قوي متمرکز نظام جوړ کړ، بلکې ډېر دقیق اداري جوړښتونه یې رامنځته کړل. شیام او د هغه ځایناستو د مالیاتو د زیاتولو او د قوانینو د پلي کولو لپاره سیستمونه او پولیس رامنځته کړل. هغه مشران چې له پرېکړو مخکې باید ورسره مشوره شوې وای، د شوراګانو له لوري به څارل کېدل. دلته له منصفه پلاوي جوړه محکمه هم موجوده وه چې دا تر استعمار مخکې د افریقا جنوبي صحرا په سیمه کې د تاریخ نادره پېښه ده. خو له دې ټولو ځانګړنو سره سره، د شیام حکومت د استثمار وسیله او په لوړه کچه مستبد و. هغه د خلکو په رایه انتخاب شوی نه و. د حکومت پالیسۍ د خلکو له مشارکت پرته له پاسه په یو اړخیز ډول عملي کېدې.

دغه سیاسي انقلاب په کیوبا کې یو متمرکز دولت، قانون او نظم رامنځته کړ، چې وروسته یې بیا اقتصادي انقلاب ته لار پرانېسته، کرنې ته یې نوې ساه ورکړه او د تولید د زیاتوالي لپاره نوې ټکنالوژي وکارول شوه. د پخوانیو کنبتونو ځای د امریکا لویې وچې

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



څخه رالېږدول شویو هغو کښتونو ونیوه چې ډېر حاصلات یې ورکول، لکه کچالو، جوار او سره مرچ.
په دې وخت کې د ترکیبي کښت سایکل هم ترویج شو او د سرې سر خوراکي توکو د تولید کچه دوه برابره شوه، د دې محصولاتو د کښت او د کرنې سایکل د بیا تنظیم په موخه بشري قوې ته اړتیا وه، له همدې امله د واده کولو قانوني سن ۲۰ کلنۍ ته راټیټ شو چې دا کار په کرنه کې د نارینه وو د بوختیا سبب کېده. په دې برخه هم کې د دواړو قبیلو ترمنځ د پاموړ توپیر و. لېلیانو غوره ګڼله چې په پنځه دېرش کلنۍ کې واده وکړي، ځکه تر دې مخکې به په جګړو کې مصروف و. د سیاسي او اقتصادي انقلابونو ترمنځ اړیکه ساده وه. پاچا شیام او د هغه پلویانو غوښتل چې له کیوبایانو مالیات او شتمنۍ ترلاسه کړي. سره له دې چې شیام او د هغه ملګرو په ختیځ کاسای کې پرانیستي بنسټونه جوړ نه کړل، خو موجوده زېښښونکو بنسټونو په طبیعي ډول یوه اندازه اقتصادي هوساینه رامنځته کړه، چې دغه وضعیت تر یوه بریده سیاسي مرکزیت او نظم حاکم کړی و. البته شیام او ډله یې د اقتصادي فعالیتونو هڅولو ته لېواله وو، ځکه چې له دې پرته هغوی ته د استثمار لپاره بل څه په لاس نه ورتلل. شیام عین د ستالین په شان د حکومت تر کنټرول لاندې د بنسټونو یوه ټولګه جوړه کړه چې د هغه د دولت د بقا لپاره یې ثروت تولیداوه. د کاساس د بلې څنډې په پرتله چې نظم او قانون پکې نه و، د دې ثروت؛ حتی که یوه لویه برخه د شیام او واکمنې طبقې له لوري ترلاسه کېدلی، نو د پاموړ اقتصادي هوساینه یې رامنځته کولای شوه، خو دا بریالیتوب محدود و. د کیوبا پاچاهۍ کې هم د شوروي په

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



څېر له لومړنيو بدلونونو وروسته، نور هېڅ ډول خلاق تخريب او ټکنالوژيکي نوښتونه رامنځته نه شول. دې وضعيت د کيوبا او د بلجيم استعماري چارواکو ترمنځ د نولسمې پېړۍ په وروستيو کې د لومړني ټکر تر وخته پورې دوام وکړ. د شيام حکومت ښيي چې د زېېښونکو بنسټونو تر چتر لاندې محدوده اقتصادي وده څنګه ترلاسه کېداى شي. د مرکزي دولت د جوړولو لپاره غالبا چې يوه سياسي انقلاب ته اړتيا ده. کله چې شيام د مرکزي دولت په جوړولو بريالى شو، له خپل واک څخه په استفادې يې اقتصادي چارې تنظيم کړې او له خلکو يې په ډاډه زړه ماليات راټولول. ولې دا انقلاب بوشونګانو وکړ، نه لېليانو؟ ايا ممکنه نه وه چې لېليانو هم يو شيام لرلى؟

هغه څه چې شيام ترسره کړل، د بنسټونو نوښت و چې له جغرافيې، کلتور يا ناپوهۍ سره هېڅ تړاو نه لري. لېليانو هم کولاى شول چې ورته انقلاب او د بنسټي بدلون په لور حرکت وکړي، خو ويې نه کړ، ښايي د دې لامل دا وي چې د ټولنې په اړه د لږې پوهې له امله مو ځان نه وي پوه کړى. په ډېر احتمال سره چې لامل يې د تاريخ نا اټکل شوې پېښې دي. ښايي دولس سوه کاله مخکې هم هغه وخت چې په منځني ختيځ کې ځينو ټولنو د بنسټي نوښتونو په لور حرکت پيل کړ او دا کار وروسته د خلکو د مېشتېدنې او د څارويو او بوټو د اهلي کولو لامل شو، د تاريخ ورته نااټکل شوى بهير پيل شوى و.

## اوږد اوړى

Long summer

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



له میلاد څخه شاوخوا پنځلس زره کاله مخکې د اقلیم تودېدو د کنګل عصر ته د پای ټکی کېښود. د ګرینلنډ له یخي هستو څخه ترلاسه شوي معلومات ښیي، چې په یوه لنډ وخت کې د ځمکې تودوخه د سانتي ګریډ ۱۵ درجو ته پورته شوه. ښکاري چې د هوا تودوخې د نفوس له ډېروالي سره مرسته وکړه، ځکه چې د ځمکې ګرمښت د حیواناتو او نباتاتو ډېروالی له ځان سره درلود. له میلاده شاوخوا ۱۴ زره کاله مخکې د اقلیم بیا بدلون چې د « Younger Dryas» په نامه یادېږي، بېرته په چټکۍ معکوس حرکت پیل کړ او هوا سړه شوه، خو له میلاد څخه مخکې په ۹٦۰۰ کال کې د ځمکې تودوخه د یوې لسیزې په ترځ کې د سانتي ګرېډ تر اووه درجو پورته لاړه او په همدې حالت کې پاتې شوه. لرغونپوه بریان فاګان دغه عصر د اوږده اوړي[1] په نوم یادوي. د هوا ګرمېدل د تاریخ هغه حساسه مقطعه وه چې د نوې ډبرې انقلاب ته یې زمینه برابره کړه. دا انقلاب سبب شو چې انسان ګډ ژوند، کرنې او مالدارۍ ته مخه کړي. دا او د نړۍ په تاریخ کې راوروسته پېښې ټولې د همدې اوږده اوړي په جریان کې پېښې شوې دي. د کرنې او مالدرای او پر ښکار او نباتاتو ټولولو ولاړ ژوند ترمنځ مهم توپیرونه وجود لري. لومړی د کرنې او مالدارۍ عصر د حیواناتو او نباتاتو پر اهلي کولو ولاړ دی، څو په دې توګه د هغوی د ژوند په سایکل یا څرخ کې فعال رول ولوبوي او په جنیټکي بدلون سره یې د بشر لپاره د لا استفادې وړ وګرځوي. اهلي کونه، یو ټکنالوژیکي بدلون دی چې انسان ته د خوړو د تولید لپاره له موجوده نباتاتو او حیواناتو څخه د

[1] Long Summer

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



ښې استفادې فرصت په لاس ورکوي. د بېلګې په توګه، د جوارو اهلي کول هغه وخت پیل شول کله چې انسانانو د تیوسینټ «teosinte» وحشي بوټي چې د جوارو مور بوټي بلل کېږي، وکاراوه. د تیوسینټ وړې ډېر لنډ و او ډېرو لږو به یې څو سانتي متره لوړ قد کاوه، خو بشر ورو -ورو د تیوسینټ د غټو او نه رژېدونکو وږو په غوره کولو سره، د جوارو نوی نسل په لاس راووړ، هغه بوټي چې په یوه ټوټه ځمکه کې یې تر پخوا ډېر حاصلات ورکول. لومړني شواهد ښيي چې د کرنې، مالدارۍ او د وحشي نباتاتو او حیواناتو د اهلي کولو پروسه په منځني ختیځ کې پیل شوه. دا شواهد په ځانګړې توګه له زرغون هلال[1] سیمې څخه ترلاسه شوي چې د اوسني اسرایل له سوېل څخه تر فلسطین او بیا د اردن سیند تر لوېدیځې څنډې، له سوریې څخه د ترکیې تر سوېل ختیځ پورې، د عراق شمالي او د ایران لوېدیځې سیمې په ځان کې رانغاړي. له میلاده شاوخوا ۹۵۰۰ کاله مخکې په لومړي ځل د غنمو او اوربشو دوه بوټي د اردون سیند په لوېدیځه څنډه جریکو «Jericho» کې او همدارنګه نخود او دال د سوریې د شمال په «الاسود» سیمه کې وموندل شول. دا دواړه سیمې د ناتوفیان په فرهنګي حوزه کې شاملې وې او دواړو سترې سیمې په ځان کې رانغاړلې وې. په جریکو کې هغه وخت په اټکلي ډول شاوخوا ۵۰۰ کسانو ژوند کاوه. ولې په لومړي ځل هغه کلي او ټولنې چې کرنه یې ترویج کړه، دلته رامنځته شول، نه د نړۍ په بل ځای کې؟ ولې نخود او دال په لومړي ځل ناتوفیانو اهلي کړل، نه نورو قومونو؟ ایا دا د

[1] Hilly flanks

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



بخت مسئله وه او په تصادفي ډول په داسې ځای کې مېشت شوي وو چې هلته د اهلي کولو لپاره ډېرې بالقوه سرچینې موجودې وې؟ دا خبره سمه ده، خو دا ډول خلک هم وو چې د وحشي نباتاتو د اهلي کولو لپاره یې هېڅ ونه کړل. لکه څرنګه چې په ۴ مه او ۵ مه نقشه کې ولیدل شول، لرغونپوهانو او جنتیک پوهانو د اهلي شویو نباتاتو او حیواناتو د پیدایښت په اړه څېړنې کړې دي. په دې څېړنو کې په ډاګه شوې چې اوسني اهلي شوي حیوانات او نباتات د میلیونونو کیلومترو په مساحت د نړۍ په بېلابېلو برخو کې موجود و. د حیواناتو لومړني وحشي ډولونه په ټوله ایرویشیا سیمه کې موجود و. سره له دې چې زرغون هلال سیمه د وحشي نباتاتو له بېلابېلو ډولونو ډکه وه، خو هغه یوازې نه وه. هغه نباتات چې د ناتوفیانو په سیمه کې پیدا کېدل، یوازې تر همدې سیمې پورې محدود نه و. یاد قوم مخکې له دې چې د حیواناتو او نباتاتو اهلي کولو ته مخه کړي، لومړی یې ګډ ژوند پیل کړ. په دې اړه شته شواهد د ناتوفیانو له لوري د ښکار شوې هوسۍ په غاښونو کې د «cementum» په نوم یو کلک هډوکی دی. دا هډوکي ته ورته ماده ده چې د لایې په بڼه وده کوي. د پسرلي او اوړي په موسمونو کې سېمنټوم ډېره وده کوي او د هغې لایې رنګ چې د ژمي په موسم کې یې وده کړې، د هغې لایې له رنګ سره توپیر لري چې په اوړي کې یې کوي. د غاښونو د برس کولو په واسطه کولای شو چې د وروستۍ لایې رنګ چې د هوسۍ تر مرګ مخکې جوړه شوې وه، مشخص کړو. په دې ډول معلومېږي چې هوسۍ په ژمي کې مړه شوې او که په اوړي کې. د ناتوفیانو په سیمه کې هوسۍ په ټولو فصلونو کې ښکار شوې دي. دا

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



ښيي چې په دې سيمه کې دايمي هستوګنه شوې ده. د فرات سيند په غاړه د ابوهريره کلی د ناتوفيانو يو هستوګنځی و، چې په اړه يې تر ټولو سخته او ژوره څېړنه شوې ده. لرغونپوهانو د دې سيمې په اړه څلوېښت کاله څېړنه وکړه او د دې څېړنې په پايله کې په ډاګه شوه چې د نوې ډبرې انقلاب په نتيجه کې د کرنې په عصر کې دلته انسانانو ګډ ژوند کړی دی. ګډ اوسېدل ممکن له ميلاد څخه ۹۵۰۰ کاله پخوا پيل شوي وي او د دې کلي يا سيمې اوسېدونکي احتمالاً کرنې له ورتګ وړاندې له ګډ ژوند وروسته هم پنځه سوه کاله ښکاري ژوند درلود. د لرغونپوهانو د اټکل له مخې کرنې ته تر ورتګ مخکې په دې سيمه کې د ۱۰۰ -۳۰۰ تنو په شاخوا کې کسان مېشت وو.

تاسو کولای شئ، په دې اړه چې ولې ټولنو ګډ ژوند ته مخه کړه، بېلابېل دلايل وړاندې کړئ. حرکت بيه لري. ماشومان او لويان بايد ولېږدول شي او کله چې په اوږده سفر خوځېږئ، نو ممکنه نه ده چې د خوراکي توکو ذخيره مو خلاصه نه شي. پردې سربېره، د ژرندې د پل او لور په څېر وسايلو لېږد چې د وحشي نباتاتو او حيواناتو د چمتو کولو لپاره اړين ګڼل کېږي، اسانه خبره نه ده. شواهد ښيي چې په ښکار تغذيه کېدونکې ټولنې به له يوه ځايه بل ته د کوچېدو پرمهال خپل خوراکي مواد په سوريو کې انبارول. د جوارو يوه ځانګړنه دا ده چې په ډېره ښه توګه ذخيره کېږي او همدا لامل دی چې کښت يې د امريکا په لويه وچه کې په پراخه پيمانه رواج وموند. د خوړو دغه ذخيره کول ښايي د ګډ ژوند لپاره يوه ښه انګېزه وي. ښايي ټول په دې خوښ وي چې ګډ ژوند وکړي، خو دا په دې معنا نه ده چې خامخا به داسې کېږي. د دې کار لپاره د ټولو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



خواوو توافق شرط دی. ځینو لرغونپوهانو د نفوسو د ډېروالي او د ژوند د معیارونو د کموالي لامل ګډ ژوند بللی دی، خو د ناتوفیانو په کلیو کې د نفوسو ډېرښت د پخوانیو هغو په پرتله ډېر نه دی. نو ویلی شو چې د دې ادعا د اثبات لپاره کوم سند نشته. کشف شوي هډوکي او غاښونه هم ښیي چې هغوی د روغتیا او سلامتیا له پلوه کومه ستونزه نه لرله. مثلاً؛ د خوړو د کمښت له امله د انسان د غاښونو پر مینا نرۍ کرښې راڅرګندېږي چې هایپوپلاسیا یې بولي. دا ډول نښې د ناتوفیانو په نسبت له هغوی په راوروسته قومونو کې ډېرې لیدل کېږي. که څه هم ګډ ژوند ګڼې ښېګڼې لري، خو بدګڼې هم لري. د ګډ مېشته انسانانو ترمنځ د شخړو هواری یوه ستونزمنه مسئله وه. کله چې انسانانو د هستوګنې لپاره ودانۍ جوړې کړې او غیر منقوله شتمنۍ یې پیدا کړه، نورو سیمو ته کوچېدو خپل جذابیت یا راښکون له لاسه ورکړ. په دې توګه، کلیو د شخړو د هواري او د شتمنیو د تنظیم په برخه کې اغېزناکو قوانینو او مقرراتو ته اړتیا لرله. د مقرراتو له مخې پرېکړه باید په دې ډول شوې وای چې کلي ته څېرمه کرنیزې ځمکې ته نږدې څوک موقعیت لري، څوک د ونې کوم ډول مېوې ته لاسرسی لري او څوک د سیند په کومه برخه کې کبان نیولی شي. قوانین او د قوانینو د عملي کولو بنسټونه باید رامنځته شوي وای. نو دا یقیني خبره ده چې پر ښکار تغذیه کېدونکو قومونو باید ګډ ژوند غوره کړی وای، دا د بنسټونو په برخه کې یو نوښت دی چې واک د یوې ډلې په لاس کې متمرکز کوي او دا ډله ښايي په ټولنه کې پر واکمن سیاسي پاړکي بدله شي، د مالکیت حقوق پلي او نظم ټینګ کړي او همدارنګه په ټولنه کې د شته سرچینو له استثمار

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



ځخه برخمن شي. په حقیقت کې یوه سیاسي انقلاب، لکه څرنګه چې پاچا شیام پیل کړی و، د ګډ ژوند لپاره زمینه برابره کړه.

د لرغونپوهنې شواهد ښيي چې ناتوفیان یوه پېچلې ټولنه وه چې کرنې ته له ورتګ کلونه وړاندې یې له سلسه مراتبو، نظم او نابرابرۍ سره اشنايي درلوده. هغه مستند شواهد چې په ناتوفیاني ټولنه کې سلسله مراتب او نابرابري تاییدوي، د هغوی له قبرونو ځخه لاسته راغلي دي. دوی خپل یو شمېر مړي په قبرونو کې د اوبسیدیان obsidian په نامه له تور رنګه ځلېدونکو ډبرو او د ډینټالیم dentalium مرغلرو سره چې د مدیترانې د ساحلي سیمو له مونټ کارمېل څخه ترلاسه کېدل، ښخ کړي دي. له دوی سره د تزیني توکو نور بېلابېل ډولونه لکه غاړکۍ، جرابې او لاسبند چې د سپي له غاښونو او د هوسۍ د پنجې له هډوکي جوړ شوي وو، ښخ شوي. خو له نورو مړو سره دا ډول شیان ښخ شوي نه وو. مرغلرې او اوبسیدیان ډبرې په تجارت کې کارول کېدې او په دې تجارت کې ښکېلتیا ښايي د قدرت او نابرابرۍ یوه مهمه سرچینه وه. د سیاسي او اقتصادي نابرابرۍ په اړه ډېر شواهد د ناتوفیان سیمې له «عین ملاحا» څخه ترلاسه شوي دي چې د اوسني فلسطین د جلیلیه سیند په شمال کې موقعیت لري. د شاوخوا پنځوسو کوډلو او کندو په ډله کې چې د توکو د زېرمه کولو لپاره کارېدل، له ګچو جوړه یوه ودانۍ ښکاري، چې په منځنۍ برخه کې موقعیت لري. دا ودانۍ ښايي د کوم مشر کور و. په دې لرغونې سیمه کې د شته قبرونو په ډله کې یو شمېر یې د ډېرو جزییاتو لرونکي دي. دلته همدارنګه د جمجمې د عبادت مراسمو په اړه شواهد شته چې ښايي د نیکونو د عبادت نښه وي. دا ډول مراسم په ځانګړې توګه په جیریچو کې دود و. د ناتوفیان مېشت

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



ځایونو په اړه کره شواهد ښيي چې دا یوه پخوانۍ ټولنه وه چې حساس بنسټونه یې لرل او له واکمن پاړکي څخه نورو ته په میراث پاتې وو. دوی په لرې سیمو کې تجارت کاوه او د مذهب او سیاسي سلسله مراتبو ابتدایي جوړښت یې درلود. ډېر احتمال لري چې د واکمنې ډلې یا سیاسي نخبگانو پیدایښت لومړی ګډ ژوند او بیا کرنې ته د ورتګ لامل شوي وي. لکه څرنګه چې د ناتوفیانو له سیمو څخه څرګندېږي، ګډ ژوند یوازې د کرنې او مالدارۍ په معنا نه و. ځینو کسانو کولای شول چې ګډ ژوند وکړي، خو لا یې هم ښکاري ژوند او د وحشي نباتاتو ټولولو ته دوام ورکاوه. په هر حال، اوږد اوړي وحشي نباتاتو، محصولاتو او ښکار ته جذابیت ور بخښلی و. ډېری خلک ښایي د «وخوره او مه مره» له دې ژوند څخه چې ډېره خواري په کې نه وه، راضي و، حتی ټکنالوژیکي نوښتونه د کرنیزو تولیداتو د ډېرښت په معنا نه و. د «یر یورونټ» په نوم په اسټرالیا کې د بومي خلکو د یوې ډلې ترمنځ مروج مهم ټکنالوژیکي نوښتونه لکه تبر د تولید له زیاتوالي سره مرسته ونه کړه، بلکې د لا ډېر استراحت او لټۍ سبب شو. دغې وسیلې د اړتیا وړ خوراکي توکو چمتو کول اسانه کول، خو دې کار ته انګېزه ډېره کمه وه. د نیولیتیک یا نوې ډبرې انقلاب په اړه د جراډ ډیاموند د سنتي نظریې د بحث محوري ټکی دا دی چې هغه بېلابېل ډول وحشي نباتات او حیوانات چې په اسانۍ اهلي کېدای شول، شمېر یې خورا زیات و. له همدې امله ده چې کرنه او مالداري د انسانانو د پام وړ وګرځېده او د هغوی لپاره یې ګډ ژوند کولو ته لار پرانېسته. وروسته له هغه چې انسانانو ګډ ژوند او کرنه پیل کړل، سیاسي او مذهبي سلسله

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



مراتب او پېچلي بنسټونه رامنځته شول. سره له دې چې دا نظریه په پراخه کچه منل شوې ده، له ناتوفیان څخه ترلاسه شوي شواهد په ډاګه کوي چې دا سنتي نظریه د اس شاته د ګاډۍ تړل دي. په انساني ټولنو کې بنسټي بدلونونه د کرنې له دود کېدو مخکې رامنځته شول، چې ښايي دواړه د ګډ ژوند په لور د حرکت دلایل وي. دې چارې بنسټي بدلونونه تقویه او وروسته يې نیولیتیک انقلاب ته زمینه برابره کړه. دا خبره نه یوازې د زرغون هلال په اړه ترسره شویو پراخو مطالعاتو تایید کړې، بلکې د امریکا لویې وچې، د افریقا جنوب صحرا او ختیځې اسیا څخه ترلاسه شوي شواهد هم پرې د تایید مهر لګوي.

کښت ته مخه کولو، نباتي محصولات زیات او په نړۍ کې یې د انسانانو د نفوس له ډېرښت سره د پامور مرسته وکړه. د بېلګې په توګه، د جریکو او ابوهریره سیمې ښيي چې هلته تر نیولیتیک انقلاب وروسته رامنځته شوي کلي تر هغو ډېر ستر دي چې تر دې مخکې موجود و، یعنې هغه وخت چې انسانانو کرنې ته مخه نه وه کړې. پر دې سربېره، د دې انقلاب په بهیر کې ډېر نور پرمختګونه هم شوي دي، هلته حرفوي تخصص پالنه او چټک ټکنالوژیکي پرمختګونه موجود وو او ښايي پېچلي سیاسي او ناانډوله بنسټونه هم رامنځته شوي وي؛ خو دا پېښه چې په یوه ځانګړې سیمه کې رامنځته شوه، له دې سره تړاو نه لري چې ګڼې هلته د حیواناتو او نباتاتو بېلابېل ډولونه موجود وو، بلکې دا د خلکو پرمټ رامنځته شوي سیاسي، ټولنیز او بنسټي نوښتونه وو چې ګډ ژوند او کرنې ته یې زمینه برابره کړه. سره له دې چې اوږد اوړي او د حیواناتو او نباتاتو بېلابېلو ډولونو، انسانانو ته ددې بدلون زمینه برابره کړه، خو د هوا تودېدو دا

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



نه وه مشخصه کړې چې بدلون باید په کومه سیمه کې پیل شوی وای، بلکې دا پېښه له کوچنیو، خو مهمو توپیرونو سره د تاریخ حساسې مقطعې ته د ځواب ویلو لامل شوه. کله چې هوا توده شوه، یو شمېر ټولنو لکه ناتوفیانو د متمرکزو بنسټونو عناصر او سلسله مراتب رامنځته کړل، په داسې حال کې چې دا بنسټونه د اوسنیو دولت-ملتونو په پرتله کوچني او ناچیزه وو. هغوی خپلې ټولنې د بوشونګانو د مشر شیام په څېر منظمې کړې، څو د حیواناتو او نباتاتو څخه له لاسته راغلو ګټو برخمن شي. بې له شکه چې د ټولنې واکمن یا نخبه پاړکي د نویو فرصتونو او سیاسي مرکزیت اصلي ګټه اخیستونکي وو. د نورو سیمو اوسېدونکو چې لږ متفاوت بنسټونه یې لرل، خپل سیاسي مشران پرېښودل چې د سیاسي مرکزیت، ګډ ژوند او پېچلې ټولنې په جوړولو کې د تاریخ له دې حساسې مقطعې څخه ګټه پورته کړي. دا کار بدلون ته لار پرانېزي، هغسې چې مخکې مو یادونه وکړه. په دې موده کې رامنځته شوي بدلونونه د نړۍ ځینو برخو ته وغځېدل او ځینو ته نه. د مثال په توګه، له میلاده شاوخوا ۶۵۰۰ کاله مخکې، کرنه د کډوالو په واسطه له منځني ختیځ څخه اروپا ته ولېږدول شوه. اروپايي بنسټونو د موثریت او پوخوالي له پلوه د نړۍ د نورو سیمو او په ځانګړې توګه د افریقايي بنسټونو په پرتله متفاوته بڼه خپله کړه. په افریقا کې لومړني بنسټونه ډېر متفاوت و او هغه نوښتونه چې د اوږده اوړي په جریان کې په منځني ختیځ کې رامنځته شوي وو، ډېر وروسته افریقا ته ورسېدل او حتی کله چې هلته ورسېدل، ډېره متفاوته بڼه یې اختیار کړه.

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



سره له دې چې د ناتوفیانو بنستیې نوښتونو په ډېر احتمال سره د نیولیتیک یا نوې ډبرې انقلاب ملا ور وتړله، خو د نړۍ تاریخ ته یې کوم څه په میراث پرې نه ښودل او نه یې هم خپلې مورنۍ خاورې (اوسني فسلطین، سوریې او عراق) ته هوساینه ډالۍ کړه. سوریه او فلسطین د نوې نړۍ بېوزله هېوادونه دي او د اسرایلو اقتصادي پرمختګ د هغو یهودیانو د پرمختللي تعلیم او پرمختللې ټکنالوژۍ له برکته دی، چې له دویمې نړیوالې جګړې وروسته دلته مېشت کړل شول. د ناتوفیانو لومړنۍ اقتصادي وده د شوروي اتحاد په څېر دوامداره نه وه، دا وده چې په خپل وخت کې لویه لاسته راوړنه او انقلاب ګڼل کېده، تر زبېښونکو بنسټونو لاندې وده بلل کېږي. پر دې سربېره، په ناتوفیان کې دغې ډول ودې ښايي د زبېښونکو بنسټونو د کنټرول پر سر د ټولنو ترمنځ ژورو درزونو ته لار هواره کړې وای. په دې ډول ټولنو کې هر یو هغه کوي چې له زبېښونکو بنسټونو بل رانسکور او خپله واک ته ورسېږي، خپلمنځي شخړې کله کله یوه واکمنه ډله پر بلې هغې عوض کوله. دې شخړو به همدارنګه ځیني وخت استثمار ځپلې ټولنې او دولتونه ړنګول، هغه برخلیک چې زرګونه کاله مخکې د مایا د مشهور تمدن دولت-ښارونه ورسره مخ شول.

## بې ثباته زبېښناک

کرنه د نړۍ په بېلابېلو برخو کې په جلا- جلا ډول دود شوه. په اوسنۍ مکسیکو کې داسې ټولنې رامنځته شوې وې چې دولتونه او استوګنځایونه یې جوړ کړل او کرنې ته یې مخه کړه. دوی هم په منځني ختیځ کې د ناتوفیانو په څېر د اقتصادي ودې یو حد ته

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



ورسېدل. مایا دولت-ښارونو د مکسیکو د سوېل په بلایز، ګواتیمالا او ختیځ هندوراس کې د ځانګړو زېښبونکو بنسټونو تر سیوري لاندې ظاهراً یو پرمختللی تمدن رامنځته کړ. د مایا تجربه موږ ته نه یوازې دا راښيي چې تر زېښبونکو بنسټونو لاندې اقتصادي وده ممکنه ده، بلکې د دې ډول ودې پر وړاندې اساسي محدودیتونه هم په ګوته کوي: یعنې سیاسي بې ثباتي چې د زېښبونکو بنسټونو پر سر د مختلفو ډلو ترمنځ سیالۍ او شخړې بالاخره دولت او ټولنه د پاشل کېدو پر پوله دروي. په مایا ښارونو کې لومړنۍ اقتصادي وده له میلاد څخه شاوخوا ۵۰۰ کاله مخکې پیل او له میلاد څخه نږدې یوه پېړۍ مخکې له منځه لاړه. وروسته نوی سیاسي جوړښت رامنځته شو او دغه جوړښت  د ۲۵۰ او ۹۰۰ میلادي کلونو ترمنځ د کلاسیک عصر بنسټ کېښود. دا د مایا تمدن او کلتور د غوړېدو او پرمختګ عصر و، خو دا پرمختللی تمدن هم ۶۰۰ کاله وروسته له منځه لاړ. د شپاړسمې پېړۍ په لومړیو کې، کله چې هسپانویان دې سیمې ته ورغلل؛ د مایا سترې لرغونې ماڼۍ او معبدونه لکه «Tikal»، «Palenque» او «Calakmul» تر نولسمې پېړۍ پورې تر ځنګلونو لاندې ناسپړلي او ناکشف شوي پاتې وو. مایا ښارونه هېڅکله د یوې واحدې امپراتورۍ تر قلمرو لاندې رانغلل، که څه هم ځیني ښارونه یې د نورو دولتونو تابع و. دوی معمولا د جګړې پرمهال له یو بل سره همکاري کوله. د یادو ښارونو ترمنځ د اړیکو ټینګولو مهمه وسیله هغه ګډه ژبه وه چې نږدې ۳۱ لغاتونه یې لرل. مایانو یو لیکنی سیستم جوړ کړ او شاوخوا پنځلس زره ډبرلیکونه ترې پاتې دي چې د کلتور، دین او واکمنې طبقې بېلابېل اړخونه په

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



کې بیان شوي دي. هغوی همدارنگه د «اوږدې شمېرنې» په نامه د تاریخونو د ثبت لپاره یو پېچلی کالیز سیستم یا جنتري درلوده. دا جنتري زموږ اوسنۍ هغې سره ډېر ورته والی لري چې له مخې یې کال له یوې ځانگړې نېټې څخه پیلېږي. د مایانو د اوږدې شمېرنې کالیز سیستم له میلاد څخه مخکې له ۳۱۱۴ څخه پیلېږي، خو موږ نه پوهېږو چې مایان په کوم حساب ځان په دې تاریخ پورې چې د دوی له پیدایښت څخه زرگونه کاله پخوا ته ورگرځي، تړي.

مایان ډېر ماهر معماران وو چې سیمنټ یې اختراع کړل. له دوی څخه پاتې شوې ودانۍ او په ډبرلیکونو کې له نېټو سره لیکل شوې پېښې موږ ته د مایا ښارونو د خط سیرونو په اړه مهم معلومات په لاس راکوي. په دې توگه لرغونپوهان کولای شي معلومه کړي چې دلته په کال کې څومره ودانۍ جوړې شوې دي. په ۵۰۰ میلادي کال کې په ډېرو لږو جوړو شویو ځلیو او تاریخي آبدو کې نېټې لیکل شوې دي. مثلاً؛ لس تاریخي ابدات شته چې د اوږدې شمېرنې د ثبت نېټه یې له ۵۱۴ میلادي کال سره سمون خوري. خو دا شمېر وروسته زیاتېږي، په ٦٧٢ کال کې ۲۰ او د اتمې پېړۍ تر نیمایي پورې ۴۰ دا ډول ابدات جوړ شوي وو، خو تر دې وروسته د نېټه لرونکو اثارو شمېر مخ په ځوړ ځي. په نهمه پېړۍ کې په کال کې ۱۰ او په لسمه پېړۍ کې ښخي صفر ته راښکته کېږي. دغه نېټه لرونکي ډبرلیکونه موږ ته په لومړیو کې د مایا ښارونو د پراختیا او بیا د اتمې پېړۍ په وروستیو کې ددې پراختیا د ټکني کېدو یو روښانه انځور وړاندې کوي. د دې نېټو تحلیل له موږ سره د مایا پاچاهانو د نوملړ په بشپړولو کې مرسته کوي. د مایا په کوپان ښار کې چې د اوسني هندوراس لوېدیځه سیمه ده، د «Q. Altar» په نامه یو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



مشهور ځلی وجود لري. په دې ځلي کې د ټولو پاچاهانو نومونه لیکل شوي دي چې پیل یې د «K'inich Yax K'uk' Mo» سلسلې بنسټګر یا د زرغون لمر لومړي پاچا «کیوتزال ماکو» څخه شوی دی. په یاد ځلي کې د لیکل شوې نېټې له مخې موږ پوهېږو چې دغه پاچا په ۴۲۶ میلادي کال کې په کوپان کې واک ته رسېدلی و. د واکمنۍ هغه سلسله چې نوموړي تاسیس کړه، څلور سوه کاله یې پر دغې خاوره حکومت وکړ. د دې پاچا یو شمېر ځایناستو هم د ده په څېر تصویري نومونه لرل. د دیارلسم پاچا په اړه لیکل شوی دېرلیک په «۱۸ سوی یا خرګوش» ژباړل کېږي، له ده وروسته «د لوګي بیزو» او وروسته «د لوګي مرغلره» واک ته رسېږي، کوم چې په ۷۶۳ م کال کې مړ شوی دی. پر ځلی لیکل شوی وروستی نوم د پاچا « Yax Pasaj Chan Yoaat» دی چې د دې سلسلې شپاړسم پاچا ګڼل کېږي او د لوګي مرغلرې پاچا تر مړینې وروسته واک ته رسېدلی و. تر دې وروسته د «Ukit Too» په نامه یوازې یو بل پاچا پېژنو چې د قېمتي ډبرې خدای یې باله او د ځلي په یوه جلا شوې برخه کې یې نوم لیکل شوی دی. له یاکس پاساج څخه وروسته د ودانیو او ځلیو جوړول بند شول او ګومان کېږي چې له دې وروسته به په کمه موده کې دا سلسله پای ته رسېدلې وي. داسې ښکاري چې ممکن «یوکیت ټو» رښتینی پاچا نه بلکې یو دروغجن مدعي و. په کوپان کې د دې شواهدو د کره والي په اړه یو شمېر لرغونپوهانو لکه «AnnCorinne Freter»، «Nancy Gonlin» او « David Webste» څېړنه کړې ده.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



دغو څېړونکو د کوپان رامنځته کېدا او سقوط په یوه ۸۵۰ کلنه دوره کې (۴۰۰ – ۱۲۵۰) د نقشې پرمخ کښلي دي. هغوی د دې کار لپاره د اوبسیدیان ډبرې د هایدرېشن له تکتیک څخه کار واخیست چې له مخې یې اوبه پر استخراج شوې ډبرې ازمایل کېږي، کله چې په اوبسیدیان کې اوبه په ټاکلې اندازه کمې شي، لرغونپوهان کولای شي چې د ډبرې د استخراج کره نېټه معلومه کړي. فرېټر، گونلین او وېبسټر وکولای شول څو هغه ځایونه چې له اوبسیدیان جوړ ډبرلیکونه په کې پیدا شوي وو، پر نقشه رسم او د ښارونو د پراختیا او ځوړتیا مسئلې ته انکشاف ورکړي. دا چې په یوه مشخصه ساحه کې د ودانیو او کورونو د شمېر د معلومولو شونتیا موجوده وه، نو د تاریخ په هر پړاو کې د ښار ټول نفوس په اټکلي توگه معلومېدای شوای. د ۴۰۰ او ۴۴۹ کلونو ترمنځ نفوس کم و چې ټولټال ۶۰۰ کسان اټکل شوي وو. خو د ۷۵۰-۷۹۹ کلونو ترمنځ دا شمېر په تدریج سره زیات شو او ۲۸ زرو ته ورسېد. دا شمېر ښایي د اوسنیو ښارونو د نفوس په پرتله کم وي، خو هغه مهال ډېر لوی نفوس و. دغه محاسبه ښیي چې کوپان هغه مهال تر لندن او پاریس ډېر وگړي لرل. د مایا یو شمېر ښارونه لکه تیکال او کالاکمول له شک پرته چې ډېر ستر وو. هغه شواهد چې د اوږدې شمېرنې پر اساس د تاریخ معلومولو له لارې لاسته راځي، ښیي چې په ۸۰۰ میلادي کال کې د کوپان د نفوسو وده اوج ته رسېدلې وه. خو وروسته دا شمېر کمېږي او په ۹۰۰ میلادي کال کې شاوخوا ۱۵ زره کسانو ته راښکته کېږي. دا وضعیت همداسې دوام کوي، تر دې چې په ۱۲۰۰ میلادي کال کې بېرته د ۸۰۰ کال مودې ته وگرځي.

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



په کلاسیک عصر کې د مایا اقتصاد، بوشونګانو او ناتوفیانو ته ورته و، یعنې د زیږښونکو بنسټونو او تر یوه بریده د متمرکز حکومت رامنځته کول. دغو بنسټونو څو مهم عناصر لرل. له میلاد څخه شاوخوا ۱۰۰ کاله وروسته د اوسنۍ ګواتیمالا په «تیکال» ښار کې د پاچاهۍ یوه نوې سلسله رامنځته شوه. د اجاو «Ajaw» په نامه یوه واکمنه ډله راوټوکېده چې مشر یې کهول اجاو یا الهي واکمن نومېده. تر ده وروسته د اشرافو سلسله مراتب و. الهي واکمن به د همدې اشرافو په مرسته پر ټولنې حکومت کاوه او له معبودانو سره هم په اړیکه کې و. لیدل کېږي چې په نویو سیاسي بنسټونو کې سیاسي مشارکت ته اجازه نه وه، خو خلکو ته یې ثبات راوستی و. کهول اجاو به له کروندګرو باج اخیسته او په کارګرو به یې ستر یادګاري څلي جوړول. دغو بنسټونو د اقتصادي پراختیا لپاره اغېزناک اساسات رامنځته کړل. د مایا اقتصاد پر شغلي تخصص پالنې ولاړ و چې کولالي، اوبدنه، نجاري او ترکاڼي په کې شامل و. هغوی همدا راز په مکسیکو کې په بېلابېلو موسمونو کې په خپل منځ کې د اوبسیدیان قیمتي ډبرو، د پړانګ پوستکو، سمندري مرغلرو، ککو، مالګې او د مرغانو د بڼکو سوداګري کوله. هغوی احتمالاً چې پیسې هم لرلې او د ازتېکیانو په څېر یې د ککو دانې د کرنسۍ په توګه کارولې. د مایا کلاسیک عصر له دې اړخه د بوشونګانو وضعیت سره ورته والی درلود، چې دغه عصر د زیږښونکو سیاسي بنسټونو د رامنځته کېدو لامل شو. یاکس اهب اکسوک په تیکال کې هغسې رول ولوباوه لکه شیام چې په بوشونګ کې لوبولی و. د نویو سیاسي بنسټونو رامنځته کېدو له اقتصادي پراختیا او هوساینې سره

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

*Downloaded By: Afghan Salar Library*




مرسته وکړه چې له ګټو يې تر ډېره د کهول اجاو ملګري برخمن وو. خو په ۳۰۰ ميلادي کال کې کله چې نظام استحکام پيدا کړ، ټکنالوژيکي بدلونونه په ډېره ټيټه کچه کې و. که څه هم ځيني شواهد شته چې د اوبو لګونې او د اوبو سيستم د تکتيکونو بهتروالی ښيي، خو کرنيزه ټکنالوژي په ابتدايي حالت کې وه او داسې نه ښکاري چې کوم بدلون دې پکې راغلی وي. معماري او هنري فنونو د وخت په تېرېدو پرمختګ وکړ، خو نوښتونه کم وو. دلته هېڅ راز خلاق تخريب نه و، خو د تخريب يو بل ډول موجود و، هغه شتمنۍ چې زېښونکو بنسټونو کهول اجاو او د مايا اشرافو ته په لاس ورکوله، د وخت په تېرېدو د شخړو او ورانۍ سبب شوه. د مايا په ډبرليکونو کې د پرله پسې شخړو او جګړو نېټې د اوږدې شمېرنې سيستم پر اساس ثبت شوې دي. زهره سياره د جګړې اسماني پرښته وه او مايايانو به د دې سيارې ځينې برخې د جګړې د پيل لپاره نېک شګون ګاڼه. هغه ډبرليکونه چې د جګړو تاريخونه په کې ليکل شوي دي او لرغونپوهان يې د «ستورو جګړه» ګڼي؛ موږ ته هغه سياره رانښيي چې پر ځمکه اوبلن توکي -چې ښايي اوبه يا وينه وي – تويوي. په ډبرليکونو کې همدا راز د مايا دولت-ښارونو ترمنځ د اتحاد او سيالۍ مسايل هم بيان شوي دي. د ځينو سترو ښارونو لکه تيکال، کالاکمول، کوپان او پلنکا ترمنځ د واک پرسر اوږدې سيالۍ او شخړې رواني وې او يادو ښارونو کوچني حکومتونه لرل. په دې اړه شواهد په هغو ډبرليکونو کې ليدل کېږي چې د پاچاهانو د واک ته رسېدو نېټې په کې ثبت شوې دي. شواهد ښيي چې کوچني ښارونه د لويو ښارونو له لوري مات شوي او غير بومي واکمنانو په کې حکومت کړی دی.

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library






۱۰مه نقشه: د مايا دولت- ښارونه او د ښارونو تر منځ اړيکې او شخړې

لسمه نقشه د مايا اصلي ښارونه او د هغوی ترمنځ په بېلابېلو برخو کې د ارتباط نمونې راښيي چې د دوو تنو لرغونپوهانو «نيکولای ګروب» او «سيمون» له لوري چمتو شوې دي. دغه نقشه ښيي چې که څه هم د کلاکمول، دوس پيلاس، پيډراس نېګراس او ياکسچيلان ترمنځ پراخې ډيپلوماتيکي اړيکې موجودې وې، خو ځينو به يې يو بل تر خپلې ولکې لاندې راوستل او کله کله به په خپلمنځي شخړو کې هم سره کېوتل. د مايا د پاشل کېدو په اړه په زړه پورې دا ده چې دا پېښه د کهول اجاو د سياسي موډل له منځه تلو سره هممهاله ده.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



په ۸۱۰ میلادي کال کې په کوپان کې د یاکس پاساج تر مړینې وروسته نور پاچاهان واک ته رانغلل او تقریبا په همدې وخت کې شاهي ماڼۍ پرېښودل شوې وې. د کوپان په «کیوریګوا» ښار کې چې د شمال په ۲۰ مایله متري کې پروت دی، وروستی پاچا « Jade Sky» د ۷۹۵-۸۰۰ میلادي کلونو ترمنځ واک ته ورسېد. وروستی یادګاري څلی چې د اوږدې شمېرنې نېټه په کې لیکل شوې ده، له ۸۱۰ میلادي کال سره تړاو لري چې د یاکس یاساج د مړینې له نېټې سره برابره ده. یو څه موده وروسته ښار پرېښودل شو، د مایا په ګوټ ګوټ کې کیسه همدا ډول ده: هغه سیاسي بنسټونه چې د تجارت، کرنې او د خلکو هستوګنې ته یې زمینه برابره کړې وه، له منځه لاړل، سلطنتي دربارونه فلج شول، د یادګاري څلیو او تاریخي ځایونو د جوړېدو بهیر په ټپه ودرېد او ماڼۍ خالي پاتې شوې. د سیاسي او ټولنیزو بنسټونو په له منځه تلو سره، د حکومت د متمرکز کېدو پروسه هم ټکنۍ شوه، اقتصاد مخ په ځوړ شو او نفوس خورا کم شو.

په ځینو مواردو کې د پراخو شخړو له امله مهم مرکزونه ړنګ شول، د ګواتیمالا پټېکس باټون سیمه چې لوی معبدونه یې ویجاړ او له ډبرو یې مورچلونه جوړ شول، ددې پېښې یو ژوندی مثال دی. هغه څه چې په دې سیمه کې پېښ شول، د روم امپراتورۍ سره ډېر ورته والی لري. ان کوپان ښار چې د مایا د پاشل کېدو پرمهال پکې د تاوتریخوالي او جګړو ډېرې کمې نښې لیدل کېږي، ډېری تاریخي ابدات او څلي یې زیانمن او یا هم ویجاړ شوي دي. په ځینو سیمو کې اشراف ان د کهول اجاو له پرځېدو وروسته هم تر یوې مودې پر خپل ځای پاتې شول. په کوپان کې ځیني شواهد ښیي چې اشرافو ان تر ۲۰۰ کلونو پورې د ودانیو جوړولو ته دوام ورکاوه، خو په

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



ځینو سیمو کې بیا د شواهدو پر اساس اشراف طبقه د الهي واکمنانو له پرځېدو سره هممهاله له منځه تللي دي. د لرغونپوهنې شته شواهد نه شي کولای دا په ګوته کړي چې کهول اجاو او له هغه ګرد چاپېره اشراف او په ټوله کې د مایا د کلاسیک عصر بنسټونه ولې له منځه لاړل. موږ پوهېږو چې دا پېښه په ښارونو کې د خپلمنځي شخړو او جګړو په پایله رامنځته شوه او دا یو احتمال دی چې د ښار دننه جګړه مارو دې بنسټونه نړولي وي. هغه زبېښونکي بنسټونه چې مایا رامنځته کړي وو، که څه هم د ښارونو د هوساینې، د شتمنۍ د تولید، د واکمنې طبقې د مړولو، د هنري اثارو د پنځولو او سترو تاریخي ابدو په رغولو کې یې د پامور رول ولوباوه،؛ خو یو باثباته نظام نه و. زبېښووونکو بنسټونو چې د واکمنې طبقې یوې کوچنۍ ډلې پرې خېټه اچولې وه، لویه نابرابري وزېږوله او د هغو کسانو ترمنځ یې د جګړې زړي وکرل چې غوښتل یې د شتمن کېدو لپاره زبېښاک ته لاس واچوي. دغو شخړو په پایله کې مایا تمدن دړې وړې کړ.

## ستونزه چېرته ده؟

زبېښونکي بنسټونه په تاریخ کې له دې کبله ډېر معمول دي چې ځواکمن منطق لري، دوی کولای شي چې محدوده هوساینه رامنځته او دا هوساینه د ټولنې د لوړپاړکي د یوې کوچنۍ ډلې ترمنځ ووېشي. د دې کار لپاره سیاسي سنټرالیزېشن یا تمرکز ته اړتیا ده. کله چې دغه ډول شرایط برابر شي، حکومت یا واکمنه طبقه د پانګونې او ثروت تولید ته انګېزه پیدا کوي او نور خلک پانګونې ته هڅوي، څو هغوی استثمار کړي او حتی د پرانېستو بنسټونو او پرانېستو بازارونو تمثیل کوي. د کارابین په کرنیز اقتصاد کې د زبېښونکو بنسټونو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



تګلاره داسې وه چې واکمن پاړکي به غلامان د ګنيو په کروندو کې جبري کار ته اړ ايستل. خو په شوروي اتحاد کې بيا د کمونېست ګوند له لوري له دې بنسټونو څخه د صنعت لپاره د کرنيزو سرچينو د ځانګړي کولو او د مديرانو او کارګرانو لپاره د انګېزو د رامنځته کولو په موخه کار واخيستل شو. لکه مخکې مو چې ولوستل، دا ډول انګېزې د نظام د ځرنګوالي او ماهيت له امله له ماتې سره مخ شوې. هغه ظرفيت چې سياسي تمرکز يې د استثماري ودې د ايجاد په موخه رامنځته کوي، دا تمرکز نور هم غښتلی کوي. دا هغه عامل دی چې پاچا شيام يې د کيوبا پاچاهۍ جوړولو ته هڅولی و. دغه حقيقت ښايي د دې لپاره هم يو وضاحت وي چې ناتوفيانو ولې په منځنۍ ختيځ کې د نظم، قانون، سلسله مراتبو او زبېښونکو بنسټونو يوه ابتدايي بڼه رامنځته کړې وه چې بالاخره د نوي ډبرې انقلاب رامنځته کېدو ته يې لار هواره کړه. ورته پېښې ښايي د امريکا لويه وچه کې کرنې او ګډ ژوند ته د خلکو د ورتګ لامل شوې وي، همدارنګه کولای شو ووايو هغه پرمختللی تمدن چې مايايانو د سختو زبېښونکو بنسټونو پر مټ رامنځته کړی و، عام خلک مجبور وو چې د يوې کوچنۍ ډلې ګټې تامين کړي.

په هرحال، هغه وده چې د زبېښونکو بنسټونو پر مټ ترلاسه کېږي، له هغې سره ډېر توپير لري چې پرانيستي بنسټونه يې رامنځته کوي. تر ټولو مهم توپير پکې دا دی چې د زبېښونکو بنسټونو تر سيوري لاندې وده بې ثباته وي. زبېښونکي بنسټونه د خپل طبيعت له کبله خلاق تخريب نه رامنځته کوي او په تر ټولو غوره حالت کې محدود ټکنالوژيکي پرمختګونه پنځوي، نو له همدې امله دغه ډول وده يوازې تر يوې لنډې مودې پورې دوام کولای شي. شوروي –روسيه

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



چې کله په نړۍ کې یو لړ ټکنالوژیکي پرمختګونه وپنځول او د کرنیز سکتور سرچینې یې صنعت ته ځانګړې کړې، توفاني وده یې تجربه کړه؛ خو هغه انګېزې چې د بېلابېلو سکتورونو لکه صنعت او کرنې په برخو موجودې وې، و نه شوی کړای چې ټکنالوژیک پرمختګونه وهڅوي. په شوروي کې ټکنالوژیکي پرمختګ یوازې تر هغو برخو پورې محدود و چې سرچینې ورته ځانګړې شوې وې او له لوېدیځ سره په سیالۍ کې اخته و. د شوروي اقتصادي وده که څه هم چټکه وه، خو عمر یې ډېر لنډ و او په پایله کې په ۱۹۷۰ کال کې له پښو وغورځېده. د خلاق تخریب او نوښتونو نشتوالی د زبېښونکو بنسټونو د ودې په لار کې یوازینی خنډ نه دی. د مایا دولت-ښارونو تاریخ یو شوم پای او له بده مرغه یو معمول بهیر راښیي چې بیا هم د زبېښونکو بنسټونو له منطقه سرچینه اخلي. څومره چې دغو بنسټونو د واکمنانو لپاره د پامور ثروت تولیداوه، هغومره یې خلک د واک د لاسته راوړلو لپاره جګړې ته هڅول. په دې توګه کورنۍ شخړې او بې ثباتۍ، د زبېښونکو بنسټونو ذاتي ځانګړنه ده او دغې چارې نه یوازې ناکارۍ ته لار هواروله، بلکې د سیاسي مرکزیت هر ډول هڅې یې هم پر شا تمبولې، کله کله به د نظم او قانون د اخلال او ګډوډۍ سبب هم کېده؛ هغه څه چې د مایا دولت-ښارونه د کلاسیک عصر په جریان کې ورسره مخ شول. سره له دې چې د زبېښونکو بنسټونو پر مټ وده په خپل ذات کې محدوده ده، خو د خپل جوش او اوج په جریان کې جذابه ښکاري. له ۱۹۲۰ مې لسیزې څخه تر ۱۹۶۰ مې لسیزې پورې په شوروي اتحاد او لوېدیځ کې ډېری کسان د شوروي چټکې اقتصادي ودې ته ګوته په غاښ وو، لکه نن چې د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



چين توفاني ودې د نړۍ پام ځان ته ور اړولی دی. که څه هم په پنځلسم څپرکي کې به د چين په اړه په تفصيل خبرې وکړو، خو هغه څه چې بايد روښانه شي دا دي، چې د کمونېست گوند تر واک لاندې چين هغه مثال دی چې تر زبېښونکو بنسټونو لاندې ودې ته رسېدلی دی، دا وضعيت په چين کې تلپاتې يا دوامداره نه شي پاتې کېدای، مگر دا چې د پرانېستو بنسټونو په لور د سياسي انتقال پروسه پيل کړي.

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



# شپږم څپرکی

## جلا کېدل

### وینز ښار ولې موزیم شو؟

وینز ښار د ټاپوګانو ټولګه ده چې د ادریاتیک سمندرګي په وروستۍ برخه کې موقعیت لري. وینز په منځنۍ پېړۍ کې د نړۍ شتمن ښار و، چې یو لړ پرانیستي اقتصادي بنسټونه یې لرل او دغه بنسټونه د تازه تاسیس شویو پرانیست وزمه سیاسي بنسټونو له ملاتړه برخمن وو. وینز په ۸۱۰ میلادي کال کې خپلواکي ترلاسه کړه، چې د دې هېواد لپاره یوه نېکمرغه دوره ګڼل کېده. اروپا له هغه اقتصادي رکود وروسته چې د روم امپراتورۍ د ړنګېدو له امله ورسره مخ وه، بېرته ورو- ورو په غوړېدو وه. یو شمېر پاچاهانو لکه شارلیمان د یوه واحد مرکزي نظام جوړولو ته متېې بډ وهلې وې، چې دغه چاره د ثبات د ټینګښت او د سوداګرۍ د پراختیا لامل شوه. وینز ته دا وخت یو استثنایي فرصت په لاس ورغلی و چې له دې امتیازه پوره ګټه واخلي. وینزیان له اوبو او سمندر سره اشنا قوم و، چې د مدیترانې سیمې په منځنۍ برخه کې اوسېدل. له ختیځه واردېدونکو درملو، له بېزانس څخه بېلابېلو توکو او مریانو؛ وینز ښه شتمن کړ. له یوې پېړۍ اقتصادي ودې وروسته، یعنې په ۱۰۵۰ میلادي کال کې د دې سیمې نفوس ۴۵،۰۰۰ ته ورسېد. دا شمېر د ۵۰ سلنې په ډېروالي سره په ۱۲۰۰ میلادي کال کې ۷۰،۰۰۰ ته ورسېد. په ۱۳۳۰ کال کې یو ځل بیا د پنځوس سلنې په ډېروالي سره ۱۱۰،۰۰۰ ته لوړ شو. وینز هغه مهال د پراخوالي له اړخه د پاریس ښار په اندازه او غالباً د

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



لندن درې برابره ستر و. د وینز د اقتصادي پرمختګ مهم عامل د سوداګریزو معاملاتو په برخه کې یو لړ نوښتونه وو، چې د پرانیستو اقتصادي بنسټونو جوړېدو ته یې لار هواروله. دلته د سوداګرۍ په برخه کې تر ټولو مشهور نوښت «کومېنډا»[1] نومېده چې د سهامي شرکت ابتدايي بڼه یې لرله او یوازې د سوداګریز ماموریت لپاره جوړېده. کومېنډا دوه شریکان لرل، چې یو په وینز کې مېشت او بل یې له کاروان سره تلونکی کس و، مېشت کس به د پانګې چمتو کولو دنده پرغاړه لرله، خو دویم پارټنر یا شریک به د خرڅلاو لپاره مالونه لېږدول. که پانګه ګډه وه، نو لویه برخه به یې مېشت یا مقیم کس ورکوله. په دې توګه هغو ځوانانو چې پانګه نه لرله او غوښتل یې چې کاروبار پیل کړي، نو د سوداګریزو کاروانونو په لېږدولو سره یې کولای شول چې په کار کې شریک شي. دا د ټولنیز پرمختګ په لور د حرکت یو کلیدي مسیر و. په کاروبار کې هر ډول تاوان به د ونډه وال ونډې ته په کتو وېشل کېده. که په سفر کې به ډېره ګټه ترلاسه کېده، نو ګټه به د کومېنډا ډول ته په کتو په مختلفو طریقو وېشل کېده. که کومېنډا به یو اړخیزه وه، نو مېشت کس به د پانګې ۱۰۰ سلنه برابروله او ګټه یې ۷۵ سلنه ترلاسه کوله. په شریکه یا دوه اړخیزه پانګونه کې به مېشت کس د پانګې ٦٧ سلنه ورکوله او د ګټې نیمایي یعنې ۵۰ سلنه یې ترلاسه کوله. د رسمي اسنادو مطالعه ښیي چې کومېنډا د ټولنیز تحرک په لور د حرکت څومره ځواکمنه وسیله وه. په اسنادو کې به تاسو ډېر نوي نومونه وګورئ، داسې نومونه او څېرې چې پخوا د وینز د اشرافو په ډله کې نه وو. د ۹٦۰، ۹۷۱ او

[1] commenda

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



۹۸۲ میلادي کلونو په دولتي اسنادو کې نوي نومونه په ترتیب سره د ټولو ثبت شویو مشخصاتو ۶۹ سلنه، ۸۱ سلنه او ۶۵ سلنه جوړوي.

د اقتصاد دا پرانیستوالی او د سوداګرۍ له لارې د نویو کورنیو راټوکېدل ددې لامل شول چې سیاسي نظام نور هم پراخ بنسټه شي. دوج[1] چې د وینز حکومت په سر کې و، د یوې عمومي اسامبلې له لوري د عمر ترپایه ټاکل کېده. که څه هم دا اسامبله د ټولو خلکو ګډه ټولنه وه، خو په عملي ډول د مخورو کورنیو تر اغېز لاندې وه. د وینز جمهوریت په لومړیو کې دوج ډېر ځواکمن و، خو د وخت په تېرېدو او په سیاسي بنسټونو کې د بدلونونو په پایله کې د نوموړي واکونه محدود شول. له ۱۰۳۲ میلادي کال وروسته د دوج ترڅنګ د دوکال[2] په نوم نوې تاسیس شوې شورا هم ټاکل کېده چې دنده یې د دوج له لوري د واک د انحصار مخنیوی و. لومړنی دوج «ډومینکو فلابیانکو» چې د ورېښمو شتمن سوداګر و، تر دې وړاندې یې هېڅ کوم لوړ رسمي مقام نه درلود. د وینز په بنسټونو کې دغه بدلون د سوداګرۍ او سمندري ځواک د پراختیا لامل شو. وینز په ۱۰۸۲ کال کې په قسطنطنیه کې پراخ سوداګریز امتیازات لاسته راوړل. دلته د وینزیانو یو ښار رامنځته او ډېر ژر د لسګونو زرو خلکو پر استوګنځي بدل شو، چې ورسره پرانیستي سیاسي او اقتصادي بنسټونه هم جوړ شول.

د وینز اقتصادي پرمختګ د سیاسي بدلونونو لپاره د سختو فشارونو لامل شوی و او له همدې کبله په ۱۱۷۱ کال کې د دوج له مړینې

[1] Doge
[2] Ducal Council

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



وروسته په اقتصادي او سیاسي بنسټونو کې بدلونونه پیل شول. لومړنی نوښت د لویې شورا جوړول و، چې په وینز کې د سیاسي واک نهایي مرجع وه. دا شورا د قاضیانو په ګډون د وینز حکومتي چارواکو څخه جوړه شوې وه، چې د اشرافو تر نفوذ لاندې وه. پر یادو چارواکو سربېره، د شورا لپاره هر کال ۱۰۰ تنه نوي غړي د یوې څلور کسیزې کمېټې له لوري ټاکل کېدل او دا څلور کسان بیا د لویې شورا له لارې غوره کېدل. لویې شورا به دوه نورې فرعي شوراګانې یعنې سنا او څلوېښت کسیزه شورا ټاکله چې هرې شورا د قانون جوړونې په برخه کې جلا واکونه لرل. لویې شورا همدا راز د دوک شورا ټاکله چې شمېر یې له دوو څخه شپږو ته ډېر شوی و. دویم نوښت د پچه اچونې له لارې د لویې شورا له منځه د یوې بلې شورا جوړول و، چې دنده یې د نوي دوج ټاکل و. دوج باید د عمومي اسامبلې له لوري تایید شوی وای، څکه چې دې مقام ته یوازې یو کس غوره کېده. درېیم نوښت دا و، چې دوج باید سوګند یاد کړی وای چې د دوکیانو واک به محدودوي، دا محدودیتونه د وخت په تېرېدو سره ډېر شول، څو دوج په راتلونکي کې د قاضیانو تابع اوسي او پرېکړې یې باید د دوکیانو تایید ته اړتیا ولري. د دوکیانو شورا همدارنګه دنده لرله څو تضیمن کړي چې دوج به د لویې شورا پرېکړې پر ځای کوي. دا سیاسي بدلونونه د قانون، خپلواکو قاضیانو، محاکمو او خصوصي قراردادونو د قانونمندۍ په برخو کې د پراخو نوښتونو او پرمختګونو لامل شول. دغو نویو اقتصادي بنسټونو نویو سوداګریزو فعالیتونو او قراردادونو ته لار پرانېسته، دا په مالي برخه کې چټک نوښتونه وو چې په وینز کې هغه مهال د موډرنې بانکوالۍ د رامنځته کېدو پیلامه ګڼل کېده. د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



پرانیستو بنسټونو په لور د وینز خوځنده پرمختګ نه درېدونکی ښکارېده، خو یوه اندېښنه موجوده وه؛ هغه اقتصادي وده چې د وینز بنسټونو له ملاتړه برخمنه وه، له خلاق تخریب سره مله وه. د کاروباري ځوانانو هغه ډلې به چې د کومېنډا سیستم یا نورو ورته بنسټونو له لارې شتمن کېدل، د لوړ پاړکي اقتصادي فعالیتونه او ګټې یې له خطر سره مخ کولې. یوازې اقتصادي ګټې نه وې، بلکې سیاسي ګټې او قدرت یې هم خوندي نه وو. په دې توګه په لویه شورا کې د لوړپاړکي استازو تل هڅه کوله چې د دغو نویو سوداګرو پرمخ د کاروبار لارې بندې کړي.

په لومړي سر کې په لویه شورا کې غړیتوب یو کلن و. مخکې مو هم یادونه وکړه، چې د سل کسیزې شورا لپاره کاندیدان د څلور کسیزې کمېټې له لوري ټاکل کېدل، خو د ۱۲۸٦ کال د اکتوبر په درېیمه د لویې شورا غړیتوب ته د کاندید کېدو قانون د اصلاح وړاندیز وشو چې له مخې یې د لویې شورا غړي باید د څلوېښت کسیزې شورا د رایو په اکثریت چې د واکمنې کورنۍ تر نفوذ لاندې وه، ټاکل شوي وای. دې کار واکمنې طبقې ته واک ورکاوه چې نویو غړو د راتګ مخه ونیسي، خو دا وړاندیز ونه منل شو. د ۱۲۸٦ کال د اکتوبر په پنځمه بل پېشنهاد وړاندې او ومنل شو. له دې وروسته د هغه چا غړیتوب په اتومات ډول منل کېده چې مخکې یې پلار یا نیکه په شورا کې غړی و ، له دې پرته باید د دوکیانو شورا له لوري غړیتوب یې تایید شوی وای. د اکتوبر په اولسمه په قانون کې بل نوی بدلون هم راغی چې له مخې یې د لویې شورا غړیتوب د څلوېښت کسیزې شورا، دوج او دوکیانو شورا تایید ته اړتیا درلوده. د ۱۲۸٦ کال

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



مبارزات او اصلاحات د وینز د سیاسي حبس «La Serrata» لپاره پیلامه ګڼل کېده. د ۱۲۹۷ کال په فبروري کې پرېکړه وشوه چې که څوک څلور کاله مخکې د لویې شورا غړي وو، نوماندي او غړیتوب یې په اتومات ډول منل کېږي. په دې توګه د لویې شورا دغو غړو باید له څلوېښت کسیزې شورا څخه د تایید لپاره لږ تر لږه دولس رایې ترلاسه کړې وای. د ۱۲۹۸ کال د سپټمبر له یوولسمې وروسته مخکینیو غړو او د هغوی کورنیو نور تایید ته اړتیا نه لرله. لویې شورا ته د تازه غړو راتګ ډاډمن شوی و او لومړني غړي د اشرافو میراثي طبقه وه. دا بهیر په ۱۳۱۵ کال کې د Libro d'Oro یا «زرین کتاب» په چمتو کولو سره چې د وینزي اشرافو نومونه یې په رسمي توګه ثبت کړي وو، د پوخوالي پړاو ته ورسېد. هغه کسان چې له دې نوې پروسې بیرون پاتې وو، اجازه یې نه ورکوله چې له کوم مقاومت پرته واک له لاسه ورکړي. د ۱۲۹۷ او ۱۳۱۵ کلونو ترمنځ په وینز کې سیاسي کشمکشونه له وقفې پرته اوج ته ورسېدل. لویې شورا د غړو د شمېر په زیاتولو سره ستونزې ته د پای ټکی کېښود. د مخالفینو د خولې بندولو لپاره د شورا د ټولو غړو شمېر له ۴۵۰ څخه ۱۵۰۰ کسانو ته لوړ شو. دا لانجه په ځینې سره پای ته ورسېده. په ۱۳۱۰ کال کې په لومړي ځل پولیس ځواکونه رامنځته شول او د نظم د ټینګښت لپاره له زور او ځواکه کار اخیستل زیات شول.

لویې شورا د سیاسي حبس «political Serrata» پلان تر عملي کولو وروسته، اقتصادي حبس ته لاس واچاوه. زبېښونکو اقتصادي بنسټونو ته لاس ورکول، له شک پرته چې د زبېښونکو سیاسي بنسټونو په لور حرکت و. په دې برخه کې تر ټولو لومړی کار د کومېنډا قراردادونو بندول و؛ د وینز هغه بنسټي نوښت چې له برکته

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



يې دغه ښار شتمن شوی و. څومره د حيرانۍ خبره ده! کومپنډا نوي سوداګر شتمن کړل او اوس اشرافو هڅه کوله چې هغوی له صحنې ګوښه کړي. دا د زېښبونکو اقتصادي بنسټونو په لور لومړنی ګام و. دويم ګام هغه وخت واخيستل شو، کله چې د وينز حکومت په ۱۳۱۴ کال کې تجارت ملي کړ او کنټرول يې په خپل لاس کې واخيست. دولت د سوداګريزو توکو د لېږد رالېږد لپاره بېړۍ فعالې کړې او له ۱۳۲۴ کال وروسته يې پر نويو سوداګرو درنه ماليه وضعه کړه. له لرې پرتو سيمو سره سوداګري د اشرافو په انحصار کې پرېوته. دا د وينزيانو د اقتصادي هوساينې د زوال پيل و. د اشرافو له لوري د کاروبار او سوداګريزو چارو انحصار اقتصادي ځوړتيا له ځان سره لرله. په لومړيو کې داسې انګېرل کېده چې وينز به د نړۍ لومړۍ پرانېسته ټولنه وي، خو په دې هيلو يرغل وشو. سياسي او اقتصادي بنسټونه په لويه کچه زېښبونکي شول او په پايله کې د وينز اقتصاد مخ په ځوړ روان شو. تر ۱۵۰۰ کال پورې د وينز ټول نفوس ۱۰۰ زرو ته راکم شو او د ۱۶۵۰ -۱۸۰۰ کلونو ترمنځ هغه مهال چې په اروپا کې نفوس مخ په زياتېدو و، د وينز نفوس لا پسې کم شو. اوسمهال يوازېنی اقتصاد چې وينز يې لري، توريزم او کب نيونه ده. وينزيان د سوداګرۍ او اقتصادي بنسټونو په مسير د حرکت پرځای اوس پيزا پخوي، ايس کريم جوړوي او نور تجملي توکي توليدوي او بيا يې پر بهرني سيلانيانو پلوري. د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه خلک د وينز ښار د عجايبو ليدو ته راځي؛ د دوج ماڼۍ او سنټ مارک کليسا زمريان چې وينزيانو پر مديترانې د خپلې واکمنۍ

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



پرمهال له بيزانس امپراتورۍ څخه لوټلي وو. بالاخره وينز ښار د اقتصاد له خوځنده ماشين څخه د نړۍ پر موزيم بدل شو.

په دې څپرکي کې موږ د نړۍ په بېلابېلو برخو کې د بنسټونو پر تاريخي تحولاتو تمرکز کوو او دا به روښانه کړو چې ولې هر هېواد يو متفاوت مسير خپل کړی دی. په څلورم څپرکي کې مو وليدل چې لوېديځې اروپا څنګه له ختيځې اروپا واټن ونيو او د برېټانيا او لوېديځې اروپا ترمنځ توپير له کومه پيل شو. دا په حقيقت کې د کوچنيو بنسټي توپيرونو پايله وه، چې د تاريخ حساسې مقطعې ته د غبرګون په پايله کې لاسته راغله. فرض کړئ چې دا بنسټي توپيرونه په اوبو کې د يوه ژور کنګل څوکه ده او د اوبو پرسر د لوېديځې اروپا او برېټانيا بنسټونه ګورو چې زرګونه کاله مخکې د ځينو تاريخي پېښو په واسطه په نړۍ کې له نورو مروجو بنسټونو جلا شوي دي. باقي لکه چې مشهوره ده، تاريخ دی. دوه دلايل شته چې دا نظريه ردوي. لومړی د پرانېستو بنسټونو په لور پر مخ تګ لکه څرنګه چې په وينز کې مو وليدل، ښايي بېرته پر شا تګ ولري. وينز هوساينې ته ورسېد، خو سياسي او اقتصادي بنسټونه يې وشړېدل او نېکمرغي له هغې لارې چې راغلې وه، په هماغې بېرته لاړه. وينز نن يوازې له دې اړخه شتمن دی چې خلک «سيلانيان» ددې ښار د برم د ستاينې لپاره هغه پيسې چې په بل ځای کې يې ګټلې دي، دلته مصرفوي. دا حقيقت چې د پرانيستو بنسټونو په لور حرکت بېرته پر شا تګ لري، څرګندوي چې د بنسټونو د ښه والي لپاره هېڅ ساده پروسه وجود نه لري.

دويم، کوچني بنسټي توپيرونه چې د تاريخ د حساسو مقطعو په جريان کې يې کليدي رول لوبولی دی، په طبيعي ډول لنډ عمر لري.

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



دا توپیرونه له دې کبله چې کوچني دي، ښايي پر شا تګ یا معکوس حرکت خپل کړي، یا بېرته له سره راژوندي شي او بیا بېرته پر شا لاړ شي. په دې څپرکي کې به ووینو، بې له دې چې کلتوري او جغرافیوي فرضیو ته مراجعه وکړو، برېټانیا چې په اولسمه پېړۍ کې یې د پرانیستو بنسټونو په لور ګامونه واخیستل، د نوې ډبرې تر انقلاب زرګونه کلونه وروسته ان د منځنۍ پېړۍ په لومړیو او د لوېدیځ روم امپراتورۍ تر سقوط وروسته هم د تاریخي بدلونونو په محراق کې نه و. د برېټانیا ټاپوګان چې د روم امپراتورۍ په څنډو کې پراته وو، د لوېدیځې اروپا، شمالي افریقا، بالکان، قسطنطنیې او یا منځني ختیځ په پرتله له دومره ارزښت څخه برخمن نه وو. په پنځمه میلادي پېړۍ کې کله چې لوېدیځ روم وپاشل شو، برېټانیا هغه مهال له بشپړې ځوړتیا سره مخ وه. خو سیاسي اوښتونونه چې بالاخره صنعتي انقلاب ته یې لار هواره کړه؛ نه په ایټالیا، نه په ترکیې او نه هم په لوېدیځه اروپا کې، بلکې په برېټانیا کې رامنځته شول. پر دې سربېره چې په برېټانیا او نورو هېوادونو کې د صنعتي انقلاب د شالید په اړه پوه شو، د روم میراث د څو دلایلو له مخې ارزښت لري. لومړی؛ روم د وینز په څېر یو لړ ابتدايي نوښتونه بنا کړي وو. د روم ابتدايي اقتصادي بریالیتوبونه د وینز په څېر پر پرانېستو بنسټونو ولاړ و. دغه بنسټونه د وخت په تېرېدو سره د وینز په برخلیک اخته شول، په روم کې دغه وضعیت له جمهوریت څخه [۵۱۰ – ۴۹ ق م] امپراتورۍ [۴۹- ۴۷٦ م] ته په ورتګ تمام شو.

که څه هم رومیانو د جمهوریت پرمهال د پاموړ امپراتوري جوړه کړې وه او د لرې واټن سوداګري او لېږد رالېږد سیستم یې درلود،

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



خو د اقتصاد ډېره برخه يې پر استثمار ولاړه وه. له جمهوريت څخه امپراتورۍ ته ورتګ، استثمار لاپسې پراخ کړ او په پايله کې خپلمنځي شخړو، بې ثباتۍ او پاشلتيا روم د مايا له برخليک سره مخ کړ. دويم او تر ټولو مهمه دا چې، موږ به ووينو چې په لوېديځه اروپا کې د بنسټونو په برخه کې پېښېدونکي بدلونونه د روم ميراث نه و، بلکې د هغې حساسې مقطعې پايله وه چې د لوېديځ روم امپراتورۍ د ړنګېدو پرمهال په دې سيمه کې عامه وه. دغو پېښو د نړۍ نورو برخو لکه افريقا، اسيا او امريکا کې له پېښو سره لږ ورته والی درلود. که څه هم د ايتوپيا د تاريخ د مطالعې په پايله کې به ووينو چې کله يو شمېر نور ملتونه هم د تاريخ له دغه شان حساسو مقطعو سره مخ شوي، نو ځيني وختونه يې د تاريخ دغه ازمايښت ته مشابه ځواب ورکړی دی. د روم ځوړتيا د فيوډالېزم په پايښت تمام شو او په نتيجه کې يې مريتوب ختم شو، د اشرافو او پاچاهانو د نفوذ له دايرې بهر ښارونه رامنځته شول او په تدريج سره داسې بنسټونه را وټوکېدل چې د واکمنانو سياسي قدرت يې محدوداوه. طاعون فيوډالي وضعيت په بل مخ کړ، کروندګر او ښارونه يې د پاچاهانو، اشرافو او ځمکوالو په بيه ځواکمن کړل. په اتلانتيک کې سوداګريز فرصتونه هم په دغسې يو وضعيت کې رامنځته شول، خو د نړۍ ډېری نورو ملتونو له دغه ډول فرصتونو ګټه پورته نه کړه او له نورو په جلا لار روان شول.

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



**رومي ښېګڼې...**

د روم د عوامو جرګې ټربيون «ویاند» تيبريوس ګراکچوس[1] له ميلاد څخه مخکې په ۱۳۳ کال کې د سناتورانو له لوري ووژل شو او مړی يې له هر ډول رسمي مراسمو پرته د «تيبر» سيند ته ور وغورځول شو. د هغه قاتلين په خپله د تيبريوس په شان اشراف وو او د وژنې پلان يې د ترور زوی «پبليوس کورنليوس» جوړ کړی و. تيبريوس ګراکچوس يو بې غرضه اشراف و، چې د روم جمهوريت د نوموتو مشرانو لکه د «ايليريان» جګړې او د «پانيک» د دويمې جګړې اتل «لوسيوس اميليوس پاولوس» او همدارنګه «سيپيو افريکانيس» سره يې کورنۍ تړاو درلود. خو ولې ځواکمن سناتوران او حتی د ترور زوی يې د هغه پر وړاندې ودرېدل؟ د دې پوښتنې ځواب موږ ته د روم جمهوريت د خپلمنځي شخړو او بيا وروسته د دې جمهوريت د راپرځېدو په اړه حقايق روښانه کوي. د دغو ځواکمنو سناتورانو پر وړاندې د تبريوس مبارزه د ځمکو د تخصيص د څرنګوالي او د عوامو د حقوقو د خونديتوب لپاره وه، چې د وخت اساسی ستونزه ګڼل کېده.

د تيبريوس ګراکچوس پرمهال روم يو باثباته جمهوريت ګڼل کېده. د روم سياسي بنسټونه او د سرباز وګړي «citizen-soldiers» په نامه رومي ارزښتونه لا هم د تاريخ پوهانو له لوري د دې جمهوريت د کارنامو او لاسته راوړنو په توګه پېژندل کېږي. رومي وګړو له ميلاده شاوخوا ۵۱۰ کاله مخکې د «لوسيوس تارکوينيوس سوپربوس» د پاچاهۍ په راپرځولو سره نوی جمهوريت تاسيس کړ. دغه

[1] Tiberius Gracchus

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



جمهوریت په ځیرکانه ډول داسې سیاسي بنسټونه رامنځته کړل چې د پرانیست والي ډېرې ځانګړنې پکې وې. حکومت د هغو داورانو له لوري اداره کېده، چې د یوه کال لپاره انتخابېدل، دې کار مرسته کوله چې په واک کې د ډېر وخت لپاره د چاوراکو د پاتې کېدو او له دندې د ناوړه استفادې مخه ونیول شي. د جمهوریت بنسټونه د چک او بیلانس سیستم څخه برخمن وو واک یې په پراخه او مناسبه توګه وېشه. دا چې د رايې ورکونې سیستم غیر مستقیم و، نو ټولو خلکو په استازولۍ او سیاست کې برابره ونډه نه لرله.همدارنګه دلته ګڼ شمېر مریان اوسېدل چې د ټول نفوس یو پر درېیمه برخه یې جوړوله او د اېټالیا په یو شمېر مهمو سیمو کې په تولید کې یې کلیدي رول درلود. مریان له هر ډول حقونو محروم وو، سیاسي استازولي خو لرې خبره وه. د وینز په څېر د روم سیاسي بنسټونو کثرت پاله یا پراخ بنسټه عناصر لرل. عوامو ځان ته جلا اسامبله لرله چې ټربیون یا استازی یې ټاکه. دغه ټربیون کولای شول چې د داورانو پرېکړې ویټو کړي، د عوامو جرګې غونډه راوبولي او د قانون طرحه پېشنهاد کړي. عمومي اسامبلې په ۱۳۳ ق م کې تبریوس ګراکچوس واک ته ورساوه. د اسامبلې قدرت پر «بېلتون» ولاړ و؛ چې د عوامو له لوري یو ډول اعتصاب ګڼل کېده، په ځانګړې توګه سرتېري به له ښاره بهر غونډېو ته تلل او تر هغو به چې داورانو یې شکایتونو ته رسېدنه نه وه کړې، اعتصاب ته یې دوام ورکاوه. د جګړې پرمهال به دې مسئلې ته ډېر پام کېده. ویل کېږي چې له میلاده مخکې په پنځمه پېړۍ کې د یوه بېلتون په ترڅ کې خلک بریالي شول چې خپل ټربیون وټاکي او هغه قوانین چې له مخې یې ټولنه اداره کېده، تصویب کړي. سیاسي او قانوني مصونیت له هغوی سره مرسته وکړه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



چې خلکو ته د پاموړ اقتصادي فرصتونه او پرانېستي اقتصادي بنسټونه جوړ کړي. په پایله کې د روم جمهوریت په مشرۍ سوداګري په ټوله مدیترانه کې وغوړېده. د لرغونپوهنې شواهد ښیي، په داسې حال کې چې زیاتره رومیانو او مریانو «وخوره او مه مره» ژوند درلود، د عادي اوسېدونکو په ګډون ګڼو نورو رومیانو بیا د پاموړ عوایدو ته لاسرسی پیدا کړ، چې ښاري کانالیزاسیون او د شپې له خوا د سړکونو د روښنايي اسانتیاوو څخه برخمن وو. د روم د اقتصادي ودې په اړه نور شواهد هم شته. د رومیانو د شتمنۍ کچه هغوی له پاتې شویو کښتیو څخه معلوموﻻی شو. هغه امپراتوري چې رومیانو جوړه کړې وه، د بندري ښارونو یوه شبکه وه چې په ختیځ کې له اتن، انطاکیه او سکندریې څخه تر روم پورې او په لرې ختیځ کې له کارتاج او کادېس څخه تر لندنه پورې سیمې یې په برکې نیولې. د روم قلمرو په پراخېدو سره، سوداګري او د بېړۍ چلونې بهیر هم پراخ شول او دا حقیقت د هغو شواهدو پربنسټ په اثبات رسوﻻی شو چې لرغونپوهانو د مدیترانې سمندر په تل کې له ډوبو شویو بېړیو څخه ترلاسه کړي دي. ددې پاتې شونو نېټه له بېلابېلو لارو معلومېدای شي. په یادو بېړیو کې به د شرابو خُمرې[1] او د زیتونو تېل له روم څخه ګالیا او هسپانیا ته لېږدول کېدل او د هسپانیا د زیتونو تېل به د خرڅلاو یا وړیا وېش لپاره روم ته راتلل. د شرابو پر خُمرو به معموﻻ د جوړوونکي نوم او د تولید نېټه لیکل کېده. د تیبر سیند ته څېرمه د «Monte Testacci» په نامه یوه

[1] اوږده ختین لوښي دي چې پخوا به په کې شراب یا نور مایعات ساتل کېدل. د افغانستان په ځینو سیمو کې ورته چاټۍ هم وایي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



کوچنۍ غونډه پرته ده، چې د «Monte dei Cocci» یا د کولالۍ غونډۍ په نامه هم یادېږي. دغه غونډۍ له نږدې ۵۳ میلیونه خُمرو څخه جوړه شوې ده. کله چې به خُمرې له بېړۍ څخه تخلیه کېدلې، نو خالي خُمرې لرې غورځول کېدې او په دې توګه د پېړیو په اوږدو کې د خُمرو له انبار څخه یاده غونډۍ جوړه شوه. نور توکي او همدارنګه په خپله کښتۍ هم کولای شو چې د راډیو کاربن په وسیله یې تاریخ معلوم کړو، دا هغه مروجه او ډاډمنه طریقه ده چې لرغونپوهان یې د نباتي بقایاوو د عمر معلومولو په موخه کاروي. نباتات د فوټوسنتېز عملیې پرمټ انرژي تولیدوي چې دغه انرژي بیا کاربن ډای اکسایډ پر قند تبدیلوي. هغوی د دې عملیې په ترڅ کې یوه اندازه کاربن-۱۴، یعنې ددې عنصر یو طبیعي راډیو ایزوتوپ زېرمه کوي. کله چې نباتات له منځه ځي، کاربن ډای اکسایډ د راډیو اکټیف د خوسا کېدو له امله په تدریج له منځه ځي. کله چې لرغونپوهان د یوې کښتۍ پاتې شوني ترلاسه کوي، کولای شي چې له همدې کاربن-۱۴ څخه په استفادې د هغې تاریخ معلوم کړي. دا عملیه موږ ته د ونې د پرې کولو او وهلو یو اټکلي تاریخ هم په واک کې راکوي. یوازې ۲۰ کښتۍ دي چې تاریخ یې له میلاده ۵۰۰ کاله مخکې دی، دا کښتۍ په ډېر احتمال سره چې رومي نه وې، مثلاً؛ ښایي چې کارتجني «Carthaginian» وې، خو تر دې وروسته د رومي کښتیو شمېر په چټکۍ سره ډېرېږي. د حضرت عیسی (ع) په وخت کې د دې کښتیو شمېر ۱۸۰ ته رسېږي.

د لرغونو زمانو د ډوبو شویو بېړیو په اړه څېړنې د روم جمهوریت د اقتصادي او سوداګریزو حدودو د روښانه کولو په برخه کې یوه کارنده طریقه ده. دغه څېړنه د لرغوني روم د اقتصادي ودې په اړه

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



شواهد په لاس راکوي. ښايي چې د يادو کښتيو دوه پر درېيمه برخه مالونه د روم حکومت اړوند و او دا مالونه هغه ماليات او جزيې وې چې له ولايتونو څخه پلازمېنې ته لېږدول کېدل، يا هم ښايي هغه غنم او د زيتونو تېل به وو چې د افريقا له شماله راوړل کېدل او بيا د ښار خلکو ته په وړيا توګه وېشل کېدل. دا هغه استثماري مېوې وې چې د «Monte Testaccio» لويه برخه يې جوړه کړه. د اقتصادي ودې په اړه د شواهدو لاسته راوړلو لپاره يوه بله اغېزناکه لار د ګرينلنډ يخي هستو په اړه شويو څېړنو ته مراجعه ده. د واورې هغه دانې چې له اسمانه پر ځمکه توییږي، په هوا کې او په ځانګړې توګه پر اوسپنې، سپينو زرو او مسو يو مقدار ککړوالی خپروي، کله چې پر شوې واوره نوره واوره ورېږي، يخ يې وهي او ډېرې ترې جوړېږي. په ګرينلنډ کې زرګونه کلونه پرله پسې واوره ورېدلې ده او دا کار ساينس پوهانو ته فرصت ورکوي چې زرګونه کاله مخکې د هوا د ککړتيا کچه معلومه کړي. په ۱۹۹۰ او ۱۹۹۲ کلونو کې د ګرينلنډ د يخي هستو د څېړنې پروژې په ترڅ کې د يخ ۳۰۳۰ متره لاندې سطحه وکيندل شوه، چې تاريخ يې ۲۵۰،۰۰۰ کاله پخوا زمانو ته رسېږي. په دې څېړنه کې يوه مهمه خبره دا وه چې له ۵۰۰ ق م ميلاد وروسته کلونو کې د هوا په ککړوالي کې د پاموړ زياتوالی راغلی دی. د اوسپنې، مسو او سپينو زرو اتوموسفيري مقدار وروسته په منظم ډول زيات شوی او د لومړۍ ميلادي پېړۍ په اوايلو کې خپل لوړ حد ته رسېدلی. په ديارلسمه ميلادي پېړۍ کې دا کچه يو ځل بيا لوړېږي. دا موندنې ښيي چې په روم کې کان کيندنې پخوا او اوس څومره توپير درلود، يعنې د وخت په تېرېدو دا بهير

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



چټک او پراخ شوی دی. په کان کیندنه کې دا زیاتوالی ښيي چې اقتصادي فعالیتونه څومره پراخ شوي وو. خو د روم اقتصادي وده دوامداره نه وه، ځکه چې دا وده د داسې بنسټونو په اډانه کې رامنځته شوې وه چې یوه برخه یې پرانېستي او بله برخه یې زبېښونکې وه. که څه هم رومیان له سیاسي او اقتصادي حقونو برخمن وو، خو مریتوب او استثمار هم په کې ښه پرېمانه و او اشرافو (سناتوریال کلاس) سیاست او اقتصاد دواړه انحصار کړي وو. د مثال په توګه، د عمومي اسامبلې او د هغې د ټربیون له شتون سره سره، بیا هم اصلي واک له سنا سره و، چې غړي یې له سناتوریال طبقې څخه د سترو ځمکوالو له منځه ټاکل کېدل. د رومي تاریخ لیکونکي لېوي «Livy» په وینا، سنا د روم د لومړي پاچا رومولوس له لوري تاسیس شوه او سل غړي یې لرل. ددغو لومړنیو غړو لمسیان د سناتوریال طبقې په نامه ونومول شول، که څه هم ځیني نوې کورنۍ هم پکې شاملې وې. د ځمکو وېش ډېر نا انډوله و او احتمالاً چې له میلاد څخه دوه پېړۍ مخکې وضعیت نور هم پسې سخت شو. د ستونزې ریښه همدا وه چې ګراکچوس د اسامبلې د ټربیون په توګه د هغې د وچولو هڅه کوله.

روم د مدیترانې په ګوټ ګوټ کې د خپل قلمرو په پراخولو سره ډېره شتمنۍ هم لاسته راوړه، ددې شتمنۍ لویه برخه د سناتوریال شتمنې کورنۍ ته ورسېده چې دې کار د بېوزلو او بډایو ترمنځ نا انډولتیا نوره هم پراخه کړه. سناتورانو نه یوازې له بډایو ولایتونو، بلکې په ایټالیا کې له خپلو سترو ځمکو او املاکو څخه هم شتمنۍ ترلاسه کولې. په دې املاکو کې هغو مریانو کار کاوه چې د روم په جګړه کې اسیر شوي وو، خو د دې املاکو ځمکې له کومه شوې وې؟

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



د جمهوریت په دوران کې د روم پوځ له ولسي سرتېرو[1] څخه جوړ و، چې لومړی په روم او وروسته د ایټالیا په نورو برخو کې د ځمکو کوچني مالکین وو. هغوی په سنتي ډول یوازې د اړتیا په وخت کې د پوځ په لیکو کې جنګېدل او بیا له جګړې تر ستنېدو وروسته به بېرته خپلو کروندو ته ستنېدل. د روم قلمرو په پراخېدو او د جګړه ییزو ماموریتونو په غځېدو سره، د جګړې دا تګلاره نوره بدله شوې وه. سرتېري به کلونه له خپلو ځمکو لېرې وو او بالاخره کروندې به یې شاړې پاتې کېدې. د سرتېرو کورنیو به له سختې لوږې او د پورونو له درونډ بار سره لاس و پنجه نرموله. په دې توګه له کښت څخه پاتې شاړې ځمکې د سناتوریال په برخه شوې. د سناتوریال کلاس په لا ډېر شتمن کېدو سره، له پوځه د ترخیص شویو بې ځمکو کسانو یوه ستره ډله په روم کې دېره شوه. دا چې هغوی ته هیڅ ځمکه ور پاتې نه وه، نو په ښار کې د کار موندنې په لټه کې شول. له میلاده مخکې د دویمې پېړۍ په وروستیو کې شرایط د جوش خطرناکې نقطې ته ورسېدل، هم له دې کبله چې د بېوزلو او بډایو ترمنځ واټن په بېساري ډول ژور شوی و او هم دا چې په روم کې د ناراضه وګړو یوه ستره برخه دېره وه. دغه ناراضیان د شته بې عدالیتو په غبرګون کې د اشرافو پرضد مقابلې ته چمتو وو، خو سیاسي واک د شتمنو ځمکوالو او د سناتوریال پاړکي په لاس کې و چې په وروستیو دوو پېړیو کې د موجوده شرایطو په برکت خورا شتمن شوي وو. د دوی ډېری ان د نظام د بدلون په فکر کې هم نه و، ځکه چې حالاتو ډېر مست کړي وو.

[1] citizen-soldiers

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



د رومي تاریخ لیکونکي پلوټارک په وینا کله چې تبریوس ګراکچوس د اوسنۍ مرکزي ایټالیا په اریترویا سیمه کې سفر کاوه، چې د ولسي سرتېرو د کورنیو له کړاوه ډک ژوند ته یې پام شو. نوموړي د سناتورانو له مخالفت سره سره، په ایټالیا کې د ځمکو د وېش په برخه کې یوه اصلاحي طرحه چمتو کړه. هغه له میلاد څخه مخکې په ۱۳۳ کال کې د عمومي اسامبلې ټربیون یا ویاند وټاکل شو او له خپل دغه مقام څخه په ګټې اخیستنې یې د ځمکو پر اصلاحاتو لاس پورې کړ. ده د یو کمېسیون د جوړېدو وړاندیز وکړ، څو معلومه کړي چې هغه څوک چې تر ۳۰۰ ایکره (۱۲۰ هکتاره) ډېره ځمکه لري، اضافي یې باید د روم هغو اړمنو وګړو ته ووېشل شي چې ځمکه نه لري. د ۳۰۰ ایکره معیار ټاکل په حقیقت کې د هغه پخواني قانون حکم و، چې له څو پېړیو راهیسې له پامه غورځول شوی و او نه عملي کېده. د ګراکچوس دغه پلان د سناتوریال طبقې ترمنځ سختې اندېښنې را وپارولې او په دې بریالي شول چې د ګراکچوس د ارضي اصلاحاتو پروګرام تر یوې مودې وځنډوي، خو ګراکچوس په اسامبله کې د خپلو ملاتړو په مرسته یو تن ټربیون چې د ځمکو د اصلاحاتو د طرحې د ویټو ګواښ یې کړی و، عزل کړ او په پایله کې پېشنهاد شوی کمېسیون جوړ شو. سناتورانو کمېسیون ته د مالي امکاناتو او سرچینو د نه ورکولو پرېکړه وکړه او ګراکچوس یې په غبرګون کې کمېسیون ته هغه شتمنۍ ځانګړې کړې چې د یوناني ښار د پاچا «پېرګاموم» څخه د روم خلکو ته پاتې وې. په دې توګه، کړکېچ نور هم اوج ته ورسېد. نوموړي هڅه کوله چې یو ځل بیا د عمومي اسامبلې ټربیون یا ویاند وټاکل شي، ځکه که له واکه ګوښه شي، نو ښایي د سناتورانو له لوري محاکمه او اعدام شي. دې

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



موضوع سناتورانو ته ښه پلمه په لاس ورکړه او ګراکچوس یې پر دې تورن کړ چې غواړي ځان پاچا کړي. هغه او ملګرو ته یې دسیسه جوړه شوه او د یوې حملې په نتیجه کې ووژل شول. خو د ګراکچوس په وژنې سره دا انګېزه مړه نه شوه. که څه هم د هغه لارویانو هڅه وکړه چې د ځمکو وېش او د ټولنې په نورو اقتصادي برخو کې اصلاحاتو ته دوام ورکړي، خو هغوی هم له ورته برخلیک سره مخ شول. مثلاً؛ د ګراکچوس ورور ګایوس غوښتل چې د خپل ورور ځای ونیسي، خو د ځمکوالو له لوري ووژل شو.

د راتلونکې یوې پېړۍ په ترڅ کې دغه ډول شخړې او کړکېچونه په دوراني ډول یو ځل بیا راڅرګند شول او په ځانګړې توګه د ۹۱-۸۵ ق م کلونو ترمنځ کشمکشونه پر «ټولنیزو شخړو» واوښتل. د سناتوریال د ګټو سرسخت ملاتړي کارنلیوس سولا لوسیوس «Cornelius Sulla Lucius» نه یوازې د بدلونونو په اړه پورته شوي غږونه په بې رحمۍ سره غلي کړل، بلکې د عمومي اسامبلې د ټربیونونو یا ویاندویانو واکونه یې هم محدود کړل. کله چې جیولیوس سزار له سنا سره په مبارزه کې د رومیانو ملاتړ خپل کړ، دغې موضوع هم د عامه ملاتړ خپلولو په برخه کې محوري رول درلود. جیولیوس سزار په ۴۹ ق م کې کله چې له خپلو سپاهیانو سره د روبیکان له سیند څخه تېرېده، هغه سیاسي بنسټونه یې له منځه یووړل چې د روم جمهوریت مرکزي هسته یې جوړوله. روبیکان سیند هغه سیمه ده چې د روم ولایتونه «Cisalpine Gaul» له ایټالیا څخه جلا کوي. روم د سزار لاسته ولوېد او یوه بله کورنۍ جګړه پیل شوه. جګړه د سزار په ګټه پای ته ورسېده، خو وروسته نوموړی په ۴۴ ق م

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



کې د «بروتوس» او «کاسیوس» په مشرۍ د مخالفو سناتورانو له لوري ووژل شو. روم جمهوریت ارام نه شو او د سزار د پلویانو، په ځانګړې توګه د «مارک انتوني او اوکتاویان» او د سناتورانو ترمنځ بله کورنۍ جګړه ونښته. انتوني او اوکتاویان له بریالي کېدو وروسته په خپلو کې سره ونښتل، چې بلاخره له میلاد څخه مخکې په ۳۱ کال کې اوکتاویان د «اکتیوم» په جګړه کې بریالی شو. هغه چې وروسته په ۲۸ ق م کال کې د «اګوستوس سزار» په نامه یادېده، پنځه څلوېښت کاله پر روم په یوازې ځان واکمني وکړه. اګوستوس په روم کې امپراتوري نظام رامنځته کړ. نوموړي غوره ګڼله چې امپراتورۍ ته یې د پرنسېپ «princep» چې د [برابرو ترمنځ لومړی] معنا ورکوي، خطاب وشي او خپل رژیم یې پرنسېپات باله. یوولسم (۱۱) نمبر نقشه له میلاد څخه وروسته په ۱۷۷ کال کې د روم امپراتورۍ حدود راښیي چې تر ټولو وروستي برید ته رسېدلې وه. په دې نقشه کې د روبیکان سیند ساحه چې د سزار لپاره برخلیک ټاکونکې سیمه وه، ترسیم شوې ده.


جمهوریت څخه پرنسیپات ته او بیا وروسته د امپراتورۍ په لور ورتګ، روم له زوال سره مخ کړ. هغه نیم بنده پرانېستي سیاسي بنسټونه چې اقتصادي هوساینې ته یې لار هواروله، سوکه سوکه له پامه وغورځول شول. سره له دې چې په روم جمهوریت کې د «ځمکو لوبه» د سناتوریال او نورو شتمنیو پاړکیو په ګټه روانه وه، خو یاد جمهوریت یو استبدادي یا ټولغوښتونکی نظام نه و او نه یې واک په کوم ځانګړي مقام پورې متمرکز کړی و. هغه بدلونونه چې اګوستوس پلي کړل، په وینز کې «سېراتا» ته ورته پروسه وه، چې په لومړیو کې یې یوازې سیاسي اړخ درلود، خو وروسته یې اغېزناکې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



اقتصادي لاسته راوړنې لرلې. لوېديځ روم چې د دغو بدلونونو له امله له امپراتورۍ جلا شوی و، په پځمه ميلادي پېړۍ کې هم له مالي او هم له اقتصادي پلوه له سختې ځوړتيا سره مخ شوی و او د ړنګېدو پر پوله ولاړ و.




۱۱مه نقشه: د روم امپراتوري په ۱۱۷م کال کې

## ...رومي بدګنې

فلاويوس اتيوس چې د «روم امپراتورۍ زوال او سقوط» په نامه د کتاب ليکوال اډوارد ګيبون، نوموړی «وروستی رومي» بولي؛ د روم امپراتورۍ يوه مهمه او راښکوونکې څېره وه. مخکې له دې چې نوموړی د امپراتور «دربيم والنتينيان» په دستور ووژل شي، هغه د يوه

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



پوځي سردار په توګه د روم امپراتورۍ مخکښه او ځواکمنه څېره وه. هغه د روم امپراتورۍ کورنی او بهرنی سیاست منظم کړ او له سرکښو بدوي قبايلو او په کورنيو جګړو کې له ښکېلو روميانو سره يې مبارزه وکړه. په کورنيو جګړو کې د ښکېلو پوځيانو ترمنځ هغه يوازينی کس و، چې د واک او امپراتورۍ د لاسته راوړلو په هڅه کې نه و. د دويمې ميلادي پېړۍ له پای ته رسېدو وروسته، په روم کې کورنۍ جګړه د ورځني ژوند پر واقعيت بدله شوې وه. په ۱۸۰ ميلادي کال کې د مارکوس اريليوس «Marcus Aurelius» د مړينې پرمهال او په ۴۷۶ کال کې د لوېديځ روم امپراتورۍ د سقوط په موده کې ډېر لږ داسې وخت راغی چې کورنۍ جګړې به نه وې او يا به د امپراتورۍ پروړاندې د کودتاګانو هڅې نه کېدلې. ډېر لږ امپراتوران يا په خپل طبيعي مرګ مړه شول او يا هم د جګړې په ډګر کې ووژل شول، بلکې ډېر شمېر يې د واک غوښتونکو ډلو او يا هم په خپله د پوځ له خوا له منځه يوړل شول. د اتيوس شغل د روم جمهوريت او د روم امپراتورۍ کې د بدلونونو په اړه مونږ ته يو تصوير په لاس راکوي. د هغه رول نه يوازې په ناپايه کورنيو جګړو کې او همدارنګه د امپراتورۍ په لومړيو کې د هېواد په چارو کې يې واک د جنرالانو او سناتورانو له محدودو واکونو څخه توپير لري، بلکې د نومړي د ژوند پېښې څرګندوي چې د روميانو برخليک څنګه د يادو دوو پېړيو ترمنځ بدلون ته سوق شوی و.

بربريان چې د امپراتورۍ په وروستيو کلونو کې لومړی مغلوب او بيا په پوځي ليکو کې ځای پرځای شوي وو او يا هم د مريانو په توګه ترې کار اخيستل کېده، د هېواد پر ډېری سيمو واک ټينګ کړ. اتيوس په ځوانۍ کې د بربريانو– لومړی د الاريک په مشرۍ د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



ګاټانانو او بیا وروسته د هونانو- له لوري برمته کړای شو. له بربریانو سره د روم اړیکې د هغو بدلونونو ښکارندویي کوي چې د جمهوریت عصر په پایله کې رامنځته شوې وې. الاریک یو ډاروونکی دښمن او په عین وخت کې یو متحد ګڼل کېده، داسې چې په ۴۰۵ میلادي کال کې نوموړی د روم په پوځ کې د جنرالۍ تر ټولو لوړې رتبې ته ورسېد. البته دا یوه موقتي چاره وه. الاریک په ۴۰۸ کال کې د رومیانو پرضد جنګېده، چې ایټالیا یې ونیوله او په روم کې یې لوټماري پیل کړه. هونیان په عین حال کې چې یو پیاوړی دښمن ګڼل کېده، ترځنګ یې د روم همېشنی متحد او ملاتړی هم و. که څه هم هغوی لومړی اتیوس برمته کړی و، خو وروسته د کورنۍ جګړې پرمهال د هغه ترځنګ ودرېدل. خو هونیان به تل له یوه لوري سره ژمن او متحد نه پاتې کېدل او په ۴۵۱ کال کې یې د اتیلا په مشرۍ د «راین» سیند پورې غاړه د رومیانو پرضد جګړې ته را ودانګل په دې وخت کې ګاټانو د تیودوریک په مشرۍ د روم د دفاع لپاره جګړه کوله. د دغو ټولو پېښو په جریان کې د روم اشرافو بې دریغه هڅې کولې چې بربر قومندانانو ته ډاډ ورکړي. دا ډاډ ددې لپاره نه چې د بربریانو په مقاومت د روم پولې وساتي، بلکې د دې لپاره چې اشراف به یوه ورځ د واک د تصاحب لپاره په کورنیو شخړو کې دا ډله وکاروي. د مثال په توګه، ونډالیانو د پاچا قیصر په مشرۍ د اوسنۍ هسپانیا د ایبریا پر ټاپو وزمې یرغل وکړ او له ۴۲۹ میلادي کال وروسته یې د افریقا په شمال کې د رومیانو لویه برخه کرنیزې ځمکې ولکه کړې. د روم امپراتور درېیم والنتیناین ددې برید په غبرګون کې قیصر ته خپله کوچنۍ لور د واده په ډول پېشنهاد کړه.

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



سره له دې چې قیصر تازه د ګاټانو د یوه مشر له لور سره واده کړی و، خو د روم امپراتور دا وړاندیز یې رد نه کړ. قیصر خپله لومړۍ مېرمن په دې پلمه چې د ده د وژلو پلان یې درلود، طلاق او د غوږونو او پزې په پرې کولو سره یې خپلې کورنۍ ته ولېږله. نوې ناوې ډېره بختوره وه چې د کم عمر له امله په اېټالیا کې ساتل کېده او واده یې هېڅکله ترسره نه شو. نوموړې وروسته د پټرانیوس مکسیموس په نامه یوه ځواکمن جنرال ته واده شوه او پټرانیوس هغه څوک و چې د امپراتور درېیم والنټیناین په مرسته یې د اتیوس د وژنې پلان جوړ کړی و، خو وروسته خپله امپراتور د دې توطیې قرباني شو. مکسیموس د امپراتورۍ پر تخت کېناست، خو حکومت یې ډېر دوام ونه کړ، ځکه چې د قیصر له لوري پر اېټالیا د ونډالیانو د یرغل په پایله کې ووژل شو، دا هغه یرغل و چې د روم په سقوط او وحشیانه لوټنې تمام شو.

د پنځمې پېړۍ په لومړیو کې بربریان د روم د دروازو خولې ته رسېدلي وو. ځیني تاریخ لیکوونکي دا پېښه له دې سره تړلې ګڼي چې ګنې روم د امپراتورۍ په وروستیو کلونو کې له پیاوړو سیالانو سره مخ شوی و. خو د ګاټانو، هونیانو او ونډالیانو بریالیتوبونه د روم د زوال نښې وې، نه د سقوط اصلي عوامل. د جمهوریت پرمهال روم له ډېرو خطرناکو او سازمان شویو رقیبانو لکه کارتاژیانو سره مخ شو. د روم زوال د مایا دولت-ښارونو له سقوط او زوال سره ډېر ورته والی لري. د روم زېښبونکي سیاسي او اقتصادي بنسټونه وو چې کورنۍ جګړې او د امپراتورۍ د سقوط پېښې یې وزېږولې. د روم د زوال ریښې هغه وخت ته ورګرځي کله چې اګوستوس واک ته ورسېد، دغې پېښې د بدلونونو یوې داسې مرحلې ته لار پرانېسته چې

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



سیاسي بنسټونه یې ورځ تر بلې استثماري کول. د یادو بدلونونو له ډلې یو هم د پوځ د سټرکچر یا جوړښت بدلول و، چې بېلتون یا تجزیه یې ممکنه کړه. دې کار هغه حیاتي عنصر چې د سیاست په ډګر کې یې د عامو رومیانو رول خوندي کاوه، له منځه یووړ. امپراتور تبریوس هم، کله چې په ۱۴ میلادي کال کې واک ته ورسېد، عمومي اسامبله منحل او د هغې واک یې سنا ته ولېږداوه. رومیان ددې پرځای چې په سیاست کې ونډه او ځای ولري، په غنمو، د زیتون تېلو، شرابو او د خنزیر په وریا غوښو او همدارنګه د ګلادیاتورانو په تفریحي پروګرامونو یا سرکسونو بوخت کړای شول. د هغو اصلاحاتو له امله چې اګستوس پلي کړي وو، امپراتوري نظام د دې پرځای چې د پخوا په څېر د روم 'ولسي سرتېرو' لښکر باندې تکیه وکړي؛ د امپراتورۍ ګارډ ته یې مخه کړه. دا هغه ځانګړی پوځ و چې د اګوستوس په لاس جوړ شوی و. دا ځانګړی ګارډ ډېر ژر پر یوې داسې وسیلې بدل شو چې د امپراتورانو په سقوط او بریالي کولو کې یې پوره لاس درلود، داسې چې ځانګړي ګارډ به د کورنیو جګړو او شخړو په وخت کې د توطیو له لارې یو امپرتور رانسکور او بل یې واک ته رساوه. اګوستوس دغه راز اشراف د عامو وګړو پر وړاندې تقویه کړل او په دې توګه هغې ژورې نا انډولۍ چې د تبریوس ګراکچوس او اشرافو ترمنځ د شخړې سبب شوه، دوام پیدا کړ او ان لاپسې پراخه شوه. په مرکز کې د واک راغونډېدو د عامو وګړو د مالکیت د حقوقو د خوندیتوب مسئله له ګواښ سره مخ کړه. د امپراتورۍ په راتګ سره، د دولت له لوري د ضبط شویو ملکیتونو او شتمنیو کچه لوړه شوه او د روم په ځینو برخو کې د مصادره یا

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

Downloaded By: Afghan Salar Library



ضبط شويو ځمکو کچې د ټولو ځمکو نيمايي جوړوله. په ځانګړې توګه د امپراتور او له هغه د چاپېره کړۍ له لوري د قدرت د تمرکز له امله د مالکيت حقوق بې ثباته و. د واک د لاسته راوړلو پر سر دغه کشمکش چې د مايا دولت سره دومره توپير نه لري، بلاخره اوج ته ورسېد. ان مخکې تر دې چې بربريان له ناورينه ډکه پنځمه ميلادي پېړۍ کې واک ترلاسه کړي، کورنۍ جګړه پر عادي چاره بدله شوې وه. د مثال په توګه، «سيپټيموس سوروس» له «ډيډيوس جوليانوس» څخه واک ترلاسه کړ. جوليانوس هغه څوک و چې د «پرتيناکس» له وژلو وروسته په ۱۹۳ کال کې واک ته رسېدلی و. درېيم امپراتور سېوروس د تخت د نورو مدعيانو جنرال «پسنيوس نايجر» او جنرال «کليودوس البينوس» پروړاندې وجنګېد او هغوی ته يې په ترتيب په ۱۹۴ او ۱۹۷ کلونو کې ماتې ورکړې. نوموړي د کورنيو جګړو په ترڅ کې د خپلو ټولو مخالفينو شتمنۍ او مالونه مصادره يا ضبط کړل. که څه هم ځواکمنو واکمنانو لکه تراجان (۹۸- ۱۱۷) او وروسته ادريان او مارکوس اورليوس، د روم د شړېدو او سقوط مخه څه ناڅه ونيوله، خو يو يې هم د بنسټونو د اساسي ستونزو په حل کې بريالي نه شول، دوی يا نه غوښتل او يا يې له وسه پورته خبره وه. له يادو واکمنانو څخه هېڅ له امپراتوري نظام څخه د لاس اخيستو او همدارنګه د جمهوري اصولو پربنسټ په روم کې د اغېزناکو سياسي بنسټونو د بيا رغښت هوډ نه درلود. مارکوس خپل زوی کودوس خپل ځايناستی ټاکلی و چې نوموړی د نيرو او کاليګولا په پرتله تر ډېره پلار ته ورته و.

د امپراتورۍ اړونده سيمې او ښارونه د پراخېدونکې بې ثباتۍ شاهدې وې. په درېيمه ميلادي پېړۍ کې د روم امپراتورۍ ټول ستر

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



ښارونه په دفاعي دېوالونو راچاپېر شوي وو. په زياترو مواردو کې تاريخي ځايونه او ابدات د دې لپاره ويجاړ شول چې له ډبرو او ټوټو څخه يې دفاعي دېوالونه او سپر جوړ کړي. له ميلاده مخکې په ۱۲۵ کال کې ګول ته د روميانو تر ورتګ مخکې، يادو خلکو د دفاع او خونديتوب په موخه خپل کورونه د غونډيو له پاسه جوړول. د روميانو په راتګ سره لومړني هستوګنځي پر دښتو او شاړو ځمکو بدل شول، خو په درېيمه ميلادي پېړۍ کې بيا دغه وضعيت معکوسه بڼه خپله کړه.

د سياسي بې ثباتۍ له ډېرېدو سره، ټولنه د داسې بدلون په لور سوق شوه چې اقتصادي بنسټونه يې لاپسې زېښونکي يا استثماري کړل. د سيټيزنشيپ يا ښاروندۍ لمن دومره پراخه شوې وه چې په ۲۱۲ ميلادي کال کې د امپراتورۍ ټول ازاد وګړي له دې حقه برخمن وو او سيټيزن ګڼل کېدل، خو په دې موده کې په ټولنه کې منفي بدلونونو دا هرڅه اپوټه کړل. هغه وختونه له منځه لاړل چې ټول وګړي به د قانون په وړاندې له مساوي حقونو برخمن وو، په ځانګړې توګه کله چې ادريان (۱۳۸-۱۱۷) واک ته ورسېدل، د هرې ډلې لپاره بېلابېل قوانين عملي کېدل. يو بل ټکی چې يادول يې اړين دي، هغه د ښاوندۍ د وضعيت بدلون دی چې د جمهوريت په پرتله په دې دوره کې خلکو په سياسي او اقتصادي چارو کې د ګډون ونډه نه لرله. مريتوب د روم په ګوټ ګوټ کې پر خپل ځای پاتې شو. د امپراتورۍ نظام په ټينګېدو سره، کروندګر د مريتوب ډوله شرايطو په لور ورټېل وهل شول او په ځمکو کې بوخت کړل شول. د دغو مري

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



ډوله وګړو حالت چې کلوني[1] یې بلل، په رسمي اسنادو لکه «Codex Theodosianus» او «Codex Justinianus» کې په تفصیل سره بیان شوی دی، چې ریښه یې احتمالا د ډیوکلتین حکومت (۲۸۴ -۳۰۵) مودې ته ور رسېږي. پر کلوني د څمکوالو حقوق نور پسې زیات شول. په ۳۳۲ میلادي کال کې امپراتور قسطنطین ځمکوالو ته اجازه ورکړه، څو کلونیس یا د کلوني هغه غړي چې د تېښتې په جرم تورن دي، زولانه کړي او همدارنګه له ۳۶۵ میلادي کال وروسته کلوني کروندګرو د ځمکوالو له اجازې پرته د خپلو شخصي ملکیتونو د پلور اجازه نه لرله. لکه څرنګه چې د ډوبو شویو بېړیو او د ګرینلنډ له یخي هستو څخه معلومولی شو چې په لومړیو پېړیو کې د روم اقتصادي وضعیت څه ډول و، همدغسې له یادو شواهدو څخه په ګټې اخیستنې د روم د سقوط او ځوړتیا عوامل هم روښانه کولای شو.

تر ۵۰۰ میلادي کاله پورې د روم د ټولو ډوبو شویو بېړیو شمېر له ۱۸۰ څخه ۲۰ ته راټیټ شو. کله چې روم مخ په ځوړ روان شو، سوداګري په مدیترانه کې کمه شوه او د ځینو په وینا ان تر نولسمې پېړۍ پورې پخواني حالت ته ونه ګرځېده. د ګرینلنډ یخونه هم عین شی داستان بیانوي. رومیانو به له سپینو زرو سکې جوړولې او د اوسپنې استعمال هم په کې ډېر دود و، چې تر ډېره د پایپونو او لوښو په جوړولو کې به ترې کار اخیستل کېده. د میلاد تر لومړۍ پېړۍ وروسته په یخي هستو کې د اوسپنې، سپینو زرو او مسو د استعمال کچه مخ په کمېدو ښکاري. د جمهوریت د وخت اقتصادي وده د

[1] Coloni

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

Downloaded By: Afghan Salar Library



نړۍ د نورو زېږېدونکو بنسټونو لکه د شوروي اتحاد په څېر حیرانوونکې وه، خو دغه وده چې حتی تر یوه بریده د نیمه پرانېستو بنسټونو په وجود کې ترسره کېده، محدوده وه او دوامداره پاتې نه شوه. د روم اقتصادي وده د کرنیزو محصولاتو پر نسبتاً لوړ تولید، جزیې او د لېرې واټن تجارت باندې ولاړه وه، خو دغه وده له ټکنالوژیکي پرمختګونو او خلاق تخریب څخه بې برخې وه. رومیانو ته یو لړ اساسي ټکنالوژۍ لکه اوسپنیز وسایل، وسلې، سواد او سپاره « د ځمکې د قُلبه کولو وسیله» په میراث پاتې وو، خو د جمهوریت په لومړیو کې یې ځیني نورې لاسته راوړنې هم لرلې، لکه په ودانیو کې د سیمنټو کارول، پمپ او د اوبو څرخ. تر دې وروسته د امپراتورۍ په وخت کې ټکنالوژیکي نوښتونه او بدلونونه په ټپه ودرېدل. د مثال په توګه، د کښتیو په ډیزاین او جوړونه کې ډېر لږ تحول راغلی او د بېړۍ د حرکت لپاره له لرګیو جوړ راښېېل هېڅکله په شاتنۍ برخه کې څرخ باندې بدل نه شو. د اوبو د څرخونو د ترویج پروسه ډېره ټکنۍ وه او له همدې امله اوبه هېڅکله د روم په اقتصاد کې د انقلاب سبب نه شوې، حتی په ځینو بنسټیزو پروژو لکه د اوبو رسونې کانالونو او ښاري کانالیزاسیون جوړولو کې هم له پخوانۍ ټکنالوژۍ څخه کار اخیستل شوی و. له نوښت پرته او پر پخوانۍ ټکنالوژۍ تکیې تر یوه بریده اقتصادي وده رامنځته کولای شوای، خو دا چې یاده وده له خلاق تخریب څخه خالي وه، دومره ونه پایېده. د مالکیت حقونو په نا خوندي کېدو سره د وګړو اقتصادي او سیاسي حقونه هم په خطر کې شول او اقتصادي وده ټکنۍ شوه. د روم د لرغوني عصر د ټکنالوژۍ په اړه د پامور ټکی دا

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



دی چې د ټکنالوژۍ پنځونه او ترویج د حکومت په لاربښوونه ترسره کېدل. دا کار تر هغه سم دی کله چې دولت د خلاق تخریب له وېرې ټکنالوژیکي پرمختګ ته زړه نه ښه کوي. د روم ستر لیکوال «پیلیني» د هغه سړي کیسه بیانوي چې د تبریوس د واکمنۍ پرمهال یې ناشکن ښیښه اختراع کړې وه او د جایزې اخیستو په موخه امپراتور ته تللی و. نوموړي خپله اختراع تبریوس ته وړاندې کړه او تبریوس وپوښتل چې په دې اړه یې څوک خبر کړي دي او که نه؟ سړي ځواب ورکړ، نه. تبریوس یاد کس پر ځمکه راچپه او ویې واژه، څو «طلا د خاورې په څېر بې ارزښته شي».

په دې داستان کې دوه په زړه پورې ټکي نغښتي دي: لومړی، یاد مخترع د نوي کاروبار د جوړولو او له خپلې اختراع کړې ښیښې څخه د ګټې اخیستنې په پار د امپراتوار دربار ته تللی و، چې دا پر ټکنالوژۍ د حکومت کنټرول او انحصار ښیي. دویم؛ تبریوس په دې خوښ و، چې د ناوړه سیاسي عواقبو له امله د نوښتونو مخه نیسي، چې دا هماغه له خلاق تخریب څخه وېره وه. د امپراتورۍ پرمهال د خلاق تخریب د مخنیوي په اړه دلته له موږ سره هیښوونکي مثالونه شته. سویټونیوس د هغه چا کیسه کوي چې امپراتور وسپاسیان «٦٩-٧٩م» ته راغی او خپله اختراع یې ورته وړاندې کړه. نوموړي داسې وسیله اختراع کړې وه چې د روم نوې جوړېدونکې ماڼۍ ته یې ستنې یا پایې په ډېر کم لګښت لېږدولې. ستنې ډېرې غټې، درنې او لېږدول یې خورا ستونزمن و، یادې ستنې لېرې په کانونو کې جوړېدلې او روم ته د هغو رالېږدول زرګونو کارګرانو او ډېر لګښت ته اړتیا لرله. وسپاسیان مخترع کس ونه واژه، خو نوښت یې رد کړ او زیاته یې کړه:«په دې وسیلې به څنګه وکولای شم چې خپل خلک

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



ماړه کړم؟» بیا هم وینو چې یو مخترع دولت مشر ته ورغلی و. تمه وه چې د ناشکن ښیښې برعکس ددې وسیلې په اړه یوه متفاوته پرېکړه وشي، ځکه چې د روم دولت د استخراج او ستنو جوړولو په چارو کې ښکېل و؛ خو دا نوښت هم بالاخره له خلاق تخریب څخه د وېرې له امله چې تر ډېره سیاسي بڼه یې لرله، رد شو. وسپاسیان اندېښنه لرله چې که خلک خوشاله او تر خپل کنټرول لاندې ونه ساتي، نو سیاسي بې ثباتي به سر راپورته کړي. د روم خلک باید بوخت ساتل شوي وای او د دې کار لپاره غوره وه چې د ودانیزو ستنو په څېر کارونو ته سوق شوي وای. امپراتور به خلکو ته وړیا ډوډۍ ورکوله او د هغوی د ساتېرۍ لپاره یې سرکسونه جوړول. د یادونې ده چې یادې دوه پېښې د جمهوریت له پاشل کېدو په کمه موده کې واقع شوې. د روم امپراتورانو د جمهوریت دورې د واکمنانو په پرتله د بدلونونو د مخنیوي لپاره ډېر ځواک درلود.

په روم کې د ټکنالوژیکي نوښتونو د نشتوالي یو بل مهم لامل د مریتوب دود و. رومیانو د خپلو فتوحاتو په لړ کې ګڼ کسان د مریانو په توګه ونیول او په پراخو ځمکو کې د کار لپاره یې ایټالیا ته بیول. ډېری رومي وګړو کار کولو ته اړتیا نه لیده، ځکه چې د دولت په وړیا مرستو چلېدل. نو نوښت به له کومه شوی وای؟

ومو ویل چې نوښت له هغه ځایه سرچینه اخلي چې کله افراد نوې ایډیاګانې یا طرحې او د زړو مسایلو لپاره نوې حل لارې ولري. په روم کې پر تولید بوخت کسان مریان او مریانو ته ورته کسان (کلوني) وو چې د نوښت انګېزه په کې وژل شوې وه، ځکه چې د کار ټوله ګټه د اشرافو جېب ته تلله. لکه څرنګه چې په دې کتاب کې

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



به يې تکراراً وګورو، د کارګرانو او سيستمونو پر زبېښناک ولاړ اقتصاد لکه مريتوب او خان-رعيت نظام «Serfdom» په ښکاره ډول نوښت ځپونکی دی. دا حقيقت له لرغوني زمانې څخه تر اوسني يا موډرن عصر پورې څرګند دی. د مثال په توګه، په امريکا متحده ايالتونو کې يوازې د دې هېواد شمالي ايالتونو په صنعتي انقلاب کې برخه واخيسته، نه سوېلي ايالتونو. که څه هم مريتوب او خان-رعيت نظام د اشرافو او واکمنې طبقې لپاره پراخ ثروت توليدوي، خو ټولنې ته ټکنالوژيکي نوښتونه او هوساينه نه وربښي.

**له ويندولانډا څخه نور ليکونه نه راځي**

په ۴۳ ميلادي کال کې د روم امپراتوار 'کلاډيوس' برېټانيا ونيوله، خو د سکاټلنډ په نيولو بريالی نه شو. په دې برخه کې وروستۍ بې نتيجې هڅه د روم د ګورنر «اګريکولا» وه، چې نوموړی هم وروسته پرشا شو او په ۸۵ ميلادي کال کې يې د برېټانيا له شمالي پولې څخه تر سکاټلند پورې د ساتنيزو دېوالونو يوه لړۍ بنا کړه. ددې دېوالونو له ډلې يو ستر دېوال د نيوکاسټل د لوېديځ په ۳۵ مايله مترۍ کې په ويندولا کې موقعيت درلود. دغه دېوال په (۱۱) نمبر نقشه کې د روم امپراتورۍ د شمال غرب په لرې پرته سيمه کې ښودل شوی دی. وروسته ويندولا په هغه دفاعي دېوال کې مدغم شو چې ادريان جوړ کړی و، خو کله چې په ۱۰۳ کال کې د کانديدوس په مشرۍ د پوځ يو کنډک هلته مېشت شو، دا يو جلا دېوال و. کانديدوس خپل ملګري اوکتايوس ته د قرارګاه د اکمال او تجهيز په اړه ليک واستاوه او اوکتايوس يې په ځواب کې وليکل:«د اوکتايوس له لوري خپل ورور کانديدوس ته سلامونه او نېکې هيلې! څو ځله مې درته په

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



لیک کې یادونه کړې چې ما پنځه زره وړي غنم اخیستي دي، چې له همدې امله اوس نغدو پیسو ته اړتیا لرم. که پنځه سوه دیناره راته را ونه لېږې، نو هغه درې سوه دیناره به چې د پېشکي په ډول مې ورکړې دي، له لاسه ورکړم او شرمنده به شم. له تاسو هیله کوم چې زر تر زره پیسې راولېږې. هغه څرمن چې تاسو یې یادونه کړې، هغه په کاتاراکتیوم کې ده. هغوی ته ولیکه چې ماته یې راوسپاري او همدارنګه د هغه واګون یا ګاډۍ په اړه هم ولیکه چې تاسو په لیک کې ورته اشاره کړې ده. که په لاره کې د څناورو وېره نه وای، نو اوس به مې وختي دا کار تمام کړی و. له ترتیوس سره د هغو ۸،۵ دینارو په اړه وګوره چې له فاتالیس څخه یې اخیستي دي. هغه تراوسه ماته نه دي راسپارلي. ما ته د نغدو پیسو د لېږلو په اړه اطمینان راکړه، ترڅو د غنمو وړي واخلم. سپکتاتوس او فیرموس ته سلامونه وایه. په مخه ښه.»

د کاندیدوس او اوکتایوس ترمنځ دا مکاتبه د روم امپراتورۍ تر ولکې لاندې د برېټانیا د اقتصادي پرمختګونو په اړه ځیني واقعیتونه روښانه کوي. دا لیک موږ ته راښیي چې رومي- برېټانیا هغه مهال له مالي خدماتو سره مل له پرمختللي پولي اقتصاد څخه برخمنه وه. دا لیک همدا راز موږ ته په برېټانیا کې د سړکونو موجودیت راښیي، که څه هم هغه مهال په ناوړه وضعیت کې و. هلته همدارنګه یو مالیاتي نظام موجود و، چې ټکس یې وضعه کړی و، څو کاندیدوس ته مزد ورکړي. تر ټولو مهمه دا چې دواړه کسان باسواده وو او کولای یې شول چې له پوستي خدمتونو ګټه واخلي. برېټانیا دغه راز د کولالي لوښو د تولید ګڼې کارخانې او په ځانګړې توګه په 'اکسفورډشایر'

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

Downloaded By: Afghan Salar Library



کې لرلې چې په لوړ کیفیت محصولات یې تولیدول. په ښاري سیمو کې حمامونه او عامه ودانۍ موجودې وې او د ودانیو په غولي کې به کاشي او ښکلې ډبرې کارول کېدې، خو په څلورمه پېړۍ کې دا هرڅه مخ په ځوړ شول او له ۴۱۱ میلادي کال وروسته د روم امپراتورۍ له بریټانیا لاس واخیست او رومي پوځیان له دغې خاورې ووتل. هغوی چې هلته پاتې شول، معاش یا پیسې ورنه کړل شوې او د روم امپراتورۍ له ړنګېدو وروسته خلکو ځایي واکمنان وشړل. تر ۴۵۰ میلادي کاله پورې د اقتصادي هوساینې ټولې پانې ورژېدې، پیسې له چلښته ولوېدې، ښاري سیمې خالي شوې او ودانۍ د ډبرو پر ډېرۍ بدلې شوې، پر سړکونو واښه او بوټي راشنه شول. د کولالۍ یوازې یو ډول تولید پاتې شو، چې هغه هم په لاس جوړېدل. خلکو په ودانیزو چارو کې د مصالې کارول هېر کړي وو او د سواد کچه په بېساري ډول راټیټه شوه. د کورونو په غولي کې بوس کارول کېدل، نه کاشي یا خښتې. نور څوک پیدا نه شول چې له ویندولاندا څخه لیک ولیکي.

له ۴۱۱ میلادي کال وروسته بریټانیا له اقتصادي رکود سره مخ او پر یوه شاړه کنډواله بدله شوه. البته دا لومړی ځل نه و، چې دغه هېواد له داسې وضعیت سره مخ کېږي. مخکې مو ولوستل چې له میلاد څخه ۹۵۰۰ کاله وړاندې په منځني ختیځ کې د نوې ډبرې انقلاب څنګه پیل شو. هغه مهال چې د اریکا او ابوهریره اوسېدونکو په کوډلو او کوچنیو کروندو کې ژوند کاوه، انګرېزان لا هم په ښکار او د بوټو په راټولولو بوخت وو. انګرېزانو ۵۵۰۰ کاله وروسته هم دغه ډول ژوند درلود او حتی له دې وروسته هم په بریټانیا کې کرنه او مالداري په خپله د انګرېزانو په نوښت رامنځته او دود نه شول،

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



بلکې له منځني ختیځ څخه اروپا ته د تللو کډوالو له لوري دود شول. هغه مهال چې انګرېزانو دې کار ته مخه کړه، د منځني ختیځ وګړي د ښارونو د ابادولو، د لیک او کولالۍ د اختراع په حال کې وو. له میلاده ۳۵۰۰ کاله مخکې په بین النهرین یا اوسني عراق کې د «اوروک» او «اور» ستر ښارونه جوړ شول. د اټکل له مخې اوروک هغه مهال ۱۴ زره اوسېدونکي لرل، چې موده وروسته یې شمېر ۴۰ زرو ته لوړ شو. هغه وخت چې څرخ د لېږد رالېږد لپاره کارول کېده، په عین وخت کې د کولالۍ څرخ هم په بین النهرین کې اختراع شو. لږ وروسته د مصریانو لرغونې پلازمېنه ممفیس رامنځته شوه. په دواړو سیمو کې لیک په جلا- جلا ډول رامنځته شو. کله چې مصریانو له میلاد څخه ۲۵۰۰ کاله مخکې د «ګیزا» درې ګوني اهرامونه جوړول، انګرېزانو خپله لرغونې آبده «ډبرینه دایره»[1] جوړه کړه. که څه هم دا ابده د انګرېزانو د وخت له معیارونو سره برابره وه؛ خو دومره ستره نه وه، چې حتی د مصر په یوه هرم کې د ښخ شوي فرعون «خوفو» پښو ته ښخه شوې کښتۍ په کې ځای شي. له منځني ختیځه د برېټانیا او اروپا وروسته پاتې والي، د رومیانو تر دورې دوام وکړ. پر دغه بدمرغه تاریخ سربېره، بیا هم په لومړي ځل پرانیستې ټولنه په برېټانیا کې رامنځته شوه او صنعتي انقلاب هم همدلته سر را پورته کړ. مخکې مو یادونه وکړه چې دا د کوچنیو بنسټي توپیرونو او د تاریخ د حساسو مقطعو په وړاندې د غبرګونونو پایله ده، لکه طاعون او د امریکا لویې وچې کشف. له نورو پر جلا مسیر د برېټانیا روانېدو، تاریخي ریښې لرلې؛ خو که

[1] the stone circle

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



پېښې ته د وینډولانډا له زاویې وګورو، نو وبه وینو چې دغه ربښې دومره ژورې نه دي او دغه پېښې له تاریخي پلوه هېڅکله نه وې اټکل شوې. د نوې ډبرې انقلاب او حتی د رومیانو د څو پېړۍ واکمنۍ پرمهال هم د یادو پېښو په اړه نښې نښانې نه لیدل کېدې. په ۴۵۰ میلادي کال کې چې تاریخ لیکونکي یې د «تورتم عصر» بولي، برېټانیا یوځل بیا د بېوزلۍ او سیاسي اړدوړ خولې ته ولوېده او پېړۍ پېړۍ له مرکزي او کارنده دولت څخه بې برخې وه.

## د جلا کېدو مسیرونه

په برېټانیا کې د پرانیستو بنسټونو او وروسته د صنعتي انقلاب پېښې، د روم د دورې میراث نه ګڼل کېږي، خو دا په دې معنا نه ده چې د لوېدیځ روم د امپراتورۍ د سقوط په پایله کې چې د نړۍ په تاریخ کې مهمه پېښه ګڼل کېږي، د پاموړ بدلونونه رامنځته نه شول. دا چې د اروپا بېلابېلو برخو شریکه حساسه مقطعه لرله، نو بنسټونو یې هم باید مشابه تحول موندلی وای. د روم امپراتورۍ سقوط ددې شریکو حساسو مقطعو مهمه برخه جوړوي. د بدلون دا اروپایي مسیر د افریقا، اسیا او د امریکا د طی شویو مسیرونو په پرتله متفاوت دی. دلته د پراختیا بڼې متفاوتې دي، ځکه چې حساسې مقطعې یې سره شریکې نه وې. په برېټانیا کې د رومي واکمنۍ ړنګېدو هنګامه خپره کړه. دا پېښه د ایټالیا یا د روم تر واکمنۍ لاندې ګال (اوسنۍ فرانسه)، یا حتی د افریقا د شمال په اړه چې زاړه بنسټونه پکې تر ډېره په خپل ځای پاتې شول؛ لږ صدق کوي. په دې کې شک نه شته چې په روم کې له یوه واحد حکومت څخه د ګڼو حکومتونو په لور تګ چې د فرانکیانو، ویسګاتیانو، اوستراګاتیانو، ونډالیانو او بورګنډیانو

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



له خوا اداره کېدل، له خپل ارزښت څخه برخمن و. ددې حکومتونو د واک ساحه ډېره محدوده وه او د ګاونډیانو د پرله پسې یرغلونو له امله تل زیان منونکي وو. له شمال لوري به ویکینګیان او ډانیان له خپلو کښتیو سره راسم شول، له ختیځه به پر اسونو سپاره هونیانو یرغل راووړ او په پایله کې اسلام د یوه نوي دین او سیاسي قوت په توګه د حضرت محمد (ص) تر وفات یوه پېړۍ وروسته په ۶۳۲ میلادي کال کې د نوي اسلامي دولت بنسټ کېښود، چې د بیزانس امپراتورۍ لویه برخه، شمالي افریقا او د هسپانیا سیمې یې په ځان کې رانغاړلې. دغو پېښو اروپا ته ټکان ورکړ او په پایله کې په اروپا کې یوه ځانګړي ټولنیز نظام چې د فیوډالېزم په نامه یادېږي، سر راپورته کړ. فیوډالي ټولنو غیر متمرکز جوړښت درلود، ځکه چې پیاوړي مرکزي حکومتونه له منځه تللي وو. که څه هم یو شمېر واکمنانو لکه شارلمان هڅه وکړه چې دغه ډول حکومتونه یوځل بیا را ژوندي کړي، خو بریالي نه شول. فیوډالي بنسټونو چې د بشري قوې په برخه کې یې پر غیر ازادو کارګرانو یا غلامانو تکیه کوله، زېږښتونکي بڼه لرله. یادو بنسټونو په منځنۍ پېړۍ کې په اروپا کې د ټکنۍ اقتصادي ودې او زېږښاک اساس کېښود. خو له دې سره سره، یادو بنسټونو په راتلونکې پراختیا کې رول درلود. د مثال په توګه، کله چې د کلیوالي وګړو ټولنیز وضعیت د خان-رعیت «serfdom» بڼه خپله کړه، مریتوب په اروپا کې له منځه لاړ. کله چې واکمن پاړکي د کلیوالو ټولنیز وضعیت له مریتوب څخه د خان-رعیت بڼې ته رابنکته کاوه، نو ددې اړتیا نه لیدل کېده چې د پخوانیو ټولنو په څېر دې د مریانو یوه جلا طبقه موجوده وي.

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



فیوډالېزم همدارنګه د واک تشه رامنځته کړه چې له امله یې خپلواکو ښارونو په تولید کې تخصص پیدا کړ او سوداګري و غوړېده، خو له طاعون ناروغۍ وروسته کله چې په اروپا کې د واک انډول بدل شو او په لوېدیځه اروپا کې د خان-رعیت نظام رنګېدل پیل شول، له مریانو څخه د یوې پاکې کثرت پاله یا پراخ بنسټه ټولنې جوړېدو ته لار هواره شوه. د تاریخ هغه حساسې مقطعې چې فیوډالي ټولنې یې وزېږولې، له یو بله متفاوتې دي؛ خو دا په دې معنا نه ده چې یوازې اروپا د تاریخ داسې حساس پړاوونه وهلي دي. ورته مثال افریقایي هېواد ایتوپیا دی چې د اکسوم «Aksum» پاچاهۍ د پراختیا په پایله کې رامنځته شو. د اکسوم پاچاهۍ بنسټ له میلاده شاوخوا ۴۰۰ کاله مخکې کېښودل شو. دا په خپل وخت کې له اقتصادي پلوه نسبتاً یوه پرمختللې پاچاهي وه چې له هند، سعودي عرب، یونان او د روم امپراتورۍ سره یې نړیوالې تجارتي اړیکې لرلې. دا پاچاهي هغه مهال له بېلابېلو اړخونو د ختیځ روم امپراتورۍ سره د پرتلې وړ وه. په اکسوم کې پیسې دود وې، تاریخي ابدات، عامه ودانۍ او سړکونه پکې جوړ شوي وو او د کرنې او بېړۍ چلونې په برخو کې یې ختیځ روم ته ورته ټکنالوژي لرله. له عقیدتي اړخه هم د روم او اکسوم ترمنځ ډېر په زړه پورې مشابهتونه شته. د روم امپراتور قسطنطین په ۳۱۲ میلادي کال کې مسیحیت ومانه. د اکسوم پاچا ایزانا هم په دغه وخت کې په ورته عمل لاس پورې کړ. دولسم (۱۲) نمبر نقشه د اکسوم د لرغوني دولت موقعیت چې د اوسنۍ ایتوپیا او اریتریا سیمې دي، راښیي. د روم امپراتورۍ له زوال سره هممهاله اکسوم هم له ورته برخلیک سره مخ شو او د دې دولت د تاریخي ماتې څرنګوالی د لوېدیځ روم امپراتورۍ سره ورته والی لري. څرنګه چې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



هونیانو او ونډالیانو د روم په کمزورې کولو او څوړتیا کې رول ولوباوه، همدغسې د اکسوم په سقوط کې هغو عربو فعاله ونډه لرله چې په اوومه پېړۍ کې یې خپل نفوذ تر سرې بحیرې او د عرب ټاپو وزمې تر سوېل پورې پراخ کړی و. اکسوم په عربستان کې خپلې مستعمرې او سوداګریز مسیرونه له لاسه ورکړل، چې دغه کار د اکسوم د اقتصادي څوړتیا بهیر لاپسې چټک کړ. د سکې ضرب ودرېد، د ښاري سیمو نفوس کم شو، حکومت په کورنیو ستونزو کې ګیر شو او قلمرو یې د نننۍ ایتوپیا په اندازه محدود شو.

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



په اروپا کې د مرکزي حکومتونو په له منځه تلو سره، فیوډالي بنسټونه را وټوکېدل. په ایتوپیا کې د ګلټ «gult » نظام په رامنځته کېدو سره ورته وضعیت سر راپورته کړ، چې له مخې به یې د امپراتور له خوا

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



خلکو ته ځمکه ورکول کېده. که څه هم گومان کېږي چې دا بنسټونه په ډېرې پخوا زمانې پورې اړه لري، خو د دیارلسمې پېړۍ په لیکنیزو اثارو کې ورته اشاره شوې ده. د گلټ کلیمه اهمري ریښه لري چې معنا یې ده: «هغه ځمکه ځانگړې کړه». هغه څوک چې له دې حقه برخمن کېدل، په بدل کې یې باید امپراتور ته په پوځي برخه کې خدمت کړی وای. گلټ ته حق ورکړل شوی و، چې له کروندگرو څخه د باج په توگه امتیاز واخلي. تاریخي شواهد څرگندوي چې د گلټ حق لرونکو کسانو به د کوچنیو کروندگرو له نیمایي ډېر محصولات په خپل نوم کول. سره له دې چې دغه جلا نظام د لوېدیځې اروپا له فیوډالېزم سره ډېر مشابهتونه لرل، خو تر هغه هم څو چنده زبېښونکی و. د فیوډالېزم د اوج په مرحله کې په برېتانیا کې سرفیانو یا رعیت نسبتاً اسانه شرایط لرل او د خپلو کرنیزو محصولاتو نږدې نیمایي برخه به یې خانانو ته ورکوله. خو ایتوپیا د ټولې افریقا مثال نه و، د افریقا لوېې وچې په نورو سیمو کې د خان-رعیت نظام «Serfdom» د مریتوب ځایناستی نه شو. مریتوب او د دې پدیدې ملاتړو او تقویه کوونکو بنسټونو څو پرله پسې پېړۍ په افریقا کې دوام وکړ، حتی ښایي د ایتوپیا نهایي مسیر به ډېر متفاوت و. ایتوپیا له اومې پېړۍ وروسته له هغو بدلونونو چې اروپایي بنسټونه یې اغېزمن کړل، وروسته پاتې شوه، په دې بدلونونو کې د خپلواکو ښارونو رامنځته کېدل، پر نویو شاهي نظامونو لگېدلي محدودیتونه او د امریکا لوېې وچې په کشف پسې په اتلانتیک کې د سوداگرۍ پراختیا شامل و. په پایله کې د ایتوپیا مطلقه او استبدادي بنسټونه له هر ډول ننگونې پرته په خپل ځای پاتې شول. د افریقا

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



لويه وچه وروسته په ډېر متفاوت ظرفيت، له اروپا سره د سيالۍ ډګر ته داخله شوه. ختيځه افريقا د عربي نړۍ لپاره د مريانو د عرضه کولو په ترټولو ستر مارکېټ بدله شوه او په اتلانتيک کې د سوداګرۍ د غوړېدو له امله د اروپايي پراختيا په جريان کې ختيځې او لوېديځې افريقا په نړيوال اقتصاد کې د مريانو د عرضه کولو رول ترسره کړ. دا چې په اتلانتيک کې سوداګري څنګه په لوېديځه اروپا او افريقا کې د متفاوتو مسيرونو د رامنځته کېدو سبب شوه، د بنسټي توپيرونو هغه مثال دی چې د تاريخ د حساسې مقطعې ته د ملتونو له غبرګون ښودو سره تړاو لري. د مريانو سوداګرۍ په برېټانيا کې د استبداد يا ابسلوټېزم مخالفين شتمن کړل، خو په افريقا کې يې بيا استبداد او د استبداد پياوړتيا سره مرسته وکړه. له اروپا ور هاخوا، د بنسټونو د جلا کېدو پروسې خپل مسير ته دوام ورکړ. د مثال په توګه، د امريکا لويه وچه چې له ميلاده شاوخوا ۱۵،۰۰۰ کاله مخکې د يخ د اوبه کېدو په پايله کې له اروپا څخه جلا شوه، د ناتوفيانو په څېر له مشابه بنسټي نوښتونو څخه برخمنه وه چې په دغو نوښتونو کې ګډ ژوند، سلسله مراتب او د زېښښونکو بنسټونو په اډانه کې نابرابري شامل وو. دغه نوښتونه لومړی په بوليويا، مکسيکو او پيرو کې راڅرګند شول، چې بالاخره يې د جوارو بوټي په اهلي کېدو سره د امريکا لويه وچه کې د نوې ډبرې انقلاب راوپنځاوه. د مايا دولت په اړه مو مخکې ولوستل، همدغه سيمه وه چې د زېښښونکې يا استثماري ودې لومړنۍ نښې په کې راڅرګندې شوې، خو څرنګه چې د پرانېستو بنسټونو او اقتصادي ودې راپورته شوې څپه د روم تر واکمنۍ لاندې د اروپا ټولو سيمو ته خوره نه شوه، همدغسې په امريکا کې هم پرانېستي بنسټونه دغو لرغونو تمدني سيمو ته پراخ نه

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

Downloaded By: Afghan Salar Library



شول. په حقیقت کې، لکه په لومړي څپرکي کې مو چې ولوستل، دغو تمدنونو په ډېره ناوړه بڼه له اروپايي ښکېلاک سره تعامل وکړ، تر دې چې خپل بخت يې بايلود او د امريکا هغه سيمې چې تر دې مخکې خورا شتمنې وې، د فقر خولې ته ټېل وهل شوې. متحده ايالات او کاناډا چې هغه مهال د مکسيکو، پيرو او بوليويا د تمدنونو په پرتله ډېرې وروسته پاتې سيمې وې؛ اوسمهال د امريکا په لويه وچه کې تر ټولو شتمن هېوادونه دي.

## د لومړنۍ اقتصادي ودې پايلې

د نوې ډبرې انقلاب چې له ميلاده ۹۵۰۰ کاله مخکې او د برېټانيا صنعتي انقلاب چې د اتلسمې ميلادي پېړۍ په وروستيو کې رامنځته شول، په نړۍ کې د اقتصادي ودې د پيل او اوج پړاوونه بلل کېږي. دغو پرمختګونو له بنسټي (نهادي) نوښتونو سرچينه اخيسته چې وروسته مخ په ځوړ شول. په لرغوني روم کې د جمهوريت د وخت بنسټونو چې په دې سيمه کې يې يوه اندازه اقتصادي خوځښت رامنځته او يوه ستره امپراتوري پنځولې وه، د جوليوس سزار د کودتا او د اګوستوس په مشرۍ د امپراتوارۍ د تاسيس په پايله کې له منځه لاړل. د روم نهايي زوال پېړۍ وخت ونيوه او ډېر ځنډنی شو، خو کله چې د جمهوريت د وخت نسبتاً پرانېستو بنسټونو زيېښونکو هغو ته لار ورکړه، اقتصادي شاتګ او ځوړتيا يې بېخي يقيني کړل. د وينز اقتصادي تحرک هم ورته وضعيت درلود. د وينز جمهوريت اقتصادي وده پر هغو بنسټونو ولاړه وه چې د پرانېست والي مهمې ځانګړنې يې په ځان کې لرلې. خو کله چې واکمنې طبقې د نويو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



سوداګرو او پانګوالو پرمخ د نظام دروازې بندې کړې، دغه بنسټي ځانګړنې کاواکه شوې.

که څه هم د روم تجربه په خپل ځای له ارزښته برخمنه ده، خو دا د روم میراث نه و، چې په برېتانیا کې یې له پرانیستو بنسټونو او صنعتي انقلاب سره مرسته وکړه. سمه ده چې تاریخي پېښې د بنسټونو برخلیک ټاکي، خو دا له پخوا ټاکل شوی تقدیر نه دی. د روم او وینز تاریخ ښیي چې د اقتصادي ودې په لور لومړني ګامونه څنګه بېرته پر شا شول. هغه اقتصادي او بنسټي بستر چې روم په ګرده اروپا او منځني ختیځ کې رامنځته کړی و، په را وروسته پېړیو کې یې د پرانېستو بنسټونو په رامنځته کولو کې مرسته ونه کړه. په حقیقت کې دغه ډول بنسټونه په لومړي ځل په برېټانیا کې رامنځته شول؛ هغه هېواد چې په پنځمه میلادي پېړۍ کې د روم تر کاواکې ولکې لاندې و او دغه ولکه له کوم ژور اغېز پرته ژر له منځه لاړه. خو د دې په عوض، لکه څرنګه چې په څلورم څپرکي کې مو پرې بحث وکړ. تاریخ د بنسټونو ترمنځ د واټن رامنځته کولو او جلا کېدو کې مهم رول لوبوي. دا واټن یا جلا کېدنه داسې توپیرونه رامنځته کوي چې وروسته د تاریخ حساسې مقطعې پر وړاندې د غبرګون پرمهال تقویه کېږي. له دې کبله چې دغه توپیرونه کوچني دي، کېدای شي په اسانۍ بېرته معکوس حرکت پیل کړي او معمولاً دا د یوې ساده پروسې نتیجه نه ده.

له شک پرته چې روم پر اروپا اوږد مهاله اغېزې وښندلې. رومي قوانینو او بنسټونو، د لوېدیځ روم تر سقوط وروسته د بربریانو په لاس جوړ شوي بنسټونه او قوانین تر اغېز لاندې راوستل. همدارنګه د روم د سقوط په پایله کې په اروپا کې متمرکز حکومتونه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



له منځه لاړل او ځای يې فيوډاليزم ونيوه. د مريتوب له منځه تلل او د مستقلو ښارونو را ټوکېدل، د دې پېښې اوږدمهاله اغېزې وې. دغو پېښو هغه وخت ارزښت پيدا کړ چې طاعون ناروغۍ د اروپا فيوډالي ټولنې ته سخت ټکان ورکړ. د طاعون يا تورمرګي د ايرو له منځه پياوړي ښارونه راوټوکېدل او عام وګړي نور په ځمکو پورې تړلي پاتې نه شول او له ملا ماتوونکو فيوډالي مکلفيتونو خلاص شول. د عطف دا ټکی يا د تاريخ دا حساسه مقطعه د روم امپراتورۍ تر سقوط وروسته پېښه شوه او د قوي بنسټي جلا کېدنې په پايله کې يې اروپا په هغه مسير ور سمه کړه چې له افريقا، اسيا او امريکا څخه کاملا جلا و.

په شپاړسمه پېړۍ کې اروپا د بنسټونو له اړخه د افريقا جنوبي صحرا او د امريکا لويې وچې سره کاملا متفاوته وه. که څه هم اروپا په اسيا کې د هندي او چينايي تمدنونو په پرتله دومره بډايه نه وه، خو په ځينو کليدي برخو کې يې ترمنځ توپير و. مثلاً؛ اروپا په سياسي نمايندګۍ او مشارکت ولاړ بنسټونه لرل، په داسې حال کې چې په اسيا کې نه و. دې ډول بنسټونو د پرانېستو بنسټونو په پراختيا کې د پاموړ رول لوباوه. لکه څرنګه چې په راتلونکو دوو فصلونو کې به يې ووينو، په اروپا کې له کوچنيو بنسټي توپيرونو څخه يو يې له ارزښت څخه برخمن و. دا توپيرونه په حقيقت کې د برېټانيا په ګټه تمام شول، ځکه چې د فيوډالي نظام په کمزوري کېدو سره، په برېټانيا کې سوداګرو او صنعتکارانو ته لار خلاصه شوه. دغو سوداګرو، صنعتکارانو او کروندګرو له پاچاهانو څخه د فکري مالکيت د حقونو د خونديتوب، د سياسي مشارکت او پرانېستو بنسټونو د تامين

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



غوښتنه کوله. دغه بهیر په اولسمه پېړۍ کې د خپل تکامل اوج ته ورسېد.

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



# اووم څپرکی

## د عطف ټکی

Turning Piont

### له نساجانو سره ستونزه

ویلیم لي په کېمبرېج پوهنتون کې د زده کړو له بشپړولو وروسته په ۱۵۸۳ کال کې د برېټانیا کالورټن ته راستون شو، څو د ځایي کشیش دنده واخلي. لومړۍ مَلکې الیزابت (۱۶۳۰- ۱۵۵۸) تازه د یوه فرمان له لارې ټولو برېټانویانو ته امر کړی و، چې اوبدل شوې خولۍ پر سر کړي. ویلیم لي په دې اړه په خپلو یادښتونو کې لیکلي دي:«دا ډول پوښاک یوازې اوبدونکو تیارولی شوای، خو ډېر وخت یې نیوه، ما په دې برخه کې د یوه نوښت د پنځولو لپاره فکر وکړ. ما لیدل چې مور او خور به مې ستنې په لاس په تیاره خونه کې ناست وې او اوبدل یې کول. کله چې د یوې خولۍ د اوبدلو پرمهال د یوې بخۍ لپاره په عین وخت کې دوه ستنې کارول کېږي، نو ولې څو ستنې ونه کارول شي؟» دا نوې ایډیا په پایله کې د نساجۍ ماشین د اختراع سبب شو. لي دداسې یوه ماشین د جوړولو په فکر کې شو چې وکولی شي اوبدونکي له دغې ناتمامه خوارۍ څخه خلاص کړي. هغه زیاتوي:«د کلیسا او کور کارونه مې لږ-لږ شا ته پرېښودل او ټول پام مې ددې دستګاه پر جوړونې راټول کړ.»

په پایله کې په ۱۵۸۹ کال کې د نساجۍ ماشین یا د لي په خبره «stocking frame» تیار شو. نوموړی له ملکې الیزابت سره د لیدو لپاره په بېړه لندن ته ولاړ او ملکې ته یې د نوې اختراع کړې الې د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



گټو په اړه معلومات ورکړل او له هغې یې وغوښتل چې د فکري مالکیت حق یې خوندي کړي. نوموړي د ماشین د نصبولو لپاره یوه ودانۍ کرایه کړه او د پارلمان د وکیل «ریچارډ پارکینز» په مرسته په دې بریالی شو چې د ملکې د ځانگړې شورا له یوه تن غړي «هنري کېري» سره وگوري. کېري ددې زمینه برابره کړه چې الیزابت راشي او ماشین وگوري، خو کله چې الیزابت راغله، غبرگون یې ډېر سوړ و. هغې د اختراع حق د خوندیتوب په اړه د لي وړاندیز رد کړ او ویې ویل:«ته مست یې ښاغلی لي! ته خپله فکر وکړه چې ستا دا ماشین به زما بېوزله خلکو سره څه مرسته وکړي؟ دا ماشین به تباه کوونکې بېکاري رامنځته کړي او خلک به گدایۍ ته کېنوي.»

لي چې ډېر ناهیلی شوی و، فرانسې ته وخوځېد، چې هلته هم خپل بخت وازمایي، خو له هغه ځایه هم خالي لاس بېرته برېتانیا ته ستون شو، څو د لومړۍ الیزابت له ځایناستي لومړي جېمز (۱۶۲۵-۱۶۰۳) څخه د اختراع حق د خوندیتوب غوښتنه وکړي. جېمز هم د لومړۍ الیزابت په څېر د دلایلو په وړاندې کولو سره د لي وړاندیز رد کړ. هغوی وېرېدل چې د نساجۍ میکانیزه کېدل به د ټولنې نظم گډوډ کړي او د بېکارۍ د زیاتېدو له امله به خلک د پاچا پرضد راپاڅي. د لي ماشین هغه اختراع وه چې د تولیداتو د زیاتوالي پیغام یې له ځان سره درلود، خو خلاق تخریب ورسره مل و. د 'لي' د دې بېسارې اختراع په اړه غبرگونونه په دې کتاب کې زموږ د بحث پر منځپانگې د تایید مهر لگوي. د نوې ډبرې انقلاب څخه نیولې د صنعتي انقلاب تر عصر پورې، له خلاق تخریب څخه وېره تل په ټولنه کې د دوامدارې اقتصادي ودې پر وړاندې اساسي خنډ واقع شوی دی. ټکنالوژیکي نوښتونه بشري ټولنې بډایه کوي، خو د زاړه

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



پر نوي بدلېدو او د ځینو ډلو د سیاسي او اقتصادي ګټو د وچېدو حتمي پېښې له ځان سره لري. موږ د پایداره اقتصادي ودې لپاره نوې ټکنالوژۍ او د چارو د ترسراوي لپاره نویو کړنلارو ته اړتیا لرو، چې دغه نوې کړنلارې ښایي د کاروبار ډګر ته د «لي» په څېر د نویو راغلو کسانو له خوا وړاندې شي. دا کار ښایي ټولنه شتمنه کړي، خو خلاق تخریب له ځان سره لري. تر ټولو مهمه دا چې د لي د نساجۍ ماشین په څېر نوښتونه کولای شي چې د ځانګړو ډلو سیاسي قدرت له خطر سره مخ کړي. دا چې لومړۍ الیزابت او لومړي جېمز لي ته د فکري مالکیت د خوندیتوب حق نه ورکاوه، لامل یې دا نه و چې ددې اختراع له امله به خلک وزګار شي، بلکې د هغوی لویه اندېښنه دا وه چې د ټکنالوژۍ په پراختیا سره به بېکاري زیاته او بالاخره خلک به د واکمنې طبقې پر ضد را پاڅي. لکه څرنګه چې مخکې مو د لودیتیانو په اړه ولوستل، د ټکنالوژیک پرمختګونو او ماشینرۍ پر وړاندې د لاسي صنایعو د کارګرانو او په تېره بیا د اوبدونکو غبرګون یوه حتمي خبره ده، خو پر دې سربېره واکمنه طبقه او په ځانګړې توګه هغه کسان چې خپل واک په خطر کې ویني، د نوښت او اختراع پروړاندې جدي خنډونه را ولاړوي. ټولنه هغو کسانو ته اړتیا لري چې نوښتیز فکر او طرحې لري او دغه کسان چې د خپل نوښت په پایله کې خلاق تخریب له ځان سره لري، د ننګونو او په ځانګړې توګه د واکمنې کړۍ د مخالفتونو پر وړاندې باید مقاومت وکړي. په برېټانیا کې تر اولسمې پېړۍ مخکې حاکم بنسټونه د تاریخ په اوږدو کې زبېښونکي یا استثماري پاتې شول. دغو بنسټونو په هغه صورت کې اقتصادي وده رامنځته کولای شوای، چې

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

Downloaded By: Afghan Salar Library



د روم او وینز په څېر د پرانیست والي عناصر یې په ځان کې لرلې. خو خلاق تخریب ته په کې ځای نه و. هغه وده چې یادو بنسټونو رامنځته کوله، تلپاتې نه وه او د سرچینو د کنټرول پر سر د شخړو له امله لکه په وینز کې چې پېښ شول، دا وده ژر له منځه تلونکې وه. ژوند ته د هیله مندۍ د کچې په برخه کې د ناتوفیان د ابوهریره سیمې د اوسېدونکو او د روم د اوسېدونکو ترمنځ دومره توپیر نه و. په اولسمه پېړۍ کې ژوند ته د رومیانو د هیله مندۍ اوسط کچه له انګلیسانو سره ورته و. د عوایدو په برخه کې د روم امپراتور «ډیو کلیټن» په ۳۰۱ میلادي کال کې یو فرمان صادر کړ چې له مخې یې د کارګرانو لپاره مزد وټاکل شو. موږ نه پوهېږو چې د امپراتور فرمان څومره عملي شو، خو کله چې اقتصادي مورخ «رابرټ آلن» د امپراتور یاد فرمان مطالعه او وڅېړه، د روم د کارګرانو مزد په اولسمه پېړۍ کې د ایټالوي کارګرانو له امتیازونو او مزد سره یو شان و. خو په شمالي برخو یعنې په برېټانیا کې مزد لوړ او نور هم د لوړېدو په حال کې و او دغه راز حالات هم د بدلون په لور روان وو. دا چې دا پېښه څنګه رامنځته شوه، د همدې څپرکي د بحث موضوع ده.

## دوامداره سیاسي شخړې

د بنسټونو او سرچینو د کنټرول پر سر شخړې د تاریخ یو څرګند حقیقت دی، مثلاً ومو لیدل چې په لرغوني روم او وینز کې کورنیو خپلمنځي شخړو دغه هېوادونه په کوم برخلیک اخته کړل. هلته کورنۍ جګړې د واکمنې طبقې په ګټه تمامې شوې، ځکه چې له دې لارې یې په واک کې د پاتې کېدو هڅه کوله. د برېټانیا تاریخ هم د واک پر سر د شاهي کورنۍ، د بېلابېلو ډلو او د اشرافو او عامو وګړو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



ترمنځ له شخړو او جګړو ډک دی. دغو شخړو د هېڅ یوې ډلې د واک له ټینګښت سره مرسته ونه کړه. په ۱۲۱۵ کال کې بارونیان چې تر پاچا وروسته د اشرافو په توګه د واک په دویمه کړۍ کې و، د پاچا «جان» پر وړاندې پاڅېدل او نوموړی یې دې ته مجبور کړ چې ستر منشور «Magna Carta» لاسلیک کړي- (نهم نمبر نقشه وګورئ). په دې سند کې یو لړ مهمې غوښتنې ځای په ځای شوې وې چې د پاچا واکونه یې ننګول. په سند کې تر ټولو مهم ټکی دا و چې پاچا به د مالیاتو په زیاتولو کې له بارونیانو سره سلا مشورې کوي، خو تر دې هم ننګوونکې د مګناکارتا ٦١ مه ماده وه:«بارونیان له خپل منځه ۲۵ کسان په خپله خوښه ټاکي، څو د سولې او ازادیو په برخه کې په دې منشور کې د راغلو احکامو د عملي کېدو څارنه وکړي.»

بارونیانو ۲۵ کسیزه شورا جوړه کړه، څو د پاچا له لوري د منشور عملي کېدل وڅاري. د منشور د نه عملي کېدو په صورت کې بارونیانو حق درلود چې کلاګانې، ځمکې او نورې شتمنۍ په خپله ولکه کې واخلي. پاچا د مګناکارتا په اړه خوښ نه و او کله چې بارونیان تیت و پرک شول، سملاسي یې له پاپ څخه د منشور د لغوه کېدو غوښتنه وکړه، خو پر دې سربېره هم د بارونیانو د سیاسي واک او د مګناکارتا منشور اغېزې په خپل ځای پاتې شوې. بریټانیا زړه نازړه د پلوراليزم یا کثرت پالنې په لور لومړني ګامونه اوچت کړي وو. د سیاسي بنسټونو یا ادارو پرسر شخړې روانې وې او په ۱۲٦٥ کال کې د منتخب پارلمان له لوري د پاچا واکونه محدود شول. د روم د عوامو جرګې یا عمومي اسامبلې برعکس، د بریټانیا پارلمان له

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



فیوډالانو، مخورو او شتمنو اشرافو څخه جوړ و. که څه هم د برېټانیا پارلمان د ټولنې له لوړ پاړکي یا اشرافو څخه جوړ و، خو دوه متفاوتو ځانګړنو پکې وده وکړه. لومړی؛ پارلمان یوازې پاچا ته د نږدې اشرافو استازیتوب نه کاوه، بلکې د نورو ذینفع ډلو لکه د اشرافو د هغه کوچني اقلیت استازیتوب هم کاوه چې د سوداګرۍ او صنعت په ګډون په بېلابېلو برخو کې فعال وو، همداراز د اعیانو یوه نوې طبقه چې په سوداګرۍ او کرنیزو چارو کې بوخته وه، په دې ډله کې راتله. په دې توګه، پارلمان د هغه وخت له معیارونو سره سم د ټولنې یوه ستره برخه شتمنه کړه. د پارلمان دویمه ځانګړنه دا وه چې غړو به يې تل د پاچا د واکونو له زیاتوالي سره مخالفت کاوه او د هغو مبارزینو سنګر پاتې شو چې د کورنیو جګړو په جریان کې د پاچا پر وړاندې او بیا وروسته د پرتمین انقلاب لپاره جنګېدل. له مګناکارتا او لومړني منتخب پارلمان سره سره، د واک او پاچاهۍ پرسر شخړو او جګړې دوام وموند، دغه جګړه د «Roses» په جګړې سره چې د پاچاهۍ پر سر د «لانکسټر» او «یورک» کورنیو ترمنځ ونښته، پای ته ورسېده. په دې جګړه کې لانکسټریان بریالي شول او په ۱۴۸۵ کال کې يې هنري تیودور د «اووم هنري» په نامه د سلطنت لپاره غوره کړ. په دې وخت کې دوه نورې پېښې وشوې. لومړی د سیاسي مرکزیت پیاوړي کول و، چې د تیودوریانو په کاري پلان کې شامل شو. اووم هنري له ۱۴۸۵ کال وروسته اشراف بې وسلې کړل او په دې توګه يې د مرکزي دولت د واک په ټینګولو لاس پورې کړ. وروروسته د نوموړي زوی «اتم هنري» د خپل لومړي وزیر «توماس کرامول» په مرسته په دولت کې انقلاب یا تحول ته لار هواره کړه. کرامول په ۱۵۳۰ مه لسیزه کې د یوه نوي بیروکراټیک

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



دولت بنسټ کېښود. د هغه په اند دولت باید یوازې د پاچا خصوصي دربار یا دېره ونه ګڼل شي، بلکې دولت باید د کارنده بنسټونو یوه ټولګه وي. دا بهیر د هنري له لوري د روم کاتولیک کلیسا څخه په پرېکون او د صومعو په له منځه وړلو سره چې له مخې یې هنري د کلیسا اړونده ټولې ځمکې مصادره کړې، پای ته ورسېد. له کلیسا څخه د واک اخیستل د دولت د مرکزي کولو د هڅو یوه برخه وه. په دولت کې د اصلاحاتو دغه بهیر په دې معنا و، چې په لومړي ځل پرانېستو سیاسي بنسټونو ته لار هوارېږي. دغه بهیر چې لومړی د اووم هنري او وروسته د اتم هنري له لوري پیل شوی و، یوازې دولتي بنسټونه یې متمرکز نه کړل، بلکې سیاسي مشارکت ته یې هم لار هواره کړه. په هغه صورت کې چې واکمن یا پاچا په ټولنه کې د واک د نورو حلقو په ماتولو بریالی شي. د واک تمرکز کولای شي چې یو ډول استبدادي نظام وزېږوي. څنګه مو چې په درېیم څپرکي کې ولوستل، د واک له تمرکز سره د مخالفت یو عمده لامل همدا دی. د دې برعکس؛ د دولتي ارګانونو متمرکز کول کولای شي چې پلورالېزم ته تقاضا زیاته کړي، لکه څرنګه چې په برېتانیا کې د تیودوریانو په وخت کې دا کار وشو. کله چې اشراف ویني چې قدرت د متمرکز کېدو خوا ته روان دی او یو وخت ددې کار مخنیوی ستونزمن کېږي، نو غواړي چې په دې پروسه کې مداخله وکړي. په برېتانیا کې د پنځلسمې او شپاړسمې پېړیو په وروستیو کې دا چاره د دې لامل شوه چې د واک بېلابېل جهتونه د پارلمان په تقویه کولو سره دغه ارګان د دولت پروړاندې د واک د توازن په توګه وکاروي. په دې توګه د تیودوریانو تګلارې نه یوازې سیاسي

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



تمرکز ته لار پرانېسته، بلکې پلوراليزم چې د پرانېستو بنسټونو لپاره يې د ملا تير حيثيت درلود، رامنځته کړ. په سياسي بنسټونو کې دغه بدلونونه په ټولنه کې د سترو بدلونونو پيلامه شوه، په ځانګړې توګه د سياسي شخړو پراخېدل د پاموړ و، ځکه چې دې کار ځواکمنو ډلو ته واک ورکاوه، څو پر پاچا او اشرافو خپلې غوښتنې ومني. په ۱۳۸۱ کال کې د کليوالو پاڅون د عطف يو ټکی و چې وروسته اشراف د عمومي پاڅونونو له يوه توند توفان سره مخ شول. سياسي واک له سره وېشل کېده، خو يوازې له پاچا څخه اشرافو ته نه، بلکې له اشرافو څخه عامو خلکو ته هم. دغو بدلونونو او د پاچا د واک کمېدو دواړو، د مطلقه العنان نظام پر وړاندې يو ستر ايتلاف ته لار هواره کړه چې په پايله کې يې پراخ بنسټه سياسي بنسټونه وزېږېدل. له تيودوريانو څخه په ميراث پاتې بنسټونه چې د لاسته راوړلو لپاره يې سيالۍ رواني وې، همداسې زېښښونکي پاتې شول. د اتم هنري لور لومړۍ اليزابت چې په ۱۵۵۳ کال کې واک ته ورسېده، په ۱۶۰۳ کال کې بې اولاده مړه شوه او په دې توګه ستوارت کورنۍ د تيودوريانو ځايناستې شوه. د ستوارت کورنۍ لومړي پاچا «لومړي جېمز» ته نه يوازې پخواني بنسټونه، بلکې د دې بنسټونو پرسر شخړې او سيالۍ هم په ميراث پاتې شوې. هغه غوښتل چې يو مطلق العنان واکمن اوسي. سره له دې چې دولت متمرکز او ټولنيزو بدلونونو په ټولنه کې د واک بيا وېش ته زمينه برابره کړې وه، خو سياسي بنسټونه لا تر اوسه پلورالايز يا پراخ بنسټه شوي نه وو. زېښښونکي بنسټونه نه يوازې د ويليم لې په څېر د نوښتونو پرضد په مقابله کې ولاړ و، بلکې د انحصار، انحصار او بيا هم د انحصار بڼه يې خپله کړې وه. په ۱۶۰۱ کال کې د پارلمان په

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



یوه غونډه کې د انحصاراتو یو لېست ولوستل شو او د پارلمان یو تن استازي د ملنډو په دود وویل:«ایا ډوډۍ هم په دې لېست کې شته؟» تر ۱٦۲۱ کال پورې د انحصاراتو شمېر تر سلو واوښت. انګرېز مورخ کرسټوفر هېل په دې اړه د یوه کس د ژوند کیسه داسې بیانوي:«یوه سړي له انحصاري خښتو جوړ کور کې ژوند کاوه، چې کړکیو یې انحصاري ښیښې لرلې، چې د انحصاري ډبرو سکرو په وسیله ګرمېده، چې منقل یې له انحصاري اوسپنې څخه جوړ شوی و...ځان یې په انحصاري صابون او جامې یې په انحصاري پوډرو مینځلې، چې جامې یې له انحصاري ټوکر، انحصاري جالۍ، انحصاري څرمن او د سرو زرو له انحصاري ټوټو څخه جوړې شوې وې...په جامو کې یې انحصاري کمربند، انحصاري تڼۍ او انحصاري ستنې کارول شوې وې. هغه انحصاري کوچ، انحصاري ممیز، انحصاري کبان او انحصاري خواړه خوړل. هغه په خوړو کې انحصاري مالګه، انحصاري مرچ، انحصاري سرکه او ... کارول. نوموړي په انحصاري قلمونو پر انحصاري کاغذ لیکل کول، د انحصاري عینکو او انحصاري شمعو په مرسته یې انحصاري چاپ شوي کتابونه مطالعه کول.»

دغو انحصاراتو یو شمېر ډلو او افرادو ته اجازه ورکوله، چې د توکو تولیدات په خپل کنټرول او ولکه کې واخلي. هغوی د مهارتونو د تخصیص پر وړاندې چې د اقتصادي ودې لپاره حیاتي ارزښت لري، خنډونه جوړول. لومړی جېمز او د هغه زوی لومړی چارلېز په دې هڅه کې وو، چې د فرانسې او هسپانیې په څېر خپله پاچاهي پیاوړې، د پارلمان واک محدود او استبدادي بنسټونه غښتلي کړي.

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



دوی د قدرت د بقا او اشراف پر اقتصادي او استثماري سرچینو د کنټرول خمار پسې اخیستي وو. د لومړي جېمز او پارلمان ترمنځ کشمکشونه په ۱۶۲۰ لسیزه کې اوج ته ورسېدل. ددې شخړو اصلي محور په برېټانیا کې دننه او بهر پر سوداګرۍ کنټرول و. د انحصاراتو د ورکړې حق د پاچا واک و او دا د حکومت د عوایدو یوه مهمه سرچینه وه. دغه استثماري بنسټونه چې د پانګونې او د بازار نظام پر وړاندې غټ خنډ وو، له شک پرته د پارلمان د غړو کاروبار ته یې هم ضربه رسوله. پارلمان په ۱۶۲۳ کال کې د «انحصاراتو قانون» تصویب کړ چې د نویو انحصاراتو په برخه کې یې د پاچا لاسونه تړل. خو دا چې پارلمان د بهرني تجارت په برخه کې واک نه درلود، پاچا کولای شول چې د تېر په څېر خلکو ته په خپله خوښه د انحصار حق ورکړي. پارلمان منظمې غونډې نه لرلې او غونډې باید د پاچا له لوري رابلل شوې وې. هغه غونډې چې د مګناکارتا له لاسلیک وروسته جوړې شوې، لامل یې دا و چې پاچا د مالیاتو د لوړولو لپاره باید د پارلمان هوکړه ترلاسه کړې وای. کله چې لومړی چارلېز په ۱۶۲۳ کال کې واک ته ورسېد، له ۱۶۲۹ کال وروسته یې د پارلمان غونډې محدودې کړې او د یوه مطلقه رژیم د پاینښت لپاره یې د لومړي جېمز تګلاره لا پیاوړې کړه. هغه د اجباري پورونو سیستم رامنځته کړ چې له مخې یې خلک اړ ایستل کېدل چې نومورې ته پورونه ورکړي. هغه حق درلود چې د پورونو شرایط په خپله خوښه بدل کړي او ډېر کله به یې د خلکو پورونه بېرته نه ورکول. پاچا چې د بهرني تجارت په برخه کې یې د انحصاراتو د عملي کولو واک درلود، بې دریغه انحصارات رامنځته او دا حق یې وپلوره. نومورې دغه راز د قضایه قوې خپلواکي تر پوښتنې لاندې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



راوسته او هڅه یې کوله چې په قضایي چارو کې مداخله وکړي. هغه گڼې جریمې او مالیات وضعه کړل چې تر ټولو جنجالي هغه یې د «بېړۍ پیسې» وې. په ۱۶۳۴ کال کې ساحلي ښارونه په دې مکلف شول چې د شاهي سمندري ځواکونو د تمویل او ملاتړ لپاره باید مالیه پرې کړي او په ۱۶۳۵ کال کې داخلي ښارونه هم تر دې فرمان لاندې راغلل. د بېړۍ پیسې تر ۱۶۴۰ کال پورې هرکال وضع کېدې. د چارلېز استثماري او استبدادي سیاستونه په هېواد کې د خلکو له سخت نفرت او مقاومت سره مخ شول. په ۱۶۴۰ کال کې کله چې نوموړی په سکاټلند کې پر جگړه بوخت و او د پوځ لپاره د مالي سرچینو له کمښت سره مخ شو، د مالیاتو د راغونډولو لپاره یې په ناچارۍ د پارلمان غونډه راوغوښته. د «لنډ پارلمان» په نامه دغو ناستو یوازې درې اونۍ دوام وکړ. د پارلمان یو شمېر غړي چې له نورو سیمو لندن ته راغلي وو، د مالیاتو په اړه له خبرو کولو ډډه وکړه او د دې پرځای یې پر حکومت د نیوکو خوله خلاصه کړه چې په پایله کې چارلېز د پارلمان ټول غړي بېرته رخصت کړل. سکاټلنډیانو چې ولیدل چارلېز د خلکو ملاتړ له لاسه ورکړی، پر برېټانیا یې یرغل وکړ او نیوکاسټل یې ونیوه. چارلېز مذاکرې ته مخه کړه او سکاټلندیانو غوښتنه وکړه چې پارلمان هم باید په دې موضوع کې شامل کړل شي. چارلېز اړ و چې د پارلمان غړي بیا راوغواړي. د پارلمان دا غونډه د «اوږد پارلمان» په نامه مشهوره ده چې د غونډو بهیر تر ۱۶۴۸ کال پورې دوام وکړ او ان کله چې چارلېز د پارلمان د رخصتۍ غوښتنه وکړه، وکیلانو یې غوښتنه رد کړه. په ۱۶۴۲ کال کې د چارلېز او پارلمان ترمنځ کورنۍ جگړه ونښته. په دې جگړه کې

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



ځیني کسان د پاچا په ملاتړ راووتل. د پارلمان او سطلنت ترمنځ دغه شخړې د سیاسي او اقتصادي بنسټونو پرسر وې. پارلمان د مطلقه رژیم د پای ته رسېدو غوښتنه کوله، خو پاچا بیا د نظام د پایښت او پیاوړتیا په لټه کې و. دغو شخړو اقتصادي ریښې لرلې. د پاچا پلویان له هغه سره په ګټه کې شریک وو او د انحصاراتو له برکته خورا شتمن شوي وو. د مثال په توګه، پاچا دوه تنه مخکښ سوداګر «شروزبري» او «اوسټري» چې محلي انحصارات ټول د دوی په کنټرول کې وو، د لندن مېشتو سوداګرو په مقابل کې حمایه کول. همدغه سوداګر بیا په کورنۍ جګړه کې د پاچا پلویان وو. خو بل پلو، په بیرمنګهم کې د فلزکارۍ صنعت ځکه پراخ شوی و چې هلته انحصارات کمرنګه وو او صنعت ته نوي راتلونکي کسان اړ نه وو، چې د کار زده کړې اووه کلنه دوره بشپړه کړي؛ هغه دوره چې د هېواد په نورو برخو کې حتمي وه. همدې صنعتکارانو د کورنۍ جګړې پرمهال پارلمان ته توري جوړولې او د جګړې لپاره یې داوطلب سرتېري استخدامول. همدارنګه له ۱۶۴۰ کال وړاندې په «لنکشایر» سیمه کې د صنفي قواعدو د نشتوالي له امله د « New Draperies» په نامه د نوي سټایل جامو تولید پراختیا موندہ. هغه سیمه چې دغه محصولات پکې تولیدېدل د لنکشایر یوازینۍ برخه وه چې د پارلمان ملاتړ یې کاوه. د الیور کرامول په مشرۍ پارلمانیان چې د ویښتانو د ځانګړي سټایل له امله په «Roundheads» باندې مشهور وو، د پاچا پلویانو «Cavaliers» ته ماتې ورکړه. چارلېز په ۱۶۴۹ کال کې محاکمه او اعدام شو، خو د هغه را پرځېدل او وژل کېدل د پرانېستو بنسټونو سبب نه شول، بلکې ځای یې د کرامول دیکتاتورۍ ونیوه. د چارلېز له مړینې وروسته پاچاهي نظام یوځل

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



بېرته پخواني حالت ته ستون شو او د پاچا هغه امتیازات چې په ۱۶۴۹ کال کې د چارلېز له مرگ وروسته لغوه شوي وو، یو ځل بیا جاري شول. وروسته د لومړي چارلېز زوی دویم چارلېز په برېټانیا کې د استبدادي یا مطلقه نظام لړۍ له سره پیل کړه. د هغه له مرگ وروسته، په ۱۶۸۵ کال کې ورور یې دویم جېمز پر تخت کېناست او هغه هم همدغې تگلارې ته دوام او قوت ور وبخښه. په ۱۶۸۸ کال کې د نوي استبداد د را ژوندي کولو لپاره د جېمز هڅو یو نوي ناورین او کورنۍ جگړې ته لمن ووهله. پارلمان داخل پیاوړې سازماندهي او اتحاد درلود. هغوی د هالنډ مشر «ویلیم» او د هغه مېرمن «ماري» ته چې د پروتستانت جېمز لور وه، بلنه ورکړه چې د جېمز پرځای د سلطنت چارې په لاس کې واخلي. ټاکل شوې وه چې ویلیم د تاج او تخت د ترلاسه کولو لپاره پوځ تیار کړي او د یوه مستبد یا مطلق العنان پاچا په توگه نه، بلکې د اساسي قانون پربنسټ یو مشروطه شاهي نظام رامنځته کړي. دوه میاشتې وروسته د برېټانیا ټاپوگان په «بریکسام» سیمه کې د ویلیم لښکرې پیاده شوې، چې په دې توگه جېمز ماتې وخوړه او فرانسې ته وتښتېد.

## پرتمین انقلاب

په برېټانیا کې د پرتمین انقلاب له بریالي کېدو وروسته، پارلمان او ویلیم د نوي اساسي قانون د جوړولو لپاره په خپلو کې سره جرگه شول. د ویلیم اعلامیه چې پر برېټانیا تر برید مخکې صادره شوې وه، د راتلونکو بدلونونو لپاره زېری و. دغو بدلونونو وروسته د 'حقوقو اعلامیې' په چوکاټ کې چې په ۱۶۸۹ کال کې تصویب شوه، رسمیت او مشروعیت وموند. یاده اعلامیه د ویلیم د تاج اېښودنې

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



مراسمو پر مهال ولوستل شوه. د دې اعلامیې چې پر قانون تر بدلېدو وروسته د 'حقوقو لايحه' په نامه ونومول شوه، ډېری مادې ګونګې وې. خو بیا هم له ارزښته برخمنه وه، ځکه چې د اساسي قانون مهم اصول په کې بیان شوي وو. د اعلامیې پر بنسټ د پاچا ځایناستی مورثي نه و، یعنې د پاچا تر مړینې وروسته د هغه کورنۍ غړو د پاچاهۍ حق نه درلود. د حقوقو اعلامیې دغه راز ټینګار کاوه چې پاچا د قوانینو د لغوه کولو واک نه لري او د پارلمان له هوکړې پرته د مالیاتو ټاکل غیر قانوني و. پردې سربېره، د پارلمان له موافقې پرته د هر ډول دایمي پوځي تشکیل پر جوړېدو بندیز ولګول شو، خو یو شمېر مادې یې ګونګې وې، لکه په اتمه ماده کې راغلي وو«د پارلمان غړي باید په ازادانه توګه وټاکل شي»، دلته روښانه نه وه چې دغه «ازادي» باید څه ډول تامین شي. تر دې هم ګونګه، ۱۳ مه ماده وه چې ویل یې د پارلمان غونډې باید پر له پسې وي. له دې کبله چې له کابو یوې پېړۍ راهیسې په برېټانیا کې د پارلمان غونډې پر یوې جنجالي موضوع باندې بدله شوې وه، تمه وه چې دغه ماده به ستونزه هواره کړي. د دې مبهمې جمله بندۍ دلیل روښانه و، قانون باید عملي شوی وای. د دویم چارلېز په وخت کې د قانون له مخې پارلمان باید په کال کې لږترلږه درې غونډې کړې وای، خو د چارلېز د نه پاملرنې له امله قانون پلی نه شو، ځکه چې د قانون د تطبیق لپاره ضمانت نه و موجود. خو له ۱۶۸۸ کال وروسته پارلمان کولای شول چې د قانون اجرایوي ضمانت تعریف او خوندي کړي، هغسې لکه بارونیانو چې د مګناکارتا منشور د تطبیق او څارنې لپاره شورا جوړه کړې وه. پارلمان په دې اړه پرېکړه ونه کړه، ځکه چې اړتیا یې نه لیده او لامل یې دا و چې له ۱۶۸۸ کال وروسته واک او اختیار

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

Downloaded By: Afghan Salar Library



پارلمان ته لېږدول شوی و. پاچا ویلیم د قانون له مخې عمل کاوه او له هغو کارونو یې ډډه کوله چې پخوانیو پاچاهانو ترسره کول. نوموړي په قضایي پرېکړو کې مداخله بنده کړه او د گمرکي عوایدو په گډون له خپل یو شمېر امتیازونو او حقونو هم تېر شو. په سیاسي بنسټونو کې دغو بدلونونو په ټوله کې پر پاچا د پارلمان بری او په برېټانیا کې د مطلقه نظام د ټغر ټولېدو او په پایله کې د لویې برېټانیا د جوړېدو پیغام له ځان سره درلود، لکه همداسې چې وشول او په ۱۷۰۷ کال کې د اتحاد تړون په لاسلیک سره برېټانیا او سکاټلند سره یوځای او متحد شول. له دې وروسته پارلمان خپل ټول پام د دولت پر کړنو څار ته ور ټول کړ. دې کار لوی توپیرونه رامنځته کړل، ځکه چې د پارلمان او ستیورات کورنۍ د پاچاهانو د گټو ترمنځ لوی توپیرونه موجود و. له دې کبله چې د پارلمان ډېری غړو د سوداگرۍ او صنعت په برخو کې پانگونه کړې وه، د مالکیت حقونو څخه یې په کلکه دفاع کوله. که ستیوراتانو د مالکیت حقوق تر پښو لاندې کول، نو پارلمان یې دفاع کوله. ددې ترڅنگ، تر هغه وخته چې د دولت عواید او بودیجه د ستیورات کورنۍ په کنټرول کې وو، پارلمان د حکومت له لوري د مالیاتو د زیاتوالي مخالف و او د حکومت د واک پیاوړتیا یې نه غوښته. پارلمان یوازې په هغو برخو کې د مالیاتو له زیاتولو او د بودیجې لگولو سره موافق و، چې د دوی گټې پکې نغښتې وې. د سمندري ځواکونو پیاوړتیا د پارلمان لپاره لومړیتوب درلود، ځکه چې د برېټانیا له پولو بهر یې په بهرنۍ سوداگرۍ کې د پارلمان د غړو امنیت او گټې خوندي کولې. هغه څه چې دلته د پارلمان د غړو له گټو هم ډېر ارزښت لري، هغه د پرانېستو سیاسي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



بنسټونو راټوکېدل دي چې پراخ بنسټه ځانګړنې يې لرلې. د پارلمان له لوري د رامنځته شويو سياسي او اقتصادي ادارو دروازې د خلکو پرمخ پرانېستې وې، ځکه چې د پارلمان غړي انتخابي او د خلکو استازي وو. دا چې برېټانيا هغه وخت تازه د ولسواکۍ په لور سفر پيل کړی و او يوې رښتينې ولسواکۍ ته د رسېدو لپاره يې لوی واټن په مخ کې پروت و، نو سياسي او اقتصادي بنسټونو ته د خلکو لاسرسي کچه محدوده وه. په دې دوره کې يوه ستره نابرابري او بې عدالتي د رايې ورکونې محدود حق و، چې په اتلسمه پېړۍ کې د برېټانيا د ټولو وګړو يوازې ۲ سلنه يې د رايې ورکونې حق درلود او هغه هم ټول نارينه و. د برېټانيا لويو ښارونو لکه بيرمنګهم، ليډز، مانچسټر او شيفيلډ چې د صنعتي انقلاب مرکزونه ګڼل کېدل، په پارلمان کې استازي نه لرل. خو برعکس، کليوالي سيمو له ټاکلي شمېر زيات استازي لرل. د دې دورې يوه بله بدګڼه دا وه چې په کليوالي سيمو «counties» کې د رايې ورکونې حق د ځمکې مالکيت پر بنسټ ورکول کېده او د ښار په زياترو برخو کې ټاکنيزې حوزې د اشرافو د کوچنيو ډلو په ولکه کې وې چې نويو صنعتکارانو ته يې د رايې ورکونې اجازه نه ورکوله. مثلا؛ د بوکنګهم په ټاکنيزه حوزه کې ټولې دیارلس رايې د «بورګسيانو» په نوم يوې ډلې ته ځانګړې شوې وې. له دې هم بدتر، ويجاړې ټاکنيزې حوزې وې. دغو سيمو که څه هم له تاريخي پلوه د رايې حق درلود، خو د ځايي خلکو د کوچېدو او يا د برېټانيا په ختيځه څنډه کې د ساحل د ښوييدو په پايله کې د دانويچ کلي د ويجاړېدو له امله، په يادو سيمو کې رايه ورکونه او نمايندګي ممکنه نه وه. په دې حوزو کې رايه ورکوونکو د پارلمان لپاره ډېر لږ شمېر استازي ټاکل، لکه پخواني

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



ساروم ۷ رایې او دانویچ ۳۲ رایې لرلې چې هر یوه یې دوه استازي ټاکل. پارلمان او اقتصادي بنسټونو ته د لاسرسي نورې لارې چارې هم موجودې وې، چې مهمه یې عریضه کول و. له پرتمین انقلاب وروسته د پلورالېزم د راټوکېدو په پایله کې عریضه کولو تر ولسواکۍ ډېر مهم رول ولوباوه، هرچا کولای شول چې پارلمان ته خپل عرایض وړاندې کړي او په حقیقت کې هرچا دا کار کاوه. په زړه پورې دا چې پارلمان به د خلکو عرض اورېده. دې کار په برېټانیا کې د مستبد او مطلقه نظام ریښې نورې هم کاواکه کړې، چې دا له ۱٦۸۸ کال وروسته په دې هېواد کې د ټولنې یوې سترې کتلې ته د واک ورکولو او د پلورالېزم د ځلېدو پیلامه وه. د انحصاراتو موضوع دا چاره په ښه توګه موږ ته روښانه کوي. وړاندې مو ولیدل چې په اولسمه پېړۍ کې انحصاراتو څنګه پر زبېښونکو اقتصادي بنسټونو سیوری غوړولی و. په ۱٦۲۳ کال کې د انحصاراتو قانون په تصویبېدو سره، دغه یو اړخیز امتیازات له منځه لاړل او د کورنۍ جګړې پرمهال د ستونزې اصلي محور وګرځېد. «اوږد پارلمان» ټول هغه انحصارات چې د خلکو په زیان وو، لغوه کړل. که څه هم دویم چارلېز او لومړي جېمز ونه شوی کولای چې د کورني انحصار مخه ونیسي، خو د بهرني انحصار حق یې ځان ته خوندي کړ. له دې ډلې یوه د افریقا سلطنتي کمپنۍ وه چې دویم چارلېز په ۱٦٦۰ کال کې ورته د انحصار حق ورکړی و. د یادې کمپنۍ اصلي مدیر او ونډه وال چې د افریقا ګټور تجارت یې انحصار کړی و، د چارلېز ورور جېمز و چې د چارلېز تر مړینې وروسته پر تخت کېناست. خو له ۱٦۸۸ کال وروسته یادې کمپنۍ نه یوازې خپل مدیر، بلکې حامي یا ملاتړي یې

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

Downloaded By: Afghan Salar Library



هم له لاسه ورکړل. جېمز د دې کمپنۍ د انحصاري حق د ننګې او دفاع لپاره د کمپنۍ د سیالانو پر وړاندې کلکه مبارزه کړې وه. دا سیالان هغه خپلواک سوداګر و، چې غوښتل یې له افریقا مریان ونیسي او بیا یې امریکا ته صادر کړي. دا ډېر ګټور تجارت و، خو د افریقا سلطنتي کمپنۍ په دې برخه کې له سختو ننګونو سره مخ شوه، ځکه چې په اتلانتیک کې د مریانو پر سوداګرۍ بندیز لګول شوی و. کمپنۍ په ۱٦۸۹ کال کې د «نایټینګل» په نامه د خپل یو تن سیال سوداګریز کاروان (کارګو) یرغمل کړ. نایټینګل په دې اړه دولت ته شکایت وکړ او د محکمې رییس «هالټ» د کمپنۍ دا کړنه غیر قانوني وبلله، ځکه چې کمپنۍ د پخواني پاچا له لوري ورکړل شوي انحصاري حق څخه استفاده کړې وه. هالټ استدلال وکړ چې د انحصار حق یوازې د قانون له مخې جواز لري او دا قانون باید د پارلمان له لوري تصویب شوی وي. په دې توګه قاضي هالټ نه یوازې د افریقا سلطنتي کمپنۍ انحصاري حق، بلکې نور وضع کېدونکي انحصارات یې هم د پارلمان په واکونو کې شامل کړل. که قاضي هالټ له ۱٦۸۸ کال مخکې دا ډول پرېکړه کړې وای، ښایي د لومړي جېمز له لوري ګوښه شوی وای، خو له ۱٦۸۸ کال وروسته وضعیت بشپړ بدل شوی و. دا چې د انحصار په اړه د پرېکړې حق پارلمان ته ورکړل شو، پر پارلمان د عریضه کوونکو سېل ورمات شو. ازادو سوداګرو (د کمپنۍ سیالانو) په یوه عریضه کې ۱۳۵ لاسلیکونه راټول کړل، چې په اتلانتیک سمندر کې یې د ازادو تجارتي فرصتونو غوښتنه کوله. سلطنتي کمپنۍ هم په ورته کار لاس پورې کړ، خو د کمپنۍ د موافقت په پرتله د مخالفت عریضې یې زیاتې وې. ازادو سوداګرو له یادې کمپنۍ سره خپل مخالفت د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



شخصي ګټو لپاره نه، بلکې د ملي ګټو په ژبه بیانوه. د ۱۳۵ عریضو له ډلې ۵ له لندنه او پاتې ۷۳ یې له لندنه بهر راغلې وې، په داسې حال کې چې د افریقایي کمپنۍ له لوري ۸ عریضې وړاندې شوې وې. له مستعمرو څخه هم عریضې منل کېدې. ازادو سوداګرو له مستعمرو څخه ۲۷ او کمپنۍ ۱۱ عریضې راټولې کړې. همدارنګه په عریضو کې د ازادو سوداګرو د لاسلیکونو شمېر د کمپنۍ په پرتله ډېر و، یعنې ۸۰۰۰ لاسلیکونه د ۲۵۰۰ لاسلیکونو په مقابل کې!

دغه نانډرۍ تر ۱۶۹۸ کال د سلطنتي کمپنۍ تر لغوه کېدو پورې روانې وې. له ۱۶۸۸ کال وروسته پارلمان په یادو برخو پر بدلونونو سربېره، په اقتصادي بنسټونو او د دولت په پالیسیو کې هم بنسټیز بدلونونه راوستل چې په پایله کې یې صنعتي انقلاب ته لار هواره کړه. د مالکیت حقوق چې د سټیوراتیانو په وخت کې کمزوري شوي وو، له سره تقویه شول. د صنعت د پیاوړتیا په موخه د بېځایه مالیاتو د وضعه کولو او خنډونو رامنځته کولو پر ځای، د پارلمان له خوا د اقتصادي بنسټونو د اصلاح بهیر پیل شو. په ۱۶۸۹ کال کې پر اورتونونو[1] د کلنیو مالیاتو وضعه کولو د تولیدوونکو مخالفت او غوسه راوپاروله، چې د ویلیم او ماري په واک ته رسېدو سره یاد مالیات لغوه او پرځای یې پارلمان پر ځمکو مالیه وضعه کړه. دا له تولید څخه د ملاتړ په موخه د پارلمان یوازینی اقدام نه و، بلکې د مارکېټ د پراختیا او د وړینو تولیداتو ملاتړ په موخه یې ګڼ قوانین او مقررات تصویب کړل. د پارلمان دغه کار سیاسي رنګ درلود، ځکه چې د پارلمان زیاتره غړو چې د جېمز په مخالفت کې درېدلي وو،

[1] اتشکده

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



تولیدي کارخانې لرلې. پارلمان همدارنگه د مالکیت حقونو د خوندیتوب په برخه کې نوي قوانین تصویب کړل او زاړه هغه یې لغوه کړل. د پارلمان بل لومړیتوب په مالي سیستم کې اصلاحات و. که څه هم د پرتمین انقلاب په لومړیو کې بانکوالي په برېتانیا کې پراختیا موندلې وه، خو په ۱۶۹۴ کال کې د «انګلینډ بانک» په جوړېدو سره دغه سکتور لا وده وکړه. دا د پرتمین انقلاب یوه بله لاسته راوړنه وه. یاد بانک مالي انقلاب ته لار پرانېسته چې په ترڅ کې یې مالي بازارونه او مالي چارې پراخه شوې. د اتلسمې پېړۍ په لومړیو کې هغه چا چې ګروي ورېاندې کولای شوه، پور یې ترلاسه کولای شو. په لندن کې د «C. Hoare» په نامه د یوه کوچني بانک د ۱۷۰۲ او ۱۷۰۲۴ کلونو ترمنځ ارقام چې موږ ته په لاس راغلي دي، دا حقیقت په ښه توګه روښانه کوي. په دې دوره کې که څه هم لارډانو او اشرافو ته هم پورونه ورکول کېدل، خو له ۳ څخه ۲ برخه پور اخیستونکي عادي خلک وو، دا خلک سوداګر او کاروباریان وو. د پور اخیستونکو په ډله کې یو تن «جان سمېت» و، چې ۱۷۱۹-۱۷۱۵ کلونو ترمنځ یې ۲۵۰۰ پونډه پور اخیستی و.

زموږ د بحث محور تر اوسه په دې راڅرخېده چې پرتمین انقلاب د برېتانیا سیاسي بنسټونه څنګه بدل کړل، څنګه یې پراخ بنسټه کړل او همدارنګه څنګه یې د پرانیستو سیاسي بنسټونو اساس کېښود. د پرتمین انقلاب په پایله کې یو بل د پاموړ بدلون هم رامنځته شوی و: پارلمان د سیاسي سنټرالیزېشن «متمرکز کولو» هغې پروسې ته دوام ورکړ چې تیودوریانو پیل کړې وه. له دې څخه موخه یوازې دا نه وه، چې د نظام د مشروطیت کچه لوړه شي، یا حکومت اقتصاد په یو بل مسیر ور سم کړي او یا هم حکومت خپل بودیجه پر بېلابېلو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



شیانو ولګوي، بلکې اساسي هدف په ټولو برخو کې د حکومتي ظرفیت او وړتیا لوړول و. دا کار یوځل بیا د سیاسي سنټرالیزېشن او پلورالېزم ترمنځ پیوستون څرګندوي: له ۱٦٨٨ کال مخکې پارلمان د حکومت د پیاوړتیا او د مالي سرچینو د زیاتېدو مخالفت کاوه، ځکه چې بیا پر حکومت یې کنټرول بایله، خو له ۱٦٨٨ کال وروسته کیسه بل ډول شوه. دولت د پیاوړتیا په لور ګامونه واخیستل او د دولتي لګښتونو کچه دومره لوړه شوه چې د ټولو ملي عوایدو ۱۰ سلنه یې جوړول. د لګښتونو دغه زیاتوالي د مالیاتو د کچې له زیاتوالي سره تړاو درلود، په ځانګړې توګه د کورنیو تولیدي توکو پر اوږده نوملړ غیر مستقیم مالیات وضعه شول. هغه مهال په دومره کچه بودیجه ربښتیا هم ستر رقم و، له هغه څه ډېر ستر چې موږ یې اوس په نړۍ کې وینو. د مثال په توګه، په ۱۹۸۰ لسیزه کې یوازې د کولمبیا هېواد بودیجه دې کچې ته ورسېده. ان د افریقا جنوب صحرا هېوادونو په ځانګړې توګه سیریلیون چې خپل اقتصاد لري او بهرنۍ مرستې هم ورته چالانې دي، تر اوسه په دومره کچه بودیجه نه ده لرلې. د دولت پیاوړتیا یوازې د سیاسي سنټرالیزېشن یا تمرکز په کچې پورې اړه لري. تر ټولو مهم ټکی د حکومت د کړنو څرنګوالی او د واکمنې ډلې د چلند ډول و. که څه هم د برېټانیا دولتي بنسټونه په منځنۍ پېړۍ کې تاسیس شوي وو، خو د اووم او اتم هنري د واکمنۍ پرمهال د سیاسي سنترالیزېشن او اداري نظام د پراختیا لپاره جدي ګامونه واخیستل شول. بیاهم ډېر واټن موجود و چې دولت باید له ۱٦٨٨ کال وروسته د یوه موډرن تشکیل یا جوړښت په لور خوځېدلی وای. مثلاً، زیاتره دولتي ګومارنې د سیاسي ملحوظاتو پربنسټ کېدې، نه د

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



وړتیا؛ همدارنګه دولت د مالیاتو د راټولولو په برخه کې له ډېر ټیټ ظرفیت څخه برخمن و. له ۱٦۸۸ کال وروسته پارلمان د ملي عوایدو د ډېروالي په خاطر د مالیاتو راټولولو په برخه کې په ظرفیت لوړونې لاس پورې کړ، چې دې کار د مالیاتي ادارو په ظرفیت کې یو ستر بدلون رامنځته کړ، داسې چې په ۱٦۹۰ کال کې د ادارې تشکیل له ۱۲۱۱ کسانو څخه په ۱۷۸۰ کال کې ۴۸۰۰ کسانو ته لوړ شو. د مالیه راټولوونکو پر کارونو د څارنې لپاره څارونکي یا مفتشین په ټول هېواد کې ګورمال شوي وو او د تفتیش پخاطر به یې بېلابېلو سیمو ته سفرونه کول. تاریخ لیکونکي «جان برېور» د مالیې راټولونې د یوه څارونکي جورج کوپروایټ سفرونه څېړلي دي، نوموړی وایي:«د ۱۷۱۰ کال د جولای د ۱۲ مې او د جولای د ۵ مې ترمنځ کوپروایټ د «پارک شایر» ولسوالۍ په ریچمونډ سیمه کې ۲۹۰ مایله مزل کړی و. نوموړي په دې موده کې له ۲٦۳ خوراکه پلورونکو، له ۷۱ غله پلورونکو، له ۲۰ شمع پلورونکو او له یوه تن اوبه پلورونکي سره لیدلي وو. هغه په ټوله کې د ۸۱ قلمه بېلابېلو توکو سنجش کړی و او د ۹ تنو مالیه ټولوونکو فعالیتونه یې څارلي وو. اته کاله وروسته هم نوموړي خپل کار ته دوام ورکاوه، خو دا ځل مو د پارک شایر په یوه بله سیمه «وکفیلډ» ولسوالۍ کې ولیده. نوموړي په ویکفیلډ کې د اونۍ په شپږو کاري ورځو کې هره ورځ په اوسط ډول نولس میله مزل کاوه او په ورځ کې یې له پنځو تر شپږو پورې محلونه بررسي کول.» کوپروایټ د رخصتۍ په ورځ (یکشنبه) د خپل کار راپور په کتابچه کې ثبتاوه، نو ځکه موږ د هغه د ټولو فعالیتونو بشپړ ریکارډ په واک کې لرو. په حقیقت کې د مالیې راټولولو سیستم د راپورونو د ساتنې او ثبت ډېر دقیق سیستم درلود.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



د مالیې مامورینو به درې ډوله راپورونه چمتو کول، چې هر راپور به له یو بل سره ورته والی درلود او هر ډول لاسوهنه پکې لوی جرم ګڼل کېده. پر رسمي چارو د دولت دغه ډول نظارت، هغه هم په ۱۷۱۰ کال کې، هغه څه دي چې حتی په اوسني عصر کې د بېوزلو هېوادونو له وسې پورته خبره ده. تر ټولو مهمه دا چې دولت له ۱۶۸۸ کال وروسته په اداره کې د ګورمانو لپاره د سیاسي اړیکو پرځای وړتیا او اهلیت ته لومړیتوب ورکړ او د ادارې لپاره یې یوه پیاوړې زېربنا جوړه کړه.

## صنعتي انقلاب

صنعتي انقلاب د برېټانیا د اقتصاد په ټولو برخو کې محسوس و. د ټرانسپورت، بخار انرژۍ او د اوسپنې صنعت په برخو کې لوی پرمختګونه رامنځته شول. خو تر ټولو مهم بدلون او نوښت د نساجۍ صنعت میکانیزه کېدل او د نساجي فابریکو پراختیا وه. دغه ډینامیک یا خوځنده بهیر د بنسټونو د بدلون پایله وه او بنسټي بدلونونه د پرتمین انقلاب په پایله کې رامنځته شوي وو. دا بدلونونه یوازې د کورنیو انحصاراتو له منځه وړل، په مالیاتي نظام کې سمونې او مالي بازارونو ته لاسرسی نه و، بلکې په دې کې د مالکیت حقونو د خوندي کولو له لارې د نوښتګرو، مخترعینو او کارپنځوونکو په ګټه د اقتصادي بنسټونو اصلاح کول هم شامل و. د مثال په توګه، د مالکیت حقونو خوندیتوب د ټرانسپورت په سکتور کې انقلاب او د ټرانسپورت پراختیا بیا د صنعت په سکتور کې انقلاب ته لار هواره کړه. له ۱۶۸۸ کال وروسته، پر سمندري او ځمکنیو لارو پانګونه چې «turnpikes» یې بولي، په بېساري ډول زیاته شوه. پر ټرانزیتي

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



لارو پانګونې چې ټرانسپورتي لګښتونه یې کمول، د صنعتي انقلاب لپاره مناسب بستر رامنځته کړ. له ۱۶۸۸ کال مخکې د سټیورات کورنۍ پاچاهانو د خپلسرو قوانینو له لارې پر دغه ډول بنسټیزو پروژو د پانګونې مخه ډپ کړې وه. د برېټانیا د «ورکسترشایر» د سالورپ «Salwerpe» سیند کیسه په دغه هېواد کې له ۱۶۸۸ کال وروسته رامنځته شوي بدلونونه په ښه توګه انځوروي. پارلمان په ۱۶۶۲ کال کې په سالورپ سیند کې د بېړۍ چلونې په برخه کې د پانګونې د هڅونې په موخه قانون تصویب کړ او بالډوین «Baldwyn» کورنۍ په دې سیند کې د ۶،۰۰۰ پونډو په ارزښت پانګونه وکړه. بالډوین کورنۍ په سیند کې پر تلونکو او راتلونکو بېړیو محصول وضع کړ. شروزبري او لارډ کاونټري په ۱۶۹۳ کال کې پارلمان ته د قانون یوه طرحه وړاندې کړه چې له مخې یې دغه محصول باید دوی اخیستی وای. خو د بالډوین زوی ټیموتي بالډوین له دې کار سره مخالفت وکړ او پارلمان ته یې د یوې عریضې له لارې شکایت وکړ چې د قانون یاده طرحه به یې د پلار هغه حق تلف کړي چې په سیند کې یې د پانګونې له لارې ترلاسه کړی. بالډوین زیاته کړه:«د دې نوې طرحې موخه د پخوانۍ هغې چې له مخې یې په سیند کې پانګونه وشوه، لغوه کول دي او لنډه دا چې په دې برخه کې د ټولو کوښښونو مخنیوی دی.» نوموړي خبرداری ورکړ چې د پارلمان له لوري د دوی پر منل شوي قانوني حق باندې پښه ایښودل به ناوړه پایلې ولري. بالاخره نوی قانون رد او د بالډوین حق خوندي شو. له ۱۶۸۸ کال وروسته د مالکیت حقونو د خوندیتوب یو لامل به ښایي دا و، چې په دې کار کې د پارلمان ګټې نغښتې وې او بل لامل یې کېدای شي پرانېستو او کثرت پاله بنسټونو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



ته د خلکو لاسرسی وګڼو. له ۱۶۸۸ کال وروسته سیاسي نظام په حیرانوونکې توګه پراخ بنسټه شو او د سیاست ډګر د نویو لوبغاړو پرمخ خلاص شو. په اتلسمه پېړۍ کې ټرانسپورټي انقلاب او د ځمکو په برخه کې اصلاحات، د پارلمان نوښت و؛ چې د مالکیت حقونو په برخه کې یې بنسټیز بدلونونه رامنځته کړل. تر ۱۶۸۸ کال پورې په برېټانیا کې یو اصل موجود و، چې له مخې یې پاچا د ټولو ځمکو مالک ګڼل کېده، دغه اصل په حقیقت کې د ټولنې له فیوډالي جوړښت څخه سرچینه اخیسته. زیاتره ځمکو حقوقي ستونزې لرلې او د مالکیت حقونو د لانجمن قانون له امله تر دعوو لاندې وې. ډېری ځمکې د مشاع تر شرایطو لاندې وې، یعنې دا چې د ځمکو خاوندانو نه شوای کولای چې خپلې ځمکې په ګروۍ ورکړي یا یې وپلوري. عمومي ځمکې یوازې د دوديزو یا سنتي چارو لپاره کارول کېدې. د اقتصادي فعالیتونو لپاره د ځمکو د کارونې پر وړاندې بلا خنډونه موجود وو، خو پارلمان د دې وضعیت بدلون ته متې بډ وهلې او خلکو ته یې اعلان وکړ چې د ځمکو د اصلاح او له هغې د سمې ګټې اخیستنې په موخه پارلمان ته خپل وړاندیزونه ور ولېږي. دغه اصلاحات بالاخره د پارلمان له لوري د سلګونو لایحو په تصویب سره عملي شول. د اقتصادي بنسټونو د اصلاح دغه بهیر د بهرنیو منسوجاتو پر وړاندې د کورنیو منسوجاتو ملاتړ ته لار هواره کړه. هېره دې نه وي چې پارلمان بازار ته د هر ډول بهرنیو توکو د وارداتو او د انحصاراتو مخالف نه و، بلکې یوازې د هغو پرېکړو ملاتړ او ننګه یې کوله چې د بازار پراختیا او د دوی خپلې شخصي ګټې پکې نغښتې وې. خو مهمه خبره دا وه چې د پراخ بنسټه سیاسي ادارو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



شتون چا ته اجازه نه ورکوله چې دا کار د نورو صنعتکارانو د زیان سبب شي او یا په وینز کې د «سپراتا تګلارې» په څېر د نویو پانګوالو د راتګ مخه ونیسي. نساجان ډېر ژر پر دې خبره پوه شول. په ۱۶۸۸ کال کې د برېټانیا مهم وارداتي توکي منسوجات یا ټوکر وو، چې له هند څخه واردېدل. په دغو توکو کې نخي او ململ ټوکر شامل و. دغه راز له چین څخه ورېښمین توکي هم راوړل کېدل. ورېښمین او نخي ټوکر به د ختیځ هند کمپنۍ له لوري برېټانیا ته واردېدل او په اسیا کې دا واردات له ۱۶۸۸ کال مخکې د دولت د انحصاري حق په توګه منل شوي وو. یادې کمپنۍ ددې انحصاري حق د خوندیتوب لپاره دویم جېمز ته سترې بډې ورکولې. له ۱۶۸۸ وروسته کمپنۍ د سوداګرو تر سختو نیوکو او فشارونو لاندې راغله. یو شمېر سوداګرو چې په لرې ختیځ او هند کې یې د تجارت تکل درلود، پارلمان ته عریضه وکړه چې انحصار مات او له ختیځ هند کمپنۍ سره د سیالۍ زمینه ورته برابره کړي، خو ختیځ هند کمپنۍ پارلمان ته د عریضو او پیسو د وړاندې کولو په بدل کې له خپل دغه حقه دفاع کوله. په پایله کې کمپنۍ ناکامه شوه او پرځای یې په بازار کې د ازاد رقابت لپاره په همدې نوم «ختیځ هند» بله نوې کمپنۍ جوړه شوه. په برېټانیا کې ټوکر تولیدوونکي یا نساجان یوازې له هندي تولیداتو سره د سیالۍ په لټه کې نه وو، بلکې هغوی له دولته غوښتل چې د کورنیو تولیداتو د ملاتړ په موخه پر ارزانه هندي ململ ټوکر باندې مالیات وضع او بندیز پرې ولګوي. هندي ارزانه توکو دغه صنعتکاران له یوه سخت رقابت سره مخ کړي وو. که څه هم د برېټانیا دننه د نساجي توکو لویه برخه وړین محصولات وو، خو د نخي توکو تولیدوونکي له اقتصادي پلوه مهم او له سیاسي پلوه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



ځواکمن وو. د ۱۶۶۰ مې لسیزې په لومړیو کې د وړینو توکو تولیدوونکو په همدې وضعیت کې د پاتې کېدو لپاره خپلې هڅې ګړندۍ کړې، چې بالاخره دغه کار د «ګرانه بیه توکو د مخنیوي قانون» په رامنځته کېدو تمام شو او د نورو توکو ترڅنګ د ګران بیه جامو پر تولید او پېر هم بندیز ولګول شو. نساجانو همدا راز په ۱۶۶۶ او ۱۶۶۷ کلونو کې له پارلمانه دداسې قانون د تصویب غوښتنه وکړه چې له مخې یې له وړین کفن پرته باید د مړو خښول منع شي. د پارلمان دغه اقدام د کورنیو منسوجاتو د مارکېټ له ښه والي سره مرسته وکړه، چې په پایله کې کورني تولیدات د بهرنیو یا اسیایي تولیداتو په مقابل کې تقویه شول. خو له دې سره سره بیا هم په دې دوره کې د ختیځ هند کمپنۍ دومره واک درلود چې د اسیایي توکو پر وارداتو د محدودیت مخه ونیسي. له ۱۶۸۸ کال وروسته وضعیت بدل شو. په برېتانیا کې د ۱۶۹۶ او ۱۶۹۸ کلونو ترمنځ د وړینو توکو تولیدوونکو، له «اېست انګالیا» څخه تر ختیځ پورې، د لندن او کانټرابري ښارونو له ورېښم اوبدونکو او لېوانټ کمپنۍ سره په ګډه د بهرنیو توکو د محدودولو لپاره لاس یو کړ. د لېوانټ کمپنۍ واردوونکو که څه هم تازه خپل انحصاري حق له لاسه ورکړی و، خو بیا هم په بازار کې د اسیایي ورېښمو د پلور مخالف و او غوښتل یې چې له عثماني امپراتورۍ څخه د ورېښمینو توکو وارداتو ته زمینه برابره شي. دغه ګډ ایتلاف ددې سبب شو چې پارلمان د یوې لایحې د تصویب له لارې په برېتانیا کې د اسیایي وړینو او ورېښمینو توکو کارونه محدوده کړي. د یادې لایحې پربنسټ دغه راز د اسیایي منسوجاتو رنګرېزي او چاپ هم محدود شول. همدارنګه پارلمان په

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



۱۷۰۱ کال کې یو قانون تصویب کړ چې پر بنسټ یې د کورنیو تولیداتو د ملاتړ له لارې وزګارو او بېوزلو کسانو ته د کار فرصتونه رامنځته شول. پارلمان اعلان وکړ چې:« د ۱۷۰۱ کال له سپټمبر میاشتې وروسته د چین، هند یا د فارس خلیج ټول وریښمین تولیدات او یا ټول هغه منسوجات چې په یادو هېوادونو کې رنګرېزي، ډیزاین او د بریټانیا پاچاهۍ ته وارد شوي یا واردېږي؛ منع دي.» تر دې وروسته په بریټانیا کې د اسیایي وریښمینو جامو اغوستل او ډیزاین لرونکو وریښمین ټوکرو واردول غیر قانوني وګرځول شول، خو لا هم اروپا یا نورو هېوادونو او په ځانګړې توګه امریکایي مستعمرو ته د یادو توکو واردات جاري وو. خو پردې سربېره هم خامو وریښمو ته اجازه وه او دا به په بریټانیا کې پروسس کېدل. د دې ترڅنګ نور ململ ډوله ټوکر په دې بندیز کې نه راتلل. کورنیو نساجانو دا کار له قانون څخه تېښته بلله چې بالاخره تر اوږدو ناندریو وروسته په ۱۷۱۲ کال کې د نوي قانون په تصویب سره دا ستونزه حل شوه. په قانون کې راغلي وو «د ۱۷۲۲ کال د ډسمبر له ۲۵ مې وروسته په لویه بریټانیا کې د هر ډول ډیزاین لرونکي، نقاشي شوي او رنګ شوي ټوکر اغوستل منع دي.» که څه هم قانون د کورنیو تولیداتو پر اوږو د اسیایي تولیداتو دروند بار لرې کړ، خو د منسوجاتو د نورو ډولونو لکه د کتان- نخ او وړینو تولیداتو ترمنځ رقابت یې ژوندی وساته: پنبه او کتان سره ګډ شول او په نتیجه کې یې «fustian » په نامه یو مشهور ټوکر تولید شو. د بهرنیو توکو له پنبو غورځولو وروسته وړینو تولیداتو پر کتان خپلې غلبې ته دوام ورکړ. کتان تر ډېره په سکاټلند او ایرلنډ کې تولیدېدل او انګرېزانو غوښتل چې د بریټانیا بازارونو ته یې د راتګ مخه ونیسي. خو وړی اوبدونکي هم

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



کمزوري نه وو. ددوی نوي اقدامات په مانچسټر، لانکسټر او لیورپول کې چې مخ پر ودې صنعتي سیمې ګڼل کېدې، د فاسټین تولیدوونکو له سخت غبرګون سره مخ شول. د برېټانیا پراخ بنسټه سیاسي بنسټونو په دې هېواد کې ټولو ډلو او وګړو ته دا امکان برابر کړی و، چې خپلې ستونزې او غوښتنې له پارلمان سره شریکې کړي. که څه هم په دې تړاو پارلمان ته د مخالفت او موافقت لپاره ګڼې عریضې او لاسلیکونه رسېدلي وو، خو په دې کشمش کې د وړې اوبدونکو مقابل لوری یعنی فاسټین تولیدوونکي بریالي شول. په ۱۷۳٦ کال کې د مانچستر قانون څرګنده کړه چې: «پخوا د کلونو په اوږدو کې له پنبې او کتان څخه جوړ توکي د لویې برېتانیا پاچاهۍ کې تولید، چاپ، رنګرېزي او نقاشي شوي دي. د ۱۷۲۱ کال په پخواني قانون کې هېڅ داسې کومه ماده نشته چې له مخې یې په لویه برېتانیا کې له کتان او پنبې څخه د جوړو شویو جامو پر اغوستو او کارونې بندیز ولګول شي.»

مانچستر قانون د نویو نخي محصولاتو د تولیدوونکو لپاره یوه ډېره مهمه لاسته راوړنه ګڼل کېده، خو تاریخي او اقتصادي ارزښت یې تر دې هم ډېر و. لومړی دا چې د کورنیو توکو د ملاتړ لپاره پر بهرنیو هغو محدودیت لګول د پارلمان له لوري د یوه پراخ بنسټه سیاسي نظام په موجودیت کې ترسره شول. دویم؛ په راتلونکې نیمه پېړۍ کې د منسوجاتو د تولید په برخه کې نوښتونو د صنعتي انقلاب په پیاوړتیا او د ټولنیز بدلون په برخو کې کلیدي رول ولوباوه. له ۱٦۸۸ کال وروسته، که څه هم په برېټانیا کې اقتصادي لوبغاړو ته د فعالیت زمینه برابره شوه، خو په نړیوال ډګر کې پارلمان په جلا لار روان شو.

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



دا پېښه نه یوازې د منسوجاتو د ملاتړ په برخه کې د قانون په تصویب کې، بلکې د بېړۍ چلونې او نورو اصلاحاتو په برخه کې چې تر دوو پېړیو په خپل ځای پاتې شول، څرګنده ده. د یاد قانون موخه دا وه چې برېټانیا باید پر نړیوال تجارت انحصار ولري. البته د یادونې ده چې دا انحصار د خصوصي سکتور واک و، نه د دولت. دلته اساسي خبره دا وه چې د برېټانیا سوداګریز توکي باید د بېړیو په وسیله لېږدول شوي وای، خو د یادو قوانینو له مخې برېټانیا یا د هغه مستعمرو ته له نورو اروپايي هېوادونو څخه د توکو رالېږد منع و. دا کار له شک پرته چې د برېټانوي تاجرانو او صنعتکارانو په ګټه و.

د ۱۷۶۰ لسیزې په لومړیو کې ددې تحول یعنې د مالکیت حقونو ښه والي، د زېربنا پراختیا، د مالیاتي نظام پراختیا، په مالي برخه کې اسانتیاوو او له سوداګرو او صنعتکارانو څخه د حکومت د ملاتړ اغېزې مخ په څرګندېدو شوې. ورپسې ګڼې پنځونې او اختراعګانې وشوې او په پایله کې ټکنالوژیکي پرمختګونو چې د صنعتي انقلاب محور بلل کېده، پر اقتصادي پرمختګ ژور اغېز وکړ. په ډېرو برخو کې نوښتونه وشول او دغو نوښتونو د بنسټونو له اصلاح او بدلون څخه سرچینه اخیسته. په دې ډله کې مهم هغه یې د انرژۍ سکتور و، چې جېمز واټ په ۱۷۶۰ کال کې په لومړي ځل د بخار ماشین په اختراع سره په دې برخه کې بدلون ته لار پرانیسته. په دې برخه کې د واټ لومړنۍ لاسته راوړنه په ماشین کې د فشار د یوه داسې مرکز جوړول و، چې د ماشین سلنډر کې دننه پېښتون د دې پرځای چې کله ګرم او کله یخ شي، په دوامداره توګه باید ګرم وي. نوموړي وروسته خپلې نورې ایډیاوې هم د عمل ډګر ته وړاندې کړې، لکه د بخار ماشین د حرکت د څرنګوالي لپاره د ګېر رامنځته کول. په ټولو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



برخو کې شوي پرمختګونه د راتلونکو ټکنالوژیکي نوښتونو لپاره اساس او بنسټ وګرځېد. د بخار ماشین اختراع په اصل کې د پخواني انګرېز مخترع توماس نیوکامن او همدارنګه د فرانسوي فزیکپوه ډاینسیوس پاپین له کارونو سرچینه اخیسته. د پاپین داستان بل هغه مثال دی، چې ښيي د زېږښونکو بنسټونو تر سیوري لاندې له خلاق تخریب څخه وېره څنګه د ټکنالوژیکي نوښتونو پروړاندې خنډونه جوړوي. نوموړي په ۱۶۷۹ کال کې لومړی د بخار ډبې «steam digester» یوه طرحه جوړه کړه او په ۱۶۹۰ کال کې د انجن پېسټون پر جوړولو بریالی شو. پاپین دغه ابتدایي انجن په ۱۷۰۵ کال کې د بخار لومړنۍ کښتۍ کې وکاراوه. نوموړی دا مهال د جرمني د کاسل ایالت په ماربورګ پوهنتون کې د ریاضي استاد و. هغه پرېکړه وکړه چې دغه کښتۍ له فولډا سیند څخه د وېسر تر سیند پورې په حرکت و ازمايي. د فولډا-وېسر په مسیر کې د پاپین کښتۍ باید په موندن ښار کې تم شوې وای. هغه مهال د فولډا-وېسر سمندري لارې انحصاري حق د یوې ډلې ماڼوګانو په لاس کې و. همدې اندېښنو ته په پام سره، د پاپین ملګري او مشهور جرمني فزیکپوه ګوتفریډ لايبنيټس د کاسل ایالت انتخابي والي ته عریضه ولیکله او غوښتنه يې وکړه چې په یاد مسیر کې له مزاحمت پرته د تګ اجازه ورکړي، خو د لايبنيټس وړاندیز رد شو او سخت ځواب يې ترلاسه کړ:«د انتخابي شورا غړي ستاسو له وړاندیز سره مخالف دي او بې له کوم دلیله له ما غوښتنه وشوه چې پرېکړه يې تاسو ته واوروم، هغوی بلاخره له دې کار سره موافق نه دي.» پاپین دې ته پام ونه کړ او په سفر ووت. کله چې کښتۍ د «موندن» سیمې ته

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



ورسېده، ماټوګانو لومړی هڅه وکړه چې د یوه ځایي قاضي په مرسته کښتۍ ضبط کړي، خو بریالي نه شول، وروسته یې پر کښتۍ یرغل وکړ او د بخار انجن یې دړې وړې کړ. پاپین بلاخره په ډېرې بېوزلۍ او غربت کې ومړ او په یوه نامعلوم ځای کې خښ شو. که پاپین د تیودوریانو او ستېوراتانو د واکمنۍ پرمهال په برېټانیا کې وای، ښایي له ورته برخلیک سره مخ شوی وای، خو په برېټانیا کې له ۱۶۸۸ وروسته شرایط بدل شول. پاپین هوډ درلود چې د کښتۍ تر بریالي ازمایښت وروسته د هغې په واسطه لندن ته سفر وکړي.

په ۱۷۸۰ لسیزه کې هنري کورټ د خالصې اوسپنې د پروسس او استعمال په برخه کې نوي تخنیکونه معرفي کړل، چې دا د میتالوژۍ په برخه کې ستر پرمختګ ګڼل کېده. دا نوښت د ماشینونو او دستګاوو لپاره د پرزو جوړولو، مېخونو او نورو سامان الاتو د تولید لپاره ډېر مهم بلل کېده. وروسته د کورټ دغه نوښت له ابراهام دربي او د هغه زوی سره مرسته وکړه چې د اوسپنې په ګرمولو کې له سکرو څخه کار واخلي. د اوسپنې په تولید کې د لرګینو سکرو استعمال خپل ځای د ډبرو سکرو ته پرېښود چې ارزانه او په اسانه د لاسرسي وړ و. د نوښتونو بهیر له ځنډ پرته روان و، خو د اتلسمې پېړۍ په نیمایي کې دغه بهیر د نورو دورو په پرتله خورا چټک او متفاوت مسیر خپل کړ. دا بدلون تر ټولو زیات د نساجۍ صنعت کې محسوس و. د نساجۍ په تولید کې تر ټولو مهم هغه یې څرخ کول و، چې له حیواناتو او نباتاتو څخه د الیافو د بېلابېلو ډولونو لکه پنبې او وړیو استحصال پکې شامل و. له دې وړیو څخه به ټوکر تولیدېدل. د منځنۍ پېړۍ تر ټولو مهمه ټکنالوژیکي اختراع د اوبدنې د څرخ اختراع وه چې د لاس کار یې اسانه کړ. دغه اله غالباً په ۱۲۸۰ م

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



کال او په ډېر احتمال سره له منځني ختيځ څخه په الهام اخيستو په اروپا کې اختراع شوه. له دې مودې وروسته تر اتلسمه پېړۍ پورې د نساجۍ په برخه کې کوم پرمختګ نه و رامنځته شوی. د پاموړ او مهم نوښت په ۱۷۳۸ کال کې هغه وخت وشو، چې کله «لېوس پاول» په څرخ کې د نوي تخنيک په اختراع کولو سره د لاس کار پر ماشين بدل کړ. له دې مخکې به په څرخ کې توليدېدونکې وړۍ او تارونه د لاس په واسطه جلا کېدل، خو پاول د رولر وسيلې په اختراع سره دا چاره نوره هم اسانه کړه. خو د دې ماشين کار چندانې د قناعت وړ نه و، تر دې چې «ريچارډ ارکرايټ» او «جېمز هارګريفس» د نساجۍ په څرخ کې يو ربښتينی انقلاب رامنځته کړ. ارکرايټ چې د صنعتي انقلاب يوه مخکښه څېره ګڼل کېږي، په ۱۷٦۹ کال کې د واټر فريم «water frame» په نامه د نساجۍ ماشين په اختراع سره د لېوس دستګاه لا ډېره تکميل او بډايه کړه. نوموړی له «جيديدا ستروټ» او «ساموېل نيډ» سره چې جرابې يې توليدولې، شريک شو او په ۱۷۷۱ کال کې يې په کرامفورډ کې د نړۍ لومړنۍ توليدي فابريکه جوړه کړه. د ارکرايټ ماشين پر اوبو چلېده، خو وروسته يې په يوه برخليک ټاکونکي اقدام کې اوبيزه انرژي د بخار پر انرژۍ واړوله. په ۱۷۷۴ کال کې يې د فابريکې د کارګرانو شمېر ٦۰۰ تنو ته ورسېد او فعاليتونه يې ورځ تر بلې پراخېدل، تر دې چې په مانچسټر، ماټلاک، بټ او د سکاټلنډ په نيولانارک کې يې څانګې پرانېستې. د ارکرايټ لاسته راوړنې په ۱۷٦۴ کال کې د جېمز هارګريوس له لوري د څرخ د لاستي په اختراع سره بشپړې شوې، چې دا هم وروسته د ساموېل کرپټون او

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



ريچارډ رابرټس د اختراعګانو په پایله کې لا تکمیل شوې. دغه پنځونې او د هغو اغېزې په رښتیا هم یو انقلاب و. تر دې مخکې یعنې د اتلسمې پېړۍ په لومړیو کې ۱۰۰ پونډه پنبه په ۵۰ زره ساعتونو کې پروسس کېده، خو د ارکرایټ واټرفرېم ماشین دا ساعتونه ۳۰۰ ته رالنډ کړل. د څرخ په میکانیزه کېدو سره، اوبدنه هم ماشیني شوه. په دې برخه کې لومړنۍ اختراع په ۱۷۷۳ کال کې د «جان کي» له لوري د تار د ګوټک اختراع وه، چې دغه نوښت د اوبدنې صنعت په برخه کې اسانتیا رامنځته کړه. وروسته په ۱۷۸۵ کال کې «اډمونډ کارټرایت» د جان کي له ایډیا څخه په الهام اخیستو د «پاور لوم» په نامه اختراع وکړه چې د نساجۍ ماشین کې د تارونو په ځغلولو کې یې مرسته کوله.

د برېټانیا نساجي صنایع نه یوازې د صنعتي انقلاب خوځنده عامل و، بلکې د نړۍ اقتصاد یې هم په حرکت راوست. د ۱۷۸۰ او ۱۸۰۰ کلونو ترمنځ د برېټانیا صادرات دوه برابره شول، چې لویه برخه یې منسوجات وو او منسوجات د ټول اقتصاد د ملا تیر جوړاوه. د ټکنالوژیکي او اداري نوښتونو ګډولې د اقتصاد یو داسې بهیر رامنځته کړی و، چې د نړۍ اقتصاد یې د بډاینې په لور سوق کړ. په دې بهیر کې نویو کسانو له نویو ایډیاوو سره مخکښ او رغنده رول لوباوه. په ټرانسپورټ کې نوښتونو ته ځیر شئ. په برېټانیا کې ددغه شان نوښتونو بېلابېل ډولونه موجود وو. لومړی سمندري لارې او کانالونه، دویم ځمکنۍ لارې او بیا رېل کرښې، چې د دې هرې اختراع په سر کې یو نوی کس و. په برېټانیا کې د سمندري لارو جوړول له ۱۷۷۰ کال وروسته پیل او تر ۱۸۱۰ کال پورې یې ګڼې تولیدي سیمې له یو بل سره ونښلولې. د صنعتي انقلاب د پراختیا په

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



بهیر کې سمندري لارو د توکو د لېږد رالېږد په برخه کې د لګښت کچه راکمه او د منسوجاتو، خامو توکو او د بخار ماشین لپاره د ډبرو سکرو په لېږد رالېږد کې یې مهم او پاموړ رول ولوباوه. د سمندري لارو یا کانالونو لومړنی نوښتګر جېمز برینډلي و، چې د برېج واټر سیمې د دوک «مشر» له لوري د برېج واټر کانال جوړولو ته ګومارل شوی و، څو مهم صنعتي ښار مانچسټر له لېورپول بندر سره ونښلوي. برینډلي چې په «دربي شایر» کې زېږېدلی و، اصلي مسلک یې د ژرندو جوړول و، خو په انجینیري چارو کې ستونزمنو مسایلو ته د حللارې پیدا کولو په برخه کې د نوموړي نوښتګر فکر د دوک پام ځان ته ور اړولی و. نوموړي د نورو انجنیرانو لکه د 'توماس ټلفورد' او 'سمتین' په څېر کسانو چې یو یې په لومړي سر کې سنګتراش او بل یې پښن یا اهنګر و، په کانال جوړونه کې هېڅ راز پخوانۍ تجربه نه لرله. د سمندري لارو د انجینیرانو په څېر د ځمکنیو لارو او اوسپنې پټلیو انجنیرانو هم په دې برخه کې پخوانۍ کاري تجربې نه لرلې. 'جان مک ادام' چې په ۱۸۱۶ کال کې یې قیر یا سفالټ اختراع کړ، د یوه عادي اشراف زوی و. د بخار لومړنی اورګاډی په ۱۸۰۴ کال کې د ریچارډ ټروېتیک له لوري جوړ شو. د ټروېتیک پلار په «کارون وال» سیمه کې د ډبرو سکرو په یوه کان کې کار کاوه او ټروېتیک هم په ماشومتوب کې دغه کسب ته مخه کړې وه. نوموړی په کان کې د بخار هغه ماشین ته متوجې شو چې له کانه یې اوبه بهر ایستلې. تر ټولو مهم د جورج سټیفنسن اختراع وه چې له نالوستي مور او پلاره زېږېدلی و. په داسې حال کې چې نوموړي

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



پخوا د ډېرو سکرو په یوه کان کې د ماشینکار په توګه کار کاوه، د «راکټ» مشهور اورګاډی یې جوړ کړ.

د نساجۍ برخلیک ټاکونکی صنعت د نویو افرادو له لوري بدرګه شو. د دې سکتور یو شمېر صنعتکاران هغه کسان وو چې تر دې مخکې یې د وړینو توکو په تولید او سوداګرۍ کې فعاله برخه لرله. د مثال په توګه، جان فوسټر وړاندې له دې چې پنبې ته مخه کړي او په ۱۸۳۵ کال کې د بلک ډایک میلر په نوم فابریکه جوړه کړي، د وړینو توکو په تولید کې یې ۷۰۰ کسان پر دنده ګومارلي وو او دغو کارګرو په لاسي ماشین کار کاوه، خو فوسټر غوندې کسان ډېر لږ وو. یوازې یو پر پنځمه برخه کسان چې په دې وخت کې د مخکښو صنعتکارانو په توګه پېژندل کېدل، پخوا یې په بېلابېلو تولیدي چارو کې کار کاوه. دا د حیرانۍ خبره نه ده، ځکه چې د نخ صنعت (پنبه او کتان) د برېټانیا په شمال کې پراختیا ومونده. تولیدي فابریکې کاملاً په نوې بڼه سمبال شوې، کارګرو ته خام مواد ورکول کېدل چې په کور کې یې بشپړ کړي، نو ځکه دغو صنعتکارانو نه شوی کولای چې د فوسټر په څېر توکر تولید کړي. له همدې امله، د نساجۍ په صنعت کې نویو کسانو ته اړتیا وه، څو ټکنالوژي پراخه او له هغې استفاده وکړي. د پنبې صنعت پراختیا د وړۍ د نابودۍ په معنا و، یعنې خلاق تخریب په عمل کې!

خلاق تخریب نه یوازې عواید او شتمنۍ، بلکې سیاسي قدرت هم له سره وېشه. دا واقعیت د ویلیم لي د اختراع په داستان کې په ښه توګه ثرګندېدای شي. واکمنې طبقې د هغه له اختراع سره سخت مخالفت وکړ، ځکه چې له سیاسي عواقبو یې ډارېدل. په مانچسټر او بیرمنګهم کې له اقتصادي پرمختګ سره په ورته وخت کې، فابریکه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



لرونکو او منځني پاړکي له حقوقو د محرومیت او د حکومت د ناسمو سیاستونو په غبرګون کې په اعتراض لاس پورې کړ. د معترضینو لومړی هدف د «غَلې قانون» قانون و، چې له مخې یې د بیو ټیټېدو په صورت کې د ټولو غلو، حبوباتو، وریجو او تر ټولو مهم د غنمو پر وارداتو بندیز لګول کېده، څو په دې توګه ستر ځمکوال زیان ونه کړي. دا قانون د سترو ځمکوالو په ګټه و، ځکه چې غنم یې کرل، خو د تولیدوونکو پر زیان و؛ ځکه چې د ډوډۍ د قېمته کېدو په صورت کې یې باید د کارګرانو مزد لوړ کړی وای. په فابریکو او صنعتي مرکزونو کې د کارګرانو ځای په ځای کولو سره د هغوی انسجام او رهبري اسانه کېدل. له ۱۸۲۰ لسیزې وروسته، د سیاست له صحنې د تولیدوونکو او تولیدي مرکزونو تدریجي ګوښه کول سخت شول. د ۱۸۱۹ کال د اګست پر ۱۶ مه د سیاسي نظام او د دولت د سیاستونو خلاف د مانچسټر ښار په «پیټرز فیلډ» کې ستر لاریون پلان شو. د لاریون سمبالوونکی د غاښونو برس تولیدوونکی «جوزېف جانسون» نومېده چې د «Manchester Observer» په نامه یوه افراطي ورځپاڼه یې هم لرله. د لاریون نور سمبالوونکي کسان سمونپال شخص او د نخي ټوکرو تولیدوونکی «جان نایټ» او د مانچسټر ابزرور ورځپاڼې مدیر مسوول «جان تاهکر ساکسټن» و. په دې لاریون او اعتراضیه غونډه کې ۶۰ زرو کسانو ګډون کړی و. لاریونوالو د «د غلې قانون نه منو»، «د رایې ورکونې حق د ټولو لپاره» او «رایه د پاڼو له لارې،- یعنې رایې باید په سري ډول وکارول شي» شعارونه له ځان سره لېږدول. چارواکي چې دغې اعتراضیه غونډې سخت غوسه کړي وو، د پلیو ځواکونو پنځلسم کنډک ته د

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

Downloaded By: Afghan Salar Library



تیارسئ امر وکړ. غونډې ته د وینا له پیلېدو سره سم یو تن ځایي قاضي د ویناوالو د نیولو امر صادر کړ، پولیس د کسانو د نیولو لپاره سیمې ته ورسېدل، خو د خلکو له مقاومت سره مخ شول او شخړه ونښته. د پنځلسم کنډک سرتېرو پر لاریونوالو برید وکړ چې د څو دقیقو اخ و ډب په نتیجه کې یوولس معترضین مړه او شاوخوا شپېته نور ټپیان شول. مانچسټر ابزرور ورځپاڼې دا پېښه د پیټرلو ټولوژنه «Peterloo Massacre» وبلله. خو هغو بدلونونو ته په کتو، چې د برېټانیا په سیاسي او اقتصادي بنسټونو کې رامنځته شوي وو، د خلکو د اعتراضونو ځینه د حل دایمي لار نه وه. د پیټرلو ټولوژنه یوازینۍ پېښه پاتې شوه. د برېټانیا سیاسي بنسټونو د ولسي پاڅون د احتمالي ګواښونو له وېرې خپل دریځ نرم کړ، په ځانګړې توګه دا وېره هغه وخت نوره هم زیاته شوه کله چې په ۱۸۳۰ کال کې په فرانسه کې خلک په دویم چارلېز پسې پاڅېدل. په فرانسه کې د ۱۷۸۹ کال د اوښتون په نتیجه کې د استبداد او مطلقیت له نسکورېدو یوه موده وروسته دویم چارلېز یوځل بیا د واک انحصار او استبداد ته مخه کړې وه، چې د خلکو له سخت غبرګون سره مخ شو. په ۱۸۳۲ کال کې حکومت د اصلاحاتو په لړ کې یو قانون تصویب کړ، چې له مخې یې مانچسټر، بیرمنګهم، لیډز او شفلیډ ښارونو ته د رایې ورکونې حق ورکړل شو او په دې توګه صنعتکارانو او تولیدوونکو وکولای شول چې پارلمان ته خپل استازي وټاکي. دا سیاسي بدلونونه د اقتصاد ډګر ته د نویو راغلو سوداګرو او پانګوالو په ګټه تمام شول او په دویم قدم کې دوی وکولای شول چې د غلو-دانو قانون هم لغوه کړي. دا پېښې ښیي چې خلاق تخریب نه یوازې د عوایدو د بیا وېش په معنا ده، بلکې د سیاسي قدرت وېش هم له

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



ځان سره لري. هغه څه چې دغه بدلونونه یې نتیجې ته ورسول، د بریټانیا د سیاسي بنسټونو د پرانیستوالي طبیعت او ځانګړنه وه. له خلاق تخریب څخه ویرېدونکو کسانو نور د دې بهیر مخه نه شوای نیولی.

## ولې په بریټانیا کې؟

صنعتي انقلاب په بریټانیا کې پیل او همدلته ستر شو، ځکه چې دا د دغه هېواد غوره او ځانګړي اقتصادي بنسټونه وو چې له منځه یې دغسې یوه بدلون سر راپورته کړ. دا بنسټونه په خپل وار د پرتمین انقلاب له بطنه د زېږېدلو سیاسي بنسټونو په وجود کې را ټوکېدلي وو. دا پرتمین انقلاب و، چې په لومړي ځل یې په بریټانیا کې د مالکیت حقوق خوندي کړل، مالي بازارونه یې پراخ او سم کړل، د حکومت له لوري لګول شوي انحصارات یې مات او د صنعت د غوړېدو پر وړاندې ټول پراته خنډونه یې یوې خوا ته کړل. دا پرتمین انقلاب و چې سیاسي نظام یې پراخ او هغه یې د ټولنې او اقتصادي اړتیاوو په وړاندې ځواب ویوونکی کړ. دغو پرانیستو اقتصادي بنسټونو د جېمز واټ په څېر نوښتګرو او وړتیا لرونکو کسانو ته انګېزه او فرصت په لاس ورکړ چې خپل مهارتونه او وړتیاوې وځلوي، څو هېواد په هغه لور سم کړي چې ګټه یې هم نوښتګر او هم ملت ته ورسېږي. که دغه کسان له پرتمین انقلاب مخکې خپل هدف ته رسېدلی وای، نو ښایي د پخوانیو کاروباریانو په څېر هیلې دوی هم لرلی. دوی به هم بازار ته د نویو کاروباریانو د راتګ، د رقابت او د خلاق تخریب پر وړاندې خنډونه جوړول، خو له ۱۶۸۸ کال وروسته شرایط بدل شول. ریچارډ ارکرایټ په ۱۷۷۵ کال کې د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



تولید د انحصار لپاره عریضه وړاندې کړه او هیله من و، چې په راتلونکي کې به د نساجۍ مخ پر ودې صنعت ټول د ده په انحصار کې وي، خو هغه د انحصاري جواز په اخیستو بریالی نه شو او په پارلمان کې یې چا ملاتړ ونه کړ. ولې دا ځانګړی تحول په برېټانیا کې او بیا په اوولسمه پېړۍ کې رامنځته شو؟ ولې برېټانیا پرانیستو سیاسي بنسټونو ته غبرګ پرانېسته او له زبېښونکو بنسټونو یې لار جلا کړه؟

ومو لیدل چې د پرتمین انقلاب په وجود کې سیاسي بدلونونو د نورو ترڅلو پروسو په پایله کې سر راپورته کړ. کورنیو شخړو نه یوازې په برېټانیا کې د یوه بل استبدادي نظام د رامنځته کېدو مخه ونیوله، بلکې په ټولنه کې بدلون غوښتونکي حرکتونه او خوځښتونه یې هم پیاوړي کړل. د استبدادي نظام مخالفینو نه غوښتل چې د یوه استبداد په نسکورولو سره بل استبداد ته اجازه ورکړي. د «Roses» جګړه یوازې د یارکر مجلس پروړاندې د لانکسټر مجلس بریالیتوب نه و، بلکې پرتمین انقلاب د سیاسي انقلاب او پلورالېزم پربنسټ د یوه نوي نظام جوړېدو ته لار هواره کړه. دا په جلا مسیر د برېټانیا د بنسټونو د خوځېدو او د تاریخ حساسې مقطعې ته د غبرګون نتیجه وه. موږ په تېرو څپرکو کې ولوستل چې د لوېدیځ روم امپراتورۍ تر ړنګېدو وروسته، په دې سیمه کې فیوډالي بنسټونو څنګه سر راپورته کړ. فیوډالېزم د لوېدیځې اروپا ډېرو برخو ته وغځېد، خو لکه چې په څلورم فصل کې مو ولیدل؛ د طاعون ناروغۍ تر خپرېدو وروسته د ختیځې او لوېدیځې اروپا ترمنځ ژور توپیرونه راڅرګند شول. په سیاسي او اقتصادي بنسټونو کې کوچني توپیرونه په دې معنا وو، چې په لوېدیځ کې د ځواک انډول د بنسټونو پر اغېزمنتوب تمام شو،

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



خو په ختیځ کې یې بنسټونه د فساد او ویجاړۍ لور ته ټېل وهل. خو دا هغه لاره یا مسیر نه و، چې هرو مرو باید په پرانېستو بنسټونو تمام شوی وای، بلکې په دې مسیر کې باید ډېر بدلونونه رامنځته شوي وای. نه یوازې په مګناکارتا منشور کې هڅه شوې وه چې د مشروطه نظام لپاره ځیني بنسټي اساسات رامنځته کړي، بلکې د اروپا په نورو برخو، ان په ختیځې اروپا کې هم د ورته اسنادو یا تړونونو په مرسته دغه ډول هڅې وشوې. خو بیا هم د طاعون ناروغۍ تر خپرېدو وروسته، لوېدیځه اروپا په بشپړه توګه له ختیځې اروپا جلا شوه. په لوېدیځ کې د مګناکارتا په څېر سندونو د خپل اغېز په څرګندولو پیل وکړ. خو په ختیځ کې دا اغېز لږ و. په برېتانیا کې په اولسمه پېړۍ کې ان تر کورنیو شخړو مخکې هم دا نورم او قاعده موجوده وه چې پاچا د پارلمان له اجازې پرته مالیات نه شوای ټاکلی. په دې برخه کې بله مهمه موضوع له اشرافو څخه عامې طبقې ته د واک تدریجي لېږد و، چې ژوندی مثال یې د کلیوالي سیمو سیاسي غورځنګونه یا په ۱۳۸۱ کال کې د کلیوالو پاڅون و. اوس دغه تدریجي بدلون د تاریخ له یوې بلې حساسې مقطعې سره مخ کېږي چې دا مهمه مقطعه په اتلانتیک سمندر کې د سوداګرۍ پراختیا وه. په څلورم څپرکي کې مو ولوستل چې د بنسټونو راتلونکی برخلیک په دې پورې تړلی و، چې ایا شاهي دربار به د دې سوداګرۍ په انحصار بریالی شي او که نه؟ د برېتانیا د پارلمان نسبتاً پیاوړې نفوذ د تیودور او ستیوراټ پاچاهانو د دې کار مخه ونیوله. دغه وضعیت د سوداګرو نوې طبقه را و ټوکوله چې د مطلق العنان حکومت د جوړېدو پروړاندې یې کلکه مبارزه کوله. د مثال په توګه، په ۱۶۸۶

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



کال کې په لندن کې ۷۰۲ صادروونکي سوداګر او په کارابین کې ۱۲۸۳ واردوونکي سوداګر موجود وو. دغه راز په شمالي امریکا کې ۶۹۱ صادروونکي او ۶۲۶ واردوونکي پر سوداګرۍ بوخت وو. له دوی سره جواليان، بېړۍ چلوونکي، کپتانان او نورو هغو کسانو چې شریکې ګټې یې لرلې، کار کاوه. نور ستر سوداګریز بندرونه هم لکه بریستول، لیورپول او پورټسموت له دغه ډول سوداګرو ډک و. دغو کسانو د جلا اقتصادي او سیاسي بنسټونو د جوړېدو غوښتنه کوله. دوی چې څومره د سوداګرۍ له لارې شتمن کېدل، هغومره یې قدرت هم زیاتېده. په فرانسې، هسپانیې او پرتګال کې هم ورته ډلې او قوتونه موجود و. خو هلته پاچاهان په سوداګریزو چارو او اقتصادي فعالیتونو برلاسي وو. په یادو هېوادونو کې هم د برېټانیا په څېر بدلون غوښتونکو ډلو سر راپورته کړ، خو کمزوري وو او بریالي نه شول. کله چې په برېټانیا کې د اوږده پارلمان غونډه جوړه او کورنۍ جګړه پیل شوه، دغو سوداګرو تر ډېره د پارلمان ملن ونیوله. په ۱۶۷۰ کې دوی د لیبرال ګوند «ویګ» د جوړولو په هڅه کې وو، څو د ستیورات د استبداد یا مطلقیت پر وړاندې مبارزه وکړي او په ۱۶۸۸ کال کې د دویم جېمز په راپرځولو کې یې مهم رول ولوباوه. بالاخره د امریکا لویه وچه کې د سوداګرۍ پراختیا، په دې سوداګرۍ کې د انګرېز تاجرانو ګډون، د مستعمرو مخ پر ودې اقتصادي بهیر او په پایله کې هغې شتمنۍ چې دوی په دې موده کې ترلاسه کړې وه؛ د پارلمان او پاچا ترمنځ جګړه د مخالف لوري یعنې پارلمان په ګټه پای ته ورسوله. پرتمین انقلاب له دې اړخه ډېره مهمه پېښه ګڼل کېږي، چې د ټولنې د یوه ستر ایتلاف له لوري رهبري کېده. دغه انقلاب چې مشروطه شاهي نظام یې رامنځته کړ، یوازې د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



حکومت د مشرانو واکونه یې محدود نه کړل، بلکې د ایتلاف د هر غړي قدرت یې هم محدود کړ. د بېلګې په توګه، محدودیتونه دا وو چې نساجانو ته په بازار کې د انحصار او د یو بل پر وړاندې د ناسالم رقابت اجازه نه وه. دغه ایتلاف نه یوازې د یوه قوي پارلمان په جوړېدو کې مرسته وکړه، بلکې د پارلمان دننه یې د نورو ډلو د رامنځته کېدو چې ښايي له قدرت څخه یې ناوړه استفاده کړې وای، مخه ونیوله. دا د یوه سیاسي پراخ بنسټه نظام په رامنځته کېدو کې برخلیک ټاکونکی عامل و. ددې ډول ستر ایتلاف پیاوړتیا دغه راز د پرانېستو سیاسي او اقتصادي بنسټونو په پیاوړتیا او پایښت کې هم مهم رول ترسره کړ.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



# اتم څپرکی

## د پراختیا پر وړاندې خنډونه

### پر چاپ بندیز

جوهانس ګوتنبرګ په ۱۴۴۵ کال کې د جرمني په ماینز ښار کې یوه اختراع ننداري ته وړاندې کړه چې د نړۍ د راتلونکي اقتصاد پر تاریخ یې ژور اغېز ونښند: دا د چاپ ماشین اختراع وه چې خوځنده توري یې لرل. هغه مهال کتابونه د خطاطانو له لوري په لاس لیکل کېدل چې ډېر وخت او خواري یې غوښته. له همدې امله کتابونه ډېر لږ او بیې یې هم لوړې وې، خو د ګوتنبرګ اختراع د چاپ په برخه کې نوي بدلون ته لار پرانېسته. کتابونه په یو بل پسې چاپ او بازار ته عرضه کېدل. له دې نوښت پرته د خلکو باسواده کول ناشوني وو. په لوېدیځه اروپا کې ډېر ژر د چاپ د ماشین ارزښت احساس شو. په ۱۴۶۰ کال کې د جرمني له پولو هاخوا د فرانسې په ستراسبورګ کې د چاپ بل ماشین په کار پیل کړی و. د ۱۴۶۰ لسیزې تر وروستیو پورې دغه ټکنالوژي د ایټالیا ګوټ ګوټ ته پراخه شوه، په روم او وینز او لږ وروسته په فلورانس، میلان او تورین کې د چاپ ماشینونه فعال شول. ویلیم کاکسټن په ۱۴۷۶ کال کې لومړی د چاپ یو ماشین په لندن او دوه کاله وروسته په اکسفورډ کې نصب کړل. په دې موده کې د چاپ ماشینونه د هسپانیا په ګډون د اروپا سوېلي هېوادونو ته وغځېدل او په ۱۴۷۳ کال کې په بوداپېست او یوکال وروسته په کراکاو کې د یوه ماشین په فعالېدو سره دا بهیر ان ختیځې اروپا ته وغځېد. داسې نه وه چې د چاپ

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



ماشین ته ټولې نړۍ د ګټورې وسیلې په سترګه کتل. په ۱۴۸۸ کال کې عثماني پاچا دویم بایزید د یوه فرمان په ترڅ کې مسلمانان په عربي ژبه له چاپه منع کړل. پر چاپ دغه بندیز په ۱۵۲۵ کال کې د سلطان سلیم له لوري یوځل بیا تازه شو. دې بندیز تر ۱۷۲۷ کاله پورې دوام وکړ او دا لومړی ځل و، چې د عثماني خلافت قلمرو ته د چاپ ماشین د راوړلو اجازه ورکړل شوه. په دې وخت کې دریېم سلطان احمد د یوه فرمان په ترڅ کې ابراهیم موتفریقه ته د چاپ د یوه پایه ماشین د نصبولو اجازه ورکړه. سره له دې چې ډېره ناوخته وه، خو بیا هم دا کار له ډېرو خنډونو سره مخ شو. که څه هم په فرمان کې راغلي وو چې «په دې پرتمینه ورځ کې به دغه غربي ټکنالوژي د یوې ناوې په څېر نندارې ته وړاندې کېږي او نور به پټه پاتې نه شي»، خو د چاپخونې فعالیت د دولت تر کلکې څارنې لاندې و. په فرمان کې لیکل شوي وو:«د دې لپاره چې چاپي کتابونه له تېروتنو پاک وي، نو ډېر قدرمن او درانه دیني عالمان چې په خپل مسلک کې تخصص لري، هر یو د استانبول قاضي جناب مولانا اسحاق، د سلانیکي قاضي مولانا صاحب، د ګالاتا قاضي مولانا اسد او د دوی نور ملګري، او د شرع د مقاماتو له ډلې شیخ مولوي قاسم پاچا او مولانا موسی به پر چاپي چارو نظارت کوي.»

موتفریقه ته اجازه ورکړل شوه چې د چاپ ماشین نصب او فعال کړي، خو د هغه چاپي اثار د دیني او فقهي متخصصینو د درې کسیز پلاوي له لوري کتل کېدل. که د چاپ ماشین مخکې فعال شوی وای، ښايي د قاضیانو د پوهې او معلوماتو په زیاتوالي او پیاوړتیا کې یې هم مرسته کړې وه، خو د چاپخونې تر فعالېدو وروسته هم داسې

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



کوم بدلون تر سترګو نه شو. د حيرانۍ خبره نه ده چې نوموړي د خپل کار په ټوله موده ډېر لږ شمېر کتابونه چاپ کړل. په ۱۷۲۹ کال کې د کار له پيله تر ۱۷۴۳ کال پورې چې کله د چاپخونې فعاليت ودرېد، ايله ۱۷ کتابونه چاپ شوي وو. وروسته د هغه کورنۍ دې کسب ته دوام ته ورکړ، خو هغوی هم په ۱۷۹۷ کال کې د کار تر پرېښودو پورې ايله ۷ کتابونه چاپ کړي وو. د عثماني امپراتورۍ له مرکز ترکيې څخه بهر د چاپ صنعت تر دې هم وروسته پاتې و، د مثال په توګه: په مصر کې د چاپ ماشين په لومړي ځل په ۱۷۹۸ کال کې د فرانسويانو له لوري فعال شو، چې هغه هم د ناپليون بناپارت له لوري د دې هېواد د اشغال د هڅو يوه برخه وه. د نولسمې پېړۍ تر نيمايي پورې په عثماني امپراتورۍ کې کتاب د لاس په واسطه ليکل کېده. ويل کېږي چې د اتلسمې پېړۍ په لومړيو کې په استانبول کې ۸۰ زره کاتبانو فعاليت کاوه. د چاپ ماشين سره دغه مخالفت د زده کړې، سواد او د اقتصادي پراختيا پر بهير ناوړه اغېز وکړ. په ۱۸۰۰ ميلادي کال کې د اټکل له مخې له ۲ تر ۳ سلنې عثماني وګړي باسواده وو، په داسې حال کې چې په برېټانيا کې ۶۰ سلنه نارينه او ۴۰ سلنه ښځو سواد درلود. په هالنډ او جرمني کې د سواد کچه تر دې هم لوړه وه. عثماني امپراتورۍ ان له هغو اروپايي هېوادونو هم څو ګامونه وروسته پاتې وه، چې هغه مهال په تعليمي ډګر کې وروسته پاتې هېوادونه ګڼل کېدل، لکه پرتګال چې شاوخوا ۲۰ سلنه باسواده وګړي يې لرل. د عثمانيانو زبېښونکو او استبدادي بنسټونو ته په کتو، د چاپ ټکنالوژۍ سره د سلطان دښمني د درک او پوهېدو وړ ده. کتاب افکار خپروي او خلک د نورو له سلطې ژغوري، له دغو افکارو يو شمېر يې د اقتصادي ودې لپاره نوې او

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



ګټورې لارې چارې په ګوته کوي، خو پاتې نور يې ښايي پاروونکې وي او موجوده سياسي-ټولنيز وضعيت ونګوي. کتاب همدارنګه د هغو کسانو واک محدودوي چې د خپلې شفاهي پوهې پر مټ واک چلوي، ځکه چې کتاب هر باسواده کس ته پوهه ډالۍ کوي. په هغو سيمو کې چې علم د واکمنې طبقې په انحصار کې و، د علم د ترويج او پراختيا مخه يې نيولې وه. عثماني پاچاهان د خلاق تخريب له بهيره ډارېدل او له همدې کبله يې پر چاپ بنديز لګولی و.

صنعتي انقلاب د تاريخ حساسې مقطعې وزېږولې، چې د نړۍ کابو ټول هېوادونه يې تر خپل اغېز لاندې راوستل. د برېټانيا په څېر يو شمېر هېوادونو نه يوازې سوداګرۍ، صنعت او پانګونې ته غېږ پرانېسته، بلکې لا يې وهڅول او د چټکې ودې په مسير يې ور سم کړل. خو د عثماني امپراتورۍ او چين په شمول زياتره استبدادي رژيمونه د پرمختګ له کاروانه ځکه شاته پاتې شول، چې د صنعت مخه يې ډپ کړه او يا يې د پراختيا لپاره لږې هڅې هم ونه کړې. ټکنالوژيکي نوښتونو ته د موجوده سياسي او اقتصادي بنسټونو له لوري ځواب ورکول کېده، دا د تاريخ حساسه مقطعه وه او چې څرنګه چلند ورسره کېده، هغسې نتايج يې وړاندې کول. عثماني امپراتوري تر لومړۍ نړيوالې جګړې وروسته د ړنګېدو تر مودې همداسې استبدادي پاتې شوه او د چاپي صنعت په شمول د هر ډول نوښتونو مخه يې ونيوله، ځکه چې له خلاق تخريب څخه يې وېره احساسوله. دا چې ولې ستر اقتصادي بدلونونه په برېټانيا کې پېښ شول نه په عثماني خلافت کې، لامل د زېښبونکو او استبدادي سياسي بنسټونو او د زېښبونکو اقتصادي بنسټونو ترمنځ طبيعي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



اړیکه ده. مطلقه حکومت هغه نظام دی چې د قانون یا د ولس د غوښتنو له لارې نه شي مهارېدلی. په ټولنه کې ښايي ډېر کوچنی اقلیت د مستبدو واکمنانو ملاتړ وکړي. د مثال په توگه، په روسیه کې په اتلسمه پېړۍ کې تزاريان چې يو استبدادي حکومت يې جوړ کړی و، په ټولنه کې د اشرافو د يوه کوچني اقليت له لوري حمايه کېدل. دغې طبقې هڅه کوله چې سياسي بنسټونه د خپلې بقا لپاره وکاروي. په ۱۹۰۵ کال کې کله چې تزار د روسيې پارلمان «دوما» تاسيس کړ، د ټولنې د نورو اقشارو هېڅ استازي پکې نه وو. د روس واکمن تزار ډېر ژر هغه محدود واکونه چې دوما ته ورکړي وو، هغه هم سلب کړل. د روسيې د اقتصادي بنسټونو استثماري کېدل د حيرانۍ خبره نه وه، ځکه چې دغه بنسټونه د تزار او اشرافو د گټو لپاره ډيزاين شوي وو. ددغه بنسټونو اساس د نورو زيېښونکو بنسټونو په څېر د بشري قوې پر زيېښناک او جبر ولاړ و، چې روسي خان-رعيت نظام «سرفډم» يې بللی شو. استبداد يا مطلقيت يوازې د سياسي بنسټونو يو ډول نه و، بلکې د صنعتي کېدو پروړاندې ستر خنډ هم بلل کېده. که څه هم مطلقه رژيمونه پراخ بنسټه نه ول او د خلاق تخريب له پروسې وېرېدل، خو متمرکز و او يا لږ تر لږه دومره قدرت يې درلود، چې د چاپ ماشين په څېر د نوښتونو مخه ونيسي. سره له دې چې نن ورځ يو شمېر هېوادونه لکه افغانستان، هايټي او نيپال ملي دولتونه لري، خو له سياسي مرکزيت يا سنټراليزېشن څخه بې برخې دي. د افريقا په جنوبي صحرا کې وضعيت تر دې هم ناوړه دی. مخکې مو يادونه وکړه چې د يوه مرکزي دولت له شتون پرته چې نظم ټينگ او د مالکيت حقوق خوندي کړي، د پراخ ښه بنسټونو رامنځته کېدل امکان نه لري. په دې څېرکي کې به ولولو چې د

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



افریقا جنوب صحرا په زیاتره هېوادونو او په ځانګړې توګه، په سوډان او سومالیا کې د سیاسي مرکزیت نشتوالی د صنعتي کېدو پروړاندې عمده خنډ بلل کېږي. له دې پرته د صنعتي کېدو لپاره هېڅ بله لار نشته. استبداد او د سیاسي مرکزیت نه شتون یا کمزوری مرکزیت؛ د صنعت د پراختیا پر وړاندې دوه بېلابېل خنډونه دي، خو ترمنځ يې اړیکه شته: دواړه له خلاق تخریب څخه د وېرې او له دې امله چې سیاسي مرکزیت ډېر کله د استبداد رامنځته کېدو ته لار هواروي، هڅه کوي چې په خپل ځای پاتې شي. د سیاسي مرکزیت پر وړاندې مخالفت د پرانېستو سیاسي بنسټونو پر وړاندې مخالفت ته ورته عوامل لري، چې هغه د سیاست ډګر ته د نویو کسانو په مقابل کې د سیاسي واک بایلل دي. موږ په تېر څپرکي کې ولوستل چې په برېټانیا کې د تیودوریانو تر واکمنۍ لاندې د سیاسي سنټرالیزېشن پروسې څنګه په حکومت کې د بېلابېلو ځایي اشرافو مشارکت ته تقاضا زیاته کړه. هلته یو پیاوړی سیاسي پارلمان راټوکېدلی و، چې په پایله کې يې د پرانېستو سیاسي بنسټونو پیدایښت یقیني کړ. خو په ګڼو نورو مواردو کې دا پروسه معکوسه وه، داسې چې سیاسي مرکزیت په لا ډېر استبداد بدل شو. دا واقعیت په روسیه کې د استبداد د ریښې په مطالعه کولو سره چې د ۱۶۸۲ -۱۷۲۵ کلونو ترمنځ د لوی پیټر له لوري رامنځته شوی و، په ښه توګه څرګندېدای شي. پیټر د هېواد پلازمېنه سن پټرزبورګ ته ولېږدوله او د یوې نوې بیروکراسۍ او نوي پوځ د جوړولو لپاره يې دودیز اشرافي نظام «Boyars » شاته وغورځاوه. نوموړي ان اشرافي پارلمان «Boyar Duma» چې دی يې د تزار په توګه واک

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

Downloaded By: Afghan Salar Library



ته رسولی و، له منځه یې یووړ. پیټر دغه راز د ټولنیز سلسله مراتبو یو نظام رامنځته کړ چې بنسټیزه موخه یې تزار ته خدمت کول و. ددې ترڅنګ پیټر کلیسا په خپل کنټرول کې واخیسته. دا ټیک هغه تګلاره وه چې اتم هنري په برېټانیا کې د حکومت د سنټرالیزېشن پرمهال عملي کړې وه. په دې توګه، نوموړي له نورو واک خپل ځان ته لېږداوه. د پیټر پوځي اصلاحات د شاهي ګارډ د پاڅون لامل شول، دغه پاڅون نور پاڅونونه له ځان سره لرل، لکه د مرکزي اسیا د باشکریانو «Bashkirs» او د بولاوین پاڅونونه چې په پایله کې بریالي نه شول. د پېټر د سیاسي مرکزیت پروژه تر ډېره بریالۍ وه او خپل مخالفین یې وځپل، خو د نړۍ په ګڼو برخو کې په دې ډول کشمکشونو کې د سلطنتي ګارډ په څېر قوتونه چې خپل واک یې په خطر کې لیده او د دولت له تمرکز کېدو سره مخالف وو، واک ته ورسېدل او د مرکزیت د نشتوالي له امله د زبېښونکو بنسټونو یو جلا ډول یې رامنځته کړ. په دې ډول شرایطو کې به ولولو چې د تاریخ د حساسو مقطعو په جریان کې چې صنعتي انقلاب یې وزېږاوه، څنګه یو شمېر ملتونو فرصتونه له لاسه ورکړل او د اقتصاد یا صنعت په غوړولو کې له دې فرصت څخه په ګټه اخیستنه کې ناکام شول. هغوی یا د عثماني امپراتورۍ په څېر استبدادي سیاسي او زبېښونکي اقتصادي بنسټونه لرل او یا هم د سومالیا په څېر د له سیاسي مرکزیت څخه بې برخې و.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



## کوچني توپيرونه چې مهم وو

په اولسمه پېړۍ کې په برېټانيا کې استبدادي نظام له پښو وغورځېد، خو په هسپانيا کې پياوړی شو. په هسپانيا کې د کورتس[1] په نامه پارلمان يوازې يو نوم و. په ۱۴۹۲ کال کې مَلکې ايزابلا او پاچا فرديناند واده وکړ، چې په پايله کې يې د کاسټيل[2] او اراګون[3] دوه پاچاهۍ سره يوځای او هسپانيا جوړه شوه. دا هغه وخت و چې هسپانويانو د خپل هېواد د سوېل له سترو ښارونو ګراناډا «غرناطه»، کورداوا «قرطبه» او سېويل «سبيا» څخه د عربانو د اېستلو اوږده لړۍ پيل کړې وه. دا سيمې عربانو په اتمه ميلادي پېړۍ کې لاندې کړې وې. کله چې کرسټف کولمب د امريکا لويې وچې ته ورسېد او د دې لويې وچې ځمکې يې د ملکې ايزابلا او پاچا فرديناند ملکيت اعلان کړې، د ايبريا په ټاپو وزمه کې د عربانو وروستی حکومت هم د هسپانويانو لاسته پرېوت. د اراګون او کاسټيل پاچاهيو يوځای کېدو او وروسته په شاهي کورنۍ کې ودونو او راتلونکي نسل، يو اروپايي زبرځواک وزېږاوه. ايزابلا په ۱۵۰۴ م کال کې مړه شوه او لور يې «جوانا» د کاسټيل ملکې په توګه پر تخت کېناسته. جوانا د هابسبورګ کورنۍ اړوند د سپېڅلي روم د امپراتور «مکسيميلان» له زوی «فيليپ» سره واده وکړ. د جوانا او فليپ زوی چارلېز په ۱۵۱٦ کال کې د کاسټيل او اراګون د لومړي پاچا په توګه پر تخت کېناست. فليپ ته د پلار تر مرګ وروسته هالنډ او فرانچ کومټې «Franche-Comté» سيمې په ميراث پاتې شوې او هغه يې په

[1] Cortes
[2] Castile
[3] Aragon

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



لیبریا او امریکا کې د خپلې واکمنۍ د قلمرو برخه وګرځولې. په ۱۵۱۹ کال کې د لومړي ماکزیمیلان له مړینې وروسته، چارلېس ته د جرمني هابسبورګ سیمې هم په میراث پاتې شوې او نوموړی د پنځم چارلېس په توګه د سپېڅلي روم امپراتور شو. په ۱۴۹۲ کال کې دوه مدغم شوي هسپانوي سلطنتونه پر یوې داسې امپراتورۍ بدل شول چې پولې یې له یوې لویې وچې اوښتې او د حکومت د استبدادي کولو هغه پروسه چې ایزابلا او فردیناند پیل کړې وه، چارلېس لا پسې تقویه کړه. د امریکا لویه وچه کې د قېمتي فلزاتو کشف په هسپانیا کې د استبدادي نظام د پایښت او ټینګښت په برخه کې له پیل شویو هڅو سره مرسته وکړه. سپین زر پخوا په ۱۵۲۰ کال کې د مکسیکو په ګواناجواتو او وروسته په زاکاتکاس کې په لوی مقدار کشف شوي وو. له ۱۵۳۲ کال وروسته د پیرو اشغال، هسپانوي دربار ته لا ډېره شتمني په برخه کړه. دغه شتمنۍ د «Royal fifth» په بڼه له هر جنګي غنیمت او د کانونو له لوټونې څخه دربار ته رسېدلې. لکه څرنګه چې په لومړي څپرکي کې مو ولوستل، په ۱۵۴۰ مه لسیزه کې په پوتسي کې د سپینو زرو یو غر کشف شو چې د هسپانیا پاچا ته یې پراخه شتمنۍ په برخه کړه. هغه مهال چې د اراګون او کاسټیل پاچاهۍ سره مدغم شوې، هسپانیا له اقتصادي پلوه د اروپا مخکښه سیمه وه، خو د استبدادي نظام په ټینګېدو سره دغه هېواد لومړی له نسبي اقتصادي ځوړتیا او له ۱۶۰۰ کال وروسته له بشپړې ځوړتیا سره مخ شو. د ایزابلا او فردیناند له لوري د هسپانیا له خاورې د مسلمانانو تر ایستلو وروسته، دویم پلان د یهودیانو شړل و. په هسپانیا کې مېشت نږدې دوه لکه یهودیانو ته څلور میاشتې وخت ورکړل شو چې له دغه هېواده ووځي. هغوی

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



خپلې خمکې په نیمایي بیه وپلورلې او اجازه یې نه لرله چې سره او سپین زر له ځان سره یوسي. سل کاله وروسته ورته یو بل انساني ناورین هم پېښ شو. د ۱۶۰۹ او ۱۶۱۴ کلونو ترمنځ درېیم فلیپ د هسپانیا په سویل کې مېشت د «موریسکیانو» په نامه د پخوانیو عربانو اولاده هم له خپلې خاورې وشړل. موریسکیانو هم د یهودیانو په څېر اجازه نه لرله چې قیمتي فلزات له ځان سره یوسي، بلکې یوازې د لېږد وړ یا منقوله توکو د وړلو اجازه ورکړل شوه. په هسپانیا کې د هابسبورګ تر مشرۍ لاندې حکومت کې د مالکیت حقوق په نورو برخو کې هم خوندي نه و. دویم فلیپ چې په ۱۵۵۶ کال کې د پلار ځایناستی شو، په ۱۵۵۷ کال او بیا ځلي په ۱۵۶۰ کال کې د پورونو له پرې کولو ډډه وکړه چې بالاخره دا کار د فوګر او ولسر بانکي کورنیو د له منځه تلو سبب شو. ددې بانکي کورنۍ ځای جینوس ونیوه، خو د هسپانویانو د بېغورۍ له امله دا هم په ترتیب سره په ۱۵۷۵، ۱۵۸۶، ۱۶۰۷، ۱۶۲۷، ۱۶۴۷، ۱۶۵۲، ۱۶۶۰ او ۱۶۶۲ کلونو کې له منځه لاړ. استبداد چې څومره د هسپانیا استعماري امپراتورۍ پراختیایي چارې او اقتصادي بنسټونه اغېزمن کړل، د مالکیت حقونو د ناخوندیتوب په څېر پایلې یې لرلې. په تېر فصل کې مو ولوستل چې په برېتانیا کې د سوداګرۍ په برخه کې بریالیتوبونو د سوداګرۍ له چټکې ودې سره اړیکه درلوده. که څه هم برېتانیا تر هسپانیا او پرتګال وروسته د اتلانتیک حوزې تجارت ته داخل شو، خو هلته یې خلکو ته د ګډون نسبتاً پراخه زمینه برابره کړې وه. هغه څه چې په هسپانیا کې یې د پاچا خزانه ډکوله، په برېتانیا کې یې نوي سوداګر شتمن کړل. همدغه سوداګر و، چې د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



برېتانیا د لومړنۍ اقتصادي ودې اساس یې کېښود او د یوه سیاسي ایتلاف په اډانه کې د استبداد په مقابل کې سپر شول. په برېتانیا کې دغه ډول بدلونونه چې د اقصادي پرمختګ او بنستي «نهادي» تحولاتو سبب شول، په هسپانیا کې پېښ نه شول. د امریکا لویې وچې تر کشف وروسته ایزابلا او فردیناند د هسپانیا او نویو مستعمرو ترمنځ سوداګریزې چارې د سوداګرو د یوې ټولنې په مرسته تنظیم کړې. ټوله سوداګري د همدې سوداګرو په انحصار کې راغله او سوداګرو دا یقیني کړې وه چې له امریکا څخه په ترلاسه کېدونکي ثروت کې به د سلطنتي دربار ونډه خوندي وي. د مستعمرو ترمنځ د ازادې راکړې ورکړې امکان نه و او هرکال به له امریکا څخه پر قېمتي ډبرو او فلزاتو بار کښتۍ د هسپانیا سېویل ته راتلې. د سوداګرۍ دا ټینګ انحصار په دې معنا و، چې د ازادو سوداګرو لپاره د فعالیت هېڅ اجازه نه وه، ان د امریکا لویه وچه کې سوداګري تر شدید کنټرول لاندې وه. د مثال په توګه، د هسپانیا تر ښکېلاک لاندې په اوسنۍ مکسیکو کې یوه سوداګر نه شوی کولای چې په ګراناډا یا اوسنۍ کولمبیا کې له بل سوداګر سره تجاري معاملات ترسره کړي. د هسپانوي امپراتورۍ په قلمرو کې پر سوداګرۍ دغه ډول محدودیتونو په دې امپراتورۍ کې اقتصادي هوساینه او نور بالقوه فرصتونه تر سخت اغېز لاندې راوستل. دغه محدودیتونه یوازې د واکمن پاړکي لپاره ګټور وو؛ ځکه چې هسپانیا ته یې د قېمتي ډبرو او فلزاتو دوام تضمیناوه. د هسپانیا زبېښنونکي اقتصادي بنسټونه د مطلقه نظام د موجودیت او پر هغه جلا یا متفاوت مسیر د روانېدو پایله وه، چې د برېتانیا برعکس، د دې هېواد سیاسي بنسټونو ځان ته ټاکلی و. د کاسټیل او اراګون پاچاهیو هر یو ځان ته جلا

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



کورتس یا پارلمان درلود. د کاستیل کورتس باید د برېټانیا د پارلمان په څېر د مالیاتو په وضعه کولو کې رول لوبولی وای. د کاستیل کورتس په لومړي ردیف کې د سترو ښارونو له استازو جوړ و، په داسې حال کې چې د برېټانیا په پارلمان کې د ښاري او کلیوالي دواړو سیمو استازي موجود و. تر پنځلسمې پېړۍ پورې په کورتس کې یوازې د اتلسو ښارونو استازي وو، چې هر ښار ته دوه څوکۍ ځانګړې شوې وې. په پایله کې ویلی شو چې د هسپانیا کورتس د برېټانیا پارلمان په څېر د ټولنې د یوې سترې کتلې استازولي نه شوای کولای. کورتس د قوانینو د جوړولو حق نه درلود او ان د مالیاتو په برخه کې یې محدود واکونه لرل. دغه وضعیت پاچا ته موکه برابره کړې وه چې په بېغمه زړه استبداد او خپلسری ته دوام ورکړي. سره له دې چې هسپانوي واکمن ته د امریکا لویې وچې څخه په لویه کچه قیمتي ډبرې راتلې، خو پنځم چارلېز او دویم فلیپ د جنګي لګښتونو د تامین لپاره ډېرو عوایدو ته اړتیا لرله. چارلېز په ۱۵۲۰ کال کې د مالیاتو د زیاتولو په موخه کورتس ته وړاندیز ولېږه. ښاري اشرافو له فرصت څخه ګټه واخیسته او په کورتس کې یې د پراخو اصلاحاتو غوښتنه وکړه. د کورتس او پاچا ترمنځ ټکر پر تاوتریخوالي واوښت او د کامینرو «Comunero» په پاڅون مشهور شو. چارلېز د خپلو وفادارو سرتېرو پر مټ پاڅون وځپه. د شپاړسمې پېړۍ تر پایه د دوامداره شخړې په ترڅ کې پاچا تل هڅه کوله چې کورتس د نویو او پخوانیو مالیاتو د وضع کولو په برخه کې د نظارت له حقه محروم کړي. که څه هم دغې شخړې لوړې ژورې لرلې، خو بالاخره د دربار په ګټه راڅرخېده. تر ۱۶۶۴ کاله پورې کورتس کومه ناسته ونه کړه،

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



تر دې چې شاوخوا ۱۵۰ کاله وروسته د ناپلیون له لوري د هسپانیا تر اشغال وروسته یې له سره فعالیت پیل کړ.

په برېتانیا کې په ۱٦۸۸ کال کې د استبدادي رژیم پرځېدو، پراخو سیاسي بنسټونو او د پیاوړي مرکزي دولت جوړېدو ته لار هواره کړه، خو په هسپانیا کې د استبدادي رژیم واکمنېدو د دې برعکس پېښه وکړه. که څه هم دربار کورتس له ښو غورځولی و او د ځان پروړاندې یې ټول خنډونه له منځه یوووړل، خو د مالیاتو راټولول خورا سخت شول او وضعیت دې حد ته ورسېد چې له هر تن سره مخامخ خبرو هم نتیجه ور نه کړه. هغه وخت چې د برېتانیا دولت د یوې موډرنې بیروکراسۍ او نظام پر جوړولو اخته و، هسپانیا برعکس پر شا روانه وه. شاهي دربار نه یوازې د سوداګرو لپاره د مالکیت ډاډمن حقوق رامنځته نه کړل او د انحصار مخه یې ونه نیوله، بلکې دولتي منصبونه او مقامونه یې هم وپلورل، زیاتره یې موروثي کړل، د مالیاتو حق یې وپلوره او ان د قضایي خوندیتوب پلور ته یې مخه کړه. په هسپانیا کې د زېښبونکو سیاسي او اقتصادي بنسټونو عواقب د اټکل وړ و. په اولسمه پېړۍ کې هغه مهال چې برېتانیا د چټکې سوداګرۍ او صنعتي کېدو په لور روانه وه، هسپانیا د رکود او اقتصادي ځوړتیا په حال کې وه. د همدې پېړۍ په پیل کې له هرو پنځو هسپانویانو څخه یو یې په ښاري سیمو کې اوسېده. د پېړۍ په وروستیو کې چې د هسپانیا د ښوزلۍ سخت کلونه و، دا شمېر په هرو لسو کې یو تن ته ورسېد. عواید یې په کمساري توګه کم شول، په داسې حال کې چې برېتانیا نوره هم شتمنه شوه. سره له دې چې په برېتانیا کې استبدادي نظام له ښو لوېدلی و، خو په هسپانیا کې ددې ډول نظام دوام او پیاوړتیا، د کوچنیو توپیرونو بل

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



هغه مثال دی چې د تاریخ حساسې مقطعې په جریان کې ارزښت پیدا کوي: کوچني توپیرونه د پارلمان یا د نمایندګۍ بنسټونو د قدرت څرنګوالی و او د تاریخ حساسه مقطعه د امریکا لویې وچې کشف و. د دغو پېښو پر وړاندې غبرګون هسپانیا د بنسټي مسیر پر یو ډېر متفاوت یا جلا مسیر روانه کړه. په برېټانیا کې نسبتاً پرانیستو بنسټونو کمساری اقتصادي خوځښت رامنځته او د صنعتي انقلاب پرمهال خپل اوج ته ورسېد. خو په هسپانیا کې صنعتي انقلاب بخت پیدا نه کړ. هغه مهال چې صنعتي ټکنالوژي د نړۍ بېلابېلو برخو ته د خورېدو په حال کې وه، هسپانیا د اقتصاد رکود داسې حد ته رسېدلې وه چې نور پاچا او ځمکوالو د صنعتي کېدو بهیر د مخنیوي لپاره څه نه و پرې ایښي.

## له صنعت څخه وېره

په سیاسي بنسټونو او سیاسي واک کې له بدلون پرته، استبدادي دولتونو ډېر لږ چانس درلود، چې د صنعتي انقلاب په جریان کې له نوې ټکنالوژۍ او نوښتونو ګټه پورته کړي. مثلاً؛ په هسپانیا کې د مالکیت د حقونو نه خوندیتوب او اقتصادي رکود په دې معنا و، چې خلک پانګونې ته زړه ښه نه کړي. په روسیه او اتریش-هنګري کې د صنعتي کېدو د مخنیوي لامل د اشرافو بېغوري- ناسم مدیریت او د زبېښونکو اقتصادي بنسټونو ناکاري نه وه، بلکې واکمنان د هر ډول ټکنالوژۍ او د رېل کرښو په شمول د هغو بنسټیزو پروژو کلک مخالف وو، چې د صنعت د ملا تیر ګڼل کېده. د صنعتي انقلاب پرمهال په اتلسمه او د نولسمې پېړۍ په لومړیو کې د اروپا سیاسي نقشې له نن سره کاملا توپیر درلود. د یوې بړستنې د ځلوېښتو ټوټو په

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



بڼه له ۴۰۰ سیاسي واحدونو جوړ د روم سپېڅلې امپراتوري د مرکزي اروپا لویه برخه په ځان کې رانغاړلې وه، چې اکثریت یې وروسته په جرمني کې مدغم شول. هابسبورگ کورنۍ یا د اتریش-هنگري په نامه مشهوره امپراتوري دا مهال یو پیاوړی سیاسي ځواک و چې ۲۵۰،۰۰۰ مایله متره مربع ځمکه یې لاندې کړې وه. تر دې وروسته په ۱۷۰۰ میلادي کال کې بوربونیانو د هسپانیا تاج و تخت ترلاسه او دغه هېواد یې له یادې امپراتورۍ جلا کړ. هابسبورگ امپراتوري د نفوس له پلوه درېیم لوی اروپایي هېواد گڼل کېده، چې د اروپا یو پر پنځمه برخه نفوس یې په خپل زړه کې ځای کړی و. د اتلسمې پېړۍ تر وروستیو پورې د هابسبورگ قلمرو په لوېدیځ کې تر نننې بلجیم پورې چې هغه مهال د هالنډ-اتریش په نامه یادېده، رسېده. خو لویه برخه ځمکې یې په اتریش-هنگري کې وې چې په شمال کې د چک او سلواکیا جمهوریتونه، سلونیا، کروشیا او په سوېل کې د ایټالیا او سربیا ستره برخه او په ختیځ کې د نننې پولنډ او رومانیا لویه برخه ځمکې یې چاپېره کړې وې. د هابسبورگ په قلمرو کې سوداگرو د برېټانیا په پرتله ډېر لږ ارزښت درلود او په ختیځه اروپا کې د خان-رعیت نظام واکمن و. په څلورم څپرکي کې مو ولیدل چې هنگري او پولنډ د دویم خان-رعیت نظام مرکز و. هابسبورگیانو د برېټانیا د سټیوراټانو برعکس وکولای شول چې خپل استبدادي او مطلقه نظام وساتي. لومړی فرانسس چې د۱۸۰۶-۱۷۹۲ کلونو ترمنځ د سپېڅلي روم امپراتور او بیا وروسته په ۱۸۳۵ کال کې د هغه تر مړینې پورې د هنگري-اتریش امپراتور و، یو مطلق العنان او مستبد واکمن گڼل کېده. نوموړي د خپل واک پر وړاندې هیڅ راز محدودیت نه مانه او تر ټولو مهمه دا چې د موجوده سیاسي

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



وضعیت دوام يې غوښت. د نوموړي اصلي تګلاره له دغه ډول بدلون سره مبارزه وه. نوموړي په لاباخ کې د ښوونکو يوې غونډې ته په وينا کې خپل دا ځانګړنه په ښه توګه په ډاګه کړه:«زه پوهانو ته اړتيا نه لرم، بلکې ربښتيني او ښه خلک غواړم، ستاسو دنده دا ده چې دغه ډول ځوانان وروزئ. هغه څوک چې ماته خدمت کوي، کوم څه چې زه ورته وايم، هغه بايد نورو ته تدريس او ور وښيي. که څوک دا کار نه شي کولای او کومه بله نوې مفکوره يا ايډيا لري، کولای شي چې لاړ شي، که نه زه به يې په خپله رخصت کړم.»

ملکه ماريا تېرازا چې له ۱۷۴۰ څخه تر ۱۷۸۰ پورې واکمنه وه، په بنسټونو او نظام کې د اصلاحاتو وړانديز به يې تل په دې ژبه رداوه:«پرېږدئ هر څه په خپل ځای». پردې سربېره، هغې او زوم يې 'دويم جوزيف' له ۱۷۸۰ څخه تر ۱۷۹۰ پورې په واک کې و، د يوه پياوړي مرکزي دولت او کارنده نظامي دولت پر جوړولو لاس پورې کړ. خو هغوی دغه کار د سياسي نظام په اډانه کې ترسره کړ چې په عمل کې هېڅ نه و او په ځان کې يې د پرانېستوالي ډېرې لږې ځانګړنې لرلې. هېڅ داسې پارلمان چې ان پر سلطنت يې هم څه نا څه نظارت کړی وای، وجود نه درلود، يوازې د محلي ځمکو يو سيستم موجود و چې له تاريخي پلوه د مالياتو د وضعه کولو او د پوځيانو د استخدام په برخو کې يې محدود واکونه لرل. د اتريش-هنګري امپراتورۍ هابسبورګيانو ان د هسپانيا سلطنتي دربار په پرتله پر خپلو چارو لږ کنترول درلود او همدارنګه سياسي واک په پوره توګه متمرکز شوی و. په اتلسمه پېړۍ کې د هابسبورګيانو د استبدادي نظام په پياوړي کېدو سره، د غير سلطنتي بنسټونو واک تر

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



پخوا کمزوری شوی و. د هنګري د تیورال ولایت یوه ډله اوسېدونکو له فرانسیس څخه د اساسي قانون غوښتنه وکړه او فرانسس یې په ځواب کې وویل:«ښه نو تاسو اساسي قانون غواړئ! ... وګورئ، ماته مهمه نه ده، زه به تاسو ته اساسي قانون درکړم، خو تاسو باید پوه شئ چې سرتېري زما اطاعت کوي او که پیسو ته مې اړتیا درلوده له تاسو یې دوه ځله نه غواړم... په هر حال تاسو ته سپارښتنه کوم چې له خپلو خبرو سره پام کوئ.» د تیورال مشرانو یې په ځواب کې وویل:«که تاسو دا ډول فکر کوئ، نو ښه ده چې اساسي قانون ونه لرو.» فرانسس په ځواب کې وویل:«زه هم همدا نظر لرم.»

فرانسس هغه دولتي شورا چې د ماریا په وخت کې له وزیرانو سره د سلا-مشورو په مقصد جوړه شوې وه، منحل کړه. تر دې وروسته د پاچا د پرېکړو په اړه هېڅ راز سلا مشورې او عمومي بحثونه نه کېدل. فرانسس یو پولیسي دولت جوړ کړی و او هر هغه څه چې به یې په نظر بد راغلل، په بې رحمۍ یې ځپل او سانسورول. د هغه د حکومت فلسفه د کونټ هارټېګ[1] پر افکارو چې د نوموړي ځانګړی سلاکار و، ولاړه وه، د یادې فلسفې منځ ټکی دا و:«د واک پاینښت او په واک کې د خلکو د هرډول ګډون یا مشارکت مخنیوی.» نوموړی په دې برخه کې د شهزاده میترنیخ له لوري چې په ۱۸۰۹ کال کې یې د بهرنیو چارو د وزیر په توګه دنده ترسره کوله، حمایه کېده. میترنیخ په حکومت کې دومره ژور نفوذ او ریښې غځولې وې چې تر فرانسس هم ډېر په واک کې پاتې شو، هغه نږدې څلوېښت کاله د بهرنیو چارو د وزیر په توګه دنده ترسره کړه. د خان-رعیت سیستم د

[1] Count Hartig

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



هابسبورگ واکمنۍ د اقتصادي بنسټونو محور جوړاوه. څومره چې په د ختیځ لور ته تللې، هغومره فیوډالېزم پراخېده او دا د هغو اقتصادي بنسټونو ډالۍ وه چې په څلور څپرکي کې مو ولوستل، یعنې د اروپا له لوېدیځ څخه ختیځ ته تگ، له رڼا څخه تیارې ته تگ و. د کاري ځواک پراختیا محدوده شوه او کډوالي غیر قانوني عمل وگرځول شو. کله چې انگرېز رابرټ اون د هنگري دولت د بېوزله وگړو د وضعیت د ښه والي په موخه ټولنیزو اصلاحاتو ته وهڅاوه، د میترنیخ یوه سلاکار ورته په ځواب کې وویل:«موږ په هېڅ صورت نه غواړو چې د خلکو دا ستره کتله شتمنه او مستقله شي... که داسې وشي، څنگه کولای شو چې پر هغوی واکمني وکړو؟» پر خان-رعیت نظام سربېره چې په بازار کې یې د بشري قوې مخه نیولې وه او د خلکو نوښتیزې انگېزې یې وژلې، د هابسبورگ استبدادي نظام پر سوداگرۍ د انحصاراتو او محدودیتونو باندې سخته اتکا کړې وه. ښاري اقتصاد د صنفي ټولنو له لوري انحصار شوی و، چې کسب و کار ته د خلکو پر راتگ یې محدودیتونه وضع کړي وو. تر ۱۷۷۵ کاله پورې په اتریش کې د توکو پر لېږد رالېږد تعرفه لگول شوې وه او په هنگري کې دغې چارې تر ۱۷۸۴ کال پورې دوام وکړ. پر وارداتي توکو له سختو بندیزونو او محدودیتونو سره یوځای درنه گمرکي تعرفه وضع شوې وه. د زبېښونکو بنسټونو حاکمول او د بازار زبېښناک د استبدادي حکومتونو طبیعي ځانگړنه ده، خو فرانسیس په دې کار کې څو گامه وړاندې و. ستونزه یوازې دا نه وه چې زبېښونکي اقتصادي بنسټونه د نوښتونو او ټکنالوژۍ پر وړاندې خنډ و، بلکې په دویم څپرکي کې مو ولوستل چې په کانگو پاچاهۍ

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



کې څنګه د ځمکې د قُلبې لپاره د «سپارې» په نامه د ټکنالوژۍ د ترویج هڅې له ناکامۍ سره مخ شوې، ځکه چې د زېښبونکو بنسټونو د موجودیت له امله خلکو دې کار ته زړه نه ښه کاوه. د کانګو پاچا انګېرلې وه چې د کانګویانو ترمنځ د سپارې دود کېدل به کرنیز محصولات زیات او ګټه به یې ده ته ورسېږي. دا د ټولو دولتونو او ان د استبدادي دولتونو لپاره یوه بالقوه انګېزه ده. د کانګویانو لویه اندېښنه او وېره دا وه چې که څومره ډېر تولید وکړي، محصولات او ګټه به یې مستبد پاچا ترلاسه کوي، له همدې امله د ټکنالوژۍ د کارونې او پانګونې په برخه کې د خلکو انګېزه تروړل شوې وه. د هابسبورګ په خاوره کې پاچا فرانسیس له غوره ټکنالوژۍ څخه د استفادې لپاره خلک نه هڅول، بلکې مخالفت یې کاوه. دلته له ټکنالوژۍ سره مخالفت په دوه ډوله ترسره کېده: لومړی دا چې فرانسیس د صنعت د پراختیا مخالف و، ځکه چې صنعت فابریکې رامنځته کولې او په فابریکو کې د بېوزلو ښارونو او په ځانګړې توګه د پلازمېنې خلک په کار بوختېدل. فابریکې یا صنعتي مرکزونه چې د بېوزله پاړکي د راټولېدو ځای و، ممکن د استبدادي نظام د مخالفینو په لیکو کې د پاچا پر وړاندې درېدلی وای. د فرانسیس تګلاره دا وه چې موجوده سیاسي او اقتصادي وضعیت په همدې بڼه وساتي. هغه غوښتل چې ټولنه تر ډېره کرنیزه پاتې شي. د نوموړي په اند پر کرنه د خلکو متکي کولو لپاره باید له هماغه پیله د کارخانو یا فابریکو د جوړېدو مخنیوی وشي. د مثال په توګه، نوموړي په ۱۸۰۲ کال کې په ویانا کې د نویو کارخانو له جوړولو سره ښکاره او کلک مخالفت وکړ. ددې پر ځای چې نوموړي د صنعتي کېدو لپاره هېواد ته د نوې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



ماشینرۍ د راتګ هرکلی کړی وای، تر ۱۸۱۱ میلادي کاله پورې یې د هر ډول ټکنالوژۍ پر وارداتو بندیز لګولی و.

دویم، د اوسپنې پټلۍ چې د صنعتي انقلاب یوه مهمه او اغېزناکه ټکنالوژي وه، نوموړی یې د جوړېدو مخالف و، کله چې لومړي فرانسیس ته په شمال کې د اوسپنې پټلۍ د یوې کرښې د جوړېدو وړاندیز وشو، ځواب داسې و:« نه، نه دا شی نه غواړم، دا به هېواد ته انقلاب راولي.» له دې کبله چې دولت د بخار اورګاډي د جوړېدو اجازه نه ورکوله، لومړنی اورګاډی چې په امپراتورۍ کې جوړ شو، واګونونه یې د انجن پر ځای پر اس پورې تړلي وو. هغه کرښه چې په دانوب کې یې لینز ښار د بوهیمیا ایالت له بوداویس ښار سره نښلاوه، په داسې بڼه جوړه شوې وه چې په راتلونکې کې د بخار انجن لرونکي رېل ته په کې د چلېدو امکان نه وي، له همدې امله د آس رېل تر ۱۸۶۰ لسیزې پورې دوام وکړ. د رېل کرښې د جوړولو په برخه کې د هابسبورګ کورنۍ اقتصادي ظرفیت له هماغه پیله په ویانا کې د بانکوالۍ د یوې سترې کورنۍ د بانکوال او غړي سالمون رافچایلډ[1] پام ځان ته ور اړولی و. بلخوا د جورج سټېفنسن اختراع کړي ماشین «راکټ» په برېټانیا کې مېشت د سالمون د ورور «ناتان» پام سخت ځان ته ور جذب کړی و. ناتان د یوه لیک له لارې خپل ورور سالمون وهڅاوه چې په اتریش کې د اوسپنې پټلۍ د جوړېدو په برخه کې فرصتونه وڅېړي. هغه ورسره ومنله، خو طرحه یې عملي نه شوه، ځکه چې د امپراتور ځواب ډېر څرګند او ساده و: نه!

[1] Salomon Rothschild

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



له صنعت او رېل سره د فرانسيس مخالفت له خلاق تخريب څخه سرچينه اخيسته، ځکه چې د هغه په باور اقتصادي پراختيا به يې د واکمنۍ پايښت وگواښي. د هغه لومړيتوب د زبېښونکو بنسټونو ثبات او تداوم او همدارنگه د خپلو پلويانو يا اشرافو د گټو ساتنه وه. د صنعتي کېدو بهير چې له بانډو څخه ښارونو ته د کارگرو په راجذبولو سره يې د فيوډالي نظام ريښې کاواکه کولې، فرانسيس يې له گواښونو خبر و. په پايله کې نوموړي د صنعت او اقتصادي ودې بهير په ټپه ودراوه. په ۱۸۸۳ کال کې د اوسپنې په توليد او ويلې کولو کې ۹۰ سلنه د ډېرو سکرو څخه کار اخيستل کېده، په داسې حال کې چې د اتريش-هنگري امپراتورۍ په قلمرو کې له لرگينو سکرو څخه چې لږ اغېزمنتوب يې درلود، گټه اخيستل کېده. ان تر لومړۍ نړيوالې جگړې پورې کله چې امپراتوري ړنگه شوه، منسوجات په بشپړ ډول ميکانيزه نه شول بلکې لا هم د لاس په واسطه توليدېدل. هابسبورگ يا اتريش-هنگري يوازينی دولت نه و، چې د صنعتي کېدو د بهير مخالف و. څرنگه چې د دې څپرکي په تېرو برخو کې مو ولوستل، د ختيځ په بله لرې څنډه، روسيه کې هم د مطلقه سياسي بنسټونو خپسه حاکمه وه چې ياد بنسټونه د لوی پيټر له لوري جوړ شوي وو. د روسيې اقتصادي بنسټونه هم د اتريش-هنگري په څېر شديداً زبېښونکي او په خان-رعيت سيستم باندې ولاړ و، چې نږدې نيمايي نفوس يې پر کرنې متکي کړی و. خلک مجبور ول چې د ځمکوالو يا خانانو په کروندو کې له کوم مزد پرته په اونۍ کې درې ورځې وړيا کار وکړي. دغو کسانو په نورو سيمو کې د مېشتېدو اجازه نه لرله، د مسلک او کسب په انتخاب کې خپلواک نه و او د خانانو د خوښې په صورت کې پر نورو پلورل

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



کېدای هم شول. افراطي فیلسوف او د نوي انارشېزم بنسټګر «پیټر کروپوتکین» د روسي تزار لومړي نیکولای د واکمنۍ پرمهال (۱۸۲۵-۱۸۵۵) په روسیه کې د مریتوب یا خان-رعیت نظام، د خپل ماشومتوب په اړه په یوه کیسه کې داسې انځور کړی دی:

«...د هغو سړیانو او ښځو کیسه چې له کورنیو جلا کېدل او بیا پلورل کېدل، هغوی یې په قمار کې بایلل، یا له یوه جوړه ښکاري سپیانو سره تبادله کېدل او بیا به د روسیې لرې پرتو سیمو ته لېږدول کېدل... د هغو ماشومانو کیسه چې له مور و پلاره جلا کېدل او بیا په بې رحمه او عیاشو ځمکوالو یا خانانو پلورل کېدل. پر دُرو د وهلو داستان... د هغې نجلۍ کیسه چې د خلاصون یوازینۍ لار یې ځان زندۍ کول وبلل؛ د هغه سپین ږیري کیسه چې د سر ویښتان یې خان ته په خدمت کې سپین کړل او په اخر کې یې ځان د خپل خان د کور په کړکۍ کې زندۍ کړ؛ د سرفیانو [بېوزله کروندګر] د پاڅونونو کیسه، د لومړي نیکولای د جنرالانو کیسه چې کلیوال به یې په لیکه درولي وو او یو یو به یې پر دورو د مرګ تر بریده وهل، د پاڅونوالو د ځپلو لپاره کلي نړول کېدل... هېڅ نه پوهېږم هغه حالت په کومو الفاظو بیان کړم چې ما ځینو سیمو او په ځانګړې توګه د سطلنت اړوند کلیوالي سیمو ته د سفر په ترځ کې په خپلو سترګو ولیده.»

روسي استبداد هم ټیک د اتریش-هنګري په څېر نه یوازې د اقتصادي پرمختګ او هوساینې ضد اقتصادي بنسټونه رامنځته کړي وو، بلکې واکمنې ډلې له خلاق تخریب، صنعتي کېدو او اوسپنې پټلۍ څخه هم وېره لرله. د لومړي نیکولای د واکمنۍ پرمهال

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



«کونټ ایگور کانکرین» چې د ۱۸۲۳-۱۸۴۴ کلونو ترمنځ د مالیې وزیر و، له هغو بدلونونو سره کلکه مبارزه وکړه چې په ټولنه کې یې اقتصادي هوساینه او پرمختګ زېږول. د کانکرین پالیسي دا وه چې د نظام سنتي اساسات او په ځانګړې توګه ځمکوال اشرافیت باید دوام او وساتل شي، ټولنه همداسې په کلیوالي بڼه او پر کرنه متکي پاتې شي. کله چې کانکرین د مالیې وزیر وټاکل شو، د پخواني وزیر «ګوریف» له هغې طرحې سره یې مخالفت وکړ، چې د اقتصادي پراختیا په هدف یې د یوه دولتي سوداګریز بانک د جوړېدو لپاره وړاندې کړې وه. نوموړي ددې پر ځای د پورونو د ورکړې دولتي بانک چې د ناپیلیون د جګړې په جریان کې تړل شوی و، بیا فعال کړ. دغه بانک اصلاً ددې لپاره جوړ شوی و چې سترو ځمکوالو ته سبسایډي ورکړي، هغه څه چې د کانکرین له پالیسۍ سره یې اړخ لګاوه. یوازې فیوډال ځمکوالو کولای شول چې د بانک له پورونو ګټه واخلي او پور اخیستونکو به له سرفیانو څخه د وثیقې په توګه کار اخیسته. د دولتي پورونو بانک د مالي اړتیاوو د تامین په موخه، کانکرین د سوداګریز دولتي بانک شتمنۍ نوموړي بانک ته ولېږدوله، په یوه غشي دوه نښې! په دې توګه صنعت ته ډېرې لږې پیسې پاتې شوې. د کانکرین تګلاره پر هغو اندېښنو ولاړه وه چې اقتصادي بدلونونه، سیاسي بدلونونه له ځان سره لري او تزار نیکولای هم په همدې باور و. د ۱۸۲۵ کال په ډسمبر کې د «ډسمبریانو» په نوم د یوې ډلې افسرانو کودتایي هڅه چې د ټولنیز بدلون لپاره یې افراطي تګلاره لرله، نږدې وه چې د نیکولای نظام ته د پای ټکی کېږدي. نیکولای، ستر دوک میخایل ته ولیکل:« انقلاب

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



د روسيې په دروازو کې دی، خو سوګند کوم، تر څو چې ژوندی یم، بريالی به نه شي.»

نیکولای له هغه ټولنیز بدلون څخه چې موډرن اقتصاد یې رامنځته کاوه، وېره لرله. هغه وروسته په مسکو کې د صنعتي توکو په یوه نندارتون کې صنعتکارانو ته په وینا کې وویل:«دولت او تولیدوونکي دواړه باید یوې خبرې ته متوجې اوسي، ځکه چې فابریکې ښايي موږ ته د رحمت پر ځای مصیبت او بلا شي، دا موضوع پر کارګرانو څارنه ده، چې شمېر یې ورځ تر بلې زیاتېږي. د هغوی پر کړنو د یوه پلار په څېر جدي نظارت ته اړتیا ده، که نه، له دې پرته د ټولنې دا ستره کتله به فاسده شي او بلاخره به د خپلو خانانو لپاره پر یوې خطرناکې او بدبختې طبقې بدل شي.» نیکولای د لومړي فرانسیس په څېر وېره لرله چې له صنعتي انقلاب سره مل خلاق تخریب به په روسیه کې موجوده ثبات کاواکه او نظام به ونړوي. کانکرین د نیکولای پر پل قدم کېښود او د صنعتي ظرفیتونو په وچولو یې لاس پورې کړ. نوموړي پر صنعتي نندارتونونو چې هر کال د نوې ټکنالوژۍ او تولیداتو د پېژندنې لپاره جوړېدل، بندیز ولګاوه. په ۱۸۴۸ کال کې اروپا یو لړ انقلابي پاڅونونو ولړزوله. د دې پېښو په تړاو د مسکو عمومي پوځي قومندان «A. A. Zakrevskii» چې د عامه نظم د ټينګښت دنده ور سپارل شوې وه، نیکولای ته په یوه لیک کې ولیکل:«د ارامۍ او نظم د ټينګښت لپاره چې اوس مهال یوازې روسیه ترې برخمنه ده، حکومت باید د بې کوره خلکو، لنډغرو او هغو کسانو ته د راغونډېدو اجازه ورنه کړي چې ښايي عامه نظم ګډوډ کړي.» د هغه وړاندیز د نیکولای وزیرانو ته وړاندې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



شو او په ۱۸۴۹ کال کې يو نوی قانون پلی شو چې له مخې يې په مسکو کې د جوړېدونکو فابريکو پر کارګرانو سخت محدوديتونه وضع شول. قانون په ځانګړې توګه د پنبې او وړۍ اوبدنې او اوسپنې ويلې کولو پر نويو کارخونو بنديز ولګاوه. نورو صنعتي فابريکو لکه د اوبدنې او رنګرېزۍ فابريکو بايد له پوځي قومندان څخه اجازه ترلاسه کړې وای. په پايله کې د پنبې څرخ کول يا پروسس په بشپړه ډول بند شو. د دې قانون موخه په ښار کې د بالقوه پاڅون کوونکو کارګرانو د راټولېدو مخنيوی و. دلته هم د اتريش-هنګري په څېر د اوسپنې پټلۍ پر وړاندې مخالفت د صنعت پر وړاندې مخالفت له ځان سره درلود. له ۱۸۴۲ کال وړاندې په روسيه کې يوازې يوه رېل کرښه موجوده وه. دغه رېل کرښه چې د «Tsarskoe Selo» په نوم يادېده، د اووه مايله په اوږدوالي يې سن پټزبورګ له تزارسکو سلو سلطنتي سيمې او پاولوفسک سره نښلاوه. څرنګه چې کانکرين د صنعت مخالف و، همداغسې د اوسپنې پټلۍ د جوړېدو مخه يې هم نيوله او هغه يې د ټولنيز پاڅون عامل باله. هغه به ويل:«رېل کرښې هېڅکله له طبيعي اړتياوو سرچينه نه اخلي، بلکې دا تر ډېره يوه مصنوعي يا کاذبه اړتيا ده. رېل کرښې خلک له يوه ځايه بل ځای ته د غير ضروري سفرونو لپاره چې زموږ په عصر کې ورسره خلک ډېر اشنا دي، هڅوي.»

کانکرين د اوسپنې پټلۍ د جوړولو لپاره ګڼ وړانديزونه رد کړل او په ۱۸۵۱ کال کې يوازې يوه رېل کرښه د مسکو - سن پټزربورګ ترمنځ جوړه شوه. د کانکرين تګلاره د کونټ کلاين ميشيل له لوري چې د ټرانسپورټ او ټولګټو چارو د ادارې مشر و، عملي شوه. دا د رېل کرښې د جوړونې تصميم نيوونکې او ځانګړې اداره وه او کلين

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



میشیل له دغه واک څخه د رېل کرښو د جوړېدو د مخنیوي لپاره د وسیلې په توګه کار اخیست. نوموړي له خپل واک څخه په استفادې ان په ورځپاڼو کې د اوسپنې پټلیو د پراختیا اړوند مطالبو د خپرولو مخه نیوله. دیارلسم (۱۳) نمبر نقشه ددې حقیق پایلې په ډاګه کوي.
په داسې حال کې چې په ۱۸۷۰ میلادي کال کې بریتانیا او د اروپا د شمال لوېدیځې برخې د رېلي شبکو په مرسته نښلول شوې وه، د روسیې په پراخه ځمکه کې ډېر لږ رېل کرښې موجودې وې. له رېل سره د روسیې د مخالفت دغه تګلاره هغه وخت بدله شوه، کله چې دغه هېواد د ۱۸۵۳-۱۸۵۶ کلونو ترمنځ د کریمیا په جګړه کې د فرانسې، بریتانیا او عثماني خلاف له لوري ماتې وخوړه او دغه هېواد د خپل امنیت په ساتنه کې د رېل په ارزښت پوه شو. له اتریش او د امپراتورۍ له لوېدیځو سیمو پرته، د اتریش-هنګري امپراتورۍ د قلمرو په نورو برخو کې د اوسپنې پټلۍ ډېرې لږې وې. دا په داسې حال کې ده چې د ۱۸۴۸ کال انقلاب په یادو سیمو کې د خان-




۱۳مه نقشه: په ۱۸۷۰ کال کې په اروپا کې رېل کرښې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



رعیت نظام په برخه کې بدلونونه رامنځته کړي وو.

## پر بېړۍ چلونې بندیز

مطلق العنان حکومتونه نه یوازې د اروپا په لویه برخه، بلکې په اسیا کې هم دود وو. دغو حکومتونو د صنعتي انقلاب په پایله کې د رامنځته شوې حساسې مقطعې په جریان کې د صنعتي کېدو مخه ډپ کړه. د چین د مینګ او کینګ سلسله او د عثماني امپراتورۍ مستبد نظام دغه حقیقت په ښه توګه څرګندوي. د سونګ کورنۍ د واکمنۍ پرمهال (۱۲۷۹-۹۶۰م) چین د یو شمېر ټکنالوژیکي نوښتونو په برخه کې د نړۍ مخکښ هېواد و. ساعت، قطب نما، باروت، کاغذ، کاغذي پیسې، چیني لوښي او د اوسپنې ویلې کولو بټۍ یا کوره په لومړي ځل په چین کې اختراع شول، چې تر دې مخکې په اروپا کې نه و اختراع شوي. چینایانو له اروپایانو سره همهماله د نساجۍ څرخ او د اوبو انرژۍ څخه ګټه اخیستنه دود کړل. په پایله کې په ۱۵۰۰ م کال کې د چینایانو د ژوند کچه له اروپايي معیارونو سره برابره وه. چین همدا رنګه د څو پېړیو لپاره له یوه مرکزي دولت څخه چې اداره یې پر شایسته سالارۍ ولاړه وه، برخمن و. خو د چین حکومت مستبد و او د سونګ کورنۍ د واکمنۍ پرمهال د چین اقتصاد تر زبېښونکو بنسټونو لاندې وده وکړه. له واکمنې کورنۍ او دربار پرته د ټولنې نورو اقشارو په سیاست کې هېڅ راز ونډه نه لرله او نه هم د پارلمان یا کورتس په څېر بنسټونه په کې وو. په چین کې سوداګر تل له یوه ناڅرګند برخلیک سره مخ و او د سونګ لویې اختراعګانې د بازار د هڅوونکو انګېزو پربنسټ نه، بلکې د دولت په خوښه او دستور

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



ترسره کېدل. ډېر کم شمېر اختراعګانو سوداګریزه بڼه لرله. د سونګ تر واکمنۍ وروسته د مینګ او کینګ واکمنۍ پرمهال د دولت ولکه ټینګه شوه. د دې پېښه ریښه د زېښبونکو بنسټونو په منطق کې وه. څومره به چې واکمنان پر زېښبونکو بنسټونو واکمنېدل، هغومره به یې له بدلون سره مخالفت کاوه، د ثبات د ټینګولو هڅه یې کوله او له خلاق تخریب څخه ډارېدل. دا موضوع د نړیوال تجارت په تاریخ کې په ښه توګه روښانه شوې ده. لکه مخکې مو چې ولیدل، د امریکا لویې وچې کشف او د نړیوال تجارت پراخېدو د موډرن عصر په لومړیو کې په اروپا کې په سیاسي شخړو او بنسټي بدلونونو کې کلیدي رول ولوباوه. په چین کې داخلي سوداګري د خصوصي سکتور په لاس کې وه، خو بهرنی تجارت بیا د دولت په انحصار کې و. مینګ کورنۍ په ۱۳٦۸ کال کې واک ته ورسېده او لومړنی امپراتور یې هونګ وو نومېده چې ۳۰ کاله یې حکومت وکړ. هغه د بهرنۍ سوداګرۍ په اړه اندېښنه لرله چې ګنې د سیاسي او ټولنیزې ګډوډۍ لامل به شي او له همدې امله یې سوداګریزې چارې د دولت په انحصار کې راوستې وې. نوموړي شرط کېښود چې بهرنۍ راکړه ورکړه باید یوازې د جزیې اخیستنې په توګه ترسره شي، نه د سوداګرۍ لپاره. هونګ وو سلګونه هغه کسان چې د جزیې اخیستنې ماموریت پر ځای یې سوداګري کوله، اعدام کړل. د ۱۳۷۷ او ۱۳۹۷ کلونو ترمنځ د جزیې اخیستنې سمندري ماموریت ته اجازه ور نه کړل شوه. نوموړي له بهرنیانو سره د انفرادي اشخاصو پر سوداګرۍ او بهر ته د چینایانو پر سمندري سفرونو بندیزونه ولګول. په ۱۴۰۲ کال کې یانګلي واک ته ورسېد او د دولت په ملاتړ په لوړه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



کچه بهرنۍ تجارت پیل شو چې د چین په تاریخ کې تر ټولو مهمه او زرینه دوره ګڼل کېږي. یانګلي د سوېل لوېدیځ، سوېلي اسیا، عربي ټاپو وزمې او د افریقا په لور د شپږو سترو ماموریتونو دنده ژېنګ هي ته وسپارله. چینایانو له دغو سیمو سره اوږدې تاریخي سوداګریزې اړیکې لرلې او ښه اشنایي یې ورسره لرله، خو تر دې مخکې د سوداګرۍ په برخه کې هېڅکله دومره ستر بدلون نه و رامنځته شوی. د بېړیو په لومړي کاروان کې ۲۷،۸۰۰ کسان، ٦٢ سترې بېړۍ او ۱۹۰ کوچنۍ بېړۍ شاملې وې، چې په ځینو بېړیو کې تازه اوبه، د اړتیا وړ توکي او سرتېري بار وو. امپراتور یونګلي په ۱۴۲۲ کال کې د شپږم ماموریت له پای ته رسېدو وروسته دا بهیر ودراوه، چې وروسته د هغه ځایناستي هونګ شي دا ماموریت د تل لپاره وځنډاوه. د هونګ شي تر ناڅاپي مرګ وروسته شوان دو واک ته ورسېد او ژېنګ هي ته یې په ۱۴۳۳ کال کې د وروستي ماموریت د ترسره کولو اجازه ورکړه، خو تر دې وروسته له پولې د باندې سمندري تجارت بند شو. په ۱۴۳٦ کال کې حتی د اوبمزلې لپاره د ځانګړو بېړیو پر جوړولو هم بندیز ولګول شو. دغه بندیز تر ۱۵٦۷ میلادي کاله پورې دوام وکړ. دغه پېښې د زبېښونکو بنسټونو هغه عواقب را په ګوته کوي چې د اقتصادي فعالیتونو پر وړاندې خنډ شول؛ هغه فعالیتونه چې کولای یې شول د چین پر اقتصادي پرمختګ ژور اغېز وکړي. ټیک هغه وخت چې د نړیوال تجارت د پراختیا او د امریکا لویې وچې د کشف بهیر د برېټانیا بنسټونه د بدلون په لور روان کړي وو، چین د تاریخ له دې حساسې مقطعې څخه ځان محروم او په داخل کې بوخت پاتې شو. په داخل کې دغه څرخیز حرکت په ۱۵٦۷ کال کې پای ته ونه رسېد. مینګ کورنۍ په

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



۱۶۴۴ کال کې د جورچن قوم له لوري را و پرځول شوه. جورچنیان د اسیا په منځنۍ برخو کې مېشت د منچوسیانو له ډلې و، چې د چینګ کورنۍ بنسټګر ګڼل کېدل. په چین کې د حکومتونو د ادلون بدلون دغه بهیر یاد هېواد له شدیدې بې ثباتۍ سره مخ کړ. چینګیانو د مالونو او شتمنیو په ضبط او مصادره کولو لاس پورې کړ. د تانګ چن په نامه یوه استاد او سوداګر په ۱۶۹۰ لسیزه کې په دې اړه ولیکل:

«د چینګ (کینګ) له واکمنۍ پنځه کاله تېرېږي او امپراتوري ورځ تر بلې بېوزله کېږي. کروندګر بېوزله دي، صنعتکاران بېوزله دي، سوداګر بېوزله دي او دولتي کارکوونکي هم بېوزله دي. غلې -دانې ارزانه دي، خو ډېر لږ خلک به پیدا شي چې په نس ماړه وي. جامې ارزانه دي، خو په ډېرې سختۍ به پیدا کړې چې څوک دې پر تن جامې ولري. پر توکو بار کښتۍ له یوه بازاره بل ته ځي، خو په تاوان کې دي. دولتي کارکوونکي خپلې دندې پرېږدي، ځکه چې د کورنۍ د مړولو لپاره څه نه لري. په حقیقت کې د څلور واړو کسبونو خاوندان بېوزله دي.»

په ۱۶۶۱ کال کې امپراتور کانګ شي امر وکړ چې د ویتنام د ساحل په اوږدو کې تر چکیانګ پورې مېشت ټول وګړي -یعنې ټول جنوبي ساحل چې یو وخت د سوداګرۍ له پلوه د چین تر ټولو فعاله سیمه وه- له ساحل څخه باید ۱۷ مایله پر شا لاړ شي. د امپراتور د فرمان د عملي کېدو په موخه د سیند په څنډو کې سرتېري ځای پر ځای شوي وو او تر ۱۶۹۳ کال پورې په دې سیمه کې پر بېړۍ چلونې کلک بندیز لګېدلی و. دغه بندیز چې په اتلسمه پېړۍ کې په دوره یي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



ډول کله لغوه او کله بېرته وضع کېده، په چین کې یې د بهرني تجارت د بیا را ژوندي کېدو کلک مخنیوی وکړ. که څه هم په دې موده کې څه نا څه سوداګري وشوه، خو لا هم ډېری کسانو په دې برخه کې پانګونې ته زړه نه ښه کاوه، ځکه چې د دې امکان و چې امپراتور ناڅاپه خپل دریځ بدل کړی وای او پر تجارت په بندیز سره یې سوداګرو ته زیان رسولی وای. له بهرنۍ سوداګرۍ سره د مینګ او چینګ کورنیو د مخالفت دلیل او منطق روښانه دی: له خلاق تخریب څخه وېره! د مشرانو لومړیتوب د سیاسي ثبات ټینګښت و. نړیوال تجارت د واکمنې طبقې لپاره بالقوه ګواښ و، ځکه چې له دې لارې سوداګر شتمن او پیاوړي کېدل، لکه په اتلانتیک کې چې د تجارت په پراخېدو سره انګرېز سوداګر شتمن او پیاوړي شول. دا تګلاره یوازې د مینګ او چینګ په کورنیو پورې محدوده پاتې نه شوه، بلکې د سونګ کورنۍ پاچاهانو هم ورته سیاست غوره کړی و. د مینګ او چینګ کورنیو د واکمنۍ پرمهال چې پر اقتصادي فعالیتونو او بهرني تجارت محدودیتونه لګول شوي وو، چین له سخت رکود سره مخ شو. که څه هم په دې دوره کې په چین کې بازارونه او تجارت فعال و او حکومت له کورنیو اقتصادي فعالیتونو مالیه اخیسته، خو په بدل کې یې د نوښتونو ملاتړ نه کاوه، بلکې ددې پر ځای یې ټول پام د سیاسي ثبات ټینګښت ته ور ټول کړی و. د اقتصاد د مطلق کنټرول پایلې د اټکل او پوهېدو وړ دي: د نولسمې پېړۍ په ټوله موده او د شلمې پېړۍ په لومړیو کې په داسې حال کې چې نور هېوادونه د صنعتي کېدو په لور روان و، چین له سخت رکود سره مخ و او تر ۱۹۴۹ کال پورې کله چې ماووتسه دونګ کمونېستي رژیم واکمن کړ، چین د نړۍ تر ټولو بېوزله هېواد شو.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



## د 'پرسټر جان' استبداد

The Absolutism of Prester John

استبدادي حکومتونه یوازې تر اروپا او اسیا پورې محدود نه وو، بلکې په افریقا کې یې هم ریښې غځولې وې؛ لکه کانګو چې په دویم څپرکي کې مو ولوستل. په افریقا کې د استبداد یوه ډېره څرګنده بېلګه ایتوپیا یا حبشه ده، چې د کتاب په شپږم څپرکي کې د اکسوم پاچاهۍ تر رنګېدو وروسته په افریقا کې د فیوډالېزم د پیدایښت په بحث کې ورسره اشنا شوو. حبشي استبداد د اروپایي هغو په پرتله ډېر پخوانی و، ځکه چې له بېلابېلو ننګونو او حساسو مقطعو سره مخ شو. وروسته له هغه چې د اکسوم پاچا 'ایزانا' مسیحیت ته مخه کړه، د ایتوپیا خلکو هم دغه دین ومانه او په څوارلسمه پېړۍ کې هغوی د 'پرسټر جان' پر افسانې ور ټول شول. پرسټر جان یو مسیحي پاچا و، چې په منځني ختیځ کې د اسلام له خپرېدو سره له اروپا سره یې اړیکې پرې شوې. په لومړیو کې داسې انګېرنې وې چې ګنې د جان پاچاهي په هند کې ده، خو د هند په اړه د اروپایانو څېړنو او معلوماتو څرګنده کړه چې دا خبره دروغ ده. دا چې د ایتوپیا پاچا پرسټر جان یو مسیحي و، نو طبعاً پر یوې افسانې یا اسطورې بدل شوی و. حبشي پاچاهانو هڅه کوله، چې د عربو د حملو په مقابل کې له اروپایي دولتونو سره ایتلافونه جوړ کړي، هغوی په ۱۳۰۰ م کال کې په همدې موخه اروپا ته خپل استازي ولېږل او ان د پرتګال پاچا یې دې ته وهڅاوه چې ایتوپیا ته ځواکونه ولېږي. دغو ځواکونو، ډیپلوماټیکو استازو، یسوعیانو او سیلانیانو چې له پرسټر جان سره یې لیدلي وو، د ایتوپیا په اړه ګڼ خاطرات پرې ایښي دي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



په دې اړه تر ټولو په زړه پورې لاسوند د پرتګالي کشیش «فرانسسکو الوارس» دی، چې له یوه پرتګالي ډیپلوماټیک پلاوي سره ایتوپیا ته تللی و او د ۱۵۲۰ او ۱۵۲۷ کلونو ترمنځ په دغه هېواد کې اوسېده. موږ پر دې سربېره، د «مانویل ډي الميدا» په نامه د یو تن یسوعي چې په ۱٦۲۴ کال کې ایتوپیا ته تللی و او د یو بل سیلاني یا مسافر «جان بروس» چې د ۱۷۷۳ او ۱۷۷٦ کلونو ترمنځ په دغه هېواد کې اوسېده، خاطرات او داستانونه ترلاسه کړي دي. دغه لاسوندونه موږ ته د ایتوپیا د هغه وخت د سیاسي او اقتصادي بنسټونو په اړه کره او بډایه معلومات په لاس راکوي او د دې اسنادو په مطالعې سره هېڅ شک نه پاتې کېږي چې ایتوپیا یو سوچه استبدادي نظام درلود. هلته د کثرت پاله بنسټونو د شتون او پر امپراتور د نظارت او محدودیت هېڅ یوه داسې بېلګه نه موندل کېده چې ادعا یې کړې وای چې د حاکمیت حق ورته له پاچا سلیمان او مَلکې صبا څخه په میراث پاتې دی. دلته استبداد یا مطلقیت د مالکیت د حقونو نا خوندي وضعیت رامنځته کړی و، چې د امپراتور له سیاستونو یې سرچینه اخیسته. مثلاً؛ بروس په دې اړه لیکي:«ټوله ځمکه د پاچا مربوط ده، پاچا د مستۍ او خوښۍ په وخت کې هغه څوک چې د ده خوښېږي، ځمکه ور ډالۍ کوي او که زړه یې وغواړي بیا یې ورکوي. کله چې پاچا مړ شي، د امپراتورۍ اړوند ټوله ځمکه سملاسي د نوموړي ځایناستي ته پاتې کېږي. ستونزه دا ده چې د ځمکې د مالک له مړینې وروسته میراث یې د هغه کورنۍ ته نه، بلکې پاچا ته پاتې کېږي.»

الوارس وایي که واکمنانو او مشرانو خلک نه ځورولای، نو هلته ممکن د مېوو او نورو کرنیز محصولاتو د تولید کچه لوړه وای. په ټولنه کې د الميدا مشاهدات دا ادعا په بشپړه توګه تاییدوي، نوموړی

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



لیکي:«دا د امپراتورۍ لپاره عادي چاره ده چې ځمکه په هرو دوو یا دریوو کلونو کې یو ځل یا کله هر کال او کله هم په کال کې څو ځله له یوه کس څخه بل ته ولېږدوي او یا یې بدلې کړي، دا حیرانوونکې نه ده. زیاتره وخت داسې کېږي چې یوه ځمکه په عین وخت کې یو کس قولبه کوي، بل یې کري او بل یې حاصل ټولوي. له دې امله خلک زړه توري دي او د ځمکې ساتنه نه کوي، ان هېڅوک نه پیدا کېږي چې ونه وکري، ځکه پوهېږي چې حاصل یا ثمره یې بل څوک ترلاسه کوي. خو دا کار د پاچا په گټه دی، څو خلک تل هغه ته محتاج وي.» دغه ځانگړنې په ایتوپیا او اروپا کې د استبدادي دولتونو د سیاسي او اقتصادي بنسټونو ترمنځ مهم مشابهتونه په ډاگه کوي. پورتني حقایق دا هم څرگندوي چې په ایتوپیا کې استبداد فوق العاده سخت و او اقتصادي بنسټونه یې هم مطلق زبېښونکي یا استثماري ول. پر دې سربېره، لکه په شپږم څپرکي کې چې مو یادونه وکړه، ایتوپیا د تاریخ هغسې حساسې مقطعې ته برابر نه شو لکه بریټانیا چې یې پرمټ استبدادي رژیم له پښو وغورځاوه. ایتوپیا هېواد له ډېرو برخلیک ټاکونکو پروسو گوښه پاتې شو. که دا پېښه هم نه وای، په ایتوپیا کې سخت استبداد ته په کتو، ښایي په دې هېواد کې د تاریخ دغه مقطع د مطلقه العنان او استبدادي حکومت پر لا پیاوړتیا تمام شوی وای. د مثال په توگه؛ په ایتوپیا کې د هسپانیا په څېر بهرنۍ سوداگري، له دې جملې د مریانو گټوره سوداگري د پاچا په انحصار کې وه. ایتوپیا په بشپړ ډول په انزوا کې نه وه: اروپایان د پرسټر جان په لټه کې وو او د حبشي دولت مجبور و، چې په خپل شاوخوا کې مسلمانانو سره وجنگېږي. تاریخ لیکوال ادوارد

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



گیبون لیکي:«ایتوپیایان په داسې حال کې چې له هر لوري د دین د دښمنانو له خوا کلابند شوي وو، نږدې زرکاله په خوب ویده وو؛ له هغې نړۍ ناخبره چې دوی یې هېر کړي وو.»

کله چې په نولسمه پېړۍ کې په افریقا کې اروپايي استعمار پیل شو، په ایتوپیا کې د راس (دوک) کاسا په مشرۍ خپلواک شاهي دولت و. کاسا له ۱۸۵۵ کال را پدېخوا د ' امپراتور دویم تیودروس' په توگه په ایتوپیا کې واک چلاوه. تیودوروس د دولت موډرنیزه کول، د بیروکراسۍ او قضا متمرکز کول، د هېواد د دفاع لپاره د وړتیا لرونکي پوځ جوړول او له اروپایانو سره جگړه پیل کړه. نوموړي د ټولو ولایتونو لپاره والیان وټاکل چې د مالیاتو راټولولو او امپراتور ته یې د سپارلو مسوولیت پر غاړه درلود. له اروپايي قدرتونو سره د هغه خبرې ستونزمنې وې او یوه ورځ یې له ډېرې غوسې د برېټانیا قونسل بندي کړ. برېټانیا په ۱۸٦۸ کال کې ایتوپیا ته خپل ځواکونه واستول او پاچا تیودوروس ځان وژنه وکړه. خو له دې سره سره، د تیودوروس نوي اصلاح شوي دولت وکولای شول چې په نولسمه پېړۍ کې د ایټالویانو یوه استعماري هڅه شنډه کړي. په ۱۸۸۹ کال کې د ایتوپیا د پاچا په توگه د دویم منیلیک په واکمنېدو سره، د ایټالیا پام دغه هېواد ته واوښت او غوښتل یې چې هغه اشغال کړي.

په ۱۸۸۵ کال کې د جرمني لومړي وزیر بېسمارک په برلین کې یوه غونډه را وبلله او اروپايي قدرتونو په دې غونډه کې د افریقا پر سر د سیالۍ طرحه وړاندې کړه، یعنې د ګټو پر بېلابېلو حوزو د افریقا د وېش پرېکړه وشوه. ایټالیا په دې کنفرانس کې د ایتوپیا او سومالیا ساحل په اوږدو کې د اریتیریا سیمه د خپلې برخې په توگه په پام کې ونیوله. که څه هم په کنفرانس کې د ایتوپیا استازی نه و او پرېکړه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



وشوه چې د دې پاچاهۍ ځمکې نا لاس خوړلې پاتې شي، خو ایټالویانو خپل پلان درلود او په ۱۸۹٦ کال کې یې له اریتیریا څخه د سوېل په لور ځواکونه وخوځول. د دې پېښې پر وړاندې د منیلیک غبرګون د منځنۍ پېړۍ د اروپايي پاچاهانو په څېر و؛ نوموړي له اشرافو وغوښتل چې خپل جنګیالي راټول او د دفاع لپاره لښکر تیار کړي. که څه هم دغه ډول لښکر نه شي کولای چې د اوږدې مودې لپاره جګړه وکړي، خو د لنډ وخت لپاره د یوه ستر ولسي لښکر راټولول شوني وو. د ایټالویانو د ماتې لپاره همدا موقتي لښکر کافي و. په دې توګه په ۱۸۹٦ کال کې د «ادوا» په جګړه کې د منیلیک ۱۰۰ زرو سرتېرو، ۱۰۰۰ ایټالوي پوځیان مات کړل. دا هغه هیښوونکې پېښه وه چې تر استعمار مخکې یوه افریقايي هېواد یو اروپايي قدرت په ګونډو کړ. دغې دفاع د راتلونکو څلوېښتو کلونو لپاره د ایتوپیا خپلواکي تثبیت کړه. د ایتوپیا وروستی امپراتور «هیلي سلاسي» چې په «راس تفاري» مشهور و، په ۱۹۳۰ کال کې واک ته ورسېد. هیلي سلاسي پنځه کاله حکومت وکړ او په ۱۹۳۵ کال کې د ایټالیا د دویم یرغل په ترڅ کې را وپرځول شو او له هېواده تبعید کړل شو، خو په ۱۹۴۱ کال کې د انګرېزانو په مرسته بېرته خپل هېواد ته راستون او د چارو واګې یې په لاس کې واخیستې. سلاسي په ۱۹۷۴ کال کې یو ځل بیا د درګ «Derg» په نامه په پوځ کې د مارکسېستانو د یوې ډلګۍ له لوري د پوځي کودتا په نتیجه کې را وپرځول شو، چې هېواد یې له سخت فقر او ویجاړۍ سره مخ کړ. د ایتوپیا د استبدادي واکمنۍ زېښونکي بنسټونه لکه ګالټ «gult » او د اکسوم پاچاهۍ د ړنګېدو په پایله کې رامنځته شوی فیوډالېزم؛ د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



۱۹۷۴ تر انقلاب پورې په خپل ځای پاتې شول. ایتوپیا نن ورځ د نړۍ تر ټولو بېوزله هېواد دی. د یوه ایتوپیایي وګړي کلنی عاید د یوه برېتانوي د کلني عاید له یو پر درېشمې برخې سره برابر دی. د نفوسو لویه برخه یې په کلیو او بانډو کې اوسېږي او کرنه یې د ژوند لویه عایداتي سرچینه جوړوي. ایتوپیایان پاکو اوبو، برېښنا، ښوونځیو او روغتیایي خدمتونو ته لاسرسی نه لري. د عمر اوسط یې ۵۵ کاله دي او یو پر درېیمه برخه ځوانان یې سواد لري. د ایتوپیا او برېتانیا پرتلنه د نړیوالې نابرابرۍ یو روښانه انځور وړاندې کوي. دا چې ایتوپیا ولې په دې برخلیک اخته شوه، لامل یې د برېتانیا برعکس د استبدادي حکومتونو او زبېښونکو بنسټونو دوام و، چې ان د شلمې پېړۍ تر وروستیو پورې په کې حاکم وو. استبدادي حکومتونو ایتوپیا ته زبېښونکي اقتصادي بنسټونه او بېوزلي ډالۍ کړل. که څه هم د استبدادي حکومتونو پرمټ ایتوپیایي واکمنان او اشراف خورا چاغ او شتمن شول، خو د دې استبداد او مطلقیت تر ټولو ناوړه پایله دا وه چې ایتوپیا یې د نولسمې پېړۍ په نیمایي کې د صنعتي کېدو له بهیره ګوښه کړه، چې په پایله کې یې دغه هېواد له ورانوونکې بېوزلۍ سره مخ کړ.

## د 'سامال' اولاده

The Children of Samalle

استبدادي سیاسي نظامونه د نړۍ په هره برخه کې په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه د اقتصادي بنسټونو پر وړاندې خنډ شوي دي، خو دا یوازې استبدادي بنسټونه نه وو چې د پرانېستو اقتصادي بنسټونو مخه یې ډپ کړه. د نولسمې پېړۍ په سر کې د نړۍ زیاتره سیمې، په

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



ځانګړې توګه افریقا له داسې دولتونو بې برخې وه چې لږ تر لږه یې نظم او قانون چې د یوه موډرن اقتصاد اساس ګڼل کېږي، ټینګ کړي وای. دلته حتی د روسیې د لوی پیټرز په څېر هم یو کس چې په روسیه کې یې د سیاسي سنټرالایزېشن پروسه پیل او یو بشپړ استبدادي حکومت یې جوړ کړ، پیدا نه شو؛ د برېټانیا د تیودوریانو په څېر اشخاص چې د پارلمان له منحل کولو او پر هغوی د محدودیتونو له لګولو پرته یې واک متمرکز کړ، بېخي لرې خبره ده. که د افریقایي هېوادونو واکمنې طبقې د صنعتي کېدو پروسې ته لار هم هواره کړې وای، نو له سیاسي تمرکز پرته یې وضعیت نه شوای بدلولای. سومالیا چې د افریقا لویې وچې په ختیځ کې موقعیت لري، د سیاسي مرکزیت د نشتون یو ډېر څرګند مثال دی. له تاریخي پلوه په سومالیا کې شپږو قبیلو حکومت کړی دی. له دې ډلې د څلورو سترو قبیلو (دیر، دارود، ایساک یا اسحاق او هاویه) ریښه د «سامال» په نامه افسانوي شخص ته ور ګرځي. دغه قبایل چې اصلي ټاټوبی یې د سومالیا شمالي برخه ده، د وخت په تېرېدو سره ختیځ او سوېل ته خواره شوي دي. دغه قبایل اوس هم د کوچیانو او شپنو په څېر ژوند لري چې له خپلو څارویو سره یو او بل ځای ته کډه کېږي. دوه نورې قبیلې «ډیجیل او راهن وین» په سوېل کې دایمي هستوګنه لري او پر کرنه بوخت دي. د ټولو قبیلو قلمرو په دولسم (۱۲) نمبر نقشه کې ښودل شوی دی.

سومالیان لومړی د قبیلې له مخې پېژندل کېږي، خو دا قبیلې ډېرې سترې دي او هره قبیله بیا پر کوچنیو خېلونو وېشل شوې ده. تر ټولو د پاموړ خبره دا چې هر خېل د «دیه ورکړې یا diya-paying» په

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



نامه له یو شمېر ډلو څخه جوړ و او په دې ډله کې هغه کسان شامل وو، چې د نورو قبایلي ډلو له لوري د نږدې خپلوانو د وژل کېدو په بدل کې به یې د وینې بدله اخیسته. په سومالیا کې قبایلي خپلونه او دیه اخیستونکې ډلې د تاریخ په اوږدو کې په خپلو کې د کم پیدا سرچینو او په ځانګړې توګه د اوبیزو سرچینو او څرځایونو پرسر پر دایمي شخړو اخته وو. که څه هم دغو قبایلو د سلطان په نامه مشران او مخور لرل، خو دغه کسان تش په نامه وو او ریښتینی قدرت یې نه درلود. سیاسي واک غیر متمرکز او پاشلی و او هر سومالیایي د خپلسرو پرېکړو واک درلود. د پرېکړې دا حق د یوې غیر رسمي شورا له لوري چې له بالغو کسانو څخه جوړه شوې وه، ترلاسه کېده. دلته هېڅ لیکلی قانون، پولیس او حقوقي نظام نه و، بلکې یوازې شریعت چې د غیر رسمي قوانینو لپاره چوکاټ ګڼل کېده، د اعتبار وړ و. د دیه اخیستنې په برخه کې غیر رسمي قوانین د «هیر - Heer» په نامه یادېدل. په دغه قانون کې په معاملاتو کې د افرادو مسوولیتونه، ژمنې او وجایب څرګند شوي وو. د انګرېزانو له لوري د استعماري حکومت په منځته راتګ سره دغه قوانین «هیر» په تدریج سره پر لیکلو قوانینو بدل شول. مثلاً، د حسن یوګاس په نامه د دیه ورکونې یوه ډله چې ۱۵۰۰ کسانو څخه جوړه شوې وه او له دیر قبیلې سره یې تړاو درلود، د هیر د قوانینو ټولګه یې د ۱۹۵۰ کال د مارچ په ۸ مه د ځایي برېټانوي کمېشنر له لوري ثبت شوه چې درې بندونه یې په دې ډول دي:

۱- که د حسن یوګاس ډلې کوم غړی د بلې ډلې له لوري ووژل شي، له سلو شل اوښان د هغه لومړۍ درجه خپلوانو او پاتې اتیا یې د حسن یوګاس پر ډلې وېشل کېږي.

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



۲- که د حسن يوګاس ډلې کوم غړی د بلې ډلې له لوري ټپي شي، د ديه ورکړې په توګه له ۳۳ اوښانو لس يې خپله ټپي شوي کس او پاتې يې جيفو (د ديه ډلې) ته ورکول کېږي.

۳- د حسن يوګاس د غړو ترمنځ د قتل نفس ديه ۳۳ اوښان دي چې يوازې د مقتول لومړۍ درجه خپلوانو ته ورکول کېږي. که مجرم د قتل د بدلې ورکولو وس ونه لري، کولای شي چې له خپلوانو مرسته وغواړي.

پر مرګ او ژوبلې د هير قوانينو شديد تمرکز د سوماليايي قبيلو ترمنځ د دوامداره جنګي وضعيت داستان بيانوي. ددې قوانينو منځ ټکی د وينې بدله او خونړۍ دښمني وه. د شخص پر وړاندې جنايت، د هغه د ټولې ديه ورکړې ډلې پروړاندې جنايت ګڼل کېده. که د وينې دغه بدله يا ديه نه ورکول کېده، د قاتل د ديه ورکړې ډله د قرباني ډلې تر غچ اخيستنې لاندې راتله. کله چې په سوماليا کې عصري ټرانسپورت دود شو، هغه کسان چې په ټرافيکي پېښو کې مړه يا ژوبلېدل، هغوی هم د ديه مستحق وپېژندل شول. د حسن يوګاس ډلې په قوانينو کې يوازې د وژنې او ټپي کېدو احکام نه وو، بلکې په شپږم بند کې يې راغلي وو:«که د حسن يوګاس کوم غړی د حسن يوګاس شورا غړي ته سپکاوی وکړي، سپک شوي کس ته بايد ۱۵۰ شيلينګه ورکړي.»

په ۱۹۵۵ کال کې د «هبر تولجالو» او «هبر يونس» په نامه د دوو قبايلي خپلونو رمې خوا په خوا په دومبرلي سيمه کې څرېدلې، چې د څارويو پرسر د دواړو ترمنځ شخړه وشوه او يونس ډلې د تولجالو ډلې يو تن ټپي کړ. تولجالو ډلې پر يونس ډلې حمله وکړه او يو کس

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



يې ور وواژه. د قانون له مخې يونس ډلې د ديه اخيستو غوښتنه وکړه چې مقابل لوري ومنله. له معمول سره سم ديه يا د وينې بدله بايد شخص ته ورکړل شوې وای، د ديه د ورکړې په مراسمو کې د تولجالو يوه غړي د يونس ډلې يو غړی په دې گومان چې د قاتل د ديه ورکړې غړی دی، په تېروتنې سره وواژه. دا کار پر يوې خونړۍ نښتې واوښت او د ۴۸ ساعتونو په ترځ کې د يونس ډلې ديارلس تنه او د تولجالو ډلې شپږويشت تنه ووژل شول.جگړې يو کال دوام وکړ، تر دې چې د انگليس د استعماري حکومت په منځگړيتوب د دواړو ډلو مخور او سپين ږيري سره جرگه شول او د وينې بدلې يا د ديه په ورکولو سره سلا شول، چې دا تاوان د دريوو کلونو په موده کې ورکړل شو. د ديه ورکړه د گواښ او زور تر سيوري لاندې د دښمنۍ په گردجنه فضا کې ترسره کېده او حتی د ديه تر ورکړې هم جگړه په بشپړ ډول نه درېده. جگړه به د لنډ وخت لپاره ودرېده او بيا ونښته. په دې توگه، په سوماليا کې سياسي واک په لويه کچه پاشل شوی و او يو ډول کثرت پاله وضعيت يې درلود، خو يو پياوړی مرکزي دولت چې قانون او نظم ټينگ او د مالکيت حقوق خوندي کړي، نه و. دغه کثرت نه شوی کولای چې پرانېستي سياسي بنسټونه وزېږوي. هېڅ د نورو واک ته درناوی نه کاوه او د استعماري حکومت په گډون هېڅا د قانون د تطبيق توانايي او وس نه درلود. په سوماليا کې د سياسي مرکزيت نشتوالي په دغه هېواد کې د صنعتي کېدو فرصتونه ناشوني کړل. په دغسې يو محيط کې پانگونه، د نوې ټکنالوژۍ ترويج او يا د داسې بنسټونو رامنځته کول چې دغه پرمختگونه وهڅوي، له تصوره لرې خبره ده. په سوماليا کې دغه پېچلي سياسي وضعيت اقتصادي پرمختگ تر هغه ډېر اغېزمن کړ،

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



لکه څومره چې موږ یې ونیو. مخکې مو د افریقا په تاریخ کې د سترو تکنالوژیو پر معما خبرې وکړې. افریقا ته د استعمار تر راتګ وړاندې ان د نولسمې پېړۍ تر وروستیو پورې په دې لویه وچه کې د څرخ ټرانسپورت او د سپارې کارول دود نه وو او ډېر کم شمېر خلکو له لیک –لوست سره اشنایي درلوده. ومو لوستل چې په ایتوپیا کې بیا برعکس ددې ټکنالوژۍ کارونه دود وه. سومالیایانو هم ځان ته د لیک یو ډول درلود، خو د ایتوپیانو برعکس یې ترې استفاده نه کوله. دا ډول نور مثالونه مو وړاندې د افریقا د تاریخ په اړه بحث کې ولیدل. که افریقایي ټولنه څرخ او سپاره نه کارول، خو له هغو سره هرومرو اشنا وو. د کانګو په اړه مو ولوستل چې هلته د حاکمو اقتصادي بنسټونو له امله په خلکو کې ددې ټکنالوژۍ د کارونې او پنځونې انګېزه رامنځته نه شوه. ایا د خط یا لیک په برخه کې هم دا ډول ستونزه وه؟

د تقالي پاچاهۍ «The Kingdom of Taqali » داستان دا موضوع په ښه توګه روښانه کوي. دا پاچاهي په جنوبي سوډان کې د نوبا غونډیو کې د سومالیا شمال غرب سره پر پوله پرته وه. یاده پاچاهي د اتلسمې پېړۍ په وروستیو کې د اسماعیل په مشرۍ د یوې جګړه مارې ډلې د مشر له لوري تاسیس شوه. تقالي یوه خپلواکه پاچاهي وه، چې وروسته په ۱۸۸۴ کال کې د بریتانوي امپراتورۍ برخه شوه. تقالي پاچاهان او ولس یې له عربي لیک سره اشنا وو، خو له لیک څخه یوازې پاچاهانو له نورو دولتونو سره د ډیپلوماتیکو او بهرنیو اړیکو د ټینګولو په هدف کار اخیسته. په لومړي سر کې دا کار ډېر ګیچ کوونکی برېښېده. په بین النهرین کې د لیک د پیدایښت او دود

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



کېدو په اړه یو سنتي روایت دا دی چې لیک د معلوماتو د ثبت، پر خلکو د ولکې ټینګولو او د دولتونو له لوري د مالیاتو د راټولولو په موخه پراختیا موندلې ده. ایا تقالي دولت له دې کار سره لېوالتیا نه درلوده؟ دا پوښتنه په ۱۹۷۰ لسیزه کې د یوې تاریخ لیکوالې «جانېټ ایوالډ» له لوري چې د تقالي دولت د تاریخ په اړه یې څېړنه کوله، ځواب شوې ده. د لیکوالې په وینا، خلکو له دې امله له لیک څخه کار نه اخیست چې ښايي دا وسیله پر سرچینو او په ځانګړې پر ارزښتناکه ځمکو د کنټرول لپاره وکارول شي او بالاخره دولت به هغه خپل ملکیت وګرځوي. خلکو دغه راز اندېښنه لرله چې کتابت یا لیک به د مالیاتو د زیاتوالي او قانونمنده کېدو لامل شي. د اسماعیل له لوري جوړه شوې واکمني پر یوه پیاوړي دولت بدله نه شوه. دولت ان دومره کمزوری و چې پر خلکو یې خپلې غوښتنې نه شوای منلی. خو نور غیر محسوس یا پټ عوامل هم موجود و. مثلاً، یو شمېر اشراف د سیاسي واک له متمرکز کېدو سره مخالف وو، هغوی له خلکو سره د لیکنیزو معاملاتو پر ځای شفاهي هغو ته لومړیتوب ورکاوه، ځکه دې کار هغوی ته پر خلکو د نظر منلو ډېر چانس په لاس ورکولای شو. نو ویلی شو چې د تقالي پاچاهانو او وګړو دواړو لیک د ځان په ګټه نه باله. دا هغه تګلاره وه چې په تقالي کې یې د کتاب مخه نیوله. که څه هم په سومالیا کې د تقالي په پرتله د اشرافو حضور ډېر لږ و، خو دا اټکل به سم وي چې ښايي هلته هم دغسې ډلو د ټکنالوژۍ او خط د ترویج مخه نیولي وي. د سومالیا وضعیت د سیاسي مرکزیت د نشتوالي پایله ده. په دې اړه تاریخي مطالعات ښيي چې دلته تر اوسه د متمرکز دولت د جوړولو په برخه کې هېڅ رغنده ګام نه دی پورته شوی. دلته د سیاسي مرکزیت ټینګول په دې

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



معنا و چې ګنې یو شمېر قبیلې د بلې تر سلطې لاندې راځي، ځکه هغوی د هر ډول سلطې پر وړاندې درېدل او نه یې غوښتل چې واک یوه پیاوړي دولت ته وسپاري. همدارنګه په ټولنه کې د پوځي قدرت انډول د دې ډول بنسټونو د جوړېدو په لار کې ستر خنډ و. هرې ډلې یا قبیلې به چې د واک د راغونډولو یا متمرکز کولو هڅه کوله، نه یوازې د نورو ډلو یا قبیلو له سخت مقاومت سره مخ کېدل، بلکې موجوده واکونه او امتیازات یې هم له لاسه ورکول. د سیاسي مرکزیت د نه شتون او د مالکیت حقونو د نا خوندي وضعیت له امله هېڅا دې ته زړه نه ښه کاوه چې د ټکنالوژۍ په برخه کې پانګونه وکړي او نوښتونه وپنځوي. په داسې حال کې چې په نولسمه او د شلمې پېړۍ په لومړیو کې د نړۍ ګڼو ملتونو د صنعتي کېدو په لور سفر پیل کړی و، سومالیایان په خپلمنځني دښمنۍ او له ځانه په دفاع کې بوخت وو، چې په دې توګه یې اقتصادي وروسته پاتې والی نور هم ژور شو.

## تلپاتې وروسته پاتې والی

صنعتي انقلاب د نولسمې پېړۍ په ترڅ کې د ټولې نړۍ لپاره برخلیک ټاکونکې حساسې مقطعې رامنځته کړې: هغو دولتونو چې خپلو وګړو ته ازادي او د نوې ټکنالوژۍ په برخه کې د پانګونې انګېزه ورکړه، د چټکې ودې خاوندان شول. خو د نړۍ یو شمېر نور ملتونه له دې فرصتونو بې برخې شول او یا یې ترې ښکاره انکار وکړ. هغوی چې تر زبېښونکو اقتصادي او سیاسي بنسټونو لاندې ژوند کاوه، د پرمختګ انګېزه پکې مړه وه. هسپانیا او ایتوپیا هغه دوه روښانه مثالونه دي چې حتی د نولسمې پېړۍ تر پیل مخکې

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



دوامداره استبداد او زبېښونکو سیاسي او اقتصادي بنسټونو پکې اقتصادي انګېزه په نطفه کې شنډه کړه. نور استبدادي نظامونه هم له ورته برخلیک سره مخ وو. مثلاً؛ په اتریش-هنګري، روسیه، عثماني خلافت او چین کې واکمنانو له خلاق تخریب څخه د وېرې له امله نه یوازې د اقتصادي پرمختګ په برخه کې بېغوري وکړه، بلکې د صنعت د پراختیا او نوې ټکنالوژۍ د ترویج پر وړاندې یې ښکاره خنډونه ایجاد کړل. استبدادي حکومت د زبېښونکو بنسټونو یوازینۍ بڼه نه ده او نه هم د صنعتي کېدو پر وړاندې خنډ و. پراښستي سیاسي او اقتصادي بنسټونه پیاوړي سیاسي مرکزیت ته اړتیا لري، څو وکولای شي چې نظم ټینګ او قانون پلې کړي، د مالکیت حقوق خوندي او پانګونه یا اقتصادي فعالیتونه وهڅوي.

همدا اوس د افغانستان، هایټي، نیپال او سومالیا په ګډون ګڼ داسې دولتونه شته چې حتی د ابتدایي نظم په ټینګښت کې هم پاتې راغلي او د ملتونو ترمنځ یې اقتصادي انګېزې کابو له منځه تللې دي. د سومالیا ناورین ښیي چې دغلته ته د صنعتي کېدو پیل شوې پروسه بې له دې چې ثمرې ته ورسېږي، څنګه لکه د بخت مرغۍ بېرته والوته. د سیاسي مرکزیت پرضد مقاومت هغه څه دي لکه استبدادي نظامونه چې د هر ډول بدلون په مقابل کې درېدل: له دې وېرې چې ښایي بدلون او د واک وېش د سیاست ډګر ته د نورو کسانو پرمخ لار پرانېزي. په دې توګه، څرنګه چې استبدادي حکومتونو د پلورالېزم او سیاسي بدلونونو په لور د حرکت مخه ډپ کوله، همدارنګه مشرانو او واکمنو ډلو چې له مرکزي دولت څخه بې برخې وو، عین رول لوباوه. په پایله کې هغو ټولنو چې په اتلسمه او نولسمه پېړۍ کې مرکزي دولتونه نه لرل، د صنعتي کېدو په دوره کې خورا

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



بېوزله او وروسته پاتې شول. په داسې حال کې چې هغه مهال یو شمېر ټولنې د زېښښونکو بنسټونو، استبدادي حکومتونو یا د کمزوري سیاسي سنټرالېزېشن له امله د صنعت له امتیازه بې برخې شول، د صنعتي انقلاب حساسې مقطعې پر ځینو نورو هېوادونو بیا متفاوتې اغېزې وښندلې. په لسم څپرکي کې به یې ووینو، چې یو شمېر ټولنو لکه د امریکا متحده ایالاتونو او استرالیا چې له وړاندې یې د پرانېستو سیاسي او اقتصادي بنسټونو په لور حرکت پیل کړی و یا د فرانسې او جاپان په څېر چې استبدادي نظامونه یې چلنج او وننګول، څنګه وکولای شول چې چټکه اقتصادي وده خپله کړي.

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



# نهم څپرکی

## معکوسه پراختیا

### درمل او ټولوژنه

د مولوکان ټاپو ټولګه چې په اوسنۍ اندونیزیا کې موقعیت لري، له درې ټاپوګانو څخه جوړه شوې ده. د اولسمې پېړۍ په لومړیو کې د دې ټاپوګانو شمالي برخه د تیدور، ترناته او باکان خپلواکو شاهي دولتونو مېشت ځای او مرکز ګڼل کېده. د دې ټاپوګانو په مرکزي برخه کې د امبون پاچاهي پرته وه او په سوېل کې د باندا ټاپوګان وو چې له سیاسي پلوه یې یو غیر متمرکز جوړښت درلود. که څه هم دا هغه وخت له جغرافیوي پلوه ډېره لرې پرته سیمه وه، خو مولوکان ټاپوګان وروسته د نړۍ د سوداګرۍ پر مرکز بدل شول. دا یوازینۍ سیمه وه چې ارزښتناک کیمیاوي بوټي لکه لونګ، هندي غوز او نور بوټي په کې کښت او تولیدېدل. له دې ډلې لونګ او هندي غوز یوازې په باندا ټاپوګانو کې کرل کېدل. د دې سیمې اوسېدونکو به دغه کم پیدا بوټي کرل او هغه به یې له جاوا ټاپو، د مالیزیا ټاپو له ملاکا، هند، چین او عربو څخه د واردېدونکو خوراکي او نورو توکو په بدل کې پلورل. د دې ټاپوګانو اوسېدونکو په لومړي ځل له اروپایانو سره هغه وخت تماس پیدا کړ، کله چې په شپاړسمه پېړۍ کې پورتګالیان د سمندر له لارې دغې سیمې ته د درمل اخیستو په موخه راغلل. تر دې مخکې درمل باید د منځني ختیځ او د عثماني امپراتورۍ تر ولکې لاندې سوداګریزو لارو څخه اروپا ته لېږدول شوي وای. اروپایان د داسې لارې د موندنې په لټه کې وو چې د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



افریقا او اتلانتیک سمندر له لارې د درملو ټاپوګانو او سوداګرۍ ته نېغ لاسرسی پیدا کړي. په ۱۴۸۸ کال کې مولوکان ټاپوګانو ته د پرتګالي اوبمزلي «بارتومولو دیاس» سفر او بیا په ۱۴۹۸ کال کې په همدې لار هند ته د «واسکوډ ګاما» سفر، هیلې را وټوکولې. په دې توګه، اروپایانو د درملو ټاپوګانو ته د مستقیم لاسرسي مسیر پیدا کړ. له دې سره پورتګالیانو سملاسي د درملو سوداګري په خپله ولکه کې واخیسته او په ۱۵۱۱ کال کې یې د ملاکا سیمه اشغال کړه. د مالیزیا ټاپو وزمې په لوېدیځ کې پرته ملاکا سیمه چې له خورا مهم موقعیت څخه برخمنه وه، د سوېل ختیځې اسیا سوداګرو دلته خپل درمل پر هندي، چینایي او عربو سوداګرو پلورل او بیا له دې ځایه لوېدیځ ته لېږدېدل. یوه پرتګالي سوداګر او سیلاني په ۱۵۱۵ م کال په دې اړه ولیکل:«د بېلابېلو ملتونو ترمنځ د سوداګرۍ لپاره باید زر ډلې له هر ځایه ملاکا ته راشي... هغه څوک د ملاکا پاچا کېدای شي، چې د وینز پر ستوني یې لاس ایښی وي.»

د ملاکا د لاسته راوړلو لپاره پرتګالیانو د درملو د ګټور تجارت انحصار ته مخه کړه، خو بریالي نه شول. پرتګالیان له داسې سیالانو سره مخ وو، چې سترګې ترې نه شوای پټېدلی. د څوارلسمې او شپاړسمې پېړیو ترمنځ د درملو د پراخ تجارت له امله د سوېل ختیځې اسیا اقتصاد د پامور وده کړې وه. د «Aceh »، «Banten »، «Melaka»، «Makassar»، «Pegu» او «Brunei» دولت-ښارونو؛ د درملو او نورو توکو لکه د کلکو لرګیو د تولید او صادراتو له امله ډېر ژر پراختیا ومونده.

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



په دغو دولت-ښارونو کې د اروپا په څېر استبدادي حکومتونه چلېدل او د جگړې په بڼه او نړیوال تجارت کې د تکنالوژیکي بدلونونو له امله د سیاسي بنسټونو د پراختیا بهیر هم چټک شوی و. دا چې پاچاهانو واک انحصار او استبدادي نظامونه یې جوړ کړي وو، دولتي بنسټونه لا ډېر متمرکز شول. د اروپایي استبدادي حکومتونو په څېر د سوېل ختیځې اسیا پاچاهانو هم په تجارت کې د مستقیمې لاسوهنې او ځایي یا بهرنیو نخبگانو ته د انحصاراتو په ورکولو سره، پر تجارتي عوایدو کلکه تکیه کړې وه. د اروپا د هغه وخت استبدادي حکومتونو په څېر، دلته هم دغه بهیر کولای شول

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

Downloaded By: Afghan Salar Library



چې څه نا څه اقتصادي وده را وټوکوي، خو له ایډیال اقتصادي بنسټونو سره یې ډېر توپیر درلود.

که څه هم پرتګالیانو د هند نیمه لویه وچه ښکېل کړه، خو دلته لا هم د سوداګرۍ او راکړې ورکړې بهیر روان و. د هالنډیانو په راتګ سره دلته د اروپایانو حضور نور هم پراخ شو. هالنډیان ډېر ژر پوه شول چې له ځایي او اروپایي سوداګرو سره د سیالۍ پر ځای د مولوکان د ګټورو درملو انحصار تر ټولو بهتره کار دی. هغوی په ۱۶۰۰ کال کې د امبون واکمن وهڅاوه چې د لونګو انحصاري تړون ورسره لاسلیک کړي. هالنډیانو په ۱۶۰۲ کال کې د هالنډ د ختیځ هند کمپنۍ جوړه کړه او د خپلو سیالانو د مخنیوي لپاره یې درملو د سوداګرۍ د انحصار هڅې پیل کړې؛ هغه اقدام چې د هالنډیانو په ګټه او د سوېل ختیځې اسیا پر زیان و. د انګرېزانو د «ختیځ هند کمپنۍ» څخه وروسته، د هالنډیانو «ختیځ هند کمپنۍ» دویم اروپایي سهامي شرکت او همدارنګه د معاصرو سهامي شرکتونو د پراختیا په برخه کې لومړنۍ هڅه وه، چې وروسته یې د اروپا په صنعتي وده کې مهم رول ولوباوه. دا همدا راز دویمه کمپنۍ وه چې وسله وال پوځ او د بهرنیو هېوادونو د اشغال وړتیا یې لرله. هالنډیانو د همدې پوځي وړتیا پرمټ هڅه کوله چې د امبون واکمن سره د لونګو د تړون پر وړاندې ټول بالقوه ګواښونه دفع او خپل سیالان له مخې لرې کړي. هغوی په ۱۶۰۵ کال کې له پرتګالیانو یوه ستراتیژیکه کلا ونیوله او نور سوداګر یې هم د زور له لارې له صحنې څنګ ته کړل. وروسته یې د مولوکان ټاپوګانو شمال ته پرمختګ وکړ او هلته یې د تیدور، ترناته او باکان پر واکمنانو ومنله چې په خپله خاوره کې به

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



لونګ نه کړي او نه به بل چا ته د تجارت اجازه ورکوي. هالنډيانو حتی په تړون کې پر ترناته حکومت دا هم ومنله چې که په دې پاچاهۍ کې د لونګو کومه ونه پيدا شي، دوی به يې له منځه وړي. امبون هغه مهال په اروپا او امريکا کې د يو شمېر سيمو په څېر اداره کېده. واکمنانو له خلکو باج يا جزيه اخيسته او خلک به په زور او جبر کار ته اړ ايستل کېدل. هالنډيانو په دې سيمه کې د ډېرې بشري قوې د راپيدا کولو او د لونګو د توليد لپاره، دغه حکومتونه په خپل کنټرول کې واخيستل. د هالنډيانو تر راتګ مخکې هره کورنۍ مکلفه وه چې د لونګو يوه اندازه د امبون مشرانو ته د جزيې په توګه ورکړي. خو وروسته هالنډيانو هرې کورنۍ ته ټاکلې اندازه ځمکې ورکړې، څو د لونګو بوټي او ونې پکې وکري. دغه کورنۍ پر دې سربېره، دې ته اړ ايستل شوې وې چې هالنډيانو ته جبري کار وکړي. هالنډيانو د هندي غوز د انحصار په موخه بانډا ټاپوګان هم تر خپلې ولکې لاندې راوسته، خو بانډا ټاپوګان د امبون په پرتله يو جلا جوړښت درلود. دغو ټاپوګانو ګڼ کوچني او خپلواک دولت-ښارونه لرل او هېڅ ډول سياسي او ټولنيز سلسله مراتب په کې نه و. دغه کوچني حکومتونه چې په حقيقت کې د کوچنيو ښارونو بڼه يې لرله، د کليوالو د جرګو پر مټ اداره کېدل. هلته هېڅ داسې واحد مرکزي قدرت نه و، چې هالنډيان ور سره د درملو انحصاري تړون لاسليک کړي. په لومړيو کې دا په دې معنا و، چې هالنډيان له انګرېز، پرتګالي، هندي او چينايي سوداګرو سره په سيالۍ اخته وو او که لوړ قيمت يې نه وای ورکړی، ښايي دا سيالي يې بايللې وای. د هندي غوز او د هغو د دانو د انحصار په اړه د هالنډيانو لومړني پلان نتيجه ور نه کړه او د هالنډ د باتاويا والي «جان پيټرسزون

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



کوین» بله بدیله طرحه وړاندې کړه. کوین په ۱۶۱۸ کال کې په جاوا ټاپو کې د «باتاویا» په نامه ښار جوړ او هغه يې د هالنډ د ختيځ هند کمپنۍ مرکز ونوماوه. هغه په ۱۶۲۱ کال کې باندا ته سمندري پوځ ولېږه او د یادې ټاپو ټول ۱۵ زره وګړي يې په ډله ییز ډول ووژل. د باندا ټاپو ټول رهبران او ولس ټول قتل عام شول او یوازې څو کسان ددې لپاره ژوندي پرېښودل شول چې هندي غوز وکري او تولید يې کړي. تر دې ټولوژنې وروسته نوموړي د خپل پلان د عملي کولو لپاره د سیاسي او اقتصادي بنسټونو یو جوړښت رامنځته کړ: په دې پلان کې د یوې کرنیزې ټولنې جوړول شامل و. ټاپوګان پر ۶۸ برخو تقسیم او د هرې برخې مشري هغو ۶۸ هالنډیانو ته وسپارل شوه چې د ختيځ هند کمپنۍ کارکوونکي وو. د ځمکو دغو نویو مالیکنو د کیمیاوي بوټو او درملو تولید له هغو کلیوالو کروندګرو څخه زده کړل چې له ټولوژنې ژوندي پاتې شوي وو. دغو ځمکوالو کولای شول چې د کارګرو د تشې ډکولو لپاره د هالنډ د ختيځ هند کمپنۍ څخه مریان وپېري او د دې ترڅنګ خپل تولیدات د ختيځ هند پر کمپنۍ وپلوري. هغه زبېښونکي بنسټونه چې هالنډیانو د «درملو ټاپوګانو» کې رامنځته کړل، ناورین زېږوونکې پایلې يې لرلې؛ داسې پایلې چې له امله يې پنځلس زره بې ګناه انسانان ووژل شول او داسې بنسټونه په کې سمبال کړل شول چې دغه ټاپوګان يې له تلپاتې وروسته پاتې والي سره مخ کړل. د اولسمې پېړۍ تر وروستیو پورې هالنډیانو بازار ته د خپلو انحصاري درملو په عرضه کولو کې ۶۰ سلنه کموالی راوست چې له امله يې د هندي غوز بیې دوه برابره شوې. هالنډیانو هغه تګلاره چې په مولوکان کې پلې کړې وه، په ټوله سیمه کې تطبیق

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



کړه چې د سوېل ختيځې اسيا پر سياسي او اقتصادي بنسټونو يې ژورې اغېزې وښندلې. هغه مخ پر ودې سوداګري چې په څوارلسمه پېړۍ کې په دې سيمه کې پيل شوې وه، بېرته يې معکوس حرکت پيل کړ. ان هغه سياسي جوړښتونه چې د هالنډ د ختيځ هند کمپنۍ له لوري مستعمره يا رنګ شوي نه وو، پخواني حالت ته وګرځېدل او له سوداګرۍ يې فاصله ونيوله. بالاخره په سوېل ختيځه اسيا کې نوی غوړېدونکی سياسي او اقتصاد تحرک له چلښته ولوېد. ډېری حکومتونو د هالنډ د ختيځ هند کمپنۍ له وېرې له سوداګريزو فعاليتونو او توليداتو څخه لاس واخيست. خلکو ته له هالنډيانو سره تر مخامخ کېدنې د ځان ساتل غوره وو. د بانتن ټاپو حکومت په ١٦٢٠ کال کې په جاوا ټاپو کې د مُرچو بوټي له دې امله و ايستل چې د هالنډيانو لاس دې سيمې ته ونه غځېږي. کله چې يوه هالنډي سوداګر په ١٦٨٦ کال کې د فلپين په سوېل کې له مګوين دانيو «Maguindanao» څخه ليدنه کوله، هغه ته وويل شول چې دلته هم د ملاکا په څېر هندي غوز او لونګ ښه وده کوي. دا وخت په دې سيمه کې دا ډول بوټي نه وو، ځکه چې بوډا راجا له خپل مرګ مخکې دلته ټول بوټي له منځه وړي وو. راجا له دې وېرې چې هالنډيان يې خاوره اشغال نه کړي، دغه بوټي وريېل او له منځه يې يوووړل. هغه څه چې يو بل سوداګر په ١٦٩٩ کال کې د مګوين دانيو د واکمن په اړه اورېدلي وو، همدې ته ورته يوه کيسه ده:«هغه په خپله سيمه کې د تورو مرچو کرل منع کړي وو، ځکه چې له هالنډيانو سره يې د هغه پرسر د جګړې وس نه درلود.»

دلته د ښاري کېدو بهير معکوس او حتی نفوس نزولي حرکت خپل کړ. موږ نه پوهېږو چې د هالنډيانو تر ښکېلاک مخکې به د سوېل

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



ختیځې اسیا د اقتصادي او سیاسي پراختیا مسیر په کومه خوا تللی وای؟ هغوی ښايي د خپل ډول استبدادي رژیم واکمن کړی وای، هغوی ښايي په هماغه بڼه پاتې شوي وای، لکه د شپاړسمې پېړۍ په وروستیو کې چې وو او یا ښايي هغوی په تدریجي ډول د پرانېستو بنسټونو په رامنځته کولو سره هماغه پخوانۍ سوداګري جاري ساتلې وای، خو د مولوکان په څېر هالنډي استعمار د هغوی سیاسي او اقتصادي جوړښتونه سخت اغېزمن کړل. د سوېل ختیځې اسیا خلکو له سوداګرۍ لاس واخیست، پخواني حالت ته وګرځېدل او حکومتونه یې لا پسې استبدادي شول. هغوی تر راتلونکو دوو پېړیو پورې هېڅ د دې جوګه نه شول چې د صنعتي انقلاب په عصر کې له رامنځته شویو نوښتونو او اختراعګانو ګټه پورته کړي. له سوداګرۍ سره دغه پرېکون هغوی د اروپايانو له شره خلاص نه کړل، بلکې د اتلسمې پېړۍ تر وروستیو پورې د اروپايي استعماري امپراتوریو تر ولکې او زبېښاک لاندې پاتې شول.

په اووم څپرکي کې مو ولوستل چې په اتلانتیک سمندر کې د اروپايانو حضور په برېتانیا کې څنګه پرانېستي بنسټونه را وټوکول، خو په مولوکان ټاپو ټولګه کې هالنډي ښکېلاک زبېښونکي بنسټونه وزېږول. دغو بنسټونو په مستقیم یا غیر مستقیم ډول د نړۍ په یو شمېر برخو کې نوې غوړېدونکي سوداګري او صنعت پر شا وتمبول او یا یې د صنعتي کېدو پر وړاندې خنډونه لا پسې تقویه کړل.

## **ډېره مروجه پدیده**

په سوېل ختیځه اسیا کې د اروپايي ښکېلاک پراخېدو په دې سیمه کې د اقتصادي پراختیا او د بنسټي بدلونونو هیلې تر خاورې لاندې

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



کړې. په سوېل ختیځه اسیا کې د هالنډ د ختیځ هند کمپنۍ له پراختیا سره هممهاله په افریقا کې یو ډول جلا تجارت هم د ودې په حال کې و: د مریانو تجارت. د امریکا متحده ایالتونو کې په جنوب کې مریتوب د «هیښوونکي بنسټ» په نامه پېژندل کېده، خو لکه څرنګه چې ستر کلاسیک عالم موسیس «Moses» وايي: مریتوب کومه نوې ښکارنده نه ده بلکې په هره ټولنه کې موجوده وه. لکه مخکې مو چې ولوستل، مریتوب په لرغوني روم او د افریقا لویه وچه کې هم ډېر دود و. افریقا او روم له اوږدې مودې راهیسې د اروپا لپاره د مریانو د تامین سرچینه وه. د روم امپراتورۍ په وخت کې مریان د تور سمندرګي له شاوخوا سیمو، له منځني ختیځ او همدارنګه له شمالي اروپا څخه راوستل کېدل. خو په ۱۴۰۰ م کال کې اروپایانو په خپلو کې مریتوب منع اعلان کړ. لکه څرنګه چې په شپږم څپرکي مو ولوستل، افریقا د اروپا برعکس په منځنۍ پېړۍ کې له مریتوب څخه د خان-رعیت نظام ته بدلون و نه کړ. د موډرن عصر تر پیل مخکې د افریقا په ختیځ کې د مریانو سوداګري ښه په کش کې وه او د افریقا له صحرا څخه په لوی شمېر مریان عربي ټاپو وزمې ته لېږدول کېدل. دغه راز په منځنۍ پېړۍ کې مالي، ګانا او سونقای چې په لوېدیځه افریقا کې ستر سلطنتونه ګڼل کېدل، له مریانو څخه د ځمکو په کښت، پوځ او حکومت کې کار اخیستل کېده. هغوی دا کار د افریقا په شمال کې له اسلامي هېوادونو څخه زده کړی و.

د اولسمې پېړۍ په لومړیو کې د کارابین په مستعمرو کې د ګنیو د تولید زیاتوالي د مریانو نړیوال تجارت پراخ او په افریقا کې یې د مریانو ارزښت په بېساري ډول لوړ کړ. په شپاړسمه پېړۍ کې په

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



اتلانتیک سمندر کې شاوخوا ۳۰۰،۰۰۰ مریان وپلورل شول. دغه مریان تر ډېره له مرکزي افریقا څخه راوستل کېدل او په دغه تجارت کې کانګویانو او پرتګالیانو چې د لوندا په لرې جنوب کې مېشت وو، مهمه رول درلود. په دې موده کې له افریقا هاخوا د مریانو د سوداګرۍ حجم تر دې هم لوی و او احتمالا شاوخوا ۵۵۰،۰۰۰ افریقایان د مریانو په توګه د دې لویې وچې شمال ته ولېږدول شول. په اولسمه پېړۍ کې وضعیت معکوس شو. شاوخوا ۱،۳۵۰،۰۰۰ افریقایان په اتلانتیک کې د مریانو په توګه وپلورل شول چې لویه برخه یې امریکا ته ولېږدول شول. په اتلسمه پېړۍ کې د مریانو د تجارت په شمېر کې یو بل هیښوونکی بدلون تر سترګو کېږي. په دې موده کې د اټکل له مخې له افریقا څخه شاوخوا ۷۰۰،۰۰۰ او له اتلانتیک څخه شاوخوا ٦ میلیونه مریان د نړۍ بېلابېلو سیمو ته لېږدول شوي دي. که په افریقا کې د مریتوب د سوداګرۍ ټولې شمېرې او ارقام سره راټول کړو، ټولټال نږدې ۱۰ میلیونه افریقایان له دې وچې څخه بهر لېږدول شوي دي. ۱۴ مه نقشه په بېلابېلو افریقایي هېوادونو کې د مریانو د سوداګرۍ کچه په ډاګه کوي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



د اوسنیو دولتونو کنبل شویو پولو ته په کتو، دا نقشه موږ ته د ۱۴۰۰ او ۱۹۰۰ میلادي کلونو ترمنځ په افریقا کې د مریانو د سوداګرۍ حجم ښیي. په تور رنګ ښودل شویو سیمو کې د مریانو سوداګري زیاته وه. د مثال په توګه؛ په انګولا، بنین، ګانا او توګو کې د ټولو مریانو د صادراتو کچه په ۱۴۰۰ کال کې د هغوی له نفوس څخه ډېر وه. په غربي ساحل او مرکزي افریقا کې د مریانو د

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



اروپايي سوداګرو ناخاپي حضور پر افريقايي ټولنو بدلوونکې اغېزې وښندلې. هغه په لوی شمېر وسلې او مهمات چې اروپايانو له مريانو سره تبادله کول، جګړې او نښتې لا پراخې کړې. په ۱۷۳۰ کال کې يوازې د لوېديځې افريقا سواحلو ته هر کال نږدې ۱۸۰،۰۰۰ ميله ټوپکې واردېدې او له ۱۷۵۰ څخه د نولسمې پېړۍ تر لومړيو پورې يوازې برېټانويانو په کال کې د ۲۸۳،۰۰۰ او ۳۹۴،۰۰۰ ترمنځ ټوپکونه پلورل. برېټانويانو دغه راز د ۱۷۵۰ او ۱۸۰۷ کلونو ترمنځ له ۹۱،۰۰۰ کيلو ګرامه سرب سره ۲۲،۰۰۰ ټنه باروت وپلورل چې په کال کې په اوسط ډول ۳۸۴،۰۰۰ کيلو ګرامه کېږي. په جنوبي سيمو کې هم دا تجارت په لويه کچه دود و. د کانګو پاچاهۍ په شمال کې د لوانګو په ساحل کې اروپايانو په کال کې شاوخوا ۵۰،۰۰۰ ټوپکونه خرڅول. په دې جګړو او شخړو کې نه يوازې زرګونه انسانان ووژل شول، بلکې په افريقا کې يې د بنسټونو د پراختيا يو جلا مسير رامنځته کړ. تر موډرن يا نوي عصر مخکې افريقايي ټولنې د ايروشيا په پرتله له لږ سياسي مرکزيت څخه برخمنې وې. په دې سيمه کې زياتره کوچنې حکومتونه وو چې ځمکې او سرچينې يې ټولې د قبايلي مشرانو او پاچاهانو په لاس کې وې. دلته هم د سوماليا په څېر هېڅ ډول سياسي سلسله مراتب نه وو. د مريانو تجارت د دوو متناقضو سياسي پروسو د رامنځته کېدو سبب شو. لومړی؛ اکثريت حکومتونه له هماغه پيله د استبداد خوا ته لاړل او پر يوه هدف يې تمرکز وکړ: د مريانو نيول او پر اروپايانو يې پلورل. دويم؛ جګړې او مريتوب د افريقا په صحرا کې هر ډول نظم او د حکومتونو مشروع قدرت له منځه يووړل. پر جګړې سربېره، د

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



يو لړ نورو نښتو او يرغلونو په پايله کې هم مريان نيول کېدل. قانون هم د مريانو د پيدا کولو لپاره وسيله وګرځېده. دا مهمه نه وه چې مجرم يا تورن څه ډول جرم کړی، بلکې د ټولو سزا مريتوب و. انګرېز سوداګر فرانسيس مور چې په ۱۷۳۰ مه لسيزه کې د افريقا د لوېديځ په سېنا ګامبيا کې يې وضعيت له نږدې ليدلی و، ليکي:«د مريانو تجارت ته په پام د ټولو جرمونو جزا مريتوب وټاکل شوه، دې کار يوه ګټه درلوده، هغه دا چې د جرايمو سزا يې سخته کړه، نه يوازې د قتل، غلا او جنسي تېري د مجرمينو لپاره سزا مريتوب وټاکل شوه، بلکې د عادي جرمونو لپاره هم ورته سزا عملي کېده.»

ټولو بنسټونو، ان ديني بنسټونو هم د مريانو نيولو او پلورلو ته مخه کړه، چې د نايجريا په سوېل اروچوکوا کې يو مشهور کاهن يې ښه مثال دی. د دې سيمې د خلکو ترمنځ باور دا و چې دغه کاهن د دوی د معبود په استازيتوب چې د ايجاو، ابيبيو او وايګبو ځايي قومونو ته يو منلی او سپېڅلی مقام و، خبرې کوي. د شخړو او ستونزو د حل لپاره به خلک همدغه کاهن ته ورتلل. د کاهن د ليدو لپاره اروچوکوا ته تلونکي کسان اړ وو چې له ښاره لاندې تنګې درې ته چې سيند پکې بهېده، ورښکته شي او بيا د غره په لوړه برخه کې هغه سوري ته ورشي چې کاهن په کې اوسېده، دلته د کاهن په مخ کې د انسان د سر کوپړۍ کتار ايښې وې. د کاهن کشيشانو په اروچوکوا کې د مريانو له سوداګرو سره په ګډه د کاهن پرېکړې عملي کولې، دغه پرېکړې د کاهن له لوري د انسانانو «خوړل» و، يعنې داسې چې هغوی د کاهن تر سوري لاندې د سيند هغې برخې ته رهنمايي کېدل چې د اروپايانو کښتۍ ولاړې وې. دغې چارې چې د مريانو د نيولو او ښکار کولو لپاره يې ټول ارزښتونه او قوانين تر

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



پښو لاندې کول، پر سیاسي مرکزیت یا سنټرالېزېشن ورانوونکې اغېزې وکړې. دغه پروسه حتی د نایجیریا په ځینو سیمو کې د ځواکمنو دولتونو د رامنځته کېدو لامل شوه، چې د جوړېدو لومړنۍ انگېزه یې د مریانو ښکار و. په خپله د کانگو پاچاهي ښایي لومړنۍ افریقایي دولت و، چې د ځینو بدلونونو په پایله کې پر یوه مریتوب لرونکي دولت بدل شو، چې بالاخره د کورنیو جگړو په نتیجه کې ړنگ شو. د افریقا په لوېدیځ کې نور مریتوب لرونکي حکومتونه هم را و ټوکېدل، چې په نایجیریا کې د اویو، په بنین کې د داهومي او په گانا کې اسانتي دولتونه وو. مثلاً؛ د اولسمې پېړۍ په نیمایي کې د اویو حکومت د قلمرو پراخېدو د نایجیریا په ساحل کې د مریانو د سوداگرۍ له پراخېدو سره نېغه اړیکه لرله. دغه حکومت په نظامي برخه کې پر یوه نوښت لاس پورې کړ؛ داسې چې له شمال یې اسونه وارد کړل او د مخالفینو د ځپلو لپاره یې پر اسونو سمبال یو پیاوړی پوځ جوړ کړ. اویو حکومت دغه راز د سوېل او د ساحلي سیمو په لور د پرمختگ پرمهال د لارې په اوږدو کې خواره واره کورواکې واکمنۍ ړنگې او هلته مېشت وگړي یې د مریانو په توگه ونیول او ویې پلورل. اویو د ۱٦۹۰ او ۱۷۴۰ کلونو ترمنځ مرکزي سیمې چې وروسته د «مریانو ساحل» په نوم ونومول شوې، په خپله ولکه کې راوستلې. د اټکل له مخې د ۸۰ او ۹۰ سلنې ترمنځ هغه مریان چې په دې ساحل کې پلورل شوي وو، په جگړه کې نیول شوي کسان وو. لرې وړاندې په لوېدیځ کې د سرو زرو په ساحل کې چې اوس مهال د گانا (غنا) په نامه یادېږي، په اتلسمه پېړۍ کې د جگړې او د مریانو د سوداگرۍ ترمنځ یو بل هیښوونکی تړاو لیدل کېږي. له ۱۷۰۰ کال

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



وروسته د اسانتي حکومت هم د اویو په څېر له داخله خپل قلمرو تر ساحلي سیمو پورې وغځاوه. د اسانتي د پراختیا غوښتنې دغې تګلارې د اکان په نامه جګړو ته لار هواره کړه چې په پایله کې په دې سیمه کې خپلواک حکومتونه یو په بل پسې سقوط شول او وروستی حکومت «ګیامان» و چې په ۱۷۶۷ کې ړنګ شو. د اټکل له مخې د ۱۷۵۰-۱۷۰۰ کلونو ترمنځ د سرو زرو له ساحله ۳۷۵،۰۰۰ مریان بهر ته صادر شوي وو، چې ټول یې د ګیامان جګړو کې نیول شوي اسیران وو. دغه بشري ناورین ښایي تر ټولو ډېر اغېز پر نفوس کړی وي. ستونزمنه ده چې له نوي یا موډرن عصر څخه مخکې د افریقا د نفوس په اړه کره احصایه ترلاسه کړو، خو یو شمېر پوهانو د افریقا پر نفوس د مریتوب د سوداګرۍ اغېزې څېړلې دي. تاریخ لیکوال «پاتریک مونینګ» اټکل کوي چې د افریقا په لوېدیځ او منځني لوېدیځ سیمو کې چې تر ټولو ډېر مریان یې صادرول، د اتلسمې پېړۍ په لومړیو کې د ۲۰ او ۲۵ میلیونو ترمنځ انسانانو ژوند کاوه. مونینګ د فرضیې په توګه لیکي چې که له اتلسمې پېړۍ څخه د نولسمې پېړۍ تر نیمایي پورې له مریانو پرته د یادو سیمو نفوس هر کال سم نیمایي وده کړې وي، نو د اټکل له مخې په ۱۸۵۰ کال کې به د دې سیمې نفوس له ۴۶ څخه تر ۵۳ میلیونو پورې وو. خو د کره شمېرو له مخې اصلي نفوس د دې نیمایي وو. دغه ژور توپیر یوازې له دې امله نه و چې ګنې د ۱۸۵۰-۱۷۰۰ ترمنځ له دې سیمې شاوخوا ۸ میلیونه مریان بهر ته صادر شوي وو، بلکې د مریانو د نیولو په موخه په داخلي جګړو کې په میلیونونو نور انسانان هم ووژل شول. پر دې سربېره، په افریقا کې مریتوب او د مریانو تجارت

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



کورنی ژوند، کلتور او د دودونو پروسه اغېزمنه کړه او همدارنګه ښايي د زېږون کچه يې هم راټيټه کړې وي.

د اتلسمې پېړۍ په وروستيو کې په برېټانيا کې د نامتو څېرې «ويليم ويلبرفورس» په مشرۍ د مريانو سوداګرۍ د بندېدو په موخه پياوړې خوځښت پيل شو. د مريتوب د بندېدو پلويانو له څو پر له پسې ماتو وروسته بالاخره په ۱۸۰۷ کال کې پارلمان دې ته اړ کړ چې د يوه قانون په تصويبېدو سره د مريانو تجارت منع اعلان کړي. کال وروسته په متحده اياالتونو کې هم ورته پرېکړه وشوه. برېټانيا په دې برخه کې نور پاخه ګامونه هم واخيستل او د مريانو د سوداګرۍ د مخنيوي په موخه يې په اتلانتيک سمندر کې سمندري ګارډ يا ساتونکي ځای پر ځای کړل. د مريتوب ملغا پرېکړې کلونه وخت نيوه، چې عملي بڼه پيدا کړي او د برېټانوي امپراتورۍ په قلمرو کې دغه پرېکړه ايله تر ۱۸۳۴ کال پورې عملي شوه. که څه هم په ۱۸۰۷ کال کې د برېټانيا پارلمان تر پرېکړې وروسته د افريقايي مريانو تجارت ته نړيواله تقاضا کمه شوه، خو دا په دې معنا نه وه چې له دې سره پر افريقايي ټولنو او بنسټونو د مريتوب اغېزې هم په جادويي ډول له منځه لاړې. په افريقا کې زياتره دولتونه د مريتوب پربنسټ رامنځته شوي وو او د برېټانيا له لوري د دې تجارت بندولو نه شوای کولای چې وضعيت بدل کړل. پر دې سربېره، د افريقا دننه هم مريتوب پر يوې مروجې پديدې بدل شوی و. دغه وضعيت نه يوازې له ۱۸۰۷ کال مخکې بلکې تر دې وروسته هم د افريقا د پرمختيا مسير له نا څرګند برخليک سره مخ کړ. د مريتوب پر ځای «مشروع تجارت»؛ دا شعار د مريانو له سوداګرۍ جلا د نويو

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



افریقایي محصولاتو او تولیداتو لپاره کارول کېده. په دې محصولاتو کې بادام او د هغه غوړي، ممپلي، عاج، ربړ او عربي کنډ شامل وو. کله چې د صنعتي انقلاب د پراخېدو له امله په اروپا او شمالي امریکا کې د خلکو د عوایدو کچه لوړه شوه، د افریقا دغو استوایي محصولاتو ته تقاضا هم لوړه شوه. افریقایي ټولنو چې څه ډول د مریانو له تجارت نه استفاده وکړه، له مشروع تجارت سره یې هم ورته عمل وکړ، خو هغوی دا کار په یو نا اشنا بڼه ترسره کاوه، داسې چې تر دې مخکې مریتوب د ژوند یو ډول ګڼل کېده، خو دا چې د مریانو اخیستو ته بهرنۍ تقاضا په ناڅاپي ډول را ولوېده او ځانګړې توګه په اروپا کې د مریانو د پلور مارکېټ سقوط شو، اوس هغوی باید څه کړي وای؟ ځواب یې ډېر اسانه دی: دغه مریان په افریقا کې د مشروع محصولاتو په شمول د سوداګریزو توکو په تولید کې بېګار ته سوق کېدل. په دې اړه یو ژوندی مثال د اوسنۍ ګانا په اسانتي سیمه کې موندلی شو. دلته تر ۱۸۰۷ کال وړاندې امپراتور د مریانو په ښکار او صادرولو بوخت و، هغه به چې مریان ونیول، بیا به یې د خرڅلاو لپاره د کیپ او المینا په سواحلو کې سترو کلاګانو ته راوستل. خو په ۱۸۰۷ کال کې د مریانو پر تجارت تر بندیز وروسته، د اسانتي واکمنان د خپل اقتصاد د بیا تنظیم په فکر کې شول. بیا هم مریتوب پای ته ونه رسېد، بلکې مریان په سترو کروندو کې، لومړی د کوماس پلازمېنې په شاوخوا سیمو او بیا وروسته په ټوله امپراتورۍ کې کارونو ته وګومارل شول. له هغوی څخه نه یوازې د سرو زرو او د کولا په تولید کې، بلکې د هغو په لېږدولو کې هم ترې کار اخیستل کېده؛ ځکه چې په اسانتي سیمه کې په ټرانسپورټ کې له څرخ څخه استفاده نه کېده. په لېرې ختیځ کې هم ورته وضعیت و. مثلاً؛ په

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



داهومي کې پاچا د 'ویدا' او 'پورتو نووو' په ساحلي بندرونو کې د بادامو سترې کروندې لرلې، چې کارګر یې ټول مریان وو. د مریانو د سوداګرۍ په بندېدو سره په افریقا کې یوازې د مریتوب بڼه بدله شوه، داسې چې تر دې وروسته له مریانو څخه د امریکا او اروپا پر ځای په خپله په افریقا کې کار اخیستل کېده.

هغه سیاسي بنسټونه چې د دوو پېړیو په ترڅ کې د مریانو د سوداګرۍ په موخه ډېزاین شوي وو، په خپل ځای پاتې شول. مثلاً؛ اویو چې په نایجیریا کې یوه لویه پاچاهي وه، د ۱۸۲۰-۱۸۳۰ لسیزو ترمنځ له منځه لاړه. د دې پاچاهۍ د ړنګېدو لامل کورنۍ جګړې او په سوېل کې د یوروبا د دولت-ښارونو لکه ایلورین او ابادان رامنځته کېدل و، چې په مستقیم ډول د مریانو په سوداګرۍ کې بوخت وو. په ۱۸۳۰ مه لسیزه کې د اویو پلازمېنه لوټ شوه او د یوروبا او داهومي حکومتونه پر یو بل د ولکې ټینګولو لپاره په خپلو کې سره ونښتل. هغوی د نولسمې پېړۍ تر نیمایي پورې په خپلو کې دوامدارې جګړې وکړې چې دغو جګړو د مریانو په لویه پیمانه تولید له ځان سره درلود. له دې سره جوخت پر مریتوب د مجرمینو د تورنېدو وضعیت هم بدلون وموند. د نایجیریا په یو شمېر برخو کې انسان تښتونه پر یوې داسې ننګونې بدله شوه چې والدینو به د یرغمل نیونې له وېرې خپلو بچیانو ته بیرون د ګرځېدو اجازه نه ورکوله. په پایله کې په نولسمه پېړۍ کې د دې پر ځای چې په افریقا کې مریتوب محدود شي، لیدل کېږي چې دغه پدیده نوره هم پراخه شوه. که څه هم په دې اړه کره شمېرې پیدا کول ستونزمن دي، خو له سیلانیانو او سوداګرو څخه په لاس راغلي اسناد ښیي چې د افریقا

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



په لوېدیځ کې د اسانتي او داهومي په پاچاهیو او د یوروبا په دولت – ښارونو کې له نیمایي زیات وګړي مریان وو. په دې اړه تر ټولو کره معلومات د فرانسوي استعمار پرمهال له لوېدیځ سوډان او د ختیځې افریقا ترازې څخه، چې له سینګال څخه د مالي او بورکینا فاسو له لارې تر نایجر او چاد پورې سیمې په ځان کې رانغاړي، موږ ته په لاس راغلي دي. په ۱۹۰۰ م کال کې د دې سیمې ۳۰ سلنه وګړي په مریتوب اخیستل شوي وو. لکه څرنګه چې د «مشروع تجارت» پیل و نه شوای کولای چې په دې لویه وچه کې مریتوب ته د پای ټکی کېږدي. دغه راز د «افریقا پر سر سیالۍ» هم چې د دې سیمې رسمي استعمار ته یې لار هواره کړه، و نه شوای کولای چې دغه پدیده ورکه کړي. دلته اروپایانو د خپل راتګ لپاره دا پلمه کوله چې د مریتوب پرضد مبارزه کوي، خو حقیقت بل څه و. د افریقا په لویه برخه استعمار ځېلې سیمه کې مریتوب ان تر شلمې پېړۍ پورې دوام وکړ.مثلا، په سیریلیون کې مریتوب په ۱۹۲۸ کال کې پای ته ورسېد؛ په داسې حال کې چې د دې هېواد پلازمېنه «ازاد ښار» د اتلسمې پېړۍ په وروستیو کې د هغو مریانو لپاره د امنځای په توګه غوره شوی و، چې له امریکا څخه راګرځول کېدل. وروسته دغه ښار د مریانو ضد سمندري ځواکونو پر اډې او د ازادو مریانو لپاره پر نوي هستوګنځي بدل شو. هغه کښتۍ چې مریان یې د خرڅلاو لپاره لېږدول، د بریټانیا سمندري ځواکونو له لوري نیول کېدې او نیول شوي مریان به د ازاد ژوند لپاره د سیریلیون ازاد ښار ته راوستل کېدل. خو له دې نمایشي اقداماتو سره سره، په سیریلیون کې د مریتوب بندېدو ۱۳۰ کاله وخت ونیوه. دغه راز د سیریلیون په سوېل کې په ۱۸۴۰ مه لسیزه کې په امریکا کې د ازادو شویو مریانو لپاره د

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



لیبریا په نامه یو بل ښار هم جوړ شو. دلته هم تر شلمې پېړۍ پورې مریتوب روان و. د اټکل له مخې په ۱۹٦۰ مه لسیزه کې یو پر څلورمه برخه کارگر په بېگار اخته وو او مریانو ته ورته ژوند یې درلود. د مریانو د تجارت پر اساس جوړو شویو بنسټونو ته په پام، د صنعتي کېدو بهیر د افریقا د جنوب صحرا ته ونه غځېد او دغه سیمه په دوامداره رکود کې پاتې شوه.

## دوه گونی اقتصاد

د «دوه گوني اقتصاد» موډل په لومړي ځل په ۱۹۵۵ کال کې د «ارتر لویس» له لوري وړاندې شو، چې د هغه پر بنسټ د ټولنیزو علومو زیاتره پوهان د لږ پرمختللو هېوادونو « Less Developed countries» اقتصادي ستونزې تحلیلوي. د لویس په باور ډېری لږ پرمختللي او وروسته پاتې هېوادونه دوه گونی اقتصادي جوړښت لري چې پر عصري او سنتي برخو وېشل شوي دي. عصري برخه د ښاري ژوند، نوي صنعت او د پرمختللې ټکنالوژۍ له مخې پېژندل کېږي. په دوديزه «سنتي» برخه کې بیا کلیوالي ژوند، کرنه او وروسته پاتې بنسټونه او ټکنالوژي شامل دي. په وروسته پاتې کرنیزو بنسټونو کې د ځمکو اشتراکي مالکیت سیستم چلېږي، چې خصوصي مالکیت ته په کې اجازه نه شته. د لویس په وینا په دوديز اقتصاد کې د کاري ځواک کارونه غیر موثره ده او که دغه ځواک عصري اقتصاد ته ځانگړی شي، نو د کلیوالي یا دوديز اقتصاد په تولید کې به کموالی را نه شي. د اقتصادي پراختیا د پوهانو په باور چې وړاندیزونه یې د لویس پر نظریاتو ولاړ دي؛ د «پراختیایي ستونزو» د حل لپاره باید له دوديز سکتور څخه کارگر، سرچینې او کرنه را بهر

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



او هغه دې په عصري سکتور کې صنعت او ښارونو ته ځانګړي شي. لویس د اقتصادي پراختیا په برخه کې د خپلو خدمتونو له امله په ۱۹۷۹ کال کې د نوبل جایزه هم ترلاسه کړه. د دوه ګوني اقتصاد د پېژندنې په برخه کې د لویس او د اقتصادي پراختیا د نورو پوهانو نظریات سم وو. سوېلي افریقا هغه ځرګنده بېلګه وه چې اقتصاد یې له وروسته پاتې والي او بېوزلۍ سره مل پر دودیزې او له هوساینې او تحرک سره مل پر عصري برخو وېشل شوی و. د لویس د دوه ګوني اقتصاد نښې حتی اوس هم د سوېلي افریقا په ځینو برخو کې لیدل کېږي. که د دې هېواد د کوازولو- ناتال ایالت او د ختیځ کېپ ایالت د ټرانسکي سیمې ترمنځ د پولې په اوږدو کې وګرځئ، نو دغه توپیر په ښه توګه احساسولی شئ. دغه پوله د «Kei» په نامه د ستر سیند په اوږدو کې پرته ده. د سیند ختیځ لور ته په کوازولو کې د ساحل په اوږدو کې ښکلې دنګې ماڼۍ او کورونه جوړ شوي دي. دا سیمه د ګنیو زړه راښکونکو شنو کروندو پوښلې ده، ښکلي سړکونه لري او د هوساینې نښې پکې له ورایه ښکاري. خو د سیند بلې غاړې ته چې ګورې، ته به وایې چې یوه جلا نړۍ او یو جلا هېواد دی، دا په پراخه کچه ویجاړه سیمه ده، د زرغونو ځمکو پر ځای په کې رژېدلي زېړ رنګه بوټي لیدل کېږي او دا یوه بشپړه ځنګلي سیمه ښکاري. خلک د عصري کورونو پر ځای په کوډلو کې ژوند کوي او تر شنه اسمان لاندې په نغري کې پخلی کوي. دلته خلک یو بشپړ دودیز یا سنتي ژوند لري، له هغه ژوند سره د ځمکې او اسمان هومره توپیر چې د سیند د ختیځې برخې اوسېدونکي یې لري. اوس نو د دې وضعیت په لیدو دې پوښتنې ته هېڅ ځای نه پاتې کېږي چې د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



دې ژورو توپیرونو ریښه چېرته ده؟ ځواب یې ساده دی: د سیند دواړو غاړو ته په شته اقتصادي بنسټونو کې!

په ختیځ کې د ناتال اوسېدونکي له خصوصي مالکیت، کارنده قضایي سیستم، پرانېستي بازارونو، تجارتي کرنې او صنعت څخه برخمن دي، خو په لوېدیځ یعنې په ټرانسکي کې حتی تر دې وروستیو پورې هم د ځمکو اشتراکي مالکیت سیستم چلېده او واک په دودیز ډول د قبایلي مشرانو په لاس کې و. د لویس د دوه گوني اقتصاد له مخې، د ناتال او ټرانسکي ترمنځ توپیر د سوېلي افریقا د پراختیا ستونزه انځوروي. که لږ نور هم وړاندې د موضوع تل ته لاړ شو، نو و به گورو چې یو وخت ټوله سوېلي افریقا د ټرانسکي په څېر بېوزله وه. سوېلي افریقا یو وخت له سختې بېوزلۍ، زړو اقتصادي بنسټونو، زړې او وروسته پاتې ټکنالوژۍ او پر چارو د قبایلي مشرانو له واک څخه کړېده. اقتصادي پراختیا باید په دې معنا وي چې ټرانسکي بالاخره باید پر ناتال بدل شي. دا لیدلوری ډېر حقایق له ځان سره لري، خو دا منطق چې دوه گونی اقتصاد ولې وجود لري او له عصري یا موډرن اقتصاد سره یې اړیکه څه ده، له پامه غورځوي. د ټرانسکي وروسته پاتې والی د افریقا د وروسته پاتې والي یوازینی میراث نه دی. د ناتال او ټرانسکي ترمنځ دوه گونی اقتصاد نوې خبره ده او په هېڅ ډول طبیعي پېښه نه شي کېدای. په سوېلي افریقا کې دغه وضعیت سپین پوستو واکمنانو رامنځته کړ. هغوی دغه کار د خپل تجارت لپاره د ارزانه کارگرو د چمتو کولو او د تور پوستو افریقایانو د سیالۍ د مخنیوي په موخه وکړ. دوه گونی اقتصاد د وروسته پاتې والي او بېوزلۍ یو بل مثال دی، چې یوه

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



طبيعي پديده يې نه شو گڼلی. لکه څرنگه چې وروسته به ووينو، سوېلي افريقا او بوتسوانا تر ډېره د مريانو د تجارت او د دې تجارت پر سر د کورنيو جگړو له ورانوونکو اغېزو خوندي پاتې شول. له اروپايانو سره د سوېلي افريقايانو لومړنۍ اړيکه هغه وخت جوړه شوه، کله چې د هالنډ د ختيځ هند کمپنۍ په ۱۶۵۳ کال کې د اوسني کيپ ټاون بندر په ټيبل خليج کې يوه اډه جوړه کړه. هغه مهال د سوېلي افريقا په لوېديځ کې نفوس ډېر لږ و او خلک يې د خوی خوی «Khoikhoi» په نامه يادېدل چې زياتره يې ښکاريان وو. په ختيځ کې چې اوسمهال سيسکي او ټرانسکي موقعيت لري، گڼ مېشته سيمه وه چې اوسېدونکو يې په کرنه کې ځانگړې مهارت درلود. هغوی په لومړي سر کې له هالنډي استعمارگرو سره نه کومه معامله لرله او نه د مريتوب په معامله کې ښکېل و. د جنوبي افريقا ساحل د مريانو بازار سره کومه اړيکه نه لرله او د سيسکي او ټرانسکي سيمو اوسېدونکي چې د ژوسا په نامه يادېدل، له دغه ساحله دومره لرې ول چې د هېچا پام ورته نه کېده. په پايله کې دغه ټولنې له هغو اغېزو خوندي پاتې شوې، چې لوېديځه او مرکزي افريقا يې سخته زيانمنه کړه. په نولسمه پېړۍ کې د دې سيمو انزوا پای ته ورسېده. د سوېلي افريقا ښکلې او له ناروغيو پاکه هوا د اروپايانو لپاره زړه راښکونکې وه. مثلاً؛ د لوېديځې افريقا برعکس، سوېلي افريقا ملايمه هوا لرله او دلته د ملاريا او زېړې تبې په څېر استوايي ناروغۍ چې د افريقا زياتره سيمې يې د سپين پوستو پر هديرې بدلې کړې وې او د هغوی د اوسېدو پر وړاندې يې خنډونه جوړ کړي وو، نه وې. سوېلي افريقا د اروپايي ښکېلاکگرو لپاره مناسب ځای و. کله چې د ناپيليوني جگړو پرمهال انگرېزانو د کيپ

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



ټاون سیمه له هالنډیانو څخه ونیوله، دغې سیمې ته د اروپایانو د راتګ لړۍ پراخه شوه او دا پېښه د ژوسا په نامه د جګړو لامل شوه. سوېلي افریقا ته د بهرنیانو د ورتګ او نفوذ لړۍ هغه وخت پراخه شوه، کله چې په ۱۸۳۵ کال کې د «افریکنرس یا بویرس» په نامه مشهورو هالنډیانو له کیپ ټاون او د برېټانیا تر کنټرول لاندې ساحلي سیمو څخه د کوچېدو اوږده لړۍ پیل کړه. افریکنرس یا هالنډ توکمه افریقایانو په سوېلي افریقا کې د «ازاد نارنجي» او «ټرانسوال» په نامه دوه خپلواک ایالتونه ځان ته جوړ کړل. د سوېلي افریقا د پراختیا دویم پړاو په ۱۸٦۷ کال کې په کیمبرلي کې د الماسو او په ۱۸۸٦ کال کې په جوهانسبورګ کې د سرو زرو د بډایه کانونو له کشف وروسته پیل شو. دغو بډایه زېرمو برېټانیا دې ته وهڅوله چې سوېلي افریقا په خپله ولکه کې واخلي. ازاد نارنجي او ټرانسوال ایالتونه د برېټانویانو پرضد پاڅېدل او له ۱۸۸۰ څخه تر ۱۸۸۱ او بیا له ۱۸۹۹ څخه تر ۱۹۰۲ کلونو پورې د دواړو لورو ترمنځ د بویر په نامه جګړې وشوې. برېټانویان په دې جګړه کې بریالي شول او د افریکنس (هالنډیانو) ایالتونه یې په کیپ او ناتال ولایتونو کې مدغم کړل، تر دې چې په ۱۹۱۰ کال کې د سوېلي افریقا اتحاد رامنځته شو. د برېټانویانو او هالنډیانو ترمنځ له جګړې ور هاخوا، د کانونو پر استخراج ولاړ اقتصاد او د اروپايي کډوالو سېل، د سیمې پر پراختیا نورې ضمني اغېزې هم وکړې. تر ټولو مهمه دا چې یادو کډوالو د خوراکي توکو او نورو کرنیزو تولیداتو ته تقاضا لوړه کړه. دغې تقاضا د سوېلي افریقا د اصلي اوسېدونکو یا بومي وګړو لپاره د کرنې او سوداګرۍ په برخه کې نوي اقتصادي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



فرصتونه وزېږول. د کالین بانډي په نامه مورخ لیکي چې په سیسکي او ټرانسکي کې بومي وګړو د یادو اقتصادي فرصتونو پر وړاندې چټک غبرګون وښود. ان په ۱۸۳۲ کال کې د کانونو تر کشف مخکې په دې سیمه کې نوي اقتصادي تحرک او نویو مصرفي توکو ته د افریقایانو تقاضا- چې دغې سیمې ته د اروپایانو د راتګ لامل ګڼل کېږي- د موارووین په نوم د یوه مذهبي مبلغ پام ځان ته ور اړولی و. هغه لیکي: «هغوی د دغو توکو چمتو کولو ته منتظر دي... ځو خپل مزد واخلي او بیا په دې پیسو جامې، بېل، سپاره، ګاډۍ او نور د اړتیا وړ توکي وپېري.»

مدني کمېشنر جان همینګ په ۱۸۷۶ کال کې د سیسکي فینګولنډ سیمې ته ورغلی و، هغه په خپل یادښت کې لیکي:«زه هغو پرمختګونو چې په وروستیو څو کلونو کې د فینګویانو له لوري ترسره شوي وو، ډېر هیښ کړم...هر چېرته چې تللم له ښتو او ډبرو جوړې جونګړې او کورونه به مې تر سترګو کېدل. څو ځایه مې لوی کورونه ولیدل چې له خښتو جوړ شوي وو... هلته د مېوو ونې کرل شوې وې، هر چېرته روانې اوبه بهېدې او چېرته چې اوبه وې، هلته ځمکې هم کرل کېدې. په ځمکو کې له سپارې څخه کار اخیستل کېده، د غونډیو له لمنو د غرونو تر څوکو پورې کښت کېده. د کښت وړ ځمکو پراخوالي هیښ کړی وم، تر اوسه مې دومره اباده او پراخه ځمکه نه وه لیدلې.»

د افریقا لویې وچې د نورو سیمو په پرتله، دلته په کرنه کې له سپارې څخه استفاده نوې خبره وه؛ خو کله چې دا زمینه برابره شوه، معلومېدل چې افریقایي کروندګر له دې ټکنالوژۍ څخه ګټې اخیستنې ته لېواله وو. هغوی دغه راز د اوبو لګونې او د ګاډۍ

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



جوړونې په برخه کې پانګونې ته لېواله وو. د کرنیز اقتصاد په غوړېدو سره، سختو قبیلوي بنسټونو په انزوا پیل وکړ. د مالکیت حقونو په برخه کې د بدلون په اړه ډېر شواهد شته. اومزیم کولو چې د ټرانسکي د ګریکوالنډ په ختیځ کې قاضي و، په ۱۸۷۹ کال کې په خپل یوه یادښت کې لیکي:«د ځمکو د اخیستو لپاره د ځایي خلکو لېوالتیا ورځ تر بلې ډېرېږي- هغوی تر اوسه ۳۸،۰۰۰ ایکره ځمکه پېرلې ده.» نوموړي درې کاله وروسته بیا ولیکل چې نږدې ۸۰۰۰۰ افریقایي کروندګرو په همدې سیمه کې ۹۰،۰۰۰ ایکره ځمکه اخیستې او کار یې پرې پیل کړی دی. که څه هم افریقا د صنعتي انقلاب په پړاو کې نه وه، خو ریښتیني بدلونونه پر لاره و. پر ځمکو د مالکیت حقونو خوندیتوب د قبایلي مشرانو ځای ځایګی کمزوری کاوه او نویو کسانو ته یې د ځمکو د اخیستو او د ثروت د تولید چانس په لاس ورکاوه. دا هغه بدلون و چې تر دې وړاندې څو لسیزې مخکې یې تصویر هم نه کېده. دا کار همدا راز ښیي چې د استعماري بنسټونو او استبدادي اداري نظامونو سقوط څنګه کولای شي چې نوې چټکه اقتصادي وده وزېږوي. په سیسکي کې د سټېفن سونجیګا په نامه د یوه بېوزله کروندګر کیسه دا واقعیت په ښه توګه څرګندوي. سونجیکا په ۱۹۱۱ کال کې په خپله وینا کې وویل: کله مې چې په لومړي ځل هوډ وکړ چې ځمکه اخلم، پلار مې راته وویل:«ځمکه اخلې؟ ځمکه څنګه اخیستی شې؟ ته نه پوهېږې چې دا ټوله ځمکه د خدای ده او دا حق یې یوازې قبایلي مشرانو ته ورکړی؟» د سونجیکا د پلار څرګندونې د پوهېدو وړ وې، خو سونجیکا له خپلې پرېکړې پر شا نه شو. هغه په کینګ ویلیم ټاون

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



کې دنده واخیسته او زیاتوي:«ما یو شخصي بانکي حساب پرانېسته چې خپله سپما پکې خوندي کړم...تر دې پورې چې سپما مې اتیا پونډو ته ورسېده... په دې پیسو مې دوه جوړه غویان، یوه سپاره، یو جغ او نور کرنیز سامان الات واخیستل. زه نه غواړم چې خپلو ملګرو ته جدي سپارښتنه وکړم چې هرو مرو دې د کرنې کسب ته مخه کړي...هغوی باید د ګټور کسب لپاره عصري لارې چارې ولټوي.»

یو ځانګړی سند چې په دې دوره کې د افریقایي کروندګرو هوساینه او اقتصادي خوځښت څرګندوي، د داویس «W. J. Davis » په نامه د یوه مذهبي مبلغ لیک دی چې په ۱۸۶۹ کال کې یې برېټانیا ته استولی و. هغه د خوشالۍ په څرګندولو سره لیکي چې په لانکشایر کې د «نساجانو مرستندویه صندوق» لپاره یې ۴۶ پونډه نغدې پیسې ټولې کړې دي. هغه مهال هوسا افریقایي کروندګرو په برېټانیا کې د نساجۍ له بېوزله کارګرانو سره د صدقې په نوم مرسته کوله. له شک پرته چې دغه اقتصادي پرمختګ او تحرک د قبایلي مشرانو لپاره د زغملو نه و، ځکه هغوی دغه بدلون د خپل واک و ځواک لپاره خطر ګاڼه. قبایلي مشرانو به د ځمکو د بهبود او اصلاح په برخه کې لکه د اوبو لګونې لپاره د کانال کیندنې او د پولې کښلو پر وړاندې مخالفت کاوه. هغوی انګېرلې وه چې دغه اصلاحات د خصوصي مالکیت او د دوی د ټغر ټولېدو پیلامه ده. هغه اروپایان چې د صحنې شاهدان وو، زیاتوي چې سنتي مشران او نور بانفوذه کسان لکه طبیبان او جادوګر هم په افریقایي ټولنه کې په کرنه کې د سپارې کارونې او په تجارت کې د نوې ټکنالوژۍ له کارونې سره مخالف وو. خو په سوېلي افریقا کې د برېټانوي استعمار پرمهال د سیسکي او

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



ټرانسکي ادغام، د دغو قبايلي يا سنتي مشرانو واک کمزوری کړ او د نوي راټوکېدلي اقتصادي پرمختګ پرضد د هغوی مقاومت کافي نه و. د افريقا د اقتصادي پرمختګ لپاره ان نسبي پرانېستو بنسټونو او د مشرانو د واک محدودېدل هم بسنه کوله. خو له بده مرغه چې عمر يې لنډ و او د ۱۸۹۰ او ۱۹۱۳ کلونو ترمنځ دغه بهير ناڅاپه په ټپه ودرېد او معکوس شو. هغه اقتصادي خوځښت او هوساينه چې افريقايانو په دې پنځوس کلنه دوره کې رامنځته کړې وه، د دوو قوتونو او فکټورونو له لوري ټکنۍ او له پښو وغورځول شوه: لومړی؛ د اروپايي کروندګرو دښمني وه چې له ځايي وګړو يا بوميانو سره يې سيالي کوله. افريقايي برياليو کروندګرو د هغو غله جاتو او محصولاتو بيې راټيټې کړې چې اروپايانو هم توليدول. اروپايانو د دې کار په غبرګون کې د کاروبار له صحنې څخه د افريقايانو په ګوښه کولو لاس پورې کړ. دويم عامل تر دې هم اغېزناک او سخت و. اروپايانو د کان کيندنې په سکتور کې ارزانه کارګرو ته اړتيا لرله او دا هدف يوازې د افريقايانو په بېوزله کولو سره ترلاسه کېدای شو. دا هغه تګلاره وه چې اروپايانو په سوېلي افريقا کې پلې کړه او څو لسيزې پر خپل ځای پاتې وه. د کانونو اتحاديې رييس «جورج البو» هغه اعتراف چې په ۱۸۹۷ کال کې يې د يوه څېړنيز کمېسيون پوښتنو ته په ځواب کې کړی، د ارزانه کارګرو د چمتو کولو په موخه د افريقايانو د بېوزله کولو تګلاره په ښه توګه روښانه کوي. هغه په خپلو څرګندونو کې وايي چې د ارزانه کارګرو د پيدا کولو لپاره به يې کارګرو ته ويل «ستاسو مزد کم شوی دی». نوموړی په دې اړه داسې شاهدي ورکوي:

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



**کمپسیون:** فرض کړئ چې کافر «تور پوستي افریقایان» تقاعد او پر کور کېناستل، ایا تاسو موافق یاست چې له دولت څخه د غوښتنې په صورت کې هغوی جبري کار ته وګومارل شي؟

**البو:** دقیقاً، زه هغوی جبري کار ته رابولم...ولې یو تور باید پرېښودل شي چې وزګار کېني؟ زه فکر کوم یو کافر یا تورپوستی باید کار ته مجبور کړل شي، څو د خپل ژوند لګښتونه پوره کړي.

**کمپسیون:** که یو څوک له کار پرته ژوند کولای شي، څنګه کولای شئ چې هغه جبري کار ته راوبولئ؟

**البو:** مالیه ترې اخلو...

**کمپسیون:** یعنې تاسو تور پوستو ته اجازه نه ورکوئ چې ځمکه او جایداد ولري، خو ایا هغوی د سپین پوستو د بډایه کولو لپاره کار ورکړي؟

**البو:** هغوی باید له خپلو ګاونډیو سره د مرستې لپاره د خپلې برخې کار وکړي.

د ښکېلاکګرو د پورته دواړو تګلارو، یعنې له سپین پوستو کروندګرو سره د تور پوستو د سیالۍ د مخنیوي او د ارزان بیه کاري ځواک د تامین په موخه په ۱۹۱۳ کال کې د «بومیانو د ځمکو قانون» تصویب شو. دغه قانون سوېلي افریقا پر دوو برخو ووېشله: عصري شتمنه برخه او سنتي بېوزله برخه، یعنې هغه څه چې د لویس د دوه ګوني اقتصاد پر نظریې د تایید مهر لګوي. دغه قانون حکم کاوه چې د سوېلي افریقا ۸۷ سلنه ځمکه یا اراضي باید اروپایانو ته چې د ټول نفوس ۲۰ سلنه یې جوړول، ورکړل شي او پاتې ۱۳ سلنه د افریقایانو حق کېده. البته تر دې قانون مخکې هم اروپایانو د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



افریقایانو د ګوښه کولو هڅې پیل کړې وې او هغوی یې په تدریجي توګه ځانګړو شویو کوچنیو او محدودو سیمو ته کډه کړل. خو د ۱۹۱۳ کال قانون په سوېلي افریقا کې وضعیت په بشپړه توګه بدل او د اپارتهاید رژیم واکمنېدو ته یې لار هواره کړه. د اپارتهاید له مخې تور پوستي له سیاسي او اقتصادي حقونو بې برخې شول، په داسې حال کې سپین پوستي لږکي له دوارو برخمن و. د ځمکو په قانون کې د تور پوستو افریقایانو لپاره ځانګړې سیمې لکه ټرانسکي او سیسکي په پام کې نیول شوې وې، چې وروسته د «the Bantustans» په نامه وپېژندل شوې. ځانګړو سیمو ته د افریقایانو کډه کول په سوېلي افریقا کې د اپارتهاید بله ناخواله وه، ځکه چې دغه رژیم ادعا کوله چې د سوېلي افریقا بومي اوسېدونکي د دې سیمې اصلي اوسېدونکي نه دي، بلکې د «بانټو» په نامه هغه خلک دي چې شاوخوا ۱۰۰۰ کاله مخکې د نایجریا له ختیځ څخه دلته کډه شوي دي، له همدې امله دوی په دې خاوره کې د اوسېدو حق نه لري او تر اروپایانو یې ډېر مستحق نه دي. شپاړسمه نقشه د ۱۹۱۳ کال او ۱۹۳٦ کال قوانینو له مخې افریقایانو ته ځانګړې شوې ځمکه په ګوته کوي. په نقشه کې دغه راز د هغو ځمکو د وېش په اړه هم معلومات شته چې له ۱۹۷۰ وروسته په زیمبابوې کې د یوه دوه ګوني اقتصاد په چوکاټ کې وشول- په دیارلسم څپرکي کې به په دې اړه ډېر بحث وکړو.

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



د ۱۹۱۳ کال قانون همدارنگه پر تور پوستو بندیز لگولی و، چې د سپین پوستو ځمکې په اجاره نه شي اخیستلی او نه پکې اوسېدلی شي، پرته له دې چې د مزدور په توگه پکې کار وکړي. لکه څرنگه چې د بومیانو په چارو کې سکرتر په دې اړه لیکي:«په راتلونکي کې د دغه قانون عواقب دا وو، چې د اروپایانو او بومي وگړو ترمنځ د ځمکو او محصولاتو په برخه کې د هر ډول راکړې ورکړې مخه ډپ کړي. له بومیانو سره د اروپایانو ټول قراردونه به یوازې د خدمت یا مزدورۍ په برخه کې وي. په دغه ډول قراردادونو کې کار هېڅ داسې کوم قید او محدودیت نه و چې کار مشران دې بومي وگړو ته د کړې خدمت په بدل کې پیسې ور نه کړي او یا په یوه ټوټه ځمکه

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



کې د کړي کار په بدل کې حاصل ورکړي. خو بومیانو یا تور پوستي دا حق نه درلود چې له سپین پوستو ځمکې وپېري.»

په ۱۹۵۰ او ۱۹۶۰ مه لسیزه کې کله چې پراختیایي اقتصاد د یوې علمي څانګې په توګه د را وټوکېدو او د ارتر لویس نظریات د پراخېدو په حال کې و، په سویلي افریقا کې د تور پوستو او سپین پوستو د ژوند د سطحې ترمنځ ژور توپیرونه د اقتصاد پوهانو لپاره د دوه ګوني اقتصاد د تیورۍ یو روڼ انځور و. د اروپایي اقتصاد برخه له ښاري ژوند، لوستي نسل او نوې ټکنالوژۍ څخه برخمنه وه، په داسې حال کې چې اصلي یا بومي وګړو وروسته پاتې او کلیوالي ژوند درلود، بشري ځواک یې ناکاره او د بې سوادۍ کچه پکې خورا لوړه وه. داسې انګېرل کېده چې ګنې دا د وروسته پاتې والی د افریقا ازلي بخت دی. دوه ګونی اقتصاد کومه طبیعي پدیده نه وه، بلکې ریښه یې په اروپایي استعمار کې وه. دا چې د تور پوستو سیمې بېوزله، خلک یې نالوستي او له ټکنالوژۍ ډېرې لرې پاتې وې، لامل یې د استعماري دولت تګلاره وه چې په کانونو کې د ارزانه کارګرو د استخدام لپاره یې تور پوستي له هر ډول حقونو بې برخې کړل. له ۱۹۱۳ کال وروسته، سپین پوستو د تور پوستو ځمکې غصب کړې او هغوی یې ځانګړو سیمو ته کډه کړل، چې ډېرې کوچنۍ وې او د ژوند د چلولو لپاره یې هېڅ سرچینې نه لرلې. د سپین پوستو اروپایانو تګلاره همدا وه چې تور پوستي دې حد ته مجبور کړي، څو د ژوندي پاتې کېدو لپاره په ناچارۍ د سپین پوستو مزدوري وکړي. دغې ناروا تګلارې په خلکو کې اقتصادي انګېزه ووژله او هغه پرمختګونه چې د ۵۰ کلونو په ترڅ کې شوي وو، ټول پر شا وتمبول

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



شول. خلکو د ځمکو د اړولو او قولبه کولو لپاره د سپارې پر ځای بېل ته مخه کړه. یوازې اقتصادي انګېزه و نه تروړل شوه، بلکې سیاسي بدلونونو هم معکوس حرکت پیل کړ. د سنتي مشرانو واک چې تر دې مخکې کمزوری شوی و، بېرته تقویه شو، ځکه چې د ارزانه کارګرو په برخه کې د استعماري تګلارې یوه موخه د تور پوستو د خصوصي مالکیت حقونو له منځه وړل و. وضعیت هغه وخت نور هم نازک شو، کله چې په ۱۹۵۱ کال کې حکومت د «بانټو د واکونو قانون» تصویب کړ. د افریقایي کروندګرو د مالکیت حقونو سلب د هغوی د سختې بېوزلۍ سبب شو. دغه کار نه یوازې د یوه وروسته پاتې اقتصاد بنسټ کېښود، بلکې خلک یې داسې بېوزله کړل چې دغه اقتصاد یې لاپسې تقویه کاوه. په ۱۹۱۳ کال کې د بومیانو د ځمکو قانون تر تصویب وروسته، ټرانسکي او سیسکي سیمې تلپاتې اقتصادي ځوړتیا په مخه کړې. د کارګرانو د ګورمانې او استخدام هغه اسناد چې د فرانسس ویلسن په نامه تاریخ لیکونکي ترلاسه کړي، ښیي چې دغه ځوړتیا د سوېلي افریقا د اقتصاد ټولو برخو ته وغځېده. د ۱۹۱۱ او ۱۹۲۱ کلونو ترمنځ د ځمکو قانون او نورو قوانینو تر تصویب وروسته د کان کیندونکو مزد ۳۰ سلنه کم شو. سره له دې چې په ۱۹٦۱ کال کې د سوېلي افریقا اقتصاد نسبتاً دوامداره وده لرله، لا هم د ۱۹۱۱ کال په پرتله کارګرو ۱۲ سلنه لږ مزد درلود. د حیرانۍ خبره نه ده چې سوېلي افریقا په دې موده کې د نړۍ د نابرابرو هېوادونو په کتار کې و. ایا حتی په دغسې شرایطو کې هم تور پوستو افریقایانو حق نه درلود چې په موډرن اروپایي اقتصاد کې پر ښنو ودرېږي، کاروبار او تجارت پیل کړي، یا زده کړې وکړي او په کسب و کار بوخت شي؟ دولت تضمین کړې وه

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

Downloaded By: Afghan Salar Library



چې تور پوستو ته به دا حق نه ورکول کېږي. هېڅ افریقایي حق نه درلود چې ځمکه ولري او د اروپايي اقتصاد تر ولکې لاندې په ۸۷ سلنه ځمکه کې تجارت یا کاروبار پیل کړي. د اپارتهاید رژیم پوهېده چې تحصیل کړي او لوستي تور پوستي د دې پر ځای چې په کانونو کې کار وکړي، له دوی سره به په سیالۍ لاس پورې کړي. په ۱۹۰۴ کال کې په کاني اقتصاد کې د اروپایانو لپاره د دندې د ریزروېشن سیستم رامنځته شو. هېڅ تور پوستي حق نه درلود چې په بانکونو، ترکانۍ، د بخار دېگونو جوړولو، د برنزو پروسس، خټګرۍ او .... لېست همداسې غځېږي تر دې چې ان د نجارۍ په دستگاه کې یې د کار کولو حق نه درلود. تور پوستي افریقایان د کانونونو په سکتور کې له هر ډول دندې منع کړل شول. دا د رنګ له مخې پر یوه ټبر بندیز و، چې په سوېلي افریقا کې د اپارتهایډ ټبرپال رژیم عملي کړی و. د رنګ پر اساس بندیز په ۱۹۲۶ کال کې ټولو اقتصادي برخو ته وغځېد او تر ۱۹۸۰ پورې یې دوام وکړ. حیرانوونکي نه ده چې تور پوستو لوړې زده کړې نه درلودې؛ د سوېلي افریقا استعماري دولت نه یوازې له زده کړو څخه د افریقایانو د اقتصادي ګټې اخیستنې شونتیا له منځه یووړه، بلکې د تور پوستو په ښوونځیو کې یې د پانګونې مخه ونیوله او د هغوی د زده کړو مخه یې ډپ کړه. دغه سیاست په ۱۹۵۰ مه لسیزه کې هغه وخت لا سخت شو، کله چې دولت د اپارتهایډ رژیم د یو تن بنسټګر «هنډرېک وېرورډ» په مشرۍ چې تر ۱۹۹۴ کال پورې ژوندی و؛ د «بانټو د زده کړو قانون» تصویب کړ. د دې قانون فلسفه په خپله هندرېک په ۱۹۵۴ کال کې په یوه وینا کې داسې بیان کړه:« بانټو باید خپلې ټولنې ته د خدمت لپاره ټولو برخو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



ته سوق شي. هغوی ته په اروپايي ټولنه کې د کارگرۍ په لوړو پوستونو کې ځای نشته... د هغو زده کړو ترلاسه کول چې موخه يې په اروپايي ټولنه کې ځان ځايول وي، په داسې حال کې چې هغوی نه شي کولای ځان ځای کړي؛ نو هڅې يې بېځايه دي.»

هغه دوه گونی اقتصاد چې هنډرېک په خپلو خبرو کې ورته اشاره وکړه، د منځپانگې له مخې د لويس د دوه گوني اقتصاد له تيورۍ سره توپير لري. په سوېلي افريقا کې دوه گونی اقتصاد د معکوسې ودې له امله نه و رامنځته شوی، بلکې دولت خپله په لوی لاس دا ډول وضعيت حاکم کړ. دلته تگلاره دا وه چې د اقتصادي پراختيا په موخه د اقتصاد عصري برخې ته د بېوزله وگړو د لاسرسي مخه ونيول شي. خو برعکس؛ د عصري برخې پرمختگ بيا د سنتي يا وروسته پاتې برخې د پرمختگ له برکته و، ځکه چې د پرمختللو سيمو سپين پوستو د وروسته پاتې سيمو غير مسلکي تور پوستي کارگر په ډېر ارزانه مزد پر کار گومارل او د هغوی پرمټ يې په لويه پيمانه ثروت توليداوه. په سوېلي افريقا کې هېڅ داسې تگلاره نه وه، چې له مخې يې غير مسلکي تور پوستي کارگران بايد وروزل شي، هغه څه چې لويس يې تمه لرله. تور پوستي کارگران په حقيقت کې قصداً او په سيستماتيک ډول غير مسلکي ساتل کېدل، څو له سپين پوستو سره د سيالۍ جوگه نه شي. د سوېلي افريقا کې د سنتي اقتصاد تور پوستي وگړي ربښتيا هم په لومه کې گير شوي وو، خو دا د پراختيا ستونزه نه وه، بلکې د ستونزې ريښه د سپين پوستو په سياستونو کې وه. دا هم د تعجب خبره نه ده، چې د اقتصادي پرمختگ هغه ډول چې سپين پوستو د سوېلي افريقا په نصيب کړ، نهايتاً محدود و؛ ځکه چې دغه پرمختگ د هغو زبېښونکو بنسټونو پر اساس بنا شوی و، چې سپين

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



پوستو د تور پوستو د زېښناک په موخه جوړ کړي وو. د سوېلي افریقا سپین پوستو د مالکیت حق درلود. هغوی پر زده کړو پانګونه کوله، د سرو زرو او الماسو د استخراج او پلور له لارې يې بې خرته شتمنۍ ترلاسه کړې. خو د دې هېواد اتیا سلنه لوی اکثریت ګوښه کړل شوی و او د اقتصادي فعالیتونو ټولې دروازې يې پرمخ تړل شوې وې. تور پوستو حق نه درلود چې خپلې وړتیاوې وکاروي، هغوی همدا راز حق نه درلود چې مسلکي کارګران، سوداګر، پانګوال، انجنیران یا متخصصین شي. سپین پوستي د زېښنونکو بنسټونو پرمټ د تور پوستو د زېښناک له لارې شتمن شول. سپین پوستو په حقیقت کې د لوېدیځې اروپا په معیارونو برابر ژوند درلود، په داسې حال کې چې د تور پوستو ژوند د افریقا په صحرا کې د نورو وګړو ژوند ته ورته و. دغې اقتصادي ودې چې له خلاق تخریب څخه خالي وه او یوازې سپین پوستي ترې برخمن وو، د سرو زرو او الماسو تر استخراجه پورې يې دوام پیدا کړ. بالاخره په ۱۹۷۰ مه لسیزه کې دغه وده په ټپه ودرېده. بیاهم د تعجب وړ نه ده چې دغه زېښنونکي اقتصادي بنسټونه د یو لړ سختو زېښنونکو سیاسي بنسټونو له لوري حمایه کېدل. له ۱۹۹۴ کال مخکې په سوېلي افریقا کې ټول واک او ځواک له سپین پوستو سره و او دا یوازینی قوم و چې په ټاکنو کې د رایې ورکونې او د حکومت کولو حق يې درلود. پوځ، پولیس او ټول حکومتي بنسټونه د سپین پوستو په لاس کې و. دغه بنسټونه د سپین پوستو کډوالو له راتګ سره سم جوړ شوي وو. په ۱۹۱۰ کال کې د سوېلي افریقا اتحادیې د جوړېدو پرمهال افریکنرس یا اروپایانو په نارنجي او ټرانسول ایالتونو کې ځانګړي

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



او توکمیز حقونه لرل او تور پوستي له سیاسي مشارکت څخه چورلټ محروم کړل شوي وو. په ناتال او کیپ ټاون ایالتونو کې تور پوستو ته هغه وخت د رایې ورکولو حق درلود، چې ټاکلې اندازه شتمني یې لرله، هغه شرط چې پوره کول یې خورا ستونزمن و. تر ۱۹۱۰ کال پورې په ناتال او کیپ ټاون کې دا وضعیت همداسې په خپل ځای پاتې شو، خو په ۱۹۳۰ لسیزه کې په ټوله افریقا کې تور پوستو ته د رایې ورکونې حق ورکړل شو.

د سوېلي افریقا دوه گونی اقتصاد په ۱۹۹۴ کال کې پای ته ورسېد، خو د هغو عواملو پر اساس نه چې ارتر لویس یې وړاندوینه کړې وه. دا کومه طبیعي پروسه نه وه چې د تور پوستو د اقتصادي پرمختګ پر وړاندې یې ایجاد شوي خنډونه ونړول، بلکې د سوېلي افریقا تور پوستو د اپارتایډ رژیم د ظلم او زور زیاتي پرضد په پراخو لاریونونو او اعتراضونو لاس پورې کړ. په ۱۹۷٦ کال کې د سووېټو «Soweto » تر پاځون وروسته دغه اعتراضونه نور هم پراخ او منظم شول چې په پایله کې اپارتایډ رژیم نسکور شو. د سپین پوستو قدرت په سوېلي افریقا کې دوه گونی اقتصاد جوړ کړ، خو تور پوستو د اعتراضونو او لاریونونو له لارې په خپل قدرت سره دا نظام له منځه یووړ.

## معکوسه پراختیا

نن ورځ په نړۍ کې اقتصادي نا انډولي له دې امله ده چې په نولسمه او شلمه پېړۍ کې یو شمېر ملتونه له صنعتي انقلاب او ټکنالوژۍ څخه په گټه اخیستنه بریالي شول، په داسې حال کې نور ملتونه په کې پاتې راغلل. ټکنالوژیکي بدلونونه د هوساینې او

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



پرمختګ ماشین دی، یا کولای شو ووایو چې تر دې هم مهم او حیاتي. هغو هېوادونو چې له نوې ټکنالوژۍ ګټه وا نه خیسته، د پرمختګ له ماشینه بې برخې شول. لکه څرنګه چې په دې او تېرو فصلونو کې مو ولوستل، دغه وروسته والی د هغوی له ناکاره زبېښونکو بنسټونو څخه سرچینه اخلي، چې دغه بنسټونه بیا په خپل وار د استبدادي بنسټونو زېږنده ده. خو په دې څپرکي کې همدا راز څرګنده شوه چې زبېښونکي بنسټونه په بېلابېلو مواردو کې چې د دې ملتونو د بېوزلۍ بنسټ یې جوړاوه، د هماغه پروسو په پایله کې تحمیل او یا نور هم تقویه شول؛ چې اروپایان یې د ودې او ګټې خاوندان کړل: د اروپایي ښکېلاک او سوداګرۍ پراختیا! په حقیقت کې اروپایي استعماري امپراتورۍ تر ډېره د خپلواکو دولتونو د رنګولو او د نړۍ په بېلابېلو برخو کې د ځایي خلکو د استثمار په موخه جوړې شوې وې، لکه د مولوکان ټاپوګان چې د ځایي وګړو تر نابودولو وروسته اروپایانو افریقایي مریان دې سیمې ته راوستل او پر کرنه یې بوخت کړل او بالاخره دلته د دولتونو اساس له پیله پر زبېښونکو بنسټونو کېښودل شو. موږ نه پوهېږو چې که اروپایانو په باندا ټاپوګانو، د اوسنۍ اندونیزیا په آسه او میانمار کې کوچني دولت-ښارونه نه وای نړولي، اوس به یې برخلیک څه ډول و؟ ښایي هغوی خپل پرتمین انقلاب لرلی او یا په تدریجي توګه د درملو مخ پر ودې تجارت باندې ولاړ، د پرانیستو سیاسي او اقتصادي بنسټونو په لور یې حرکت کړی وای. خو د هالنډ د ختیځ هند کمپنۍ په راتګ سره دا کار ناشونی شو. د ختیځ هند کمپنۍ د باندا ټاپو د اوسېدونکو په ټولوژنې سره په دې جزیره کې د پرمختګ هیلې تر

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



خاورو لاندې کړې. د هالنډیانو د ښکېلاک له وېرې د سوېل ختیځې اسیا زیاتره سیمو له تجارتي فعالیتونو او کرنې لاس واخیست.

د اسیا د تمدنونو د یوې مهمې زانګو په توګه، د هند کیسه هم دغه ډول ده. دلته پراختیا د هالنډیانو له لوري نه، بلکې د انګرېزانو له خوا سرچپه او معکوسه شوه. هند په اتلسمه پېړۍ کې په نړۍ کې د منسوجاتو ستر تولیدوونکی او صادروونکی هېواد و. هندي خامتا او وړین توکي په اروپایي، اسیایي او ان افریقایي مارکېټونو کې پلورل کېدل. بریټانیا ته به دغه توکي د بریټانیا ختیځ هند کمپنۍ واردول. د بریټانیا د ختیځ هند کمپنۍ په ۱۶۰۰ کال کې له خپل هالنډۍ سیالې کمپنۍ څخه دوه کاله مخکې تاسیس شوې وه او اولسمه پېړۍ یې د هند د ارزښتناکه صادراتو په انحصارولو تېره کړه. یاده کمپنۍ له پرتګالیانو سره په ګوا، چیټاګونګ او ممبي او له فرانسویانو سره په «پونداچیري، چندر ناګور، یانام او کارایکال» سیمو کې سیالي کوله. په اووم څپرکي کې مو ولوستل، چې پرتمین انقلاب د بریټانیا د ختیځ هند کمپنۍ پر وړاندې خنډونه رامنځته کړل. هغه انحصاري حقونه چې د ستیوارت کورنۍ پاچاهانو کمپنۍ ته ورکړي وو، د ۱۶۸۸ کال تر پرتمین انقلاب وروسته لومړی محدود او بیا د یوې لسیزې په ترڅ کې چورلټ له منځه یووړل شول. د انحصار له منځه تګ، انګرېز نساجانو ته فرصت ورکړ چې د پارلمان په ملاتړ د هغو هندي ټوکرو د وادراتو مخه ونیسي، چې د ختیځ هند کمپنۍ په ولکه کې و. په اتلسمه پېړۍ کې د «رابرټ کلیو» په مشرۍ ختیځ هند کمپنۍ خپله تګلاره بدله او د یوې قاره یي امپراتورۍ جوړولو ته یې مخه کړه. که څه هم په هند کې د مغولو امپراتوري واکمنه وه، خو هند دا مهال عملاً د بېلابېلو رقیبو سیاسي ډلو او حکومتونو ترمنځ وېشل شوی و.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



د ختیځ هند کمپنۍ په لومړي ځل په ۱۷۵۷ کال کې د پلاسي او په ۱۷٦۴ کال کې د بوکسر په جګړو کې د ځایي حکومتونو په ړنګولو سره په ختیځ کې تر بنګال پورې پرمختګ وکړ. کمپنۍ د دې سیمې شتمنۍ لوټ کړې او د مغولي پاچاهانو زېښنونکي بنسټونه یې په خپل واک کې واخیستل. د ختیځ هند کمپنۍ دغه پراختیا یا استعمار په هند کې د نساجۍ صنعت له سخت ځوړتیا سره مخ کړ، ځکه چې دغو تولیداتو ته نور په برېټانیا کې مارکېټ نه و. دغې ځوړتیا په هند کې ببوزلي زیاته او د ښاري کېدو بهیر یې په ټپه ودراوه او په نتیجه کې په هند کې پراختیایي بهیر معکوس حرکت پیل کړ. هندیان داسې مرحلې ته ورسېدل چې د خپلو نساجي تولیداتو پر ځای به یې برېټانوي هغه پلورل او د برېټانیا ختیځ هند کمپنۍ لپاره یې د تریاکو کښت ته مخه کړه، چې دغه تریاک به چین ته صادرېدل. په اتلانتیک کې ورته وضعیت په افریقا کې د پراختیا معکوس بهیر له ځان سره درلود، که څه هم د دې لویې وچې لومړنیو شرایطو د سوېل ختیځې اسیا په څېر انکشاف نه و موندلی. زیاتره افریقایي دولتونه پر جنګي ماشین بدل شوي وو چې مریان به یې نیول او بیا به یې پر اروپایانو پلورل. دا چې د دولت او بېلابېلو ډلو ترمنځ شخړې به پر تلپاتو جګړو اوښتې، په افریقا کې ډېری دولتونه چې په زیاترو مواردو کې لا سیاسي سنټرالېزېشن ته رسېدلي هم نه وو، له منځه لاړل او ناکامو زېښنونکو بنسټونو ته یې لار هواره کړه، چې په دې اړه به وروسته بحث وکړو. د افریقا په ځینو محدودو سیمو لکه سوېلي افریقا کې چې د مریانو سوداګري په کې نه وه، هلته بیا اروپایانو د کانونو او د کرنې سکتورونو لپاره د ارزانه کاري ځواک د برابرولو په موخه

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



متفاوت بنسټونه تاسیس کړل. په سوېلي افریقا کې داسې دوه ګونی اقتصاد رامنځته شو، چې د دې هېواد ۸۰ سلنه وګړو په سوداګرۍ، کرنه او نورو مسلکي برخو کې د کار او فعالیت حق نه درلود. دا ټول موږ ته نه یوازې دا رابښيي چې د نړۍ سترې برخې ولې له صنعتي کېدو بې برخې پاتې شوې، بلکې دا هم څرګندوي چې څنګه ممکنه ده چې ځیني وخت اقتصادي پراختیا د کورني اقتصاد له ځینو برخو او یا د نړۍ اقتصاد څخه تغذیه کېږي یا هم د دې وضعیت رامنځته کولو ته لار پرانېزي.

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



# لسم څپرکی

## د هوسايني خپرول

### د مجرمينو جزيره

برېټانيا په اتلسمه پېړۍ کې د مجرمينو پر وړاندې اسانه تګلاره غوره کړې وه: له مخې او ذهنه د هغوی لرې شړل. له همدې امله ډېری مجرمين د امپراتورۍ مستعمرو ته تبعيد شول. د امريکا متحده ايالتونو کې د خپلواکۍ تر جګړې مخکې، مجرمين لومړی امريکايي مستعمرې ته لېږدول کېدل، خو له ۱۷۷۸ کال وروسته چې د امريکا متحده ايالتونو له برېټانيا خپله ازادي واخيسته، هلته د برېټانوي مجرمينو لېږدېدل بند شول او د برېټانيا حکومت اړ و، چې د مجرمينو لپاره نوی ځای پيدا کړي. برېټانيا لومړی د لوېديځې افريقا په فکر کې شوه، خو د افريقا هوا د ملاريا او زېړې تبې د ناروغيو له امله چې اروپايانو يې پر وړاندې هېڅ راز خونديتوب نه درلود، دومره وژونکې وه چې حکومت د سپين پوستو دغې هديرې ته د مجرمينو له استولو ډډه وکړه. دويم غوراوی استراليا وه. د استراليا ختيځه ساحلي برخه لا له وړاندې د ستر اوبمزلي 'کپتان جېمز کوک' له لوري کشف شوې وه، کوک د ۱۷۷۰ کال د اپرېل په ۲۹ مه يوې زړه راښکونې ابنا ته ورسېد. دا چې په دې سيمه کې بډايه طبيعي بوټي پيدا کېدل، کوک او له هغه سره مل بيولوجستانو ياده سيمه د 'بوټاني خليج' په نوم ونوموله. د برېټانوي چارواکو په اند استراليا د مجرمينو د تبعيد لپاره غوره سيمه وه، ځکه چې معتدله هوا يې لرله او له سترګو يې هم پناه وه. د ۱۷۸۸ کال په جنورۍ کې د کپتان ارتر فليپ

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



په مشرۍ له مجرمينو بار ۱۱ کښتۍ بوټاني ته وخوځېدې. دغه کښتۍ د جنورۍ په ۲٦ مه چې اوسمهال د «استرالیا ورځ» په توګه نمانځل کېږي، په سيډني کې تم شوې او دا نوې مستعمره د 'نوي سوېلي ويلز' په نامه ونومول شوه. د دې کښتيو ترمنځ د کپتان الکساندر په مشرۍ د «دانکن سينکلر» په کښتۍ کې د «هېنري» او «سوزانا کيبل» په نومونو دوه مجرمين چې ښځه او مېړه کېدل، هم شامل وو. سوزانا د غلا په تور لومړۍ پر اعدام محکومه شوې وه، خو وروسته يې جزا ۱۴ کاله حبس ته راټيټه شوه او امريکايي مستعمرو ته يې د لېږدولو پرېکړه وشوه، خو دا چې په دې وخت کې د امريکا متحده ايالتونو تازه خپلواکي ترلاسه کړې وه، دغه پرېکړه عملي نه شوه. سوزانا په همدې وخت کې د ناروېچ کلا په زندان کې له بندي هېنري سره اشنا او وروسته پرې مېينه شوه. کله چې په ۱۷۸۷ کال کې په لومړي ځل نوې مستعمرې «استراليا» ته بنديان لېږدول کېدل، سوزانا هم په دې ډله کې انتخاب شوه او هېنري په لېست کې نه و. هېنري او سوزانا دا وخت يو زوی هم درلود چې د هغه نوم هم هېنري و. د دې پرېکړې معنا دا وه چې ياده کورنۍ سره جلا کېږي. سوزانا هغې کښتۍ ته چې د تيمز سيند پر غاړه يې لنګر اچولی و، ولېږدول شوه او د دې غمجن بېلتون خبر د خلکو تر غوږونو ورسېد. د بشري چارو يوې فعالې مېرمن «کېډاګون» د کيبل کورنۍ د بيا يو ځای کولو لپاره کمپاين پيل کړ. بالاخره پرېکړه وشوه چې خاوند او مېرمن دواړه به له خپل زوی هېنري سره يو ځای استراليا ته لېږدول کېږي. کېډاګون د دوی لپاره ۲۰ پونډه نغدي مرسته هم راټوله کړې وه او په دې پيسو يې ورته د اړتيا وړ توکي واخيستل چې استراليا ته يې له ځان سره يوسي. سوزانا له خپل

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



خاوند او زوی سره د الکساندر کښتۍ ته پورته شول او د استراليا په لور وخوځېدل، خو کله چې بوټاني خليج ته ورسېدل، پنډکی يې ورک و او يا هم کېدای شي چې سينکلر به دروغ ويل چې ورک دی. د کيبل کورنۍ څه بايد کړي وای؟ د برېتانيا د قوانينو له مخې هغوی هېڅ نه شوای کولای. که څه هم له ۱۷۸۷ کال وروسته په برېتانيا کې پرانېستي سياسي او اقتصادي بنسټونه دود شوي وو، خو د بنديانو او مجرمينو حقوقو ته په کې پام نه و شوی. مجرمينو نه شوای کولای چې مال او ملکيت ولري او يا پر چا دعوه وکړي. هغوی ان په محکمه کې د شهادت ورکولو حق هم نه درلود. سينکلر چې په دې خبره پوهېده، ښايي چې پنډکی به يې پټ کړی و. هغه هېڅکله پر خپلې غلا اعتراف و نه کړ، خو دا خبره به يې تل په وياړ کوله چې کيبليان نه شي کولای چې هغه تر تعقيب لاندې راولي. د برېتانيا د قوانينو پر بنسټ نوموړی پر حقه و او په برېتانيا کې ټوله قضيه په همدې ټکي پای ته رسېده. خو په استراليا کې داسې ونه شول. په دې اړه يو تن ځايي قاضي ډيوډ کالينز ته په يوه ليک کې وليکل شول:«بايد وويل شي چې هېنري کيبل او د هغه مېرمن چې د دې سيمې نوي اوسېدونکي دي، له برېتانيا څخه دلته د راتګ پرمهال د الکساندر په بار وړونکې بېړۍ کې چې سينکلر يې کپتان دی، له ځان سره يو پنډکی هم بار کړی و. په دې پنډکي کې پوښاک او ځيني نور د اړتيا توکي چې ځيني خيرخواه انسانانو د هينري کيبل، د هغه مېرمن او زوی ته اخيستي وو، شامل وو. د کښتۍ له کپتان سينکلر څخه چې اوسمهال په بندر کې درېدلې ده، څو ځله وغوښتل شول چې دا توکي ور وسپاري، خو نه يې ورکوي او په پنډ

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

Downloaded By: Afghan Salar Library



کې یو له څو کتابونو پرته، نور ټول قېمتي شیان یې په بېړۍ کې له ځان سره قید کړي دي او لکه څرنګه چې یادونه وشوه، لیدل کېږي چې سینکلر د امانت په ور سپارلو کې ناغېړي کوي.»

دا چې هېنري او سوزانا دواړه نالوستي وو او لاسلیک یې زده نه و، نو پر پورتنۍ عریضه یې ګوتې ولګولې. وروسته د لیک د «د دې سیمې نوي اوسېدونکي» په جمله کې ګوتې وهل شوې وې، خو بیا هم لیک خپل ارزښت درلود. په لیک کې د لاسوهنې هدف دا و، چې که هېنري او کیبل مجرمین معرفي شي، نو قضیه به یې ونه څېړل شي. خو که نوي اوسېدونکي معرفي شي، نو د قاضي کالینز له لوري د دې نظر منل به تر توقع لوړ کار وي او په ډېر احتمال سره چې په خپله قاضي په عریضه کې ګوتې وهلې وې. خو عریضې خپل کار وکړ. کالینز دوسیه تعقیب کړه او د منصفه پلاوي په حضور کې چې ټول سرتېري وو، محکمه دایره شوه او سینکلر محکمې ته حاضر کړل شو. که څه هم کالینز دې قضیې ته دومره خوشبین نه و او په منصفه پلاوي کې هم داسې کسان وو چې د کیبل کورنۍ په څېر د مجرمینو ساتنه یې کوله، خو مېرمن او خاوند دواړه بریالي شول. سینکلر اعتراض وکړ چې کیبلیان مجرمین دي، خو د محکمې پرېکړه عملي شوه او نوموړی یې پر ۱۵ پونډه نغدي جریمې محکوم کړ. قاضي کالینز د حکم د صادرولو په برخه کې د بریتانیا قوانین په پام کې ونه نیول. دا لومړنۍ مدني قضیه وه چې په استرالیا کې وڅېړل شوه. لومړنۍ جزایي قضیه هم په همدې ډول حیرانوونکې وه. یو تورن له بل تورن څخه د ډوډۍ پټولو په تور چې ارزښت یې دوه پنسه کېده، محکوم شو. تر دې مخکې په محکمه کې داسې کومه قضیه نه وه څېړل شوې، ځکه چې مجرمینو د مالکیت حق نه درلود، خو استرالیا

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



برېټانيا نه وه او د دې هېواد قوانينو له برېټانيا سره توپير درلود. استراليا ډېر ژر د جزايي او مدني قوانينو او همدارنګه د سياسي او اقتصادي بنسټونو په برخو کې له برېټانيا څخه خپله لار جلا کړه. د سوېلي ويلز مستعمره په لومړيو کې له تبعيد شويو مجرمينو او د هغوی له يو شمېر ساتونکو څخه جوړه شوې وه. تر ۱۸۲۰ مې لسيزې پورې په استراليا کې ډېر لږ شمېر ازادو کډوالو ژوند کاوه. په ۱۸۴۰ کال کې سوېلي ويلز ته د زندانيانو لېږدول بند شول، خو د استراليا لوېديځ ته تر ۱۸۶۸ کاله پورې د زندانيانو د لېږد بهير روان و. پر مجرمينو جبري کارونه کېدل او ساتونکو له دې وضعيت څخه ګټه پورته کوله. په لومړيو کې مجرمينو ته هېڅ ډول پيسې يا مزد نه ورکول کېده او د کړي کار په بدل کې يوازې ډوډۍ ورکول کېده. د دوی د ټول کار ګټه وټه به ساتونکو خپل جېب ته اچوله. خو دغه سيستم چې ويرجينيا کمپنۍ په جېمز ټاون کې تطبيق کړی و، ښې پايلې نه لرلې، ځکه چې د مجرمينو ترمنځ د سم کار د ترسره کولو لپاره انګېزه نه وه. هغو مجرمينو چې سم کار نه کاوه، پر قمچينو وهل کېدل او يا به د نورفولک ټاپو ته چې په ارام سمندر کې د استراليا د ختيځ په ۱۰۰۰ مايله مترۍ کې پرته وه او يوازې ۱۳ مايل مربع پراخوالي يې درلود، تبعيد کېدل. خو نه د کارګرانو وهلو او نه هم تبعيد کولو کومه نتيجه ورکړه. يوازينۍ لار د انګېزې رامنځته کول و. د سرتېرو او ساتونکو په اند دا کار غير عملي برېښېده. مجرمين محکومين وو او امکان يې نه و چې خپل کاري ځواک وپلوري او يا شتمنۍ يا ملکيت ولري. خو په استراليا کې له دوی پرته بل څوک نه و چې کار وکړي. که څه هم په استراليا کې د سوېلي ويلز ښارګوټي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



د جوړېدو پرمهال بومي یا ځایي وګړي هم موجود وو، چې شمېر یې شاوخوا یو میلیون تنو ته رسېده؛ خو هغوی د یوې لویې وچې په کچه خواره شوي وو او د یوه پر استثمار ولاړ اقتصاد رامنځته کولو لپاره په سوېلي ویلز کې د هغوی راټولېدنې بسنه نه کوله. په استرالیا کې د لاتینې امریکا انتخاب موجود نه و. په دې توګه ساتونکي په داسې مسیر کې واقع شول چې په پایله کې تر برېټانیا هم ډېر پرانېستي بنسټونه رامنځته شول. مجرمینو ته یو لړ دندې ور وسپارل شوې او په اضافي وخت کې هغوی کولای شول چې د ځان لپاره کار وکړي او خپل تولید کړي توکي وپلوري. ساتونکو هم د مجرمینو له اقتصادي ازادیو ګټه اخیسته، تولیدات ډېر شول او ساتونکو پر مجرمینو د توکو د پلور په موخه ځینې انحصارات رامنځته کړل. تر ټولو ډېر ګټور تولیدات د ګنیو شراب «Rum» و. نوی سوېلي ویلز د برېټانیا د نورو مستعمرو په څېر د والي له لوري اداره کېده چې د برېټانیا حکومت ټاکه. په ۱۸۰۶ کال کې «ویلیم بلای» د ویلز والي وټاکل شو. هغه اولس کاله مخکې په ۱۷۸۹ کال کې هغه مهال چې د H.M.S. Bounty بېړۍ پر خلاف خلکو بلوا وکړه، د بېړۍ کپټان و. بلای یو جدي شخص او د عامه نظم د ټینګښت پلوی و او دا هغه ځانګړنه وه چې غالباً د ۱۷۸۹ کال د بلوا لامل ګڼل کېږي. کله چې نوموړی والي هم شو، دریغ یې بدل شوی نه و او د شرابو د انحصار پرضد یې مبارزه وکړه. دغه ټکر یوې بلې بلوا ته لار پرانېسته، چې د پخواني ساتونکي یا عسکر جان مک ارتر له لوري رهبري کېده. دغه پېښه چې د «رام بلوا» په نامه یادېږي، بلای په کې یو ځل بیا ماته وخوړه. برېټانوي چارواکو د بلوا د غلي کولو لپاره سیمې ته لا ډېر ځواکونه واستول. مک ارتر ونیول شو او په بېړۍ

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



کې برېتانیا ته واستول شو. خو نوموړی ډېر ژر خوشې شو او بېرته استرالیا ته ستون شو، څو د یادې مستعمرې په سیاسي او اقتصادي برخو کې مهم رول ولوبوي. د رام بلوا اقتصادي ریښې لرلې. مجرمینو ته د انګېزې ورکولو تګلارې د ارتر په څېر یو شمېر کسان چې په ۱۷۹۰ کال کې په دویمه جوپه بېړیو کې استرالیا ته راغلی و، ښه شتمن کړل. ارتر په ۱۷۹٦ کال کې له پوځه استعفا وکړه او خپل ټول پام یې تجارت ته واړاوه. دا چې ارتر تر دې مخکې د څارویو کاروبار کاوه، متوجې شو چې د وړیو په تولید او صادراتو کې ډېره ګټه ده. دوی د نویو سیمو د موندنې لپاره له سیډنې څخه سفر پیل کړ او د سفر په جریان کې له زرغون غرونو «Blue Mountains » سره مخ شول، چې بالاخره په ۱۸۱۳ کال کې له دې سیمې تر تېرېدو وروسته د استرالیا لویې وچې یوې بلې پراخې شنې سیمې ته ورسېدل. دا د پسونو جنت و. 'مک ارتر' ډېر ژر د استرالیا شتمن کس شو، هغه او نور ملګري یې پر سکواټوریانو «Squatters» چې معنا یې متصرف مالکین یا خانان دي، مشهور شول؛ ځکه چې هغوی پسونه په داسې ځمکو کې څرول چې د دوی نه وې، بلکې د برېتانوي دولت ملکیت و. په لومړیو کې دا یوه کوچنۍ مسئله ګڼل کېده، خو وروسته سکواټوران د استرالیا مشران شول، یا په بله وینا هلته سکواټر سالاري واکمنه شوه. د سوېلي ویلز سکواټر سالارۍ د ختیځې اروپا له استبدادي نظامونو یا د جنوبي امریکا مستعمرو سره ډېر توپیر درلود. دلته عامو وګړو د اتریش-هنګري یا تزاري روسیې په څېر ژوند نه کاوه او نه هم ځایي وګړي د مکسیکو او پیرو په څېر استثمار کېدل. جنوبي ویلز د ویرجینیا له جېمز ټاون سره له څو

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



اړخونو ورته والی درلود: نخبه پاړکي ډېر ژر د اقتصادي بنسټونو په جوړولو کې خپلې ګټې ولیدلې، داسې بنسټونه چې د اتریش-هنګري، روسیې، مکسیکو او پیرو په پرتله ډېر پرانېستي وو. مجرمین یوازینۍ بشري قوه وه او د کار په بدل کې د مزد ورکړه د هغوی لپاره یوازینۍ انګېزه وه. دغو مجرمینو ته اجازه ورکړل شوه چې د کار مشري وکړي او نور مجرمین پر کار وګوماري. تر ټولو مهمه دا چې د مجازاتو د وخت له پوره کېدو وروسته ورته ځمکې ورکړل شوې او بېرته له ټولو حقونو برخمن شول، له دې جملې یو شمېر لکه هېنري کیبل د استرالیا د شتمنو کسانو په ډله کې راغی. نوموړي په ۱۷۹۸ کال کې د «Ramping Horse» په نامه یو هوټل جوړ کړ او یو پلورنځی یې هم درلود. وروسته یې یوه کښتۍ واخیسته او د ځرمنو تجارت یې پیل کړ. کیبل تر ۱۸۰۹ کال پورې په سیډني کې د ۴۷۰ هکتارو په اندازې کرنیزه ځمکه، یو شمېر کورونه او پلورنځي لرل. په نوي سوېلي ویلز کې راتلونکې شخړه د خانانو او د ټولنې د نورو پاړکیو ترمنځ چې له اوسنیو او پخوانیو مجرمینو او د هغوی له کورنیو جوړه وه، پېښېدونکې وه. په خانانو کې د مک ارتر په څېر پخواني ساتونکي او سرتېري او نور ازاد وګړي شامل و. لا هم ډېر مالکیت د همدغو خانانو یا نخبګانو په لاس کې و او پخوانیو مجرمینو او د هغوی د کورنیو د تبعید ختمول او د مالکیت له حقونو برخمن کېدل غوښتل، هغه څه چې خانان یې مخالف و. د خانانو اصلي غوښتنه دا وه چې د دوی تر ولکې لاندې ځمکې باید د دوی شخصي ملکیت وګرځول شي. دا هغو شرایطو ته ورته و چې دوه پېړۍ مخکې شمالي امریکا ور سره مخ وه. څرنګه چې په لومړي څپرکي کې مو ولیدل، په مریلنډ او کارولینا کې د ویرجینیا کمپنۍ پر

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



وړاندې د قراردادیانو د بریالي کېدو په پایله کې شخړې رامنځته شوې. په سوېلي ویلز کې د لارډ بالتیمور او شلي کوپر رول مک ارتر او د هغه سکواټر ملګرو پر غاړه واخیست. که څه هم دا وېره موجوده وه چې مک ارتر او سکواټوران به خپلواکي اعلان کړي، خو د برېټانیا دولت یو ځل بیا د هغوی ترخنګ ودرېد. د برېټانیا دولت په ۱۸۱۹ کال کې د جان بیګ په مشرۍ یوه کمېسیون ته دنده وسپارله چې د حالاتو د ارزونې په موخه جنوبي ویلز ته لاړ شي. بیګ هلته د مجرمینو د امتیازاتو او حقوقو په لیدو سره ټکان وخوړ او په دې مستعمره کې پرانېستي اقتصادي بنسټونو سرې هیښ کړی و. نوموړي هلته د نویو مقرراتو د پلي کېدو وړاندیز وکړ: محکومین نه شي کولای چې ځمکه ولري، له دې وروسته هېڅوک حق نه لري چې محکومینو یا مجرمینو ته مزد ورکړي، پخوانیو مجرمینو ته د ځمکې ورکول باید بند شي او جزاګانې دې سختې شي. بیګ، سکواټورانو ته د اسټرالیا د طبیعي خانانو په سترګه کتل او هغوی باید د ده په نظر په استبدادي ټولنه کې حکومت کړی وای. خو دا کار شونی نه و.

په داسې حال کې چې بیګ د پخواني حالت د راګرځولو هڅه کوله، پخوانیو مجرمینو او د هغوی اولادونو د لا ډېرو حقونو دعوه کوله. تر ټولو مهمه دا چې هغوی د امریکا متحده ایالتونو په څېر د داسې سیاسي بنسټونو د جوړېدو هیله لرله چې په سیاسي مشارکت کې ورته د ګډون زمینه برابره شي. هغوی داسې ټاکنې غوښتې چې ټولو ته د ګډون مساوي زمینه برابره شي او داسې پارلمان یې غوښت چې د هغه په واسطه د حکومت نظارت وکړي. پخواني مجرمین، د هغوی

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



زامن او لونې د نامتو ليکوال او ژورنالېست «ويليام ونټ ورت» له لوري رهبري کېدل. ونټ د هغو کاشفينو په ډله کې وو چې له شنو غرونو واوښت او د سکواټورانو لپاره يې شنې او پراخې ځمکې وموندلې. له مجرمينو سره د ونټ ورت خواخوږي ښايي له دې امله وه چې پلار يې په لويو لارو کې د شوکمارۍ په تور ونيول شو او بيا استراليا ته تبعيد کړل شو. ونټ ورت دا مهال د پرانيستو سياسي بنسټونو، انتخابي جرګې، د منصفه پلاوي په حضور کې د پخوانيو مجرمينو او د هغوی د کورنيو د محاکمه کولو او سوېلي ويلز ته د مجرمينو د لېږد د بنديدو سرسخت پلوی و. نومووړي د «Australian» په نامه يوه ورځپاڼه پيل کړه او بيا وروسته د موجوده بنسټونو پرضد د مبارزې مشر شو. مک ارتر د ونټ ورت او د هغه د ملګرو د مبارزې مخالف و. هغه د ونټ ورت د پلويانو د نومونو په کتارولو سره د هغوی ځانګړنې داسې بيانوي:

- پر اعدام محکوم د لندن يو يهودي چې دلته راغلی خو ځله يې د ګاډۍ شاته دُورې خوړلې.
- يو شراب پلورونکی يهود چې جواز يې لغوه شوی دی.
- يو دلال چې د مريانو د تجارت له امله تبعيد شوی دی او دلته يې دُورې خوړلې دي.
- د دوو مجرمينو زوی
- يو درغلګر چې سخت پوروړی دی
- يو امريکايي دوکه مار
- يو بې شخصيته حقوقي وکيل
- يو پردی چې د موسيقۍ سامان الاتو پلورنځی يې سقوط شوی دی.
- هغه کس چې د دوو مجرمينو له لور سره يې واده کړی.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



- هغه کس چې له یوې چمبه وهونکې مجرمې سره یې واده کړی.

خو د مک ارتر او سکواټورانو ترمنځ دغه اختلاف ونه شوی کولای چې په استرالیا کې روان بهیر وننګوي. د استازولۍ بنسټونو د جوړېدو لپاره کلکه مبارزه روانه وه چې نه ځپل کېدونکې وه. تر ۱۸۲۳ کاله پورې د سوېلي ویلز ټولې حکومتي چارې د والي په لاس کې وې، خو په همدې کال کې د برېټانیا دولت له لوري د یوې شورا په جوړېدو سره د والي واک محدود شو. په لومړیو کې د دې شورا د غړیتوب لپاره د سکواټورانو او غیر مجرمینو له ډلې کسان ټاکل شوي وو، چې مک ارتر هم په کې و، خو دا وضعیت دوامدار نه و. په ۱۸۳۱ کال کې والي ریچارډ بورک فشارونو ته تسلیم شو او په لومړي ځل یې پخوانیو محکومینو ته په منصفه پلاوي کې د غړیتوب اجازه ورکړه. پخواني محکومین او نور ازاد وګړي چې تازه دغې مستعمرې ته کډه کېدل، له برېټانیا څخه د محکومینو د لېږد د بندېدو غوښتونکي وو، ځکه چې دا چاره د کار په بازار کې د رقابت او د مزد د کمېدو لامل کېده. سکواټورانو هڅه کوله چې د کارګرو مزد کم شي، خو بریالي نه شول. په ۱۸۴۰ کال کې سوېلي ویلز ته د مجرمینو لېږد بند شو او په ۱۸۴۲ کال کې د قانون جوړونې یوه شورا جوړه شوه چې دوه ثلثه غړي یې انتخابي او پاتې نور یې انتصابي وو. هغو محکومینو چې کافي جایدادونه لرل، د کاندېدو او رایې ورکونې حق درلود. تر ۱۸۵۰ مې لسیزې پورې په استرالیا کې د سپین پوستو لپاره د رایې ورکونې عمومي حق په رسمیت وپېژندل شو. د خلکو، پخوانیو مجرمینو او د هغوی د کورنیو غوښتنې تر هغه څه لوړې وې، چې ویلیم ونټ ورت په لومړیو کې د هغه تصور کاوه.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



په واقعیت کې ونټ ورت دا مهال د محافظه کارانو په ډله کې و، چې د یوې غیر منتخبې شورا پر جوړېدو یې ټینګار کاوه. خو تر دې مخکې د مک ارتر په څېر، ونټ ورت نه شوای کولای چې د پرانېستو سیاسي بنسټونو پر لور د حرکت مخه ډپ کړي. ویکتوریا ایالت چې په ۱۸۵۱ کال کې له سوېلي ویلز څخه جلا شوی و او تاسمانیا ایالت، په نړۍ کې لومړنۍ سیمې وې چې د ۱۸۵٦ کال په ټاکنو کې پکې سري یا پټې رایې وکارول شوې او همدارنګه د رایو اخیستل او د جبري رایې کارول پکې منع شول. نن ورځ په ټاکنو کې د پټې یا سري رایې ورکونې معیار د استرالیایي میتود په نوم پېژندل کېږي.

په جنوبي ویلز کې د سیډني لومړني شرایط ۱۲۸ کاله مخکې د ویرجینیا په جېمز ټاون کې له موجوده شرایطو سره ډېر ورته والی درلود. خو د جېمز ټاون اوسېدونکي د مجرمینو پر ځای قراردادي کارګران وو. په دواړو سیمو کې لومړنیو شرایطو د زېښښونکو استعماري بنسټونو جوړېدو ته اجازه ور نه کړه. په دواړو سیمو کې د انسانانو داسې ګڼ مېشته سیمې نه وې چې د استثمار وړ کارګران پکې پیدا شي او همدارنګه ګران بیه فلزاتو لکه سرو زرو، سپینو زرو او د کنبت وړ ځمکو ته لاسرسی اسانه نه و. په ۱۷۸۰ یمه لسیزه کې د مریانو تجارت لا هم په کش کې و او سوېلي ویلز کېدای شوای چې له مریانو ډک شي، خو دا کار ګټور نه و. هم د ویرجینیا کمپنۍ او هم سرتېري او ازاد وګړي چې نوی جنوبي ویلز یې اداره کاوه، د پرانېستو اقتصادي بنسټونو رامنځته کولو ته غاړه کېښوده. د ویرجینیا په پرتله په ویلز کې دا پروسه له لږې شخړې سره مل وه او هغه هڅې ناکامه شوې چې د دې بهیر د اپوټه یا معکوس کولو لپاره

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



پیل شوې وې. استرالیا او متحدو ایالتونو د بریتانیا په پرتله د پرانیستو بنسټونو په لور یو متفاوت مسیر طی کړ. هغه پرتمین انقلاب چې بریتانیا یې ولړزوله، په متحدو ایالتونو او استرالیا کې ورته اړتیا نه وه، ځکه چې په یادو هېوادونو کې شرایط ډېر متفاوت و، خو دا په دې معنا نه ده چې په دغو هېوادونو کې پرانیستي بنسټونه له کومې شخړې پرته رامنځته شول، بلکې د امریکا متحده ایالتونو له بریتانوي ښکېلاک څخه تر ازادۍ وروسته د پرانیستو بنسټونو جوړولو ته مخه کړه. په بریتانیا کې استبدادي نظام له کلونو راهیسې واکمن و او د دغه شان یوه نظام ماتول یوازې د انقلاب له لارې شوني و. که څه هم بالتیمور غوښتل چې په مریلنډ کې او جان مک ارتر په سوېلي ویلز کې دغه ډول نظامونه واکمن کړي، خو هدف ته ونه رسېدل. په متحده ایالتونو او استرالیا کې د پرانیستو بنسټونو د موجودیت له امله، صنعتي انقلاب ډېر ژر دغو سیمو ته ریښې وغځولې او د شتمن کېدو په لور یې مزل پیل کړ. نورو مستعمرو لکه کاناډا او نیوزلنډ هم دغه لار تعقیب کړه. له دې پرته د پرانیستو بنسټونو په لور نورې لارې هم موجودې وې. د لوېدیځې اروپا ګڼو هېوادونو د فرانسې لوی انقلاب په پایله کې د پرانیستو بنسټونو په لور د ورتګ دربیمه لار خپله کړه. د فرانسې انقلاب په دغه هېواد کې استبدادي نظام را نسکور کړ او تر یو لړ کورنیو شخړو وروسته د لوېدیځې اروپا په ګڼو سیمو کې بنسټي بدلونونو ته لار هواره شوه. په پایله کې دغو اصلاحاتو په لوېدیځه اروپا کې پرانیستي اقتصادي بنسټونه، صنعتي انقلاب او اقتصادي وده را وټوکول.

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

Downloaded By: Afghan Salar Library



## د خنډونو ماتول: د فرانسې انقلاب

د ۱۷۸۹ کال تر انقلاب وړاندې په فرانسه کې درې پېړۍ استبدادي سلطنتي نظام واکمن و. د فرانسې ټولنه پر دریوو برخو چې «ټولنیز پاړکي» یې بلل، وېشل شوې وه. په لومړي پاړکي کې اشراف، په دویم کې روحانیون او په درېیم کې نور عام وګړي شامل وو. درېیم پاړکي متفاوت حقوق لرل او دوه لومړنیو طبقو هغه حقوق لرل چې نور ترې محروم وو، هغسې لکه له یوه استثماري رژیم څخه چې یې تمه کېږي. اشراف او روحانیون له مالیاتو څخه معاف وو، په داسې حال کې چې عام وګړي د ثو ډوله مالیاتو په ورکولو مکلف وو. کلیسا نه یوازې مالیات نه ورکول، بلکې پراخې ځمکې یې په واک کې لرلې او پر عامو خلک یې ځانګړي مالیات وضع کړي وو. سلطنتي کورنۍ، اشرافو او روحانینو مجلل او شانداره ژوند درلود، په داسې حال کې چې عام خلک له سختې بېوزلۍ کړېدل. قوانینو نه یوازې د اشرافو او روحانینو اقتصادي ګټې خوندي کولې، بلکې هغوی ته یې عام و تام سیاسي واک هم ورکړی و. په اتلسمه پېړۍ کې د فرانسې په ښارونو کې د ژوند شرایط په ډېر ناوړه حالت کې و. د تولید چارې د ځواکمنو صنفي ټولنو له لوري داسې تنظیم شوې وې چې د دې ټولنو غړو ته یې په لویه پیمانه عواید په لاس ورکول او اصنافو هڅه کوله چې د نورو کسانو پر مخ د کاروبار دروازې بندې وساتي. د لرغوني رژیم په نامه مشهور نظام د خپل پایښت او دوام هڅه کوله. د پانګونې او کار پنځونې ډګر ته د نویو کسانو راتګ ته د اړدوړ او بې ثباتۍ په سترګه کتل کېدل. که په ښارونو کې ژوند سخت و، خو په کلیو کې بیا د ناورین تر بریده رسېدلی و. لکه څرنګه چې مخکې مو اشاره وکړه، په فرانسه کې د خان-رعیت

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



افراطي نظام چې خلک يې په ځمکو پورې تړلي وو او فيوډالي خانانو ته به يې ځمکې کرلې، له وړاندې يې په زوال پيل کړی و. کروندګرو بايد سلطنتي کورنۍ، اشرافو او کليسا ته ماليه ورکړې وای. د فرانسې انقلاب د همدغه وضعيت پر وړاندې يو غبرګون و. د ۱۷۸۹ کال د اګست پر ۴ مه د 'ملي بنسټګرې جرګې' له لوري پېشنهاد شوي نوي اساسي قانون فرانسه په بشپړه توګه بدله کړه. د قانون په لومړۍ ماده کې راغلي وو:«په دې توګه ملي جرګه خان-رعيت نظام په بشپړه توګه ملغا اعلانوي. جرګه دغه راز اعلانوي چې اوسني حقوق او وجايب –که فيوډالي او سنسوال دي- او ټول هغه چې له خان-رعيت نظام سره تړاو لري، د غرامت له ورکړې پرته لغوه کېږي.»

وروسته په ۹ مه ماده کې راځي:«د مالياتو په نوم ځانګړي امتيازارت د تل لپاره لغوه کېږي. ماليات بايد له ټولو وګړو او شتمنيو کسانو څخه يو شان واخيستل شي. داسې قوانين بايد جوړ شي چې له مخې يې ماليات د کال په هرو شپږو مياشتو کې په مناسبه بڼه ورکړل شي.»

په دې توګه د فرانسې انقلاب په خپل لومړي ګوزار کې فيوډالي نظام او د هغه اړوند ټول حقوق له منځه يووړل او د اشرافو او روحانينو ټول مالياتي معافيتونه يې لغوه کړل، خو په قانون کې تر ټولو هيښوونکی پرمختګ چې هغه مهال يې تصور هم نه شوی کېدای، يوولسمه ماده وه:«ټول وګړي پرته له دې چې ټولنيز موقف يې په پام کې ونيول شي، دا حق او وړتيا لري چې په ملکي يا نظامي برخو کې دنده اجرا کړي او هېڅ شغل يا مسلک له دې حکم څخه مستثنی نه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



دی.» د قانون په وړاندې برابري او مساوات نه یوازې د ژوند په ورځنیو چارو، بلکې د سیاست په ډګر کې هم عملي شول. په انقلاب پورې د تړلو اصلاحاتو لړۍ د اګست له ۴ مې وروسته هم دوام وکړ. وروسته له ځانګړو مالیاتو د وضع کولو په برخه کې د کلیسا واکونه منحل شول او د روحانینو مقام د دولتي کارمندانو کچې ته راټیټ کړل شو. د سیاسي او ټولنیزو مقامونو د منحلولو په پایله کې د اقتصاد پر وړاندې پراته خنډونه هم له مخې لرې کړل شول، دغه راز صنفي ټولنې منحل او د کسب و کار پر مخ پراته خنډونه اوبه شول. په لومړي سر کې اصلاحات تر ډېره د استبدادي نظام پر له منځه وړلو باندې متمرکز و. که څه هم د اګست د څلورمې تر بدلون وروسته په فرانسه کې څو لسیزې بې ثباتي او کورنۍ جګړه پیل شوه، خو دا له استبدادي نظام او زبېښونکو بنسټونو څخه د پرانېستو سیاسي او اقتصادي بنسټونو په لور نه پر شا کېدونکي ګامونه وو. دغه بدلونونه چې د سیاست او اقتصاد په برخه کې له نورو اصلاحاتو سره بدرګه شول، په ۱۸۷۰ کال کې د درېیم جمهوریت پرمهال اوج ته ورسېدل، چې په پایله کې یې په فرانسه کې پارلمان رامنځته شو؛ کټ مټ هغسې لکه د پرتمین انقلاب په نتیجه کې چې برېتانیا د پیاوړي پارلمان څښتنه شوه. د فرانسې انقلاب کړاوونه، تاوتریخوالی، بې ثباتۍ او شخړې له ځان سره لرلې، خو پر دې سربېره؛ فرانسویان د هغو زبېښونکو او استبدادي بنسټونو له لومې وژغورل شول، چې په ختیځه اروپا کې اتریش-هنګري او روسیې رامنځته کړي وو او د پرمختګ مخه یې پرې ډپ کړې وه.

د فرانسې استبدادي شاهي نظام څنګه د ۱۷۸۹ کال اوښتون ته لار پرانېسته؟ ومو لیدل چې زیاتره استبدادي نظامونه په دې توانېدل

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



چې حتی له سخت اقتصادي رکود او ټولنیزو کړکېچونو سره سره، خپل حیات ته دوام ورکړي. د نورو ګڼو پېښو په څېر چې انقلابونه او هیښووونکي بدلونونه زېږوي، د فرانسې انقلاب هم د بېلابېلو عواملو د یو ځای کېدو په پایله کې رامنځته شو او دغو عواملو د برېټانیا د چټک صنعتي کېدو له واقعیتونو سره ژوره اړیکه درلوده. البته چې دا د تاریخ نا اټکل شوی مسیر و؛ لکه په واک کې د پاتې کېدو لپاره د یو شمېر افرادو د استبدادي نظام د ټینګولو هڅې ناکامې شوې او د ۱۷۸۹ کال انقلاب په فرانسې او د اروپا په نورو برخو کې د بنسټونو د بدلون په برخه کې داسې رول ولوباوه، چې په لومړي سر کې یې هېڅ تصور نه کېده. په فرانسه کې زیاتره قوانین او ځانګړي امیتازات د منځنۍ پېړۍ له دورې څخه په میراث پاتې وو. دغو قوانینو او امتیازاتو نه یوازې د ولس پر وړاندې د لومړي او دویم پاړکي له ګټو دفاع کوله، بلکې د پاچا پر وړاندې یې هم د یادو دوو طبقو ګټې خوندي کولې. څلورم لویي چې د لمر پاچا باندې مشهور و، له ۱٦٦۱ څخه تر ۱۷۱۵ کاله پورې د مرګ تر وخته، ۵۴ کاله پر فرانسې پاچاهي وکړه. نوموړی ان په پنځه کلنۍ کې په ۱٦۴۳ کال کې رسماً پر تخت کېناست. نوموړي د سلطنت د واک مزي ټینګ کړل او د حکومت د استبدادي کولو پروسه چې پېړۍ مخکې پیل شوې وه، لا پسې سخته کړه. ډېری پاچاهانو به د اشرافو له جرګې سره چې د پاچا د خوښې کسان وو، سلا مشوره کوله. که څه هم دغه جرګه تر ډېره محافظه کاره وه، خو بیا هم د پاچا د قدرت پروړاندې یو نرم خنډ ګڼل کېده. همدا لامل و، چې څوارلسم لویي د جرګې د غونډو له دایرولو پرته حکومت وکړ. د هغه د واکمنۍ

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



پرمهال فرانسه په اتلانتیک او خپلو مستعمرو کې د سوداګرۍ پر مټ یوه اندازه اقتصادي ودې ته ورسېده. د لویي د مالیې مخکښ وزیر «جان باپټیست» د دولت تر ولکې لاندې پر صنعت ولاړ پرمختګ څخه څارنه کوله، چې یو ډول استثماري وده یې رامنځته کړې وه. د دې محدودې ودې ګټه یوازې لومړي او دویم پاړکي ته رسېده. لویي د فرانسې د مالیاتي نظام د سمولو په هڅه کې و، ځکه چې دولت د جګړه ییزو لګښتونو، لوی او منظم پوځ د جوړولو، بې شانه دربار، شخصي لګښتونو او د پاچاهي ماڼیو د جوړولو لپاره پیسو ته اړتیا لرله. دا وخت حتی د کوچنیو مالیه ورکوونکو له لوري د مالیې نه ورکولو هم کولای شوای چې د پاچا عواید زیانمن کړي.

کله چې په ۱۷۷۴ کې شپاړسم لویي واک ته ورسېد، سره له دې چې څه نا څه اقتصادي وده موجوده وه، خو ټولنه له یوه سخت کړکېچ سره مخ شوې وه. پردې سربېره، پخوانۍ مالي ستونزې پر اقتصادي ناورین اوښتې وې او د (۱۷۵٦-۱۷٦۳) کلونو ترمنځ د فرانسې او برېټانیا ترمنځ اووه کلنه جګړه ونښته چې په ترځ کې یې فرانسې کاناډايي مستعمره له لاسه ورکړه او سخت زیانونه یې وګالل. ځینو نوموتو سیاسي څېرو هڅه کوله چې د وضعیت د کابو کولو په موخه د سلطنت په بودیجوي جوړښت کې بدلون رامنځته کړي او مالیات لوړ کړي، چې په دې ډله کې د وخت مشهور اقتصاد پوه 'ان-رابرټ-جاکس تورګاټ'، 'جاکس نیکر' چې تر انقلاب وروسته یې مهم رول ولوباوه او 'شارل الکساندر' کالون شامل وو. خو یو یې هم په خپل کار کې بریالی نه و. کالون، شپاړسم لویي ته مشوره ورکړه چې د اشرافو جرګه جوړه کړي. پاچا او سلاکارانو یې هیله لرله چې جرګه یا اسامبله به د دوی اصلاحات تایید کړي، لکه د برېټانیا لومړي

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



چارلېز چې په ۱۶۴۰ کال کې د پارلمان په رابللو سره له سکاټلنډیانو سره د جګړې لپاره د پوځ لګښتونه تصویب کړل. جرګې د تمې خلاف پرېکړه وکړه او څرګنده یې کړه چې د خلکو د استازو په توګه یوازې د «طبقاتو عمومي جرګه» کولای شي چې دغه اصلاحات تصویب کړي. د طبقاتو عمومي جرګه یا اسامبله د اشرافو جرګې په پرتله یو متفاوت جوړښت و. په دویمې کې یې زیاتره لوی اشراف و، چې د پاچا په خوښه ټاکل کېدل، خو په لومړي هغې کې یې بیا د درې واړو پاړکیو استازي شامل و. دغې جرګې خپله وروستۍ غونډه په ۱۶۱۴ کال کې جوړه کړې وه. کله چې د طبقاتو عمومي جرګې په ۱۷۸۹ کال کې په ورسا کې غونډه جوړه کړه، څرګنده شوه چې د هېڅ راز هوکړې امکان نه شته. د نه جوړجاړي ورړ حالت رامنځته شوی و، ځکه چې ټیټ پوړې طبقې دا د ځان لپاره یو فرصت ګاڼه چې له موکې نه په استفادې په سیاسي واک کې خپل رول یقیني کړي او په عمومي جرګه کې د لا ډېر حق غوښتونکي وو، هغه حق چې روحانینو او اشرافو یې مخالفت کاوه. دغه غونډه د ۱۷۸۹ کال د مې میاشتې پر پنځمه له کومې هوکړې پرته پای ته ورسېده او یوازې د «ملي جرګې» په نوم د یوه بل ځواکمن جوړښت د رامنځته کېدو پرېکړه وشوه چې دغه کار سیاسي کړکېچ نور هم پراخ کړ. درېیمې طبقې، په ځانګړې توګه سوداګرو، صنعتکارانو او نورو کسبګرو چې د ډېر واک غوښتونکي وو، روانو تحولاتو ته د خپل زیاتېدونکي نفوذ او واک په سترګه کتل. عامو وګړو چې حالاتو زړور کړي وو، د هغوی په ملاتړ لارو کوڅو ته راووتل چې بالاخره دغه پېښه د جولای په نهمه د بنسټګرو جرګې «Constituent Assembly» په

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



جوړېدو تمامه شوه. په دې وخت کې د هېواد سیاسي چاپېریال او په ځانګړې توګه په پاریس کې وضعیت د کړکېچ خوا ته روان و، د یادې پېښې په غبرګون کې د دربار محافظه کارانو، پاچا وهڅاوه چې د مالیې سمونپال وزیر «نېکیر» له دندې ګوښه کړي، دې کار خلک نور هم راوپارول او پایله یې د «باستیل» مشهور توپان و، چې د ۱۷۸۹ کال د جولای په ۱۴ مه پېښ شو. له دې وروسته انقلاب له خپل ټول زور او ځواک سره پیل شو، نیکیر بېرته دندې ته را وستل شو او 'مارکس دې لافایټ' ته د پاریس د ملي ګارډ مشري وسپارل شوه. هغه څه چې د باستیل له توپانه هم ډېر د پام او ارزښت وړ دي، د 'بنسټګرو ملي جرګې' پرېکړه وه چې پر بنسټ یې د ۱۷۸۹ کال د اګست پر ۴ مه نوی اساسي قانون تصویب شو. د نوي قانون له مخې فیوډالېزم ړنګ او د لومړي او دویم پاړکي ځانګړي امتیازات لغوه شول، خو د دغو بدلونونو په لړ کې جرګه پر دوو برخو ووېشل شوه. دا چې د ټولنې وضعیت او بڼه باید څه ډول وي، په دې اړه د جرګې د غړو ترمنځ د نظر اختلاف موجود و. لومړنی ګام د محلي کلوپونو جوړول وو، چې مهم یې د 'جاکوبین راډیکال کلوپ' و، چې وروسته یې د انقلاب واګې په لاس کې واخیستې. په ورته وخت کې له هېواده په لویه کچه د اشرافو د وتلو لړۍ پیل شوې وه، چې وروسته په «کډوالو» مشهور شول. بل پلو یو شمېر کسانو پاچا دې ته هڅاوه چې په خپله یا د بهرنیو قدرتونو لکه د اتریش په مرسته چې د مَلکې «ماري انتوانېټ» پلرنی ټاټوبی او همدارنګه د کډوالو پناه ځای و، ملي جرګه ړنګه کړي. د انقلاب زیاتره مبارزینو د انقلاب دوه کلنۍ لاسته راوړنې په خطر کې لیدې. د بنسټګرو ملي جرګې د ۱۸۹۱ کال د سپټمبر په ۲۹ مه د اساسي قانون وروستی

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



متن تصویب کړ، چې پر بنسټ یې فرانسه پر یوه مشروط سلطنتي نظام بدله شوه او ټول وګړي له برابرو حقونو برخمن شول. په فرانسه کې شاهي نظام په خپل ځای پاتې شو، خو د پاچا واکونه محدود شول، داسې چې ان ازادي یې هم تر پوښتنې لاندې راغله، خو کله چې په ۱۷۹۲ کال کې د فرانسې او د اتریش په مشرۍ د «لومړي ایتلاف» ترمنځ جګړه ونښته، د انقلاب خوځنده بهیر ټکنی شو. دغې جګړې انقلابیون او خلک د لا ډېر افراطیت او تاوتریخوالي په لور سوق کړل، چې د «sans-culottes» په نوم یادېږي. دا دوره چې د ترور عصر یې بولي، د «جاکوبین ډلې» تر قومندې لاندې د «روبس پییر او ساین جوس» تر مشرۍ لاندې د شپاړسم لویي او ماري انتوانت تر اعدامولو وروسته پیل شوه. د اعدامولو په دې لړۍ کې نه یوازې ګڼ اشراف او انقلاب ضد کسان له منځه یوړل شول، بلکې په خپله د انقلاب مشهورې څېرې او مشران هم لکه «Brissot»، «Danton» او «Desmoulins» د مرګ په سزا محکوم شول. خو د ترور دا لړۍ ډېر ژر له کنټروله ووتله او په پایله کې د ۱۷۹۴ کال په جولای کې په خپله د ترور ډلې د مشرانو لکه د «روبسپییر» او «ساین جوس» په وژل کېدو سره یاده لړۍ پای ته ورسېده. فرانسه د ۱۷۹۵ او ۱۷۹۹ کلونو ترمنځ لومړی د 'ډایرکټري' په نامه د نسبتاً ناکاره حکومت په مشرۍ او وروسته بیا د 'درې کسیزې شورا' پرمهال چې دوکاس، سیاس او ناپیلیون بناپارټ په کې شامل وو، فرانسه نسبي ثبات ته ورسېده. ځوان جنرال ناپلیون بناپارټ چې د ډایریکټري پرمهال په پوځي برخه کې د ځینو بریالیتوبونو او لاسته راوړنه له امله مشهور شوی و، له ۱۷۹۹ کال

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



وروسته په فرانسه کې د یوه اغېزناک او مخکښ کس په توګه را څرګند شو. په دې توګه، درې کسیزې شورا ډېر ژر خپل ځای د ناپلیون یو کسیز حکومت ته پرېښود. د ۱۷۹۹ او ۱۸۱۵ کلونو ترمنځ چې د ناپلیون د واک دوره ده، فرانسه د Austerlitz، Wagram او Jena-Auerstadt په څېر د سترو جګړو د ګټلو شاهده وه، چې د اروپا لویه وچه یې په ګونډو کړه. ناپلیون دا فرصت پیدا کړ چې په خپل قلمرو کې اصلاحات پلي او نوي قوانین چې کوډ[1] یې باله، جوړ کړي. په ۱۸۱۵ کال کې د ناپلیون تر نهایي ماتې او سقوط وروسته، په فرانسه کې یو ځل بیا سیاسي حقونه محدود شول او د اتلسم لویي تر مشرۍ لاندې پاچاهي نظام را ژوندی شو، خو دغو ټولو بدلونونو بالاخره ورو- ورو د پرانیستو سیاسي بنسټونو جوړولو ته زمینه برابره کړه. د ۱۷۸۹ کال د انقلاب له زړه څخه راټوکېدلو قوتونو په فرانسه کې استبداد او مطلقیت ته د پای ټکی کېښود او پایله کې یې په فرانسه کې د پرانیستو بنسټونو اساس کېښود. فرانسې او د اروپا هغه برخې چې د انقلابي اصلاحاتو لړۍ ور رسېدلې وه، په نولسمه پېړۍ کې د صنعتي کېدو له بهیر سره یو ځای شول.

## د انقلاب خپرېدل

د فرانسې انقلاب (۱۷۸۹) په لړ کې په ټوله اروپا کې د یهودیانو پر وړاندې سخت محدودیتونه وضع شول. د بېلګې په توګه، د جرمني په فرانکفورټ کې د یهودیانو د اوسېدنې لپاره داسې قوانین وضع شول، چې د منځنۍ پېړۍ له حالاتو سره یې اړخ لګاوه. د دې قوانینو له مخې په فرانکفورټ کې یوازې ۵۰۰ کورنۍ یهودیانو په یوه کوچنې

[1] Code

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



ځانګړي ښارګوټي کې چې جودن ګاس[1] يې باله، د اوسېدو حق درلود. دغو يهوديانو د شپې مهال، د يکشنبې په ورځو او د مسيحي مناسبتونو په وخت کې له ښارګوټي د باندې وتلو اجازه نه درلوده. د يهوديانو په 'جودن ګاس' ښارګوټي کې له حده ډېر نفوس راټول شوی و، دوی تر سخت څار او فشار لاندې و او هر کال به د يهودو دوه کورنۍ په ښارګوټي کې منل کېدې، همدارنګه هرکال دولس جوړې کسانو ته د واده اجازه ورکول کېده، نجلۍ او هلک بايد د واده پرمهال د پنځه ويشت کلنۍ عمر پوره کړی وای. يهودو دغه راز د کرکيلې او د وسلو، درملو، مشروباتو او غلو-دانو د تجارت حق نه درلود. تر ۱۷۲۶ کاله پورې د يهوديانو لپاره ځانګړې جامې مشخصې شوې وې، چې د نارينه وو لپاره دوه زېړې کړۍ او د ښځو لپاره نرۍ حجاب و. يهوديان د مالياتو په ورکړې مکلف و.

د فرانسې د انقلاب په اوج کې د «ماير امشيل روچيلډ» په نامه يوه برياليي ځوان تاجر د فرانکفورټ په جودن ګاس کې ژوند کاوه. روچيلډ د ۱۷۸۰ يمې لسيزې تر لومړيو پورې په فرانکفورټ کې د سکو، فلزاتو او لرغونو اثارو د سوداګرۍ په برخه کې يو وتلی نوم و، خو نوموړي د ښار د نورو يهوديانو په څېر حق نه درلود چې له خپلې ټاکلې سيمې بهر کاروبار او يا حتی له هغې بهر ژوند وکړي. خو وضعيت د بدلېدو په حال کې و، په ۱۷۹۱ کال کې د فرانسې ملي جرګې پر يهوديانو د محدوديتونو د لرې کولو او د هغوی لپاره د ازادۍ د ورکړې پرېکړه وکړه. همدارنګه د فرانسې پوځ دا مهال د راينلنډ او د جرمني په لوېديځ کې د يهودو په ازادولو بوخت و.

[1] Judengasse

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



فرانسویانو په ۱۷۹۶ کال کې پر فرانکفورټ د توپونو خوله ور سمه کړه او نیمایي جودن ګاس یې ویجاړ کړ، د جګړې له امله نږدې ۲،۰۰۰ یهودیانو خپل کورونه پرېښودل او د فرانکفورټ نورو خوندي سیمو ته و کوچېدل، چې روچیلډ هم په دې ډله کې و. تر دې وروسته یهودیانو کولای شول چې په جرمني کې ازادانه کاروبار وکړي. دوی د اتریش پوځ ته د خوړو او غلو دانو د برابرولو قرارداد ترلاسه کړ او روچیلډ ډېر ژر د فرانکفورټ د شتمنو یهودیانو په ډله کې راغی. یهودیانو باید د بشپړې ازادۍ لپاره تر ۱۸۱۱ کاله پورې انتظار کړی وای، ځکه کله چې ناپلیون پر جرمني یرغل وکړ، په ۱۸۰۶ کال کې یې 'کارل فون دالبرګ' د فرانکفورټ والي ټاکلی و او نوموړي دغه اصلاحات په تدریجي توګه تر ۱۸۰۱۱ کال پورې عملي کړل. په دې وخت مایر امشیل خپل زوی ته وویل:«ته دا دی اوس یو سیټیزن یې»

د یهودیانو د ازادولو لپاره مبارزه په دې پېښې سره پای ته ونه رسېده، ځکه چې حالات بېرته پر شا لاړل، په ځانګړې توګه په ۱۸۱۵ کال کې د ویانا کنګرې په ترڅ کې چې تر ناپلیون وروسته یو لړ نوي سیاسي توافقات وشول. خو د یهودیانو ښارګوټي ته د روچیلډ بېرته تګ هېڅ ممکن نه و، مایل امشیل او زامنو یې ډېر ژر د اروپا د نولسمې پېړۍ ستر بانک جوړ کړ چې په فرانکفورټ، لندن، پاریس، ناپل او ویانا کې یې څانګې درلودې. دا یوازینۍ پېښه نه وه. لومړی د فرانسې انقلابي پوځ او بیا وروسته ناپیلیون د اروپا لویې وچې یوه ستره برخه لاندې کړه. هغه سیمې چې فرانسویانو نیولې وې، د منځنۍ پېړۍ بنسټونه او سیستمونه یې لرل چې د پاچاهانو، شهزادګانو او اشرافو په ګټه را څرخېدل او په ښارونو او لرې پرتو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



سیمو کې یې پر تجارت محدودیتونه لګولي وو. دلته د فرانسې په نسبت، په زیاترو سیمو کې فیوډالېزم او خان-رعیت نظام ته ډېر ارزښت ورکول کېده. د پروس او اتریش-هنګري په ګډون په ختیځه اروپا کې د سرفیانو یا رعایا ژوند په ځمکو پورې تړلی و. د خان-رعیت نظام دغه ناوړه بڼه په لوېدیځه اروپا کې له منځه تللې وه، خو لا هم رعایا فیوډالي خانانو ته د امتیازاتو او مالیاتو په ورکولو او د نورو چارو په ترسره کولو باندې مکلف و. د مثال په توګه، د ناساو-یوزینګېن په حکومت کې رعایا د ۲۳۰ بېلابېل ډوله محصول، مالیاتو او خدماتو په ترسره کولو مکلف و، د محصول د ورکړې په برخه کې یو هم د عشر په نوم د څارويي د ذبحه کولو محصول و. د مچیو د شاتو عُشر او د موم عُشر هم اخیستل کېده. د ځمکو د پلور او پېر په معاملاتو کې خانانو خپله ونډه درلوده. په دې سیمه کې صنفي ټولنې هم چې د ښار ټول اقتصادي فعالیتونه یې تنظیمول، د فرانسې په پرتله قوي وې. د جرمني په ختیځو ښارونو کولن او اخن کې د نساجۍ ماشینونه د اصنافو له لوري منع شوي وو. زیاتره ښارونه، د سویس له برن څخه نیولې د ایټالیا تر فلورانس پورې د یو شمېر محدودو کورنیو له لوري اداره کېدل. خو کله چې په فرانسه کې مطلق العنان نظام ړنګ، فیوډالي مناسبات او صنفي ټولنې له منځه لاړل او د قانون برابري مخته راغله؛ انقلابي مشرانو او وروسته ناپلیون یادو سیمو ته هم انقلاب خپور کړ. د قانون په وړاندې برابري د قانون د واکمنۍ تر ټولو مهم مفهوم جوړوي چې په راتلونکي څپرکي به په جزیاتو پرې خبرې وکړو. په دې توګه د فرانسې انقلاب نه یوازې خپله فرانسه، بلکې د اروپا نورې سیمې هم د پرانیستو

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*




بنسټونو او اقتصادي ودې جوګه وګرځولې. په ۱۷۹۰ یمه لسیزه کې یو شمېر اروپايي قدرتونه د فرانسې له تحولاتو څخه په وېره کې و او له همدې کبله د شپاړسم لويي د ژغورنې په پلمه يې د اتريش په محوريت پر فرانسې د برید هوډ وکړ. تمه وه چې د انقلاب له لوري د جګړې ډګر ته استول کېدونکي موقتي ځواکونه به له ماتې سره مخ شي، خو تر څو لومړنیو ماتو وروسته د نوې جمهوري فرانسې ځواکونه په هغې جګړه کې بريالي شول چې په لومړي سر کې دفاع وه. په جګړه کې د مديريت او انسجام په برخه کې ستونزې موجودې وې چې بايد حل شوې وای، خو فرانسويانو په دې وخت کې پر يوه ستر ابتکار لاس پورې کړ چې هغه د ولسي قوت يا لښکرو راټولول و. مخکې له دې چې فرانسويان په جګړه کې د ناپلیون نظامي مهارتونه وکاروي، د ولسي ځواکونو کارونې فرانسويانو ته دا چانس ورکړ چې په جګړه کې ګټونکي شي.

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*






۱۷مه نقشه: د ناپیلیون امپراتوري

لومړنیو پوځي بریالیتوبونو، د جمهوریت مشران وهڅول چې د فرانسې او په پروس او اتریش کې د سیالو قدرتونو ترمنځ د قوي سپر په رامنځته کولو سره د فرانسې پولې پراخې کړي. فرانسویانو ډېر ژر هالنډ او د هغه متحد ایالتونه چې اوسمهال د بلجیم او هالنډ سیمې دي او پخوا د اتریش اړوند وې، ونیولې. فرانسویانو دغه راز د اوسني سویس ډېرې برخې لاندې کړې او د ۱۷۹۰ لسیزې تر پایه یې یادې درې واړه سیمې په خپل ولکه کې وساتلې. جرمني په لومړیو کې سخت مقاومت وکړ، خو په ۱۷۹۵ کال کې یې راینلنډ وبایله. پروس یا جرمني مجبور شو چې د باسل تړون په ترڅ کې دغه سیمه په رسمیت وپېژني. فرانسویانو د ۱۷۹۵ او ۱۸۰۲ کلونو ترمنځ

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



یوازې راینلنډ سیمه په واک کې لرله او په ۱۸۰۲ کال کې راینلنډ رسماً د فرانسې برخه شوه. د ۱۷۹۰ یمې لسیزې په نیمایي کې ایټالیا له اتریش سره د جګړې په لومړۍ کرښه کې پاتې شوه. په ۱۷۹۲ کال کې ساوې هم له فرانسې سره وتړل شوه او په ۱۷۹۶ کال کې د ناپیلیون تر یرغل مخکې، په جګړه کې بن بست رامنځته شو. د ۱۷۹۷ کال په لومړیو کې ناپلیون د لویې وچې په لومړي عملیاتو کې له وینز پرته چې هغه مهال د اتریش په لاس کې و، کابو ټوله شمالي ایټالیا اشغال کړه. د ۱۷۹۷ کال په اکتوبر کې له اتریش سره د کامپو-فورمیو تړون په لاسلیک سره د لومړي ایتلاف جګړه پای ته ورسېده او د فرانسې تر ولکې لاندې د یو شمېر جمهوریتونو موجودیت په رسمیت وپېژندل شو، خو پر تړون سربېره هم، فرانسویانو د ۱۷۹۷ کال په مارچ کې د پاپال ایالتونو په اشغال او د روم جمهوریت په تاسیس سره، په ایټالیا کې خپل پرمختګ ته دوام ورکړ. د ۱۷۹۹ کال په جنورۍ کې ناپل ونیول شو او د پارتنوپیین جمهوریت جوړ شو. له وینز پرته چې د اتریش په لاس کې و، فرانسویانو دا دی د ایټالیا ټوله ټاپو وزمه لاندې کړې وه. د ایتلاف په دویمه جګړه چې د ۱۷۹۸ او ۱۸۰۱ کلونو ترمنځ پېښه شوه، له شاتګ او پرمختګ سره مله وه، خو فرانسویانو وکولای شول چې خپلې سیمې وساتي. فرانسویانو په خپلو مستعمرو کې په افراطي اصلاحاتو لاس پورې کړ چې د خان-رعایت نظام د پاتې شونو له منځه وړل، د قانون په وړاندې د برابرۍ رامنځته کول او د فیوډالي مناسباتو له منځه وړل پکې شامل و. د روحانینو ځانګړي امتیازات او واکونه لغوه شول او په ښاري سیمو کې صنفي ټولنې یا له منځه یووړل شوې او یا هم کمزورې کړل شوې. په اتریشي هالنډ کې دغه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



پروسه په ۱۷۹۵ کال کې د فرانسویانو له یرغل سره هممهاله پیل شوه او په متحده ایالتونو کې کوم چې فرانسویانو د «باتاویان جمهوریت» پکې تاسیس کړی و، دا پروسه د فرانسې بنسټونو ته ورته د سیاسي بنسټونو په رامنځته کېدو تمامه شوه. په سویس کې هم ورته وضعیت و، صنفي ټولنو او ځمکوالو فیوډالانو او کلیسا ماتې وخوړه، فیوډالي امتیازات له منځه لاړل او صنفي ټولنې بې واکه شوې.

ناپلیون د فرانسې د انقلابینو لار تعقیب کړه. د ناپلیون لومړنۍ او مهمه غوښتنه پر اشغال شویو سیمو د ولکې ټینګول و، خو دغه کار کله کله له ځایي مخورو سره د اړیکو پرې کول یا د ناپلیون د کورنیو غړو او نورو نږدې خپلوانو ته د مسوولیتونو ور سپارل له ځان سره لرل، هغه څه چې پر پولنډ او هسپانیا د لنډې ولکې پرمهال پېښ شول. خو ناپلیون لا هم د انقلابي اصلاحاتو عملي کولو ته د زړه له تله ژمن و. تر ټولو مهمه دا چې نوموړي رومن حقوق « Roman law» تدوین کړل او د قانون په وړاندې د برابرۍ نظریه یې په یوه حقوقي نظام کې تنظیم کړه چې د ناپلیون کوډ په نامه یادېږي. ناپلیون دغه قانون خپل تر ټولو لوی میراث ګاڼه او غوښتل یې چې تر خپلې ولکې لاندې په ټولو سیمو کې یې پلی کړي. هغه اصلاحات چې د فرانسې انقلاب او ناپلیون له لوري عملي شول، طبیعي خبره ده چې تلپاتې نه و. د ناپیلیون تر سقوط وروسته په ځینو سیمو او په ځانګړې توګه د جرمني په «هانور» کې نخبګان یو ځل بیا واک ته ورسېدل او په دې سره د فرانسویانو لاسته راوړنې په اوبو لاهو شوې، خو په ځینو سیمو کې فیوډالېزم، صنفي ټولنې او اشرافیت د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



تل لپاره له منځه لاړل او یا هم کمزوري شول. همدارنګه تر ناپليون وروسته هم په ګڼو سيمو کې د ناپليون قانون عملی کېده. فرانسوي پوځيانو په اروپا کې ډېرې ستونزې او کړاوونه وزېږول، خو په ټوله کې په سياسي او اقتصادي جوړښتونو کې يې بنسټيز بدلونونه رامنځته کړل. د اروپا په ډېرو سيمو کې فيوډالي مناسبات، د صنفي ټولنو واکونه، د پاچاهانو او شهزادګانو کورواک حکومتونه، د روحانينو اقتصادي، سياسي او ټولنيز قدرت او په ټوله کې د زاړه نظام ستنې ونړول شوې. دغو بدلونونو پراخ‌بست ډوله اقتصادي بنسټونه وزېږول چې وروسته يې صنعتي کېدو ته لار پرانېسته. د نولسمې پېړۍ تر لومړيو پورې د فرانسې تر ولکې لاندې په زياتره سيمو کې صنعتي انقلاب ريښې وغځولې، په داسې حال کې چې د اتريش-هنګري او روسيې په څېر سيمې چې له ناپيليون څخه خوندي پاتې شوې، يا پولنډ او هسپانيا چې د لنډ وخت لپاره فرانسويانو سره وې؛ له پرمختګونو وروسسته او په رکود کې پاتې شوې.

## د موډرنېزم په لور ګامونه

د ۱۸٦۷ کال په مني کې د جاپان امپراتورۍ تر ولکې لاندې د 'سات سوما' قلمرو يوې مخکښې څېرې «اوکوبو توشوميچي» د ايدو ايالت له پلازمېنې چې اوس توکيو نومېږي، ياماګوچي ښار ته سفر وکړ او د اکتوبر په ۴ مه يې د چوشو قلمرو له مشرانو سره وليدل. هغه يو ډېر ساده وړانديز درلود: له ده سره دې يو ځای شي، ځواکونه دې د ايدو په لور مارش کړي او د جاپان واکمن «شوګن» دې را وپرځوي. هغه تر دې مخکې د «توسا» او «اکي» قلمرونو

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



مشران هم د خپل دغه پلان ملګري کړي وو. د چوشو مشرانو تر هوکړې وروسته، د «ساتچو» په نامه پټ ایتلاف تشکیل شو.

جاپان په ۱۸۶۸ کال کې له اقتصادي پلوه وروسته پاتې هېواد و او له ۱۶۰۰ م کال راهیسې د «توکوګاوا» کورنۍ له لوري چې مشر یې په ۱۶۰۳ کال کې د شوګان «قومندان» لقب خپل کړ، اداره کېده. د جاپان امپراتور ګوښه کړل شو او یوازې تشریفاتي رول ور پاتې شو. د توکوګاوا شوګانان د فیوډالي خانانو څواکمنه طبقه وه چې د امپراتورۍ پر ټولو قلمرونو یې واکمني کوله او مالیات یې راټولول. د دې قلمرونو له ډلې یو یې 'ساتسوما' و، چې د شیمازو کورنۍ په کې حکومت کاوه. دغو خانانو چې د سامورای په نامه پوځ یې درلود، د اروپا منځنۍ پېړۍ ته ورته ټولنه یې اداره کوله؛ داسې ټولنه چې سخت سوداګریز محدودیتونه، د کسب و کار سخته ډلبندي او لوړ مالیات پکې وضعه شوي وو. شوګان چې پر ایدو یې حکومت کاوه، بهرنی تجارت یې انحصار کړی و او هېواد ته یې د بهرنیانو پر راتګ بندیز لګولی و. جاپان دا مهال له سختې بېوزلۍ او زیبښونکو سیاسي او اقتصادي بنسټونو کړېده، خو شوګان پر ټولو سیمو بشپړ واک نه درلود، ان کله چې په ۱۶۰۰ کال کې توکوګاوا کورنۍ واک ته ورسېده، ویې نه شوی کولای چې ټولې سیمې تر خپلې ولکې لاندې راولي. په جنوب کې د ساتسوما قلمرو په بشپړ ډول خپلواک پاتې شو او ان د ریوکیو ټاپوګانو له لارې یې له بهرنۍ نړۍ سره سوداګریزه راکړه ورکړه درلوده. اوکوبو په ۱۸۳۰ کال کې د ساتسوما په پلازمېنه کاګوشیما کې زیږېدلی و. دا چې پلار یې یو سامورایي و، دی هم سامورایي شو. د ساتسوما مشر 'شیمازو نارياکیرا' د نوموړي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



پر وړتیا او ځیرکۍ پوه شوی و او ډېر ژر یې په حکومت کې د لوړ مقام خاوند کړ. شیمازو نارياكيرا پلان درلود چې د ساتسوما پوځیانو پرمټ شوګان را وپرځوي. نوموړي غوښتل چې له اسیا او اروپا سره تجارت پراخ کړي، زاړه فیوډالي اقتصادي بنسټونه له منځه یوسي او په جاپان کې د موډرن دولت بنسټ کېږدي. خو د نوموړي دغه نوی پلان په ۱۸۵۸ کال کې د هغه په مړینې سره نیمګړی پاتې شو. د هغه ځایناستي شیمازو هیسامیتسو په پیل کې له ډېر احتیاط څخه کار اخیست. اوکوبو توميشچي دا مهال مطلق دې نتیجې ته رسېدلی و، چې په جاپان کې نور د شوګانانو د فیوډالي نظام د چپه کولو وخت را رسېدلی او شیمازو هیسامیتسو ته یې په دې اړه قناعت ورکړ. هغوی د امپراتور د څنډې ته کېدو په غبرګون کې له اعتراضونو څخه په ګټې اخیستنې خپله طرحه د عمل ډګر ته وړاندې کړه او د خلکو د ملاتړ ترلاسه کولو ته یې مخه کړه. هغه تړون چې اوکوبو توشیمیچي له توسا قلمرو سره له وړاندې لاسلیک کړی و، څرګندوله چې:«یو هېواد دوه پاچاهان نه لري، یو کور دوه مشران نه لري، دولت یو مشر ته سپارل کېږي»، خو هدف یوازې امپراتور ته د واک بیا ستنول نه و، بلکې د سیاسي او اقتصادي بنسټونو بدلول و. د توسا له اړخه د تړون یو تن لاسلیکوونکی 'ساکاموتو ریوما' نومېده. کله چې ساتسوما او چوسو خپل ځواکونه تیار کړل، ساکاتومو ریوما شوګان ته یو اته ماده یي طرحه وړاندې کړه او له نوموړي یې وغوښتل چې د کورنۍ جګړې د مخنیوي لپاره استعفا وکړي. دا یوه افراطي طرحه وه چې په لومړۍ ماده کې یې راغلي وو:«سیاسي واک باید سلطنتي دربار ته وسپارل شي او د هر ډول فرمانونو د صادرولو واک دې ورکړل شي»، خو په دې طرحه کې تر دې هم لوړې غوښتنې په کې شاملې

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



وې چې امپراتور به بیا واک ته راځي. په دویمه، درېیمه، څلورمه او پنځمه ماده کې زیاته شوې وه:

۲) دوه قانون جوړوونکې جرګې [ولسي جرګه او مشرانو جرګه] باید جوړ شي او د دولت ټولې پرېکړې باید د خلکو د رایو پر اساس وي؛

۳) د خانانو، اشرافو او مخکنبو کسانو له منځه باید وړ کسان د جرګې د غړیتوب لپاره وټاکل شي او اړتیا ده چې پخوانۍ دودیزې ادارې چې اوس یې شتون ته اړتیا نه لیدل کېږي، له منځه یووړل شي؛

۴) بهرنۍ چارې باید د هغو قواعدو او مقرراتو پر اساس منظمې شي چې د عامه ارادې پر بنسټ طرحه شوې وي؛

۵) پخواني قوانین او مقررات باید منحل او نوي قوانین وضعه شي.

شوګان یوشینوبو اړ شو چې استعفا ته غاړه کېږدي او د ۱۸۶۸ کال د جنورۍ په ۳ یمه د مېجي بیا راتګ اعلان شو. مېجي هغه وخت واک ته ورسېد، کله چې پلار یې امپراتور «کومي» تر یوې میاشتنۍ واکمنۍ وروسته ومړ. سره له دې چې د ساتسوما او چوشو ځواکونو ایدو او د امپراتورۍ مرکز کیوتو اشغال کړي وو، خو وېره یې لرله چې توکوګاوا کورنۍ بېرته د واک ترلاسه کولو هڅه ونه کړي. اوکوبو توشیمیچي غوښتل چې توکوګاوا د تل لپاره له صحنې څنډې ته کړي. نوموړي امپراتور دې ته وهڅاوه چې د توکو ګاوا قلمرو ونیسي. پخواني شوګان شینوبو د جنورۍ په ۲۷ مه د ساتسوما او چوشو پر پوځونو یرغل وکړ او کورنۍ جګړه پیل شوه. جګړې تر دوبي پورې تر هغې دوام وکړ چې توکو ګاوا مات شو. د میجي بیا

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



راستنېدنه له رغوونکو بنسټي اصلاحاتو سره مله وه. په ۱۸۶۹ کال کې په جاپان کې فيوډالي نظام ړنګ او ټول ۳۰۰ فيوډالي خپلواک حکومتونه د مرکزي دولت تر حاکميت لاندې راغلل، چې وروسته هر ايالت د يوه والي له لوري اداره کېده. مالياتي سيستم متمرکز شو او موډرن بيروکراټ دولت د زاړه فيوډالي دولت ځای ونيوه. په ۱۸۶۹ کال کې ټول وګړي د قانون په وړاندې مساوي وګڼل شول او پر کورنۍ کډوالۍ او سوداګرۍ لګېدلي محدوديتونه له منځه يووړل شول. د ساموراييي طبقاتي سيستم له مخالفتونو او بلواوو سره سره منحل شو. پر ځمکو او جايدادونو د مالکيت خصوصي حق ومنل شو او خلکو ته حق ورکړل شو چې په خپل زړه ځان ته کاري شغل وټاکي. دولت په چټکۍ د زېربنا جوړولو ته مخه کړه. د اوسپنې پټلۍ په اړه د پخواني استبدادي رژيم د تګلارې برعکس، نوي رژيم په ۱۸۶۹ کال کې د توکيو او اوساکا ترمنځ د بخار بېړۍ يوه ليکه جوړه کړه او همدارنګه په لومړي ځل د توکيو او يوکاهاما ترمنځ رېل کرښه جوړه شوه. دولت دغه راز د صنعت پر پراختيا لاس پورې کړ او اوکوبو توشيميچي د ماليې د وزير په توګه د صنعتي کېدو د سنټراليزېشن د څارنې مسووليت هم پر غاړه واخيست. د ساتسوما ايالتي حکومت د کولالۍ فابريکو د جوړونې، د توپخانو د جوړونې، تار اوبدنې او په ۱۸۶۱ کال کې په جاپان کې په لومړي ځل د پنبې د پروسس په موخه له برېټانيا څخه د نساجۍ ماشينونو د واردولو مسووليت پر غاړه درلود. هغه همدارنګه د بېړۍ جوړونې دوه موډرنې کارخانې جوړې کړې. جاپان په اسيا کې لومړنی هېواد و، چې په ۱۸۹۰ کال کې د ليکلي اساسي قانون څښتن شو او له انتخابي پارلمان «Diet» سره يې يو مشروطه پاچاهي نظام او خپلواک قضايي

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



ارګان هم رامنځته کړل. دغه بدلونونه هغه ټاکوونکي فکتورونه وو چې جاپان یې په اسیا کې د یوازیني هېواد په توګه له صنعتي انقلاب څخه په ګټې اخیستنې بریالی کړ.

د نولسمې پېړۍ په لومړیو کې چینایان او جاپانیان دوه هغه بېوزله ملتونه وو چې له استبداد سره یې لاس و پنجه نرموله. د چین استبدادي رژیم لسیزې لسیزې د بدلون او تحول په اړه شکمن او بدبینه و. که څه هم د چین او جاپان ترمنځ ډېر ورته والی لیدل کېږي- د مثال په توګه د توکوګاوا شوګانانو په اولسمه پېړۍ کې پر بهرني تجارت بندیز ولګاوه، هغه څه چې تر دې مخکې چینایي امپراتورانو په چین کې کړي وو او له سیاسي او اقتصادي بدلونونو سره مخالف وو- خو په سیاسي برخه کې یې ترمنځ د پاموړ توپیرونه هم موجود و. چین یوه متمرکزه بیروکراټیکه امپراتوري درلوده چې په راس کې یې یو مستبد او مطلق العنان امپراتور و. امپراتور د خپل واک پر وړاندې ګواښونه هم احساسول، چې مهم یې ولسي پاڅونونه وو. د ۱۸۵۰ او ۱۸۶۴ کلونو ترمنځ د «تاییپنګ پاڅون» په جریان کې د جګړې او قحطۍ له کبله په میلیونونو انسانان ووژل شول او په پایله کې ټول جنوبي چین ویجاړ شو، خو له امپراتور سره مخالفت بیا هم نهادینه نه شو. د جاپان د سیاسي بنسټونو جوړښت متفاوت و. د شوګانانو حکومت، امپراتور ګوښه کړی و، خو لکه چې ومو لیدل، د توکوګاوا واکمني مطلقه نه وه او د ساتسوما په څېر قلمرونه عملاً خپلواک او حتی په بهرني تجارت کې یې خلاص لاس درلود. د فرانسې په څېر، د چین او جاپان لپاره د برېټانیا د صنعتي انقلاب یوه اغېزه د هغوی نظامي اسیب پذیري وه. د ۱۸۳۹-۱۸۴۲

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



کلونو ترمنځ د «تریاکو لومړۍ جګړې» په جریان کې د برېټانیا سمندري ځواکونو چین ته ماتې ورکړه او جاپان هم له عین ګواښ سره هغه مهال مخ شو، کله چې په ۱۸۵۳ کال کې د قومندان 'ماتیو پېري' په مشرۍ د امریکا جنګي بېړۍ د جاپان ایدو خلیج ته ورسېدې. دا واقعیت چې اقتصادي وروسته پاتې والي، نظامي وروسته پاتې والی رامنځته کړی و؛ هغه انګېزه وه چې په جاپان کې یې شوګانان را وپرځول او په پایله کې د میجي په بیا راتګ تمامه شوه. د ساتسوما قلمرو مشرانو درک کړې وه چې اقتصادي پرمختګ او یا حتی د جاپان بقا، یوازې د بنسټونو د اصلاحاتو له لارې ممکن دي، خو شوګان له دې کار سره مخالف و، ځکه چې په موجوده بنسټونو کې یې ګټې نغښتې وې. د بنسټي اصلاحاتو لپاره باید شوګان رانسکور شوی وای، چې همداسې وشول. په چین کې هم ورته وضعیت و، خو د لومړنیو سیاسي بنسټونو شتون د امپراتور راپرځول ستونزمن کړي وو او دا پلان تر ۱۹۱۱ کاله پورې وځنډېد. د بنسټونو د اصلاحاتو پر ځای چینایانو هڅه کوله چې د عصري وسلو په واردولو سره له برېټانویانو سره سیالي وکړي، خو جاپان د خپلو وسلو صنعت ته وده ورکړه. ددغو توپیرونو لامل دا و چې دواړو هېوادونو د نولسمې پېړۍ د ګواښونو پر وړاندې متفاوتې تګلارې خپلې کړې او د صنعتي انقلاب په جریان کې د رامنځته شوې حساسې مقطعې په وړاندې چین او جاپان جلا مسیرونه انتخاب کړل. د جاپان په بنسټونو کې د اصلاحاتو په عملي کېدو سره، دغه هېواد د چټکې ودې په لور وخوځېد، خو په چین کې هغه ډلې چې د بنسټي بدلونونو په برخه کې یې رول لوبولی شوی، کافي قدرت نه درلود، له همدې امله په چین کې زېبښونکي بنسټونه تر ډېره په خپل ځای پاتې شول،

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



تر دې چې په ۱۹۴۹ کال کې د ماوو کمونېستي انقلاب وضعیت نور هم ناوړه کړ.

## د نړیوالې نا انډولۍ ریښې

په دې څپرکي او په تېرو درېیوو څپرکو کې وویل شول چې په بریټانیا کې د پرانیستو سیاسي او اقتصادي بنسټونو جوړېدو څنګه صنعتي انقلاب ممکن کړ او څنګه یو شمېر هېوادونه له صنعتي انقلاب څخه برخمن او د ودې خاوندان شول، خو ځینو نورو بیا دا کار و نه کړ او یا یې حتی د صنعتي کېدو پیل شوې پروسه په نطفه کې شنډه کړه. هغه هېوادونه چې صنعتي شول، د بنسټونو کمال یې و. د اتلسمې پېړۍ تر وروستیو پورې د امریکا متحده ایالتونو چې د بریټانیا د پرتمین انقلاب په څېر بدلونونو څخه بریالی راوتلی و، تر ډېره بریده خپل سیاسي او اقتصادي بنسټونه پراخ او سم کړل، له همدې امله امریکا د نړۍ لومړنی هېواد و، چې له بریټانیا څخه نوې رالېږدېدلې ټکنالوژي یې وکاروله او ډېر ژر له بریټانیا هم مخکې شو او د صنعتي کېدو او ټکنالوژیکي پنځونو په لومړۍ لیکه کې ودرېد. استرالیا که څه هم ډېر وروسته او په لږې پاملرنې سره، خو د مشابه یا ورته بنسټونو په لور حرکت پیل کړ. د دې هېواد وګړي هم د انګرېزانو او امریکایانو په څېر مجبور وو چې د پرانیستو بنسټونو د رامنځته کولو لپاره مبارزه وکړي او کله چې دغه هدف ته ورسېدل، استرالیا د ځانګړې اقتصادي ودې څښتنه شوه. استرالیا او متحده ایالتونه له دې کبله ژر صنعتي شول او پرمختګ یې وکړ، چې نسبتاً پرانیستي بنسټونه یې د نوښتونو، نوې ټکنالوژۍ او خلاق تخریب پر وړاندې خنډ نه شول. خو ګڼو نورو اروپایي مستعمرو دا کار و نه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



کړ، بلکې هغوی د امریکا او استرالیا برعکس عمل وکړ. په استرالیا او متحده ایالتونو کې د استثمار لپاره د بومي وګړو او سرچینو نشتوالي، په دغو هېوادونو کې د استعمار محتوا بدله کړه، سره له دې چې وګړو یې د خپلو سیاسي حقونو او پرانیستو بنسټونو لپاره مبارزه کوله.

مولوکان ټاپوګانو، کارابین، سوېلي امریکا او نورو اسیایي هېوادونو چې د اروپایي ښکېلاک تر ناتار لاندې وو، ډېر لږ داسې وګړي لرل چې دغه ډول مبارزې ته را ودانګي. ښکېلاکګرو اروپایانو په یادو سیمو کې د زبېښونکو بنسټونو جلا ډولونه ساز کړل او یا یې تر استعمار مخکې یې د ګټورو سرچینو – له درملو نیولې تر ګنیو، سپینو زرو او سرو زرو پورې- د کنټرول په موخه، د هغو اختیار په خپل لاس کې واخیست. هغوی په دې سمیو کې دغه راز داسې بنسټي بدلونونه راوستل چې په راتلونکي کې یې د پرانیستو بنسټونو پیدایښت ناشونی کاوه. ښکېلاکګرو په ځینو مواردو کې د صنعتي کېدو غوړېدونکی بهیر یا موجوده پرانیستي اقتصادي بنسټونه فلج کړل. زیاتره دغه سیمې د دې جوګه نه وې چې په نولسمه پېړۍ یا حتی په شلمه پېړۍ کې د صنعتي کېدو مزه وڅکي. د اروپا په یو شمېر سیمو کې هم ډینامیکي بهیر د استرالیا او متحده ایالتونو په پرتله متفاوت و. د اتلسمې پېړۍ په وروستیو کې چې صنعتي انقلاب په بریټانیا کې په چټکۍ ریښې غځولې، په زیاترو اروپایي هېوادونو کې استبدادي رژیمونه واکمن وو. انحصاري سوداګرۍ او کرنیزې ځمکې د مستبدو پاچاهانو د عوایدو اصلي سرچینې وې. خلاق تخریب چې د صنعتي بهیر زېږنده وه، د دغو واکمنانو ګټې ګواښلې او د هغوی په ځمکو کې د کاري ځواک او سرچینو د کمېدو لامل

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



کېده. د صنعتي کېدو بهیر یو بل ستر بایلونکی، اشرافیت و او تر دې هم مهم دا چې دغه اشراف د دې بهیر سیاسي بایلوونکي هم وو، ځکه چې صنعتي کېدو له شک پرته ټولنیز بدلون ته لار هواروله او د واکمنې طبقې انحصاري واک یې له خطر سره مخ کاوه. خو په برېټانیا کې بنسټي بدلونونو او صنعتي انقلاب، اروپایي دولتونو ته نوي فرصتونه او ننګونې وزېږولې. که څه هم په لوېدیځه اروپا کې استبدادي رژیمونه حاکم وو، خو دغه سیمه د بنسټي بدلونونو په هغې پروسه کې شریکه وه چې برېټانیا یې اغېزمنه کړه؛ ختیځې اروپا، عثماني امپراتورۍ او چین متفاوت وضعیت درلود، دغه تفاوتونه د صنعتي کېدو بهیر د پراختیا په برخه کې ډېر مهم و. لکه څرنګه چې طاعون ناروغۍ یا په اتلانتیک کې د سوداګرۍ پراختیا د تاریخ حساسه مقطعه رامنځته کړې وه، دغه شان د صنعتي کېدو په بهیر کې رامنځته شوې حساسه مقطعه د بنسټونو پرسر د اروپایي ملتونو ترمنځ جګړې او شخړې تشدید کړې. په دې برخه کې یو مهم عامل د فرانسې ۱۷۸۹ کال انقلاب و. د فرانسې د مطلقه نظام ړنګېدو په دغه هېواد کې پرانیستو بنسټونو ته غېږ پرانېسته او په پایله کې صنعتي کېدو او چټکې اقتصادي ودې ته زمینه برابره شوه. خو په حقیقت کې د فرانسې انقلاب تر دې هم ډېر کار وکړ. دغه انقلاب د زور او یرغل له لارې څو ګاونډیو هېوادونو ته چې زبېښونکي بنسټونه یې لرل، خپل بنسټونه صادر کړل. په دې توګه د فرانسې انقلاب نه یوازې په فرانسه کې بلکې په بلجیم، هالنډ، سویس او د جرمني او ایټالیا په ځینو برخو کې صنعتي کېدو زمینه برابره کړه. خو د ختیځو سیمو غبرګون د طاعون ناروغۍ پېښې ته ورته و، یعنې

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



داسې چې فیوډالیزم د نابودۍ پر ځای لا پیاوړی شو. اتریش-هنګري، روسیه او عثماني امپراتوري نور هم وروسته پاتې شول او تر لومړۍ نړیوالې جګړې پورې یې استبدادي نظامونه وساتل.

د نړۍ په نورو برخو کې هم استبدادي رژیمونو خپلې بقا ته دوام ورکاوه. دغه واقعیت د چین په اړه صدق کوي، دلته له مینګ کورنۍ څخه کینګ کورنۍ ته د واک لېږد د یوه داسې نظام جوړېدو ته لار پرانېسته چې پر کرنې ولاړه ټولنه یې رامنځته کړه او د بهرني تجارت مخه یې ډپ کړه، خو دلته هم داسې بنسټي بدلونونه موجود وو چې له اسیا سره یې اړخ لګاوه. چین د صنعتي انقلاب پر وړاندې د ختیځې اروپا په څېر غبرګون وښود، خو د جاپان غبرګون بیا د لوېدیځې اروپا په څېر و. په جاپان کې د ساتسوما، چوشو، توسا او د اکي قلمرونو د مشرانو په رهبرۍ د فرانسې په څېر یو انقلاب رامنځته شو چې یو ستر بدلون ته یې لار هواره کړه، دغو مشرانو شوګان نسکور کړ، میجي یې بیا واک ته ورساوه او جاپان یې د بنسټیزو اصلاحاتو او اقتصادي ودې په لور سوق کړ.

همدارنګه موږ ولیدل چې په ایتوپیا کې مطلقیت او استبداد بیا سر راپورته کړ. هغو قوتونو چې په اولسمه پېړۍ کې په برېټانیا کې بنسټي بدلونونه رامنځته کړل، په افریقا کې همدغسې قوتونو او ډلو د مریانو د سوداګرۍ له لارې په دې سیمه کې سخت زبېښوونکي بنسټونه سمبال کړل. دغه پېښه په ځینو سیمو کې د ټولنو د له منځه تلو او په ځینو نورو کې بیا د مریتوب لرونکو استثماري دولتونو د رامنځته کېدا لامل شوه. د بنسټي بدلونونو پیل شوې پروسې څرګنده کړه چې کومو هېوادونو د نولسمې پېړۍ له فرصتونو څخه ګټه واخیسته او کومو وانخیسته. د نړیوالې نابرابرۍ ریښې کولای شو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



چې په همدې بدلونونو کې ولتړو. له محدود شمېر هېوادونو پرته، نن ورځ د نړۍ زیاتره شتمن هېوادونه هماغه ملتونه دي چې په نولسمه پېړۍ کې له صنعتي کېدو او ټکنالوژۍ څخه برخمن شول او بېوزله ملتونه هغه دي، چې دغه فرصتونه یې له لاسه ورکړل.

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



# یوولسم څپرکی

## سپېڅلې کړۍ

## (virtuous circle)

### تور قانون

وینډسور کلا[1] په برېټانیا کې د شاهي کورنۍ ستر استوګنځی دی، چې د لندن ښار په لوېدیځ کې موقعیت لري. د اتلسمې پېړۍ په لومړیو کې له دغې کلا یو لوی ځنګل را چاپېر و، چې اوسمهال د یاد ځنګل ډېره لږه برخه پاتې ده. دلته په ۱۷۲۲ کال کې د ځنګل یو ساتونکی 'بابټیست نون' په یوه سخته ننښته کې ګیر شوی و. نوموړي د جون په ۲۷ مه په خپل یادښت کې ولیکل:«توریان په شپه کې درې ځله راغلل او زما د خونې پر کړکۍ یې دوه مرمۍ وتوغولې او ما ومنله چې په دېرشمه ورځ به په «Crowthorne» کې ورته پنځه ګینه [پیسې] ورکوم.» نون دغه راز په خپل یو بل یادښت کې لیکي:«یو نوی خبر. د یو مخ پټي کس جسد وموندل شو چې د ورانۍ پیغام یې راوړی و.» دغه نامعلوم کسان «توریان» چې وېره یې خپروله او پر بابټیست یې ډزې کړې وې او له نوموړي یې پیسې غوښتې وې، څوک وو؟ دا د ځایي خلکو یوه ډله وه چې مخونه به یې تورول، څو په شپه کې یې څوک ونه ویني. دغه ډول کسان چې د برېټانیا په جنوب کې ډېر لیدل کېدل، هوسۍ او بېلابېل حیوانات یې وژل او له پوسته کول، درمندونه یې سوځول، دېوالونه او د کبانو

[1] Windsor Castle

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



روزنځایونه یې ویجاړول. دا په ښکاره یو ناقانونه عمل و، خو حقیقت بل څه و. د پاچا او اشرافو اړونده سیمو کې د هوسیو غیر قانوني ښکار تر ډېر وخته روان و. په ۱٦۴۰ مه لسیزه کې د کورنۍ جګړې په جریان کې د وینډسور کلا ټولې هوسۍ ووژل شوې، خو په ۱٦٦۰ کال کې واک ته د 'دویم چارلېز' په راتګ سره د هوسیو پارک بیا ډک شو. خو توریانو هوسۍ د دې لپاره نه ښکار کولې چې یوازې د هغې له غوښې یا پوستکي ګټه واخلي، بلکې دا یو قصدي تخریبي عمل و. خو د څه لپاره؟

د ۱٦۸۸ کال د پرتمین انقلاب یوه ځانګړنه د ګڼو کثرت پاله[1] ماهیت و، چې په پارلمان کې یې استازیتوب کېده. سوداګرو، صنعتکارانو، ځمکوالو او د نارنجي ویلیم متحدو اشرافو هېڅ یوه په یوازې ځان پر نورو خپلې غوښتنې نه شوای تحمیلولی. په اتلسمه پېړۍ کې د سټیوراټ شاهي کورنۍ د بېرته واکمنولو لپاره کلونه هڅې وشوې. په ۱۷۰۱ کال کې د دویم جېمز تر مړینې وروسته د هغه زوی «جېمز فرانسس اډوارد سټیورات» یا «زوړ مدعي» د فرانسې، هسپانیا، پاپ او په برېټانیا او سکاټلنډ کې د «جاکوبایټس» په نامه د سټیورات کورنۍ د ملاتړو له لوري د برېټانیا سلطنت د قانوني وارث په توګه په رسمیت وپېژندل شو. زوړ مدعي په ۱۷۰۸ کال کې د فرانسوي ځواکونو په ملاتړ واک ته د بیا ستنېدو ناکامه هڅه وکړه، وروسته د هغه ملاتړو جاکوبایټانو څو بلواوې او پاڅونونه وکړل، چې مهم یې په ۱۷۱۵ او ۱۷۱۹ کلونو کې و. وروسته په ۱۷۴۵ کال کې د زوړ مدعي زوی «چارلېز ایډوارډ سټیورات» یا ځوان مدعي، واک ته د

[1] Pluralistic

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



رسېدو هڅه وکړه، خو د برېتانيا د پوځ له لوري مات شو. د ويګ سياسي ګوند چې په ۱٦٧٠ کال کې د سوداګرو او کاروباريانو په استازولۍ جوړ شوی و، د پرتمين انقلاب اصلي ملاتړی خوځښت و. ويګيانو له ۱۷۱۴ څخه تر ۱۷٦٠ کاله پورې پر پارلمان واک درلود. ويګيانو د واک پرمهال هڅه کوله چې په لاس ورغلي فرصت څخه په ګټې اخيستنې د نورو حقوق تر پښو لاندې کړي. هغوی د ستيوراټ پاچاهانو سره هېڅ توپير نه درلود، يوازې دومره توپير و چې د استبداد او مطلقيت لپاره يې کافي واک نه درلود. په پارلمان کې د هغوی واک د سيالو ډلو او په ځانګړې توګه د توري ګوند[1] او نورو ډلو له لوري چې د يوه استبدادي نظام د مخنيوي لپاره يې مبارزه کوله، محدود شوی و. په برېتانيا کې کثرت پاله يا پلورالېستيکه ټولنه چې د پرتمين انقلاب په پايله کې رامنځته شوې وه، په دې معنا وه چې د خلکو يوه ستره برخه، ان هغوی چې په پارلمان کې يې استازي نه لرل، پياوړې او ځواکمنه شوې وه. توريان غله هماغه خلک وو چې له واک څخه د ويګيانو د ناوړه ګټې اخيستنې په غبرګون کې راپاڅېدلي وو. د 'ويليم کادوګان' قضيه د ويګيانو له لوري د خلکو د حقونو د پايمالولو يو څرګند مثال دی او دا پېښه موږ ته ښيي چې په برېتانيا کې توريان څنګه رامنځته شول. کادوګان د ۱۷۰۱ او ۱۷۱۴ کلونو ترمنځ د هسپانيا جګړې او د جاکوبايټ پاڅون د ځپلو پر مهال يو بريالی جنرال ثابت شو. لومړي جورج په ۱۷۱٦ کال کې جنرال کادوګان ته د «بارون» لقب ورکړ او په ۱۷۱۸ کال کې يې د نومورې رتبه لوړه کړه. هغه همدا راز د

[1] Tory Party

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

Downloaded By: Afghan Salar Library



سلطنت د نيابتي شورا له مخکښو غړو څخه و، چې د پاچا په نيابت کې به يې مهمې دولتي چارې پرمخ بيولې او د پوځ د عمومي قوماندان په توګه يې هم دنده اجرا کوله. کادوګان د ويندسور کلا په ۲۰ مايله متري کې په 'کورشام' کې شاوخوا ۱۰۰۰ ايکره ځمکه وپېرله او يو کور، يو ښکلی بڼ او د ۲۴۰ هکتارو په مساحت يې د هوسيو يو پارک په کې جوړ کړل، خو دغه بڼ د خلکو په غصب شوې ځمکه کې جوړ شوی و او کادوګان په دې کار سره د ګاونډيو پر حقونو تېری کړی و، ځکه چې خلک له ځمکو په زوره وشړل شول او د ښاريو ځرولو، د لرګيو او سکرو د ټولولو سنتي حقوق يې له لاسه ورکړل. کادوګان د توريانو له غبرګون او غوسې سره مخ شو. د ۱۷۲۲ کال د جنورۍ او بيا د همدې کال په جولای کې د هوسيو پارک يو ځل بيا د تورمخو وسله والو تر بريد لاندې راغی او په لومړۍ حمله کې ۱٦ هوسۍ ووژل شوې. دا يوازې کادوګان نه و، بلکې د ډېرو شتمنو سياستوالو ځمکې او جايدادونه هم د توريانو تر بريد لاندې راتلل. وضعيت د ويګي دولت له زغمه وتلی و او پارلمان د ۱۷۲۳ کال په مې مياشت کې «تور قانون» تصويب کړ چې له مخې يې پنځوس ځانګړې جرمونه تعريف او د اعدام جزا ورته وټاکل شوه. د تور قانون له مخې نه يوازې د وسلې ګرځول، بلکې د مخ تورول هم منع اعلان شول. پر اعدام د تورمخو د محکومېدو په اړه تصويب شوی قانون ډېر ژر عملي شو او ويګيانو په ډېرې چټکۍ د قانون پلي کولو ته متې بډ وهلې. باپټيست نان په ويندسور ځنګل کې د څارګرو يا مخبرينو يوه شبکه جوړه کړه، څو د توريانو هويت معلوم کړي. ډېر ژر څو کسان ونيول شول، له نيولو وروسته بايد مجرمين د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



قانون له مخې راساً په دار ځړول شوي وای، ځکه چې تور قانون تصويب شوی و او پارلمان هم د ويګيانو په لاس کې و. ويګيانو همدارنګه پر هېواد واک چلاوه او توريانو مستقيماً د ځواکمنو ويګيانو د ګټو خلاف عمل کاوه.

د دولت وزير «سر رابرټ وال پول» هم چې وروسته لومړی وزير شو، د کادوګان په څېر له دې ستونزې سره مخ شو. هغه د لندن په جنوب لوېديځ کې د ريچمونډ په پارک کې چې لومړي چارلېز د خلکو په ځمکو کې جوړ کړی و، شخصي ګټې لرلې. په دې پارک کې هم د خلکو د څړ، ښکار او د خسو راټولولو حقوق تر پښو لاندې شوي وو، خو بيا هم خلکو په پارک کې د ځارويو څرولو او ښکار ته دوام ورکاوه، تر دې چې وال پول خپل زوی د پارک ساتنې ته وګوماره. نوموړي له پارک څخه دېوال چاپېر کړ او د مجرمينو د نيولو لپاره يې لومې جوړې کړې. وال پول چې د هوسيو ښکار سره يې مينه لرله، د پارک دننه په «هاټون» کې ځان ته د ښکار لپاره يوه خونه جوړه کړه، چې دې کار د ځايي اوسېدونکو غوسه راوپارله.

د ۱۷۲۴ کال د نومبر په ۱۰ مه يو تن ځايي اوسېدونکی «جان هونټريج» چې له پارکه بهر يې ژوند کاوه، د هوسيو له غلو سره د مرستې او د تورمخو په تحريکولو تورن شو؛ دوه هغه جرمونه چې سزا يې اعدام وه. د هونټريج قضيه د سلطنت د نيابت شورا له لوري چې وال پول او کادوګان يې مخکښ غړي وو، په لوړه کچه پر مخ وړل کېده. وال پول دومره مخکې لاړه چې ان د 'بلک برن' په نامه له يوه تن مخبر څخه يې د هونټريج د جرم په اړه په زور شهادت واخيست. که څه هم د نوموړي تورنېدل د قاعدې له مخې له وړاندې ټاکل شوې نتيجه وه، خو داسې ونه شول. د يوه منصفه پلاوي په شتون کې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



د یوې ۸ یا ۹ ساعته محاکمې په ترڅ کې د شکلي دلایلو پر بنسټ هونتړیج بې ګناه وپېژندل شو، ځکه چې راټول شوي شواهد قانوني او موجه نه و. خو ټول توریان یا هغه کسان چې له دوی سره په مرستې تورن وو، د هونتړیج په شان بختور نه وو، یو شمېر نورو توریانو هم برائت ترلاسه کړ او یا هم د مجازاتو تر تخفیف لاندې راغلل، خو زیاتره یې پر دار وځړول شول او یا هم شمالي امریکا ته تبعید کړل شول. دغه قانون په حقیقت کې د لغوه کېدو تر وخته یعنې تر ۱۸۲۴ کاله پورې د قوانینو په ټولګه کې په خپل حال او قوت سره باقي پاتې شو، خو د هونتړیج چانس د پامور دی. د منصفه پلاوي په ترکیب کې ناپېیلې خلک نه وو، بلکې ځمکوال او شتمن کسان وو چې طبعاً به یې له وال پول سره خواخوږي لرله، خو شرایط نور د اولسمې پېړۍ په څېر نه وو، چې محاکم د سټیورات پاچاهانو تر امر لاندې وو او د خپلو مخالفینو د ځپلو لپاره یې له دغو بنسټونو څخه د وسیلې په توګه کار اخیست. اوس نو ویګیان هم مجبور وو چې د قانون حاکمیت ته غاړه کېږدي او دا اصل چې هېڅوک له قانونه پورته نه دی، ومني.

د تور قانون اړوند پېښې ښيي چې پرتمین انقلاب په برېټانیا کې د قانون واکمنۍ ته لار هواره کړې وه او په دې هېواد کې د قانون د واکمنۍ فکر بنسټیزه شوی و او همدارنګه واکمنې ډلې تر ډېره محدودې شوې وې. هېره دې نه وي چې د قانون واکمني د «قانون پر بنسټ حکومت» سره توپیر لري، حتی که ویګیانو کولای شول چې د خلکو د کابو کولو په موخه ځپونکي او نا عادلانه قوانین تصویب هم کړي، خو بیا هم له هغو خنډونو او ننګونو سره مخ

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



کېدل، چې د قانون حاکمیت رامنځته کړي وو؛ ځکه د هغوی قانون د هغو حقوقو نقض و، چې پرتمین انقلاب او د هغه په پایله کې په سیاسي بنسټونو کې رامنځته شویو بدلونونو ټولو وګړو ته خوندي کړي وو. په دې توګه د قانون واکمني په دې معنا وه چې واکمنانو او عامو وګړو ټولو د قانون په وړاندې یو شان او برابر حقوق لرل. کله چې د قانون د واکمنۍ تاریخي سیر ته نظر کوو، نو دا مفهوم راته ډېر په زړه پورې ښکاري. ولې قانون باید د ټولو په وړاندې یو شان عملي شي؟

کله چې پاچا او اشراف له سیاسي واک و ځواک څخه برخمن او نور ترې بې برخې وي، نو طبعاً هغه ښکار چې پاچا او اشراف یې کولای شي، د نورو لپاره غیر قانوني او جرم ګڼل کېږي. د سیاسي استبدادي بنسټونو تر سیوري لاندې د قانون واکمني په حقیقت کې هېڅ عملي کار نه برېښي. یوازې پراخ بنسټه یا پلورالایز بنسټونه دي چې د قانون برابرۍ ته زمینه برابروي. د اتلسمې پېړۍ په لومړیو کې برېټانیا د کثرت پالنې په لور د حرکت په حال کې وه او د ویګ مشران ورو-ورو په دې پوهېدل چې قوانین او بنسټونه لکه څنګه چې د قانون د واکمنۍ په مفهوم کې بیان شوي دي، د دوی واکونه هم محدودوي. خو ولې باید ویګیان او د پارلمان غړي دغه محدودیتونه ومني؟ هغوی ولې په پارلمان او دولت کې له خپل واک څخه د تور قانون په څېر د نورو قوانینو په تصویبولو او د دوی د ګټو خلاف پرېکړو په مخنیوي کې کار نه اخیست؟ دغو پوښتنو ته ځواب د پرتمین انقلاب ماهیت ښه روښانه کوي او همدارنګه په ډاګه کوي چې: انقلاب ولې زوړ استبداد د هغه پر نوې بڼې بدل نه

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



کړ؟ د کثرت پالنې یا پلورالېزم او د قانون واکمنۍ ترمنځ څه توپیر وجود لري؟ او سپېڅلې کړۍ څنګه عمل کوي؟

لکه څرنګه چې په اووم څپرکي کې مو ولوستل، پرتمین انقلاب د یوې واکمنې ډلې له لوري د بلې واکمنې ډلې نسکورولو ته نه وایي، بلکې دا د استبداد او مطلقیت پر وړاندې د اعیانو، سوداګرو، تولیدوونکو او نورو ډلو څخه جوړ د خلکو د یوې سترې کتلې پاڅون و، چې پراخ بنسټه سیاسي بنسټونه یې وزېږول. همدارنګه د قانون واکمني هم د دغه اوښتون یوه لویه لاسته راوړنه وه. کله چې د قانون واکمني په رښتینې ډول خپله معنا پیدا کوي، نه یوازې استبدادي حکومت په ګونډو کوي، بلکې د واک سپېڅلې کړۍ رامنځته کوي. که قوانین د ټولو په وړاندې یو شان پلی کېدای شوای، نو په دې صورت کې هېڅ کس، حتی کادوګان او وال پول هم نه شوای کولای چې له قانون پورته عمل وکړي او عامو خلکو چې پر خصوصي ملکیتونو په تېري باندې تورن شوي وو، د یوې عادلانه محکمې حق لرلی شوای.

تر دې ځایه مو د پرانیستو سیاسي او اقتصادي بنسټونو رامنځته کېدل ولیدل، خو دغه بنسټونه څنګه د تاریخ په اوږدو کې په خپل ځای پاتې کېږي؟ د «تور قانون» شالید او د هغه د عملي کېدو پر وړاندې محدودیتونه د یوې سپېڅلې کړۍ ښکارندویي کوي؛ یعنې د غبرګون (فیډبک) یوه ځواکمنه پروسه چې دغه بنسټونه پایداره کوي او په حقیقت کې دا د هغو قوتونو د حرکت مجموعه ده چې د پرانیستو بنسټونو له رامنځته کېدو سره مرسته کوي. د سپېڅلې کړۍ منطق له دې حقیقته سرچینه اخلي چې پرانیستي بنسټونه پر واک د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



محدودیت لګونې او په ټولنه کې د سیاسي واک د پلورالیستیک وېش پر اساس رامنځته شوي دي. سپېڅلې کړۍ یوازې د کثرت پاله بنسټونو او د قانون واکمنۍ څخه نه جوړېږي، بلکې پرانیستي سیاسي او اقتصادي بنسټونه هم د هغې په پیدایښت کې رول لري. وروسته دغه پروسه د عوایدو برابر وېش، په ټولنه کې د واک وېش او د سیاست په ډګر کې ټولو ته د لوبېدو زمینه برابروي. دا کار همدارنګه د هغو عوایدو د محدودېدو مخه نیسي چې یو کس یې واک ته د رسېدو پرمټ ترلاسه کوي او د زېږښونکو بنسټونو د بیا را ژوندي کېدو انګېزې له منځه وړي. دغه عوامل په برېټانیا کې د رښتینو ډیموکراټیکو بنسټونو په پیدایښت کې مهم وو. کثرت پالنه همدارنګه یو پرانیستی نظام رامنځته کوي او خپلواکو رسنیو ته د غوړېدو زمینه برابروي، چې دا کار د عامه پوهاوي کچه لوړه او د پرانیستو بنسټونو پر وړاندې د ګواښونو د مخنیوي په موخه د خلکو انسجام او سازماندهي کول اسانه کوي. دا چې د برېټانیا دولت په ۱۶۸۸ کال کې پر رسنیو لګېدلی سانسور لرې کړ، اغېز یې د پام وړ و. د دې څېرکي په اوږدو کې به یې ولولو چې په امریکا متحده ایالتونو کې هم رسنیو د خلکو په ځواکمنتیا او د سپېڅلې کړۍ په پراختیا کې مهم رول ولوباوه. که څه هم سپېڅلې کړۍ د پرانیستو بنسټونو دوام او پایښت ته زمینه برابروي، خو دغه پایښت نه انکار نه منونکی او نه هم بېرته پر شا ګرځېدونکی دی. په برېټانیا او متحده ایالتونو کې پرانیستي سیاسي او اقتصادي بنسټونه له ډېرو ننګونو سره مخ وو. ځوان مدعي په ۱۷۴۵ کال کې له خپلو لښکرو سره د لندن په سل میلۍ کې تر دربي پورې وړاندې تللی و، څو د پرتمین انقلاب په نتیجه کې جوړ شوي بنسټونه ګډوډ کړي، خو مات

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



شو. هلته د بهرنیو گواښونو په نسبت، کورني سیاسي گواښونه ډېر مهم وو او کولای یې شول چې پرانیستي بنسټونه له منځه یوسي. لکه څرنگه چې د مانچسټر پیټرلو د ۱۸۱۹ ټولوژنه مو ولیده او همدارنگه څرنگه چې په راتلونکي کې به ولولو، برېټانوي واکمنان په دې کې پاتې راغلل چې د خلکو غږونه غلي او د هغوی ولسواک خوځښتونه وځپي. دغه ډول په امریکا متحده ایالتونو کې هم پرانیستي سیاسي او اقتصادي بنسټونه له گڼو ننگونو سره مخ وو؛ هغه ننگونې چې د برلاسه کېدو چانس یې ډېر و، خو داسې ونه شول. خو د دې ننگونې ماتول له مخکې ټاکل شوی برخلیک نه و. په امریکا او برېټانیا کې د پرانیستو بنسټونو دوام او د تاریخ په اوږدو کې د هغو ځواکمنتیا نه یوازې د سپېڅلې کړی، بلکې د تاریخ د نا اټکل شوي مسیر برکت هم و.

## د ولسواکۍ سوکه مزل

د تور قانون پر وړاندې غبرگون عامو برېټانویانو ته څرگنده کړه چې تر هغه یې ډېر حقوق لرل چې مخکې یې تصور کاوه. هغوی کولای شول چې د عریضې او لابي پر مټ په محکمو او پارلمان کې له خپلو دودیزو حقونو او اقتصادي گټو دفاع وکړي، خو دغه پلورالېزم لا هم یوه اغېزناکه ډیموکراسي نه وه رامنځته کړې. زیاتره بالغو کسانو او ښځو د رایې ورکونې حق نه درلود او په ډیموکراټیکو بنسټونو کې هم دا وخت ډېره بې عدالتي حاکمه وه. تمه وه چې دا هر څه به بدلون مومي. د پرانیستو بنسټونو سپېڅلې کړی نه یوازې د رامنځته شوي وضعیت د بقا ساتنه کوله، بلکې د پرانیست والي پرمخ یې پراته خنډونه هم له منځه وړل. د برېټانیا د اتلسمې پېړۍ مشرانو چندانې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



بخت نه درلود، چې له کوم خنډ او ستونزې پرته واک ته دوام ورکړي. هغوی د سلطنت لپاره د پاچاهانو الهي حقوق ونګول او د خلکو پر مخ د مشارکت د ور په پرانیستلو سره یې د چارو واګې په لاس کې واخیستې، خو وروسته دوی دا واک یوه کوچنې اقلیت ته وسپاره. یوازې وخت ته اړتیا وه څو ډېر خلک په سیاسي پروسه کې د مشارکت یا ګډون لپاره غږونه پورته کړي، چې بالاخره دا پروسه په ۱۸۳۱ کال کې خپل اوج ته ورسېده. د زیاتېدونکې اقتصادي بې عدالتۍ او د خلکو له لوري په سیاسي بهیر کې د مشارکت د پر له پسې غوښتنو له امله برېټانیا په لومړیو درې لسیزو کې د ټولنیزې بې ثباتۍ او ګډوډۍ شاهده وه. د ۱۸۱۱ او ۱۸۱٦ کلونو ترمنځ د نوې ټکنالوژۍ د ترویج په غبرګون کې د لوډیتیانو (Luddite) پاڅون او ورپسې په ۱۸۱٦ کال کې د سیاسي ازادیو لپاره په لندن کې د 'سپا فیلډس پاڅون' او بیا په ۱۸۱۹ کال کې د پیټرلو ټولوژنه هغه پېښې وې چې برېټانیا یې له ننګونو سره مخ کړې وه. دغه راز په ۱۸۳۰ کال کې د سوینګ پاڅون په ترڅ کې کروندګرو د ژوندانه د ناچیزو امکاناتو او د نوې ټکنالوژۍ په غبرګون کې چې په مزد کې یې کموالی راوستی و، په بلوا لاس پورې کړ. په ورته وخت کې د ۱۸۳۰ کال په جولای کې په پاریس کې انقلاب سر راپورته کړی و. دا چې وضعیت د جوش نقطې ته رسېدلی و، د واکمنې طبقې ترمنځ اجماع روانه وه. هغوی د ټولنیزې نارامۍ د کابو کولو او د یوه انقلاب د مخنیوي یوازینۍ لار د خلکو غوښتنو ته سر ښکته کول او د پارلمان اصلاحات بلل، نو ځکه حیرانوونکې نه ده چې د ۱۸۳۱ کال د ټاکنو چورلیز پر یوې ځانګړې موضوع را څرخېده: سیاسي اصلاحات. تر 'سر رابرټ وال پول' شاوخوا سل کاله وروسته، ویګیان نور د عام

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



ولس په وړاندې ځواب ویونکی وو او په برېتانیا کې یې د رایې ورکونې حق د پراختیا لپاره مبارزه کوله، خو دوی یوازې محدود شمېر کسانو ته د رایې ورکونې حق غوښت او ان ټولو نارینه وو ته هم د دې حق په سراسري کېدو قایل نه و. ویګیان په ټاکنو کې بریالي شول او د دې ډلې مشر ایرل ګرې «Earl Grey» لومړی وزیر شو. هغه راډیکال یا سختدریځه نه و، بلکې له سختدریځۍ لا ډېر لرې و. هغه او نورو ویګیانو چې د اصلاحاتو لپاره هلې ځلې کولې، هدف یې د رایې ورکونې حق پراخوال او عالادنه کول یا د ټولنې د نورو اقشارو ترمنځ د واک وېشل نه و. په برېتانیا کې ولسواکي د واکمنې طبقې ډالۍ نه وه، بلکې په تېره یوه پېړۍ کې د خلکو د بېلابېلو سیاسي جریانونو او خوځښتونو په پایله کې لاسته راغله او خوندي شوه. هغوی د پرتمین انقلاب پر مټ په سیاسي بنسټونو کې د رامنځته شویو بدلونونو له لارې وکولای شول چې په واک کې پاتې شي. واکمنانو فکر کاوه اصلاحاتو ته له تسلیمېدو پرته په واک کې د پاتې کېدو لپاره بله چاره نه لري، ولو که دا واک لږ هم وي. ایرل ګرې په پارلمان کې د سیاسي اصلاحاتو د منلو په اړه په خپله وینا کې دغې ټکي ته په ښکاره ډول اشاره کړې ده: «تر ما بل هېڅوک د کلنې پارلمان، د عمومي رایې ورکونې او مخفي رایې ورکونې حقونو خوندیتوب ته ژمن نه دی، زما هدف له دې سره د زړه له تله هوکړه نه ده، بلکې دغو هیلو او پروژو ته د پای ټکی ایښودل دي... زما د اصلاحاتو موخه د انقلاب د پېښېدو مخنیوی دی... اصلاحات د پاتې کېدو او نه نسکورېدو لپاره.» د خلکو غوښتنه یوازې رایه ورکونه نه وه، بلکې هغوی غوښتل چې د خپلو ګټو د

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



دفاع او خوندیتوب لپاره په تصمیم نیونه کې هم ونډه ولري. دا خبره د چارټېست غورځنګ په تګلاره کې چې له ۱۸۳۸ کال وروسته یې په برېټانیا کې د رایې ورکونې حق د عمومي کېدو لپاره مبارزه کوله، په ښه توګه روښانه شوې ده. یاد غورځنګ ځکه د چارټېست «مرام پالانو» نوم ځان ته غوره کړی و، څو خلکو ته وښیي چې د دوی ارمانونه یې د مبارزې محور جوړوي او د دې ترخنګ مګناکارتا ته د یوه ورته جوړښت معنا یې هم لېږدوله. د چارټیست غورځنګ یو تن غړی «جي.ار. ستېفن» د رایې ورکونې عمومي حق په اړه وایي:«د رایې ورکونې د عمومیت موضوع....د یوه چاقو او کاچوغې موضوع ده، د ډوډۍ او پنیر موضوع ده... د عمومي رایې په اړه زما هدف د دې ټکي روښانه کول دي چې د ځمکې پر سر ټول انسانان دا حق لري چې پر تن یوه ښه کورتۍ، پر سر یوه ښه خولۍ، د کورنۍ له پاسه یو ښه چت او بالاخره د شپې ډوډۍ لپاره یو ښه سترخوان ولري.»

ستېفن درک کړې وه چې د خلکو د پیاوړتیا او د کاګرو لپاره د یوې کورتۍ، یوې خولۍ، یوه چت او یوه سترخوان برابرولو یوازینۍ لار د رایې ورکونې عمومي حق دی. په پایله کې ایرل ګرې بریالی شو چې هم «د اصلاحاتو لومړني قانون» په اړه خلکو ته ډاډ ورکړي او هم ټولو خلکو ته د رایې حق په ورکولو سره د انقلاب خپې غلې کړي. د ۱۸۳۲ کال اصلاحات معتدل وو او په برېټانیا کې د رایو ورکوونکو شمېر دوه برابره شو، یعنې پر شرایطو د برابرو رای ورکوونکو شمېر له ۸ سلنې څخه ۱٦ سلنې ته پورته شو -(د ټول نفوس له ۲ سلنې څخه ۸ سلنې ته لوړ شو). د اصلاحاتو په لړ کې په برېټانیا کې مخروبه سیمې له رایو برخمنې شوې او مانچسټر، لیډز او شفیلډ

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



ښارونو ته چې تازه د صنعتي کېدو په حال کې وو، د خپلواکې استازولۍ حق ورکړل شو. خو ډېر مسایل نا حل پاتې شول. له همدې امله ډېر وخت لا نه و تېر شوی، چې د رایې د حق په اړه نورې غوښتنې هم مطرح شوې او د ټولنیزې نا ارامۍ بلې څپې سر راپورته کړ، چې دغې پېښې لا نور ډېر اصلاحات له ځان سره لرل.

ولې برېټانوي واکمنان دغو غوښتنو ته تسلیم شول؟ ولې ایرل ګرې دا درک کړې وه چې محدود اصلاحات په نظام کې د پاتې کېدو یوازینۍ لار ده؟ ولې هغوی د اصلاحاتو او انقلاب ترمنځ یو وټاکه؟ ایا هغوی نه شوای کولای هغه کار وکړي چې هسپانویانو په جنوبي امریکا کې کړی و، یا په اتریش-هنګري او روسیه کې چې مستبدو واکمنانو د کروندګرو پرضد وکړل، یا په خپله برېټانویانو چې په کارابین او هند کې پاخونونه د زور له لارې وځپل؟ دغو پوښتنو ته ځوابونه په سپېڅلې کړۍ کې موندلای شو. هغه سیاسي او اقتصادي تحولات چې مخکې په برېټانیا کې پېښ شوي وو، د خلکو پر وړاندې د زور کارول یې غیر عملي کړي وو. ای.پي ټامپسن په دې اړه لیکي:«کله چې د ۱۷۹۰ او ۱۸۳۲ کلونو ترمنځ مبارزو او شخړو وښووده چې د قدرت انډول بدل شوی دی، برېټانوي واکمنان د بدیل له ستونزې سره مخ وو: هغوی کولای شول چې د قانون واکمني تر پښو لاندې کړي، مشروطه سیاسي جوړښتونه ونړوي، خپلې خبرې بېرته واخلي او زور ته مخه کړي؛ یا خپلو قوانینو ته تسلیم شي او له واک څخه لاس واخلي.. هغوی په لومړي سر کې لړزانده ګامونه واخیستل، خو په پای کې د ۱۵۰ مشروطه قانوني نظام د نسکورولو پر ځای، قانون ته تسلیم شول.» په بله وینا، لکه څرنګه چې د تور

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



قانون په جریان کې برېټانوي واکمنان د قانون د حاکمیت نقضولو ته پرې نه ښودل شول، هماغه قوتونو واکمنې ډلې ته اجازه ور نه کړه چې د زور او ځینې له لارې حکومت وکړي.

د سپېڅلې کړۍ منطق دا معنا هم لري چې دغه ډول ځېونکي اقدامات بیا هم د پرانیستو سیاسي او اقتصادي بنسټونو ترمنځ د مثبت فیډبک په نتیجه کې غیر عملي برېښي. د زبېښونکو بنسټونو په نسبت، په پرانیستو اقتصادي بنسټونو کې سرچینې په عادلانه توګه وېشل کېږي. پرانیستي اقتصادي بنسټونه وګړي ځواکمنوي او په سیاست کې ورته د لوبې ډګر هواروي. بالاخره سپېڅلې کړۍ په ۱۸۳۲ کال کې برېټانیا ته د «اصلاحاتو لومړنی قانون» ډالۍ کړ، خو دا یوازې پیل و. لا هم رښتینې ولسواکۍ ته د رسېدو لپاره اوږد مزل پاتې و، ځکه په ۱۸۳۲ کال کې واکمنانو یوازې هغه څه ومنل، چې له ناچارۍ یې باید منلي وای. د چارټېستانو اصلاح غوښتونکې ډلې له پارلمان څخه د لاندې اصلاحاتو غوښتنه کوله:

- ټولو هغو کسانو ته چې د ۲۱ کلنۍ عمر یې پوره کړی وي، عاقل وي او جرمي سابقه و نه لري، د رایې حق ورکړل شي؛
- د پټې یا سري رایې حق باید خوندي شي؛
- پارلمان ته د کاندېدو لپاره باید د شتمنۍ درلودو شرایط لغوه شي، څو بېوزله او شتمن وکولای شي چې له ټولو حوزو څخه د خپل خوښې وړ نوماندانو ته رایه ورکړي؛
- د پارلمان استازو ته د امتیازاتو یا معاشاتو ټاکل، څو یو وکیل د دندې پر مهال اړ نه شي چې ازاد کاروبار وکړي او خلکو او هېواد ته د خدمت لپاره د زړه له خلاصه کار وکړي؛

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



- د ټاکنيزو حوزو ترمنځ تناسب، په دې معنا چې د رايو حوزې بايد د رايه ورکوونکو د شمېر په تناسب استازي ولري، نه داسې چې کوچنۍ حوزې لويې هغه تر خپل اغېز لاندې راولي؛
- د يو کلن پارلمان ټاکل، څو د فساد او درغليو مخه ونيول شي، ځکه د دې امکان شته چې يوه ټاکنيزه حوزه د اووه کلونو لپاره يو ځل واخيستل شي، خو د علني رايې سيستم پر بنسټ هېڅوک به دا توانايي ونه لري چې په هرو دولسو مياشتو کې يوه حوزه واخلي او هغه غړي چې د يو کال لپاره ټاکل کېږي، نه شي کولای چې د اوسنيو شرايطو په څېر خپله ټاکنيزه حوزه ناديده ونيسي يا ورسره خيانت وکړي.

سري رايه د علني رايې د پای ته رسېدو په معنا وه چې د رايو پېرلو او په زور کاروني ته يې لار هواروله. چارټېست غورځنګ د پراخو لاريونونو لړۍ پيل کړه او پارلمان خپله ټوله دغه دوره پر اصلاحاتو متمرکزه کړې وه. که څه هم چارټېست غورځنګ له ۱۸۴۸ کال وروسته له منځه لاړ، خو ځای يې په ۱۸۶۴ کال کې «د اصلاحاتو ملي ټولنې» او په ۱۸۶۵ کال کې د «د اصلاحاتو ليګ» ډک کړ. د ۱۸۶۶ کال د 'هايډپارک' لاريونونو يو ځل بيا اصلاحاتو ته لار هواره کړه او د خلکو د فشارونو په پايله کې په ۱۸۶۷ کال کې د اصلاحاتو دويم قانون تصويب شو چې پر بنسټ يې د رايه ورکوونکو شمېر يو ځل بيا دوه برابره شو او د کارګرې طبقې رايه ورکوونکي په ټولو ښاري حوزو کې اکثريت شول. په ۱۸۸۴ کال کې د اصلاحاتو د درېيم قانون په تصويب سره د رايه ورکوونکو شمېر يو ځل بيا دوه برابره شو او په دې وخت کې ۶۰ سلنه بالغو کسانو ته د رايې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



ورکونې حق ورکړل شو. په ۱۹۲۸ کال کې د لومړۍ نړیوالې جګړې په ترڅ کې د «خلکو استازولۍ قانون» ټولو هغو ۲۱ کلنو نارینه وو او ۳۲ کلنو ښځو ته چې مالیه یې ورکوله او یا یوه کس له مالیه ورکوونکي سره واده کړی و، د رایې ورکولو حق ورکړ. په ۱۹۲۸ کال کې بالاخره ښځو ته هم د نارینه وو په څېر د رایې ورکونې مساوي حق ورکړل شو. د لومړۍ نړیوالې جګړې په ترڅ کې د ۱۹۱۸ کال اصلاحاتو په اړه د دولت او کارګرې طبقې ترمنځ خبرې روانې وې، داسې چې کارګر به دولت ته د اړتیا وړ وسلې او مهمات تولیدوي. حکومت دغه راز په روسیه کې د راډیکال انقلاب حالات هم له نږدې څارل.

د سیاسي بنسټونو د پراختیا ترڅنګ، د اقتصادي پراختیا په برخه کې هم خوځښتونه او غورځنګونه فعال وو، چې یوه مهمه لاسته راوړونه یې په ۱۸۴٦ کال کې د غلو دانو قانون لغوه کول و. لکه څرنګه چې په اووم څپرکي کې مو ولوستل، سترو ځمکوالو د یاد قانون له مخې له بهره د کرنیزو محصولاتو پر وارداتو بندیز لګولی و او په دې توګه یې هڅه کوله چې په بازار کې د رقابت مخه ونیسي او بیې لوړې وساتي، خو په پارلمان کې د مانچسټر او بیرمنګهم استازو د ارزانه محصولاتو او ټیټ مزد غوښتونکي وو. همدا وو چې هغوی بریالي شول او ځمکوال له سختې ماتې سره مخ شول. تر رایې ورکونې وروسته نور اصلاحات هم عملي شول. په ۱۸۷۱ کال کې لیبرال لومړي وزیر 'ګلاډستون' په دولتي ادارو کې د ګومارنې لپاره د ازموینې اخیستو او شایسته سالارۍ شرایط وضع کړل او همدارنګه د سیاسي تمرکز او دولتي بنسټونو د جوړولو هغې پروسې ته چې د تیودوریانو په وخت کې پیل شوه، دوام ورکړل شوه. لیبرال او توري

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



ګوندونو په همدې دوره کې واک ته ورسېدل او د کار بازار د تنظیم په موخه یې ګڼ قوانین تصویب کړل. مثلاً؛ د کارمشرانو او کارګرانو قانون چې کارمشرانو ته یې د کارګرانو د محدودولو اجازه ورکوله، لغوه شو او د کار قوانین د کارګرانو په ګټه اصلاح شول. د ۱۹۰۶ او ۱۹۱۴ کلونو په اوږدو کې د H. H. Asquith او David Lloyd په مشرۍ لیبرال ګوند د عامه خدمتونو د وړاندې کولو لپاره له دولتي امکاناتو څخه کار واخیست، چې د روغتیا او کار په برخه کې بیمه، د تقاعد حقوق، د مزد د کچې ټاکل او د مالیاتو بیا وېش یې په بر کې نیول. د دغو مالیاتي اصلاحاتو او بدلونونو په نتیجه کې د نولسمې پېړۍ په وروستیو درې لسیزو کې مالیاتي عواید د نورو ملي عوایدو په پرتله دوه برابره لوړ شول او وروسته د شلمې پېړۍ په لومړیو دریوو لسیزو کې دغه کچه بیا هم دوه برابره لوړه شوه. مالیاتي نظام هم پرمختللې بڼه خپله کړه، داسې چې شتمنو کسانو د مالیاتو درنه برخه پرې کوله. دغه راز د ښوونیز نظام دروازې چې پخوا یوازې د اشرافي کورنیو پرمخ پرانېستې وې او له بېوزله خلکو به فیس اخیستل کېده، تر دې وروسته د ټولو پرمخ پرانېستل شوې. د ۱۸۷۰ کال د تعلیماتو قانون له مخې دولت په لومړي ځل مکلف وګرځول شو چې په منظم ډول تعلیمي خدمات وړاندې کړي. په ۱۸۱۹ کال کې زده کړې وړیا شوې. په ۱۸۹۳ کال کې د لومړنیو زده کړو بشپړولو لپاره ۱۱ کاله عمر وټاکل شو، چې وروسته په ۱۸۹۹ کال کې دا عمر ۱۲ کلونو ته لوړ شو او د اړمنو کورنیو د ماشومانو لپاره ځانګړي مقررات وضعه شول. د دغو اصلاحاتو په نتیجه کې په ښوونځیو کې د لس کلنو ماشومانو د شاملېدو کچه چې په ۱۸۷۰

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

Downloaded By: Afghan Salar Library



کال کې ۴۰ سلنه وه، په ۱۹۰۰ کال کې ۱۰۰ سلنې ته لوړه شوه. په پایله کې د ۱۹۰۲ کال قانون ښوونځیو ته د پراخو سرچینو د ځانګړي کولو او د ګرامر ښوونځیو د رامنځته کولو لامل شو چې وروسته دغه کار په برېټانیا کې ثانوي زده کړو ته لار هواره کړه.

دا په حقیقت کې د پرانیستو بنسټونو د سپېڅلې کړۍ تصویر او د «تدریجي سپېڅلې کړۍ» مثال وړاندې کوي. د پرانیستو سیاسي بنسټونو په موخه سیاسي بدلونونه له شک پرته چې د خلکو د یوې ځواکمنې کتلې غوښتنې وې، خو دا هم یوه تدریجي پروسه وه. هره لسیزه د ولسواکۍ په لور کله لنډ او کله هم اوږده ګامونه اخیستل کېدل. له دغه ګامونو سره شخړې ملګرې وې او هېڅ ګام له مخکې ټاکل شوی نه و. خو سپېڅلې کړۍ داسې قوت رامنځته کړی و، چې په واک پورې نښتې کړۍ یې کمزورې کولې، د قانون واکمني یې حمایه کوله او د زور واکو د ناوړه غوښتنو پر وړاندې درېدل. د دې احتمال چې شخړې به پر یوه خونړي انقلاب بدلېږي، مخه ونیول شوه او د ستونزو حل په ټولنه کې د لا پرانیست والي لامل شو. دغه ارام او تدریجي بدلون ډېرې ښېګڼې لري، ځکه چې د اصلاحاتو دغه بڼه واکمنه طبقه د نظام له پاشلتیا خوندي کوي. د بدلون په دې بڼه کې ګامونه کوچني وي او د یو ستر ټکر پر ځای، کوچنۍ غوښتنو ته غاړه ایښودل منطقي دي. دغه ټکی څرګندوي چې د غلو دانو قانون پر سر ناندرۍ وړاندې له دې چې پر شخړې بدل شي، څنګه په ارامۍ حل او قانون لغوه شو. تر ۱۸۴۶ کال وروسته ځمکوالو نور نه شوای کولای چې په پارلمان کې پر قانون جوړونې اغېز وښندي. دا د اصلاحاتو لومړني قانون پایله وه، خو که د رایو ورکوونکو شمېر، د مخروبه ټاکنیزو حوزو را ژوندي کول او د غلو دانو قانون ټول یو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



ځای په ۱۸۳۲ کال کې پېښ شوي وای، ښايي ځمکوالو سخت مقاومت کړی وای. تدريجي بدلون دغه راز نامعلوم لوري ته د ګواښونو د ورننوتو مخه نيسي، د يوه نظام نړول په دې معنا و چې بايد يو نوی چتر رامنځته شوی وای. دغه خبره د فرانسې انقلاب په اړه صدق کوي چې تر انقلاب وروسته نتيجه يې له ولسواکۍ څخه «ترور» او بيا دوه ځلي شاهي نظام ته ورتګ و، تر دې چې په ۱۸۷۰ کال کې د فرانسې درېيم جمهوريت رامنځته شو. دا موضوع د روسيې انقلاب په اړه هم صدق کوي. هلته د امپراتورۍ تر ړنګېدو وروسته د يوه عادل نظام د جوړېدو پر ځای يو ګونديز ديکتاتوري رژيم ته لار هواره شوه چې د سلطنتي نظام په پرتله په مراتبو تاوتريخجن، خونړی او وحشي و. په يادو ټولنو کې تدريجي اصلاحات ځکه ستونزمن وو، چې له پلوراليزم بې برخې او سخت زېښونکي بنسټونه يې لرل. په برېتانيا کې بيا پلوراليزم يا کثرت پالنه د پرتمين انقلاب نتيجه وه او وروسته د قانون واکمنۍ وکولای شول چې تدريجي بدلونونو ته لار ورکړي.

### له 'ټرستانو' سره مبارزه

### Busting Trusts

په متحده ايالتونو کې د پرانيستو بنسټونو ريښې د استعمار په دوران کې د ويرجينيا، مريلنډ او کارولينا شخړو ته رسېږي. په متحده ايالتونو کې دغه بنسټونه د اساسي قانون پر بنسټ داسې جوړ شول چې د قواوو تفکيک او د واک محدوديت ته پکې ځای ورکړل شوی و، خو د اساسي قانون تصويب د بنسټونو د پراختيا په برخه کې وروستی ګام نه و. برېتانيا ته ورته د متحده ايالتونو بنسټونه هم د

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



سپېڅلې کړی پر اساس د مثبت فیډبک یا غبرګون پروسې پر مټ تقویه شول. د نولسمې پېړۍ په نیمایي کې په متحده ایالتونو کې ټولو سپین پوستو د رایې ورکونې حق درلود، خو ښځې او تورپوستي له دغه حقه بې برخې وو. اقتصادي بنسټونه هم پرانیستي شول، مثلاً؛ د ۱۸۶۲ کال د «ځمکو قانون» له مخې شاړې ځمکې د واکمن قشر پر ځای د نویو اوسېدونکو لپاره ځانګړې شوې. خو د برېتانیا په څېر دلته هم د پرانیستو بنسټونو پر وړاندې ګواښونه او خنډونه پای ته رسېدلي نه ګڼل کېدل. په متحده ایالتونو کې تر کورنۍ جګړې وروسته شمالي ایالتونو بېسارې اقتصادي وده تجربه کړه. د رېل کرښو، صنعت او سوداګرۍ په پراخېدو سره، د دې سیمې یو شمېر خلک د پرېمانه شتمنۍ خاوندان شول. دغه خلک او کمپنۍ چې د اقتصادي پرمختګونو له امله زړور شوي وو، حالاتو سخت بې پروا او مست کړل. دا خلک چې ټول کاروبار او مارکېټ یې انحصار کړی و او په مارکېټ یې سیال نه لیدل کېده، د غلو بارونیانو[1] په نوم یادېدل. له دې ډلې مشهور تن یې 'کارنلیوس وینډربیلټ' نومېده چې یوه مشهوره اصطلاح به یې کاروله:(ولې باید قانون ته پام وکړو؟ لکه چې زه زور نه لرم؟) په دې ډله کې یو بل کس 'جان ډي راکلفیلر' نومېده چې په ۱۸۷۰ کال کې یې د سټنډرډ آیل کمپنۍ[2] تاسیس کړه. نوموړي ډېر ژر په کلیولنډ کې له مارکېټه خپل سیالان له مخې لرې او د ټرانسپورت، نفتو او نورو نفتي محصولاتو انحصار ته یې مخه کړه. راکفیلر تر ۱۸۸۲ کاله پورې په متحده ایالتونو کې یو پراخ

[1] The Robber Barons
[2] Standard Oil Company

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



انحصار چې هغه مهال یې «ټراست» باله، رامنځته کړی و. په ۱۸۹۰ کال کې په متحده ایالتونو کې د ۸۸ سلنه چاڼ شویو نفتو کاروبار د سټنډرډ آیل کمپنۍ په واک کې و، چې له همدې امله راکفیلر په ۱۹۱٦ کال کې د نړۍ لومړی میلیادر شو. د هغه وخت رسم شوی کاریکاتور ښیي چې سټنډرډ آیل کمپنۍ د octopus «اته پښې لرونکې حیوان» په څېر نه یوازې د نفتو پر صنعت، بلکې د متحده ایالتونو د کانګرېس پر ودانۍ هم منګلو خښې کړې دي. جان پیرپونټ مورګان هم د هغه په څېر مشهور و. نوموړی د 'جي.پي مورګان' په نامه د موډرنې بانکوالۍ د یوه ګروپ بنسټګر و، چې وروسته یې د کاروبار په پراخېدو سره یې کمپنۍ د JPMorgan Chase په نامه ونومول شوه. مورګان په ۱۹۰۱ کال کې له اندریو کارنګي سره په ګډه د یو ایس سټیل[1] کمپنۍ جوړه کړه چې د یو میلیارد ډالرو په پانګې سره په نړۍ کې د اوسپنې د تولید لومړنۍ فابریکه وه. په ۱۸۹۰ یمه لسیزه کې سترو ټرستانو «انحصارګرو» د امریکا د اقتصاد کابو ټولو سکتورونو ته لار پیدا کړه او هر یو په خپل اړونده برخه کې نږدې ۷۰ سلنه مارکېټ انحصار کړی و، چې په دې ډله کې مهم انحصاري شرکتونه «DuPont»، « Eastman Kodak» او «International Harvester» وو. له تاریخي پلوه د امریکا شمالي او لوېدیځو ایالتونو نسبي رقابتي مارکېټونه لرل او د هېواد د نورو برخو، په ځانګړې توګه د جنوب په پرتله د برابرۍ او مساواتو غوښتونکي وو، خو په دې دوره کې د رقابت ځای انحصار ونیوه او د ثروت د وېش په برخه کې نا انډولي په چټکۍ پراخه شوه.

[1] U.S. Steel

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

Downloaded By: Afghan Salar Library



د امریکا متحده ایالتونو پراخ بنسټه سیاسي نظام د ټولنې یوه ستره برخه څواکمنه کړې وه او د هر ډول مداخلې پر وړاندې یې د مقاومت وړتیا پیدا کړې وه. هغه کسان چې د غلو بارونیانو د انحصار قرباني شوي وو او یا هغو کسانو چې پر صنعت یې د بارونیانو د غیر اخلاقي انحصار په اړه اعتراض درلود، په یوه ګډ خوځښت کې سره منظم شول. دوی لومړی یو پوپلیستي او وروسته بیا ترقي غوښتونکی غورځنګ تشکیل کړ. پوپولیستي غورځنګ د هغه کرنیز بحران په پایله کې راټوکېدلی و، چې له ۱۸۶۰ مې لسیزې وروسته د امریکا لوېدیځې سیمې یې له ننګونو سره مخ کړې وې. په ۱۸۶۷ کال کې د 'نېشنل ګرانج' په نامه د کروندګرو خوځښت چې په «ګرانجانو» مشهور و، جوړ شو او د نا عادلانه او له تبعیضه ډکې سوداګرۍ پر وړاندې یې د کروندګرو په سمبالولو لاس پورې کړ. د ۱۸۶۷ او ۱۸۷۴ کلونو په اوږدو کې ګرانجرانو د لوېدیځو ایالتونو ۱۱ مقننه جرګې په خپله ولکه کې واخیستې. د کلیوالو نارضایتي په ۱۸۹۲ کال کې د خلکو ګوند په جوړېدو تمامه شوه چې د ۱۸۹۲ کال په ولسمشریزو ټاکنو کې یې د ټولو رایو ۸،۵ سلنه وګټلې. پوپلستانو د ډیموکراټ ګوند د نوماند 'ویلیم جیننګز بریان' د ناکامو کمپاینونو له امله په راتلونکو دوه دورو ولسمشریزو ټاکنو کې ماتې وخوړه. د ټرستانو پر وړاندې د خلکو مخالفت له دې امله و چې په دولت او ملي سیاست کې د راکفیلر او نورو بارونیانو د نفوذ پر وړاندې مقابله وکړي. دغو سیاسي حرکتونو د سیاستوالو او وروسته د قانون جوړوونکو او په ځانګړې توګه د انحصاراتو په برخه کې د دولت پر کړنو او رول خپل تدریجي اثرات وښندل. په دې برخه کې مهم تحول په ۱۸۸۷ کال کې د تجارت د بین الایالتي قانون تصویب

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



و، چې د بین الایالتي تجارتي کمېسیون جوړېدو ته یې لار هواره کړه او د صنعت په برخه کې یې فېدرالي مقررات وضع کړل. تر دې وروسته ډېر ژر په ۱۸۹۰ کال کې د «ټراست ضد شرمن قانون» تصویب شو. دغه قانون چې په متحده ایالتونو کې د ټراست ضد مقررات په کې وضع شوي وو، د ټراستانو یا غلو بارونیانو پر ضد د مقابلې لپاره اساس ګڼل کېده. د امریکا ولسمشرانو هر یو، 'تیودور روزوولټ' (۱۹۰۱-۱۹۰۹ )، 'ویلیم ټافت' (۱۹۰۹-۱۹۱۳) او 'ووډرو وېلسن' (۱۹۱۳-۱۹۲۱) د بارونیانو د واک د کمزوري کولو او کابو کولو په موخه جدي اقدامات وکړل. هغه څه چې د ټراست ضد اقداماتو او د فېدرال صنعتي مقرراتو تصویب ته یې زمینه برابره کړه، د کروندګرو سیاسي قوت و. هغه لومړني اقدامات چې په ۱۸۷۰ یمه لسیزه کې د ایالتونو له لوري په مستقل ډول د ریلي ټرانسپورت د قانونمندۍ په موخه ترسره شول، د کروندګرو د خوځښتونو د فشار پایله وه. په حقیقت کې د شرمن قانون تر تصویب مخکې د ټرستانو پر ضد کانګرېس ته استول شوې ۵۹ عریضې ټولې د کرنیزو ایالتونو له لوري وړاندې شوې وې، چې تر شا یې د کروندګرو ټولنه، د کروندګرو ایتلاف، د کروندګرو د ګټو د دفاع انجمن، د مالدارۍ ملاتړي او نور حرکتونه وو.

د پوپلستانو له پاتې شونو چې په ټاکنو کې د ډیموکراتانو د ماتې له امله یې په ټولنه کې باور بایللی و، ترقي غوښتونکی غورځنګ را وټوکېد. دا یو سمونپال خوځښت و، چې د ټولنې له ټولو اقشارو څخه جوړ شوی و او هماغه د پوپلستانو شعارونه یې بدرګه کول. تیودور روزولټ هم په لومړیو کې د ترقي غوښتونکي غورځنګ غړی

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



و، چې هغه مهال د ولسمشر 'ویلیم مکین لي' مرستیال و او د مکین لي تر وژل کېدو وروسته، په ۱۹۰۱ کال کې ولسمشر شو. دغه ملي منصب ته تر راتلو مخکې، روزولټ د نیویارک د یوه جدي والي په توګه د سیاسي فساد د له منځه وړلو په موخه چې «ماشیني سیاست» یې باله، کلکه مبارزه پیل کړې وه. هغه په کانګریس کې په خپله لومړۍ وینا کې ټرستانو ته ښکاره پیغام درلود، روزولټ وویل:«د امریکا متحده ایالتونو پرمختګ د بازار اقتصادي سیستم او د کاروبار د خاوندانو پر مهارتونو ولاړ دی، خو په ورته وخت کې جدي خنډونه او شرارتونه وجود لري... د امریکایانو په ذهن کې یو ستر باور ځای نیولی چې هغه د ټرست په نامه لوی شرکتونه دي، د دې شرکتونو ځیني کړنې د عامه هوساینې لپاره خطرناکې دي. دا باور د حسادت، بې انصافۍ او یا د صنعتي پرمختګ پر لاسته راوړنو د سترګو پټولو له امله چې امریکا یې د اقتصاد په برخه کې د نړۍ له سیالانو سره سیاله کړې ده، نه دی؛ بلکې دا باور د اوسنیو بدلېدونکو شرایطو په اړه د ځیرکانه درک او پوهې له نشتوالي سرچینه اخلي.» روزولټ وړاندیز وکړ چې کانګریس دې د لویو شرکتونو د فعالیتونو د ارزونې لپاره یوه با صلاحیته فدرالي اداره جوړه کړي او که اړتیا وه د دې ادارې د جوړولو لپاره دې د اساسي قانون اصلاحیې ته مراجعه وشي. روزولټ په ۱۹۰۲ کال کې د شرمن قانون له مخې د مورګان د « Northern Securities Company» کمپنۍ وترله او وروسته د Du Pont، American Tobacco Company او Standard Oil Company خلاف هم

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



اقدام وشو. روزولټ په ۱۹۰۶ کال کې د 'هیپبرن قانون'[1] پربنسټ د ایالتونو ترمنځ سوداګري پیاوړې او د بین الایالتي تجارتي کمېسیون واکونه زیات شول. یاد قانون په ځانګړې توګه کمېسیون ته واک ورکاوه چې د اوسپنې پټلۍ د پروژو مالي حسابونه وڅېړي. د روزولټ ځایناستي 'ویلیم ټافت' حتی تر روزولټ زیات د ټرستانو پر وړاندې سخت دریځ غوره کړ چې په دې برخه کې تر ټولو مهم ګام یې په ۱۹۱۱ کال کې د سټنډرډ آیل شرکت لغوه کول و. ټافت نور مهم اصلاحات هم عملي کړل، چې له دې ډلې پر فدرالي عوایدو د مالیاتو وضع کول و او په ۱۹۱۳ کال کې د اساسي قانون د شپاړسمې اصلاحیې پر بنسټ عملي شول.

په ۱۹۱۲ کال کې د ولسمشر په توګه د ووډرو ویلسن په ټاکل کېدو سره په امریکا کې ترقي غوښتونکي اصلاحات اوج ته ورسېدل. وېلسن په ۱۹۱۳ کال کې د «نوې ازادۍ» په نامه په خپل کتاب کې ولیکل:«که انحصار ختم نه شي، د تل لپاره به په دولت کې ریښې وکړي، زه نه شم زغملی چې انحصار په خپل ځای پاتې شي، که دلته داسې شتمن کسان وي چې غواړي د امریکا متحده ایالتونو دولت اداره کړي، هغوی به دا کار وکړای شي.»

وېلسن په ۱۹۱۴ کال کې د کلایټون په نوم د ټرست ضد نوي قانون باندې کار وکړ او د تجارت فدرالي کمېسیون په جوړولو سره یې د کلایټون قانون د عمل ډګر ته وړاندې کړ. د دې ترڅنګ وېلسن د «پوجو د تحقیقاتو کمېټې» پر مټ د مالي سکتور د پیاوړتیا لپاره هڅې پیل کړې. هغه په ۱۹۱۳ کال کې د فدرل روزرو «د امریکا مرکزي

[1] Hepburn

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



بانک» بنسټ کېښود چې په مالي سکتور کې یې انحصاري فعالیتونه څارل. د نولسمې پېړۍ په وروستیو او د شلمې پېړۍ په لومړیو کې د «غلو بارونیانو» او د هغوی د تړستانو رامنځته کېدل ښیي چې د ازاد بازار شتون په خپله پرانیستي بنسټونه نه شي تضمینولی. دا هغه ټکی دی چې تر دې مخکې په دریېیم څپرکي کې مو ورته اشاره وکړه. مارکېټ ښایي د یو شمېر شرکتونو له لوري انحصار شي، چې په بازار کې په خپل سر د لوړو بیو د ټاکلو ترځنګ، د نوې ټکنالوژۍ او اغېزناکو سیالانو د راتګ مخه هم نیسي. که بازار په حال پرېښودل شي، د پرانیست والي ماهیت له لاسه ورکوي او د سیاست او اقتصاد د ډګر ځواکمنو لوبغاړو لاس ته پرېوځي. د پرانیستو اقتصادي بنسټونو جوړېدل یوازې د مارکېټ موجودیت ته اړتیا نه لري، بلکې پرانیستو بازارونو ته هم اړتیا لري، څو د خلکو یوې سترې کتلې ته برابر فرصتونه مهیا کړي. پراخ انحصار او د واکمنانو سیاسي ملاتړ، دواړه متضاد مفاهیم دي؛ خو د انحصاري تړستانو پر وړاندې غبرګون، همدا راز ښیي، که سیاسي بنسټونه پرانیستي وي، انډول رامنځته کوي او قوتونه زېږوي چې د پرانیستو بازارونو د خنډونو پرضد ګام پورته کوي او دا په عمل کې هماغه سپېڅلې کړۍ ده. پرانیستي اقتصادي بنسټونه د پرانیستو سیاسي بنسټونو ودې ته بستر برابروي او په عین وخت کې پرانیستي سیاسي بنسټونه په خپل وار د پرانیستو اقتصادي بنسټونو د انحراف مخه نیسي. په متحده ایالتونو کې د تړستانو له منځه وړل د سپېڅلې کړۍ د حقیقت څرګندونه کوي. دا د هغه څه برعکس دي چې په مکسیکو کې مو ولیدل. په مکسیکو کې هېڅ داسې کوم بنسټ نه شته چې د کارلوس سلایم انحصار مهار او مات کړي، خو په متحده ایالتونو کې د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



پرانیستو مارکېټونو د تداوم او ملاتړ په موخه د شرمن او کلایټون قوانینو په مرسته ټرستان، انحصارات او کارتلونه له پښو و غورځول شول. د شلمې پېړۍ په نیمایي کې ازادو رسنیو هم د امریکا متحده ایالتونو د ټولنې او سپېڅلې کړۍ په پیاوړتیا کې مهم رول ولوباوه. روزولټ په ۱۹۰۶ کال کې د موکراکر[1] اصطلاح وکاروله. دا اصطلاح په ټولنه کې ښه وچسپېده او اغېز یې زیات و. تر ټولو مشهور موکراکر 'ایډا ټاربل' و چې په ۱۹۰۴ کال کې د «سټنډرډ آیل شرکت تاریخ» په نامه کتاب یې په ټولنه کې د د راکفیلر پر وړاندې د عامه افکارو په راجلبولو کې مهم رول ولوباوه او همدا لامل و چې یاد شرکت په ۱۹۱۱ کال کې وتړل شو. یو بل نامتو موکراکر لویس براندیز نومېده چې لیکوال او حقوقپوه و او وروسته د ولسمشر ویلسن له لوري د سترې محکمې د غړي قاضي په توګه هم وټاکل شو. براندیز «بانکداران د خلکو پر پیسو څه کوي؟» په نامه کتاب کې د مالي فساد په اړه د رسواینو یوه لړۍ پیل کړه چې دغه کار د پوجو کمېټه تر تاثیر لاندې راوسته. نورو ژورنالېستانو لکه ویلیم رانډالپ د موکراکر په توګه په دې برخه کې مهم رول ولوباوه. د هغه په یوه مجله کې د کاسموپولیټن په نامه «د سناتورانو خیانت» تر سرلیک لاندې په ۱۹۰٦ کال کې د ډیویډ ګراهام فیلیپ په قلم د لیکنو لړۍ پیل شوه او دا کار د دې لامل شو چې د سنا جرګې غړي د انتصاب پر ځای د خلکو له لوري انتخاب شي او په ۱۹۱۳ کال کې د اساسي قانون د یوې اصلاحیې په تصویب سره دا چاره عملي شوه. موکراکانو د ټرستانو پر وړاندې د سیاستوالو د پورته کولو او

[1] muckraker

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



هڅولو په برخه کې مهم رول ولوباوه. غلو بارونیانو له موکراکرانو څخه نفرت درلود، خو د امریکا متحده ایالتونو د بنسټونو ځانګړنو د رسنیو د غلي کولو پر وړاندې خنډونه دفع کړي وو. پرانیستي سیاسي بنسټونه همدا راز ازادو رسنیو ته د ودې او غوړېدو فرصت ورکوي او په مقابل کې دغه رسنۍ د پرانیستو سیاسي او اقتصادي بنسټونو پر وړاندې ګواښونه او ننګونې د چارواکو غوږونو ته رسوي. هغه معلومات چې ازادو رسنیو د شلمې پیړۍ په نیمايي کې په امریکا متحده ایالتونو کې چمتو کول، ډېر مهم وو. د دغو رسنیو او معلوماتو له خپرېدو پرته خلکو نه شوای کولای چې د غلو بارونیانو د ناوړه استفادې او ټرستانو د انحصار په اړه خلک ویښ او تحریک شي.

## له سترې محکمې سره ټکر

د ډیموکرات ګوند نوماند او د «تیدي روزولټ» د تره زوی «فرانکلن ډي روزولټ» په ۱۹۳۲ کال کې په داسې وخت کې د امریکا متحده ایالتونو ولسمشر شو، چې د «ستر ناورین» منځنۍ دوره وه. هغه له ستر ناورین سره د مبارزې په موخه د یوې تګلارې په وړاندې کولو سره د خلکو ملاتړ راخپل او واک ته ورسېد. کله چې په ۱۹۳۲ کال کې روزولټ واک ته ورسېد، په امریکا کې یو پر څلورمه برخه کاري ځواک وزګار او له بېوزلۍ سره یې لاس و پنجه نرموله. په ۱۹۲۹ کال کې د اقتصادي ځوړتیا له پیل راهیسې صنعتي تولیدات تر نیمايي کم شول او د نوې پانګونې بهیر ټکنی شو. روزولټ له دغه اقتصادي ناورین سره د مبارزې په موخه د «New Deal» په نامه منشور جوړ کړی و. روزولټ په ټاکنو کې د ۵۷ سلنه رایو په اخیستو سره

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



پرېکنده بریا ترلاسه کړې وه او په کانګریس او سنا کې هم ډیموکراټ ګوند اکثریت څوکۍ ګټلې وې، چې روزولټ د نیو-ډیل منشور تصویبول یې ممکن کول. د روزولټ منشور ځینې برخې له اساسي قانون سره په ټکر کې وې او له همدې امله موضوع سترې محکمې ته وړاندې شوه؛ هغه ځای چې د روزولټ منشور د بریالیتوب لپاره ورته هیلې کمې وې. په نیو ډیل کې یوه مهمه موضوع د 'ملي صنعت بیا رغونې قانون' و، چې لومړی څپرکی یې د صنعت بیا رغونې ته ځانګړی شوی و. ولسمشر روزولټ او ملګرو یې باور درلود چې د صنعت د غوړېدو لپاره د صنعت په سکتور کې د رقابت محدودول، د کارګري اتحادیو د جوړېدو لپاره کارګرانو ته د ډېرو حقونو ورکول او د کاري شرایطو لپاره د نویو مقرراتو وضعه کول او د هغو معیاري کول ډېر اړین دي. دویم څپرکی د عامه خدماتو یا ټولګټو چارو د یوې ادارې په رامنځته کول باندې څرخېده، چې مهمې بنسټیزې او زېربنایي پروژې لکه په فیلاډلفیا کې د دېرشم سړک د اورګاډي د تمځي جوړول، د تري بورو پول جوړول، د کولي د اوبو بند جوړول او پر سیند د یو اوږد پول جوړول چې د فلوریډا کي ویست ښار یې له اصلي ښار سره نښلاوه، شاملې وې. ولسمشر روزولټ د ۱۹۳۳ کال د جون پر ۱٦ مه د ملي صنعت قانون د پلي کېدو لپاره فرمان صادر کړ، خو د روزولټ دغه پرېکړه د سترې محکمې له مخالفت سره مخ شوه. سترې محکمې د ۱۹۳۵ کال د مې په ۲۷ مه د یاد قانون لومړی څپرکی له اساسي قانون سره په ټکر کې وباله او څرګنده یې کړه:«فوق العاده شرایط ښایي فوق العاده درملنې ته اړتیا لري. خو... فوق العاده شرایط تر قانون پورته عمل نه شي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



کولای.» د محکمې تر پرېکړې مخکې روزولټ د خپلو اصلاحاتو په دویم پړاو کې په متحده ایالتونو کې د نوې عامه هوساینې د پروګرام عملي کېدو لپاره د «ټولنیز خوندیتوب» قانون د تطبیق فرمان لاسلیک کړ. په دې قانون کې د تقاعد حقوق، د بېکارۍ امتیازات، بېوزله کورنیو سره مرستې، عامه روغتیا او له معلولینو سره مرستې شاملې وې. نوموړي دغه راز د کاري اړیکو د تنظیم قانون لاسلیک کړ چې د کارګرو د بېلابېلو حقونو د خوندیتوب اړوند مسایل پکې شامل وو، خو دا قانون هم د سترې محکمې له مخالفت سره مخ شو. په ۱۹۳٦ کال کې په داسې حال کې چې یاد قوانین په قضایه قوه کې تر بحث او ارزونې لاندې وو، روزولټ له یو ډېر قوي پروګرام سره د ٦۱ سلنه عمومي رایو په ترلاسه کولو یو ځل بیا بریالی شو. روزولټ د خلکو ترمنځ د خپل بېساري محبوبیت له امله، سترې محکمې ته اجازه نه ورکوله چې د تګلارو پر وړاندې یې خنډ شي. نوموړي د ۱۹۳۷ کال د مارچ په ۹ مه په یوه ژوندۍ راډیویي وینا کې خپله تګلاره روښانه کړه. هغه خپلې خبرې په دې ټکو پیل کړې چې د ولسمشرۍ په لومړۍ دوره کې له چلنجونو سره د مقابلې په موخه یې په ډېرې سختۍ له سترې محکمې سره جوړجاړی وکړ. هغه زیاته کړه:«زه له نن څخه څلور کاله مخکې په همدې ورځ د مارچ د نهمې هغه ماښام په یادوم، کله چې په لومړي ځل مې د راډیو له لارې تاسو ته خپله تګلاره بیانوله، نو هغه مهال موږ له یوه ستر مالي ناورین سره لاس او ګرېوان وو. د کانګریس په همکارۍ مو ډېر ژر له ملت څخه وغوښتل چې خپل ټول شخصي طلا او شتمنۍ د متحده ایالتونو دولت ته وسپاري. دا اوس چې په وضعیت کې کوم ښه والی راغلی، زموږ د سم سیاست پایله ده. خو کله چې دوه کاله

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



وروسته سترې محکمې دا موضوع له اساسي قانون سره په مطابقت کې څېړله، نو له لسو رایو یوازې پنځه مثبتو رایو وکولای شول چې دا موضوع تایید کړي، یوې رایې کولای شول چې د دې ستر ملت برخلیک په یوه نا هیلي کوونکي مسیر ور سم کړي. په عمل کې پنځو قاضیانو پرېکړه وکړه چې د دې قانون منځپانګه د یوه سر لوړي ملت د پاتې کېدو لپاره د اساسي قانون تر اهدافو لوړه ده.»

روزولټ وویل چې د متحده ایالتونو اساسي قانون په حقیقت کې سترې محکمې ته دا حق نه دی ورکړی چې عادي قوانین له اساسي قوانینو سره په مطابقت کې وڅېړي، بلکې سترې محکمې له ۱۸۰۳ کال وروسته دا واک ځان ته خوندي کړ. هغه مهال قاضي 'بوشارد واشنګټن' په ډاګه کړې وه چې «د یوه قانون ارزښت باید په پام کې ونیول شي، مګر دا چې له اساسي قانون سره د هغه مغایرت له هر ډول شک پرته تایید شي.»

روزولټ څرګنده کړه چې د خلکو د رایو پر مټ ټاکل شوی دی او د بدلون لپاره له پوره واکونو څخه برخمن دی. هغه همدارنګه وویل چې د سترې محکمې قاضیان هغوی ته د ورسپارل شویو کارونو د ترسره کولو وړتیا نه لري او دا د بوډا قاضیانو چې د هغه د اصلاحي طرحو پر وړاندې خنډ شوي وو، له وسه پورته خبره ده. هغه وروسته وړاندیز وکړ چې ټول قاضیان باید د اویا کلنۍ په عمر کې تقاعد شي او ده ته دې واک ورکړل شي چې د سترې محکمې غړیتوب ته شپږ نوي قاضیان معرفي کړي. روزولټ خپل دغه پلان د «مقننه قوې د اصلاح فرمان» په چوکاټ کې عملي کړ. روزولټ په ډېر ماهرانه ډول هڅه وکړه چې د یوې نظر پوښتنې له لارې د خلکو رایه واخلي. په

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



سلو کې ۴۰ سلنه وګړي د هغه له دې پلان سره همغږي وو. لویس براندیز دا مهال د سترې محکمې غړی و. براندیز سره له دې چې د روزولټ له اکثریت تقنیني فرمانونو سره همغږی و، خو د ولسمشر له هغو اقداماتو چې د قضایه قوې د کمزوري کېدو لامل کېدل، مخالف و او همدارنګه د قاضیانو د واکونو په اړه د ولسمشر پر څرګندونو یې نیوکه وکړه. سره له دې چې د روزولټ ډیموکراټ ګوند په کانګرېس او سنا دواړو جرګو کې اکثریت څوکۍ لرلې، خو کانګریس په قضایه قوه کې د روزولټ د اصلاحاتو له طرحې سره مخالفت څرګند کړ. روزولټ وروسته مشرانو جرګې ته مراجعه وکړه او د دې جرګې په قضایي کمېټه کې د یاد سند په اړه سخت ناندریز بحثونه وشول. دغې کمېټې بالاخره د سنا عمومي غونډې ته خپل راپور وړاندې کړ چې له مخې یې یاده طرحه له اساسي قانون سره کاملا په ټکر کې بلل شوې وه. سنا په ۷۰ موافقو او ۲۰ مخالفو رایو یاده لایحه د اصلاح او د بیا کتنې په موخه یې بېرته کمېټې ته مسترده کړه. کمېټې ټولې هغه مادې چې په قضایه قوه کې یې لاسوهنې ته زمینه برابروله، حذف کړې. بالاخره روزولټ په دې بریالی نه شو، څو هغه محدودیتونه چې سترې محکمې د ده پر وړاندې وضعه کړي وو، له مخې لرې کړي. وروسته د ټولنیز خوندیتوب قانون او د کاري اړیکو د تنظیم ملي قانون پر سر د حکومت او قضایه قوې ترمنځ جوړجاړی وشو.

پرانیستي سیاسي بنسټونه نه یوازې په پرانیستو اقتصادي بنسټونو کې د انحرافاتو مخه نیسي، بلکې د هغو هڅو مخنیوی هم کوي چې د دوی دوام ګواښي. د ډیموکراټ ګوند د کانګریس والو او سناتورانو لنډ مهاله ګټو دا ایجابوله چې د خپلې خوښې وړ قضا رامنځته او د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



نیوډیل منشور بشپړ تطبیق ته زمینه برابره کړي، خو د اتلسمې پېړۍ په لومړیو کې د برېټانیا د سیاسي نخبګانو په څېر - چې په باور یې د قانون تر پښو لاندې کول به هغه لاسته راوړنې له خطر سره مخ کړي چې له سلطنتي نظام څخه په سختۍ ګټلې دي- د امریکا متحده ایالتونو د کانګریس او سنا غړي هم دې ټکي ته متوجه وو چې که ولسمشر د قضایه قوې خپلواکي زیانمنه کړي، نو د نظام د قواوو ترمنځ انډول خراب او د پراخ بنسټه سیاسي بنسټونو دوام به ټکنی شي. که روزولټ دې نتیجې ته رسېدلی و، چې د مقننه قوې لاسته راوړل او جوړجاړی ډېر وخت او حوصلې ته اړتیا لري او غوره به وي چې خپلسرۍ ته دوام ورکړي او په دې توګه د متحده ایالتونو د پراخ بنسټه سیاسي نظام مقررات تر پښو لاندې کړي، نو ښکاره ده چې کانګریس ته دا کار د منلو نه و. وروسته روزولټ کولای شول چې ملت ته مراجعه وکړي او ادعا یې کولای شوای چې کانګریس له اقتصادي رکود سره د مبارزې په برخه کې د هغه د اصلاحاتو مخه نیسي. هغه کولای شول چې د پولیسو او پوځ پر مټ د کانګریس دروازې وتړي. ایا دا امکان لري؟ دا ټیک هغه څه دي چې په ۱۹۹۰ یمه لسیزه کې په پیرو او وینزویلا کې پېښ شول. ولسمشر فوجي موري او چاوېز د خلکو ملاتړ په خپلولو سره خپل مخالف کانګرېسونه وتړل او د خپلو واکونو په ډېرولو سره یې په اساسي قوانینو کې بدلونونه راوستل. هغه کسان چې د پرانیستو سیاسي بنسټونو په اډانه کې واک چلوي، د دغسې ښویېدونکې پېچومې پر سر له درېدو ډارېږي او دا هماغه ډار دی چې په ۱۷۲۰ مه لسیزه کې وال پول یې د محکمې په چارو کې له لاسوهنې را وګرځاوه او د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



امریکا کانګریس د سترې محکمې په چارو کې د لاسوهنې په اړه د روزولټ د پلان ملاتړ و نه کړ. روزولټ له سپېڅلې کړۍ سره مخ شوی و. خو دغه منطق په ځانګړې توګه په هغو ټولنو کې چې نسبتاً پراخ بنسټه او په عین حال کې په پراخه کچه زبېښونکي بنسټونه لري؛ تل عملي نه برېښي. موږ دغه ډول بېلګې مخکې په روم او وینز کې ولیدلې. ارجنټاین بل هغه مثال دی چې د روزولټ په څېر له سترې محکمې سره پکې د ټکر پېښه رامنځته شوه. د ارجنټاین اساسي قانون (۱۸۵۳) د یوې داسې سترې محکمې د جوړښت حکم کاوه چې واکونه یې د متحده ایالتونو سترې محکمې ته ورته وو. په ۱۸۸۷ کال کې د ارجنټاین سترې محکمې ته له اساسي قانون سره د عادي قوانینو د پرتلنې واک ورکړل شو. له تیوریک اړخه سترې محکمې کولای شول چې د ارجنټاین د پرانیستو سیاسي بنسټونو د یوې برخې په توګه پراختیا ومومي، خو د سیاسي او اقتصادي نظام یوه لویه برخه زبېښونکې پاتې شوه. په ارجنټاین کې هم د متحده ایالتونو په څېر په اساسي قانون کې د سترې محکمې واکونه جنجال پاروونکي وو. جوان دومینګو پېرون « Juan Domingo Perón» په ۱۹۴۲ کال کې د یوه ډیموکراټیکې پروسې پرمټ د ارجنټاین ولسمشر شو، مخکې تر دې چې پېرون پر دغه ملي سټېج را څرګند شي، په لومړیو کې په پوځ کې ډګروال و او بیا د ۱۹۴۳ کال د پوځي کودتا په ترڅ کې د کار وزیر شو. نوموړي د دې دندې پرمهال د کارګرانو غورځنګ او ټولنو سره یو سیاسي ائتلاف جوړ کړ، چې له ده سره یې ولسمشرۍ ته په رسېدو کې ډېره مرسته وکړه. واک ته د پېرون تر رسېدو څه موده وروسته، په پارلمان کې د هغه پلویانو د سترې محکمې له پنځو غړو د څلورو تنو د عدلي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



تعقیب غوښتنه وکړه. د سترې محکمې د یادو غړو پر وړاندې بېلابېل تورونه ولګول شول او یوه ادعا پرې دا وه چې سترې محکمې د اساسي قانون خلاف په ۱۹۳۰ او ۱۹۴۳ کلونو کې د پوځي حکومتونو مشروعیت منلی، چې دا تر ډېره خندوونکې موضوع وه ځکه چې پېرون خپله د ۱۹۴۳ کال په کودتا کې مهم رول درلود. د محکمې پر وړاندې بله ادعا په متحده ایالتونو کې د روزولټ له موضوع سره ورته وه. د ولسمشر په توګه د پېرون تر ټاکل کېدو مخکې سترې محکمې پرېکړه کړې وه چې د ولسمشر له لوري د کاري اړیکو د تنظیم د نوي پلاوي تشکیل له اساسي قانون سره په ټکر کې دی. څرنګه چې روزولټ په خپل دویم دور ټاکنیز کمپاین کې پر سترې محکمې سختې نیوکې کړې وې، دغه شان پېرون هم په ۱۹۴۶ کال کې په خپلو ټاکنیزو منډو ترړو کې پر سترې محکمې تندې نیوکې وکړې. پر سترې محکمې د لګول شویو تورونو د څېړنې تر نهه میاشتني بهیر وروسته، پارلمان د دریوو تنو قاضیانو د نیولو امر وکړ، څلورم کس له وړاندې استعفا کړې وه. سنا جرګې دا وړاندیز تایید کړ. پېرون څلور نوي قاضیان وټاکل. په ستره محکمه کې دغه مداخله له سیاسي محدودیتونو څخه د پېرون د خلاصون په معنا وه. اوس نو د پېرون لاس ازاد و او هر هغه څه یې کولای شول چې تر دې مخکې او وروسته پوځي حکومتونو په ارجنټاین کې کول. مثلاً؛ هغه قاضیان چې د ده له لوري ټاکل شوي وو، د پېرون د مخالف راډیکال ګوند مشر «ریکارډو بالبین» محاکمه یې د اساسي قانون له مخې ګڼله او په دې تورن شوی و چې پېرون ته یې سپکاوی کړی. د پېرون له لوري د سترې محکمې لپاره په خپله خوښه د قاضیانو ټاکل

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



د راتلونکو ولسمشرانو او حکومتونو لپاره یوه قاعده او دود وګرځېد او په دې توګه په ارجنټاین کې قضایه قوې هغه واک چې د اجرایه قوې پر وړاندې درلود، له لاسه ورکړ. په ۱۹۵۵ کال کې د یوې بلې پوځي کودتا په ترځ کې د پېرون حکومت را وپرځول شو او له دې سره په ارجنټاین کې د پوځي او غیر پوځي حکومتونو لړۍ پیل شوه. هر حکومت به هڅه کوله چې د خپلې خوښې وړ قاضیان وټاکي.

## مثبت غبرګون (فیډبک) او سپېڅلې کړۍ

پرانیستي اقتصادي او سیاسي بنسټونه په خپله نه رامنځته کېږي، بلکې دا د واکمنې طبقې چې د اقتصادي ودې او بدلونونو پر وړاندې مقاومت کوي او د هغو کسانو ترمنځ چې د واکمنې طبقې د اقتصادي او سیاسي واک محدودول غواړي، د شخړې نتیجه ده. پرانیستي بنسټونه د حساسو مقطعو په جریان کې رامنځته کېږي، لکه په برېټانیا کې د پرتمین انقلاب رامنځته کېدل او په شمالي امریکا کې د جېمزټاون مستعمرې جوړېدل. دغه بنسټونه د یو لړ عواملو په پایله کې د واکمنې طبقې واک کمزوری کوي، مخالفین یې پیاوړي کوي او د پراخ بنسټه ټولنې د جوړېدو لپاره انګېزه رامنځته کوي. د شخړو نتیجه هېڅکله قطعي نه ده او حتی که د تاریخ ډېرې پېښې حتمي هم وګڼو، بیا هم د تاریخ مسیر د اټکل وړ نه دی. که پرانیستي سیاسي او اقتصادي بنسټونه موجود وي، نو د یوې سپېڅلې کړۍ او د مثبت غبرګون یوې پروسې رامنځته کولو ته زمینه برابروي او دغه کار بیا په خپل وار د یادو بنسټونو پراختیا او پایښت سره مرسته کوي. سپېڅلې کړۍ د بېلابېلو میکانیزمونو پر مټ عمل کوي. لومړی؛ کثرت پاله یا پلورالایز سیاسي بنسټونه د یوه دیکتاتور، د دولت دننه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



یوې ډلې یا حتی د ښه نیت لرونکي ولسمشر له لوري د واک د انحصار امکان محدودوي، چې ښه مثال یې فرانکلین روزولټ دی. نوموړي هڅه کوله چې د سترې محکمې له لوري د ده پر وړاندې لګېدلي محدودیتونه مات کړي او یا هم په برېتانیا کې کله چې 'سر رابرټ والپول' د تور قانون د تطبیق لپاره عجولانه اقدام وکړ، نو له مخالفت سره مخ شو. که په دواړو مواردو کې واک د یوه کس یا یوې ډلې په لاس انحصار او متمرکز شوی وای، نو کولای یې شول چې د پرانیستو بنسټونو ستنې کاواکه کړي. پلورالېزم نه یوازې د دې ډول اعمالو پر وړاندې درېږي، بلکې د قانون واکمني او د ټولو وګړو په وړاندې د قوانینو یو شان پلي کېدل تضمینوي، هغه څه چې د یوه استبدادي رژیم تر چتر لاندې ممکن نه دي.

دویم؛ لکه څرنګه چې مخکې مو څو ځلې یادونه وکړه، پرانیستي سیاسي بنسټونه، پرانیستي اقتصادي بنسټونه حمایه کوي، چې دا د سپېڅلې کړۍ لپاره یو بل میکانیزم رامنځته کوي. پرانیستي اقتصادي بنسټونه د زبېښونکو اقتصادي مناسباتو ښکاره عناصر لکه مریتوب او فیوډالېزم له منځه وړي، د انحصار مخه نیسي او په پایله کې یو خوځنده اقتصاد رامنځته کوي. دا چې په برېتانیا کې په اتلسمه پېړۍ کې اقتصادي بنسټونه په کافي اندازه پرانیستي شوي وو، واکمنې ډلې له قدرت څخه ډېر لږ منفعت ترلاسه کاوه، دوی په حقیقت کې د ولسواکۍ د ټینګښت لپاره د خلکو د پراخو اعتراضونو له امله ډېر څه له لاسه ورکول. د سپېڅلې کړۍ دغې بڼې په نولسمه پېړۍ کې له یوې خوا په برېتانیا کې د ډیموکراسۍ په لور د تدریجي حرکت پر وړاندې ګواښونه راکم کړل او له بل پلوه یې دغه بهیر بریالیتوب ته

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



ورساوه. خو دغه شرایط د یو شمېر استبدادي نظامونو لکه اتریش-هنګري، روسیې او نورو هغو هېوادونو چې شدید زبېښونکي بنسټونه یې لرل، برعکس و. په نولسمه پېړۍ کې په یادو سیمو کې د سیاسي مشارکت او پلورالېزم په برخه کې خوځښتونه وځپل شول، ځکه چې د واکمنې طبقې ګټې یې ګواښلې.

وروستۍ خبره او میکانیزم دا دی، چې پرانیستي سیاسي بنسټونه ازادو رسنیو ته د فعالیت زمینه برابروي. دغه رسنۍ د هغو ګواښونو او چلنجونو په اړه معلومات چمتو او خپروي، چې پرانیستو بنسټونو ته متوجې دي. دا هماغه بهیر دی چې د نولسمې پېړۍ په وروستیو او د شلمې پېړۍ په لومړیو کې په متحده ایالتونو کې یې د غلو بارونیانو له انحصاره چې د متحده ایالتونو د پرانیستو اقتصادي بنسټونو پر وړاندې خنډ و، پرده پورته کړه او دا تهدیدونه یې شنډ کړل. که څه هم د دغو حتمي شخړو پایلې د اټکل وړ نه دي، خو سپیڅلې کړۍ د دې میکانیزمونو له لارې پرانیستو بنسټونو ته دا زمینه برابروي چې د ننګونو پرضد مقاومت وکړي او پراختیا ومومي، لکه په بریټانیا او متحده ایالتونو کې چې همداسې وشول. لکه څرنګه چې په راتلونکي څپرکي کې به یې ولولو، له بده مرغه زبېښونکي بنسټونه هم د خپلې بقا لپاره همدغه ډول مقاومت کوي او د خبیثه کړۍ پروسه رامنځته کوي.

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



# دولسم څپرکی

## خبیثه کړۍ

## (The vicious circle)

### تاسو نور نه شئ کولای چې په اورګاډي کې بو[1] ته لاړ شئ

د افریقا په لوېدیځ کې ټول سیریلیون په ۱۸۹٦ کال کې د برېټانیا تر استعمار لاندې راغی. د دې هېواد پلازمېنه «فري ټاون» په اصل کې د اتلسمې پېړۍ په وروستیو کې د ازادو مریانو د استوګنځي په توګه تاسیس شو، خو کله چې فري ټاون د برېټانوي استعمار لاس ته ولوېد، د سیریلیون په مرکزي سیمو کې لا هم د افریقایي شهزادګانو کوچني سلطنتونه واکمن وو. د نولسمې پېړۍ په نیمایي کې برېټانویانو له افریقایي مشرانو سره د یو لړ تړونونو له مخې په دې سیمه کې د خپلې واکمنۍ لمن پراخه کړه او د همدغه تړونونو پر بنسټ، برېټانیا د ۱۸۹٦ کال د اګست په ۳۱ مه سیریلیون د خپل تحت الحمایې په توګه اعلان کړ. برېټانویانو دلته مهمې ستېې او مشران په ګوته کړل او هغوی ته یې د «عالي مقام» لقب ورکړ. مثلاً؛ د سیریلیون په ختیځ کې د «کونو» ولسوالۍ د الماسو کان په سیمه کې د «سلوکو» په نامه یو ځواکمن جګړه مار پاچا د دوی پر وړاندې لوی سرخوږی و. پاچا سلوکو ډېر ژر عالي مقام شو او د ساندور قبیلې مشرتابه پر حکومتي ادارې بدله شوه. که څه هم د دې سیمې

[1] BO

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



پاچاهانو لکه سلوکو له برېټانوي چارواکو سره تړونونه لاسلیک کړل، خو په دې نه پوهېدل چې دا تړونونه د یوې مستعمرې د جوړېدو لپاره د مطلق اختیار ورکولو په معنا دي. کله چې برېټانویانو د ۱۸۹۸ کال په جنورۍ کې پر هر کور ۵ شلینګه مالیه وضعه کوله، د «مالیې بلوا» په نامه د ځایي مشرانو بغاوت پر کورنۍ جګړې واوښت. جګړه له شماله پیل شوه، خو په جنوب او په ځانګړې توګه په 'میندلنډ' سیمه کې چې د مینډ قوم تر ولکې لاندې وه، جګړه سخته او اوږده وه. د مالیې پر سر دغه بلوا ډېر ژر کابو شوه، خو دا برېټانویانو ته د خطر یو زنګ و چې د سیریلیون په مرکزي برخو کې یې واک له ننګونو سره مخ دی. برېټانویانو تر دې وړاندې له فري ټاون څخه مرکزي سیمو ته د اوسپنې پټلۍ غځولو چارې پیل کړې وې. د اوسپنې پټلۍ غځونې کار د ۱۸۹۶ په مارچ کې پیل شو او د ۱۸۹۸ په ډسمبر کې د بلوا پرمهال، یاده رېل کرښه تر سونګو ټاون پورې غځول شوې وه. د برېټانیا پارلمان په ۱۹۰۴ کې دا پېښه داسې ثبت کړې ده:«هغه محلي بلوا چې د ۱۸۹۸ کال په فبرورۍ کې پېښه شوه، د سیریلیون د اوسپنې پټلۍ کارونه یې په ټپه ودرول او کاري پرسونل یې هم تیت و پرک شو. بلواګرو د اوسپنې پټلۍ باندې حمله وکړه او له همدې امله ټول کارکوونکي او پرسونل فري ټاون ته وتښتېدل.... روټي فنک چې د فري ټاون په ۵۵ مایله کې پروت و او تمه وه چې پټلۍ به ترې تېره شي، هغه مهال په بشپړه توګه د پاڅونوالو په ولکه کې و.»

د روټي فنک مسیر په حقیقت کې د اوسپنې پټلۍ په هغه پلان چې په ۱۸۹۴ کال کې جوړ شوی و، شامل نه و. دغه مسیر د پاڅون تر پیل وروسته وټاکل شو او د نوي پلان له مخې ټاکل شوې وه چې دغه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



کرښه به د شمال ختیځ مسیر پر ځای د روټي فنک له لارې جنوب او بیا د منډلنډ له لارې بو ته غځېږي. برېټانويانو غوښتل چې د نورو خوځښتونو او پاڅونونو په صورت کې به د رېل په مرسته منډلينډ چې د پاڅونونو زړه و او نورو هغو سيمو ته چې ښايي پاڅونونه پکې وشي، چټک لاسرسی ولري. په ۱۹۶۱ کال کې کې د سيريليون تر خپلواکۍ وروسته برېټانويانو د دې هېواد واک 'سرميلټن مارګای' او د هغه ګوند (SLPP) ته چې په جنوب او په ځانګړې توګه په منډلينډ او ختيځ کې يې ډېر ملاتړي لرل، وسپاره. په ۱۹۶۴ کال کې د سرميلټن ورور 'سر البرټ مارګای' د هغه د ځايناستي په توګه د سيريليون لومړی وزير شو. د ۱۹۶۷ کال په لانجمنو ټاکنو کې د سيريليون د خلکو ګوند (SLPP) په ډېر کم توپير سره د سياکا سټيونز په مشرۍ د 'ټولو خلکو کانګريس ګوند' (APC) له لوري ماته وخوړه. سټيونز په شمال کې د ليمبا ټبر سره تړاو درلود او ګوند يې په شمال کې د ليمبا، تمني او لوکو قومونو په منځ کې ډېر ملاتړي لرل. که څه هم برېټانويانو په سيريليون کې د اوسپنې پټلۍ د خپلو استعماري موخو لپاره جوړه کړې وه، خو په ۱۹۶۷ کال کې يې اقتصاد ارزښت پيدا کړ او دغې رېل کرښې د سيريليون د قهوې، ککو او الماسو په صادراتو کې مهم رول ولوباوه. قهوه او ککو تر ډېره په منډلينډ سيمه کې کرل کېدل او د اوسپنې دغه پټلۍ د نړۍ په لور د منډلينډ دريخه وه. د ۱۹۶۷ کال په ټاکنو کې اکثريت منډلينډيانو 'البرټ مارګای' ته رايه ورکړې وه. سټيونز د دې پر ځای چې د منډلينډ صادراتو ته لېواله وي، د واک او ځوکۍ د ساتنې په فکر کې و. د هغه دليل ساده و:« د مينډيانو ښه، د سيريليون د خلکو ګوند ښه

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



دي او د سټيونز پر زيان ده.» هغه د اوسپنې پټلۍ د مينډليند په لور کړه او د هغې لپاره يې واګونونه وپېرل، څو د لاسوهنې او بدلون هېڅ امکان په کې پاتې نه شي. اوس چې کله تاسو له فري ټاون څخه د ختيځ په لور په موټر کې سفر کوئ او د هسټينګز او واټرلو د اورګاډي تمځايونه پاس کوئ، نو و به ګورئ چې هلته د اوسپنې پټلۍ نه شته چې بو ته په کې لاړ شئ. د سټيونز افراطي تګلارې طبعاً د سيريليون تر ټولو فعالې اقتصادي برخې ته کلکه ضربه ورکړه، خو تر خپلواکۍ وروسته د زياترو افريقايي مشرانو په څېر، سټيونز هم د واک د بقا او اقتصادي پرمختګ د دوو انتخابونو ترمنځ د «واک بقا» انتخاب کړ. تاسو اوس نه شئ کولای چې بو ته په اورګاډي کې لاړ شئ، ځکه چې د روسيې د لومړي تزار په څېر چې اورګاډی به انقلاب د روسيې تر دروازو را ورسوي، سټيونز هم وېرېده چې رېل به د هغه مخالفين پياوړي کړي. د ډېرو نورو رهبرانو په څېر چې زبېښونکي بنسټونه يې په واک کې لرل، هغه هم د خپل واک پر وړاندې له ننګونو او ګواښو ډارېده او غوره يې ګڼله چې اقتصاد او اقتصادي پرمختګ د دې ګواښونو د مخنيوي قرباني کړي.

په لومړي ليدلوري کې د سټيونز تګلاره له برېټانيا سره په ټکر کې ده، خو دلته د برېتانوي واکمنۍ او د سټيونز د رژيم ترمنځ چې د خبيثه کړۍ منطق په ډاګه کوي، يو ګډ ټکی شته. سټيونز د سيريليون د خلکو د سرچينو په زبېښنلو سره د هماغه ښکېلاکګرو انګرېزانو په څېر پر دغه هېواد حکومت وکړ. هغه تر ۱۹۸۵ کاله کې پورې په واک کې پاتې شو، خو په واک کې دا پاتې کېدل د ولس په رايه او خوښه نه و، بلکې تر ۱۹۶۷ کال وروسته هغه د وژنو او د خپلو سياسي

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



مخالفینو او په ځانګړې توګه د سیریلیون د خلکو ګوند د غړو د ځپلو له لارې یوه خونړۍ دیکتاتوري واکمنه کړې وه. هغه په ۱۹۷۱ کال کې ځان ولسمشر اعلان کړ او له ۱۹۷۸ کال وروسته یې یوازې یو ګوند درلود: د ټولو خلکو (سټېونز) کانګریس. په دې توګه، نوموړي د سیریلیون د بېوزلۍ په بیه خپله بقا او واک تضمین کړل. د استعمار په وخت کې، برېټانویانو د نورو افریقایي مستعمرو په څېر د سیریلیون د اداره کولو لپاره هم د غیر مستقیم حکومت یا لاسپوڅي نظام رامنځته کړ. د دې نظام په سر کې عالي مقامونو قرار درلود چې مالیات یې راټولول، قضایي چارې یې پرمخ بیولې او نظم یې ټینګ کړی و. برېټانویانو د ککو او قهوې کروندګر له صحنې ګوښه نه کړل، بلکې هغوی یې مجبور کړل چې خپل محصولات د بازار موندنې بورډ[1] باندې چې ظاهراً د استعماري ادارې له لوري له کروندګرو سره د مرستې په هدف جوړ شوی و، وپلوري. د وخت په تېرېدو سره د کرنیزو محصولاتو مارکېټ ټکنی شو. د ککو بیې به کله پورته شوې او کله به ښکته راټیټې شوې او د کروندګرو عواید هم هر کال د تغیر په حال کې و. د بازار موندنې بورډ موجودیت داسې توجیه کېده چې ګنې د بیو د لوړېدو او ټیټېدو په وخت کې د بازار چارې تنظیموي. کله به چې په نړیوال مارکېټ کې بیې لوړې وې، دغې ادارې به له سیریلیوني کروندګرو محصولات په ټیټه بیه پېرل او کله به چې قیمتونه ټیت وو، بیا خبره برعکس وه. دا ایډیا په اصل کې ښه برېښېده، خو واقعیت بل څه و. د سیریلیون د بازار موندنې بورډ په ۱۹۴۹ کال کې جوړ شو. دغه بورډ طبعاً د خپلو چارو او

[1] Marketing Board

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



فعالیتونو د پرمخ بیولو لپاره مالي سرچینو ته اړتیا لرله. د دغې اړتیا د پوره کولو یوه لار دا وه، چې که کال ښه و یا بد، کروندګرو ته به د اصلي حق په پرتله کمې پیسې ورکول کېدې او همدغه پیسې وې چې د جاري او اداري لګښتونو لپاره کارول کېدې. دغه کوچنی توپیر ډېر ژر پر ژور توپیر بدل شو. استعماري دولت د بازار موندنې بورډ له کروندګرو څخه د مالیاتو د راټولولو لپاره د وسیلې په توګه وکاراوه. خلکو تمه لرله چې تر خپلواکۍ وروسته به د استعمار ناخوالې او ظلمونه پای ته ورسېږي او د بازار موندنې بورډ جوړېدل به پر کروندګرو تر حده زیاتو مالیاتو ته د پای ټکی کېږدي، خو داسې ونه شول. په حقیقت کې د بازار موندنې بورډ له لوري د کروندګرو زبېښناک وضعیت ډېر ناوړه کړ. د ۱۹٦۰ مې لسیزې تر نیمایي پورې د بازار موندنې بورډ د نړیوالو مارکېټونو د نرخ په پرتله د سیریلیون له کروندګرو څخه خرما په ۵٦ سلنه، ککو په ۴۸ سلنه او قهوه په ۴۹ سلنه ارزانه بیه پېرله. په ۱۹۸۵ کال کې کله چې سټیونز استعفا ورکړه او پر ځای یې د هغه نږدې کس 'جوزیف مومو' ولسمشر شو، دغه شمېرې په ترتیب سره ۳۷،۱۹ او ۲۷ سلنې ته راټیټه شوې. که دغه ارقام هر څومره ظالمانه هم وي، بیا هم تر هغه غوره و چې د سټیونز پر مهال به کروندګرو ته ورکول کېدل چې د نړیوال نرخ شاوخوا ۱۰ سلنه کېده، یعنې د کروندګرو ۹۰ سلنه عواید پر عامه خدماتو لکه د سړکونو پر جوړونې او زده کړو نه لګول کېدل، بلکې د سټیونز او د هغه د ملګرو شخصي جېب ته تلل او یا هم د سیاسي ملاتړ لپاره پرې خلک اخیستل کېدل.

برېتانویانو د لاسپوڅي حکومت لپاره د تګلارې په توګه دا ټاکلې وه چې عالي مقام کسان به د عمر تر پایه په همدې منصب کې پاتې

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



کېږي. د دې لپاره چې یو کس د عالي مقام کېدو معیار پوره کړی وي، نو لومړی یې باید د واکمنې کورنۍ «ruling house» تایید ترلاسه کړی وای. واکمنه کورنۍ چې د قبایلو مشري یې کوله، هویت یې د وخت په تېرېدو د بدلون په حال کې و او د پاچاهانو له هغه قوم سره یې تړاو درلود چې د نولسمې پېړۍ په وروستیو کې یې له برېټانویانو سره تړونونه لاسلیک کړل. د عالي مقام د ټاکل کېدو بهیر غیر ډیموکراټیک و. د قبایلو ادارې[1] په نوم بنسټ چې غړي یې د کلیو ټیټ پوړي مشران وو او یا د عالي مقام چارواکو یا هم د برېټانویانو له لوري ټاکل شوي وو، پرېکړه کوله چې څوک باید عالي مقام شي. ښایي و انګېرل شي چې دغه استعماري بنسټ تر خپلواکۍ وروسته له منځه لاړ او یا هم لږ تر لږه اصلاح شو، بلکې نه، دا هم د بازار موندنې بورډ په څېر پر خپل ځای پاتې شو. نن هم عالي مقامان د مالیاتو راټولولو مسوولیت لري. دا مالیات د پخوا په څېر د کور پر سر مالیات نه دي، بلکې د سرې سر مالیات دي. په ۲۰۰۵ کال کې د قبیلې مشرانو په 'سندور' کې یو نوی عالي مقام وټاکه. دلته یوازې د «فاسولوکو» واکمنې کورنۍ چې په دې سیمه کې یوازینۍ واکمنه کورنۍ ده، د انتخابېدو حق درلود، چې بالاخره د پاچا سولوکو مشر لمسی «شېکو سلوکو» د عالي مقام په توګه وټاکل شو. دلته د بازار موندنې بورډ کړنې او د ځمکو د مالکیت دودیز سیستم له موږ سره د دې مسئلې په روښانتیا کې چې په سیریلیون او د افریقا جنوب صحرا په نورو سیمو کې د کرنیز سکتور د ګټې کچه ولې دومره ټیټه ده، ډېره مرسته کوي. سیاستپوه 'رابرټ بېټس' په

[1] Tribal Authority

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

Downloaded By: Afghan Salar Library



۱۹۸۰ یمه لسیزه کې په دې اړه څېړنه پیل کړه چې په افریقا کې کرنه ولې ناکاره ده، په داسې حال کې چې د اقتصادي کتابونو د مطالعې پر اساس کرنه باید د اقتصاد تر ټولو خوځنده سکتور وای. هغه وروسته پوه شو چې دا موضوع له جغرافیې یا نورو هغو عواملو سره چې د دې کتاب په دویم څپرکي کې مو ولوستل، تړاو نه لري، بلکې یوازینی عامل یې د بازار موندنې بورډ د بیو تګلاره ده چې دلته یې د کرنې د پراختیا په برخه کې د کروندګر انګېزه له منځه یووړه. له دې کبله چې کلیوال کروندګر له هر ډول سیاسي واک څخه بې برخې وو، د بازار موندنې بورډ کولای شول چې د هغوی د ګټو خلاف اقدام وکړي. د بورډ د قېمتونو پالیسۍ سبب شوې چې په کرنه کې د پانګونې مخه ډپ شي. په سیریلیون کې عالي مقامان نه یوازې د نظم د ټینګښت، د قانون پلي کولو، د قضایي چارو د پرمخ بیولو او د مالیاتو راټولولو مسوولیت پر غاړه لري، بلکې د ځمکو متولیان «Custodians of the land» هم دي. که څه هم واکمنې کورنۍ، قبایل او نور پاتې شوني د ځمکو له سنتي حقونو څخه برخمن دي، خو دا د مقاماتو صلاحیت دی، چې ټاکي څوک چېرته باید کښت او کار وکړي. ستاسو د ځمکو د مالکیت حقونه یوازې هغه وخت خوندي دي، چې له مقاماتو سره او یا هم له واکمنې کورنۍ سره تړاو ولرئ. تاسو نه شئ کولای چې ځمکه وپېرئ او یا یې وپلورئ او یا هم د پور لپاره یې په ګرو ورکړئ. که یو څوک د مقام له سیمې بهر زېږېدلی وي، په ځمکه کې د هېڅ راز محصولاتو لکه قهوې، ککو یا د خُرما د کرلو حق نه لري، ځکه چې ښایي دا کس د غیر رسمي مالکیت حقوق ترلاسه کړي. هغه زېږښونکي بنسټونه چې برېټانویانو په سیریلیون کې ساز کړل او هغه پرانیستي بنسټونه چې په نورو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



مستعمرو لکه استرالیا کې جوړ شول، د دوارو تر منځ توپیر د کانونو د مدیریت په څرنګوالي کې روښانه کولای شو.
د ۱۹۳۰ کال په جنورۍ کې د سیریلیون د ختیځ په کانو سیمه کې الماس کشف شول. الماس رسوبي وو، یعنې د ځمکې له تله نه استخراجېدل، نو ځکه به د ځمکې سر ته راپورته شوي الماس لومړۍ راټولېدل او بیا به په اوبو کې چاڼ کېدل. د ټولنیزو علومو یو شمېر پوهانو به د الماسو د استخراج دغې بڼې ته «ډیموکراتیک الماس» نوم کاراوه، ځکه چې هر چا کولای شول چې الماس چاڼ او وپلوري. خو دا کار ونه شو. د برېټانیا حکومت د ټولې تحت الحمایې الماس د «سیریلیون سیلکشن ټرست» په نامه په خپل انحصار کې راوستل او د هغه د امتیاز حق یې د سوېلي افریقا د الماسو د کان کیندنې ستر شرکت «De Beers» ته ورکړ. په ۱۹۳۶ کال کې 'دي بیرز' شرکت ته اجازه ورکړل شوه چې د الماسو د ساتنې لپاره یوه پوځي قطعه جوړه کړي. دا په حقیقت کې یو خصوصي پوځ و، چې وروسته یې تشکیل په سیریلیون کې د استعماري دولت تر پوځ هم پراخ شو. خو په سیریلیون کې د الماسو پراخو رسوبي سیمو د هغې ساتنه ګرانه کړې وه. په ۱۹۵۰ کال کې د الماسو ساتونکی پوځ د الماسو له زرګونو تنو نا قانونه کیندونکو سره په جګړه کې ښکېل شو، چې پراخې شخړې او بې ثباتۍ یې وزېږولې. د برېټانیا حکومت په ۱۹۵۵ کال کې د «سیریلیون سیلکشن ټرست» له سیمې بهر یو شمېر کان کیندونکو ته د الماسو د استخراج اجازه ورکړه، په داسې حال کې چې ډي بیرز کمپنۍ لا هم په ینګیما، کویدو او ټونګو سیمو کې د کانونو بډایه سیمې په واک کې لرلې. تر خپلواکۍ وروسته وضعیت تر دې هم

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



ناوړه شو. په ۱۹۷۰ کال کې سیاکا سټیونز د «سیریلیون سلکشن ټرست» ملي اعلان کړ او د «د الماسو د کان ملي شرکت» یې تاسیس کړ چې دولت یعنې سټیونز په کې ۵۱ سلنه ونډه لرله. دا د سیریلیون د کانونو د انحصار په برخه کې د سټیونز لومړنی ګام و. په نولسمه پېړۍ کې په استرالیا کې د الماسو پر ځای د سرو زرو کانونه وو، چې په ۱۸۵۱ کال کې په جنوبي ویلز یا د ویکتوریا په تازه تاسیس شوي ایالت کې کشف شول او د ټولو پام یې ځان ته اړولی و. د سیریلیون د الماسو په څېر د استرالیا د طلا کانونه هم رسوبي وو او د استخراج د ډول په اړه یې باید پرېکړه شوې وای. یو شمېر کسانو لکه د خانانو د مخکښ مشر 'جان مک ارتر' زوی 'جېمز مک ارتر' وړاندیز وکړ، چې د سیمې ګرد چاپېره باید دېوال راتاو او انحصاري حق یې داوطلبۍ ته وړاندې شي. هغوی د 'سیریلیون سلکشن ټرست' ماډل عملي کول غوښتل. خو ځینو نورو بیا د سرو زرو کانونو ته د ازاد لاسرسي حق غوښت. د ازاد لاسرسي وړاندیز ومنل شو او د انحصار پر ځای، استرالیایي مشرانو د فعالیت جواز په وېش سره خلکو ته اجازه ورکړه چې سره زر راغونډ او چاڼ کړي. دا کان کیندونکي ډېر ژر د استرالیا په سیاست او په ځانګړې توګه په ویکتوریا ایالت کې پر یوه ځواکمن اړخ بدل شول. هغوی د رایې ورکونې د عمومي کېدو او سري کېدو په برخه کې کلیدي رول ولوباوه.

تر دې مخکې مو په افریقا کې د اروپایي استعمار او پراختیا غوښتنې دوه ورانوونکي عواقب ولیدل: لومړی د اتلانتیک سمندر دواړو غاړو ته د مریانو د تجارت پیل و چې په افریقا کې یې سیاسي او اقتصادي بنسټونه د زیښناک په لور ور ټېل وهل او دویم د داسې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



قوانينو او بنسټونو رامنځته کول وو، چې له مخې يې اروپايانو د استعمار پرمهال د خپلو باالقوه سيالانو د راپورته کېدو مخه نيوله. مريتوب په سيريليون کې واقعا يو قوت و. د استعمار په لومړيو کې په دې سيمه کې هېڅ متمرکز دولت نه و، بلکې کوچني شاهي حکومت ګوتې وو چې په خپلو کې په دوامداره شخړو کې ښکېل وو او ښځو او نارينه وو يو بل يرغمل کول. دلته مريتوب دود و او نږدې ۵۰ سلنه وګړو د مريانو په توګه کار کاوه. د سيريليون اقليم د جنوبي افريقا په څېر نه و او له همدې امله سپين پوستونو افريقايانو دلته مېشتېدو ته زړه نه ښه کاوه، همدا لامل و چې سپين پوستي له تور پوستو سره سيالۍ ته نه را مخ ته کېدل. د سپين پوستو په کروندو کې د افريقايي کارګرانو لپاره د تقاضا پر نشتوالي سربېره، د جوهانسبورګ په څېر د کاني اقتصاد نشتون په دې معنا و، چې د کار د يوه زبېښونکي مارکېټ د رامنځته کېدو لپاره هېڅ ډول انګېزه نه وه، داسې مارکېټ لکه په سوېلي افريقا کې چې اپارتهايد رامنځته کړی و. خو يو بل ميکانېزم هم په جريان کې و. د ککو او قهوې سيريليوني کروندګرو له سپين پوستو سره سيالي نه کوله او حکومت يې د بازار موندنې بورډ له لارې عوايد په بډه وهل. سيريليون د ښکېلاکګرو له لاسپوڅي يا غير مستقيم حکومت څخه هم رنځېده. برېتانويانو د افريقا په هغو برخو کې لاسپوڅي حکومتونه رامنځته کول، چې يو پياوړی متمرکز نظام په کې نه و. مثلا؛ په نولسمه پېړۍ کې کله چې برېتانويان د نايجيريا په ختيځ کې له 'ايګبو' قوم سره مخ شول، دلته هېڅ واحد سياسي مشرتابه نه و، چې وروسته برېتانويانو دغې سيمې ته يو مشر وټاکه: د حکم مشري. خو په سيريليون کې د برېتانويانو

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



لاسپوڅی حکومت د ځايي خلکو پر شته بنسټونو او د واکمن نظام پر اساساتو ولاړ و. له همدې امله له ۱۸۹۶ کال وروسته د عالي مقام جوړښت، لاسپوڅو حکومتونو او هغه واک چې دغو حکومتونو عالي مقامانو ته ورکړی و، د سیریلیون سیاست سخت اغېزمن او بدل کړ. مثلا؛ لاسپوڅي حکومت په ټولنه کې ټولنیزې طبقې چې تر دې مخکې نه وې، رامنځته کړې- لکه واکمنې کورنۍ. يوه موروثي ارستوکراسي کولای شي داسې نرم وضعیت رامنځته کړي چې په هغه کې مشران پر عامه ملاتړ تکیه کوي، خو هغه څه چې دلته پر ځای پاتې شول، يو داسې انعطاف نه منونکی او سخت نظام و، چې مشري پکې مادام لعمر وه او د خلکو له لوري د جوړ شوي حکومت په وړاندې يې د هېڅ راز مسوولیت احساس نه کاوه. برېټانویان پر دې خوښ وو، چې بنسټونه يې په خپله خوښه سمبال او ناسمه لار سم کړي وو، مثلا؛ برېټانویانو به هغه کسان چې له دوی سره ډېر ملګري او همکاران وو، لوړو څوکیو او عالي مقام پوست ته رسول. د مارګای کورنۍ چې تر خپلواکۍ وروسته دوه کسان يې د صدارت مقام ته ورسېدل، د مالیې بلوا په پېښه کې د برېټانویانو په ملاتړ د «لاور بانتا» له عالي مقام «نیاما» سره د جګړې په برکت په دولت کې لوړ مقام ته ورسېده. نیاما له واکه لرې او پر ځای يې مارګایان واک ته ورسېدل چې تر ۲۰۱۰ کاله پورې په دغه مقام کې پاتې شول.

هغه څه چې د پاموړ دي، هغه د ازاد او اشغال شوي سیریلیون ترمنځ د بنسټونو د دوام حد او پراخوالی دی. برېټانویانو د بازار موندنې بورډ تشکیل کړ او هغه يې د مالیاتو راټولولو لپاره استعمال کړ، خو تر خپلواکۍ وروسته دولتونو همدغه جوړښتونه وساتل او حتی شرایط يې تر پخوا هم سخت کړل. برېټانویانو په دې هېواد کې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



د غیر مستقیم ښکېلاک نظام د ځايي عالي مقامانو په مرسته ټینګ کړ. تر خپلواکۍ وروسته حکومتونو دغه استعماري بنسټونه له منځه یو نه وړل، بلکې هغه یې پر کلیو او لرو پرتو سیمو د حکومت کولو لپاره وکارول. بریټانویانو د الماسو کانونه انحصار کړل او په کانونو کې یې د افریقایانو د کاروبار مخه ونیوله. تر خپلواکۍ وروسته حکومتونو هم ورته تګلاره خپله کړه. هو دا خبره سمه ده، د بریټانویانو انګېرنه دا وه چې د اوسپنې پټلۍ غځول پر منډلینډ د ولکې ټینګولو یوازینۍ لاره ده، په داسې حال کې چې سیاکا سټیونز د دې برعکس فکر درلود. بریټانویانو کولای شول چې پر خپل پوځ باور وکړي او پوهېدل چې د پاڅون په صورت کې به پوځ منډلینډ ته ولېږي، خو سټیونز دا کار نه شوای کولای. د نورو افریقایي هېوادونو په څېر، د سټیونز د واک لپاره هم یو پیاوړی پوځ ګواښ ګڼل کېده، ځکه یې پوځ قوي کېدو ته پرېنښود او پر ملېشو یې تکیه وکړه، چې له امله یې په سیریلیون کې د دولت د اقتدار زوال لا پسې ژور شو. د پوځ ځای د کورني امنیت ادارې (ISU) ډک کړ. د سیریلیون خلک چې له حکومته تر پزې راغلي وو، د دې ادارې د انګلیسي درې مخفف ټکي یې داسې ژباړل (I shoot you) یعنې زه تا وژنم. دا اداره وروسته د ځانګړي امنیت ادارې (SSD) باندې بدله شوه، چې خلکو د «سیاکا سټیونز سپیان» بلل. په پایله کې د یوه ملي پوځ نشتوالی د هغه د بربادۍ لامل شو او د ۱۹۹۲ کال د اپرېل په ۲۹ مه د کپتان والنټاین سټراسر په مشرۍ یوازې دېرش کسیز لښکر د ټولو خلکو کانګریس حکومت (APC) را نسکور کړ. د سیریلیون بېوزلي او وروسته پاتې والی کولای شو په ډاګه ووایو چې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



د خبیثه کړۍ پایله ده. برېتانوي استعمار په لومړیو کې زبېښونکې بنسټونه رامنځته کړل او تر خپلواکۍ وروسته افریقایي مشران هم په موجوده وضعیت راضي او خوښ وو. دا نه یوازې سیریلیون، بلکې په ټولو افریقایي هېوادونو کې همدا وضعیت و. تر خپلواکۍ وروسته په ګانا، کینیا، زیمبابوې او نورو ګڼو افریقایي هېوادونو کې د بدلون هیلې راټوکېدلې وې، خو دلته د خبیثه کړۍ په اډانه کې زبېښونکو بنسټونو یو ځل بیا ځان را ژوندی کړ او د وخت په تېرېدو لا پسې بدمرغه شول. د مثال په توګه، د بازار مونډنې بورډ او لاسپوڅې حکومتونه چې د برېتانوي استعمار میراث وو، تر خپلواکۍ وروسته هم په یادو هېوادونو کې پر خپل ځای پاتې شول. خبیثه کړۍ ځان ته طبیعي دلایل لري. زبېښونکې سیاسي بنسټونه زبېښونکې اقتصادي بنسټونه زېږوي او دغه بنسټونه یوه کوچنۍ ډله د یوې سترې ډلې په بیه شتمنوي. پر زبېښونکو بنسټونو واکمن افراد او ډلې د شخصي ملېشو د جوړولو، د قضایي بنسټونو د پېرلو او په واک کې د پاتې کېدو لپاره په ټاکنو کې د درغلۍ لپاره کافي پیسې او سرچینې په واک کې لري. په دې توګه زبېښونکې اقتصادي بنسټونه د زبېښونکو سیاسي بنسټونو دوام ته زمینه برابروي. هغه نظامونه چې زبېښونکې بنسټونه لري، د واک بیه په کې لوړه ده، ځکه چې پر کړنو یې څار نه شته او شتمنۍ تولیدوي.

زبېښونکې سیاسي بنسټونه دغه راز له واک څخه د ناوړه استفادې پر وړاندې هېڅ محدودیت او خنډونه نه وضعه کوي. دا موضوع چې ایا واک فساد زېږوي او که نه، د بحث وړ ده؛ خو د «لارډ اکټان» دا خبره بېخي سمه ده چې وايي «مطلق واک؛ مطلق فساد له ځان سره لري.» په یوولسم څپرکي کې مو ولیدل، کله چې فرانکلین روزولټ

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



غوښتل چې د هغه په باور د ټولنې په ګټه د قضایه قوې په چارو کې لاسوهنه وکړي، نو د امریکا متحده ایالتونو پرانیستو سیاسي بنسټونو روزولټ ته اجازه ور نه کړه چې د واک پر وړاندې یې قانوني محدودیتونه مات شي. زبېښونکي سیاسي بنسټونه که څومره منحرف او غیر عادلانه هم وي، خو یوه اندازه محدودیت په کې شته. د سیریلیون د وخت د مرکزي بانک مشر 'سام بنګورا' د ډېرو لګښتونو له امله د سیاکا سټیونز پر سیاستونو نیوکه وکړه. هغه ډېر ژر ووژل شو او د مرکزي بانک له لوړ پوړ څخه پر هغه سړک را و غورځول شو، چې خلکو وروسته د سیاکا سټیونز سړک باله. په دې توګه زبېښونکي سیاسي بنسټونه د یوې خبیثه کړۍ جوړولو ته میلان لري، ځکه هېڅ داسې یوې دفاعي کرښې ته د سر پورته کولو اجازه نه ورکوي چې د واک د غصب او ظلم پر وړاندې سپر شي. د خبیثه کړۍ بله نادوده دا ده چې زبېښونکي بنسټونه د نا محدود واک او د عوایدو د سترې نا انډولۍ په رامنځته کولو سره، د سیاسي لوبې پر وړاندې باالقوه خطرونه لا زیاتوي. دا چې زبېښونکي بنسټونه په دولت کې د واکمنې طبقې لپاره شتمنۍ او ګټه تولیدوي، نو دا په خپله د ګټو او قدرت د لاسته راوړلو پر سر د شخړو لپاره انګېزه رامنځته کوي؛ هغه څه چې په مایا دولت-ښارونو او لرغوني روم کې پېښ شول. په دې توګه، هېڅ د شک ځای نه پاتې کېږي چې په زیاتره افریقایي هېوادونو کې له استعمار څخه په میراث پاتې زبېښونکو بنسټونو د کورنیو جګړو او شخړو تخم وکره. خو دا جګړې او شخړې په بریتانیا کې د پرتمین انقلاب پر مهال له شخړو سره توپیر لري. په افریقا کې ډلې ټپلې د پراخ بنسټه نظام او د

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



سیاسي بنسټونو د بدلون په پار نه جنګېدل، بلکې هدف یې د واک لاس ته راوړل او د خلکو د یوې سترې ډلې په بیه د یوې کوچنۍ هغې شتمن کول و. په انګولا، بروندي، چاد، عاج ساحل، د کانګو ډیموکراتیک جمهوریت، ایتوپیا، لایبیریا، موزمبیق، نایجیریا، د برازاویل جمهوریت، روندا، سومالیا، سوډان، یوګندا او په سیریلیون کې چې په راتلونکي فصل کې به په تفصیل پرې خبرې وکړو؛ دغه شخړې پر خونړیو کورنیو جګړو واوښتې او سترې اقتصادي ویجاړنې او بشري ناورینونه یې وزېږول او همدارنګه د ناکامو دولتونو د رامنځته کېدو لامل شوې.

## له انکومینډا څخه د ځمکې تر غصب پورې

رامیرو ډي لیون کارپیو[1] د ۱۹۹۳ کال د جنورۍ په ۱۴ مه د ګواتیمالا د ولسمشر په توګه لوړه وکړه. هغه 'ریچارډ ایتکنهیډ کاسټیلو' د مالیې او 'ریکاردو کاسټیلو سینیبالډي' د پراختیا د وزیرانو په توګه وټاکل. دغو درې څېرو یو مشترک ټکی درلود: درې واړه د هغو هسپانوي فاتحانو لمسیان وو چې د شپاړسمې پېړۍ په لومړیو کې ګواتیمالا ته تللي وو. د ډي لیون نیکه چې یوه نوموتې څېره وه، 'جوان ډي لیون کاردونا' نومېده. د کاسټیلویانو د نسب لړۍ بیا دیاز ډیل کاسټیلو ته رسېږي، هغه څوک چې د مکسیکو د اشغال په اړه یې د خپل سترګو لیدلی حال په یوه اثر کې ولیکه چې وروسته ډېر مشهور شو. د هغو خدمتونو له امله چې دیاز ډیل کاسټیلو، هرنان کورټېس ته وکړل، نوموړی د سنتیاګو ډي لاس کابالروس لپاره چې اوس په ګواتیمالا کې د انتیګوا ښار په نامه یادېږي، د والي په توګه

[1] Ramiro De León Carpio

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



وتاکل شو. کاستيلو او ډي ليون او نورو هسپانوي فاتحانو لکه 'پيدرو ډي الواردو' په دې سيمه کې د نسب يوه لړۍ په ميراث پرېښوده. ګواتيمالايي ټولنپوه 'مارتا کاسيوس' په ګواتيمالا کې د ۲۲ کورنيو يوه ډله پېژندلې او دغه کورنۍ بيا له خپلې هستې څخه بهر د ودونو له لارې له ۲۶ نورو کورنيو سره سببي رشتې لري. د مارتا کاسيوس جينيلوجيګي يا نسب پېژندنې او سياسي مطالعات په ډاګه کوي چې دغې کورنۍ په ۱۵۳۱ کال کې په ګواتيمالا کې سياسي او اقتصادي واک په لاس کې درلود. په دې اړه چې اوسمهال په ګواتيمالا کې د دې کورنۍ څومره غړي شته، يوې پراخې څېړنې وښوده چې په ۱۹۹۰ کال کې د ګواتيمالا د ټول نفوس يوازې ۱٪ له دغې هسپانوي کورنۍ سره تړاو لري. په سيريليون او د افريقا جنوب صحرا په نورو هېوادونو کې خبيثه کړۍ د دې لامل شوه چې د استعمارګرو په لاس جوړ شوي زبېښونکي بنسټونه تر خپلواکۍ وروسته هم د رهبرانو لپاره د وسيلې او ابزار په توګه پاتې شي. موږ په ګواتيمالا او همدارنګه د مرکزي امريکا په ګڼو هېوادونو کې د ورته وضعيت او د خبيثه کړۍ د موجوديت شاهدان يوو. واکمنه کړۍ چې سياسي او اقتصادي قدرت په واک کې لري، بنسټونه يې د خپل واک د بقا لپاره سمبال کړي او په دې چاره کې بريالي دي. د ګواتيمالا د اشغال پر مهال په دغه هېواد کې شاوخوا دوه ميليونه مايا وګړي اوسېدل. د امريکا د نورو برخو په څېر دلته هم ناروغيو او زبېښناک ډېر نفوس تلف کړ، داسې چې تر ۱۹۲۰ مې لسيزې پورې د دې هېواد نفوس لومړني حالت ته هم و نه ګرځېد. همدارنګه د هسپانيا تر استعمار لاندې د نورو سيمو بومي وګړي د ايکومينډا په

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



حیث هسپانوي واکمنانو ته ډالۍ شول. څرنګه مو چې د پیرو او مکسیکو د اشغال په اړه ولوستل، ایکومینډا د جبري کار هغه سیستم و چې وروسته یې په تدریجي ډول همدغسې مشابه بنسټونو ته لار پرانیسته، په ځانګړې توګه د 'ریپارټیمنټو'[1] چې په ګواتیمالا کې د 'منډامینټو Mandamiento' په نامه هم یادېده. د تېرو واکمنانو له کورنیو او له یو شمېر ځایي خلکو جوړې واکمنې طبقې نه یوازې د جبري کار د سیستمونو له امتیازاتو څخه ګټه پورته کوله، بلکې د 'کنسولاډا' [2] تر نامه لاندې د صنفي ټولنو د یوه جوړښت په مرسته یې سوداګري هم په خپل انحصار کې اخیستې وه. د ګواتیمالا زیاتره اوسېدونکي په لوړو غرونو او له ساحل څخه په لرې پرتو سیمو کې اوسېدل او د ټرانسپورټ ملا ماتوونکي لګښت صادرات له ستونزو سره مخ کړي وو. په لومړیو کې ځمکې هم چنداني ګټورې نه وې، لا هم ستره برخه ځمکې د ځایي یا بومي خلکو په لاس کې وه چې د ایجیدوس په نامه یې ستر اشتراکي مالکین لرل او پاتې نورې ځمکې ملي یا د دولت په لاس کې وې. د تجارت په انحصار او په مالیاتو کې خورا ډېرې پیسې وې، په ځانګړې توګه له ځمکو څخه د مالیاتو په اخیستو کې. لکه د مکسیکو په څېر د ګواتیمالا واکمنې طبقې هم د کادیس اساسي قانون سره دښمني لرله، چې همدغه کار خپلواکۍ ته وهڅول. له ۱۸۳۹ څخه تر ۱۸۷۱ کاله پورې له مکسیکو او د مرکزي امریکا له فدراسیون سره تر یوه لنډ اتحاد وروسته، هسپانوي استعمارګرو رافایل کېریرا د ګواتیمالا واک ترلاسه کړ. هسپانویانو او

[1] Repartimiento
[2] Consulado de Comercio

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



ځايي واکمنانو په دې دوره کې زېښبونکي سياسي او اقتصادي بنسټونه په خپل ځای پرېښودل او حتی په کنسولاډو کې چې يو سطلنتي بنسټ و، تر خپلواکۍ وروسته هم اصلاحات رامنځته نه شول او د يوه جمهوري دولت په اډانه کې يې خپل فعاليت ته دوام ورکاوه. خپلواکي په حقيقت کې د ځايي چارواکو له لوري د واک ترلاسه کولو لپاره يوازې يوه کودتا وه، لکه مکسيکو کې چې پېښ شول. دغو واکمنانو د معمول په څېر په هماغه زېښبونکو اقتصادي بنسټونو چې هغوی يې د پرېمانه گټو خاوندان کړي وو، گوزاره کوله. د کنايې په توگه، کنسولاډو په دې وخت کې د اقتصادي پراختيا د يوه خوځنده ماشين رول ولوباوه. په حقيقت کې تر خپلواکۍ وروسته د کنسولاډو لپاره خپلې گټې مهمې وې، نه د هېواد. د زېربنا لکه بندرونو او لويو لارو جوړول د دغه بنسټ د مسووليتونو يوه برخه وه، خو د اتريش-هنگري، تزاري روسيې او سيريليون په څېر دا کار د خلاق تخريب له خطرونو سره مل و او کولای يې شول چې نظام بې ثباته کړي. د مثال په توگه، پاسفيک سمندر ته څېرمه په Suchitepéquez ساحل کې د سوداگريز بندر د پراختيا پروژه پلان شوې وه. هغه وخت مناسب بندرونه يوازې په کارابين سواحلو کې وو او دغه بندرونه د کنسولاډو تر کنټرول لاندې وو. کنسولاډو د پاسفيک سمندر په شاوخوا ساحلي سيمو کې هېڅ کار و نه کړ، ځکه چې دلته د بندر فعالېدو په لوړو سيمو کې پرتو ښارونو 'Mazatenango' او 'Quezaltenango' څخه د توکو صادرولو ته اسانه لار برابراوله او يوه جلا بهرني مارکېټ ته د هغوی لاسرسي کولای شول چې په بهرني تجارت کې د کنسولاډو انحصار له خنډ

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



سره مخ کړي. د سړکونو او لویو لارو د نه جوړېدو منطق هم همدا و. د نولسمې پېړۍ په لومړنیو کې په داسې حال کې چې د نړۍ په ګڼو برخو کې د بدلونونو لړۍ پیل شوې وه، خو ګواتیمالا د خبیثه کړۍ د موجودیت له امله د تاریخ په بند کې پاتې شوه. دغو بدلونونو ګواتیمالا سخته اغېزمنه کړه. د بخار اورګاډي، د اوسپنې پټلیو او چټکو کښتیو په څېر د نویو ټکنالوژیکي نوښتونو له امله د ټرانسپورت په لګښت کې د پاموړ کموالی راغلی و. د دې ترڅنګ په لوېدیځه اروپا او شمالي امریکا کې د خلکو د عوایدو د ډېرېدو له امله یو شمېر محصولاتو ته تقاضا ورځ تر بلې په ډېرېدو وه، چې ګواتیمالا په باالقوه توګه دا ظرفیت درلود چې د دغو محصولات یو شمېر یې تولید کړي. د نولسمې پېړۍ په لومړیو کې نیل او سره دانه چې دواړه د طبیعي رنګ لرونکي نباتات دي، بهر ته د صادراتو لپاره تولیدېدل، خو د قهوې تولید تر دې هم ګټور تجارت رامنځته کړ. ګواتیمالا ارتې او پراخې ځمکې لرلې، چې د قهوې د کښت لپاره مناسبې وې او د کنسولاډو له هر ډول مرستې پرته د دې بوټي کرل پیل شول. دا چې د قهوې نړیوالې بیې لوړې او تجارت یې پراخ شو، د لا ډېرې ګټې فرصتونه ایجاد شول او ګواتیمالایي واکمنانو د قهوې کښت ته علاقمند شول. په پایله کې په ۱۸۷۱ کال کې د کرېرارا دیکتاتور رژیم د خلکو د یوې ډلې له لوري چې ځان یې لېبرال باله، رانسکور شو. لېبرالیزم د تاریخ په اوږدو کې بدلون موندلی دی. په نولسمه پېړۍ کې لېبرالیزم په متحده ایالتونو او اروپا کې د اوسني لیبرټریانیزم «libertarianism» په مفهوم کارول کېده چې معنا یې د فردي ازادیو ملاتړ، محدود واک او ازاد تجارت دی، خو په ګواتیمالا کې وضعیت یو څه متفاوت و. د 'مګویل ګارسیا' او وروسته په

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



۱۸۷۳ کال کې د 'جوستو روفینو باریوس' په مشرۍ د ګواتیمالا لیبرالان، ایډیال لیبرالان یا رښتیني ازاد پاله کسان نه وو. بیا هم د تېر په څېر دواړه کورنۍ تر ډېره په واک کې پاتې شوې. هغوی زېښبونکي سیاسي بنسټونه په خپل حال پرېښودل او د قهوې د تجارت لپاره یې په اقتصاد کې پراخ اصلاحات راوستل. لېبرالانو په ۱۸۷۱ کال کې د کنسولاډو اداره لغوه کړه. اقتصادي شرایط بدل شوي وو. زېښبونکو اقتصادي بنسټونو دا دی د قهوې پر تولید او صادراتو تمرکز کړی و. د قهوې تولید ځمکو او کاري ځواک ته اړتیا لرله او لیبرالانو د قهوې د کښت لپاره د ځمکو برابرولو په موخه د اراضۍ د خصوصي کولو تګلاره عملي کړه. دا په حقیقت کې د ځمکو غصبول و، چې هغوی ته یې د دولتي ځمکو د ولکه کولو فرصت په لاس ورکاوه. که څه هم په دې اړه خلکو سخت اعتراضونه وکړل، خو په ګواتیمالا کې د سختو زېښبونکو سیاسي بنسټونو او د سیاسي واک د تمرکز له امله واکمنه ډله بالاخره د دې لوبې ګټونکې شوه. د ۱۸۷۱ او ۱۸۸۳ کلونو ترمنځ په ګواتیمالا کې نږدې یو میلیون ایکره ځمکه چې تر ډېره نا لاس خوړلې ځمکه وه، د واکمنې طبقې په اختیار کې وه او له همدې کبله د قهوې د تولید کچه خورا لوړه شوه. خصوصي شوې ځمکې د سیاسي نخبګانو او د هغوی د ملګرو ترمنځ بولۍ ته وړاندې شوې. وروسته هغوی د کاري ځواک د چمتو کولو لپاره د لیبرال دولت جابرانه ځواک څخه استفاده وکړه. ولسمشر باریوس د ۱۸۷٦ کال په نومبر کې د ګواتیمالا ټولو والیانو ته ولیکل:«دا چې هېواد پراخه اراضي لري، نو په کرنه کې له هغې ګټه اخیستل په لوی شمېر کارګرانو ته اړتیا لري او دغه کارګران نن

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



ورځ د ملي پراختیا له بهیر او خوځښت څخه بهر پاتې دي، نو تاسو ټولو ته لارښوونه کېږي چې د کرنیزو محصولاتو د صادراتو په برخه کې خپله مرسته ونه سپموئ:

۱- د ځمکو د مالکینو لپاره د اړتیا وړ کارګران تر خپل ولکې لاندې سیمه کې د هندیانو له ښارګوټو څخه تامین کړئ، چې شمېر یې له ۵۰ تر ۱۰۰ تنو پورې وي.»

ریپارټېمنټو یا د کارګرو د تامین جبري سیستم تر خپلواکۍ وروسته هم له منځه یو نه وړل شو، بلکې لا پراخ او دوامداره شو. په ۱۸۷۷ کال کې دغه اداره د یوه فرمان له لارې نهادینه او بنسټیزه شوه. د فرمان له مخې، په هغه صورت کې چې ځمکه په خپل اصلي حوزه یا محل کې وه، کارمشرانو کولای شول چې له حکومت څخه ۶۰ کارګران د ۱۵ ورځو لپاره وغواړي او که له اصلي ځایه بهر وه، نو د ۳۰ ورځو لپاره یې غوښتلی شوای. کارمشرانو کولای شول چې دا وړاندیز بیا نوی کړي. دغه کارګران په زور او جبر په کروندو کې کار کولو ته اړ ایستل کېدل او بیا به په خپلو ځانګړو کتابچو کې پر دې اقرار ته اړ ایستل کېدل چې دا خدمت یې په خپله خوښه او رضایت کړی دی. ټول کلیوالي کاګران اړ وو چې د لیبرټا په نامه له ځان سره یوه کتابچه ولري او په دې کې د پورونو په شمول د کارګرانو اړوند ټول معلومات لیکل کېدل. زیاتره کارګران له خپلو کارمشرانو څخه پوروړي وو او یو پورړوي کارګر نه شوای کولای چې د خپل مشر له اجازې پرته کار پرېږدي. د ۱۷۷ ګڼې فرمان پر اساس د پوروړي کارګر لپاره د تېښتې یوازینۍ لار دا وه چې ریپارټیمنټو ته تللی وای او هلته یې اقرار کړی وای چې د خپل کار مشر پوروړی دی. کارګران په لومه کې ګیر شوي وو. پر دې سربېره،

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



د بېکارۍ او کوڅه ډبۍ د مخنیوي په برخه کې ګڼ قوانین تصویب شوي وو چې وزګار کسان به ریپارټیمنټو او د سړکونو د جوړولو په برخو کې نورو بېګاریو ته معرفي کېدل. په نولسمه او شلمه پېړۍ کې په سوېلي افریقا کې هم د ځمکو په برخه کې ورته تګلارې عملي شوې چې له مخې یې د بومي خلکو معیشتي اقتصاد له منځه یوووړل شو، څو په لږ مزد جبري کار ته اړ کړل شي. ریپارټیمنټو تر ۱۹۲۰ مې لسیزې پورې دوام وکړ. لیبرټا سیستم او د کوڅه ډبۍ د مخنیوي نور قوانین تر ۱۹۴۵ کاله پورې، یعنې تر هغه وخته پر خپل حال پاتې شول، کله چې ګواتیمالا په لومړي ځل د ولسواکۍ په لور ګامونه واخیستل. تر ۱۸۷۱ کال مخکې په ګواتیمالا کې واک د پوځي دیکتاتورانو په لاس کې و او د قهوې د تولید په پراخېدو سره یې په همدې بڼه حکومتونو ته دوام ورکړ. ولسمشر 'جارج یوبیکو' له ۱۹۳۱ څخه تر ۱۹۴۴ کاله پورې تر ټولو ډېر حکومت وکړ. یوبیکو د ۱۹۳۱ کال په ټاکنو کې پرته له کوم سیاله ټاکنې وګټلې، ځکه هېڅوک دومره احمق نه و چې له هغه سره سیالۍ ته ودرېږي. د کنسولاډو په څېر نوموړی هم د هر هغه کار مخالف و، چې د خلاق تخریب سبب کېده او د ده واک یې له خطر سره مخ کاوه. له همدې امله یوبیکو د اتریش-هنګري د لومړي فرانسیس او د تزاري روسیې د لومړي نیکولای د منطق پر اساس د صنعت د پرمختګ مخالفت کاوه: یعنې صنعتکاران سرخوږی و. یوبیکو په یوه بېساري اقدام کې د کارګر، کارګري ټولنو او د اعتصاب د لغاتونو پر کارونې بندیز ولګاوه. د دغو کلیمو استعمال جزا کېدای شوه چې زندان و. که څه هم یوبیکو ځواکمن و، خو چارې د نخبه قشر په لاس کې وې. په

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



۱۹۴۴ کال کې د حکومت پر وړاندې مخالفتونه اوج ته ورسېدل. دغه مخالفتونه او اعتراضونه د پوهنتون د محصلینو له لوري رهبري کېدل. عامه مخالفتونه او نارضایتۍ ورځ تر بلې زیاتېدلې او د جون په ۲۴ مه ۳۱۱ کسانو چې لویه برخه یې پوهان وو، د ډې لاس په نامه پر یوه غندنلیک لاسلیک وکړ، چې په هغه کې پر نظام سختې نیوکې شوې وې. یوبیکو د جولای پر لومړۍ نېټه استعفا وکړه. که څه هم تر ده وروسته په ۱۹۴۵کال کې یو ډیموکراتیک نظام رامنځته شو، خو په ۱۹۵۴ کال کې د یوې کودتا له لارې یاد نظام هم را نسکور شو او له دې سره په هېواد کې خونړۍ کورنۍ جګړه پیل شوه. ګواتیمالا په ۱۹۸٦ کې یو ځل بیا د ډیموکراتیک نظام څښتنه شوه. هسپانوي فاتحانو په ګواتیمالا کې د زبېښونکي سیاسي او اقتصادي نظام د جوړولو له امله هېڅ د پښېمانۍ احساس نه کاوه، ځکه هغوی د دې سیمې د استعمار او زبېښناک لپاره لرې واټن وهلی و. په ګواتیمالا کې هم د مرکزي امریکا د نورو هېوادونو په څېر د خبیثه کړۍ په یوه پېژندل شوې نمونه کې زبېښونکي سیاسي بنسټونه د زبېښونکو اقتصادي بنسټونو له لوري تقویه کېدل، چې په دې توګه د زبېښونکو سیاسي بنسټونو دوام او په واک کې د واکمنې طبقې پاتې کېدو ته زمینه برابرېده.

## له مریتوبه تر جیم کرو

From Slavery to Jim Crow

په ګواتیمالا کې د ښکېلاک له عصره تر موډرنې دورې پورې، زبېښونکي بنسټونه په خپل حال پاتې شول او سیاسي واک هم له هماغې پخوانۍ واکمنې ډلې سره و. په بنسټونو کې هر ډول بدلون د

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*




محیطي بدلونونو نتیجه وه، لکه د قهوې د کاروبار غوړېدل چې واکمنانو ته یې د ځمکو د غصب زمینه برابره کړه. د امریکا متحده ایالتونو په سوېل کې هم بنسټونه د کورنۍ جګړې تر وخته پورې زبېښونکي وو. دلته سیاست او اقتصاد په واک کې د شریکو ډلو یا د هغو ځمکوالو په لاس کې وو چې پراخې کرنیزې ځمکې او مریان یې په اختیار کې لرل. مریانو نه سیاسي او نه هم اقتصادي حقوق لرل، په حقیقت کې هغوی ډېرو لږو حقونو ته لاسرسی درلود. د نولسمې پېړۍ تر لومړیو پورې د متحده ایالتونو سوېلي ایالتونه د زبېښونکو سیاسي او اقتصادي بنسټونو د موجودیت له امله د شمالي ایالتونو په پرتله په مراتبو بېوزله وو. په جنوب کې صنعت نه و او د زېربنا په برخه کې ډېره ناچیزه پانګونه شوې وه. په ۱۸۶۰ مه لسیزه کې د دې سیمې ټول صنعتي تولیدات حتی له پنسلوانیا، نیویارک او ماساچویست ایالتونو سره برابر نه وو. د جنوبي ایالتونو یوازې ۹ سلنه وګړو په ښارونو کې ژوند کاوه، په داسې حال کې چې په شمال کې دا کچه ۳۵ سلنه وه. د مساحت له اړخه په شمالي ایالتونو کې رېل کرښې د جنوبي ایالتونو په پرتله درې چنده وې، همدارنګه د اوبو کانالونه او بندونه هم سره د پرتلې وړ نه وو.

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

***Downloaded By: Afghan Salar Library***






۱۸مه نقشه: په ۱۸٤۰ کال کې د متحده ایالتونو په ځینو برخو کې مریتوب

اتلسمه نقشه د نفوسو سلنې ته په کتو په ۱۸۴۰ کال کې په متحده ایالتونو کې د مریانو کچه راښيي. ښکاره ده چې په جنوب کې مریتوب حاکم و او ان په ځینو سیمو لکه د 'میسي سي پي' سیند په اوږدو کې نږدې ۹۵ په سلو کې مریان اوسېدل. نولسم (۱۹) نمبر نقشه په ۱۸۸۰ کال کې په صنعت کې د بوخت کاري ځواک تناسب او کچه راښيي. که څه هم د شلمې پېړۍ د معیارونو پر اساس دا

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



ارقام د نورو سیمو په پرتله دومره لوړ نه دي، خو په متحده ایالتونو کې د شمال او جنوب ترمنځ ژور توپیر په ډاګه کوي. په زیاتره شمالي سیمو کې د کاري ځواک ۱۰ سلنې په صنعت کې کار کاوه، په داسې حال کې چې په جنوبي سیمو او په ځانګړې توګه په هغو سیمو کې چې پر مریتوب ډېر تمرکز او تکیه شوې وه، دا کچه تقریباً صفر ته رسېږي. جنوب حتی په سکتوري یا تخصصي برخو کې له نوښتونو هم شا ته پاتې وو: له ۱۸۳۷ کال څخه تر ۱۸۵۹ کاله پورې د غنمو او جوارو په برخه کې د کلنیو ثبت شویو اختراعاتو یا نوښتونو شمېر په ترتیب سره له ۱۲ تر ۱۰ پورې وو. د جنوب د مهم تولید یعنې پنبې په برخه کې په کال کې یوازې یو نوښت یا اختراع کېده، دلته په راتلونکي کې د صنعتي کېدو لپاره د هیله مندۍ هېڅ نښې نښانې نه وې موجودې. خو په کورنۍ جګړه کې د جنوبي والو تر ماتې وروسته په دې سیمه کې سیاسي او اقتصادي اصلاحات پیل شول، مریتوب لغوه او تور پوستو ته د رایې ورکونې په شمول سیاسي حقونه ورکړل شول. دغو مهمو بدلونونو باید له زبېښونکو بنسټونو څخه د پرانیستو بنسټونو په لور تګ ته لار پرانیستې او جنوب یې د اقتصادي هوساینې پر مسیر ور برابر کړی وای، خو د یوې بلې خبیثه کړۍ د را پیدا کېدو له امله د هېڅ بدلون څرک ونه لګېد. په جنوب کې زبېښونکو بنسټونو خپل اصلي ماهیت وساته او مریتوب خپل ځای توکمیز توپیر ته پرېښود. د جیم کرو «Jim Crow» اصطلاح د «Jump Jim Crow» له هغې سندرې او نڅا څخه اخیستل شوې چې په نولسمه پېړۍ کې به سپین پوستو خپل مخونه تورول او د تورپوستو د مسخره کولو لپاره به یې دا نمایش اجرا کاوه. وروسته

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

Downloaded By: Afghan Salar Library




دغه اصطلاح هغو تبعیض امیزه قوانینو ته وکارول شوه چې له ۱۸٦٥ کال وروسته د جنوب لپاره وضعه شوي وو. دغو قوانینو کابو تر یوې پېړۍ پورې دوام وکړ، تر دې چې د مدني حقونو غورځنګ یوه انقلاب ته لار هواره کړه، خو لا هم په حکومت کې د تور پوستو محرومیت او د هغوی پر وړاندې تبعیض روان و. په سترو ځمکو کې کرنه چې پر ارزانه کاري ځواک ولاړه وه، په خپل ځای پاتې شوه او د متحده ایالتونو د نورو سیمو په پرتله د جنوبي والو په عوایدو کې د پامور کموالی راغی. له زېښبونکو بنسټونو راتاوه کړۍ تر هغې ډېره ځواکمنه وه چې فکر یې کېده.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*






۱۹مه نقشه: په ۱۸۸۰ کې د متحده ایالتونو په ځینو برخو کې په صنعت کې د خلکو بوختیا

د دې دلیل چې د مریتوب له منځه تلو او د رایې ورکونې حق له خوندي کېدو سره سره، بیا هم د جنوب سیمې سیاسي او اقتصادي وضعیت بدلون ونه موند، دا دی چې تور پوستو سیاسي قدرت او اقتصادي خپلواکه نه لرل. د جنوب کروندګرو جګړه بایلوله، خو

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



سوله یې وګټله. د جګړې پرمهال ازادو مریانو ته ویل شوي وو چې د مریتوب تر لغوه کېدو وروسته هر کس ته به څلوېښت ایکره ځمکه او یوه کچره ورکول کېږي. که څه هم د 'جنرال ویلیم ټي شرمن' په وخت کې دغه ژمنې تر یوه بریده عملي شوې، خو په ۱۸۶۵ کال کې ولسمشر 'اندرو جانسن' د شرمن حکم لغوه کړ او د ځمکو د وېش په اړه راټوکېدلې هیلې تر خاورې لاندې شوې. هغه بحث چې په دې اړه په کانګریس کې وشو، د کانګریس یو تن غړي 'جورج واشنګټن جولیان' د وړاندوینې په توګه وویل:« کله چې د اشرافي قدرت زړې ریښې په کرنیز نظام کې پر خپل ځای پاتې کېږي، څه ګټه به ولري چې د کانګریس یوه مصوبه ټول مریتوب ته د پای ټکی کېږدي؟» ټولنپوه 'جاناتان وینر' د جنوبي الاباما چې د پنبې د کښت اصلي مرکز و، د تور کمربند په پنځو ولایتونو کې د ځمکوالو خانانو د ژوند د دوام په اړه څېړنه کړې ده. هغه په متحده ایالتونو کې د سرشمېرنو د احصایو او د هغو کسانو د مطالعې پر مټ چې لږ تر لږه د ۱۰،۰۰۰ ډالرو په ارزښت غیر منقول مالونه یې لرل، په ډاګه کړه چې د ۱۰۱،۱۸۵۰ نفوس له ډلې په ۱۸۷۰ کال کې ۲۳٦ خانان پاتې وو. په زړه پورې دا چې دغه شمېر، تر کورنۍ جګړې مخکې شمېرو سره برابر او ورته و. د ۲۳٦ کورنیو له ډلې چې په ۱۸۵۰ کال کې شتمنې ځمکوالې کورنۍ وې، یوه لسیزه وروسته یعنې په ۱۸٦۰ کال کې په همدې وضعیت کې پاتې شوې. په دې توګه، د ۲۵ سترو ځمکوالو له ډلې چې په ۱۸۷۰ کال کې یې پراخې ځمکې په واک کې لرلې، ۱۸ ځمکوال یې په ۱۸٦۰ کال کې د واکمنې کورنۍ له ډلې وو. په ۱۸۵۰ کال کې هم ۱٦ ځمکوال په دې ډله کې راتلل. سره له دې چې په کورنۍ جګړه کې تر ٦۰،۰۰۰ ډېر انسانان ووژل شول، خو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



ځمکوالو خانانو ته ډېر لږ تلفات او زيانونه واوښتل. د ځمکو په برخه کې هغه قانون چې کروندګرو جوړ کړی و، هر هغه چا چې ۲۰ تنه مريان لرل، له پوځي خدمتونو او عسکرۍ معاف و. د جګړې تر پای ته رسېدو وروسته هم ځمکوالو خانانو کولای شول چې په کافي اندازه کاري ځواک په خپل کنټرول کې ولري. که څه هم د مريتوب اقتصادي بنسټونه له منځه يووړل شول، خو په لاس راغلي شواهد د جنوب په اقتصادي نظام کې يوه بله پديده نندارې ته وړاندې کوي، چې هغه پر مريتوب ولاړې کرنې څخه پر ارزانه کاري ځواک تکيه وه. د محلي سياستونو او تاوتريخوالي په شمول له بېلابېلو لارو چارو کار اخيستل کېده، څو دغه اقتصادي نظام وپايي. د افريقايي-امريکايي عالم 'ډبليو اي بي ډو بايوس' په وينا، د دې تګلارې نتيجه دا وه چې جنوب د تورپوستو د وېرولو لپاره يوازې د يوه پوځي کمپ بڼه خپله کړي. په ۱۸۶۵ کال کې د الاباما د ايالتي قانون جوړونې جرګې د 'تورپوستو د قوانينو ټولګه' تصويب کړه چې د تور پوستو پر وړاندې د ظلم او زور زياتي په برخه کې مهمه تاريخي پېښه ګڼل کېږي. د تور پوستو د قوانينو ټولګه په ګواتيمالا کې د کوخه ډبۍ ضد قانون او ۱۷۷ فرمان په څېر وه، چې د کارګرانو د بسيج کېدو د مخنيوي او د کار په مارکېټ کې د رقابت د کمزوري کولو په موخه وضع شوې وه. تر کورنۍ جګړې وروسته د «رغونې» په نامه نوې دوره پيل شوه چې له ۱۸۶۵ څخه يې تر ۱۸۷۷ پورې دوام وکړ. د شمال سياستوالو د «متحد پوځ» په مرسته په جنوب کې ځيني ټولنيز بدلونونه پيل کړل، خو د جنوب واکمنې ډلې يې پر وړاندې مخالفتونه پيل کړل. د ۱۸۷۷ کال په ولسمشريزو ټاکنو کې 'رادرفورد

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



هایس' په الېکترال کالج کې د جنوب ملاتړ ته اړتیا لرله. الېکترال کالج چې اوس هم شته، د متحده ایالتونو د اساسي قانون پر بنسټ د ولسمشرانو په غیر مستقیمه ټاکنه کې مهم رول لوبوي. په متحده ایالتونو کې رایه ورکوونکي ولسمشرانو ته مستقیمه رایه نه ورکوي، بلکې خپلو استازو ته رایه ورکوي او استازي بیا د الېکترال کالج له لارې ولسمشر ټاکي. د رادرفورډ د وړاندیز په بدل کې جنوبي والو غوښتنه وکړه چې متحد پوځ دې له جنوب څخه ووځي او دوی دې خپلو چارو ته پرېږدي. رادرفورد هایس دا وړاندیز ومانه. د جنوبي والو په ملاتړ هایس ولسمشر شو او ځواکونه یې و اېستل. له ۱۸۷۷ کال وروسته دوره بیا هم هماغه تر جګړې مخکې دورې په څېر وه. پخواني حالت ته د جنوب بیول د سرې سر نوي مالیات او د رایه ورکوونکو لپاره د باسوادۍ شرط ټاکل له ځان سره لرل چې دغه اقدامات په ټاکنو کې د تور پوستو او همدارنګه یو شمېر بېوزلو سپین پوستو د محرومیت لامل شول. دغه اقدامات بریالي وو او د ډیموکراتیک ګوند په مشرۍ یې یو ګوندي نظام رامنځته کړ چې سیاسي واک یې تر ډېره د ځمکوالو خانانو او واکمنې طبقې په لاس کې ورکاوه. د جیم کرو قوانین د توکم پر اساس د ښوونځیو د جلا کېدو لامل شول. د مثال په توګه، الاباما د دې کار لپاره په ۱۹۰۲ کال کې ځان ته اساسي قانون ولیکه. حتی تر دې وروستیو پورې د الاباما د اساسي قانون ۲۵۶ مادې، چې اوس د اجرا وړ نه ده، حکم کاوه چې:«د عامه ښوونځیو سیستم د رامنځته کولو او ساتنې په برخه کې د قانون جوړونې جرګې دندې په دې ډول دي؛ د عامه ښوونځیو د بودیجې جوړول، د سپین پوستو او تور پوستو زده

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



کوونکو لپاره د ښوونځیو جلا کول... هېڅ سپین پوستی او تور پوستی زده کوونکی حق نه لري چې د یو بل ښوونځیو ته ورشي.»

په ۲۰۰۴ کال کې د اساسي قانون د یادې مادې د اصلاح په موخه هڅې د قانون جوړونې جرګه کې د مخالفتونو له امله ناکامې شوې. له عمومي رایو څخه محرومیت، د تورو پوستو د قوانینو ټولګه، د جیم کرو قوانین او د «کو کلاس کلان» اقداماتو تر کورنۍ جګړې وروسته د جنوب ټولنه د توکمیز توپیر پر اصلي ډګر بدله کړه؛ داسې چې په الاباما کې سپین پوستو او تور پوستو جلا ژوند تجربه کړ. د جنوبي افریقا په څېر دلته هم د یادو قوانینو د وضع کولو موخه تور پوستي تر خپلې ولکې لاندې راوستل او د هغوی زبېښاک و. په واشنګټن کې هم سیاستوالو او واکمنانو هڅه کوله چې په جنوب کې روان وضعیت دوام وکړي. مثلا؛ هغوی د مرکزي دولت د هغو پراختیایي پروګرامونو په تطبیق کې چې په جنوب یې کې د واکمنې طبقې ګټې ګواښلې، ناغېږي کوله. په پایله کې جنوب د یوې وروسته پاتې او کلیوالي ټولنې په څېر چې له زده کړو او ټکنالوژۍ خورا وروسته پاتې وه، شلمې پېړۍ ته په داسې حال کې داخله شوه چې لا هم کارګرانو د ماشین پر ځای پر لاس کار کاوه او د نوي ټرانسپورت پر ځای پکې له حیواناتو او کچرو استفاده کېده. که څه هم د ښار مېشتو وګړو شمېر تر پخوا زیات شوی و، خو لا هم له شمال سره د پرتلې وړ نه و. مثلا؛ په ۱۹۰۰ کال کې د جنوب ۱۳،۵ سلنه خلک په ښارونو کې اوسېدل، په داسې حال کې چې په شمال کې دا رقم ۶۰ سلنې ته رسېده. په پایله کې په جنوبي ایالتونو کې زبېښونکي بنسټونه چې پر کرنې او ارزانه کاري ځواک ولاړ و، تر

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



شلمې پېړۍ پورې د وام وکړ. خو تر دویمې نړیوالې جګړې وروسته دغه بنسټونه مخ په زوال شول او د مدني حقونو تر غورځنګ وروسته دغه سیاسي نظام په بشپړ ډول له پښو وغورځېد او د دې بنسټونو تر ړنګېدو وروسته په ۱۹۵۰ او ۱۹۶۰ لسیزو کې د جنوبي او شمالي ایالتونو ترمنځ د پیوستون خوځنده بهیر پیل شو. د امریکا متحده ایالتونو جنوب موږ ته د خبیثه کړۍ یوه بله، خو انعطاف منونکې بڼه څرګندوي: د ګواتیمالا په څېر د جنوب واکمن ځمکوال په قدرت کې پاتې شول او سیاسي او اقتصادي بنسټونه یې په واک کې د خپلې بقا لپاره عیار او ډیزاین کړل، خو د ګواتیمالا برعکس؛ جنوب په کورنۍ جګړه کې تر ماتې وروسته چې د مریتوب په پای ته رسېدو تمامه شوه او په سیاسي مشارکت کې د تور پوستو د محرومیت پروسه یې معکوسه کړه، له مهمو ننګونو سره مخ و. خو دلته یو هدف ته د رسېدو لپاره ګڼې نورې لارې هم شته: هغه وخت چې واکمنو ځمکوالو پراخې ځمکې په واک کې لرلې او ښه منظم وو، کولای یې شول چې هماغه موخو ته د رسېدو لپاره یې نوي بنسټونه رامنځته کړي وای، لکه جیم کرو قوانینو چې د مریتوب ځای ونیو. څرګنده ده چې خبیثه کړۍ تر هغه څه ډېره ځواکمنه ده چې د 'ابراهام لینکولن' په شمول ګڼو کسانو یې په اړه تصور کاوه. خبیثه کړۍ پر زبېښونکو سیاسي بنسټونو متکي ده او دا بنسټونه اقتصادي بنسټونه زېږوي او اقتصادي بنسټونه په خپل وار زبېښونکي سیاسي بنسټونه حمایه کوي، ځکه چې ثروت او اقتصادي قدرت؛ سیاسي قدرت پېري.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



## د اولیګارشۍ [1] اوسپنیز قانون

The iron Law of Oligarchy

په ایتوپیا کې د سالومونیک[2] کورنۍ واکمني په ۱۹۷۴ کال کې د یوې پوځي کودتا په ترڅ کې را وپرځول شوه. دغه کودتا د درګ[3] په نامه د پوځي افسرانو د یوې مارکسیستي ډلې له لوري پلان شوې وه. هغه نظام چې درګ ډلې په ایتوپیا کې نسکور کړ، له پېړیو- پېړیو راهیسې د انجماد او رکود په حالت کې و؛ یو تاریخي اناکرونېزم. امپراتور 'هایله سلاسي' به خپله ورځ د سترې ماڼۍ انګړ ته په رسېدو چې د نولسمې پېړۍ په وروستیو کې د امپراتور 'دویم مینیلیک' له لوري جوړه شوې وه، پیلوله. له ماڼۍ د باندې لوړ پوړي چارواکي به د هغه راتګ ته د هرکلي لپاره لاس په نامه ولاړ وو او هر یوه به په ناهیلۍ هڅه کوله چې د امپراتور پام ځان ته ور واړوي. امپراتور به په یوه ستر تالار کې پر تخت کېناسته او خلک به یې خپل حضور ته منل. سلاسي ټیټه ونه لرله او له دې کبله چې پښې یې له څوکۍ لاندې په هوا کې پاتې نه شي، یو ځانګړی کس ګومارل شوی و چې د ناستې په وخت کې به یې د هغه پښو ته بالښت ایښوده. دغه مامور شاوخوا ۵۲ بالښتونه لرل، څو په هر ډول شرایطو کې خپله دنده په ښه توګه ترسره کړي. سلاسي د زېبښونکو بنسټونو د یوې سترې ټولګې مشري پر غاړه درلوده او هېواد یې د خپل شخصي ملکیت او شتمنۍ په توګه اداره کاوه. نوموړي به خپلو پلویانو او وفادارانو ته

[1] اولیګارشي د یوې ځانګړې ډلې حکومت ته وایي

[2] Solomonic

[3] Derg

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



له دغه شتمنۍ څخه د بخشش په توګه ډالۍ کوله او هغو کسانو به چې امپراتور ته خپله وفاداري نه ښوده، په ډېرې بې رحمۍ ځپل کېدل. د سالومونیک کورنۍ د واکمنۍ پر مهال په ایتوپیا کې هېڅ د پاموړ اقتصادي کارونه او پرمختګونه ونه شول. درګ په لومړي سر کې د هېواد د بېلابېلو پوځي مرکزونو له ۱۰۸ تنه استازو څخه جوړ شوی و. په حراره ولایت کې د پوځ د درېیم ډیویژن مسوول «منګیستېیو هایلي ماریم» و. که څه هم درګ د ۱۹۷۴ کال د جولای په څلورمه په خپله لومړنۍ اعلامیه کې له امپراتور سره خپله وفاداري څرګنده کړه، خو وروسته یې ډېر ژر د دولتي چارواکو په نیولو لاس پورې کړ. د درګ مارکسیستي ډلګۍ هدف دا و، چې په حکومت کې دننه د ځان پر وړاندې د مخالفتونو کچه معلومه کړي، کله چې ډاډه شول چې د سلاسي رژیم ملاتړ نه لري، دا ځل په خپله امپراتور پسې لاړل او د سپټمبر پر ۱۲ مه یې هغه ونیوه او زنداني یې کړ. وروسته په ایتوپیا کې د اعدامونو لړۍ پیل شوه. د پخواني رژیم زیاتره مخکښ چارواکي او سیاستوال ووژل شول. د همدې کال په ډسمبر میاشت کې په ایتوپیا کې سوسیالېست دولت اعلان شو. د ۱۹۷۵ کال د اګست په ۲۷ مه سلاسي ومړ، چې ښایي وژل شوی به و. درګ په ۱۹۷۵ کال کې د ملکیتونو ملي کول پیل کړل او د دولتي سازۍ په دې پروسه کې ټولې ښاري او کلیوالي ځمکې چې لویه برخه یې شخصي ملکیتونه وو، شامل و. په ایتوپیا کې د سوسیالېست رژیم ورځ تر بلې زیاتېدونکي استبداد په هېواد کې د خلکو پراخ اعتراضونه را وپارول. د نولسمې پېړۍ په وروستیو او د شلمې په لومړیو کې د ایتوپیا ډېری برخې د 'ادوا' د جګړې ګټونکي امپراتور «دویم منیلیک» له لوري ببرته سره یو ځای کړل شوې، چې په دې

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

Downloaded By: Afghan Salar Library



ډله کې په شمال کې 'اریتیریا تیګرای' او په ختیځ کې 'اوګادن' سیمې شاملې وې. د درګ د ظالمانه رژیم په غبرګون کې په اریتیریا او تیګرای کې ازادي غوښتونکي غورځنګونه را وټوکېدل او په عین وخت کې سومالیا د «سومالیا ژبي اوګادن» سیمې باندې حمله وکړه. په خپله د درګ دننه هم انشعابونه او اختلافونه پیل شوي وو. په دې ډله کې منګیستهیو تر ټولو بې رحمه او په عین وخت کې ځیرک انسان و. هغه د ۱۹۷۷ کال تر نیمایي پورې خپل اصلي مخالفین له مخې لرې او د رژیم مشري یې په لاس کې واخیسته او د شوروي اتحاد او کیوبا په پرېمانه وسلو او سرتېرو یې نظام له سقوط څخه وساته. سوسیالېستي رژیم په ۱۹۸۷ کال کې د هایلي سلاسي د را پرځولو د څلورمې کالیزې په ویاړ ملي جشن جوړ کړ. منګیستهیو دا وخت د درګ یو بې سیاله مشر و. نوموړي د سلاسي ستره ماڼۍ چې د شاهي نظام تر ړنګېدو وروسته شاړه وه او څوک په کې نه اوسېدل، د خپل مقر او استوګنځي په توګه وټاکله. هغه په جشن کې پر طلایي څوکۍ ودرېد او د پخوانیو امپراتورانو په څېر یې د پوځي پرېډ ننداره کوله. په ستره ماڼۍ کې د منګیستهیو په مشرۍ یو ځل بیا د دولت رسمي چارې پیل شوې. منګیستهیو هڅه کوله چې د امپراتور تیوودروس، چې د نولسمې پېړۍ په نیمایي کې یې د سالومونیک کورنۍ بیا را ژوندۍ کړه، تقلید وکړي. د هغه یو وزیر «ډاویت ولډې» په خپلو خاطراتو کې لیکي:«د انقلاب په لومړیو کې مو ټول هغه کارونه پرېښودل چې پخوا مو کړي وو. موټرونه مو ودرول، دریشۍ مو نه کولې او نکټایي ترل جرم ګڼل کېده. هر هغه عمل چې د بورژوا او د ثروت رنګ او بوی پکې و، د پخواني نظام او ناوړه عمل په

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



توګه منع اعلان شول. خو له ۱۹۷۸ کال وروسته دا هر څه بدل شول. ماټریالیزم په تدریج سره ومنل شو او وروسته د یوې اړتیا په توګه مطرح شو. په اروپا کې جوړې شوې بهترینې دریشي ګانې د دولتي چارواکو او د نظامي شورا د غړو پوښاک وو. ټولو غوره شیانو ته لاسرسی درلود، یعنې؛ بهترین کور، بهترین موټر، بهترین ویسکي او بهترین خواړه. دا د انقلاب د ارمانونو سقوط و.»

د خبیثه کړۍ بېلګه چې له هایلي سلاسي څخه منګیستیو او یا په سیریلیون کې له برېتانوي استعمار څخه سیاکا ستیونز ته د واک په لېږد کې په ډاګه شوه، دومره افراطي او په ځینو برخو کې هیښوونکې ده چې بهتره ده یو ځانګړی نوم ورته غوره کړو. لکه څرنګه چې په څلورم فصل کې مو یادونه وکړه، جرمني ټولنپوه رابرټ میشلز ورته د «اولیګارشۍ اوسپنیز قانون» نوم ورکړی. څرنګه چې مېشلز هم وايي، د اولیګارشۍ او په حقیقت کې د ټولو سلسله مراتبي جوړښتونو یا سازمانونو منطق دا دی چې دغه پدیده نه یوازې د موجوده واکمني ډلې، بلکې د نوې ډلې په وخت کې هم چې تازه واک ته رسېږي، بیا خپل سر راپورته کوي. هغه څه چې میشلز د هغه وړاندوینه نه وه کړې، د کارل مارکس په وینا تاریخ بیا تکرارېږي- په لومړي سر کې د یوې تراژیدۍ او په دویم قدم کې د خندوونکې ډرامې په بڼه. خبره یوازې دا نه ده چې تر خپلواکۍ وروسته زیاتره افریقایي مشران په همدې یوه لار روان شول، د قدرت هماغه شبکه یې وکاروله او یا د سرچینو د زېښناک او د بازار د انحصار لپاره یې د استعماري رژیمونو او پخوانیو امپراتوریو تګلارې تکرار کړې، بلکې هغوی تر دې هم بد کارونه وکړل. دا په حقیقت کې خندوونکې ډرامه وه، چې د استعمار سرسخت مخالف ستیونز هم په سیریلیون

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



کې د هغو خلکو یعنې مینډیانو په مهار او کنټرول پسې سرگردانه وو چې برېټانویانو غوښتل هغوی تر خپلې ولکې لاندې راولي؛ په مرکزي سیمو د کنټرول لپاره یې پر هماغه قبایلي مشرانو باندې تکیه کوله چې برېټانویانو واک ته ورسول، د کرنیزو محصولاتو د کنټرول لپاره یې هماغه د بازار موندنې بورډ کاراوه او په ټوله کې د الماسو کانونو د لوټولو لپاره یې هماغه اقتصادي تگلاره پر مخ بیوله. دا واقعاً یوه خندوونکې ډرامه وه، یو ډېره غمگینه ډرامه، کله چې لورینټ کابیلا په زایر کې په دې نوم د پوځ په ملاتړ د موبوټو رژیم را نسکوروي چې خلک د موبوټو له دیکتاتورۍ، فساد او بې عدالتۍ څخه ژغوري؛ خو کابیلا وروسته په هماغې پخوانۍ بڼه فاسد او ناورین زېږوونکی رژیم پر خلکو حاکم کړ. دا واقعاً ډېره خندوونکې وه چې نوموړي هڅه کوله د 'موبوتیک' د شخصیت چې د موبوټو د اطلاعاتو پخواني وزیر 'ډومینیک ساکومبي' له لوري تبلیغ او ترویج کېده، تقلید وکړي. دا هم خندوونکې وه چې هماغه کېڼ اړخی مارکسیست افسر منگیستیو په شاهي ماڼۍ کې استوگنه پیل کړه، ځان یې د یوه امپراتور په بڼه لیده، د ځان او ملگرو لپاره یې د ثروت په ټولولو پیل وکړ او په ټوله کې هغه څه یې وکړل چې تر ده مخکې سلاسي او نورو امپراتورانو کړي وو. دا ټول طنز او ډرامه وه، خو دا تر اصلي تراژیدۍ ډېره ژوره تراژیدي وه، چې یوازې هیلې یې تر خاورو لاندې نه کولې. سټیونز، کابیلا او نورو افریقایي مشرانو د خپلو مخالفینو او بې گناه وگړو پر وژنې لاس پورې کړ. د منگستیو او درگ سیاستونو د ایتوپیا په حاصلخېزه او کرنیزه خاوره کې دوامداري قحطۍ ته لار هواره کړه. تاریخ بیا تکرارېده، خو په ډېر

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



منحرف شکل. په ۱۹۷۳ کال کې د ولو په ولایت کې د قحطۍ په وړاندې د سلاسي بېغوري وه چې د هغه د رژیم مخالفین یې پیاړوي کړل. سلاسي د دې موضوع په اړه بې تفاوته و، خو منگیستیو قحطي د خپلو سیاسي مخالفینو د کمزوري کولو او ځپلو په موخه د وسیلې په توگه کاروله. تاریخ نه یوازې خندوونکی او مصیبت زېږوونکی و، بلکې د ایتوپیایي وگړو او د افریقا جنوب صحرا د نورو هېوادونو په وړاندې خورا بې رحمه و. د اولیگارشۍ اوسپنیز قانون د خبیثه کړۍ د یوه تصویر په توگه اصلي جوهر یې دا دی چې نوي رهبران د ژورو او بنسټیزو بدلونونو د شعارونو او ژمنو له لارې زاړه رهبران را نسکوروي، خو واک ته له رسېدو وروسته هېڅ نه کوي. په ځینو مواردو کې د اولیگارشۍ د اوسپنیز قانون پېژندل حتی د خبیثه کړۍ په پرتله هم گران کار دی. د متحده ایالتونو په جنوب او گواتیمالا کې د زبېښونکو بنسټونو د تداوم تر شا یو څرگند منطق وجود لري. په دواړو مواردو کې ځانگړو ډلو پېړۍ پېړۍ اقتصاد او سیاست انحصار کړی و. حتی کله چې د امریکا د جنوبي ایالتونو ځمکوال تر کورنۍ جگړې وروسته کلونو کې له ننگونو سره مخ شول، بیا هم د پخوا په څېر په واک کې پاتې شول او ویې کولای شول چې هماغه پخواني زبېښونکي بنسټونه حفظ کړي یا په همدې بڼه نوي بنسټونه رامنځته کړي. خو څنگه پوهېدای شو چې هغه کسان چې د بنسټیزو او ژورو بدلونونو تر شعارونو لاندې واک ته رسېږي، خو وروسته بیا هماغه پخوانی نظام واکمنوي؟ دغې پوښتنې ته ځواب یو ځل بیا څرگندوي چې خبیثه کړۍ تر هغه ډېره ځواکمنه ده، لکه څرنگه چې په لومړي سر کې لیدل کېږي. ټول ژور او بنسټیز بدلونونه له ماتې سره مخ نه دي. پرتمین انقلاب ژور او بنسټیز بدلون و او ښایي ادعا

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



وکړو چې تر دوو میلیونو کلونو وروسته یو مهم سیاسي انقلاب را وټوکېد. که څه هم د فرانسې انقلاب د تاوتریخوالي او صحنې ته د ناپلیون بناپارټ د راتګ له امله راډیکال یا افراطي بڼه خپله کړه، خو پخوانی رژیم یې بیا واکمن او ژوندی نه کړ. د پرتمین او فرانسې تر انقلابونو وروسته درې مهمو عواملو د پرانیستو سیاسي بنسټونو په پیدایښت کې مرسته وکړه. لومړی هغه سوداګر او کاروباریان وو چې د خلاق تخریب پر وړاندې خنډونه یې مات کړل. دغه نوي کسان د انقلابي ایتلاف مخکښ غړي وو او نه یې غوښتل چې د زبېښونکو بنسټونو بله داسې مجموعه رامنځته شي چې ورته خنډونه جوړ کړي. دویم عامل د هغه ستر ایتلاف ماهیت و چې په دواړو مواردو کې رامنځته شو. مثلا؛ پرتمین انقلاب یوازې د یوې کوچنۍ ډلې یا د ګټو د خاوندانو پاڅون نه و، بلکې د سوداګرو، صنعتکارانو او د بېلابېلو سیاسي ډلو یو ګډ غورځنګ و. د فرانسې انقلاب هم ورته حالت درلود. درېیم عامل د فرانسې او برېټانیا د بنسټونو په تاریخ پورې اړه لري. دغو بنسټونو د پرانیستو بنسټونو پراختیا ته زمینه برابره کړه. په دواړو هېوادونو کې د پارلمان او په واک کې د سیاسي مشارکت دود موجود و. په برېټانیا کې د پارلمان دود یا سنت له مګناکارتا او په فرانسه کې د نجیبانو جرګې څخه سرچینه اخیسته. پر دې سربېره، دغه دواړه انقلابونه د داسې پروسو په منځ کې پېښ شول چې استبداد ته لېوالتیا او علاقمندي کمرنګه او کمزورې شوې وه. په دواړو مواردو کې سیاسي بنسټونو چا ته په اسانۍ اجازه نه ورکوله چې واک د یوې ځانګړې ډلې لاس ته پرېوځي او پر اقتصادي ثروت خپټه واچوي. سره له دې چې د فرانسې تر انقلاب

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



وروسته د 'روبسپاير' او 'سن ژوس' په مشرۍ يوه کوچنۍ ډله واک ته ورسېده، خو دا يوه موقته چاره وه او د پرانيستو بنسټونو په لور پيل شوی حرکت يې منحرف نه کړ. د فرانسې او برېټانيا دغه ځانګړنې د هغو ټولنو له شرايطو سره کاملاً په ټکر کې دي چې شديد زبېښونکي سياسي او اقتصادي بنسټونه پکې اوږده مخينه لري او د واکمنانو پر قدرت د کنټرول يا محدوديت هېڅ ځرک نه ليدل کېږي. په دې ټولنو کې د سوداګرو او کاروباريانو هېڅ داسې قوت چې د واکمن رژيم پر وړاندې مقاومت او د پرانيستو اقتصادي بنسټونو ملاتړ ته را ودانګي، وجود نه درلود، يا هم هېڅ داسې پياوړی او پراخ ايتلاف نه و چې غړو يې د يو بل واک محدود کړی وای. په پايله کې په سيريليون، ايتوپيا او کانګو کې د خبيثه کړۍ پر وړاندې مقاومت ډېر سخت او د پرانيستو بنسټونو په لور حرکت نا ممکن برېښېده. همدارنګه هېڅ دوديز يا تاريخي ځواک نه شته چې د واکمنانو واک محدود کړي. د افريقا په ځينو برخو کې دغه ډول بنسټونه موجود و لکه بوتسوانا کې چې ان د استعمار تر عصره پورې يې هم دوام وکړ، خو د سيريليون په تاريخ کې دغه ډول بنسټونه ډېر لږ وو او په هغو سيمو کې چې موجود و، هغه بيا د لاسپوڅو يا غير مستقيمو حکومتونو له لوري فاسد شول. په افريقا کې د برېټانيا په نورو مستعمرو لکه کينيا او نايجيريا کې هم دغه ډول وضعيت و. د ايتوپيا په استبدادي پاچاهۍ کې دا ډول بنسټونه هېڅکله جوړ نه شول. په کانګو کې محلي بنسټونه د بلجيم د استعماري حکومتونو او د موبوټو د مستبدانه سياستونو په پايله کې له کاره وغورځول شول. په دې ټولنو کې د سوداګرو، کسبګرو او نويو پانګوالو هېڅ داسې ډلګۍ نه وه چې د نوي پراخ بنسټه رژيم ملاتړ او د مالکيت حقونو د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



خوندیتوب لپاره مبارزه وکړي او زبېښونکو بنسټونو ته د پای ټکی کېږدي. تر استعمار وروسته د خپلواکۍ په دوره کې نړیوالې ټولنې انګېرلې وه چې افریقا به د ملي پروګرامونو او د خصوصي سکتور د غوړېدو له لارې وکولای شي چې اقتصادي وده او هوساینه تجربه کړي. خو هلته خصوصي سکتور وجود نه درلود او کلیوالي سیمې چې په دولت کې هېڅ استازي نه لرل، د دې پروګرام لومړنۍ قرباني وې. په دغو ټولو مواردو کې ښايي تر ټولو مهمه خبره دا وه چې لویې ګټې د قدرت پر مټ ترلاسه کېدې. دغو ګټو له یوې خوا بې وجدان صفته اشخاص لکه سټیونز چې د واک د انحصار په لټه و، ځان ته راکاږل او له بل پلوه د هغوی له ډلې یې داسې بدنامه اشخاص رامخ ته کول چې د واک پر مهال به یې خپله ناولې څېره نندارې ته وړاندې کوله. د خبیثه کړۍ د ماتولو لپاره هېڅ هیله نه وه.

## منفي غبرګون[1] او خبیثه کړۍ

شتمن ملتونه ځکه شتمن دي چې د تېرو ۳۰۰ کلونو په اوږدو کې د ځینو خاصو مقطعو په ترخ کې د پرانیستو بنسټونو په رامنځته کولو او مدیریت کې بریالي شول. دغه بنسټونه د سپېڅلې کړۍ په پروسه کې ستر او پیاوړي شول. په دې ټولنو کې حتی که پرانیست والي په لومړیو کې د محدود او ماتېدونکي معنا لرله، خو تحرک یې رامنځته کولای شوای چې پر بنسټ یې د مثبت غبرګون پروسه پیلېده او پرانېست والی په کې په تدریج سره پراخ او پیاوړی کېده. په برېټانیا کې د ۱۶۸۸ کال تر پرتمین انقلاب وروسته دغه هېواد سملاسي د

[1] Negative feedback

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



ولسواکۍ ځښتن نه شو، بلکې رښتینې ولسواکۍ ته لا ډېر مزل په مخ کې و. د ولس یوې ډېرې کوچنۍ برخې په حکومت کې سهم درلود، خو ټولنه پراخ بنسټه وه چې همدا ټکی له ډېر ارزښته برخمن دی. د پلورالېزم یا پراخ بنسټۍ د بهیر دوام وکولای شول چې ورو- ورو پرانیستو بنسټونو ته لار پرانېزي؛ که څه هم په دې لاره کې بلا خنډونه او اغزي پراته وو. برېټانیا په دې برخه کې د سپېڅلې کړۍ یو مثال ګڼل کېږي: پرانیستو سیاسي بنسټونو د واک د اعمال او ترلاسه کولو په برخه کې محدودیتونه رامنځته کړل او دغو بنسټونو د پرانیستو اقتصادي بنسټونو جوړولو ته لار هواره کړه، چې پرانیستو اقتصادي بنسټونو بیا په خپل وار د پرانیستو سیاسي بنسټونو خوندیتوب او دوام ته زمینه برابره کړه. سپېڅلې کړۍ که څه هم د تاریخ د واقع کېدونکو پېښو تر ګواښ لاندې ده، خو د بنسټونو دوام یقیني کوي او ان داسې ډینامیک رامنځته کوي چې ټولنه د لا ډېر پرانیست والي په لور خوځوي. څرنګه چې سپېڅلې کړۍ د پرانیستو بنسټونو د دوام لامل کېږي، دغه شان خبیثه کړۍ هم د زبېښونکو بنسټونو د تداوم لپاره له پیاوړې ځواکه برخمنه ده. په څوارلسم څپرکي کې به یې ووینو، چې د تاریخ پرېکړه بدلېدونکې نه ده او د خبیثه کړۍ ماتول ناشوني نه دي. خو دا د انعطاف وړ دي. هغوی د منفي غبرګون یا فیډبک یوه ځواکمنه پروسه رامنځته کړه چې زبېښونکو سیاسي بنسټونو زبېښونکي اقتصادي بنسټونه وزېږول او اقتصادي بنسټونه هم په خپل وار د زبېښونکو سیاسي بنسټونو دوام ته لار هواروي. موږ دغه مثال په ګواتیمالا کې چې سیاسیونو لومړی د استعمار او بیا تر خپلواکۍ وروسته د څلورو لسیزو لپاره په واک کې پاتې شول، په ښه توګه ولیده. زبېښونکي بنسټونه حاکمان شتمنوي

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



او د هغوی شتمنۍ د واک دوام ته بستر برابروي. د خبيثه کړۍ ورته پروسه د امریکا متحده ایالتونو د کرنیز اقتصاد په تداوم کې هم لیدل کېږي او د دې ترځنګ دا ښېښه موږ ته د ننګونو پر وړاندې د خبيثه کړۍ نرمښت هم را ښيي. د جنوبي ایالتونو ځمکوالو په کورنۍ جګړه کې تر ماتېدو وروسته پر موجوده سیاسي او اقتصادي بنسټونو خپل رسمي کنټرول له لاسه ورکړ. مریتوب چې د کرنیز اقتصاد اساس و، لغوه شو او تور پوستان له برابرو سیاسي او اقتصادي حقونو برخمن شول. خو کورنۍ جګړې د ځمکوالو او واکمنې کړۍ سیاسي واک یا د هغوی اقتصادي سرچینې وچې نه کړې. د خبيثه کړۍ دا فورم یا بڼه چې په هغې کې زبېښونکي بنسټونه د واکمنانو د پایښت له امله دوام مومي، یوازینۍ بڼه نه ده. په لومړي سر کې ډېر جنجالي، خو په همدې کچه واقعي او ناوړه، د منفي فیډبک بڼې د ګڼو ملتونو سیاسي او اقتصادي پرمختګ ته شکل ورکړ، چې مثالونه یې د افریقا جنوب صحرا په ګڼو هېوادونو لکه سیریلیون او ایتوپیا کې تجربه شوي دي. د جرمني ټولنپوه رابرټ میشلز په وینا د اولیګارشۍ اوسپنیز قانون په څېر د زبېښونکو بنسټونو له را نسکورولو څخه وروسته نظام ته د پخوانیو ککړو افرادو راتګ تر پخوا هم ناوړه پایلې لرلی شي. د خبيثه کړۍ دغه ډول او بڼې ته په کتو، کولای شو چې د هغې منطق په اسانۍ درک کړو: زبېښونکي بنسټونه د واکمنانو د واک د اعمال په برخه کې ډېر لږ محدودیتونه وضعه کوي. نو په دې توګه هېڅ داسې بنسټ او مرجع نه شته چې د یوې دیکتاتورۍ تر نسکورولو وروسته د واک ته رسېدلو افرادو پر کړنو څار وکړي او د واک په وړاندې یې قانوني محدودیتونه وضعه کړي. البته د اولیګارشۍ

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



اوسپنیز قانون د فزیک له حقیقي قوانینو څخه نه دی. لکه څرنګه چې پرتمین انقلاب په برېټانیا او میجي انقلاب په جاپان کې څرګنده کړه، دغه قانون انکار نه منونکی مسیر انځوروي. د یادو پېښو په جریان کې یو عمده عامل چې د پرانیستو بنسټونو په لور د څرخېدو لامل شو، د یوه ستر ایټلاف له لوري د واک ترلاسه کول و چې د استبداد پر وړاندې ودرېدل او د زبېښوونکو بنسټونو پر ځای یې پرانیستي بنسټونه سمبال کړل. هغه انقلاب چې د یوه ستر ایټلاف پر مټ رهبري کېږي، د پرانیستو بنسټونو پیدایښت ممکن کوي. په سیریلیون او ایتوپیا کې د اولیګارشۍ قانون ټینګښت ډېر ممکن شوی و، دا یوازې له دې کبله نه چې موجوده بنسټونه شدیداً زبېښوونکي وو، بلکې نه د خپلواکۍ لومړني غورځنګ او نه هم د درګ پوځي ډلګۍ دواړه له یوه داسې ایټلاف څخه بې برخې وو، چې انقلاب نتیجې ته ورسوي. برعکس؛ دا انقلابونه د داسې افرادو له لوري رهبري کېدل، چې واک ته د رسېدو او د سرچینو د زبېښناک شخصي موخې او هیلې یې لرلې. همدارنګه د خبیثه کړۍ یوه بڼه او حتی ورانونکې بڼه هم شته چې په پنځم څپرکي کې د مایا-دولت ښارونو په بحث مو کې پرې خبرې وکړې. کله چې زبېښوونکي بنسټونه په ټولنه کې پراخه نا انډولي او د واکمنانو لپاره نه مهارېدونکی ثروت زېږوي، نو د هغو کسانو شمېر به خورا زیات وي چې دغو بنسټونو او واک ته د رسېدو لپاره مبارزه کوي. له همدې امله زبېښوونکي بنسټونه نه یوازې راتلونکو رژیمونو ته چې حتی تر پخواني هغه ډېره زبېښوونکي بڼه خپلوي، هواروي؛ بلکې کورنۍ شخړې او جګړې لا پسې دوامداره کوي. دغه شخړې انساني ناورینونه زېږوي او ان د دولت د تمرکز په برخه کې ناچیز

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



پرمختګونه هم پر شا تمبوي. لکه څرنګه چې په راتلونکي څپرکي کې به يې ووينو، دغه وضعيت همدارنګه په ټولنه کې قانون ماتونه، د دولتونو ناکامي او سياسي ګډوډۍ رامنځته کوي او بالاخره د اقتصادي هوساينې ټولې هيلې له منځه وړي.

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



## دیارلسم څپرکی

## نن ورځ ملتونه ولې ماتېږي؟

### په زیمبابوې کې د لاټرۍ ټکټ څنګه وګټو؟

د ۲۰۰۰ م کال د جنورۍ میاشت وه چې د زیمبابوې په حراره کې د ملي لاټرۍ مراسم ترسره شول. دا مراسم د زیمبانک[1] د نیمه دولتي بانک له لوري جوړ شوي وو او له صندوق څخه د لاټرۍ ټکټ د را ایستلو لپاره فالوت چاواوا غوره شوی و. ټولو هغو مشتریانو چې د ۱۹۹۹ کال تر ډسمبر میاشت پورې یې په خپل بانکي حساب کې ۵،۰۰۰ زیمبابویي ډالر لرل، کولای شول چې د لاټرۍ په پروګرام کې برخه واخلي. کله چې چاواوا له صندوق څخه ټکټ راباسي، د ټکټ په لیدو هک حیرانېږي. وروسته د زیمبانک په اعلامیه کې لیکل شوي وو:«کله چې د پروګرام چلوونکي فالوت چاواوا د لاټرۍ د ټکټونو له منځه یو را واېست او ویې لیدل چې د ۱۰۰،۰۰۰ زیمبابویي ډالرو د جایزې ټکټ باندې د جلالتماب رابرټ موګابې نوم لیکل شوی، نو هېڅ باور یې نه کاوه.»

ولسمشر رابرټ موګابې چې له ۱۹۸۰ کال راهیسې یې په زور او رضا او معمولاً د اوسپنیز سوک پر مټ پر زیمبابوې حکومت کړی و، په زیمبابوې کې د لاټرۍ په یوه سیالۍ کې یو لک زیمبابویي ډالر ګټي چې دا په دې هېواد کې د سړي سر د کلني عاید پنځه برابره پیسې دي. زیمبانک وویل چې د لاټرۍ په سیالۍ کې د زرګونو مشتریانو له منځه د موګابې نوم راووت. څومره بختور انسان!

[1] Zimbank

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



څرګنده ده چې هغه دغو پیسو ته اړتیا نه لرله. په همدې وروستیو کې موګابي د خپل او د کابینې د غړو په معاشونو کې ۲۰۰ سلنه زیاتوالی راوستی و. په زیمبابوې کې د لاټرۍ ټکټ د زبېښونکو بنسټونو یو بل روڼ مثال دی. کېدای شي یو څوک دا کار فساد وګڼي، خو دا په حقیقت کې په زیمبابوې کې یوازې د بنسټونو نیمګړتیا او ناورین ګڼل کېدای شي. نن ورځ د ملتونو د ناکامۍ او ماتېدو عمده دلیل د هغوی زبېښونکي بنسټونه دي. په زیمبابوې کې د موګابي حکومت د دې هېواد اقتصادي او ټولنیز وضعیت په ښه ډول انځوروي. که څه هم په زیمبابوې کې ملي احصایه ډېره د باور وړ نه ده، خو د ۲۰۰۸ کال ارقام ښیي چې په دغه کال کې د سړي سر کلنی عاید د ۱۹۸۰ کال د کلني عاید په پرتله چې د زیمبابوې د خپلواکۍ دوره ګڼل کېږي، نیمایي و. که دغه ارقام هر څومره حیرانوونکي هم وي، په دې هېواد کې حتی د ناورین ځیلي ژوند یوه کوچنۍ برخه هم نه شي انځورولی. په زیمبابوې کې دولت پاشلی دی او هر ډول عامه خدمتونه په ټپه ولاړ دي. د ۲۰۰۸ او ۲۰۰۹ کلونو ترمنځ ناکاره روغتیایي سیستم د کلورا ناروغۍ د خپرېدو لامل شو. د رسمي شمېرو له مخې د ۲۰۱۰ کال د جنورۍ تر ۱۰ مې پورې ۹۸،۷۴۱ کسان د کولرا پر ناروغۍ اخته وو چې له دې ډلې ۴۲۹۳ کسانو ژوند لاسه ورکړ. دا په تېرو ۱۵ کلونو کې په افریقا کې تر ټولو وژونکې ناروغي وه چې په دومره شمېر کسان پرې اخته او مړه شول. په دې موده کې د بېکارۍ کچه هم خورا لوړه او بېساري وه. د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ ادارې په ۲۰۰۹ کال کې په دې هېواد کې د بېکارۍ کچه ۹۴ سلنه وښوده، چې خورا

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



هیښوونکې وه. د افریقا د جنوب صحرا د نورو هېوادونو په څېر، د زیمبابوې د سیاسي او اقتصادي بنسټونو ریښې هم د استعمار دورې ته رسېږي. په ۱۸۹۰ کال کې د 'سیسل جان روډز' اړوند د سوېلي افریقا برېتانوي کمپنۍ «Ndebele» یا میتابالنډ او د هغه څنګلوري «Mashonaland » سیمو ته د اکتشافي چارو لپاره یوه پوځي ډلګۍ ولېږله. دغو پوځیانو د غوره تجهیزاتو او وسلو پر مټ د افریقایانو مقاومت وځاپه او په ۱۹۰۱ کال کې د «سوېلي رودزیا» په نامه چې وروسته د رودز په نامه ونومول شوه، د اوسنۍ زیمبابوې په خاوره کې مستعمره جوړه شوه. دا چې یاده سیمه د سوېلي افریقا برېتانوۍ کمپنۍ په خصوصي مالکیت کې شامله شوه، رودز تمه لرله چې د کانونو د استخراج او سپړنې له لارې به شتمنۍ ترلاسه کړي. دغو هڅو نتیجه ور نه کړه، خو د دې سیمې بډایو کرنیزو ځمکو د سپین پوستو مهاجرو پام ځان ته ور اړولی و او تر یوې لنډې مودې وروسته یې پراخې ځمکې لاندې کړې. دغو اروپایي کډوالو په ۱۹۲۳ کال کې د سوېلي افریقا برېتانوي کمپنۍ له حاکمیت څخه د خلاصون لپاره هلې ځلې پیل کړې او د برېټانیا له دولت څخه یې د بشپړې خپلواکۍ غوښتنه وکړه. هغه څه چې تر دې وروسته په زیمبابوې کې پېښ شول، کټ مټ هماغه پېښه وه چې تر دې یوه لسیزه مخکې په سوېلي افریقا کې شوې وه. په ۱۹۱۳ کال کې په سوېلي افریقا کې د «بومیانو د ځمکو قانون» تصویب شو، چې له مخې یې په دغه هېواد کې دوه ګونی اقتصاد رامنځته شو. رودزیا هم عین قانون په دې سیمه کې پلی کړ او د سوېلي افریقا رژیم څخه په الهام اخیستو دلته هم ډېر ژر په ۱۹۲۳ کال کې د سپین پوستو اپارټایډ رژیم تاسیس شو. کله چې د ۱۹۵۰ مې او ۱۹۶۰ مې لسیزو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



ترمنځ اروپايي استعماري امپراتورۍ ړنګې شوې، په روډزيا کې د 'يان سمېت' په مشرۍ واکمنې سپين پوستې طبقې هم له برېټانيا څخه خپلواکي تر لاسه کړه. يوازې د ګوتو په شمار هېوادونو د روډزيا خپلواکي په رسميت وپېژندله او ملګرو ملتونو پر دغه هېواد اقتصادي او سياسي بنديزونه ولګول. تور پوستو ازادي غوښتونکو په ګاونډيو هېوادونو موزمبيق او زمبيا کې د خوندي مرکزونو له لارې په روډزيا کې د خپلواکۍ لپاره چريکي جګړه او بريدونه پيل کړل. نړيوال فشارونه او د موګابي په مشرۍ د زانو ګوند (د زيمبابوې افريقا ملي اتحاد)[1] او د 'جاشوا نکومو' په مشرۍ د زاپو ګوند (زيمبابوې افريقا د خلکو اتحاد)[2] د نظامي مبارزو په پايله کې بالاخره سياسي مذاکراتو ته لار هواره شوه او د سپين پوستو حکومت پای ته ورسېد او په ۱۹۸۰ کال کې د زيمبابوې په نوم خپلواک هېواد تاسيس شو. تر خپلواکۍ وروسته موګابي ډېر ژر يکه تازي پيل کړه. هغه خپل سيالان د زور له لارې وځپل او يا يې ځان ته رام کړل. په ميتابالنډ کې چې د زيمبابوې افريقا د خلکو اتحاد ګوند د ملاتړ اصلي مرکز ګڼل کېده، د تاوتريخوالي او شخړو بوربنوونکې پېښې وشوې او د ۱۹۸۰ يمې لسيزې په لومړيو کې څه باندې ۲۰ زره انسانان د جګړو له امله ووژل شول. په ۱۹۷۸ کال کې زاپو په زانو کې مدغم شو او په پايله کې يې «ZANU-PF» په نامه نوی سياسي ګوند تشکيل شو او جاشوا نکومو د سياست له صحنې ګوښه کړل شو. لکه څرنګه چې د خپلواکۍ په مذاکراتو کې

[1] ZANU
[2] ZAPU

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



هوکړه شوې وه، موګابې اساسي قانون ولیکه، سپین پوستو ته یې په ټاکنو کې د ګډون حق ورکړ او ځان یې ولسمشر اعلان کړ. نوموړي په ۱۹۹۰ کال کې ځان له سنا جرګې څخه چورلټ خلاص او د مقننه څانګې څوکۍ یې انتصابي کړې، چې د دې ټولو پایله د رابرټ موګابې په مشرۍ د یو ګوندي نظام منځته راتګ و. تر خپلواکۍ وروسته موګابې د زېبنبونکو بنسټونو هغه مجموعه چې د سپین پوستو له لوري جوړه شوې وه، په خپل کنټرول کې واخیسته. په دغو بنسټونو کې د نړیوال تجارت په برخه کې د نویو مقرراتو ټاکل، دولتی صنایع او د کرنیزو محصولاتو لپاره د بازار موندنې بورډ رامنځته کول شامل و. دولتي منصبونه او څوکۍ ډېر ژر د زانو-پي ایف ګوند غړو ته ډالۍ شوې. پر اقتصادي فعالیتونو د دولت سخت نظارت او محدودیتونه د زانو-پي ایف تګلاره وه، ځکه چې په بازار کې یې د نویو کاروباریانو د احتمالي راتګ مخنیوی کاوه او د خپل انحصار پر وړاندې خنډونه یې له منځه وړل. دغه وضعیت په ۱۹۶۰ مه لسیزه کې له ګانا سره ورته والی درلود چې په راتلونکي کې به پرې بحث وکړو. په زړه پورې دا چې دغه وضعیت په زیمبابوې کې د اقتصادي فعالیتونو او کاروبار د اصلي طبقې په توګه د سپین پوستو د دوام لامل شو. په دې دوره کې د سپین پوستو د اقتصاد اصلي برخې په ځانګړې توګه د کرنیزو محصولاتو لوړ تولید د پخوا په څېر پر خپل ځای پاتې شو. خو دغو شرایطو یوازې تر هغه وخته دوام وکړ، چې موګابې لا د خلکو تر منځ خپل محبوبیت له لاسه نه و ورکړی. د ګوندي نظام او په بازار کې د مداخلې دغه ماډل ډېر ونه پایېد او بالاخره په ۱۹۹۱ کال کې تر یوه سخت مالي بحران وروسته د نړیوال بانک او د پیسو نړیوال صندوق په مرسته د ساختاري یا

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



بنسټیي اصلاحاتو پروسه پیل شوه. د اقتصادي وضعیت د خرابېدو له امله د «زانو- پي ایف» یو ګوندي نظام پر وړاندې د ډیموکراټیک بدلون غورځنګ (MDC) یو مخالف سیاسي جریان سر راپورته کړ. زانو-پي ایف ګوند د ۱۹۹۵ کال په پارلماني ټاکنو کې د ٪۸۱ رایو په ترلاسه کولو سره د پارلمان له ټولو ۱۱۸ څوکیو څخه ۱۲۰ یې وګټلې. د پارلمان ۵۵ غړي له رقابت پرته وټاکل شول. د راتلونکي کال ولسمشرۍ ټاکنې لا تر دې هم له درغلیو او نا قانونیو ډکې وې. موګابي ٪۹۳ سلنه رایې ترلاسه کړې او د هغه دوو تنو سیالانو «ابیل موزوریوا» او «دابنینګي سیتول» په هماغه لومړي سر کې د درغلۍ او نا قانونۍ له امله له خپلې نوماندۍ تېر شول. د ۲۰۰۰ کال په ټاکنو کې له درغلیو سره سره زانو پي ایف ګوند د ټولو رایو یوازې ۴۹ سلنه چې ۶۳ څوکۍ کېدې، ترلاسه کړې. د ام ډي سي ګوند د ټاکنو د پایلو پر وړاندې چې د پلازمېنې حراره اکثریت رایې یې ترلاسه کړې وې، اعتراض وکړ. د ۲۰۰۲ کال په ولسمشریزو ټاکنو کې موګابي د ۵۶ سلنه رایو په ترلاسه کولو سره د ټاکنو ګټونکی شو. زانو-پي ایف ګوند په دواړو ټاکنو کې د زور، ډار خپرولو او درغلیو له لارې واک ته ورسېد. موګابي د خپل واک د ټینګښت لپاره تاوتریخوالي او د سیاسي ملاتړ خپلولو لپاره د دولتي امکاناتو کارونې ته مخه کړه. هغه په ۲۰۰۰ کال کې د سپین پوستو ځمکې مصادره او غصب کړې، چې د دې کار په راس کې د خپلواکۍ د وخت د سرتېرو یوه ټولنه وه. ډېره کمه برخه ځمکې دوی ته ورکړل شوې، خو لویه برخه یې د زانو-پي ایف ګوند مشرانو ته ډالۍ شوې. د مالکیت د حقونو غیر خوندي وضعیت چې د موګابي او زانو-پي

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



ایف د واکمنۍ له امله رامنځته شوی و، کرنیز تولیدات له پښو وغورځول. کله چې اقتصادي شیرازه له منځه یووړل شوه، یوازینی شی چې د سیاسي ملاتړ د اخیستو لپاره پاتې و، د پیسو چاپ و چې د سخت او ژور انفلاسیون لامل شو. د ۲۰۰۹ کال په جنورۍ کې په زیمبابوې کې د بهرنیو اسعارو لکه د سوېلي افریقا 'رانډ' ته د چلښت اجازه ورکړل شوه او زیمبابویي ډالر چې نور یو بې ارزښته کاغذ و، له چلښته وغورځېد.

هغه څه چې په ۱۹۸۰ کال کې تر خپلواکۍ وروسته په زیمبابوې کې پېښ شول، د افریقا جنوب صحرا په هېوادونو کې عادي خبره ده. نوې زیمبابوې په ۱۹۸۰ کال کې خورا ژور زبېښونکي سیاسي او اقتصادي بنسټونو په میراث یووړل، چې دغه بنسټونه تر یوې نیمې لسیزې پورې په هماغه پخوانۍ بڼه نا لاس خوړلي پاتې شول. کله به چې ټاکنې ترسره کېدې، نو سیاسي بنسټونه چې هر ډول و، خو ظاهراً د پرانیستي نوم ور پورې تړلی و. اقتصادي بنسټونه په بله بڼه تغیر شوي وو؛ مثلا: نور د تور پوستو پر وړاندې تبعیض نه و، خو په ټوله کې د بنسټونو زبېښونکی ماهیت تغیر نه شو، یوازې په دې توپیر چې د سمېت او سپین پوستو پر ځای دا ځل رابرټ موګابي او زانو-پي ایف ګوند په واک کې وو، چې یوازې خپل جېبونه یې ډکول. د وخت په تېرېدو سره بنسټونه نور هم زبېښونکي شول او د کورنیو کلني عواید په بېساري ډول راټیټ شول. د زیمبابوې سیاسي او اقتصادي ماتې د اولیګارشۍ اوسپنیز قانون یو بل انځور دی. د یان سمېت استثماري او ځپونکي رژیم خپل ځای د رابرټ موګابي فاسد، استثماري او ځپونکي رژیم ته پرېښود. د ۲۰۰۰ کال د لاټرۍ له درغلیو ډک پروګرام کې د موګابي ګټونکي کېدل د فساد او چور هغه

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

Downloaded By: Afghan Salar Library



مثال دی، چې زیمبابوې یې تاریخي سابقه لري. نن ورځ ملتونه له دې امله ماتېږي چې زبېښونکي اقتصادي بنسټونه یې د سپما، پانګونې او نوښتونو په برخه کې د خلکو ترمنځ د اړتیا وړ انګېزه نه شي را ژوندۍ کولای. زبېښونکي سیاسي بنسټونه د هغو کسانو د واک له لارې چې له دغه زبېښناک څخه ګټه پورته کوي، له یادو سیاسي بنسټونو ملاتړ کوي. د زبېښونکو سیاسي او اقتصادي بنسټونو ځانګړنې که څه هم له یو بل سره متفاوتې دي، خو په ټوله کې د ملتونو د ناکامۍ او ماتې اصلي عامل همدغه بنسټونه دي. په زیاتره مواردو کې، چې په ارجنټاین، کولمبیا او مصر کې به یې ووینو؛ دغه ناکامي د اغېزناکو اقتصادي فعالیتونو د نشتوالي له امله رامنځته کېږي، ځکه سیاستوال خوشاله وي چې سرچینې زبېښي او یا د هغو خپلواکو اقتصادي فعالیتونو مخه نیسي چې د دوی واک ته خطر پېښوي. په ځینو نورو افراطي مثالونو لکه زیمبابوې او سیریلیون کې چې وروسته یې په اړه خبرې کوو، زبېښونکي بنسټونه د دولتونو بشپړې ناکامۍ ته لار هواروي؛ هغه څه چې نه یوازې په ټولنه کې نظم او قانون بلکې حتی د اقتصادي پرمختګ ابتدایي عوامل هم له منځه وړي. نتیجه یې اقتصادي ځوړتیا او لکه څرنګه چې د انګولا، کیمرون، چاد، د کانګو ډیموکراتیک جمهوریت، هایتي، لایبیریا، نیپال، سیریلیون، سوډان او د زیمبابوې معاصر تاریخ یې څرګندوي؛ خونړۍ کورنۍ جګړې، له خپلو مېنو په لویه پیمانه د خلکو بېځایه کېدل، لوږه او وژونکو ناروغۍ دي، چې دغه هېوادونه یې تر پخوا ( ۱۹۶۰ مې لسیزې) ډېر اوس د بېوزلۍ د بلا خولې ته ورکړې دي.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



## د ماشومانو جګړه

د ۱۹۹۱ کال د مارچ په درویشتمه د «فوډې سانکو» په مشرۍ د وسله والو یوه ډله د لایبیریا له لارې سیرېلیون ته ورسېده او په جنوب کې یې د 'کایلاهون' پر سرحدي ښار یرغل وکړ. سانکو چې د سیرېلیون په پوځ کې افسر و، د سیاکا سټیونز د حکومت پر وړاندې تر یوې ناکامې کودتا وروسته په ۱۹۷۱ کال کې بندي شو. له زندانه تر ازادېدو وروسته لیبیا ته لاړ او هلته په یوه پوځي روزنیز کمپ کې چې د لیبیا دیکتاتور مشر ډګروال قذافي د افریقایي انقلابینو لپاره جوړ کړی و، شامل شو. نوموړی هلته له 'چارلېز ټایلر' سره چې د لایبیریا حکومت د پرځولو پلان یې جوړ کړی و، اشنا شو. د ۱۹۸۹ کال د کرسمس په شپه د ټایلر له لوري پر لایبیریا د یرغل پر مهال سانکو هم له ده سره و. له ټایلر سره په دې حمله کې زیاتره هغه لایبیریایان او بورکینافاسویان وو، چې تر ټایلر دوه کاله مخکې پر سیرېلیون د برید پرمهال له سانکو سره ملګري وو. هغوی خپل حرکت د انقلاب متحده جبهه «RUF» باله او موخه یې د سیرېلیون د ټولو خلکو کانګریس «APC» د فاسد او مستبد دولت رانسکورول و. لکه څرنګه چې په تېر فصل کې مو ولوستل، سیاکا سټیونز او د ټولو خلکو کانګریس ګوند په زیمبابوې کې د موګابي او زانو-پي ایف په څېر د سیرېلیون د استعماري حکومت د زبېښونکو بنسټونو واګې په لاس کې واخیستې او دغه بنسټونه یې لا پسې تقویه کړل. په ۱۹۸۵ کال کې کله چې سټیونز د سرطان ناروغۍ له امله 'جوزیف مومو' د خپل ځایناستي په توګه وټاکه، د سیرېلیون اقتصاد د پاشل کېدو په حال کې و. سټیونز به د ملنډو او طعنې په دود ویل:«غوا یوازې په هغه ځای کې څري چېرته چې یې مېږی تړل شوی وي»

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



اوس دا دی سټيونز چې چېرته څرېدلی و، مومو هم همغه ځان مړوي. سړکونه کنډه و کپړ او ښوونځي خالي او وتړل شول. د اطلاعاتو وزير په ۱۹۸۷ کال کې د ملي ټلوېزيون ټرانسميټر خرڅ کړ چې له امله يې ټلويزيوني خپرونې بندې شوې او په ۱۹۸۹ کال کې د راډيو هغه ټاور او انتن چې راډيويي څپې يې له فري ټاون څخه بهر لېږدولې، را ونړېد او له پلازمېنې بهر د راډيو غږ د تل لپاره غلی شو. هغه تحليل مطلب چې په ۱۹۹۵ کال کې د مومو حکومت په اړه د فري ټاون د يوې ورځپاڼې له لوري په پلازمېنه کې خپور شو، په دې اړه ډېر حقايق روښانه کوي:«مومو د خپل حکومت په وروستيو کې د دولتي کارکوونکو، ښوونکو او ان د لوړ پوړو چارواکو معاشونه ځنډولي وو. مرکزي دولت پاشلی او کاواکه شوی و او وروسته موږ په هېواد کې د وسله والو مخالفينو، وسلو او پراخو حرکتونو شاهدان وو چې د لايبيريا د پولې په اوږدو کې ځای پر ځای او دېخوا را اوښتل.»

د مومو په مشرۍ ناکاره او کاواکه حکومت چې د خبيثه کړۍ يو روڼ مثال ګڼل کېږي او د سټيونز د وخت له شديدو زيېښونکو بنسټونو څخه سرچينه اخلي؛ په دې معنا و، چې په ۱۹۹۱ کال کې هېڅ داسې ځواک نه و چې له پولې څخه د چريکي جنګيالو «ار،يو،ايف» د را اوښتو مخه ونيسي. حکومت د دغو ګواښونو او يرغلونو د کابو کولو لپاره هېڅ توانايي نه لرله. سټيونز دولتي ځواکونه له دې وېرې چې د ده پر وړاندې سر پورته نه کړي، کمزوري او ګوښه ساتلي وو. له همدې امله حتی يوې کوچنۍ وسله والې ډلې هم کولای شول چې حکومت چلنج کړي. هغوی حتی د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



«ډیموکراسۍ په لور» تر نامه لاندې مانیفیسټ یا تګلاره درلوده چې د یوه تور پوستي عالم «فرانټس فانون» په وینا پیل شوې وه:«هر نسل باید خپل ماموریت د نسبي ابهاماتو له منځه کشف او روښانه کړي، هغه سر ته ورسوي او یا دې ور سره خیانت وکړي.» تر دې عنوان لاندې مطلب چې «موږ د څه لپاره جنګېږو؟» داسې پیلېده:«موږ جګړې ته دوام ورکوو ځکه چې د حکومت د ناخوالو له امله د فقر او انساني سپکاوي دوامداره قربانیان یوو، موږ له کلونو راهیسې د پوځي دیکتاتورۍ او یکه تازۍ درنه بیه پرې کوو. خو موږ باید د مقاومت تمرین وکړو او سولې ته د رسېدو لپاره انتظار وکړو، هغه څه چې زموږ بریا تضمنیوي. موږ سولې ته ژمن یوو، خو هغه څه نه منو چې موږ د سولې قرباني کړي. موږ خپلو هیلو ته د عدالت په سترګه ګورو او خدای/الله به موږ هېڅکله د یوه نوي سیریلیون د جوړولو په لار کې یوازې پرې نهږدي.»

د سانکو د ظلم او بې عدالتیو له امله خلک د حکومت پرضد مخالفت ته هڅېدل، له همدې امله وضعیت ډېر ژر له کنټروله ووت. د «ار.یو.ایف» ماموریت هېواد د بلا خولې ته ورکړ. د سیریلیون په سوېل کې د جیوما په نامه یو ځوان وایي:«هغوی زموږ یو شمېر ملګري یې یوې خوا ته کړل...زموږ له منځه یې دوه تنه جلا او ویې وژل. د هغوی پلرونه د پوځ قوماندانان وو او یوازې په دې دلیل ووژل شول چې په خپل کور کې یې سرتېرو ته ځای ورکړی و. قومندانان هم ووژل شول. وروسته داسې وخت راغی چې ګناهګار او بې ګناه ته نه کتل کېدل، بلکې یو له مخه به یې ویشتل.»

د انقلاب متحدې جبهې د برید په لومړي کال حکومت په سیریلیون کې د دې حرکت ټول روڼ اندي او فکري ریښې له منځه یووړې.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



سانکو هغه کسان چې د حکومت د ناخوالو پر ضد پاڅېدلي وو، ټول اعدام کړل. د متحده جبهې لیکو ته د ورتلونکو داوطلبو جنګیالو په شمېر کې کموالی راغی او دغه ډله اړ وه، چې د زور او تاوتریخوالي له لارې ماشومان خپلو لیکو ته جذب کړي. دا یوازې ار.یو.ایف غورځنګ نه و، بلکې د جګړې ټولو اړخونو او په ځانګړې توګه پوځ هم تنکي ځوانان او ماشومان استخدامول. د سیریلیون کورنۍ جګړه چې په لومړي سر کې د عادلانه نظام او هوسا ټولنې د رامنځته کولو په موخه پیل شوې وه، په وروستیو کې یې د ماشومانو د جګړې بڼه خپله کړه. په دې جګړه کې په لویه کچه ټولوژنې، د بشري حقونو نقض لکه د انسان د غوږونو، پزې او د بدن د غړو پرې کول او نور جنایتونه ترسره شول. د انقلاب متحدې جبهې «ار.یو.ایف» تر ولکې لاندې سیمو له اقتصادي سرچینو څخه د ځان په ګټه استفاده کوله، چې تر ټولو مهم یې د الماسو معدني سیمه وه. دلته خلک د الماسو د استخراج لپاره جبري کار ته اړ ایستل کېدل. پر دې سربېره، د دولت تر کنټرول لاندې سیمو کې هم ورته وضعیت و. د انقلاب متحده جبهه په ظلمونو، ټولوژنو او جبري کار کې یوازې نه و، بلکې دولت هم په کې ککړ و. ګډوډې، بې قانوني او خپلسري دې حد ته رسېدلي وو، چې خلکو ته د دولتي ځواکونو او مخالفو جنګیالیو ترمنځ توپیر خورا ګران شوی و. پوځي ډسپلین کاملاً له منځه لاړ. په ۲۰۰۱ کال کې شاوخوا ۸۰،۰۰۰ کسانو ژوند له لاسه ورکړ او ټول هېواد له خاورو سره برابر شو. که تاسو اوس په سیریلیون کې د الماسو سیمې کویډو Koidu ته لاړ شئ، نو د سوځېدلو کورونو یوه لیکه به وګورئ چې د مرمیو نښې په کې لیدل کېږي. په ۱۹۹۱ کال

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



کې په سیریلیون کې حکومت په بشپړه توګه مات او ناکام شو. د شیام له لوري د بوشنګ پاچاهۍ لومړني اقدامات په پام کې ونیسئ. هغه د خپل واک د ټینګښت لپاره زبېښونکي بنسټونه جوړ کړل، تر څو په ټولنه کې شته سرچینې وزبېښي. خو حتی د شیام زبېښونکي بنسټونه او متمرکز نظام هم، د کاسای د سیند پورې غاړې د لي لي قوم د ټولنې په نسبت چې نظم، قانون، مرکزي حکومت او د مالکیت حقونه په کې نه وو، هغه مهال یوه لویه لاسته راوړنه او پرمختګ ګڼل کېده. د همدغه ډول نظم او مرکزي دولتونو نه شتون په وروستیو څو لسیزو کې د ډېری افریقایي ملتونو برخلیک بدل کړ. دغه وضعیت له دې امله دی چې په زیاترو افریقایي هېوادونو کې د سیاسي مرکزیت یا سنټرالیزېشن پروسه ناتمامه پاتې شوه. پر دې سربېره، د زبېښونکو بنسټونو خبیثه کړۍ د دولت د متمرکز کولو پروسه ویجاړه او د دولتونو بشپړې ماتې ته یې لار هواره کړه. سیریلیون چې له ۱۹۹۱ کال څخه تر ۲۰۰۱ کاله پورې یې خونړۍ کورنۍ جګړه تجربه کړه، نن ورځ په نړۍ کې د یوه مات دولت روښانه مثال دی. ملتونه د خپل کلتور او جغرافیې له امله نه ناکامېږي، بلکې د هغو زبېښونکو بنسټونو له امله کړېږي چې د یوې ځانګړې واکمنې ډلې له لوري رهبري کېږي او د هېواد ټول ثروت او شتمنۍ په خپلو کې سره وېشي. زبېښونکي بنسټونه چې د خلکو د بېوزله کولو او د شتمنیو د لوټلو له لارې د اقتصادي پراختیا مخه ډپ کوي؛ په افریقا، اسیا او سوېلي امریکا کې په لویه کچه دود دي. کله چې چارلېز ټایلر په سیریلیون کې کورنۍ جګړه رهبري کوله، په عین وخت کې په لایبیریا کې یې هم د نظام پر ضد جګړه پیل کړه چې د دولت پر ماتې تمامه شوه. کورنۍ جګړې، د زبېښونکو بنسټونو رنګېدل او د دولتونو

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



د سقوط پېښې د افریقا په نورو برخو کې هم لیدل کېږي. مثلاً؛ په انګولا، عاج ساحل، د کانګو ډیموکراټیک جمهوریت، موزمبیق، د کانګو جمهوریت، سومالیا، سوډان او یوګندا کې زېښناک، پراخې بې نظمۍ او ګډوډۍ ته لار هواره کړې ده او دا عین هغه حالت دی چې شاوخوا ۱۰۰۰ کاله مخکې د مایا دولت - ښارونه ور سره مخ وو. کورنۍ جګړې د دولتونو سقوط له ځان سره لري. نو ویلی شو، چې نن ورځ د ملتونو د ماتېدو یو مهم لامل د هغوی د دولتونو ناکامېدل دي چې دا بیا په خپل وار د زېښنونکو سیاسي او اقتصادي بنسټونو تر سیوري لاندې حکومتونو نتیجه ده.

## څوک دولت دی؟

که د زیمبابوې، سومالیا او سیریلیون غمیزه په افریقا او اسیا کې د بېوزلو هېوادونو یو مثال وګڼو، نو زیاتی به مو کړی وي. ایا لاتینه امریکا ناکام دولتونه نه لري؟ ایا د هغوی ولسمشران دومره بې شرمه نه دي چې د لاټرۍ ټکټ په خپل نوم کړي؟ په کولمبیا کې د اندین غرونو لړۍ د دې هېواد په شمال کې ساحلي او پراخو دښتو ته رسېږي چې د کارابین سمندرګي پولې جوړوي. کولمبیایان دې سیمې ته «ګرم وطن» وایي چې د اندین غرونو لړۍ د پیل د نقطې په پرتله چې «یخ وطن» یې بولي، متفاوته سیمه ده. کولمبیا په تېرو پنځوسو کلونو کې د سیاسي علومو د یو شمېر پوهانو او دولتونو له لوري ډیموکراټیک هېواد ګڼل کېږي. د امریکا متحده ایالتونو حکومت له دغه هېواد سره د ازادې سوداګرۍ په برخه کې د کېدونکې تړون پر سر د خبرو اترو له امله خوښ دی او په بېلابېلو برخو، په ځانګړې توګه په پوځي برخه کې ورسره مرستې کوي. په کولمبیا کې پوځي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



حکومت ډېر دوام و نه کړ او په ۱۹۵۸ کال کې له منځه لاړ، چې تر دې وروسته په دغه هېواد کې ټاکنې په منظم ډول ترسره کېدې. که څه هم تر ۱۹۷۴ کاله پورې سیاسي واک او ولسمشري د یوه تړون پر بنسټ د دوو پخوانیو ګوندونو (محافظه کار او لیبرال) ترمنځ په نوبت لاس په لاس کېدل، خو وروسته دغه تړون (ملي جبهه) په خپله د کولمبیایانو د یوې ټولپوښتنې په ترڅ کې تایید شو چې اوس یو ډیموکراتیک بهیر ګڼل کېږي. کولمبیا سره له دې چې د ولسواکو ټاکنو اوږده مخینه لري، خو له پرانیستو بنسټونو بې برخې دی. د دغه هېواد تاریخ د مدني ازادیو د نقض، اعدامونو، د ملکي وګړو پر وړاندې تاوتریخوالي او د کورنیو جګړو له پېښو څخه ډک دی. موږ له دغسې حالت څخه د ډیموکراسۍ تمه نه شو کولای. په کولمبیا کې کورنۍ جګړه په سیریلیون کې له هغه وضعیت سره چې د نظام د پاشل کېدو او ګډوډۍ لامل شوه، توپیر لري. په هر حال، دا یوه کورنۍ جګړه وه، داسې جګړه چې په لویه کچه مرګ ژوبله یې لرله. په ۱۹۵۰ مه لسیزه کې پوځي حکومت په خپله د کورنۍ جګړې یوه برخه وه چې په هسپانوي ژبه یې La Violencia یا تاوتریخوالی باله. په دې موده کې د یو شمېر وسله والو ډلو له لوري چې لویه برخه یې کمونېستي انقلابیون وو، انسان تښتونو او وژنو د لرې پرتو سیمو د خلکو ژوند ور تریخ کړی و. د کلیوالي او لرې پرتو سیمو اوسېدونکي اړ وو چې د ځان د خوندیتوب لپاره «واکسنېشن» وکړي، په دې معنا چې خلکو به جنایتکاره باندونو ته هره میاشت ټاکلې اندازه پیسې ورکولې، څو د قتل او سرې تښتونې په وړاندې واکسین شي.

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



په کولمبیا کې تولې وسله والې ډلې کمونېستان نه دي. په ۱۹۸۱ کال کې د کولمبیا د وسله وال انقلاب غړو یا فارک «FARC» چې په کولمبیا کې مهمه کمونېستي چریکه ډله وه، د ګرم وطن په ختیځ کې د امالفي په نامه په یوه کوچني ښار کې د (جیسوس کستانو) په نامه د غواګانو یو فارم لرونکی وتښتاوه. فارک د ۷۵،۰۰۰ ډالرو غوښتنه کوله. که څه هم د کستانو کورنۍ دغه پیسې چمتو کړې، خو نوموړی د تښتوونکو له لوري ووژل شو او مړی یې په یوه ونه کې ځوړند کړ. د کستانو درې زامنو (کارلوس، فیډل او سمېت) ته دا وضعیت د زغملو نه و او د خپل پلار د غچ اخیستنې لپاره یې وسله واله ډله جوړه کړه. د وروڼو دغه ډله د ښې سازماندهۍ له امله ډېر ژر پیاوړې شوه او له نورو وسله والو ډلو سره یې چې د بېلابېلو اهدافو لپاره جوړې شوې وې، ګډ مشترکات پیدا کړل. کولمبیایان په یو شمېر سیمو کې له کیڼ اړخه چریکیانو او د هغوی مخالفې ډلې ښي اړخه ملېشو څخه ځورېدل. دغه ډلې پر دې سربېره، د مخدره توکو په قاچاق، زور زیاتي، انسان تښتونې او د ملکي خلکو په وژنه کې هم ښکېل وې. کاستانو وروڼو په ۱۹۹۷ کال کې د «کولمبیا ځاني دفاع پوځ»[1] جوړ کړ. دغې ډلې ډېر ژر د هېواد لویو برخو، په ځانګړې توګه د ګرم وطن په کوردوبا، سوکرا، مګډالینا او سزار حوزو کې حضور پیدا کړ. په ۲۰۰۱ کال کې د کولمبیا ځاني دفاع پوځ ۳۰ زره وسله وال جنګیالي لرل چې پر بېلابېلو څانګو وېشل شوي وو. په کوردوبا کې د جنګیالیو څانګه یا بلاک د «سلواتور منکوسو» له لوري رهبري کېده. کله چې یاده ډله د پیاوړتیا او ځواکمنېدو په لور

[1] AUC

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

Downloaded By: Afghan Salar Library



روانه شوه، په یوه ستراتیژیک اقدام کې یې د سیاست ډگر ته د ور گډېدو پرېکړه وکړه. ملېشو او سیاستوالو له یو بل سره لیدنې وکړې. د کولمبیا ځاني دفاع پوځ د حکومت له لوړ پوړو چارواکو سره د کوردوبا په سانتا فیډې رالیټو په ښار کې غونډه وکړه. دواړو لورو د «هېواد د بیا جوړونې» تر نامه لاندې د سولې تړون یو گډ سند چمتو کړ او د اې سي یو د مخکښو غړو له لوري د جورج ۴۰ (مستعار نوم توار پوپو)، اډولفو پاس (ډیاگو فرناډو) او ډیگو وسینو (اډوارد کوبو تیلس) او د دولت د یو شمېر نورو مشرانو لکه د سنا ملي جرگې له لوري د ویلیم مونټس او میگویل ډي لا اسپریالا ترمنځ لاسلیک شو. د کولمبیا ځاني دفاع پوځ په دې وخت کې د کولمبیا گڼې برخې په واک کې لرلې او له همدې امله د ۲۰۰۲ کال په پارلماني ټاکنو کې برلاسی و. مثلاً؛ په سکرا کې د ښاروالۍ حوزې په سن اونوفرې کې د ټاکنو مرکزونه د ځاني دفاع پوځ د ځایي رهبر 'کاډینا' تر نفوذ او اغېز لاندې وې. یو عیني شاهد په دې اړه وایي:«کلیو ته د کاډینا له لوري لارۍ موټر واستول شول او د سن اونوفرې او د ښاري حوزې شاوخوا سیمو خلک یې په کې سپاره او د رایو مرکزونو ته راوستل. د یو شمېر ځایي اوسېدونکو په وینا د ۲۰۰۲ کال ټاکنو لپاره سلگونه کروندگر او نور خلک د رایو مرکزونو ته راوستل شول تر څو ځانگړو کسانو ته رایه ورکړي: جایرو میرلانو د سنا او موریل بنیټو رابیلو د کانگریس لپاره.»

کاډینا د ښاروالۍ شورا د غړو نومونه یاداشت کړل او دواړه کسان یې گوښه کړل، ویې ویل که موریل بریالی نه شي، دوی او نور هغه کسان به چې بل چا ته رایه ورکوي، ووژني. گواښ خپل کار وکړ: هر کاندید په سوکرا کې ۴۰ زره رایې ترلاسه کړې. د حیرانۍ خبره

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



نه ده چې د سن اونوفرې ښاروال د «سانتا فيډې راليټو» تړون لاسليک کړ. ښايي يو پر درېيمه برخه سناتوران او کانګريس وال د ۲۰۰۲ کال په ټاکنو کې د وسله والې ډلې د ملاتړ په برکت بريالي شوي وي. شلم (۲۰) نمبر نقشه په کولمبيا کې د وسله والو ډلو تر ولکې لاندې سيمې په ګوته کوي. پر دې پوهېدل چې په کولمبيا کې پر سياست او ټولنې د وسله والو ډلو نفوذ او تسلط پر اقتصادي بنسټونو او ملي سياست څومره اغېز وښند، اسانه دي. د کولمبيا ځاني دفاع پوځ پراختيا او پياوړتيا له سولې سره مرسته و نه کړه. دغه ډله نه يوازې د فارک پر وړاندې وجنګېده، بلکې ملکي وګړي يې هم ووژل او سلګونه زره خلک يې له خپلو مېنو او کورونو بې ځايه کړل. د ناروې د کډوالو چارو شورا اړوند د کورنيو بې ځايه شويو د نظارت مرکز (IDMC) د معلوماتو له مخې په ۲۰۱۰ کال کې د کولمبيا د ټول نفوس ٪۱۰ يعنې ۴،۵ ميليونه کسان له خپلو کورونو بې ځايه شوي وو.

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



کولمبیا د یوه ناکام دولت په توګه د پاشل کېدو له ګواښ سره مخ نه دی، بلکې د کافي سیاسي سنټرالیزېشن یا مرکزیت د نشتوالي له

ستونزې کړېږي چې پر خپل ټول قلمرو د ولکې په ټینګولو کې پاتې راغلی. که څه هم دولت په سترو ښاري سیمو لکه بوګوتا او

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



بارانکویلا کې عامه خدمات وړاندې کولای شي، خو د هېواد لویه برخه له خدماتو بې برخې ده او دولت عاجز دی چې هلته قانون او نظم ټینګ کړي. دلته د دولت پر ځای وسله والې ډلې فعالې دي چې سیاست او ټولې سرچینې یې په لاس کې دي. د هېواد په ځینو برخو کې اقتصادي بنسټونه ډېر کارنده عمل کوي او هلته په لویه کچه انساني پانګه او کار پنځوونکي مهارتونه تر سترګو کېږي. خو بر عکس؛ په ځینو برخو کې شدیداً زبېښونکي بنسټونه حاکم دي او دولت حتی ذره هومره حاکمیت هم نه لري. په دې اړه وړاندوینه چې دغه وضعیت به څو نورې لسیزې او یا حتی پېړۍ دوام وکړي، ستونزمنه ده، خو په حقیقت کې دغه وضعیت د خبیثه کړۍ په اډانه کې خپل منطق لري. واکمنه ډله د متمرکز دولت د نشتون او د تاوتریخوالي دغه ډول وضعیت ته خوشاله ده، ځکه چې سیاستوال په هېواد کې له نا قانونۍ څخه ګټه پورته کوي او همدا لامل دی چې دولت د وسله والو ډلو پرضد اقدام نه کوي. دغه تعامل په ځانګړې توګه په ۲۰۰۰ لسیزه کې دود شو. د ۲۰۰۲ کال ولسمشریزې ټاکنې د 'الوارو یوریب' په ګټه پای ته ورسېدې. یوریب له کاستانو وروېو سره ګډ ټکی درلود: پلار یې د فارک ډلې له لوري وژل شوی و. نوموړې په خپلو ټاکنیزو منډو تړړو کې له فارک ډلې سره د تېرو حکومتونو د سولې هڅې تر پوښتنې لاندې راوستې. د ۲۰۰۲ کال په ټاکنو کې په نا امنه او د وسله والو تر ولکې لاندې سیمو کې د هغه رایې د دولت تر ولکې لاندې سیمو په پرتله درې سلنه ډېرې وې. د ۲۰۰٦ کال په ټاکنو کې دغه کچه ان ۱۱ سلنې ته ورسېده. سناتورانو او کانګریس والو چې د وسله والو له لوري حمایه کېدل، د ولسمشر

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



یوریب په خونښه پرېکړې کولې او په ځانګړې توګه اساسي قانون یې د هغه په ګټه تعدیل کړ، خو په ۲۰۰۶ کال بیا ځلي په واک کې پاتې شي. وروسته ولسمشر یوریب د یوه اسانه قانون له مخې وسله والو ته داسې امکانات مهیا کړل، چې له وسله والو فعالیتونو لاس واخلي. البته دا د جګړه ماری د پای ته رسولو په معنا نه و، بلکې یوازې د هېواد په لویو برخو کې د وسله والو د فعالیتونو قانوني کول او بنسټیزه کول و. هغوی تر دې وروسته کولای شول چې د هېواد په یو شمېر سیمو خپل کنټرول ته دوام ورکړي. د وخت په تېرېدو په کولمبیا کې سیاسي او اقتصادي بنسټونه په ډېر شمېر برخو کې پرانیست شوي دي، خو د دغو بنسټونو اصلي او ځانګړې برخې لا هم زبېښونکي پاتې دي. د هېواد په زیاتره برخو کې نا قانوني او د مالکیت حقونو نا امني په پراخه کچه دود دي چې دا د کولمبیا پر ټوله خاوره  د دولت د حاکمیت او مرکزیت نه شتون په ډاګه کوي. خو دا کومه حتمي او طبیعي پدیده نه ده، بلکې د خبیثه کړۍ د اعمالو پایله ده: په کولمبیا کې سیاسي بنسټونه په دې کې پاتې راغلي چې د عامه خدماتو د وړاندې کولو، د نظم او قانون د ټینګښت، د جنایتکارو او وسله والو بانډونو د له منځه وړو په برخو کې د مشرانو او سیاستوالو ترمنځ انګېزه را ژوندۍ کړي.

## اېل کورالیټو

El Corralito

د ۲۰۰۱ کال په وروستیو کې ارجنټاین له یوه سخت اقتصادي ناورین سره مخ و او درې کاله پر له پسې یې په عوایدو کې کسر و. د بېکارۍ کچه مخ په بره روانه وه او هېواد د بهرنیو پورونو تر دروند

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



بار لاندې و. دا وضعیت د هغې تګلارې له امله و، چې له ۱۹۸۹ کال وروسته د «کارلوس مینم» دولت د یوه ژور انفلاسیون د مخنیوي په موخه طرحه کړې وه. دا پالیسي تر یوه وخته بریالۍ وه. مینم په ۱۹۹۱ کال کې د ارجنټاینۍ کرنسۍ 'پیزو' ارزښت له امریکایي ډالر سره وتاړه. د قانون له مخې یو پیزو د یو ډالر معادل شو او د اسعارو د تبادلې په نرخ کې هېڅ راز ادلون بدلون نه و. دولت د دې پر ځای چې د پیسو د نوي ناکاره سیاست په اړه خلکو ته قناعت ورکړي، لا یې خلک هڅول چې په بانکونو کې ډالري حسابونه پرانېزي. ډالر د پلازمېنې بونیس ایرس په ټولو پلورنځیو کې د چلښت وړ وګرځېدل او خلکو کولای شول چې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشینونو څخه ډالر تر لاسه کړي. دغه پالیسي د اقتصادي ثبات لپاره مرستندویه ثابتېدای شي، خو لوی زیانونه هم لري. د ارجنټاین نوي پولي سیاست د صادراتي توکو بیې لوړې او د وارداتي توکو بیې یې راټیټې کړې. صادرات ټکني شول او د وارداتو کچه خورا لوړه شوه. د وارداتي توکو د پېرلو لپاره له پور اخیستو پرته بله لار نه وه. دا یو بې ثباته وضعیت و. خلک چې د پیزو د ارزښت په اړه اندېښمن او بې باوره وو، خپلې نغدې پیسې یې پر ډالرو بدلولې، ځکه د هغوی په باور که دولت نوی قانون بېرته لغوه او د پیزو ارزښت راټیټ شي، نو په ډالرو کې به زیان و نه کړي. ایا دا سمه ده؟ د پیزو د ارزښت ټیټېدو په اړه د هغوی وړاندوینه سمه وه، خو د ډالري حسابونو په اړه یې خوشبیني بې ځایه وه. حکومت د ۲۰۰۱ کال د ډسمبر په لومړۍ د ۹۰ ورځو په ترځ کې ټول بانکي حسابونه وتړل او په اونۍ کې یې یوازې د لږ مقدار پیسو د ایستلو اجازه ورکړه. په لومړي سر کې دا

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



مقدار ۲۵۰ پیزو و، چې ۲۵۰ ډالر کېدل، خو وروسته ۳۰۰ پیزو شو. خو دا اجازه یوازې د پیزو کرنسۍ حساب لرونکو درلوده. ډالري حساب لرونکو ته یوازې هغه وخت د پیسو ایستلو اجازه ورکول کېده چې ډالر به یې پر پیزو تبادله کول. خو خلکو ډېر لږ زړه ښه کاوه چې ډالر پر پیزو بدل کړي. ارجنټاینانو دا کار El Corralito «د څارویو پنجره» بلله، ځکه چې بانکي حساب لرونکي لکه څاروي په غوجله کې ګیر پاتې وو او د وتلو لار یې نه درلوده. حکومت بالاخره د همدې کال په جنورۍ میاشت کې د پیزو ارزښت راټیټ کړ او یو ډالر د څلورو پیزو په مقابل کې تبادله کېده. دا چې خلکو خپلې پیسې پر ډالرو بدلولې، ښايي دا به د راتلونکي وضعیت په اړه د خلکو هوښیاري او وړاندوینه وه، خو په حقیقت کې وروسته کیسه بل ډول شوه. حکومت وروسته پرېکړه وکړه چې ټول ډالري بانکي حسابونه باید په جبري ډول پر پیزو بدل شي. خو په هماغه پخواني نرخ، یعنې یو ډالر د یو پیزو په بدل کې. هغو کسانو چې په خپل اکونټ کې ۱۰۰۰ ډالر لرل، یوازې ۲۵۰ ډالر ورته پاتې شول. دولت د خلکو درې پر څلور برخه سپما شوې پانګه له ستونې تېره کړه. ارجنټاین د اقتصاد پوهانو لپاره د عجایبو هېواد دی. د ارجنټاین د ستونزو په اړه د پوهېدو لپاره د نوبل د نړیوالې جایزې ګټونکي اقتصاد پوه «سیمون کوزنېټس» مشهوره وینا ده چې وايي؛ په نړۍ کې څلور ډوله هېوادونه دي: پرمختللي، مخ پر ودې، جاپان او ارجنټاین. د کوزنېټس دا وینا له دې ځایه سرچینه اخلي چې ارجنټاین د لومړۍ نړیوالې جګړې پرمهال د نړۍ د شتمنو هېوادونو په ډله کې و، خو وروسته د لوېدیځې اروپا او شمالي امریکا د هېوادونو برعکس، دغه هېواد مخ پر ځوړ روان شو او په ۱۹۷۰ او

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



۱۹۸۰ لسیزو کې له مطلق رکود سره مخ شو. د ارجنټاین اقتصادي ستونزه ظاهراً یوه معما ښکاري، خو کله چې مسئلې ته د پرانیستو او زبېښونکو بنسټونو له زاویې ګورو، نو د دې ځوړتیا او رکود عوامل په ښه توګه په ډاګه کېدای شي. سمه ده چې ارجنټاین تر ۱۹۱۴ کال مخکې شاوخوا پنځوس کاله دوامداره اقتصادي وده تجربه کړه، خو دا تر زبېښونکو بنسټونو لاندې د کلاسیکې ودې یو مثال دی. ارجنټاین تر دې وروسته د لوړ پاړکي د یوې کوچنۍ ډلې له لوري اداره کېده چې پر کرنیز اقتصاد یې لویه پانګونه کړې وه. د غوښې، څرمنو او حبوباتو د صادراتو له لارې چې هغه مهال د مارکېټ تر ټولو با ارزښته توکي وو، د ارجنټاین اقتصاد ښه وغوړېد. دغه وده هم تر زبېښونکو بنسټونو لاندې د نورو اقتصادي ودو په څېر، له خلاق تخریب او نوښتونو څخه خالي او بې ثباته وه. د لومړۍ نړیوالې جګړې په جریان کې د سیاسي بې ثباتۍ او وسله والو پاڅونونو له امله د ارجنټاین واکمنې طبقې د سیاسي نظام په پراخولو لاس پورې کړ. خو دې چارې یو شمېر کړیو او قوتونو ته د سر پورته کولو فرصت په لاس ورکړ او په ۱۹۳۰ کال کې لومړنۍ پوځي کودتا وشوه. له دې وروسته ارجنټاین تر ۱۹۸۳ کاله پورې د دیکتاتورۍ، ولسواکۍ او زبېښونکو بنسټونو ترمنځ کشمکش کې د پرمختګ له کاروانه وروسته پاتې شو. پوځي حکومت د خلکو پر وژنې او ربړونې لاس پورې کړ چې په ۱۹۷۰ یمه لسیزه کې د ۹۰،۰۰۰ کسانو په غیر قانوني اعدام سره دا لړۍ خپل اوج ته ورسېده. پر دې سربېره، سلګونه زره کسان بندیان شکنجه شول. د ملکي حکومتونو په وخت کې څو دورې ټاکنې ترسره شوې چې په ښکاره د ولسواکۍ

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



یوه نښه ګڼل کېږي، خو د ارجنټاین سیاسي نظام لا هم له پرانیست والي ډېر واټن درلود. په ۱۹۴۰ مه لسیزه کې پېرون واک ته ورسېد او د عدالت په نامه د هغه د سیاسي ګوند تر مشرۍ لاندې چې «پېرونیست» یې باله، ډیموکراټیک ارجنټیان تشکیل شو. پېرونیستانو به ټاکنې د فساد، درغلیو او د رایو پېرلو له لارې ګټلې. دا بهیر د ولسواکۍ په معنا و، خو پلورالېزم نه ګڼل کېده. واک د پېرونېست ګوند په انحصار کې و؛ هغه ګوند چې په خپلو چارو کې له ډېر لږ محدودیت سره مخ و. لکه څرنګه چې مخکې مو ولیدل، که ستره محکمه د ولسمشر او اجرایه قوې پرېکړه وننګوي، نو بله ورځ به ونه وینې!

په ۱۹۴۰ مه لسیزه کې پېرون د کارګرانو غورځنګ د سیاسي تکیې په توګه پاللی و. کله چې په ۱۹۷۹ او ۱۹۸۰ یمو لسیزو کې دغه غورځنګ د پوځ له لوري وځپل او کمزورى شو، د پېرون ګوند د هغه پر ځای ډېر ژر د رایو پېرلو ته مخه کړه. اقتصادي تګلارې او بنسټونه د لوبې لپاره د یو هوار میدان لپاره نه، بلکې د پېرون د سیاسي ملاتړو لپاره د عوایدو چمتو کولو په موخه ډیزاین شوي وو. کله چې په ۱۹۹۰ یمه لسیزه کې ولسمشر مینم د بیا انتخابېدو لپاره له قانوني محدودیتونو سره مخ شو، خبره بیا هماغسې وه: هغه په ډېرې اسانۍ اساسي قانون تعدیل او د ځان پر وړاندې یې خنډونه له مخه لرې کړل. لکه څرنګه چې اېل کورالیټو څرګندوي چې حتی که ارجنټاین ټاکنې او منتخب دولت لري، خو دا دولت پوره اختیار لري چې د مالکیت حقونه پایمال کړي او د خلکو جایدادونه ځان ته بخشش کړي. د ارجنټاین د ولسمشر او واکمنې ډلې واکونه ډېر لږ محدود شوي او یقیناً چې هیڅ راز سیاسي کثرت پالنه وجود نه لري.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



هغه څه چې کوزنېټس او نور خلک يې د بونیس ایرس په لیدو حیران کړي، دا دي چې دغه ښار د ګواتیمالا سیټي یا حتی مکسیکو سیټي په پرتله ډېر متفاوت ښکاري. په دې ښار کې د سیمې اصلي اوسېدونکي چې د پخوانیو کروندګرو مریانو اولاده ده، نه تر سترګو کېږي. هغه تاریخي معماري او ودانۍ چې دلته لیدل کېږي، زیاتره يې Belle Epoch په دوران کې یعنې تر زېښبونکو بنسټونو لاندې د اقتصادي ودې پر مهال جوړ شوې دي. هغه څه چې په بونیس ایرس کې ګورئ، د ارجنټاین یوازینۍ برخه ده. مثلاً؛ مینم د بونیس ایرس اوسېدونکی نه و. هغه د «لا ریوجا» ولایت په «انیلاکو» کې چې د بونیس د شمال لوېدیځ لرې پرته غرنۍ سیمه ده، زېږېدلی و. هغه په انیلاکو کې درې دورې ولایت وکړ. د هسپانویانو له لوري د امریکا لوېې وچې د نیولو پر مهال ارجنټاین د اینکا امپراتورۍ ډېرې لرې پرته سیمه وه او ګڼ بومي وګړي په کې اوسېدل. (لومړۍ نقشه وګورئ) هسپانویانو دلته اینکومینډا سیستم سمبال کړ او سخت زېښبونکی اقتصاد يې رامنځته کړ چې په شمال کې به يې پوتسي کان کیندونکو ته خواړه برابرول او کچرې به يې روزلې. لا رایجا په حقیقت کې د بونیس ایرس په پرتله ډېر په پیرو او بولیویا کې له پوتسي سیمې سره ورته والی درلود. په نولسمه پېړۍ کې په لا رایجا کې د «فوکندو کویراګا» په نامه یو مشهور جنګیالي سر را پورته کړ. هغه چې پر یوې غیر علاقې او له قانوني خالي سیمه کې حکومت کاوه، خپل پوځونه د بونیس ایرس په لور مارش کړل. د ارجنټاین د سیاسي بنسټونو د جوړېدو داستان د هغه تړونونو داستان دی چې د داخلي ولایتونو لکه لا رایجا او بونیس ترمنځ وشو. دا تړونونه د

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



اوربند په اړه وو: د لا رايجا جګړه مارو مشرانو ومنله چې له بونيس ايرس سره به کار نه لري او هغه به پرېږدي چې شتمنۍ ټولې کړي، په بدل کې يې د بونيس ايرس واکمنانو په داخلي سيمو کې له بنسټيزو اصلاحاتو لاس واخيست. په دې اساس، ارجنټاين په لومړي ځل ليدو سره له پيرو او بوليويا څخه يوه جلا نړۍ ګڼل کېږي، خو کله چې له زړه راښکونکو او ښکلو بوليوارډونو پناه کېږئ او وړاندې ځئ، نو ترمنځ به يې چندان توپير ونه مومئ. دا چې ارجنټاين ولې د لاتيني امريکا د نورو استثمار ځپلو هېوادونو په څېر د بنسټونو په مشابه مسير روان شو، دليل يې د ارجنټاين د داخلي سيمو په اړه د حاکمانو په سياست او نورو ترجيحاتو کې نغښتی دی. په لاتينه امريکا کې دا يوه معمول چاره ګرځېدلې چې ټاکنې په هېواد کې د پرانيستو سياسي او اقتصادي بنسټونو د رامنځته کېدو لامل نه کېږي. په کولمبيا کې جګړه مار کولای شي چې د محلي ټاکنو يو پر درييمه برخه رايې په خپل نوم کړي. په وينزويلا کې نن ورځ د ارجنټاين په څېر د هوګو چاوېز حکومت چې په ډيموکراتيک ډول انتخاب شوی، خپل سيالان ځپي، له دولتي څوکيو يې ګوښه کوي، که د ورځپاڼو تګلاره يې خوښه نه شي، بندوي يې او د خلکو شتمنۍ مصادره کوي.

که څه هم په لاتينه امريکا کې را څرګندېدونکې ډيموکراسي اصولاً د يوې محدودې ډلې له واک سره په ټکر کې ده او حکومتونه له تيوري او عملي اړخه هڅه کوي چې لږ تر لږه د واک او فرصتونو وېش ته زمينه برابره کړي، خو ريښې يې په دوه لحاظه پر زبېښونکو بنسټونو استوارې دي: لومړی دا چې تر زبېښونکو بنسټونو لاندې له پېړيو راهيسې بې عدالتۍ په نوې زېږېدلې ډيموکراسۍ کې رايه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



ورکوونکي د هغو سیاستوالو پلوی او ملاتړ ته هڅوي چې افراطي تګلارې لري. داسې نه ده چې ارجنټاینان فکر کوي چې جوان پېرون او نور وروستي مشران لکه مینم او کریچنرز بدل شوي دي او د خپلو شخصي ګټو پر ځای اوس د ملت ګټو ته لومړیتوب ورکوي او یا هم وینزویلیان چاوېز ته د نجات پربښتې په سترګه ګوري؛ نه، د ارجنټاین وګړي پوهېږي چې له اوږدې مودې راهیسې سیاستوالو او ګوندونو حتی هغوی ته د نظر څرګندولو حق نه ورکاوه او له هر ډول اساسي خدماتو څخه بې برخې وو. نن ورځ د وینزویلا زیاتره وګړي د چاوېز د تګلارې ولو که فاسده او منحرفه هم وي، ملاتړ کوي. لکه څرنګه چې په ۱۹۴۰ مه او ۱۹۷۰ یمه لسیزه کې ارجنټاینیانو د پېرون ملاتړ کاوه. دویم دا چې، بیا هم زېښنونکي بنسټونه دي چې سیاست د ځواکمنو اشخاصو لکه چاوېز او پېرون لپاره جذابه کوي او چاپېریال د هغوی په ګټه تنظیموي. پېرون، چاوېز او د لاتینې امریکا ګڼ نور ځواکمن سیاستوال د اولیګارشۍ د اوسپنیز قانون یو بل مثال دی او لکه څرنګه چې له نومه یې جوته ده، د اولیګارشۍ د اوسپنیز قانون ریښه د واکمنې ډلې تر ولکې لاندې رژیمونو کې ده.

**نوی استبداد**

د ۲۰۰۹ کال په نومبر کې د شمالي کوریا حکومت د پیسو اصلاحات پیل کړل، چې اقتصاد پوهان یې د «کرنسۍ اصلاحات» بولي او دغه اصلاحات تر انفلاسیون وروسته رامنځته شول. د ۱۹۶۰ کال په جنورۍ کې په فرانسه کې د کرنسۍ اصلاحاتو په پایله کې نوي فرانک چاپ شول چې یو نوی فرانک د پخواني ۱۰۰ فرانکه معادل و. زاړه فرانک په یو وار ناچله نه شول، بلکې لا هم په چلښت کې

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



وو او د زړو بانکنوټونو پر ځای د نویو بانکنوټونو کارولو پروسې ډېر وخت ونیو. خو کله چې فرانسې د ۲۰۰۲ کال په جنورۍ کې یورو د اروپايي ټولنې د ګډ پولي واحد په توګه ومنله، زاړه فرانک ناچله شول. په شمالي کوريا کې د کرنسۍ اصلاحات هم ظاهراً همداسې وو. په ۱۹٦۰ کال کې د فرانسې په څېر، شمالي کوريا هم پرېکړه وکړه چې د خپلې کرنسۍ دوه صفرونه حذف کړي. ۱۰۰ زاړه وون، د نوي ۱ وون معادل شول. حکومت خلکو ته اعلان وکړ چې خپل زاړه بانکنوټونه پر نويو بدل کړي، خو د فرانسې په پرتله چې پر نوې د زړې کرنسۍ بدلولو ۴۲ کاله وخت ونيوه، په شمالي کوريا کې خلکو ته يوازې يوه اونۍ وخت ورکړل شو. وروسته د تمې خلاف يو ډېر بد خبر خپور شو: حکومت پرېکړه وکړه چې هېڅوک له ۱۰۰،۰۰۰ وون څخه د ډېرو پيسو د بدلولو حق نه لري، که څه هم وروسته دا کچه ۵۰۰،۰۰۰ وټاکل شوه. د تور بازار په نرخ ۱۰۰ زره وونه شاوخوا ۴۰ ډالره کېدل. دولت د يوه قاطع او بېړني اقدام په ترڅ کې د شمالي کوريا د وګړو لويه برخه شتمني او پانګه نابوده کړه. موږ ته د دې پانګې د کره شمېر په اړه معلومات نه شته، خو ښايي تر هغه زياته وي چې په ۲۰۰۲ کال کې د ارجنټاين حکومت د خلکو پانګه له ستوني تېره کړه. د شمالي کوريا دولت يوه کمونېستي ديکتاتوري او د خصوصي مالکيت او بازار نظام سرسخت مخالف دی. خو پر تور بازار کنټرول ستونزمن دی او په دغه بازار کې د اسعارو تبادله په نغدي ډول ترسره کېږي. که څه هم په تور بازار کې په لويه پيمانه بهرني اسعار چې چينايي ين هم په کې شامل دي، ښکته پورته کېږي؛ خو په زياتره معاملاتو کې کوريايي وون کارول کېږي. د کرنسۍ د اصلاح موخه دا وه چې په تور بازار کې ښکېل کسان

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



مجازات شي او دا تګلاره د دې لپاره هم ډیزاین شوې وه، څو کومه ډله شتمنه او د نظام پر وړاندې پر تهدید بدله نه شي. د نظام تګلارې دا ایجابوله چې هغوی باید بېوزله پاتې شي. تور بازارونه یوازینی داستان نه دی. د شمالي کوریا وګړي خپله سپما او نغدي پیسې په وون ساتي، ځکه چې په دې هېواد کې یوازې یو څو بانکونه فعال دي او هغه هم دولتي دي. په پایله کې دولت د کرنسۍ د اصلاحاتو پر مټ د خلکو ستره برخه پانګه غصب کړه. که څه هم دولت په مارکېټ پسې بد وایي، خو د شمالي کوریا واکمنه ډله هغې ګټې ته خوشاله ده چې همدا مارکېټ یې ورته تولیدوي. د شمالي کوریا کمونېست مشر «دویم کیم جونګ» په یوه اووه پوړیزه ماڼۍ کې اوسېږي، چې یوه میخانه، د کروکي موسیقۍ ماشین او د تیاتر یو کوچنی هال لري. د ماڼۍ په تلخونه کې د لامبا یو ستر حوض دی چې د څپو یو ماشین په کې لګېدلی او کیم د لامبو پر مهال له هغه خوند اخلي. کله چې په ۲۰۰٦ کال کې د امریکا متحده ایالتونو پر شمالي کوریا بندیزونه لګول، امریکایي چارواکي پوهېدل چې د شمالي کوریا کمزوری ټکی چېرته دی. د دې بندیزونو له مخې شمالي کوریا ته د ٦۰ قلمه لوکسو او تجملي توکو پر صادراتو بندیز ولګېد، چې په دې ډله کې تفریحي کښتۍ، په اوبه کې ځغلېدونکي موټرسایکلونه، د مسابقو موټرونه، موټر سایکلونه، ډي وي ډي پلایرونه او تر ۲۹ انچه پورته ټلویزیونونه شامل وو. وربښمین ګلو بندونه، ګران بیه قلمونه او چرمي بېګونه لا په دې بندیزونو کې شامل نه و. دا دقیقاً هماغه توکي وو چې د کیم او د هغه د کمونېست ګوند د مشرانو له لوري راټولېدل. یوه څېړونکي د فرانسې د شراب جوړونې د مشهورې

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



کمپنۍ «هېنسي» د شمېرو له مخې د کیم د شرابو د کلني لګښت محاسبه کړې ده چې په کال کې له ۸۰۰،۰۰۰ ډالرو اړوي. د شلمې پېړۍ په وروستیو کې د نړۍ د ګڼو بېوزلو هېوادونو په اړه د مطالعې لپاره اړتیا ده چې لومړی په همدې پېړۍ کې د نوي استبداد په اړه چې 'کمونېزم' نومېږي، پوه شو. د مارکس لیدلوری د یوه داسې نظام جوړول و، چې تر انساني ارزښتونو او شرایطو لاندې بشر ته عادلانه او برابره اقتصادي هوساینه ډالۍ کړي. لینین او د هغه کمونېست ګوند د مارکس له نظریاتو اغېزمن و، خو په عمل کې یې کارونه له تیورۍ سره په ټکر کې وو. د ۱۹۱۷ کال بلشویکي انقلاب یوه خونړۍ پېښه وه او هېڅ انساني لیدلوری یې نه درلود. په دې حرکت کې برابري هم نه وه، ځکه لومړنی کار چې لینین او ملګرو یې وکړ، د نوې واکمنې طبقې (په خپله دوی) رامنځته کول و، چې د بلشویک ګوند په راس کې وه. هغوی نه یوازې غیر کمونېست عناصر، بلکې په خپله هغه کمونېستان یې هم له تېغه تېر او له صحنې ګوښه کړل چې واک ته یې خطر و. خو اصلي تراژیدي لا په لاره کې وه: لومړۍ کورنۍ جګړه ونښته او وروسته د کولکټیویزېشن (اشتراکیت) او پر له پسې تصفیې په نتیجه کې تر څلوېښتو میلیونو ډېر انسانان ووژل شول. روسی کمونېزم ځېونکی، بې رحمه او خونړی و، خو یوازې په روسیه کې نه و. کومې اقتصادي او بشري ناخوالې چې کمونېزم وزېږولې، پایلې یې په ټولو هېوادونو کې یو شان وې. مثلاً؛ په ۱۹۷۰ یمه لسیزه کې په کمبودیا کې د سرو خمریانو تر مشرۍ لاندې کمونېزم، همداسې په چین او شمالي کوریا کې. په ټولو مواردو کې کمونېزم په نړۍ کې بې رحمه دیکتاتورۍ او د بشري حقونو پراخ نقض له ځان سره درلود. پر بشري ځور او ټولوژنې سربېره،

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



کمونېستي رژیمونو بېلابېل زېښښونکي بنسټونه هم سمبال او دود کړل. د خلکو د سرچینو د زېښناک په موخه له مارکېټ او مارکېټ پرته اقتصادي بنسټونه ډیزاین شول او د زور له لارې د شخصي مالکیت په مصادره کولو سره یې د هوساینې پر ځای پراخه لوږه او بېوزلي وزېږوله. لکه څرنګه چې په پنځم څپرکي کې مو د شوروي په اړه په بحث کې ولوستل، کمونېستي نظام په لومړیو کې چټکه اقتصادي وده لرله، خو وروسته ټکنی او په پایله کې له بشپړ رکود سره مخ شوه. دا نظامونه په چین کې د ماوو تر مشرۍ لاندې، په کامبوج کې د سرو خمریانو او په شمالي کوریا کې خورا وړیجاړوونکي وو؛ داسې چې کمونېستي اقتصادي بنسټونو اقتصادي ځوړتیا او لوږه رامنځته کړه. کمونېستي اقتصادي بنسټونه بیا په خپل وار د زېښښونکو سیاسي بنسټونو له لوري حمایه کېدل، چې واک یې د کمونېست ګوند په منګولو کې متمرکز کړی و او د واکمنې طبقې په وړاندې یې هېڅ راز محدودیت نه و وضع کړی. که څه هم دا بنسټونه د شکل او بڼې له مخې په زیمبابوې او سیریلیون کې له زېښښونکو بنسټونو سره متفاوت و، خو د خلکو پر اقتصادي ژوند یې مشابه اغېزې ښندلې.

## د مالوچو پاچا

پنبه د ازبکستان د ټولو صادراتو ۴۵ سلنه جوړوي او په ۱۹۹۱ کال کې له شوروي اتحاد څخه د خپلواکۍ له ترلاسه کولو وروسته پنبه د ازبکستان مهم کرنیز محصول ګڼل کېږي. د شوروي کمونېزم پر مهال د ازبکستان ټوله د کښت وړ ځمکه د ۲۰۴۸ فارمونو په چوکاټ کې د دولت په کنټرول کې وه. خو دا فارمونه له ۱۹۹۱ کال یعنې د

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



شوروي اتحاد تر ړنګېدو وروسته له منځه لاړل او ځمکې ووېشل شوې، خو دا په دې معنا نه وه چې کروندګرو ته د ازاد فعالیت حق ورکړل شو. د اسماعیل کریموف په مشرۍ د خپلواک ازبکستان د لومړني دولت لپاره مالوچ ډېر ارزښتناک تولید و. نوي مقررات وضع شول چې له مخې کوم کروندګر پنبه کرلی شي او په کومه بیه یې باید خرڅه کړي. پنبه ارزښتناک صادرات وو او کروندګرو به د نړیوال مارکېټ د بیو په تناسب له خپل محصول څخه ډېر لږ عواید ترلاسه کول او پاتې لویه برخه عواید د دولت خزانې ته تلل. په دې قېمت هېڅوا د پنبې کښت ته زړه نه ښه کاوه، نو ځکه دولت خلک په زور د پنبې کښت ته اړ ایستل. هر کروندګر باید د خپلې ځمکې ۳۵ سلنه د پنبې کښت ته ځانګړې کړې وای. دې کار ګڼې ستونزې، په ځانګړې توګه د ماشینرۍ په برخه کې وزېږولې. د خپلواکۍ په دې دوره کې ۴۰ سلنه حاصلات د لاس په واسطه راټولېدل. دا د حیرانۍ خبره نه ده. له دې کبله چې د کریموف رژیم په کروندګرو کې د کار انګېزه وژلې وه، هغوی هم د ماشینرۍ پېرلو ته زړه نه ښه کاوه. د حاصل راټولولو ستونزې د حل لپاره د کریموف لپاره اسانه او ارزانه لار د ښوونځي زده کوونکي وو. د پنبې غوزه د سپتمبر میاشتې په لومړیو کې ټولولو ته اماده کېږي، یعنی ټیک هماغه وخت چې ماشومان ښوونځیو ته ستنېږي. کریموف د یوه فرمان له لارې ځایي چارواکو او والیانو ته امر وکړ چې د ښوونځیو لپاره د پنبې راټولونې سهم وټاکي. د ۲۰۰۶ کال د شمېرو له مخې د سپتمبر په میاشت کې به ښوونځي له ۲،۷ میلیونه زده کوونکو خالي کېدل او ښوونکي به د تدریس پر ځای د پنبې کروندو ته د کاري ځواک پر جذبولو بوخت وو. د دوو تنو ازبک زده کوونکو مور 'ګلناز' په دې اړه وایي:«د هر

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



ښوونیز کال په پیل، د سپټمبر په لومړیو کې ښوونځي رخصت وي او هلکان د پنبې ټولولو ته لېږل کېږي. د والدینو خوښه او رضایت نه پوښتل کېږي. هغوی د لو په وخت کې اونیزه رخصتي نه لري. که کوم ماشوم د عذر له امله په کور کې پاتې شي، ښوونکی یا د ښوونځي کوم بل مسوول یې مور او پلار تهدیدوي. هر ماشوم د هغه عمر ته په کتو، په ورځ کې باید له ۲۰ تر ٦۰ کیلو ګرامو پنبه راټوله کړي. که یو ماشوم خپله برخه پنبه ټوله نه شي کړای، سبا سهار د کلاس په مخ کې رټل کېږي.»

د پنبې راټولول دوه میاشتې وخت نیسي. هغه ماشومان بختور دي چې کروندو ته نږدې اوسېږي او کولای شي چې په بس موټرونو کې کار ته لاړ او راشي. خو هغوی چې په لرې پرتو سیمو کې اوسېږي، مجبور دي چې ماشینونو او څارویو ته نږدې شپې په کروندو او درمندونو کې سبا کړي. هلته کمود یا پخلنځی نه شته او درې وخته ډوډۍ هم باید ماشومان خپله ځان ته تیاره کړي. د دې جبري کار اصلي ګټه اخیستونکي د پنبې پاچا اسماعیل کریموف په مشرۍ د ازبکستان واکمنه ډله ده. ماشومان فکر کوي چې دوی ته د کار په بدل کې مزد ورکول کېږي، خو کوم مزد؟ په ۲۰۰٦ کال کې په نړیوال بازار کې یو کیلو مالوچ ۱،۴۰ امریکایي ډالره پلورل کېدل، په داسې حال کې چې کارګرو ماشومانو ته د هرو ۲٦ کیلو مالوچو په بدل کې ۰،۰۳ سنټه مزد ورکول کېده. ممکن اوس هم په ازبکستان کې د ۷۵ سلنې پنبې حاصلات د ماشومانو په واسطه راټولېږي. په پسرلي کې هم د پای بیل او نهال په وخت کې ښوونځي رخصت وي. ولې داسې وشول؟ په لومړیو کې انګېرل کېده چې ازبکستان او د شوروي

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



اتحاد نور سوسیالېست جمهوریتونه به د خپلواکۍ له تر لاسه کولو وروسته ولسواکۍ او د بازار نظام ته پراختیا ورکوي، خو د شوروي د نورو ازادو شویو جمهوریتونو په څېر په دغه هېواد کې هم د بدلون څرک ونه لګېد. ولسمشر کریموف چې خپل سیاسي فعالیت یې د پخواني شوروي اتحاد له کمونېست ګوند څخه پیل کړ، په ۱۹۸۹ کال کې په یوه تاریخي موکه کې چې د برلین دېوال هم په همدې وخت کې ونړېد، ځان د ازبکستان د کمونېست ګوند د لومړي منشي تر څوکۍ ورساوه او د یوه ملتپال شخص په توګه را څرګند شو. هغه د پوځ د غوڅ ملاتړ پر مټ د ۱۹۹۱ کال د ډسمبر په ټاکنو کې چې په ازبکستان کې لومړنۍ ولسمشریزې ټاکنې وې، ګټونکی شو. واک ته تر رسېدو وروسته کریموف خپل سیاسي مخالفین تر فشار او تهدید لاندې راوستل. همدا اوس د هغه مخالفین یا بندیان دي او یا هم تبعید شوي دي. په ازبکستان کې هېڅ ازادې رسنۍ نه شته او نا دولتي سازمانونو ته د فعالیت اجازه نه ورکول کېږي. په ۲۰۰۵ کال کې په اندیجان کې څه باندې ۷۵۰ تنه لاریون کوونکي د پوځ او پولیسو له لوري ووژل شول چې په دې سره د خلکو ځینه او ربړونه اوج ته ورسېدل.

کریموف په لومړیو کې پر امنیتي ځواکونو او رسنیو د بشپړ کنټرول لپاره د یوې ټولپوښتنې په ترڅ کې د ولسمشرۍ دوره پنځو کلونو ته وغځوله او وروسته په ۲۰۰۰ کال کې د یوې نوې اووه کلنې دورې لپاره نمایشي ټاکنې تر سره شوې چې کریموف د ۹۱،۲ سلنه رایو په ترلاسه کولو سره مخکښ ګټونکی شو. حتی د هغه یوازیني سیال وویل چې کریموف ته یې رایه ورکړې وه! د ۲۰۰۷ کال په ټاکنو کې چې له درغلیو ډکې وې، کریموف بیا ۸۸ سلنه رایې ترلاسه او

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



ګټونکی شو. په ازبکستان کې ټاکنې د جوزېف ستالین ټاکنو ته ورته دي چې د شوروي د سوکالۍ په دوره کې به یې ټاکنې په خپله ګټه ډیزاینولې. د نیویارک ټایمز خبریال 'هارولډ ډیني' د کمونېست ګوند د ورځپاڼې «پراوډا» هغه راپور وژباړه او رانقل کړ چې په شوروي کې د ۱۹۳۷ کال ټاکنیزو سیالیو په اړه جوړ شوی و: (نیمه شپه شوه. نن د ډسمبر دولسمه، په شوروي کې د لومړنیو عمومي، برابرو او مستقیمو ټاکنو ورځ پای ته ورسېده. په راتلونکو څو شېبو کې به د ټاکنو پایلې اعلان شي. د کمېسیون غړي په خونه کې یوازې دي. خاموشي خپره ده او څراغونه ځلېږي. په داسې حال کې چې د ټولو سترګې د کمېسیون د مشر په لور دي، هغه د رای پاڼو تر شمېرنې مخکې ټول لازم تشریفات اجرا کوي. د لېست له مخې دا معلوموي چې څومره کسانو ګډون کړی و او څومره کسانو رایه ورکړې. نتیجه ۱۰۰ فیصده ده، ۱۰۰ فیصده! کومو ټاکنو، په کوم هېواد کې د کوم کاندید لپاره ۱۰۰ سلنه نتایج ورکړي؟ اصلي کیسه اوس پیلېږي. د کمېسیون مشر په لړزانه لاسونو د صندوقونو سیل یا لاک خلاصوي او وروسته د کمېسیون غړي هغه بررسي کوي. هغه لاکونه چې ستونزه او عیب نه لري، ماتېږي. صندوقونه خلاصېږي. خاموشي خپره ده. د ټاکنو څارونکي او مدیران په خورا جدیت او ځیرکۍ د بهیر ننداره کوي. اوس نو د کڅوړو د خلاصولو وخت دی. د کمېسیون درې تنو غړو بیاتې را واخیستې. رییس له ځایه راپورته کېږي. ویاندویان قلم او کتابچه په لاس نېغ ولاړ دي. لومړی پاکټ یا کڅوړه پرانېستل کېږي او د ټولو سترګې د هغې په لور دي. د کمېسیون مشر دوه پاڼې راباسي – سپینه (د شوروي اتحاد د کاندید

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



لپاره) او ابي (د شوروي اتحاد د ملیتونو د کاندید لپاره) او په لوړ او واضح غږ وایي: ملگری ستالین. له دې سره خپره چوپتیا ماتېږي. په خونه کې حاضر کسان ټول له خوښۍ ټوپونه وهي او د ستالنیستي اساسي قانون پر بنسټ د لومړنیو ټاکنو پایلو ته چکچکې وهي- یوه رای پاته د اساسي قانون د مالک په نوم.»

دا سناریو د کریموف د بیا ټاکل کېدو له کیسې سره ورته والی لري. د کریموف تر مشرۍ لاندې ازبکستان سخت زېښنونکي سیاسي او اقتصادي بنسټونه او ډېره بېوزله ټولنه لري. د دې هېواد یو پر درېیمه برخه وگړي د بېوزلۍ تر کرښې لاندې ژوند کوي او د سړي سر کلنی عاید ۱۰۰۰ ډالرو ته رسېږي. البته د دې هېواد د پراختیا ټول شاخصونه بد نه دي، د نړیوال بانک د شمېرو له مخې پر شرایطو برابر ښوونځیو ته د شاملېدونکو ماشومانو کچه ۱۰۰ سلنه ده. ډېره ښه ده، البته د پنبې حاصل د راټولولو له سیزن پرته! دلته د سواد کچه هم ډېره لوړه ده. پر رسنیو د بندیز ترخنگ، د ازبکستان رژیم پر کتابونو هم بندیز لگولی او انټرنېټ تر سانسور لاندې دی. په داسې حال کې چې لویه برخه ازبکان د ورځې یوازې څو سنټه مزد تر لاسه کوي، د کریموف کورنۍ او نور کمونېستي کادرونه چې له ۱۹۸۹ کال راهیسې یې د ازبکستان سیاست او اقتصاد قبضه کړی، په افسانوي ډول شتمن شوي دي. د دې کورنۍ اقتصادي چارې د کریموف د لور 'گلنارا' له لوري اداره کېږي او تمه ده چې یوه ورځ به د ولسمشرۍ په توگه د پلار ځایناستې شي. په داسې یو ککړ او مرموز هېواد کې هېڅوک نه پوهېږي چې کریموف کورنۍ دقیقاً کوم شیان په کنټرول کې لري او یا څومره پانگه لري، خو  د امریکایي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



کمپنۍ انټرسپن[1] تجربه ښيي چې په تېرو دوو لسیزو کې د ازبکستان په اقتصاد کې څه روان دي. پنبه د دې هېواد یوازینی کرنیز محصول نه دی، بلکې د چای د کښت لپاره هم غوره سیمې او ځمکې لري. انټرسپن کمپنۍ په ازبکستان کې د چای د کرلو په برخه کې پانګونه وکړه. په ۲۰۰۵ کال کې یاد شرکت ۳۰ سلنه محلي بازار په واک کې درلود، خو وروسته له ستونزو سره مخ شو. ګلنارې په اقتصادي لحاظ د چای صنعت راتلونکې ښه لیده. ډېر ژر د انټرسپن کمپنۍ د محلي کارکوونکو نیونه، ځورونه او ربړونه پیل شوه. په ازبکستان کې د انټرسپن شرکت ګوزاره سخته شوه او د ۲۰۰٦ کال په اګست کې یې ازبکستان پرېښود او شتمنۍ یې د کریموف کورنۍ ته په لاس ورغلې. یاد شرکت چې دوه کاله وړاندې یې په ازبکستان کې د چای دوه سلنه بازار په واک کې درلود، وروسته دا کچه ٦٧ سلنې ته ورسېده.

## د مصر غمیزه

۱۹۹۰ یمه لسیزه په مصر کې د اصلاحاتو دوره وه. د ۱۹۵۴ کال تر پوځي کودتا وروسته چې شاهي نظام ړنګ شو، مصر د یوې سوسیالېستي ټولنې په بڼه اداره کېده او دولت په اقتصادي برخو کې محوري رول لوباوه. دولت کابو ټول اقتصادي سکتورونه په خپله ولکه کې واخیستل. خو سوسیالېزم ورو-ورو خپل رنګ و بوی له لاسه ورکاوه، بازارونه پراخ شول او خصوصي سکتور وده وکړه. خو دا په ریښتیني ډول پرانیستي بازارونه نه وو، بلکې د دولت تر کنټرول

[1] Interspan

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



لاندې وو چې محدود شمېر کسانو ته په کې چې د ملي ډیموکراټیک ګوند[1] ملګري او متحدین وو، د کاروبار او پانګونې اجازه ورکړل شوې وه. ملي ډیموکراتیک ګوند په ۱۹۷۸ کال کې د ولسمشر انور سادات له لوري تاسیس شو. په مصر کې پانګوال او سوداګر ورځ تر بلې له واکمن ګوند سره نږدې کېدل او د حسن مبارک د واکمنۍ پر مهال دا بهیر نور هم چټک او پراخ شو. حسن مبارک چې په ۱۹۸۱ کال کې د انور سادات له ترور وروسته جمهوري ریاست ته ورسېد، د ملي ډیموکراټیک ګوند په مشرۍ تر ۲۰۱۲ کاله پورې پر مصر حکومت وکړ، چې د همدې کال په فبرورۍ کې د پراخو لاریونونو په نتیجه کې له واکه ګوښه کړل شو او پوځ یې هم ملاتړ ونه کړ. هغه کسان چې لوی کاروبار او تجارت یې درلود، په دولت کې په لوړو منصبونو وګومارل شول. د AMET کمپنۍ پخوانی مشر رشید محمد رشید د بهرنۍ سوداګرۍ او صنایعو د وزیر، د کرانا سیاحتي شرکت مسوول محمد زهیر وحید کرانا د ګرځندوی د وزیر او د مصر د مالوچو د سترې تولیدوونکې کمپنۍ «نیل کاټن تجارتي کمپنۍ» بنسټګر امین احمد محمد عثمان اباظه د کرنې د وزیر په توګه وټاکل شول. دغو تجاراتو او پانګوالو دولت دې ته قانع کړ چې د دولتي مقرراتو له لارې په بېلابېلو اقتصادي سکتورونو کې د نورو کسانو پر راتګ محدودیتونه وضع کړي. په دې سکتورونو کې اوسپنه او فلزات، رسنۍ، ماشیني صنایع، سیمنټ او الکولي مشروبات شامل وو. بازار ته د نورو کسانو د راتګ پر وړاندې د شدیدو محدودیتونو له امله یاد سکتورونه ډېر متمرکز شول. حکومت

[1] NDP

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



ته نږدې ستر پانګوال او تاجران لکه احمد عز (اوسپنه او سټیل) او د صویري کورنۍ (رسنۍ، مشروبات او مخابرات) نه یوازې د حکومت له پراخ ملاتړه برخمن وو، بلکې له هر ډول ضمانت او شرط پرته یې بانکي پورونه او دولتي قراردادونه ترلاسه کول. احمد عز په داسې حال کې چې د مصر د فلزي صنایعو د سترې تولیدوونکې کمپنۍ (عز سټیل) مشر و، په ورته وخت کې د ملي ډیموکراټیک مخکښ غړی هم و. هغه په دې ګوند کې د بودیجې او پلان جوړونې کمېټې مشر و او د ولسمشر حسن مبارک زوی جمال مبارک ته ډېر نږدې کس و. تمه وه چې په ۱۹۹۰ یمه لسیزه کې د نړیوالو مالي بنسټونو او اقتصاد پوهانو په هڅونه پیل شوي اقتصادي اصلاحات د بازارونو په ازادولو کې مرسته وکړي او په اقتصادي چارو کې به د دولت رول راکم کړي. د دې اصلاحاتو یوه مهمه برخه د دولتي ملکیتونو او صنایعو خصوصي کول و. په مکسیکو کې د خصوصي کولو پروسه د دې پر ځای چې په بازار رقابت تشویق کړي، دولتي انحصار یې پر خصوصي انحصار بدل کړ او بازار د هغو کسانو لاس ته پرېوت چې د کارلوس سلایم په څېر دولتي ملاتړ یې درلود؛ عین تجربه په مصر کې هم تکرار شوه. په مصر کې د کاروبار خاوندانو او شتمنو کسانو چې له نظام سره یې نږدې اړیکې لرلې، د خصوصي کولو پروسه تر خپل اغېز لاندې راوسته چې بالاخره دا پروسه د واکمنې کوچنۍ ډلې چې «نهنګان» یې بلل، تمامه شوه. کله چې د خصوصي سازۍ پروسه پیل شوه، د مصر ټول اقتصاد د ۳۲ نهنګانو لاس ته پرېوت، چې له دې ډلې یو تن د لکزور Luxor Group کمپنۍ مالک احمد زیات و. دولت په ۱۹۹۶ کال کې د «الاهرام» په

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

Downloaded By: Afghan Salar Library



نامه د مصر د بیر سترې تولیدوونکې انحصاري کمپنۍ «ABC» د خصوصي کولو پرېکړه وکړه. د داوطلبۍ لپاره د مصر د یوې مالي کمپنۍ کنسرشیوم را وړاندې ته شو چې په راس کې یې سعاد فرید و. په کنسرشیوم کې د ګرځندوی پخوانی وزیر فواد سلطان، محمد نصیر او یو بل مخکښ سوداګر محمد راغب شامل و. دغې ډلې له دولت سره ښې سیاسي اړیکې لرلې، خو دغه اړیکې په کافي اندازه ښې هم نه وې. کنسرشیوم د کمپنۍ د پېرلو لپاره ۴۰۰ میلیونه مصري پونډه پېشنهاد کړي وو، خو د داوطلبۍ په بهیر کې په دې پلمه ناکام کړل شو چې بیه یې ډېره ټیټه وه. زیات ښې سیاسي اړیکې لرلې، خو د اې بي سي کمپنۍ د پېرلو لپاره یې لازمه پانګه نه لرله، نو ځکه نوموړي د کارلوس سلایم پر پلونو قدم کېښود. د اې بي سي پانګه په لومړي ځل د لندن د ونډو بازار ته وړاندې شوه او لاکزر ګروپ د کمپنۍ د ۷۴،۹ سلنه ونډو هره ونډه یې د ٦٨،۵ مصري پونډو په بدل کې وپېرله. درې میاشتې وروسته هره ونډه د دوه چنده په زیاتوالي سره پر دوو ونډو بدله شوه او لاکزر ګروپ وتوانېد چې ټولې پېرلې ونډې هر یوه یې په ۵۲،۵ مصري پونډه وپلورې او ۳٦ سلنه خالصه ګټه ترلاسه کړي، چې په دې اساس زیات یوه میاشت وروسته وکولای شول چې د اې بي سي کمپنۍ د ۲۳۱ میلیونه مصري پونډو په ارزښت وپېرې. هغه مهال اې بي سي کمپنۍ هر کال شاوخوا ۴۱،۳ میلیونه ګټه ترلاسه کوله او ۹۳ میلیونه نغدي پانګه یا ذخایر یې لرل. دا یوه بشپړه چنه وهل و. د بیر جوړونې دغه تازه خصوصي شوې کمپنۍ په ۱۹۹۹ کال کې د «جیاناکلیس» د شرابو د تولید خصوصي شوې کمپنۍ په پېرلو سره خپل انحصار له بیر څخه نورو مشروباتو ته هم پراخ کړ. جیاناکلیس له خپلو تولیداتو عظیمه ګټه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



ترلاسه کوله، ځکه چې د بهرنیو شرابو پر وارداتو ۳۰۰۰ سلنه گمرکي تعرفه وضعه شوې وه او له خپلو محصولاتو څخه یې ۷۰ سلنه گټه ترلاسه کوله. په ۲۰۰۲ کال کې دغه انحصار یو ځل بیا لاس په لاس شو او زیات د اې بي سي کمپنۍ د ۱،۳ میلیارده مصري پونډو په ارزښت پر هاینکن «Heineken» وپلوره، یعنې په پنځو کلونو کې ۵۳٦ سلنه گټه. محمد نصیر د تل لپاره بایلونکی پاتې نه شو. هغه په ۱۹۹۳ کال کې د «النصر» د بوتلونو د پروسس خصوصي شوې کمپنۍ چې په مصر کې د کوکا کولا بوتلونو د ډکولو او پلور ستره انحصاري کمپنۍ وه، وپېرله. د سوداگرۍ له راتلونکي وزیر عاطف عبید سره د نصیر ښو اړیکو نوموړي ته چانس په لاس ورکړ چې یاده کمپنۍ د اسانه رقابت په نتیجه کې وپېري. نصر درې کاله وروسته دغه کمپنۍ د هغې بیې درې برابره وپلورله چې ده اخیستې وه. بل مثال په ۱۹۹۰ یمه لسیزه کې د سینما صنعت د خصوصي کوله پروسه وه. بیا هم سیاسي روابط او انډیوالي لامل شول چې د سینما سکتور یوازې د دوو کورنیو لاس ته پرېوځي، چې له دې جملې یو هم د صویري کورنۍ وه. مصر نن یو بېوزله هېواد دی- البته د افریقا جنوب صحرا هېوادونو په څېر بېوزله نه دی، خو بیا هم مصر هغه هېواد دی چې د نفوسو نږدې ۴۰ سلنه یې بېوزله دي او خلک یې په ورځ تر دوو ډالرو لږ عواید لري. لکه څرنگه چې مخکې مو ولوستل، مصر په نولسمه پېړۍ کې د محمد علي د واکمنۍ پر مهال د بنسټي بدلون او اقتصادي موډرنیزېشن په لور بریالي گامونه اخیستل پیل کړي وو. مخکې تر دې چې مصر په بشپړ ډول د برېتانیا په استعماري امپراتورۍ پورې وتړل شي، محمد علي د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



زبېښونکي اقتصاد دوره رامنځته کړه. د انګرېزي استعمار په وخت کې په مصر کې یو لړ زبېښونکي اقتصادي بنسټونه تاسیس شول چې له ۱۹۴۵ کال وروسته د پوځ له لوري هماغسې نا لاس خوړلي پر خپل ځای پاتې شول. د یادو بنسټونو پر مټ د ښوونې او روزنې په سکتور کې تر یوه بریده پانګونه او اقتصادي پرمختګ محسوس و، خو په داسې حال کې چې واکمنې ډلې له خپلو سیاسي روابطو څخه په استفادې ځان شتمن کړ، خلکو لا هم ډېرو لږو اقتصادي فرصتونو ته لاسرسی درلود. دا زبېښونکي اقتصادي بنسټونه هم د زبېښونکو سیاسي بنسټونو له لوري حمایه کېدل. ولسمشر حسن مبارک غوښتل چې د سیاست یوه میراثي کورنۍ جوړه کړي او خپل زوی جمال خپل ځایناستی کړي. خو د هغه ټول پلانونه یوازې هغه وخت ناکام شول، کله چې د ۲۰۱۱ کال د عرب پسرلي ولسي پاڅون د هغه استثماري رژیم را نسکور کړ. د ناصر د حکومت پر مهال د پرانیستو اقتصادي بنسټونو څه نا څه نښې موجودې وې، دولت ښوونیز نظام پراخ او ټولو ته د لاسرسي وړ وګرځاوه او داسې فرصتونه یې رامنځته کړل چې د سلطان فاروق پخواني رژیم نه وو رامنځته کړي. خو دا د زبېښونکو بنسټونو یوه بې ثباته بڼه وه چې د پرانیست والي جوهر په کې لږ و. هغه انکار نه منوونکې پېښې چې د مبارک د واکمنۍ پرمهال یې اقتصادي بنسټونه لا پسې زبېښونکي کړل، په ټولنه کې د سیاسي واک د وېش څرنګوالي راښیي. ویلی شو چې د عرب پسرلی د دې وضعیت پر وړاندې یو غبرګون و. دا خبره نه یوازې د مصر، بلکې د تونس په اړه هم صدق کوي. د تونس درې لسیزې اقتصادي وده هغه وخت معکوسه شوه، کله چې زین

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



العابدین بن علي او د هغه کورنۍ د چور او لوټمارۍ په نتیجه کې زبېښونکي سیاسي بنسټونه حاکم کړل.

## ملتونه ولې ماتېږي؟

ملتونه له اقتصادي پلوه د زبېښونکو بنسټونو له امله ناکامېږي. دغه ډول بنسټونه، بېوزله هېوادونه، بېوزله ساتي او د اقتصادي ودې پر وړاندې یې خنډونه جوړوي، چې په افریقا کې زیمبابوې او سیریلیون، په سوېلي امریکا کې کولمبیا او ارجنټاین، په اسیا کې شمالي کوریا او ازبکستان او په منځني ختیځ کې یې مصر ښه مثالونه دي. د دې هېوادونو ترمنځ د پاموړ توپیرونه شته. ځیني یې استوایي موقعیت لري، ځیني یې په معتدلو سیمو کې پراته دي، یو شمېر یې د برېټانیا مستعمره وو او ځیني نورو بیا د جاپان، هسپانیا او روسیې استعمار تېر کړی. دا هېوادونه متفاوت تاریخونه، ژبې او کلتورونه لري، خو ترمنځ یې یوازې یو مشترک ټکی شته: زبېښونکي بنسټونه. د دې بنسټونو ټوله کیسه پر دې راڅرخي چې یوه کوچنۍ واکمنه ډله د ځان په ګټه اقتصادي بنسټونه جوړوي او بیا د هغې پر مټ د ټولنې د یوې سترې برخې په بیه ځان شتمنوي. د هېوادونو متفاوت تاریخ او متفاوت ټولنیز جوړښت د یادو واکمنو ډلو په ماهیت او د زبېښونکو بنسټونو په جزییاتو کې د توپیرونو د رابرسېره کېدو لامل کېږي. خو دا چې ولې دغه زبېښونکي بنسټونه دوامداره نه وي، دلیل یې په خبیثه کړۍ کې دی او یاد بنسټونه ټول د خپلو هېوادوالو د بېوزله کولو په برخه کې یو ډول عواقب زېږوي. مثلا؛ په زیمبابوې کې د رابرټ موګابي په مشرۍ د زانو- پي ایف ګوند، چې په ۱۹۷۰ یمه لسیزه کې یې د استعمار ضد مبارزه رهبري کوله؛ په شمالي کوریا

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



کې د دویم جونګ ډله او کمونېست ګوند او په ازبکستان کې ولسمشر کریموف او د شوروي اتحاد د وخت ملګرو دغه رول لوباوه. د دې واکمنو ډلو ترمنځ ډېر توپیرونه شته او دا توپیرونه په دې معنا دي چې د هر استثماري نظام د بنې او جوړښت ترمنځ هم توپیرونه موجود دي. مثلاً؛ شمالي کوریا د یوه کمونېستي انقلاب په نتیجه کې تاسیس شوه، چې سیاسي رژیم یې د کمونېستي ګوند په مشرۍ یو ګوندي بڼه غوره کړه. که څه هم په ۱۹۸۰ یمه لسیزه کې رابرټ موګابي په میتابالنډ کې د خپلو مخالفینو د ځپلو په موخه د شمالي کوریا پوځ ته بلنه ورکړه چې زیمبابوې ته ورشي، خو د زېمبونکو سیاسي بنسټونو په برخه کې د شمالي کوریا نسخه په زیمبابوې کې د تطبیق وړ نه وه. د دې پر ځای موګابي چې د استعمار ضد مبارزې له لارې واک ته رسېدلی و، اړ و چې د ټاکنو په واسطه پر خپل مخ نقاب وغوړوي. بلخوا کولمبیا د ټاکنو اوږد تاریخ لري چې له تاریخي پلوه ټاکنې له هسپانیا څخه د خپلواکۍ له ترلاسه کولو وروسته د لیبرال او محافظه کار ګوندونو ترمنځ د واک د وېشلو لپاره ترسره کېږي. په ازبکستان کې کریموف د پخواني شوروي د پاتې شونو په مرسته وکولای شول چې یو ځواکمن دولت جوړ او خپل مخالفین له صحنې ګوښه کړي. په کولمبیا کې د مرکزي دولت د نه شتون امله بېلابېلو ډلو سرونه را پورته کړل. په شمالي کوریا کې د استثمار وسایل د کمونېزم له بکسه په میراث پاتې شول: د خصوصي مالکیت منع کول او د دولت تر ولکې لاندې صنایع او ځمکې. په مصر کې هم د جنرال ناصر پوځي رژیم چې په ۱۹۵۲ کال کې د سوسیالېستي لیدلوري پر بنسټ جوړ شو، ورته وضعیت درلود. ناصر په سړه جګړه کې د شوروي لمن ونیوله او د سویز کانال

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



په شمول چې د انګرېزانو تر مالکيت لاندې و، ټول ملکيتونه يې د دولت تر مالکيت لاندې راوستل. له همدې امله په ۱۹۵۰ مه او ۱۹۶۰ مه لسيزه کې د مصر وضعيت په ۱۹۴۰ مه لسيزه کې د شمالي کوريا وضعيت سره ډېر توپير درلود. د شمالي کوريا لپاره د يوه افراطي کمونېستي نظام رامنځته کول ډېر اسان و، ځکه چې د جاپانيانو پخواني ملکيتونه يې مصادره کولای شول او د چين انقلاب له اقتصادي موډل څخه يې تقليد وکړ، په داسې حال کې چې د مصر انقلاب ته بايد د يوه ډله پوځي افسرانو له لوري د کودتا په سترګه وکتل شي. کله چې مصر په سړه جګړه کې خپل دريځ بدل کړ او د لوېديځ په پلوۍ ودرېد، نو پوځي حکومت پرېکړه وه چې د زبېښناک لپاره له متمرکز اقتصاد څخه پانګوال نظام ته حرکت وکړي. که څه هم دا مسايل ټول مهم او په زړه پورې دي، خو په لويه کې ډېر مهم درسونه دي چې ښيي په دې ټولو مواردو کې زبېښونکي سياسي بنسټونه چې زبېښونکي اقتصادي بنسټونه ايجادوي، واک او شتمنۍ واکمني طبقې ته لېږدوي. په هېوادونو کې د زبېښناک کچه په څرګند ډول متفاوته ده چې دا چاره د اقتصادي برياليتوب لپاره مهمې پايلې زېږوي. مثلاً؛ په ارجنټاين کې اساسي قانون او ولسواکې ټاکنې د پلوراليزم په برخه کې چنداني رول نه دی لوبولی، خو د کولمبيا په پرتله يې نتيجه ښه ده. د دې وضعيت يوه نتيجه دا ده چې په ارجنټاين کې د سړي کلنی عايد د کولمبيا په پرتله دوه برابره دی. په دواړو هېوادونو کې سياسي بنسټونه کولای شي چې د سيريليون او زيمبابوې په پرتله د سياسيونو واک په ښه توګه محدود کړي، له همدې امله ده چې نن ورځ سيريليون او زيمبابوې د کولمبيا او

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



ارجنټاین په پرتله ډېر بېوزله دي. خبیثه کړۍ همدارنګه څرګندوي، چې کله د زیمبابوې او سیریلیون په څېر خبیثه کړۍ د دولت په ناکامۍ تمامېږي، نو زبېښونکي بنسټونه ورسره له منځه نه ځي. لکه څرنګه چې مخکې مو ولیدل، ښایي د تاریخ یوه حساسه مقطعه او انقلابونه رامنځته شي، خو دا پېښې حتمي بنسټي بدلونونه له ځان سره نه لري. په ۲۰۰۲ کال کې په سیریلیون کې د کورنۍ جګړې پای ته رسېدل یې ښه مثال دی. په ۲۰۰۷ کال کې د ډیموکراټیکو ټاکنو په ترڅ کې د سیاکا سټیونز ګوند یعنی (اې پي سي) یو ځل بیا واک ترلاسه کړ. که څه هم د ټاکنو ګټونکي «ارنېست بای کوروما» له پخواني حکومت سره اړیکه نه لرله، خو د هغه د کابینې ګڼې څېرې د پخواني حکومت غړي وو. حتی د سټیونز دوه زامن «بوکاري او جېنګو» هم د امریکا متحده ایالتونو کې سفیران شول، یعنې دا وضعیت د هغه څه په پرتله چې په کولمبیا کې مو ولیدل، یوه بې ثباته نسخه ده. په کولمبیا کې د دولت د واک او حاکمیت تشه له دې امله دوامداره شوې چې یو شمېر مشران او سیاسیون په دې وضعیت کې خپلې ګټې لټوي. په دې ټولو مواردو او مثالونو کې د زبېښونکو بنسټونو اوږد تاریخ لیدل کېږي چې لږ تر لږه له نولسمې پېړۍ پیلېږي. هر هېواد د یوې خبیثه کړۍ په لومه کې ښکېلي. په ارجنټاین او کولمبیا کې د دې لومې ریښې د هسپانوي استعمار میراثي بنسټونو ته رسېږي. د سیریلیون او زیمبابوې غمیزه د نولسمې پېړۍ په وروستیو کې د انګرېز له استعمار سره تړلې. په سیریلیون کې چې هغه وخت سپین پوستي استعمارګر لا راغلي نه وو، سخت زبېښونکي سیاسي جوړښتونه موجود وو چې دغه جوړښتونه په خپله د یوې اوږدې خبیثه کړۍ محصول و چې د سیاسي مرکزیت نشتون او د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



مريانو سوداګري يې لويه ځانګړنه وه. په زيمبابوې کې چې تر زبېښونکي بنسټونو پورته يو جوړښت موجود و، ځکه چې د سوېلي افريقا برېټانوی کمپنۍ دوه ګونی اقتصاد جوړ کړی و. ازبکستان وکولای شول چې له شوروي اتحاد څخه پاتې زبېښونکي بنسټونه په لاس کې واخلي او د مصر په څېر يې پر لوېديځ پلوه کپيټلېزم بدل کړي. د شوروي اتحاد زبېښونکي بنسټونه په خپله د تزاري رژيم د بنسټونو دوام و، چې بيا هم د اوليګارشۍ د اوسپنيز قانون يو مثال را په ګوته کوي. له څه باندې ۲۵۰ کلونو راهيسې د نړۍ په بېلابېلو برخو کې د خبيثه کړۍ د مختلفو ډولونو د موجوديت له امله اوسنۍ نړيواله نا انډولي رامنځته شوه او لا هم دوام لري. نن ورځ د نړۍ د ملتونو د سياسي او اقتصادي ناکاميو حل لاره دا ده چې له زبېښونکو بنسټونو څخه پرانيستو بنسټونو ته بدلون وکړي. د خبيثه کړۍ معنا دا ده چې دغه ډول بدلون او حرکت اسانه نه دی، خو ناممکن هم نه دی او د اوليګارشۍ اوسپنيز قانون ته هم بايد د يوې انکار نه منونکې پديدې په سترګه وکتل شي. په بنسټونو کې له پخوا موجود ځيني پرانيستي عناصر او د موجوده رژيم پر وړاندې د مبارزې د يوه پراخ ايتلاف شتون او يا هم د تاريخ نا اټکل شوې پېښې کولای شي چې خبيثه کړۍ ماته کړي. د سيريليون د کورنۍ جګړې په شان، د برېټانيا د ۱٦۸۸ کال پرتمين انقلاب هم د قدرت لپاره مبارزه وه، خو دا مبارزه د ماهيت له مخې د سيريليون کورنۍ جګړې سره ډېره متفاوته وه.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



# ځوارلسم څپرکی

## د طلسم ماتول

### درې افریقايي مشران

د ۱۸۹۵ کال د سپټمبر په شپږمه د ټنټالون کېسټل[1] مسافر وړونکې بېړۍ د برېټانیا د سوېلي ساحل په «پلیموت» بندر کې لنګر واچاوه. د افریقا درې قبایلي مشران: له نګواتا څخه خاما، له نګواکېټس څخه باتون او له کوینا څخه سېبل له بېړۍ څخه پیاده شول او د ۸:۱۰ چټک اورګاډي له لارې د لندن پډینګټن تمځای ته ورسېدل. دغه درې مشران برېټانیا ته د یوه ځانګړي ماموریت لپاره راغلي وو: له 'سیسل روډز' څخه د خپلو درې ایالتونو او د تسوانا د پنځو نورو ایالتونو ژغورنه. نګواتا، نګواکېټس او کوینا د تسوانا له اتو ګونو ایالتونو څخه درې ایالتونه وو، چې د «بچوانالنډ» په نامه یادېدل او بیا په ۱۹٦٦ کال کې تر خپلواکۍ وروسته د 'بوتسوانا' په نوم ونومول شول. دغو قبایلو په نولسمه پېړۍ کې له اروپا سره نږدې سوداګریزې اړیکې لرلې. مشهور سکاټلنډي مبلغ ډېوېډ لیونګسټون[2] بچوانالنډ ته ډېر سفرونه وکړل او د کوینا پاچا سکل[3] یې د مسیحیت دین ته واړاوه. په افریقايي ژبو کې لومړنۍ ژبه چې انجیل ورته وژباړل شو، سیتسوانا یعنې تسوانایي وه. برېټانیا په ۱۸۵۱ کال کې بچوانالنډ خپله تحت الحمایه اعلان کړ. د تسوانا خلک د برېټانیا له

[1] Tantallon Castle
[2] David Livingstone
[3] King Sechele

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



دغه اقدام څخه خوښ وو، ځکه چې د هغوی په باور د انګرېزانو تحت الحمایه به د اروپایانو او په ځانګړې توګه د بویرانو[1] له یرغل څخه دوی خوندي کړي. بویران په سوېلي افریقا کې مېشت هالنډیان وو، چې په ۱۸۳۵ کال کې له برېتانویانو سره  تر نښتې وروسته د کډه کېدو د اوږدې لړۍ «Great Trek» په ترځ کې مرکزي سیمو ته وکوچېدل او هلته له بومیانو سره په شخړې کې ښکېل شول. له بلې خوا برېتانویانو د بویرانو د ځای پر ځای کېدو او جرمنیانو د احتمالي پرمختګ د مخنیوي په موخه چې د افریقا جنوب لوېدیځې سیمې یې ولکه کړې وې، هڅه کوله چې سیمه په خپل کنټرول کې وساتي. برېتانویانو فکر نه کاوه چې د دې سیمې بشپړ اشغال به ګټور وي. د برېتانیا یو تن عالي کمېشنر «ري» په ۱۸۸۵ کال کې په دې سیمه کې د برېتانوي حکومت چلند داسې خلاصه کوي: «موږ د هېواد په شمال مولوپ [بچوانالنډ تحت الحمایه] کې ګټې نه لرو، مګر دا چې مرکزي سیمو ته د لاسرسي لپاره د یوه مسیر په توګه یې وکاروو. په دې اساس موږ باید د بهرنیو قوتونو او نورو مزاحمینو له اشغاله د دې تحت الحمایې د ښلوونکو سیمو د ساتنې لپاره لاس په کار شو. دلته چې یو مهم کار باید ترسره شي، هغه د یوې اداري او د مستعمره مېشتو د یوه ښارګوټي جوړول دي.» خو کله چې په ۱۹۸۹ کال کې د سوېلي افریقا د «سیسل روډز» برېتانوی کمپنۍ له سوېلي افریقا څخه بهر د شمال لور ته پرمختګ پیل کړ، د تسوانا وضعیت بدل شو. روډز د دې سیمې پراخه ځمکې لاندې کړې چې په ترځ کې یې سوېلي او شمالي روډزیا چې اوسنۍ

[1] Boers

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

Downloaded By: Afghan Salar Library



زمبیا او زیمبابوې په ځان کې رانغاړي، رامنځته شول. په ۱۸۹۵ کال کې کله چې درې قبایلي مشران لندن ته تللي وو، سیسل روډز د روډزیا سوېل لوېدیځو سیمو یعنې د هماغه بچوانالنډ اشغال ته یې سترګې خښې کړې وې. دغه مشران پوهېدل چې که روډز یې پر خاوره یرغل وکړي، نو دوی به له سخت ناورین او زېښناک سره مخ کړي. که څه هم هغوی د روډز د لښکرو پر وړاندې د جګړې توان نه درلود، خو پرېکړه یې کړې وه چې د مخنیوي لپاره به یې ټولې ممکنه لارې چارې کاروي. هغوی پرېکړه وکړه چې د بد او بدتر ترمنځ، بد انتخاب کړي: هغوی د سیسل روډز د اشغال پر ځای د انګلیسانو لا ډېرې سلطې ته ترجیح ورکړه. هغوی (قبایلي مشرانو) د لندن د مذهبي مبلغینو د ټولنې په مرسته لندن ته سفر وکړ، څو هلته ملکه ویکتوریا او د مستعمرو وزیر جوزېف چمبرلاین دې ته وهڅوي، چې بچوانالنډ په خپل واک کې واخلي او د روډز د یرغل پر وړاندې یې ساتنه وکړي. هغوی د ۱۸۸۵ کال د سپټمبر په ۱۱ مه له چمبرلاین سره ولیدل. لومړی سېبل، ورپسې باتون او په اخر کې خاما خبرې وکړې. چمبرلاین په خپلو خبرو کې وویل چې د روډز د یرغل پر وړاندې به د قبایلو د ساتنې په موخه په بچوانالنډ کې د برېټانیا پر مداخلې او کنټرول غور وکړي. یادو قبایلي مشرانو د خپل سفر په ترڅ کې د برېټانیا بېلابېلو سیمو ته لاړل او د عامه ملاتړ د خپلولو لپاره یې بېلابېلې غونډې او ویناوې وکړې. هغوی لندن ښار ته نږدې په وینډسور او ریډینګ کې له خلکو سره لیدنې او ویناوې وکړې. هغوی دغه راز د سوېلي ساحل ساوت همپټن، لیسټر او برمینګهم ته چې د چمبرلاین د ملاتړ سیمه وه، سفرونه وکړل. یاد مشران په شمال کې د یورکشایر، شفیلډ ، لیډز، هالفاکس او د برډفورډ

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



صنعتي سیمو او همدارنگه په لوېدیځ کې بریستول، مانچسټر او لیورپول ته لاړل. په دې وخت کې سیسل رودز د هغه څه لپاره تیاری نیوه چې وروسته د ناورین زیږوونکي یرغل په نامه وپېژندل شو. د چمبرلاین له سخت مخالفت سره سره، سیسل رودز د ټرانسوال پر بویر جمهوریت یرغل وکړ. که دغه پېښه نه وای شوې، ښایي چمبرلاین د افریقایي مشرانو خبرو ته غوږ نه وای ایښی. قبایلي مشران د نومبر په شپږمه یو ځل بیا لندن ته لاړل. د یوه ژباړن په وسیله د چمبرلاین او یادو مشرانو ترمنځ د خبرو جزییات دا ډول وو:

چمبرلاین: زه به ستاسو د سیمو په اړه خبرې وکړم، د اوسپنې پټلۍ او د هغه قانون په اړه به وغږېږم چې ستاسو په سیمه کې باید عملي شي... اوس اجازه راکړئ چې نقشه وگورو.. موږ به د اوسپنې پټلۍ د غځولو لپاره یوه برخه ځمکه په کنټرول کې واخلو.

خاما: زه دا وایم، که ښاغلی چمبرلاین دا ځمکه ځان ته شخصي هم واخلي، موږ کوم اعتراض نه لرو.

چمبرلاین: نو هغوی ته ووایاست چې زه په خپله داوسپنې پټلۍ د یوه کس تر نظر لاندې چې هلته به یې ولېږم، جوړوم او هر څه چې ما لازم گڼل، وبه شي او که د هغوی ترمنځ کوم ارزښتمن شی و، نو جبران به یې کړو.

خاما: غواړم پوه شم چې د اوسپنې پټلۍ به څنگه او له کوم ځایه تېرېږي؟

چمبرلاین: دا به د هغه له قلمرو څخه تېرېږي، خو شاوخوا یې باید کټارې ولگول شي او موږ به کومه ځمکه ولکه نه کړو.

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



خاما: زه ډاډه يم چې تاسو کوم کار کوئ، نو داسې يې وبوله چې زه يې د ځان لپاره کوم او له ما سره به په دې برخه کې مناسب چلند کوئ.

چمبرلاين: زه ستاسو د ګټو ملاتړ او ساتنه کوم.

د دې ليدنې په سبا «ايډوارد فيرفيلډ» د مستعمراتو ادارې له لورې د شوې پرېکړې جزييات خپاره کړل: «د قبايلو درې مشران هر يو: خاما، سېبل او باتون به داسې هېواد ولري چې د پخوا په څېر به د مَلکې تر تحت الحمايې لاندې ژوند کوي. ملکه به خپل يو استازی ټاکي چې له هغوی سره به اوسېږي. مشران به د پخوا په څېر په خپلو سيمو کې واکمن وي.» د دريوو قبايلي مشرانو پر وړاندې د رودز غبرګون د اټکل وړ و. هغه خپل يوه مامور ته په ټيلګرام کې وليکل: «زه دغو دريو بوميانو ته د تسليمۍ سر نه ټيټوم.» يادو افريقايي مشرانو په حقيقت کې په خپله خاوره کې ارزښتناکې سرچينې لرلې چې له رودز څخه يې د هغو ساتنه کوله او وروسته يې د برېټانيا د غير مستقيم استعمار په واسطه خوندي کړې. په نولسمه پېړۍ کې د تسوانا ايالتونو مشرانو د سياسي بنسټونو يوه هسته تشکيل کړه. دا بنسټونه د افريقا جنوب صحرا د نورو بنسټونو په پرتله له سياسي مرکزيت څخه برخمن وو او سياسي پرېکړې د ډله ييزې تصميم نيونې پر مټ ترسره کېدې، چې کولای شو د پلوراليزم ابتدايي بڼه يې وګڼو. څرنګه چې د مګناکارتا منشور بارونيانو ته د تصميم نيونې زمينه برابره او د انګرېز پاچاهانو واکونه يې محدود کړل، دغه شان د تسوانا سياسي بنسټونو او په ځانګړې توګه 'کګوتلا' هم سياسي مشارکت تشويق او د قبايلي مشرانو واکونه يې محدود کړل. د سوېلي افريقا انټراپالوجېست يا انسان پېژندونکی «ايساک شاپرا»

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



د کګوتلا کار او څرنګوالی داسې بیانوي:«د قبایلو د تګلارې اړوند ټول موضوعات په کګوتلا کې د بالغو کسانو د یوې عمومي غونډې (جرګې) له لارې څېړل کېږي. دا ډول غونډې په وقفه یي بڼه ترسره کېږي. هغه مسایل چې دلته پرې بحث کېږي، قبیلوي دعوې او لانجې، د قبیلې او د هغه د خپلوانو شخړې، د نویو جزیو ټاکل، د نویو دندو او مسوولیتونو وېش، د قبیلې د مشر له لوري د نویو رسمي فرمانونو اعلان او ... نور دي. د قبیلوي جرګې لپاره دا یوه ناپېژندل شوې خبره ده چې د مشر له پرېکړو او خبرو سرغړونه وکړي. دا چې هر څوک حق لري چې په جرګه یا غونډه کې خپل نظر څرګند کړي، نو د قبیلې مشر کولای شي چې د خلکو احساسات په ښه توګه درک کړي.»

پر کګواتلا سربېره، د تسوانا قبایلي حکومتي جوړښت موروثي نه و، بلکې د ټولو هغو کسانو پر مخ د مشرۍ دروازه پرانیستې وه چې وړتیا یې لرله. د 'جان کامراف' په نامه یو بل انټراپالوجېست د تسوانا د نورو ایالتونو سیاسي تاریخ مطالعه او څېړلی دی. هغه وایي که څه هم په تسوانا کې د واک د میراثي کېدو په اړه روښانه قوانین موجود و، خو په عمل کې یاد قوانین داسې تفسیرېږي چې خراب مشران له واکه لرې وساتل شي او اهل کسانو ته اجازه ورکړل شي چې د قبایلو مشري پر غاړه واخلي. هغه زیاتوي چې د قبیلې د مشرۍ مقام یوازې یو نوم و، چې یوازې د هڅو او وړتیا پر اساس ترلاسه کېده. د تسوانا د خلکو ترمنځ دا متل چې وایي «پاچا د خلکو په برکت پاچا دی» ښيي چې دلته مشروطه پاچاهي واکمنه وه. قبایلي مشرانو د لندن تر سفر وروسته له برېټانیا څخه د ازادۍ او د خپلو بنسټونو د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



ساتلو لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکړ. هغوی په بچوانالنډ کې د اوسپنې پټلۍ د جوړولو چارې انګرېزانو ته وسپارلې، خو د ژوند په بېلابېلو برخو او په ځانګړې توګه په سیاسي او اقتصادي برخو کې یې د هغوی د مداخلې مخه ونیوله. هغوی د رېل کرښې د جوړېدو مخالف نه و او نه یې هم په هغه دلیل د رېل کرښې مخالفت کاوه چې د اتریش-هنګري او د روسیې واکمنانو کاوه. هغوی پوهېدل، تر څو چې تر استعمار لاندې وي، د اوسپنې پټلۍ به هم د انګرېزانو د نورو سیاستونو په څېر بچوانالنډ ته هېڅ راز پرمختګ په برخه نه کړي. د کویټ ماسیر تجربه چې له ۱۹۸۰ څخه تر ۱۹۹۸ کاله پورې د خپلواکې تسوانا ولسمشر و، د دې موضوع څرنګوالی په ښه توګه بیانوي. ماسیر په ۱۹۵۰ مه لسیزه کې یو کار پنځوونکی بزګر و. هغه د جوارو د کښت لپاره یو نوی تکنیک رامنځته کړ او له پولې هاخوا په سوېلي افریقا کې یې له 'ورایبورګ میلینګ شرکت'[1] سره د خپلو تولیداتو د پلور په اړه یوه هوکړه وکړه. ماسیر د بچوانالنډ په لوبیټس کې د اورګاډي سټېشن مسوول ته ورغی او هغه ته یې وویل چې ورایبورګ ته د محصولاتو د لېږد لپاره ورته دوه واګونونه په کرایه ورکړي. د سټېشن مشر د هغه غوښتنه رد کړه، خو ماسیر خپل یو سپین پوستی ملګری هغه ته واسطه کړ. د سټېشن مشر زړه نا زړه ومنله، خو له ماسیر څخه یې د سپین پوستو په پرتله څلور چنده لوړه کرایه غوښته. ماسیر له دې کاره تېر شو او دې نتیجې ته ورسېد چې:دا یوازې قوانین نه وو چې افریقایان یې پر ځمکو له مالکیت یا د سوداګرۍ د جواز له لرلو منع کول، بلکې په خپله سپین پوستو

[1] Vryburg Milling

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

Downloaded By: Afghan Salar Library



عملاً تور پوستي په بچوانالنډ کې له هر ډول کاروبار او پرمختګ څخه را ګرځولي وو. په ټوله کې قبايلي مشران او د تسوانا خلک خوشبخته وو. پر دې ټولو ناخوالو سربېره، هغوی بريالي شول چې د روډز له يرغله ځان وژغوري. دا چې بچوانالنډ د انګرېزانو لپاره لومړيتوب نه و، نو هلته يې خپل لاسپوڅی حکومت رامنځته کړ او همدا لامل دی چې د سيريليون په څېر هلته خبيثه کړۍ دومره وده ونه کړه. هغوی دغه راز د سوېلي افريقا په څېر د ارزانه کارګرو له استثمار څه هم خوندي پاتې شول.

د استعمار لومړنۍ مرحلې د ټولو هېوادونو لپاره حساسه مقطعه او يوه داسې برخليک ټاکونکې دوره وه چې د ملتونو  پر سياسي او اقتصادي پراختيا يې ژورې او اوږد مهاله اغېزې وښندلې. څرنګه چې په نهم څپرکي کې مو ولوستل، زياتره افريقايي ټولنې د جنوبي امريکا او جنوبي اسيا د ټولنو په څېر، د استعمار په دوران کې د سختو زېښبنونکو بنسټونو شاهدې وې. خو په تسوانا کې خلکو هم د لاسپوڅي رژيم يا غير مستقيم استعمار د دوام او هم د روډز د يرغل چې ممکن د دې خاورې په اشغال سره يې ناورين رامنځته کړی وای، مخنيوی وکړ. دا د بخت خبره نه وه، بلکې دا يو ځل بيا د تسوانا د خلکو په لاس د جوړ شويو بنسټونو او د استعمار په پايله کې د رامنځته شوې حساسې مقطعې په وړاندې د غبرګون پايله ده. دريوو قبايلي مشرانو د عمل ابتکار په لاس کې واخيست او لندن ته په تګ سره يې خپل بخت او برخليک بدل کړ. هغوی ځکه په دې کار کې بريالي شول چې د افريقا جنوبي صحرا د نورو مشرانو په پرتله يې د اقتدار يو نامعموله درجه لرله او دا اقتدار د سياسي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



مرکزیت له برکته و چې د تسوانا قبایلو رامنځته کړی و. د استعمار په پای ته رسېدو سره یوې بلې حساسې مقطعې د بوتسوانا په پرمختګ او بریالیتوب کې مهم رول ولوباوه، ځکه دغې پېښې بوتسوانا ته فرصت ورکړ چې پرانیستي بنسټونه رامنځته کړي. کله چې په ۱۹٦٦ کال کې بچوانالنډ د بوتسوانا په نامه خپلواکي اعلان کړه، د دریوو قبایلي مشرانو خاما، باتون او سېبل له نېکمرغه بریالیتوبونو څخه لسیزې تېرې شوې وې. برېټانیا په بچوانالنډ کې د خپلې مداخلې پر مهال ډېره ناچیزه پانګونه وکړه. بوتسوانا د خپلواکۍ په لومړیو کلونو کې د نړۍ د بېوزلو هېوادونو په ډله کې و چې یوازې ۱۲ کیلو متره پوخ سړک یې درلود، د ټول نفوس په کچه یې ۲۲ تنه لسانس او ۱۰۰ تنه د دولسم ټولګي فارغین لرل. تر دې هاخوا نور ټول هېواد د نامبیا او رودزیا د سپین پوستو په انحصار کې و چې دواړو له تورپوستو افریقایانو سره دښمني لرله. ډېرو لږو کسانو به دا فکر کاوه چې بوتسوانا به ښه ورځ وویني، خو تر خپلواکۍ وروسته د ۴۵ کلونو په ترڅ کې دغه هېواد چټکه او بېسارې اقتصادي وده تجربه کړه. نن ورځ بوتسوانا د سړي سر کلني عاید په برخه کې د افریقا جنوبي صحرا کې تر ټولو مخکې هېواد دی او د ختیځې اروپا له مخ پر ودې هېوادونو لکه استونیا او هنګري او په لاتینه امریکا کې له تر ټولو بریالي هېواد کاستاریکا سره په یو ردیف کې قرار لري. خو بوتسوانا څنګه وکولای شول چې دا طلسم مات کړي؟ تر خپلواکۍ وروسته د پرانیستو سیاسي او اقتصادي بنسټونو د رامنځته کولو د چټکې پروسې پر مټ! تر دې وروسته بوتسوانا اوس یو ډیموکراټیک هېواد دی؛ رقابتي او منظمې ټاکنې ترسره کوي او تر اوسه یې هېڅ کورنۍ جګړه او پوځي مداخله نه ده لیدلې. دولت داسې اقتصادي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



بنسټونه رامنځته کړل چې د مالکیت حقونه یې خوندي، اقتصادي ثبات یې تضمین او د بازار نظام پر بنسټ پرانیستی اقتصاد یې حمایه او تشویق کړ. خو دلته یوه ننګوونکې پوښتنه دا ده چې افریقایي هېواد بوتسوانا څنګه وکولای شول چې با ثباته ډیموکراسي، پراخ بنسټه نظام او پرانیستي اقتصادي بنسټونه ساز کړي، په داسې حال کې چې نور افریقایي هېوادونه بر عکس پر شا لاړل؟ دې پوښتنې ته د ځواب لپاره باید پر دې پوه شو چې د استعمار تر پای ته رسېدو وروسته د رامنځته شوې حساسې مقطعې پر وړاندې د بوتسوانا د هغه وخت بنسټونو غبرګون څه ډول و؟ د افریقا د جنوبي صحرا په زیاترو سیمو لکه زیمبابوې او سیریلیون کې، خپلواکي هغه فرصت و چې له لاسه ووت او بېرته هماغه د استعمار د وخت زبېښونکو بنسټونو یو ځل بیا ځان را ژوندی کړ. په بوتسوانا کې د استقلال لومړنیو مرحلو د هغو پخوانیو عواملو له امله چې د تسوانا تاریخي بنسټونو رامنځته کړي وو، متفاوت رول ولوباوه. بوتسوانا په دې دوره کې د پرتمین انقلاب په جریان کې بریټانیا ته ورته وضعیت درلود. بریټانیا د تیودوریانو تر واکمنۍ لاندې د چټک سیاسي مرکزیت خاونده شوه او له مګناکارتا او د پارلمان له سنت څخه برخمنه وه، چې تر لږ تر لږه یې د پاچاهانو واکونه محدود او یوه اندازه پلورالېزم ته یې لار هواره کړه. بوتسوانا هم یوه اندازه سیاسي مرکزیت او همدارنګه نسبتاً کثرت پاله قبیلوي بنسټونه لرل، چې د استعمار په دوره کې زیانمن نه شول. بریټانیا د پرتمین انقلاب پر مهال له یوه پراخ او ستر ایتلاف څخه چې په اتلانتیک کې فعال سوداګر، صنعتکاران، شتمن، کاروباریان او نورې ډلې په کې شاملې وې،

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



برخمنه وه. بوتسوانا هم د خلکو د حقونو د خوندیتابه په برخه کې له دغسې یوه ایتلاف څخه برخمنه وه. په دې ایتلاف کې د تسوانا قبایلي مشران او نور نخبګان وو چې په لویو اقتصادي فعالیتونو یعنې په کرنې او مالدارۍ کې بوخت وو. که څه هم په تسوانا کې ځمکو اشتراکي بڼه لرله، خو مالداري په خصوصي مالکیت کې شامله وه او واکمنې طبقې د مالکیت د حقونو بشپړ ملاتړ کاوه. البته په دې ټولو مواردو کې د تاریخ پېښېدونکو واقعات له پامه نه شي غورځېدای. که د برېتانیا نوي پاچا او د پارلمان مشرانو پرتمین انقلاب د واک د غصب او انحصار لپاره د وسیلې په توګه کارولی وای، نو نتیجه به یې اوس بل ډول وه. همدارنګه که بوتسوانا د خاما یا کویټ ماسیر په څېر مشران نه لرلای، نو ښایي اوس به یې وضعیت بل ډول و. بوتسوانا تر خپلواکۍ وروسته داسې بنسټونه په میراث یوړل، چې تر خپلواکۍ وړاندې یې د قبایلي مشرانو واکونه محدود او هغوی یې د خلکو په وړاندې مسوول کړي وو. که څه هم تسوانا په افریقا کې یوازینی هېواد نه و، چې تر خپلواکۍ مخکې یې داسې بنسټونه لرل، خو په دې برخه کې یوازینی هېواد ګڼل کېږي چې دغه بنسټونه یې د استعمار له اغېزو خوندي وساتل. برېتانویانو هلته مستقیم حضور نه درلود. بچوانالنډ په سویلي افریقا کې له ماوکینګ څخه اداره کېده او یوازې په ۱۹۶۰ مه لسیزه کې چې خپلواکۍ ته د انتقال دوره وه، ګابرون ته د پلازمېنې د لېږد مسئله مطرح شوه. د نوې پلازمېنې او جوړښتونو رامنځته کول د بومي بنسټونو د له منځه وړو په معنا نه وو، بلکې د هماغه پخواني جوړښت پر اساس بنا شول، لکه ګابرون چې جوړ شو او دغه راز نوی کګوتلا هم تاسیس شو. د خپلواکۍ ګټلو مبارزه هم نسبتاً یوه سازمان شوې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



چاره وه. د خپلواکۍ مبارزه د بوتسوانا د ډیموکراټیک ګوند (بي ډي پي) له لوري چې په ۱۹۶۰ کال کې د کویټ مسایر او سریت خاما له لوري تاسیس شوی و، رهبري کېده. خاما د «درېیم پاچا خاما» لمسی و او د هغه لومړی نوم «سریتس» د «سریښناکه ختښه» په معنا دی. دا ربښتیا هم یو ډېر ځانګړی نوم و. خاما ته د نګواتو ایالت مشري په میراث پاتې وه او د تسوانا زیاتره قبایلي مشران، مخور او نخبګان د هغه له ګوند سره یو ځای شول. دا چې انګرېزان د بوتسوانا نیواک ته ډېر علاقمند نه وو، نو ځکه هلته د بازار موندنې بورډ په نامه زېربنونکي بنسټونه جوړ نه شول. د بوتسوانا ډیموکراټیک ګوند په ۱۹۶۷ کال کې د غوښې کمېسیون جوړ کړ. دغه کمېسیون د مالدارانو د زېربناک پر ځای، د مالدارۍ د سکتور د ودې په برخه کې محوري رول ولوباوه، د څارویو د ساري ناروغیو د مخنیوي لپاره یې اقدام وکړ او د غوښو صادرات یې پراخ کړل، چې دا چاره له یوې خوا د اقتصادي پراختیا لامل شوه او له بل لوري یې د پرانیستو اقتصادي بنسټونو ملا ور وتړله. د بوتسوانا لومړنۍ اقتصادي وده د غوښې پر صادراتو ولاړه وه، خو کله چې هلته الماس کشف شول، وضعیت په ډراماتیک ډول بدل شو. په بوتسوانا کې د طبیعي سرچینو مدیریت د نورو افریقایي هېوادونو په پرتله ډېر متفاوت و. د استعمار په وخت کې د تسوانا قبایلي مشرانو په بچوانالنډ کې د کانونو اکتشاف منع کړی و، ځکه پوهېدل چې که اروپایان دلته قیمتي ډبرې او کانونه پیدا کړي، نو خپلواکي او ازادي به یې په خطر کې شي. د الماسو لومړنی ستر کان په نګواتا یعنې د خاما په اصلي ټاټوبي کې کشف شو. د کان تر کشف مخکې خاما په

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



قانون کې د تعدیل له لارې تر ځمکې لاندې طبیعي سرچینې د ملت شتمنۍ وګڼله. د دې قانون له مخې دا تضمین شوه چې الماس به په بوتسوانا کې د نا انډولۍ لامل نه شي. یاد قانون همدا راز د دولت د سنټرالیزېشن پروسې په پیاوړتیا کې هم مرسته وکړه، ځکه چې دولت کولای شول چې د الماسو عواید د یوې موډرنې حکومتي بیروکراسۍ، زېربنا او د عصري تعلیمي نظام په رامنځته کولو باندې ولګوي. د سیریلیون په ګډون د افریقا په ګڼو نورو برخو کې د الماسو او نورو قېمتي ډبرو کشف د بېلابېلو ډلو ترمنځ د سختو شخړو او دوامدارې کورنۍ جګړې لامل شو او په دې سیمه کې د الماسو پر سر د سختې جګړې له امله، د «خونړي الماس» اصطلاح د خلکو ترمنځ دود شوه. د کانونو د قوانینو په برخه کې اصلاحات د خاما د تګلارې یوازینۍ برخه نه وه، بلکې د استعمار د وخت د ۱۹۶۵ کال د قبایلي چارو قانون هم بالاخره د مقننه جرګې له لوري تصویب شو او په ۱۹۷۰ کال کې د یاد قانون په تعدیل سره د قبایلي مشرانو لپاره د ځمکو د تخصیص حق لغوه شو او ولسمشر ته دا واک ورکړل شو چې د اړتیا پر مهال قبایلي مشران له دندې ګوښه کړي، چې په دې توګه دغه تحول د سیاسي مرکزیت له دوام او پیاوړتیا سره مرسته وکړه. د سیاسي مرکزیت یوه بله ځانګړنه دا وه چې هېواد یو موټی شو، مثلا؛ د قانون له مخې تسوانایي او انګلیسي په ښوونځي کې رسمي ژبې ومنل شوې. بوتسوانا نن ورځ د بېلابېلو رنګونو او ټبرونو هېواد دی، په داسې حال کې چې نور افریقایي هېوادونه له ژبنیو، توکمیزو او مذهبي توپیرونو کړېږي. دا د دولت پالیسي وه چې په ښوونځیو کې یې په دواړو انګلیسي او تسوانایي ژبو د زده کړې اسانتیاوې برابرې کړې، څو د قومونو او توکمونو ترمنځ د شخړو مخه ونیول شي. په

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



تسوانا کې وروستۍ سر شمېرنه چې په ۱۹۴۶ کال کې تر سره شوې وه، ښيي چې په دې هېواد کې ګڼ هويتونه او قومونه ژوند کوي. مثلاً؛ په نګواتا کې يوازې ۲۰ سلنه اصلي نګواتويانو ژوند کاوه. که څه هم هلته د تسوانا نور قبايل هم اوسېدل، خو د غير تسوانايي وګړو شمېر هم زيات وو چې اصلي ژبه يې سيتسوانايي نه وه. تر خپلواکۍ وروسته د سيرتس خاما، کويټ ماسير او د بوتسوانا ډيموکراټيک ګوند له لوري د پرانيستو سياسي او اقتصادي بنسټونو په لور د بوتسوانا سوق کولو د پامور اقتصادي پرمختګ له ځان سره درلود. کله چې په ۱۹۷۰ يمه لسيزه کې د بوتسوانا الماس نړيوالو بازارونو ته لار ومونده، کورنۍ جګړه رامنځته نه شوه، بلکې د دولت لپاره يې ځواکمنې سرچينې رامنځته او دغه سرچينې د عامه خدماتو په برخه کې پر پانګونې ولګول شوې. په بوتسوانا کې د دولت پر وړاندې د بلوا او جګړې ګواښونه او انګېزې ډېرې کمې وې. پرانيستو سياسي بنسټونو په ټولنه کې سياسي ثبات ټينګ او د پرانيستو اقتصادي بنسټونو ملا يې ور وتړله. د ښيښه کړۍ برعکس چې په ۱۱ څپرکي کې مو پرې خبرې وکړې؛ پرانيستي اقتصادي بنسټونه د پرانيستو سياسي بنسټونو دوام او موثريت يقيني کوي. بوتسوانا ځکه د طلسم په ماتولو کې بريالۍ شوه چې تر خپلواکۍ وروسته يې حساسه مقطعه وپېژندله او پرانيستي بنسټونه يې رامنځته کړل. د بوتسوانا ډيموکراټيک ګوند او سنتي مشرانو، په ځانګړې توګه په خپله خاما ونه غوښتل، چې د زبېښونکو او استبدادي بنسټونو په رامنځته کولو سره ځان د خلکو په بيه شتمن کړي.

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



## په سوېل کې د زبېښناک پای

د ۱۹۵۵ کال د ډسمبر لومړۍ وه. د الاباما د مونګومري ښار پولیس جلب صادروي او د تورن د نیولو وخت د ماښام ٦:٠٦ ثبتوي. د بس ډریور 'جېمز بلک' له ستونزې سره مخ کېږي او پولیسو ته زنګ وهي. دوه تنه پولیس افسران «ډې» او «مکسن» د پېښې ځای ته رسېږي. هغوی په خپل راپور کې ولیکل:«موږ ته ټیلیفون وشو او کله چې د پېښې ځای ته ورسېدو، د بس ډریور وویل چې هغه له یوې تور پوستې ښځې سره په جنجال اخته شوی. هغه وویل دغه ښځه په بس کې د سپین پوستو لپاره پر ځانګړو شویو څوکیو ناسته ده او له خپل ځایه نه پاڅېږي. موږ هم هغه ولیده. د بس ډریور د پولیسو پر جلب لاسلیک وکړ. روزا پارکس (سي ایف) د مونګومري ښار د قوانینو د شپږم څپرکي د یوولسمې مادې پر نقض تورنه شوې وه.» د الاباما د جېم کرو قوانینو له مخې د کلیولنډ لین په بسونو کې د سپین پوستو لپاره پر ځانګړې شوي سیټ باندې د روزا پارکس ناسته یو جرمي عمل و. پارکس د محکمې پر څلور ډالره لګښت سربېره، لس ډالره نغدي جریمه شوه. پارکس عادي ښځه نه وه. هغه د تور پوستو د پرمختګ ملي ټولنې «NAACP» د مونګومري څانګې منشي وه چې د امریکا په سوېلي ایالتونو کې د تبعیض او بنسټونو د اصلاح په برخه کې یې اوږده مبارزه کړې وه. د هغې نیولو د «بسونو پرېکون» په نامه پراخ اعتراضونه را وپارول، چې د دې خوځښت په سر کې مارټین لوټر کینګ و. د ډسمبر په درېیمه کینګ او نورو تور پوستو مشرانو د 'بسونو همغږی پرېکون' تنظیم کړ او ټولو تور پوستو ته وویل شول چې د مونګومري په بسونو کې تګ راتګ و نه کړي. دا یو بریالی پرېکون و، چې د ۱۹۵٦ کال د ډسمبر تر شلمې پورې یې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



دوام وکړ. دغه پرېکون سبب شو چې د امریکا متحده ایالتونو ستره محکمه په الاباما کې د تور پوستو او سپین پوستو لپاره په بسونو کې د جلا ځایونو په اړه قانون لغوه کړي. د مونګومري د بسونو پرېکون د متحدو ایالتونو په سوېل کې د مدني حقونو غورځنګ لپاره ډېر ارزښت درلود. دا غورځنګ د هغو پېښو د لړۍ او بدلونونو یوه برخه وه چې بالاخره په سوېل کې د طلسم ماتېدو او په بنسټونو کې د اساسي بدلون لامل شو. لکه څرنګه چې په دولسم څپرکي کې مو ولیدل، په سوېلي ایالتونو کې ځمکوالو واکمنانو تر کورنۍ جګړې وروسته د پخوا په څېر د زبېښونکو سیاسي او اقتصادي بنسټونو پر بیا جوړولو لاس پورې کړ. که څه هم د دغو بنسټونو ځیني عناصر له منځه لاړل، لکه مریتوب منع شو، خو په جنوب کې یې پر اقتصادي انګېزو او هوساینې منفي اثرات پرېښودل. هغه مهال د امریکا جنوبي ایالتونه د نړۍ د یو شمېر نورو هېوادونو په نسبت په مراتبو بېوزله وو. خو په ۱۹۵۰ مه لسیزه کې د سوېلي ایالتونو په بنسټونو کې بدلون دغه سیمه د چټکې ودې په لور خوځوله. هغه زبېښونکې بنسټونه چې د امریکا په سوېل کې له منځه یووړل شول، د بوتسوانا تر خپلواکۍ مخکې زبېښونکو بنسټونو سره متفاوت و. هغه حساسه مقطعه چې د دې بنسټونو له منځه وړلو ته یې زمینه برابره کړې وه، هم متفاوته وه. خو په ورته وخت کې ترمنځ یې څو وجوهات هم وو. له ۱۹۴۰ مې لسیزې وروسته هغه کسان چې د زبېښونکو بنسټونو او تبعیض له اړخه ډېر زیانمن وو لکه روزا پارکس، د دې ناخوالو پر وړاندې د مبارزې لپاره تر پخوا لا ډېر منسجم او منظم شول. په ورته وخت کې د متحده ایالتونو سترې محکمې او فدرالي حکومت

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



بالاخره په سوېل کې د زبېښونکو بنسټونو د اصلاح او بدلون لپاره اقدامات پیل کړل. د جنوب سیاسي بنسټونو هم تر کورنۍ جګړې مخکې او هم وروسته، څرګند اقتصادي منطق درلود چې د سوېلي افریقا له اپارتایډ رژیم سره یې دومره توپیر نه و: سترو فارمونو او ځمکو ته د ارزانه کاري قوې برابرول. خو له ۱۹۵۰ مې لسیزې وروسته دغه منطق مخ په زوال شو، دلیل یې دا و چې د دویمې نړیوالې جګړې له امله له جنوب څخه د تور پوستو د مهاجرت پراخه لړۍ پیل شوې وه. په ۱۹۴۰ مې او ۱۹۵۰ مې لسیزه کې د یادو کډوالو شمېر په اوسط ډول ۱۰۰ زرو تنو ته رسېده. په ورته وخت کې په سوېل کې د کرنې په برخه کې د نوې ټکنالوژۍ ترویج په کروندو کې د ډېر کاري ځواک یا بشري قوې اړتیا ورځ تر بلې کموله. د سترو ځمکو زیاتره کروندګر به د پنبې ټولولو لپاره استخدامېدل. په ۱۹۵۰ کال کې د جنوب کابو ټوله پنبه د لاس په واسطه راټولېده. په ۱۹۶۰ کال کې د الاباما په لویو ښارونو، د لویزینا او میسیسي پي ایالتونو کې کابو له نیمایي زیات تولیدات میکانیزه شول. کله چې په جنوب کې د تور پوستو استثمار سخت شو، نو د سترو ځمکوالو تقاضا هم ورته کمه شوه او له همدې امله وه چې په جنوب کې واکمنې طبقې ته د زبېښونکو سیاسي بنسټونو د دوام لپاره پلمه له منځه لاړه. البته دا په دې معنا نه وه چې هغوی په خپله خوښه د بنسټونو بدلون ته غاړه ږدي، بلکې د فدرالي حکومت او د سوېل د تورپوستو یوه ایتلاف دې ته زمینه برابره کړه چې د استثمار پر وړاندې او د مدني ازادیو د خوندیتابه لپاره مبارزه وکړي، چې پایله کې په جنوب کې د اقتصادي ودې پر وړاندې پراته خنډونه له منځه یووړل شول. د بدلون او اصلاحاتو مهم خوځښت د

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



مدني حقونو له غورځنګ څخه سرچینه اخیسته. تور پوستو په جنوب او په ځانګړې توګه په مونګومري کې په خپل قوت او مبارزې سره وکولای شول چې زبېښونکي بنسټونه چلنج کړي او په دې برخه کې تر ټولو پیش قدمه شي. خو هغوی په دې کار کې یوازې نه وو، ځکه چې جنوب له متحده ایالتونو جلا نه و او د جنوب واکمنان د ګواتیمالا د واکمنې طبقې په څېر خپلواک نه و. جنوب د امریکا متحده ایالتونو د یوې برخې په توګه د امریکا د اساسي قانون او فدرالي قوانینو تابع و. بالاخره د امریکا سترې محکمې او حکومت په جنوب کې د بنسټیزو اصلاحاتو ملاتړ وکړ. د دې ملاتړ اغېز دا و، چې د مدني حقونو غورځنګ وکولای شول چې تر جنوبي ایالتونو هم د باندې غږ ورسوي او د فدرالي دولت له لوري یې په حرکت راولي. د جنوبي ایالتونو په بنسټونو کې بدلون او اصلاحات په ۱۹۴۴ کال کې د سترې محکمې تر پرېکړې وروسته د فدرالي دولت له لوري پیل شول. سترې محکمې په همدې کال کې هغه قانون لغوه کړ چې له مخې یې په جنوبي ایالتونو کې په مقدماتي ټاکنو کې یوازې سپین پوستو ګډون کولای شوای. په جنوب کې د بنسټونو د اصلاح په پروسه کې فدرالي قوانینو محوري رول ولوباوه. په ۱۹۵۷ کال کې د مدني حقونو د لومړني قانون د تصویب په غبرګون کې سټرام تارمونډ چې په جنوب کې د فدرالي حکومت د مداخلې مخالف و او بیا وروسته سناتور شو؛ ۲۴ ساعته او ۱۸ دقیقې یې له وقفې پرته اعتراضي ویناوې او غونډې وکړې، څو د قانون د تصویب مخه ونیسي او یا هم لږ تر لږه یې د تصویب پروسه وځنډوي. هغه په خپلو ویناوو کې د ازادۍ اعلامیې له لوستلو نیولې تر بېلابېلو

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



ټېليفونونو چې کول يې، د دې کار مخالفت وکړ، خو ځای يې ونه نيوه. د ۱۹۵۷ کال قانون په ۱۹۶۴ کال کې د مدني حقونو پر قانون بدل شو چې پر اساس يې په ټولو ايالتونو کې هر راز توکميز توپير غير قانوني اعلان شو. د ټاکنو په اړه د ۱۹۶۵ قانون د تور پوستو لپاره ټول هغه شرايط چې د رايې ورکونې لپاره ورته وضعه شوي وو، لکه- سواد لرل، د مالياتي توانايي او نور- لغوه شول. د دې قانون له مخې همدا راز پر ايالتي ټاکنو مرکزي دولت ته د لا ډېر نظارت حق ورکړل شو. دغه ټول بدلونونه د جنوبي ايالتونو په بنسټونو کې د اصلاحاتو او سمونو له برکته وو. مثلا؛ په ۱۹۶۰ کال کې په میسیسي پي کې يوازې ۵ سلنه پر شرايطو برابرو تور پوستو په ټاکنو کې ګډون کړی و، خو په ۱۹۷۰ کال کې دا شمېره ۵۰ سلنې ته ورسېده. په الاباما او کارولينا ايالتونو کې په ۱۹۶۰ کال کې ټولو ۱۰ سلنه رايه ورکوونکو په ټاکنو کې برخه اخيستې وه، په داسې حال کې چې په ۱۹۷۰ کال کې دا کچه ۵۰ سلنې ته لوړه شوه. په ټاکنيز نظام کې دغه بنسټيز بدلون په ملي او محلي کچه بدلونونه له ځان سره لرل. تر ټولو مهمه دا چې په جنوب کې د تبعيض اميزه او زبېښونکو بنسټونو د دوام په اړه د واکمن ډيموکراټ ګوند چې تارمونډ يې هم غړی و، دريځ بدل شو او هغه هم د دې بدلون ملګری شو. وروسته په اقتصادي بنسټونو کې د پراخو بدلونونو لپاره لار پرانيستل شوه. په ۱۹۶۰ مه لسيزه کې تر بنسټي بدلونونو مخکې په جنوب کې د نساجۍ فابريکو يوازې ۵ سلنه کارکوونکي تور پوستان وو، خو د مدني حقونو قانون دا نا انډوله وضعيت پای ته ورساوه. په ۱۹۷۰ کال کې دا کچه ۱۵ سلنې او په ۱۹۹۰ کال کې ۲۵ سلنې ته پورته شوه. په اقتصادي برخه کې د تور پوستانو پر وړاندې تبعيض مخ په

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



کمېدو شو، په تعلیمي برخو کې ورته اسانتیاوې او فرصتونه زیات شول او په پایله کې په جنوب کې د کار بازار رقابتي بڼه خپله کړه. په جنوب کې د پرانیستو بنسټونو په جوړېدو سره اقتصادي پرمختګونه هم چټک شول. په ۱۹۴۰ کال کې په جنوبي ایالتونو کې د سړي سر کلنی عاید د نورو ایالتونو په نسبت ۵۰ سلنه و، خو د ۱۹۴۰ مې لسیزې په پای او د ۱۹۵۰ مې لسیزې په سر کې په وضعیت کې بدلون راغی. د بوتسوانا په څېر د امریکا متحده ایالتونو کې هم د ستونزې د حل کیلي، د سیاسي او اقتصادي بنسټونو پرانیست کول و. په جنوبي ایالتونو کې دغه بدلون د زبېښونکو بنسټونو او د ډیموکراټانو د یو ګوندي نظام په پایله کې چې تورپوستي یې سخت کړولي او ځورولي وو، سر راپورته کړ. موجوده بنسټونو یو ځل بیا د بدلون مسیر په نښه کړ.

## د چین بیا ظهور

په چین کې د ماوو زیدونګ «Mao Zedong» په مشرۍ کمونېست ګوند بالاخره د شیانکای شېک په مشرۍ ملتپال رژیم را نسکور کړ او د اکتوبر په لومړۍ د «چین د خلکو جمهوریت» اعلان شو. په ۱۹۴۹ کال کې د چین نویو تاسیس شویو سیاسي او اقتصادي بنسټونو سخته زبېښونکې بڼه لرله. په سیاسي لحاظ، دغو بنسټونو د چین د کمونېست ګوند په اډانه کې دیکتاتورشیپه ځانګړنې لرلې. د کمونېستي نظام تر جوړېدو وروسته په چین کې بل هېڅ سیاسي سازمان او جوړښت ته د فعالیت اجازه ور نه کړل شوه. د ماوو تر مرګه پورې (۱۹۷٦) ټول کمونېست ګوند او دولت د هغه په انحصار کې و. د واک دغه ډول په چین کې سخت زبېښونکې سیاسي او

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



اقتصادي بنسټونه وزېږول. ماوو ډېر ژر ملکیتونه ملي کړل او د خصوصي مالکیت ټول ډولونه یې له منځه یوړل. نوموړي هغه ځمکوال او کسان چې د ده په نظر د نظام مخالف و، اعدام کړل. د بازار اقتصادي نظام چورلټ له منځه یووړل شو. د لرو پرتو سیمو خلک په اشتراکي کروندو او ځمکو کې بوخت کړل شول. پیسې او مزد پر «work points» بدل شول چې د توکو په بدل کې پرې راکړه ورکړه ترسره کېده. د سیاسي او اقتصادي فعالیتونو د کنټرول په موخه په ۱۹۵٦ کال کې د هېواد دننه د خلکو د راتګ لپاره پاسپورټونه جوړ شول چې هېچا د دولت له اجازې پرته په داخل کې چېرته سفر نه شوای کولای. ټولې صنایع په یوه بڼه ملي شوې او ماوو د یوه پنځه کلن پلان پر بنسټ چې له شوروي اتحاد څخه په تقلید جوړ شوی و، د صنعت د پراختیا هڅې پیل کړې. د ماوو رژیم چې پر زبېښونکو بنسټونو ولاړ و، هڅه کوله چې د هېواد سرچینې وزبېښي. په سیریلیون کې د بازار موندنې بورډ په څېر، د چین کمونېست ګوند د وریجو او حبوباتو په ګډون ټول کرنیز محصولات انحصار کړل، چې کروندګر یې تر سخت فشار لاندې راوستل. کمونېست ګوند د صنعتي کېدو تر لومړني پلان وروسته په ۱۹۵۸ کال کې د «لوی ټوپ مخ په وړاندې»[1] تر نامه لاندې دویم پنځه کلن پلان معرفي کړ. ماوو اعلان وکړ چې په هر کور کې د اوسپنې د کوچنیو تولیدي فابریکو په جوړېدو سره به د اوسپنې کلنی تولید دوه برابره شي. هغه ادعا وکړه چې چین به په راتلونکو پنځلسو کلونو کې د اوسپنې د تولید په برخه کې له برېټانیا مخکې شي. خو ستونزه دا

[1] Great Leap Forward

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

Downloaded By: Afghan Salar Library



وه چې دغه هدف ته د رسېدو لپاره هېڅ عملي پلان موجود نه و. دغه هدف ته د رسېدو لپاره د زړو اوسپنو را ټولولو ته اړتیا وه او خلک مجبور وو چې خپل لوښي او حتی کرنیز وسایل- لکه بېلچې او سپارې هم- د اوسپنې د تولید لپاره په فابریکو کې ویلې کړي. هغه کارګران چې ټاکل شوې وه په کروندو کې بوخت کړل شي، خپل کرنیز وسایل به یې ویجاړول او بیا یې په فابریکو کې ویلې کول. د ماوو دغې تګلارې د چین په کلیوالي سیمو کې ناورین زېږوونکې قحطي او لوږه خپره کړه. که څه هم ځیني پوهان دا پېښه هغه مهال په چین کې د رامنځته شوې وچکالۍ له امله ګڼي، خو پر دې هېڅوک سترګې نه شي پټولای چې د ماوو د «ستر خېز مخ په وړاندې» تګلارې له ۲۰ تر ۴۰ میلیونه انسانان د مرګ خولې ته ور کړل. موږ نه پوهېږو چې دا شمېر دقیقاً څومره و، ځکه د هغو ارقامو او معلوماتو را ټولولو ته اجازه نه وه چې د ماوو جنایتونه او ظلمونه یې بربنډول. په دې وخت کې د سړي سر کلنی عاید د پخوا په پرتله یو پر څلورمه برخه راټیټ شو. د لوی ټوپ مخ په وړاندې تګلارې یو اغېز دا و، چې د «دینګ شیاپونګ» په څېر کسانو چې د کمونېست ګوند د انقلاب پر مهال یو بریالی جنرال ګڼل کېده او خپل ګڼ کینې اړخي مخالفین یې اعدام کړي وو، خپل دریځ بدل کړ. هغه په ۱۹۶۱ کال کې د چین په ګوانژو کې یوې غونډې ته وویل:«مهمه نه ده چې پیشو توره ده او که سپینه، ښه پیشو هغه ده چې موږک ونیولی شي.»

دا مهمه نه وه چې تګلارې کمونېستي بڼه لرله او که نه؛ بلکې چین داسې تګلارو ته اړتیا لرله چې تولید یې تشویق او خلک یې ماړه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



کړي وای. دینګ ډېر ژر خپلې څرګندونې عملاً په سترګو ولیدې. د ۱۹٦٦ کال د مې پر شپاړسمه ماوو اعلان وکړ چې انقلاب د «بورژوا» له لوري چې غواړي د چین کمونېستي ټولنه رنګه او پانګوالي رامنځته کړي، تر ګواښ لاندې دی. هغه یې په غبرګون کې لوی پرولتاریایي کلتوري انقلاب چې د «کلتوري انقلاب» په نامه پېژندل کېده، اعلان کړ. کلتوري انقلاب شپاړس مهم ټکي لرل، چې لومړی یې داسې و:«که څه هم بورژوا اوس له منځه تللې، خو لا هم هڅه کوي چې د خپلو زړو افکارو، دودونو او د استثمارګرې طبقې د عاداتو له لارې خلک فاسد کړي، د هغوی ذهنیت بدل کړي او لاس و پښې اچوي چې بیا صحنې ته راشي. پرولتاریا باید ویښ اوسي او د هغوی پر وړاندې مبارزه وکړي: دا طبقه باید له ایډیالوژیک پلوه د بورژوازۍ د شته ناخوالو له امله وننګول شي او د ټولنې د بدلون لپاره د پرولتاریا نوي افکار، دودونه، کلتورونه او عادتونه خپل کړي. په اوس وخت کې زموږ هدف دا دی چې په واک کې د واکمنو کپیټلېستانو پر وړاندې مبارزه وکړو او نابود یې کړو، د بورژوازي اکاډمیکې او ایډیالوژیکې ریښې نقد او وچې کړو، ټول استثمارګر طبقات له منځه یوسو، تعلیمي نظام، ادبیات، هنرونه او ټول هغه بنیادي جوړښتونه چې د سوسیالېستي اقتصاد اړتیاوې نه شي ځوابولی، باید نابود کړل شي، څو په دې توګه د یوې سوسیالېستي ټولنې منل کېدو او رامنځته کېدو ته لار پرانېستل شي.»

کلتوري انقلاب هم ډېر ژر د 'لوی ټوپ مخ په وړاندې' تګلارې په څېر پر اقتصاد او انساني ژوند ویجاړوونکې اغېزې وکړې. په ټول

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



هېواد کې د سور ګارډ ډلګۍ[1] جوړې شوې: د کمونېست ګوند هغه ځوان او علاقمند غړي چې د رژیم مخالفین به یې تصفیه کول. ګڼ کسان ونیول شول، ووژل شول او یا هم لرې سیمو ته تبعید کړل شول. ماوو به په هېواد کې د پراخېدونکي تاوتریخوالي په اړه اندېښنو ته په ځواب کې ویل:«دا هټلر سړی حتی تر دې هم وحشي و. ډېر وحشي. ایا همداسې فکر نه کوئ؟ څومره چې ډېر وژلی شې، هغومره ښه انقلابي یې.»

دینګ د کپیټلېست په تور په ۱۹٦۷ کال کې بندي شو او بیا په ۱۹٦۹ کال کې جیانګ شي ولایت ته تبعید او هلته د ټراکټور جوړونې په یوه فابریکه کې استخدام شو. په ۱۹۷۴ کال کې د نوموړي د حیثیت اعاده وشوه او لومړي وزیر ژو اینلای، ماوو وهڅاوه چې دینګ د لومړي وزیر مرستیال وټاکي. په ۱۹۷۵ کال کې دینګ ته د دریوو مهمو ګوندي سندونو د چمتو کولو چارې ور وسپارل شوې چې په اجرا کېدو سره یې نوي بدلونونه رامنځته کېدل. په دې بدلونونو کې د لوړو زده کړو بیا احیا، د صنعت او کرنې په سکتورونو کې د مادي انګېزو هڅول او له ګوند څخه د کیڼ اړخو شړل شامل و. په دې وخت کې د ماوو روغتیایي حالت ناوړه شو او قدرت په زیاتېدونکي بڼه د چپیانو لاس ته پرېوت، کوم چې دینګ شیاپونګ له واک څخه د هغوی د شړلو تصمیم درلود. د ماوو مېرمن جیانګ کینګ او هغې ته درې نور نږدې کسان چې د «څلور کسیز بانډ» په نامه یادېدل، د کلتوري انقلاب او د هغه په ملاتړ د مخالفینو د ځپلو کلک ملاتړي وو. هغوی علاقمند وو چې د کمونېست ګوند

[1] Units of Red Guards

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



تر دیکتاتورۍ لاندې دغې تګلارې ته دوام ورکړي. د اپرېل په پنځمه د 'تیان من' په میدان کې د 'ژو اینلای' د نمانځنې خود جوشه مراسم د حکومت ضد اعتراضاتو باندې بدل شول. څلور کسیز باند د لاريون ملامتيا پر دينګ واچوله او یو ځل بیا ټول واکونه ترې واخیستل شول او ګوښه شو. د دې پر ځای چې دینګ له نظام څخه کینې اړخي ګوښه کړي، هغه په خپله د کينې اړخو له لوري پر کور کېنول شو. د ژو اینلای تر مړينې وروسته ماوو د دينګ پر ځای هوا ګوفينګ د سرپرست لومړي وزير په توګه وټاکه. په ۱۹۷٦ کال کې د واک د نسبي خلا په ترڅ کې هوا له فرصت څخه په استفادې خپل ځان او قدرت غښتلي کړل. د همدې کال په سپټمبر کې یوه حساسه مقطعه رامنځته شوه: د ماوو مرګ. د چين کمونېست ګوند د ماوو تر سلطې لاندې و، چې لوی ټوپ مخ په وړاندې او کلتوري انقلاب يې د حکومت لوی ابتکار و. د ماوو په مړينې سره د واک ربښتينې تشه رامنځته شوه او دا پېښه په ګوند کې د هغو کشمکشونو او اختلافونو پایله وه چې د موجوده وضعيت د عواقبو په اړه يې بېلابېل ليدلوري او باورونه لرل. څلور کسيز باند په واک کې د خپل ځان او کمونېست ګوند د پاتې کېدو لپاره د کلتوري انقلاب د تګلارې دوام غوښت. هوا ګوفينګ غوښتل چې له کلتوري انقلاب څخه ځان جلا کړي، خو له هغه فاصله نیول ورته ستونزمن و ځکه چې نوموړي په دولت کې دغه مقام ته د رسېدو لپاره ځان د همدې انقلاب پوروړی باله. هغه د ماوو د ليدلوري پر ځای د یوه نوي منځلاري ليدلوري پلوی و. لکه څرنګه چې په ۱۹۷۷ کال کې د چين کمونېست ګوند خپرونې «د خلکو ورځپاڼې» وليکل، هغه ټوله خبره په دوه ځله د «هر هغه څه» جمله کې خلاصه کړه. هوا وویل:«موږ به 'هر هغه څه' چې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



د مشر ماوو پرېکړه او تګلاره وه او 'هر هغه څه' چې د مشر لارښوونې وې، هغه به عملي او تعقیبوو.»

دینګ شیاپونګ هم د هوا په څېر د کمونېستي رژیم له منځه وړل او پر ځای یې پرانیستو بازارونو سمبالول نه غوښتل. دی هم د هغو کسانو له ډلې و چې د کمونېستي انقلاب له برکته واک ته رسېدلی و، خو هغه او ملګري یې په دې باور وو، چې بې له دې چې سیاسي واک ته یې خطر پېښ شي، کولای شي چې اقتصادي پرمختګ ته لار هواره کړي: له دې کبله چې د چین د خلکو اقتصادي ژوند سخت بدلون ته اړتیا لرله او له بل پلوه د ماوو د واکمنۍ او کلتوري انقلاب په ترڅ کې د کمونېست ګوند ټول مخکښ مخالفین ځپل شوي او ځورول شوي وو، هغوی تر زیېښونکو بنسټونو لاندې د اقتصادي ودې د داسې طرحې عملي کول غوښتل چې واک ته یې زیان و نه رسېږي. دې هدف ته د رسېدو لپاره هغوی باید نه یوازې له کلتوري انقلاب، بلکې د ماوو له میراثي بنسټونو سره هم مخه ښه کړې وای. هغوی درک کړې وه چې اقتصادي وده یوازې د پرانیستو بنسټونو په وجود کې شونې ده. له همدې امله یې د اقتصادي نظام د اصلاح او د بازار د هڅوونکو عواملو د پیاوړتیا غوښتنه کوله. هغوی دغه راز غوښتل چې د خصوصي مالکیت حقونه پراختیا ومومي، په ټولنه او اداراتو کې د کمونېست ګوند رول کم شي او بالاخره د طبقاتي مبارزې له مفاهیمو څخه خلاصون ومومي. د دینګ ډلې هم د بهرنۍ پانګونې او سوداګرۍ ملاتړ کاوه او له نړیوال اقتصاد سره د همغږۍ کېدو لپاره د جسورانه پالیسیو غوښتونکې وه. خو په مخ کې پراته خنډونه زیات وو. د پرانیستو اقتصادي بنسټونو جوړول او د

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



کمونېست گوند له منگولو د اقتصاد را خلاصول لا د پلان برخه نه وه. د هوا گوفینگ د واک پیاوړتیا او د ځلور کسیز بانډ پر وړاندې د دې واک کارول د چین لپاره د عطف ټکی و. د ماوو تر مړینې یوه میاشت وروسته هوا د ځلور کسیز بانډ پر وړاندې کودتا وکړه او هغوی یې ونیول. هغه د ۱۹۷۷ کال په مارچ کې دینگ بېرته خپل پخواني مقام ته راوست. دا او په راتلونکې کې نور بدلونونه یو انکار نه منونکی حقیقت و. دینگ د کلتوري انقلاب پر وړاندې ښکاره مخالفت پیل کړ او هغه کسان یې چې د ده په څېر ځورول شوي وو، د کمونېست گوند مهمو پوستونو ته راوستل. هوا لا هم په کلتوري انقلاب کې نښتی و. نوموړی تازه د واک مرکزیت ته رسېدلی و او لکه څرنگه چې دینگ د کلونو په اوږدو کې د اړیکو رسمي او غیر رسمي شبکې جوړې کړې وې، هوا په دې برخه کې کمزوری و. دینگ په خپلو ویناوو کې د هوا پر سیاستونو نیوکې پیل کړې. د ۱۹۷۸ کال په سپټمبر کې هغه په ښکاره ډول د «دوه هر هغه څه» پر اصطلاح نیوکه وکړه او ویې ویل؛ «د دې پر ځای چې د ماوو کړنې د خپلې تگلارې اساسات وگرځوو، سمه لار دا ده چې له باورونو څخه حقایقو ته لاړ شو.»

دینگ عامه افکار د هوا پر ضد کړل او په چین کې دغه نوی تحول په ۱۹۷۸ کال کې د «ولسواکۍ دېوال غورځنگ» په نوم په یوه پیاوړې حرکت کې لا ښه منعکس او وځلېد. د دې حرکت له لارې خلکو د خپل هېواد د وضعیت په اړه په پوسټرونو کې لیکل شوي شکایتونه او اعتراضونه په بېجنگ کې پر یوه دېوال وځړول. د ۱۹۷۸ کال په جولای کې د دینگ یوه نږدې ملاتړي 'هو قیامو' د اقتصادي اصلاحاتو ځیني اصول وړاندې کړل. د دې اصولو له مخې شرکتونو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



ته لا ډېر واکونه او د عمل ابتکار ورکول کېده، تر څو د خپلو تولیداتو په اړه په خپله تصمیم ونیسي. همدارنګه د یادو اصولو پر بنسټ بازار ته باید اجازه ورکړل شي چې بیې د عرضې او تقاضا پر بنسټ وټاکي، نه دا چې د دولت له لوري تنظیم شي او همدارنګه پر اقتصاد وضع شوي دولتي مقررات باید په لویه کچه محدود شي. که څه هم دا وړاندیزونه هغه وخت ډېر افراطي برېښېدل، خو دینګ شیاپونګ دا خطر پر ځان ومانه. د ۱۹۷۸ کال په نومبر او ډسمبر کې د ګوند د مرکزي کمېټې په یوولسم پولنیوم «غونډه» کې برخلیک ټاکوونکې پرېکړه وشوه. د هوا له مخالفتونو سره سره، پرېکړه وشوه چې ګوند به تر دې وروسته د طبقاتي مبارزې پر ځای خپل ټول پام د اقتصادي موډرنیزېشن لور ته ور اړوي. د ګوند پولنیوم په یو شمېر ولایتونو کې د «کورنیو ځواب ویونکی ازمایښتي سیستم» پلی کړ، چې له مخې یې د اشتراکي کرنې پر ځای خلکو ته د کښت او تولید په برخه کې تشویقي پروګرامونه معرفي شول. کال وروسته مرکزي کمېټې د دینګ 'له باورونو حقایقو ته' تګلاره په رسمیت وپېژنده او اعلان یې وکړ چې کلتوري انقلاب د چین د خلکو لپاره یو ستر ناورین و. دینګ په دې موده کې په ګوند، پوځ او دولت کې د خپلو ملاتړو د ګومارنې لړۍ جاري ساتلې وه. که څه هم نوموړي باید په تدریجي توګه د ګوند مرکزي کمېټه د هوا له پلویانو تصفیه کړې وای، خو د هغه دا کار د دوو موازي قدرتونو د رامنځته کېدو سبب شو. په ۱۹۸۰ کال کې هوا د صدارت له مقامه ګوښه کېدو ته اړ ایستل شو او پر ځای یې ژو زیانګ راغی. هوا په ۱۹۸۲ کال کې له مرکزي کمېټې هم لرې کړل شو. خو دینګ یوازې په همدې بسنه و نه کړه.

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



په ۱۹۸۲ کال کې د گوند د دولسمې کنگرې او بیا د ۱۹۸۵ کال په ډسمبر کې د گوند د ملي کنفرانس له لارې نوموړی وتوانېد چې په کمونېست گوند کې د مشرتابه او جگپوړو کادرونو په کچه بشپړ او بنسټیز اصلاحات رامنځته کړي. گوند ته نوي ځوان کدرونه چې سمون پاله افکار یې لرل، راوستل شول. که ۱۹۸۰ کال له ۱۹۸۵ سره پرتله کړو، د پولیټبیرو یا د گوند دفتر له ۲٦ غړو څخه ۲۱ تنه، د گوند سکرتریت له ۱۱ غړو څخه ۸ تنه او د لومړي وزیر له ۱۸ مرستیالانو څخه ۱۰ یې بدل شوي وو. اوس چې دینگ او د هغه سمونپاله ملگرو سیاسي انقلاب بریالیتوب ته ورساوه او پر ټول دولت یې ولکه ټینگه کړه، په اقتصادي بنسټونو کې یې د اصلاحاتو لړۍ پیل کړه. لومړی یې د کرنې له سکتوره پیل کړه: په ۱۹۸۳ کال کې د 'هو قیامو' د طرحې له مخې د کورنیو ځواب ویونکی سیستم چې خلک یې کنبت ته هڅول، په ټول هېواد کې عملي شو. په ۱۹۸۵ کال کې د غلو دانو د پېرلو دولتي سیستم لغوه او ځای یې د داوطلبو قرادادونو سیستم ونیو. په همدې کال کې د کرنیزو محصولاتو د بیو دولتي کنټرول کې د پاموړ کموالی راغی. په ښاري اقتصاد کې دولتي تصدیو ته ډېر واکونه ورکړل شول او د بهرنۍ پانگونې د جذب لپاره 'څلور پرانیستي ښارونه' معرفي شول. لومړی کلیوالي اقتصاد په حرکت راغی. د کرنې په سکتور کې د تشویقوونکو پروگرامونو د عملي کېدو له لارې د کرنیزو تولیداتو د گټمنتیا کچه خورا لوړه شوه. سره له دې چې په ۱۹۸۴ کال کې لږ شمېر خلک په کرنه کې بوخت وو، خو د ۱۹۷۸ کال په پرتله په دې کال کې د غلې حاصلات یو پر درې زیات شول. زیاتره کسانو په کلیو کې پانگونې ته مخه کړه. کله چې له ۱۹۷۹ کال وروسته نویو

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



شرکتونو ته له دولتي هغو سره د رقابت اجازه ورکړل شوه، د کلیوالي سیمو پانګوالو ته هم حق ورکړل شو چې د دولت صنعتي پلان جوړوني سیستم څخه بهر وده او فعالیت وکړي. د صنعت په سکتور کې هم په تدریج سره اقتصادي تشویقوونکي پروګرامونه عملي شول، په ځانګړې توګه د دولت تر کنټرول لاندې فابریکو لپاره. په دې مرحله کې د خصوصي سازۍ په برخه کې کوم پرمختګ نه تر سترګو کېده او دغه پروسه د ۱۹۹۰ یمې لسیزې تر نیمایي پورې وغځېده. له سختو زبېښونکو بنسټونو څخه د جلا کېدو او د پرانیستو بنسټونو په لور د حرکت پر مټ، چین یو ځل بیا ظهور وکړ. د کرنې، صنعت، بهرنۍ پانګونې او ټکنالوژۍ په برخو کې د هڅوونکو پروګرامونو تطبیق، چین د چټکې اقتصادي ودې پر مسیر ور برابر کړ. لکه څرنګه چې په راتلونکي فصل کې به پرې وغږېږو، که څه هم دا دوره د کلتوري انقلاب په څېر ځپونکې نه وه او د اقتصادي بنسټونو یو شمېر برخې پرانیست شوې وې، خو دا وده د زبېښونکو سیاسي بنسټونو تر سیوري لاندې وه. خو دغو ټولو بدلونونو ته باید په کمه سترګه ونه کتل شي. که چین سیاسي بنسټونه بدل نه کړل، خو طلسم یې مات کړ. د بوتسوانا او د امریکا متحدو ایالتونو د جنوب په څېر په چین کې هم د ماوو تر مړینې وروسته د تاریخ حساسه مقطعه رامنځته شوه. دلته هم د تاریخ پېښېدونکې واقعات و، په حقیقت کې ژور پېښېدونکې واقعات؛ ځکه چې په واک کې د پاتې کېدو لپاره د څلور کسیز باند مبارزه یوه انکار نه منونکې پېښه وه او که مات شوی نه وای، چین به اوس هغې اقتصادي ودې ته چې په تېرو دریوو لسیزو کې یې تجربه کړې، نه وای رسېدلی. دا هم د یادولو وړ

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



ده چې 'لوی ټوپ مخ په وړاندې' او 'کلتوري انقلاب' هم په چین کې بدلون ته تلوسه زیاته کړه، چې دینګ شیاپینګ او د هغه ملګري یې د سیاسي مبارزې ګټونکي کړل. د بوتسوانا، چین، د امریکا جنوبي ایالتونو د برېټانیا پرتمین انقلاب، د فرانسې انقلاب او په جاپان کې د امپراتور میجي د بیا راستنېدو پېښې په ښکاره جوتوي چې تاریخ له وړاندې لیکل شوی تقدیر نه دی. پر خبیثه کړۍ سربېره، زبېښونکي بنسټونه کېدای شي چې پر پرانیستو هغو بدل شي، خو دا کار نه په خپل سر کېږي او نه هم اسانه دی. د پرانیستو بنسټونو په لور د حرکت لپاره یوه ملت ته د بېلابېلو فکټورونو ګډوله او په ځانګړې توګه د بدلون لپاره له ستر ایتلاف سره مل حساسه مقطعه یا د اغېزناکو بنسټونو موجودیت ډېر اړین دي. د دې ترڅنګ، بخت هم مهم دی، ځکه چې تاریخ تل خپلې پانې په ناڅاپي ډول اړوي.

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



# پنځلسم څپرکی

## د هوساینې او بېوزلۍ په اړه پوهېدل

### تاریخي ریښې

نن ورځ د نړۍ په بېلابېلو برخو کې د خلکو د ژوندانه د معیارونو ترمنځ ستر او ژور توپیرونه وجود لري. د افریقا د جنوبي صحرا، د سوېلي اسیا او د مرکزي امریکا د اکثریت وګړو په پرتله د امریکا متحده ایالتونو حتی بېوزله وګړي هم ورځنی عاید لري او روغتیایي خدمتونو، زده کړو، عامه خدمتونو او اقتصادي او ټولنیزو فرصتونو ته لاسرسی لري. د سوېلي او شمالي کوریا، د دوو نوګالسونو او د متحده ایالتونو او مکسیکو ترمنځ توپیرونه چې په تېرو فصلونو کې پرې وغږېدو، د نا انډولۍ نسبتاً نوې پېښې دي. مکسیکو پنځه سوه کاله مخکې د ازتېک دولت د ټاټوبي په توګه، د خپلو شمالي ګاونډیو په پرتله خورا شتمن هېواد و او د امریکا متحده ایالتونه تر نولسمې پېړۍ پورې له مکسیکو سره د سیالۍ جوګه نه و. حتی د دوه نوګالس ښارونو ترمنځ توپیرونه ډېره اوږده مخینه نه لري. کله چې تر دویمې نړیوالې جګړې وروسته کوریا د ځمکې په ۳۸ درجو کې پر دوو برخو ووېشل شوه، د شمالي او سوېلي کوریاګانو تر منځ هغه اقتصادي، ټولنیز او کلتوري توپیرونه چې اوس یې وینو، هغه وخت هېڅ نه و. دغه ستر اقتصادي توپیرونه چې اوس یې د نړۍ په بېلابېلو برخو کې وینو، په تېرو ۲۰۰ کلونو کې رامنځته شوي دي. ایا دغه توپیرونه ضرور باید رامنځته شوي وای؟ ایا دا په تاریخي، جغرافیایي، کلتوري او یا قومي لحاظ له وړاندې ټاکل شوی

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



برخلیک و چې لوېدیځه اروپا، متحده ایالتونه او جاپان د افریقا جنوبي صحرا، لاتیني امریکا او چین په پرتله په تېرو ۲۰۰ کلونو کې خورا شتمن شول؟ ایا په اتلسمه پېړۍ کې په برېټانیا کې د صنعتي انقلاب رامنځته کېدل او بیا لوېدیځې اروپا، د اروپا ځینو نورو برخو، شمالي امریکا او استرالیا ته د دې انقلاب خپرېدل یوه حتمي او انکار نه منونکې پېښه وه؟ ایا دا نړیوال تصور چې که پرتمین او صنعتي انقلابونه په پیرو کې رامنځته شوي وای او بیا پیرو لوېدیځه اروپا اشغال او سپین پوستي یې په مریتوب کې اخیستي وای، امکان لري او که یوازې یوه علمي افسانه ده؟

دغو پوښتنو ته د ځواب ویلو لپاره موږ یوې داسې تیورۍ ته اړتیا لرو چې دا ځواب کړي، ولې یو شمېر ملتونه شتمن او ځیني نور ناکام او بېوزله دي. دا تیوري باید د اقتصادي هوساینې رامنځته کوونکي او د هغې ټکني کوونکي عوامل او همدارنګه د هغې تاریخي ریښې روښانه کړي. په دې کتاب کې همدغسې یوه تیوري وړاندې شوې. هره ټولنیزه پدیده، له دې جملې په نړۍ کې د موجوده اقتصادي او سیاسي توپیرونو د ریښو په اړه پوهېدل احتمالاً ګڼ عوامل لري، چې دغه کار د ټولنیزو علومو پوهان هڅوي، څو د یو علتي «(Monocausal)»، ساده او په لویه کچه کارېدونکو تیوریانو له وړاندې کولو ډډه وکړي او پر ځای یې د ظاهراً مشابه نتایجو لپاره چې په مختلفو وختونو او ځایونو کې رامنځته شوي دي، د وضاحت او روښانتیا په لټه کې شي. خو موږ د دې پر ځای یوه ساده تیوري وړاندې کړې چې د 'نوې ډبرې انقلاب' څخه تر اوسه د نړۍ په بېلابېلو برخو کې د سیاسي او اقتصادي پراختیا اړونده مسایل څېړي. ساده په دې معنا نه چې ګڼې دغه تیوري هر څه واضح او په

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



ځان کې رانغاړي، بلکې په دې باور یوو چې یوه تیوري موږ ته دا فرصت په لاس راکوي چې پر عمده مشابهتونو تمرکز وکړو، که څه هم دا کار ځیني وخت کېدای شي چې د په زړه پورې جزییاتو په نه وړاندې کولو تمام شي. په دې توګه، حتمي نه ده چې یوه بریالۍ تیوري جزییات وړاندې کړي، بلکې د پېښو د توضیح لپاره یو ګټور او له تجربو ډک چوکاټ برابروي او د دې ترڅنګ په پېښو کې فعال لوبغاړي او قوتونه هم په ډاګه کوي. زموږ په تیورۍ کې هڅه شوې چې په دې اړه پر دوو استقامتونو بحث وکړو. د بحث لومړی استقامت مو د زبېښونکو او پرانیستو سیاسي او اقتصادي بنسټونو ترمنځ توپیر په ډاګه کول دي. دویم بحث دا دی چې ولې د نړۍ په یو شمېر سیمو کې پرانیستي بنسټونه رامنځته شول او په نورو کې نه. په داسې حال کې چې زموږ د تیورۍ لومړۍ برخه د بنسټونو د تاریخي شالید سپړنه او تفسیر دی، دویمه برخه پر دې راڅرخي چې تاریخ څنګه د ملتونو بنسټي مسیر ته شکل ورکړ. د پرانیستو اقتصادي او پرانیستو سیاسي بنسټونو او د هوساینې ترمنځ اړیکه زموږ د تیورۍ محور جوړوي. پرانیستي اقتصادي بنسټونه چې د مالکیت د حقونو ملاتړ کوي، د لوبې یو هوار میدان رامنځته کوي او د ټکنالوژۍ او مهارتونو په برخه کې پانګونه هڅوي. دا ډول بنسټونه د زبېښونکو اقتصادي بنسټونو په پرتله چې یوه کوچنۍ ډله د اکثریت سرچینې زبېښي او د مالکیت حقونه په یو نا خوندي لوري بیایي، ګټور دي. پرانیستي اقتصادي بنسټونه په خپل وار د پرانیستو سیاسي بنسټونو ملاتړ کوي او برعکس پرانیستي سیاسي بنسټونه، پرانیستي اقتصادي بنسټونه حمایه کوي او دا هغه بنسټونه دي چې واک په

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



ټولنه کې په پراخه کچه وېشي او د سیاسي مرکزیت یا سنټرالیزېشن امکان برابروي چې دغه اړتیا د قانون او نظم د ټینګښت، د مالکیت خوندي حقونو او پرانیستي اقتصادي مارکېټ د رامنځته کولو لپاره مهمه بلل کېږي. په عین بڼه زبېښونکي اقتصادي بنسټونه له زبېښونکو سیاسي بنسټونه سره اړیکه لري. دغه بنسټونه واک د یوې کوچنۍ ډلې په لاس انحصاروي او دغه ډله دې ته هڅول کېږي چې د خپلو ګټو د پایښت لپاره زبېښونکي اقتصادي بنسټونه پر خپل ځای وساتي او له دې بنسټونو څخه ترلاسه کېدونکي عواید او سرچینې په واک کې د پاتې کېدو لپاره وکاروي. دغه تمایلات په دې معنا نه دي چې زبېښونکي سیاسي او اقتصادي بنسټونه له اقتصادي ودې سره همغاړیتوب نه لري، بلکې هره واکمنه ډله هڅه کوي چې اقتصادي وده تشویق کړي تر څو لا ډېر زبېښاک او استثمار ته زمینه برابره کړي. هغه زبېښونکي بنسټونه چې له سیاسي مرکزیت څخه برخمن دي، کولای شي چې یوه اندازه اقتصادي وده رامنځته کړي. هغه څه چې په دې اړه ډېر د پاموړ دي، هغه د زبېښونکو بنسټونو په چوکاټ کې د ودې بې ثباته حالت دی، چې دوه عمده عوامل لري: لومړی؛ دوامداره او با ثباته وده ټکنالوژیکي نوښتونو ته اړتیا لري او ټکنالوژیکي نوښتونه بیا له خلاق تخریب پرته امکان نه لري. دا هغه څه دي چې په اقتصادي ډګر کې زوړ پر نوي بدلوي او په سیاسي ډګر کې د موجوده واکمنې ډلې پر وړاندې حالات د بې ثباتۍ خوا ته بیایي. دا چې پر زبېښونکو بنسټونو واکمنه کړۍ له خلاق تخریب څخه وېره لري او د دې پروسې پر وړاندې مخالفت کوي، نو له همدې امله د زبېښونکو بنسټونو په اډانه کې به هر راز اقتصادي وده لنډ عمر ولري. دویم دا چې زبېښونکي بنسټونه واک ته د رسېدو

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



تلوسه او انگېزه نوره هم زیاتوي او دا کار د دې لامل کېږي چې گڼې ډلې ټپلې د واک ترلاسه کولو لپاره جگړې او مبارزې ته متې ور بډ وهي. په پایله کې، پر زیېښونکو بنسټونو باندې واکمنې ډلې ټولنه د سیاسي بې ثباتۍ لور ته ور ټېل وهي. د زیېښونکو سیاسي او اقتصادي بنسټونو ترمنځ اړیکه او همغږي خبیثه کړۍ زېږوي او کله چې په دغسې حالت کې زیېښونکي بنسټونه ځان سمبال کړي، بیا علاقه لري چې خپل موجودیت ته دوام ورکړي. بلخوا سپېڅلې کړۍ بیا له پرانیستو سیاسي او اقتصادي بنسټونو سره ملگرتیا کوي، خو نه خبیثه کړۍ او نه هم سپېڅلې کړۍ مطلق دي. په حقیقت کې نن ورځ یو شمېر ملتونه ځکه له پرانیستو بنسټونو برخمن دي چې د زیېښونکو بنسټونو نورم او طلسم یې مات او د پرانیستو بنسټونو په لور یې د انتقال او حرکت پروسه پیل کړه. زموږ بحث د بنسټونو د همدغه تاریخي انتقال په اړه دی، خو دا انتقال د تاریخ له وړاندې ټاکل شوی برخلیک نه دی. د اقتصادی بدلونونو لپاره د بنسټونو د بدلون پروسه د موجوده بنسټونو او حساسې مقطعې ترمنځ د چلند یا تعامل نتیجه ده. حساسې مقطعې هغه مهمې پېښې دي چې په یوه ټولنه کې موجوده سیاسي او اقتصادي بیلانس یا توزان گډوډوي؛ لکه د څوارلسمې پېړۍ په ترڅ کې په اروپا کې د طاعون ناروغۍ خپرېدل چې نیمایي نفوس یې له منځه یووړ؛ یا همدارنگه په اتلانتیک کې د تجارتي مسیرونو رامنځته کېدل چې په لوېدیځه اروپا کې یې د گڼو ملتونو لپاره گټور او عظیم فرصتونه را وټوکول؛ یا هم صنعتي انقلاب چې په نړۍ کې یې د چټک پرمختگ لپاره ظرفیتونه او په عین حال کې په اقتصادي جوړښتونو کې یې ننگوونکي

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



بدلونونه وزېږول. د نړۍ د هېوادونو ترمنځ بنسټي توپیرونه د هغوی د تېرو بنسټي بدلونونو نتیجه ده. ولې د نړۍ د ملتونو د بنسټي بدلون مسیرونه له یو بل سره توپیر لري؟ ځواب یې 'بنسټي جلا کېدنه' دی. لکه څرنګه چې د تکامل په عملیه کې د ناڅاپي بدلون له امله د یوه ژوندي موجود جینونه سره جلا کېږي، دوه مشابه ټولنې هم په بنسټي لحاظ له یو بله جلا او فاصله نیسي. په ټولنو کې د واک او شتمنۍ د ترلاسه کولو لپاره د بنسټونو پر سر غیر مستقیمې شخړې همېشنۍ دي. دغه شخړې غالباً د پېښو په نتایجو پورې مشروطې وي، ولو که د لوبې میدان د یوې ځانګړې ډلې لپاره ډیزاین شوی هم وي. د دې شخړو نتیجه د بنسټونو جلا کېدل دي، خو حتمي نه ده چې په دې پروسه کې ظاهراً لوی بدلونونه را څرګند شي، یعنې په ځینو برخو کې را څرګند شوي کوچني توپیرونه به د وخت په تېرېدو سره، لوی نه شي، بلکې برعکس؛ لکه څرنګه چې په شپږم څپرکي کې مو د روم امپراتورۍ پر مهال د برېتانیا په اړه په بحث کې ولوستل، کوچني توپیرونه را څرګند او بېرته ورکېږي او بیا وروسته بیا را څرګندېږي. کله چې یوه حساسه مقطعه سر راپورته کوي، کوچني توپیرونه چې د بنسټي جلا کېدنې په پایله کې رامنځته شوي دي، ښایي هغه کوچني توپیرونه وي چې د ژورو توپیرونو په لور د ټولنو په بیولو سره چې د نورو اړخونو په لحاظ سره ډېر نږدې مشابهتونه لري، مهم کېږي. په اووم او اتم څپرکو کې مو ولیدل چې د برېتانیا، فرانسې او هسپانیا ترمنځ پر ګڼو مشابهتونو سربېره، په اتلانتیک کې رامنځته شوې حساسې مقطعې د کوچنیو توپیرونو له امله پر برېتانیا بدلوونکې اغېزې وکړې. دا توپیرونه په دې معنا و چې د پنځلسمې او شپاړسمې پېړیو په ترڅ کې په برېتانیا کې د رامنځته شویو پرمختګونو

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



له امله، پاچا پر بهرنۍ سوداګرۍ انحصار له لاسه ورکړ، په داسې حال کې چې په فرانسې او هسپانیا کې تجارت په لویه کچه د پاچا او واکمنې طبقې په انحصار کې و. په نتیجه کې په فرانسې او هسپانیې کې د اتلانتیک د سوداګرۍ او استعماري پراختیایي غوښتونکو سیاستونو له ګټو او امتیازونو یوازې شاهي کورنۍ او د هغوی ملاتړي برخمن وو، په داسې حال کې چې په برېتانیا کې د دې حساسې مقطعې په جریان کې له رامنځته شویو اقتصادي فرصتونو څخه د پاچا مخالفینو ګټه پورته کړه. که څه هم بنسټي جلا کېدنه کوچني توپیرونه رامنځته کوي، له حساسې مقطعې سره چلند او تعامل پر ژورو بنسټي توپیرونو تمامېږي او په دې توګه دغه توپیرونه بیا نورو ډېرو توپیرونو ته لار پرانېزي چې راتلونکې حساسې مقطعې به پرې تاثیر ولري. تاریخ کلیدي رول لري، ځکه چې دا تاریخي پېښې دي چې د بنسټي جلا کېدنې له لارې داسې توپیرونه رامنځته کوي چې د حساسې مقطعې په جریان کې مهم نتایج وړاندې او مهمې پرېکړې کوي. حساسې مقطعې په خپله د تاریخ د عطف ټکي دي او پر سپېڅلې او خبیثه کړۍ د پوهېدو لپاره باید تاریخ مطالعه کړو، څو د هغو بنسټي بدلونو د ماهیت په اړه پوه شو چې د تاریخ په اوږدو کې رامنځته شوې دي. خو زموږ تیوري د «تاریخ جبر»[1] یا د دې جبر کومه بڼه نه ده او همدا لامل دی چې زموږ ځواب هغې پوښتنې ته چې د همدې فصل مبحث مو پرې پیل کړ، نه و: هېڅ تاریخي جبر نه و چې پیرو یې نن د لوېدیځې اروپا او د امریکا متحد ایالتونو په پرتله دومره بېوزله کړه. د جغرافیې، کلتور

[1] Historical determinism

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



او ناپوهۍ د فرضیو له مخې، پیرو د خپلې جغرافیې یا کلتور له امله پر بېوزلۍ محکومه نه ده، بلکې زموږ د تیورۍ له مخې پیرو نن ورځ د خپلو بنسټونو له امله د لوېدیځې اروپا او متحده ایالتونو په پرتله بېوزله هېواد دی او په دې اړه پر دلایلو د پوهېدو لپاره اړتیا ده چې په پیرو کې د بنسټونو د پراختیا تاریخي بهیر مطالعه کړو. لکه څرنګه چې په دویم فصل کې مو ولوستل، چې پنځه سوه کاله مخکې د ننني پیرو په خاوره کې اینکا امپراتورۍ پرته وه چې د ثروت، پرمختللې ټکنالوژۍ او سیاسي مرکزیت له پلوه یې په مرکزي امریکا کې ساری نه درلود. دلته د عطف ټکی د استعمار پیل او د مرکزي امریکا د نورو مستعمرو په پرتله له دغه هېواد سره د استعمارګرو متفاوت چلند و. دا د تاریخ له مخکې ټاکل شوي مسیر نه و، بلکې د حساسې مقطعې په جریان کې د بنسټي بدلونونو نتیجه وه. لږ تر لږه درې عواملو کولای شول چې دغه مسیر بدل کړي او ډېره متفاوته بڼه غوره کړي: لومړی، هغه بنسټونه چې په پنځلسمه پېړۍ کې د امریکا په لویه وچه کې رامنځته شول، ښیي چې په دې سیمه کې استعمار څه ډول و. شمالي امریکا ځکه د پیرو په پرتله پر متفاوته لار روانه شوه چې تر استعمار مخکې یې لږ وګړي لرل، که څه هم اروپایان دلته مېشت شول او واکمنې کړۍ لکه ویرجینا کمپنۍ او د برېټانیا سلطنت غوښتل چې خلک استثمار کړي، خو پر وړاندې یې مقاومت وشو. په پیرو کې هسپانوي ښکېلاکګرو یو داسې متمرکز او زبېښونکی دولت پیدا کړ چې کنټرول یې اسانه و او همدارنګه داسې لوی نفوس یې پیدا کړ چې د کان کیندنې او کرنې په برخه کې ترې ښه استفاده کېدای شوه. لکه څرنګه چې د پاچا شیام په مشرۍ د بوشونګانو ترمنځ بنسټي نوښتونه د یوه متمرکز دولت محصول ګڼل کېدل، په پیرو کې د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



اینکا تمدن او په دې سیمه کې په لویه کچه نفوس هم د بنسټیز نوښتونو پایله وه. دا کېدای شوای چې په شمالي امریکا، د میسیسي پي په وادي او یا په متحده ایالتونو رامنځته شوی وای. که داسې شوي وای، نو ایا ممکنه وه چې اروپایانو په اندوس کې شاړې ځمکې او په شمالي امریکا کې متمرکز دولتونه موندلی وای او متحده ایالتونه به د پیرو او پیرو به د متحده ایالتونو په برخلیک اخته شوی وای؟ اروپایان به د پیرو شاوخوا سیمو کې مېشت شوي وای او د مستعمره مېشتو او واکمنې طبقې ترمنځ شخړې کېدای شوای چې د شمالي امریکا پر ځای هلته د پرانیستو بنسټونو په رامنځته کېدو تمامه شوې وای. په دې صورت کې شونې وه چې د اقتصادي پراختیا مسیرونه د اوس په پرتله متفاوت وای. دویمه دا چې کېدای شوای چې اینکا امپراتوري د جاپان په څېر چې په ایدو خلیج کې د امریکا جنګي بېړیو پر وړاندې یې غبرګون وښود، د اروپایي استعمار پر وړاندې مقاومت وکړي. که څه هم د اینکا امپراتورۍ شدید زبېښناک هلته د جاپان په څېر د یوه سیاسي انقلاب شونتیا چې په ترڅ کې یې میجي امپراتور بېرته واک ته راوستل شو، کم و؛ خو هېڅ داسې تاریخي جبر او اړتیا نه وه چې اینکایان دې اروپایي استعمار ته غاړه کېږدي. که اینکایانو د دغو ګواښونو پر وړاندې مقاومت کړی وای او یا حتی د بنسټونو د موډرنیزېشن ابتکار یې کړی وای، نو اوس به د نوې نړۍ د تاریخ مسیر او همدارنګه د ټولې نړۍ وضعیت بدل وای.

درییم او تر ټولو مهمه دا چې په تاریخي، جغرافیایي او کلتوري لحاظ له وړاندې ټاکل شوې نه وه چې اروپایان به ټوله نړۍ

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



اشغالوي. کېدای شوای چې دا ښکېلاکگر چینایان یا اینکایان وای. خو کله چې موږ د پنځلسمې پېړۍ حالاتو ته نظر کوو، چې هغه مهال لوېدیځه اروپا تر امریکا په ښه حالت کې وه او چین په خپلو داخلي چارو کې بوخت و، نو دا کار ناممکن برېښېده. خو د پنځلسمې پېړۍ لوېدیځه اروپا په خپله د د بنسټې جلا کېدنې د هغه بهیر نتیجه ده چې د یوې حساسې مقطعې په پایله کې یې نوی مسیر غوره کړ. د لوېدیځې اروپا قدرتونو د تاریخ د بېلابېلو عطف نقطو پرته نه شوای کولای چې نورې نړۍ ته لاس واچوي. د مرېتوب له منځه تلل، د پاچاهانو د واکونو محدودېدل؛ د سوداګرۍ په برخه کې د خپلواکو ښارونو را ټوکېدل، د چین د مینګ کورنۍ برعکس په ازادو اوبو کې د سوداګرۍ پر وړاندې د پاچاهانو نه مخالفت او همدارنګه د طاعون ناروغۍ خپرېدل چې د فیوډالېزم په زوال تمام شو، د لوېدیځې اروپا لپاره د عطف مهم ټکي وو. که دغه پېښې په متفاوته بڼه واقع شوې وای، اوس به مو په یوه ډېره متفاوته نړۍ کې ژوند کاوه او پیرو به نن د متحده ایالتونو او لوېدیځې اروپا په پرتله شتمنه وای. کله چې کوچنې توپیرونه او احتمالي پېښې کلیدي رول لوبوي؛ نو طبعاً د یوې تیورۍ د وړاندوینې قدرت به ډېر محدود او کم ارزښته وي. په پنځلسمه او حتی شپاړسمه پېړۍ کې ډېر کم شمېر خلکو دا وړاندوینه کوله چې برېټانیا به د پرانیستو بنسټونو په برخه کې تر ټولو مخکې شي. دا کار یوازې د بنسټې جلا کېدنې د ځانګړې پروسې او په اتلانتیک کې د سوداګرۍ د پیلېدو په ترځ کې د رامنځته شوې حساسې مقطعې له لارې ممکن شو. همدارنګه په ۱۹۷۰ یمه لسیزه کې د کلتوري انقلاب پر مهال هېچا دا اټکل نه شوای کولای چې چین به په خپلو اقتصادي بنسټونو کې د ژورو

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



بدلونونو له لارې د چټکې اقتصادي ودې په مسیر روانېږي. په عین ډول هېڅوک دا اټکل نه شي کولای چې په راتلونکو پنځه سوو کلونو کې به په نړۍ کې څه پېښېږي. خو دا زموږ د تیورۍ نیمګړتیا نه ده. هغه تاریخي شواهد چې موږ وړاندې کړل، ښیي چې د تاریخي جبر پر اساس هر ډول نظریات چې پر کلتور، جغرافیې او حتی پر تاریخي عواملو اتکا کوي، نیمګړي او ناکاره دي. کوچنې توپیرونه او نا اټکل شوې پېښې یوازې زموږ د تیورۍ برخې نه دي، بلکې د تاریخ برخې دي. حتی زموږ د تیورۍ له لارې به دا اټکل هم ګران وي چې ووایو، کومې ټولنې به په راتلونکې کې د نورو په پرتله هوسا او شتمنې وي. خو د کتاب په اوږدو کې مو ولیدل چې زموږ تیوري د نړۍ په بېلابېلو برخو کې د ملتونو د بېوزلۍ او بډاینې په برخه کې ژور توپیرونه په ښه توګه په ډاګه کوي. همدارنګه په دې فصل کې به ووینو چې زموږ د تیورۍ د لارښوونو پر بنسټ کوم ډول ټولنې به په راتلونکو څو لسیزو کې اقتصادي ودې او پرمختګ ته ورسېږي.

لومړی؛ خبیثه او سپېڅلې کړۍ ګڼ مقاومتونه او رکودونه زېږوي، نو له شک پرته چې په راتلونکو پنځوسو یا سلو کلونو کې به متحده ایالات او لوېدیځه اروپا د خپلو پرانیستو سیاسي او اقتصادي بنسټونو پر مټ؛ د افریقا جنوبي صحرا، منځنې ختیځ، مرکزي امریکا او ختیځې امریکا په پرتله نور هم شتمن او احتمالا لا ډېر شتمن وي. پر دې سربېره، په راتلونکې یوې پېړۍ کې به یو شمېر هېوادونه د طلسم په ماتولو سره پراخو بنسټي بدلونونو ته لاسرسی ومومي او په دې توګه به له بېوزلۍ څخه د بډاینې په لور حرکت پیل کړي. د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



افغانستان او سومالیا په څېر هېوادونه چې لا د یوه پیاوړي سیاسي مرکزیت (Political Centralization) پر رامنځته کولو نه دي بریالي شوي او یا هایتي چې په وروستیو څو لسیزو کې یې د دولت پاشلتیا تجربه کړې، ډېر لږ چانس لري چې تر زبېښونکو بنسټونو لاندې اقتصادي ودې ته ورسېږي او یا د پرانیستو بنسټونو په لور ژور بدلونونه رامنځته کړي. برعکس، هغه هېوادونه چې ښايي په راتلونکو څو لسیزو کې به د اقتصادي پرمختګ خاوندان شي – ولو که تر زبېښونکو بنسټونو لاندې هم وي- هغه هېوادونه دي چې له یوه اندازه سیاسي مرکزیت څخه برخمن دي. د افریقا په جنوبي صحرا کې بروندي، ایتوپیا او روندا چې د مرکزي دولتونو اوږده مخینه لري او تانزانیا چې د مرکزیت د ټینګولو په هڅه کې دی، په همدې ډله هېوادونو کې راځي. په لاتینه امریکا کې برازیل، چیلي او مکسیکو دي. دغه هېوادونه نه یوازې له سیاسي مرکزیت څخه برخمن دي، بلکې د مخ پر ودې پلورالېزم یا کثرت پالنې په برخه کې یې هم د پاموړ پرمختګونه کړي دي. زموږ د تیورۍ له مخې د کولمبیا اقتصادي وده به تر ډېره دوام و نه کړي. زموږ تیوري همدا راز وړاندوینه کوي چې د چین په څېر تر زبېښونکو بنسټونو لاندې وده تلپاتې نه ده او احتمالا چې ټکنۍ به شي. پر دې سربېره، ډېر نور احتمالات هم شته. مثلا، کیوبا ښايي د پرانیستو بنسټونو په لور حرکت وکړي او پراخ اقتصادي بدلونونه به تجربه کړي او یا هم ښايي د خپلو زبېښونکو سیاسي او اقتصادي بنسټونو په لومه کې همداسې بند پاتې شي. دا خبره د شمالي کوریا او برما (میانمار) په اړه هم صدق کوي. په دې اساس، که څه هم زموږ تیوري په دې اړه د فکر کولو وسایل چې بنسټونه څه ډول بدلون مومي او د دغو بدلونونو

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



نتایج څه ډول دي، برابروي؛ خو د دغه بدلونونو ماهیت (کوچني توپیرونه او نا اټکل شوې پېښې) دقیقې وړاندوینې له ستونزو سره مخ کوي. حتی د پالیسۍ جوړونې په برخه کې د بېوزلۍ او هوساینې په اړه د دغو پراخو تاریخي شواهدو په کارونه کې احتیاط په کار دی. څرنګه چې د حساسې مقطعې اغېزې له موجوده بنسټونو سره تړاو لري، همدارنګه د مشابه مداخلې په اړه د یوې ټولنې غبرګون هم له بنسټونو سره اړیکه لري. البته زموږ ټوله تیوري په دې اړه ده چې ملتونه څنګه کولای شي چې د بنسټي بدلون له لارې له زبېښونکو بنسټونو څخه پرانیستو بنسټونو ته حرکت وکړي، خو دا تیوري همدارنګه په وضاحت ټینګار کوي چې د دغه ډول بدلون یا انتقال لپاره هېڅ اسانه او ساده لار وجود نه لري. لومړي، د خبیثه کړۍ د موجودیت له امله د بنسټونو بدلون تر هغه ډېر سخت دی، چې په لومړیو کې یې تصور کېږي. لکه په دولسم څپرکي کې مو چې د اولیګارشۍ د اوسپنیز قانون په بحث کې ولوستل، زبېښونکي بنسټونه کولای شي چې په بېلابېلو بڼو ځان بیا را ژوندی کړي. په دې اړه هېڅ تضمین نه شته چې د ۲۰۱۱ کال د فبرورۍ پاڅون په پایله کې د حسن مبارک د زبېښونکي رژیم تر پرځېدو وروسته به مصر د پرانیستو بنسټونو په لور لاړ شي، بلکې برعکس؛ د ولسواکۍ پر هیله بښوونکي غورځنګ سربېره، ښایي په مصر کې زبېښونکي بنسټونه یو ځل بیا سر راپورته کړي. دویم، د تاریخ د نا اټکل شوي مسیر له کبله، په دې اړه پوهېدل ګران دي چې د حساسې مقطعې او موجوده بنسټي توپیرونو ترمنځ متقابل غبرګون به د پرانیستو بنسټونو لامل شي او که د زبېښونکو. دا به اتلولي وي چې د سیاسي توصیو له لارې د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



پرانیستو بنسټونو په لور بدلونونه تشویق کړو. خو پر دې سربېره، زموږ تیوري د پالیسیو د تحلیل لپاره ګټوره ده، ځکه دا کار موږ ته فرصت راکوي، څو د بنسټونو د بدلون په اړه هغه ناکاره پالیسۍ او د سیاستپوهانو توصیې وپېژنو چې پر ناسمو فرضیو او کمزورو دلایلو ولاړې دي. په دې برخه کې د نورو مواردو په څېر، له ناوړه تېروتنو څخه ډېره کول لکه د ساده حللارې د وړاندې کولو په څېر مهم دي. که د پالیسي جوړوونکو توصیو او سپارښتنو ته پام وکړو، نو په وروستیو څو لسیزو کې د چین د چټکې ودې په څېر 'تر استبداد لاندې وده' تشویقوي. موږ به وروسته واضح کړو چې د پالیسي جوړوونکو توصیې ولې غولوونکې دي او د چین وده د زېبښونکو بنسټونو کومه بڼه ده.

## د استبداد تر سیوري لاندې د اقتصادي ودې جذابیت

دای ګوافنګ[1] پوهېده چې په چین کې د ښاري پراختیا او رغنیزو چارو راتلونکې روښانه ده. په ۱۹۹۰ یمه لسیزه کې په چین کې لویې لارې، سوداګریز مرکزونه، استوګنیز ښارګوټي او اسمان څکې ودانۍ په کمسارې ډول د پراختیا په حال کې وې او «دای» فکر کاوه چې د رغونې دغه بهیر به په راتلونکې لسیزه کې لا چټک او پراخ شي. هغه استدلال کاوه چې د اوسپنې او سټیل د تولید کمپنۍ[2] به یې د ارزانه تولیداتو د وړاندې کولو او په ځانګړې توګه له کمزورو دولتي کمپنیو سره د رقابت له لارې وکولای شي چې لویه برخه بازار په خپله ولکه کې واخلي. دای خپل پلان چمتو او په ۲۰۰۳ کال کې یې

[1] Dai Guofang
[2] Jingsu Tieben Iron and Steel

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



د کمونېست گوند د محلي مشرانو په ملاتړ په «چانگ ژو» کې د یوې سترې فابریکې د جوړولو چارې پیل کړې. خو د ۲۰۰۴ کال په مارچ کې په بېجنگ کې د چین کمونېست گوند په امر د پروژې چارې ودرول شوې او دای د نامعلومو دلایلو له امله زندان ته واچول شو. هغه پنځه کاله په زندان او په کور کې په نظر بندۍ کې تېر کړل او په ۲۰۰۹ کال کې پر یوه ډېر کوچني جرم تورن وپېژندل شو. د هغه جرم دا و، چې د کمونېست گوند د لوړ پوړو چارواکو له اجازې پرته یې د یوې داسې سترې کمپنۍ د جوړولو هوډ کړی و، چې د دولت تر کنټرول لاندې کمپنیو سره یې رقابت کولای شوای. دا قضیه په حقیقت کې د نورو لپاره یو لوی درس و. په چین کې د دای په څېر پانگوالو پر وړاندې د حکومت چلند د تعجب خبره نه ده. د دنگ شیاپینگ یو نږدې ملگری او د بازار د لومړنیو اصلاحاتو طراح چن یون[1] د اقتصاد په اړه د کمونېست گوند د اکثریت کادري غړو لیدلوری د «مرغۍ په قفس کې» په اصطلاح خلاصه کوي: د چین اقتصاد هغه مرغۍ ده چې د دولت تر ولکې لاندې قفس کې بندي ده او دغه قفس باید ازاد او پراخ کړل شي، څو مرغۍ سالمه او متحرکه پاتې شي. خو دروازه باید خلاصه نه شي، ځکه چې مرغۍ الوځي. کله چې په ۱۹۸۹ کال کې «جیانگ زیمن» د کمونېست گوند عمومي منشي شو، تر دې هم وړاندې لاړه او د هغه ځینو څرگندونو د پانگوالو او سوداگرو په اړه د گوند شکونه نور هم زیات کړل، هغه وویل:«د ځان په گټه سوداگر او کاروباریان، چې دوکه بازان او درغلگر دي، بډې ورکوي او له مالیاتو اوړې سپکوي.» په

[1] Chen Yun

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



۱۹۹۰ یمه لسیزه کې حتی کله چې بهرني پانګوال په چین ور مات وو او دولتي کمپنۍ د حکومت له لوري هڅول کېدې چې پرمختګ وکړي، خصوصي پانګوال د خپلې پانګې په اړه په شک او تردید کې وو. د زیاترو پانګوالو شتمنۍ کنګل شوې او ان زندان ته واچول شول. که څه هم د پانګوالو په اړه د چیانګ زیمن په څېر لیډلوري اوس په چین کې نسبتاً خپل جذابیت له لاسه ورکړی، خو لا هم دود دی. د یوه چینایي اقتصاد پوه په وینا، سترې دولتي کمپنۍ حق لري چې په سترو پروژو او فعالیتونو کې برخه واخلي، خو کله چې د خصوصي کمپنیو خبره مطرح کېږي او په ځانګړې توګه له دولتي کمپنیو سره د رقابت خبره؛ بیا له هرې خوا ستونزې سر راپورته کوي. که څه هم دا مهال په چین کې خصوصي کمپنۍ ښه ګټور فعالیتونه لري، خو زیاتره اقتصادي چارې د دولت او کمونیست ګوند تر څار او کنټرول لاندې دي. ژورنالېست «ریچارډ مک ګریګور»[1] په یوه راپور کې لیکي چې په چین کې د هرې سترې دولتي کمپنۍ د مشر پر مېز یو سور رنګه ټیلیفون ایښی، کله چې زنګ ورته راشي، د ګوند له دفتره ورسره اړیکه نیول شوې وي او کمپنۍ ته سپارښتنې کوي چې څه باید وکړي، چېرته پانګونه وکړي او هدف یې باید څه وي. دغه ستر شرکتونه لا هم د دولت تر امر لاندې دي او کمونېست ګوند واک لري چې له کوم دلیل پرته د شرکت د مدیرانو د ګوښه کولو پرېکړه وکړي، نوي کسان وګوماري او یا ارتقا ورکړي. دغه داستان ښیي چې چین د پرانیستو بنسټونو په لور اوچت ګامونه نه دي اخیستي او هغه څه چې اوس وینو، په تېرو درې لسیزو کې

[1] Richard McGregor

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



نمايشي وده ده. زياتره پانګوال او په ځانګړې توګه هغه کسان چې په بېجنګ کې د کمونېست ګوند د مشرانو او غړو ملاتړ لري، له امنيت څخه برخمن دي. زياتره دولتي کمپنۍ د ګټې په لټه کې دي او په نړيوال مارکېټ کې سيالي کوي. په چين کې دا بدلون د ماوو په دورې پورې اړه لري. څرنګه چې په تېر فصل کې مو ولوستل، چين په لومړي ځل د دينګ شياپينګ د اصلاحاتو پر مټ وده وکړه، چې دغه اصلاحات له زېبښونکو بنسټونو څخه د پرانيستو بنسټونو په لور پر حرکت متمرکز وو. دغه وده لا هم دوام لري، په داسې حال کې چې د لا ډېر پرانيستو بنسټونو په لور د اقتصادي بنسټونو مزل ډېر سوکه دی. چين د ارزانه کارګرو د عرضه کولو او بهرنيو مارکېټونو، پانګونې او ټکنالوژۍ ته د لاسرسي له لارې پرېمانه ګټه ترلاسه کوي. سره له دې چې اوسمهال د چين اقتصادي بنسټونه د تېرو درېشو کلونو په پرتله د پامور پرانيست او اصلاح شوي، خو بيا هم د چين وده تر زېښونکو بنسټونو لاندې د ودې يوه بېلګه ده. سره له دې چې چين په دې وروستيو پر ټکنالوژۍ او نوښتونو ډېر تمرکز او ټينګار کوي، خو د دې هېواد اقتصادي وده د موجوده ټکنالوژۍ پر کارونې او مخ پر ودې پانګونې باندې ولاړه ده، نه پر خلاق تخريب. په دې برخه کې يو حقيقت دا دی چې په چين کې د مالکيت حقونه په بشپړه توګه خوندي نه دي. کله کله د 'دای' په څېر د پانګوالو شتمنۍ کنګل او مصادره کېږي. د کارګرو د ګومارنې په برخه کې سخت مقررات وضع شوي او د مالکيت اساسي حق چې په خپل زړه د کاري ځواک پلورل دي، لا هم ډېرې نيمګړتياوې لري. دا حقيقت چې د ګوند د محلي کادرونو او له ملاتړ پرته په بېجنګ کې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



ډېر لږ شمېر ښځې او نارينه په اقتصادي فعاليتونو کې ګډون کولای شي، ښيي چې چين له پرانيستو بنسټونو څومره واټن لري. د پانګوالو- سوداګرو او کمونېست ګوند ترمنځ اړيکې او نږدېوالی ډېر مهم دي. هغه کاروباريان چې د ګوند ملاتړ له ځان سره لري، په ډېر اسانه شرايطو قراردادونه ترلاسه کولای شي او دوی کولای شي چې د عادي وګړو ځمکې غصب کړي او له هر راز وېرې پرته قوانين او مقررات تر پښو لاندې کړي. که څوک د دغو سوداګرو د کار پر وړاندې خنډ شي، تر پښو لاندې او حتی د زندان يا مرګ له سزا سره به مخ شي. په چين کې د کمونېست ګوند واک او زبېښونکو بنسټونه موږ ته د ۱۹۵۰ مې او ۱۹۶۰ مې لسيزو ترمنځ د شوروي اتحاد اقتصادي وده را په زړه کوي، چې د دواړو ترمنځ ډېر ورته والی ليدل کېږي. خو د دواړو ترمنځ ځينې مهم توپيرونه هم شته. شوروي اتحاد ځکه د زبېښونکو سياسي او اقتصادي بنسټونو پر مټ ودې ته ورسېد، چې سرچينې يې د يوه متمرکز سيستم له لارې د صنعت سکتور؛ په ځانګړې توګه د وسلو توليد او درنو صنايعو ته ځانګړې کړې. له خلاق تخريب پرته تر زبېښونکو بنسټونو لاندې وده اسانه ده. د چين اقتصادي بنسټونو له شک پرته چې د شوروي د اقتصادي بنسټونو په پرتله پرانيستي دي، خو د چين سياسي بنسټونو تر اوسه هم خپل زبېښونکی ماهيت او طبعيت ساتلی دی. په چين کې کمونېست ګوند مطلق واک لري او پر ټولې دولتي بيروکراسۍ، پوځ، رسنۍ او اقتصاد مسلط دی. د چين د خلکو ازادي محدوده ده او په سياسي بهير کې يې مشارکت ډېر کمرنګه دی. باور دا و چې د

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



چين اقتصادي وده به دغه هېواد ته ولسواکي او پلورالېزم ډالۍ کړي. په ۱۹۸۹ کال کې داسې انګېرل کېده چې د تيانمن[1] ميدان لاريونونه به سياسي فضا پراخه او حتی د کمونېست رژيم په ړنګېدو به تمام شي، خو لاريونوال تر زغروالو ټانکونو لاندې شول او تاريخ اوس دا پېښه د يوه سوله ييز انقلاب پر ځای د 'تيانمن ټولوژنې' په نامه يادوي. د تيانمن تر پېښې وروسته د چين سياسي بنسټونه له بېلابېلو اړخونو نور هم زبېښونکي شول. د کمونېست ګوند د عمومي منشي ژاو زيانګ په څېر اصلاح غوښتونکي چې په تيانمن ميدان کې د معترضو محصلينو ملاتړی و، له ګوند څخه ګوښه کړل شو، ګوند د مدني ازاديو او رسنيو پر وړاندې له تعصب او تاوتريخوالي ډک ګامونه پورته کړل. ژاو زيانګ پنځلس کاله په کور کې نظر بند و او د هغه د خدمتونو سوابق په تدريجي توګه له منځه يووړل شول، تر څو د بدلون غوښتونکو لپاره يو مثال او سمبول ونه ګرځي. په چين کې پر رسنيو او انټرنېټ د کمونېست ګوند سانسور او څار بېساری دی، چې دا کار د ځاني سانسور «self-censorship» له لارې ترسره کېږي: رسنۍ پوهېږي چې د ژاو زيانګ يا ليو ژيابو (د دولت ستر منتقد او د ولسواکۍ غوښتونکی دی چې ان د نوبل جايزې تر لاسه کولو پر مهال هم په زندان کې و) نومونه به خوله نه اخلي. ځاني سانسور د يوه ځانګړې دستګاه پر مټ ترسره کېږي، چې ټول مکالمات، مراسلات او اړيکې څاري، وېب پاڼې او ورځپاڼې بندوي او حتی په انټرنېټ کې پر ځانګړو مطالبو او خبرونو بنديز لګوي. کله چې په ۲۰۰۹ کال کې د ګوند د منشي هوجنټاو د زوی د مالي

[1] Tiananmen

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



فساد په اړه خبرونه خپاره شول، د دې خبر د سانسور هڅې وشوې. د ګوند د سانسور ادارې نه یوازې چینایي رسنۍ د دې خبر له پوښښ څخه منع کړې، بلکې د نړیوالو رسنیو نیویارک ټایمز او فایننشل ټایمز خبرونه یې هم سانسور کړل. پر اقتصادي بنسټونو د کمونېست ګوند د حاکمیت له امله، په چین کې د خلاق تخریب د پراختیا مخه نیول شوې ده او تر هغه چې په سیاسي بنسټونو کې اساسي اصلاحات نه وي راغلي، دا وضعیت به همداسې دوام کوي. په چین کې د سرې سر کلنی عاید د متحده ایالتونو او لوېدیځې اروپا په پرتله کم دی. د چین اقتصادي وده د پخواني شوروي اتحاد په پرتله متفاوته ده او یوازې پر پوځي او درنو صنایعو یې تکیه نه ده کړې. چینایي صنعتکاران ډېر نوښتګر او هڅاند دي. په ټوله کې ویلی شو چې که چین له زبېښونکو بنسټونو څخه پرانیستو بنسټونو ته حرکت ونه کړي، ښایي اوسنۍ وده یې ټکنۍ شي. د چین تجربه د دې هېواد د اقتصاد د راتلونکې په اړه جالبې پوښتنې را ولاړوي او تر ټولو مهمه دا چې دغه ډول وده موږ ته ښیي چې تر استبداد لاندې اقتصادي وده څومره زړه راښکونکې او جذابه ده. دغه ډول وده د «واشنګټن اجماع»[1] لپاره د بدیل په توګه وړاندې کېږي، هغه اجماع چې د ازاد بازار او تجارت پر ارزښت او د نړۍ په لږ پرمختللو سیمو کې د اقتصادي ودې لپاره د بنسټونو پر اصلاح ټینګار کوي. که څه هم د استبدادي ودې موډل یوه برخه د 'واشنګټن اجماع' په وړاندې له غبرګون څخه سرچینه اخلي، خو دغه موډل په حقیقت کې د واکمنانو لپاره ځکه جذاب دی چې تل په واک کې

[1] Washington consensus

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



پاتې شي او پر زبېښونکو بنسټونو کنټرول ولري او له همدې لارې خپل مشروعیت ترلاسه کړي. زموږ د تیورۍ له مخې، تر زبېښونکو بنسټونو لاندې دغه ډول وده، په ځانګړې توګه په متمرکزو دولتونو کې ممکنه ده او کېدای شي چې دا له کمبودیا او ویتنام څخه نیولې تر برونیډي، ایتوپیا او رونډا پورې هېوادونو لپاره یو ښه زېری وي. خو زموږ تیوري دا هم وایي چې د زبېښونکو بنسټونو وده تلپاتې نه ده. د چین اوسنی اقتصاد چې پر هولناکې ودې، له بهره پر واردېدونکې ټکنالوژۍ او بهر ته د ارزانه تولیدي توکو پر صادراتو ولاړ دی؛ ښایي تر یوې مودې دوام وکړي. همدارنګه د چین اقتصادي وده به هغه وخت پای ته ورسېږي، کله چې په دې هېواد کې د ژوند معیارونه د منځني عاید لرونکو هېوادونو سره برابر شي. ښایي په راتلونکو څو لسیزو کې د چین کمونېست ګوند او پر اقتصادي سرچینو د ناستو واکمنانو لپاره لومړیتوب دا وي چې خپل واک او ځواک ځنګه وساتي. په دې اساس، تاریخ او زموږ تیوري وړاندیز کوي چې له ټکنالوژیکي نوښتونو او خلاق تخریب سره مل اقتصادي وده به د چین په برخه نه شي او د دې هېواد نمایشي اقتصادي وده به ورو ورو له سترګو پناه شي. خو دا له مخکې تعین شوې برخلیک نه دی او که چین مخکې تر دې چې تر زبېښونکو بنسټونو لاندې وده یې ټکنۍ شي، پرانیستي سیاسي بنسټونه کولای شي چې دغه برخلیک بدل کړي. لکه څرنګه چې وروسته به پرې خبرې وکړو، ډېر کم دلایل شته چې د پرانیستو سیاسي بنسټونو په لور د چین ورتګ ته هیله مندي راکموي او نه هم دا اټکل کېدای شي چې دغه ډول بدلون به په اتومات ډول او له کوم کړاو پرته

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



پېښېږي. ان په خپله د کمونېست گوند له منځه ځیني کسان د دې احتمالي خطر په اړه اگاه دي او د سیاسي اصلاحاتو چې موږ یې هماغه د 'پرانیستو بنسټونو په لور حرکت' بولو، په لټه کې دي. د گوند یوه مخکښ غړي او لومړي وزیر «وین جیابو» په دې وروستیو کې خبرداری ورکړ چې که سیاسي ریفورم ته پام ونه شي، ښایي د چین اوسنۍ وده ټکنۍ شي. ولو که ځیني کسان د وین خبرو ته د شک په سترگه هم گوري، خو زموږ په اند د هغه دغه تحلیل د راتلونکو پېښو په اړه وړاندوینه ده. بلخوا په لوېدیځ کې یو شمېر کسان د وین له څرگندونو سره موافق نه دي. د هغوی په باور چین هڅه کوي چې د پرانیستو بنسټونو پر ځای تر استبداد لاندې ودې یو بل زبېښونکی موډل رامنځته کړي. خو دا خبره سمه نه ده. موږ تر اوسه د چین د پرمختگ په برخه کې مهم بدلونونه لیدلي دي: په کمونېستي اقتصادي بنسټونو کې ژور بدلونونه او پر ځای یې د داسې بنسټونو رامنځته کېدل چې سوداگري او گټمنتیا یا مولدیت تشویقوي. له دغه لیدلوري کولای شو ووایو چې د هغو هېوادونو او چین ترمنځ چې له زبېښونکو بنسټونو څخه د پرانیستو بنسټونو په لور یې گامونه اخیستي دي، توپیر نه شته؛ ولو که په یادو هېوادونو کې د چین په څېر زبېښونکي سیاسي بنسټونه حاکم هم وي. د چین اوسنۍ اقتصادي وده د هغه د زبېښونکو سیاسي بنسټونو کمال نه دی، بلکې د چین د تېرو دریوو لسیزو اقتصادي وده له زبېښونکو سیاسي بنسټونو څخه پرانیستو بنسټونو ته د ژور بدلون او انتقال نتیجه ده. په چین کې د زبېښونکو او استبدادي سیاسي بنسټونو موجودیت د بدلون دغه پروسه ستونزمنه او سخته وه. د استبدادي ودې د یوه متفاوت ډول تایید د هغه غیر جذاب ماهیت څرگندوي، خو ادعا

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



کوي چې استبداد یوازې د انتقال یوه مرحله ده. دا نظریه د سیاسي ټولنپوهنې یوې کلاسیکې تیورۍ[1] 'موډرنیزېشن' ته ور ګرځي چې د «سیمو مارټین لیپسټ»[2] له لوري وړاندې شوې ده. د موډرنیزېشن تیوري وایي چې ټولې ټولنې د ودې پرمهال د موډرنیزېشن، پراختیا، مدنیت او په ځانګړې توګه د ولسواکۍ خوا ته ځي. د موډرنیزېشن تیورۍ پلویان ادعا کوي چې د ډیموکراسۍ په څېر، د ودې پروسې د محصول په توګه پرانیستي بنسټونه هم سر راپورته کوي. که څه هم ډیموکراسي، پرانیستو بنسټونو ته ورته کومه پدیده نه ده، خو منظمې ټاکنې او نسبي سیاسي سیالۍ کولای شي چې د پرانیستو بنسټونو پراختیا ته لار پرانېزي. د موډرنېزېشن تیورۍ نورې نسخې هم ادعا کوي چې باسواده او لوستی کاري ځواک کولای شي چې په طبیعي ډول ډیموکراسۍ او د کارنده بنسټونو جوړېدو ته لار هواره کړي. د موډرنېزېشن تیورۍ په 'پوست موډرن' نسخه کې د نیویارک ټایمز کالم لیکونکی «توماس فریډمن» تر دې هم مخکې تللی او زیاتوي: کله چې په یوه هېواد کې د مک ډونالډ رستورانتونو شمېر کافي حد ته ورسېږي، ډیموکراسۍ او بنسټونو ته لار پرانیستل کېږي. دا ټول یو خوشبینانه انځور وړاندې کوي. په وروستیو شپېتو کلونو کې د زیېنبونکو بنسټونو لرونکو هېوادونو په شمول، ګڼو هېوادونو یوه اندازه اقتصادي وده تجربه کړې ده او په مسلکي کاري ځواک کې یې هم د پامور زیاتوالی راغلی دی. کله چې د دغو هېوادونو په عوایدو او د سواد په کچه کې زیاتوالی رامنځته کېده، نو اړتیا وه

[1] The theory of modernization
[2] Seymour Martin Lipset

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



چې له دې سره جوخت ډيموکراسۍ، بشري حقونو، مدني ازاديو او د مالکيت خوندي حقونو هم سر راپورته کړی وای. د موډرنيزېشن تيوري د علمي مرکزونو دننه او بهر ډېر پلويان لري. مثلاً؛ د چين په اړه د متحده ايالتونو سياست د همدې تيورۍ پر اساس جوړ شوی دی. جورج ډبليو بوش د چين د ډيموکراسۍ په اړه د امريکا متحده ايالتونو سياست دا ډول خلاصه کوي:«له چين سره ازادانه سوداګري او راکړه ورکړه وکړئ، وخت زموږ په ګټه دی.» د دې نظريې له مخې د چين او لوېديځ ترمنځ ازاده سوداګري کولای شي چې په دې هېواد کې سياسي پراختيا ته لار پرانېزي او لکه څرنګه چې د موډرنيزېشن تيوري اټکل کوي، دا پراختيا ښايي په چين کې د ولسواکۍ د ټينګښت او د بنسټونو د بدلون لامل شي. خو بل پلو د ۱۹۸۰ يمې لسيزې له نيمايي راهيسې د چين او متحده ايالتونو ترمنځ چټکې پراخېدونکې سوداګرۍ په چين کې د ولسواکۍ د ټينګښت په برخه کې چنداني اغيز نه دی او په نړيوال اقتصاد کې د دې هېواد لا ډېره ښکېلتيا به هم په دې برخه کې ډېر کار و نه کړي. د امريکا تر يرغل وروسته د عراقي ټولنې او ډيموکراسۍ د راتلونکې په اړه تحليلونه هم د موډرنيزېشن تيورۍ په څېر خوشبينانه دي. که څه د صدام حسين د واکمنۍ پر مهال د عراق اقتصاد په ناوړه حالت کې و، خو دغه هېواد په ۲۰۰۲ کال کې د افريقا جنوبي صحرا هېوادونو په څېر بېوزله نه و او نسبتاً ښه باسوده وګړي يې هم لرل. د عراق په اړه باور دا و، چې په دغه هېواد کې د ولسواکۍ او مدني ازاديو د ټينګښت او حتی د پلوراليزم لپاره چاپېريال مساعد دی. خو دا هيلې ډېر ژر هغه وخت تر خاورې لاندې شوې، چې عراق د کورنۍ جګړې او بې ثباتۍ د بلا خولې ته ولوېد.

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



په ناکامو دولتونو کې د زبېښونکو بنسټونو لپاره د حللارۍ په توګه د موډرنيزېشن تيورۍ تجويز هم ناسم کار دی او هم بې ګټې. د موډرنيزېشن تيورۍ يو قوي دليل دا دی، چې شتمن هېوادونه ډيموکراټيک رژيمونه لري، مدني او بشري حقونو ته په کې درناوی کېږي، خوځنده بازارونه او په لويه کې پرانيستي بنسټونه لري. خو که په دې برخه کې د موډرنيزېشن تيوري تاييد کړو، نو د اقتصادي ودې په برخه کې به مو د پرانيستو سياسي او اقتصادي بنسټونو رول تر پوښتنې لاندې راوستی وي. لکه څرنګه چې د کتاب په اوږدو کې مو ولوستل، هغو ټولنو چې په تېرو ۳۰۰ کلونو کې پرمختګ وکړ او نن ورځ نسبتا شتمنې دي، پرانيستي بنسټونه يې لرل. که حقايقو ته په متفاوته بڼه نظر وکړو، نو دا هغه شواهد دي چې موږ يې نن په خپلو سترګو وينو: هغو ملتونو چې په تېرو څو پېړيو کې پرانيستي اقتصادي او سياسي بنسټونه بنا کړل، دوامدارې اقتصادي ودې ته ورسېدل، خو هغو استبدادي رژيمونو چې که څه هم په تېرو شپېتو يا سلو کلونو کې يې چټکه اقتصادي وده تجربه هم کړه، خو د ليپسټ د موډرنيزېشن تيورۍ خلاف ولسواک نه شول. دا د حيرانتيا خبره نه ده. تر زبېښونکو بنسټونو لاندې وده دقيقاً چې ممکنه ده، ځکه چې دا کار د دې بنسټونو د حتمي يا خپلسري مرګ په معنا نه دی. دغه ډول وده له دې کبله ممکنه ده، چې پر زبېښونکو بنسټونو واکمنه ډله اقتصادي ودې ته د ګواښ په سترګه نه ګوري، بلکې له ۱۹۸۰ يمې لسيزې وروسته د چين کمونېست ګوند په څېر يې د خپل رژيم د پايښت لپاره ضرور ګڼي. همدارنګه د روسيې، ګابون، سعودي عرب او وينزويلا په څېر د استبدادي رژيمونو وده به چې د طبيعي

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

Downloaded By: Afghan Salar Library



سرچینو پر استخراج ولاړه ده، د پرانیستو بنسټونو د رامنځته کېدو لامل نه شي. تاریخي شواهد هم ډېر لږ له موډرنیزېشن تیورۍ سره اړخ لګوي. ګڼ هوسا ملتونه د تاریخ په اوږدو کې ځپونکو دیکتاتوریو او زبېښونکو بنسټونو ته تسلیم شول او د هغو هرکلی یې وکړ. جرمني او جاپان د نولسمې پېړۍ په نیمایي کې د نړۍ شتمن هېوادونه وو او ښه باسوده وګړي یې لرل. خو دې کار په جرمني کې د ملي سوسیالېست ګوند او په جاپان کې د یوه داسې رژیم د رامنځته کېدو چې د جګړې له لارې یې نړۍ د تسخیر هوډ درلود، مخه ونه نیوله. دغو رژیمونو هم سیاسي او اقتصادي بنسټونه د زبېښناک په ناروغۍ اخته کړل. ارجنټاین هم په نولسمه پېړۍ کې د نړۍ شتمن هېواد و چې له برېټانیا سره په یو ردیف یا تر دې هم مخکې و، دا ځکه چې د نړۍ د نویو پراخېدونکو سرچینو له ګټو برخمن و. همدارنګه ارجنټاین په لاتینه امریکا کې تر ټولو با سواده نفوس درلود، خو د پلورالېزم او ولسواکۍ په برخه کې بیا د لاتینې امریکا له نورو هېوادونو مخکې نه و. دلته پر له پسې کودتاوې کېدې او لکه څرنګه چې په یوولسم څپرکي کې مو ولوستل، حتی هغه مشران چې د ټاکنو له لارې انتخابېدل، چلند یې د یوه مستبد او دیکتاتور په څېر و. له دې وروسته هم په ارجنټاین کې د پرانیستو بنسټونو په برخه کې پرمختګونه ناچیزه دي او څرنګه چې په دیارلسم څپرکي کې مو ولیدل، په اوسنۍ یوویشمه پېړۍ کې هم د ارجنټاین حکومت کولای شي چې له کوم خنډ پرته د خلکو شتمنۍ مصادره او غصب کړي. دا ټول موارد موږ ته ډېرې مهمې ایډیاوې روښانه کوي. لومړی؛ که څه هم تر زبېښونکو بنسټونو او استبداد لاندې د چین اقتصادي وده به تر یوې مودې دوام وکړي، خو دا وده به پر

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



دوامداري ودې چې د رښتينو پرانيستو بنسټونو او خلاق تخريب پر مټ رامنځته کېږي، بدله نه شي. دويم دا چې موږ بايد د موډرنيزېشن تيورۍ پر دغې ادعا چې وايي چې د استبداد تر سيوري لاندې وده به په تدريج ولسواکۍ او پرانيستو سياسي بنسټونو ته لار پرانېزي، حساب ونه کړو. چين، روسيه او نور يو شمېر نور استبدادي رژيمونه چې په وروستيو کې يو لړ اقتصادي پرمختګ ته رسېدلي دي، احتمالا چې د زبېښونکې ودې له محدوديتونو سره به مخ شي. درېيم دا چې استبدادي وده په اوږد مهال کې نه ممکنه ده او نه پاتې کېدونکې، نو په دې توګه دا ډول جوړښت بايد د نړيوالې ټولنې له لوري د لاتينې امريکا، اسيا او افريقايي ملتونو لپاره د تاييد وړ ونه ګرځي.

## هوساينه رامنځته کېږي، جوړېږي نه

زموږ د تيورۍ برعکس؛ د ناپوهۍ فرضيه د بېوزلۍ ستونزې د حل لپاره جلا تجويز لري: که ناپوهۍ موږ دغه ځای ته رسولي يوو، نو روښنګري او د واکمنانو او پاليسي جوړوونکو پوهول کولای شي چې موږ له دغه وضعيته وژغوري او سياستوالو ته په دې اړه د سمو لارښوونو او قناعت ورکولو له لارې چې ښه اقتصاد څه شی دی، کولای شو چې په ټوله نړۍ کې اقتصادي هوساينه ډيزاين او جوړه کړو. په دويم څپرکي کې مو د ناپوهۍ د فرضيې په اړه بحث کې ولوستل چې د ۱۹۷۰ يمې لسيزې په لومړيو کې د ګانا د لومړي وزير کوفي بوسيا تجربه پر دې ټينګار کوي چې د هغو سياستونو عملي کول چې د مارکېټ د ناکامۍ احتمال کموي او اقتصادي وده هڅوي، د سياستوالو ناپوهي نه ده، بلکې هغه انګېزې او محدوديتونه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



دي چې ټولنې د خپلو سیاسي او اقتصادي بنسټونو له امله ور سره مخ دي. لا هم د ناپوهۍ فرضیه په لوېدیځ کې د پالیسي جوړوونکو کړیو ترمنځ برلاسې ده او پر دې تمرکز کوي چې اقتصادي هوساینه څنګه ډیزاین او جوړه شي. د اقتصادي هوساینې د جوړېدو په برخه کې دوه ډوله هڅې کېږي. لومړی ډول یې د نړیوالو سازمانونو لکه د پیسو نړیوال صندوق له لوري حمایه کېږي او وروسته پاتې والی د ناکاره پالیسیو او بنسټونو لامل ګڼي. دغه سازمانونه د بېوزلو هېوادونو لپاره د اصلاحاتو یو لېست چمتو کوي او دولتونو ته یې د عملي کولو لپاره ورکوي. (د واشنګټن اجماع د دغه نوملړ یا لېست یوه برخه ده.) دغه اصلاحات د لوی اقتصاد د ثبات، په لوی اقتصاد کې مهم اهداف لکه د حکومت د جوړښت کوچني کول، د اسعارو انعطاف منونکی نرخ او د پانګې ازادي په بر کې نیسي. یاد اصلاحات همدارنګه د کوچني اقتصاد پر اهدافو لکه خصوصي سازۍ، اغېزناکو عامه خدمتونو او د ښې حکومتولۍ له لارې د فساد پر ضد مبارزې باندې ټینګار کوي. که څه هم ځیني اصلاحات کېدای شي چې معقول وي، خو په واشنګټن، لندن، پاریس او د نړۍ په نورو برخو کې د مېشتو نړیوالو مرستندویو سازمانونو دغه تګلاره ناسمه ده او یاد سازمانونه د اقتصادي هوساینه په برخه کې د سیاسي بنسټونو د رول او پالیسۍ جوړونې پر وړاندې د خنډونو په پېژندنه کې پاتې راغلي دي. د نړیوالو سازمانونو له لوري په بېوزلو هېوادونو کې د اقتصادي هوساینې د جوړولو لپاره د غوره پالیسیو او بنسټونو سمبالولو هڅې بریالۍ نه دي، ځکه چې هغوی د ناکاره سیاستونو او بنسټونو په ریښو پسې نه ځي، بلکې فکر کوي چې بېوزله هېوادونه د رهبرانو د ناپوهۍ له امله په دې برخلیک اخته

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



شوي دي. پایله یې دا کېږي چې دغه پالیسۍ او اصلاحات عملي بڼه نه پیدا کوي او یوازې نوم یې پاتې کېږي. مثلاً؛ د نړۍ ګڼ هېوادونه ظاهراً دغه ډول اصلاحات عملي کوي، خو لکه څرنګه چې لیدل کېږي، له ۱۹۸۰ یمې او ۱۹۹۰ یمې لسیزې راپدېخوا د لاتینې امریکا مرسته اخیستونکي هېوادونه لا هم په رکود کې وو. پر دې اصلاحاتو سربېره هم یادو هېوادونو پخوانیو تګلارو ته دوام ورکاوه. د نړیوالو سازمانونو په وینا د لوی اقتصاد د اهدافو د عملي کولو لپاره مرکزي بانکونه لا ډېر خپلواک شي. دا سپارښتنې یوازې د تیورۍ په کچه پاتې شوې او عملي بڼه یې پیدا نه کړه او یا هم نور سیاسي ملحوظات یې پر وړاندې خنډ شول. دا په اصولو کې معقول نظر و. د نړۍ ګڼو هېوادونو تر خپلو ملي عوایدو ډېرې پیسې مصرفولې او بیا به یې د کسر د جبران په موخه مرکزي بانکونه هڅول چې نورې پیسې چاپ کړي. دا کار د انفلاسیون سبب کېږي او انفلاسیون په بازار کې بې ثباتي او غیر ډاډمن چاپېریال رامنځته کوي. د تیورۍ له مخې انګېرنه دا وه چې د مرکزي بانکونو خپلواکي به د جرمني د «بونډېس بانک» په څېر د سیاسي فشارونو پر وړاندې مقاومت وکړي او د انفلاسیون مخه به ونیسي. د زیمبابوې ولسمشر رابرټ موګابې د نړیوالو ځینې سپارښتنې عملي کړې او په ۱۹۹۵ کال کې یې اعلان وکړ چې د زیمبابوې مرکزي بانک په خپلو چارو کې مستقل دی. تر دې مخکې په زیمبابوې کې د انفلاسیون کچه د ۲۰ سلنې په شاوخوا کې وه، خو په ۲۰۰۲ کال کې دا کچه ۱۴۰، په ۲۰۰۳ کال کې ۶۰۰ ، په ۲۰۰۷ کال کې ۶۶،۰۰۰ او په ۲۰۰۸ کال کې ۲۳۰ میلیونه سلنې! ته لوړه شوه. په داسې یو هېواد کې چې

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



ولسمشر يې د لاټرۍ ټکټ ګټي، نو د تعجب خبره نه ده چې د مرکزي بانک د استقلاليت پرېکړه به په رښتينې معنا عملي بڼه پيدا کوي.د زيمبابوې د مرکزي بانک مشر پوهېده چې په سيريليون کې د مرکزي بانک مشر چې د ولسمشر سياکا سټيونز مخالفت يې کړی و، له څه ډول برخليک سره مخ شو. د بانک خپلواکي او نه خپلواکي د زيمبابوې مرکزي بانک د مشر لپاره سخته پرېکړه وه، ځکه چې د هغه شخصي ژوند ور پورې تړلی و. خو ټول هېوادونه د زيمبابوې په څېر نه وو. په ۱۹۹۰ يمه لسيزه کې د ارجنټاين او کولمبيا مرکزي بانکونه هم خپلواک شول او د انفلاسيون د کابو کولو په برخه کې يې خپله دنده په ښه توګه سر ته ورسوله. کله چې په يادو هېوادونو کې له ټاکنو پرته واک ته د رسېدو نورې لارې وتړل شوې، نو سياستوالو د پيسو د چاپ له لارې د خلکو ملاتړ او رايو اخيستو ته مخه کړه. کله چې د پيسې چاپ هم نتيجه ور نه کړه، د نورو لارو چارو په فکر کې شول. په دواړو هېوادونو کې د مرکزي بانک استقلاليت په دولتي لګښتونو کې د بېساري زياتوالي سبب شو او دولت مجبور و چې دا کسر د پورونو له لارې جبران کړي. د اقتصادي هوساينې د جوړولو لپاره يوه بله نظريه هم شته چې اوسمهال ډېره دود ده.  د دې نظريې پر بنسټ هېڅ داسې اسانه لار نه شته چې له مخې يې بېوزله هېوادونه په يوه ورځ او يا په څو لسيزو کې شتمن شي. دا نظريه ادعا کوي چې په بازار کې ځينې نيمګړتياوې شته چې د غوره لارښوونو له لارې د حل وړ دي او که پاليسي جوړوونکي له فرصته ګټه واخلي، نو اقتصادي هوساينه به رامنځته شي. ياده نظريه همدا راز ادعا کوي چې په بېوزلو هېوادونو کې د مارکېټ کوچنۍ نيمګړتياوې په هره برخه کې وجود لري، لکه په تعليمي سيستم،

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



روغتیا او د بازار د تنظیم په برخه کې. دا خبره بې له شکه سمه ده. خو ستونزه دا ده چې د بازار ناکامي یا نیمګړتیا د یوه کنګل د ځوکې په څېر ده، چې ریښې یې په زېږښونکو بنسټونو کې دي. لکه څرنګه چې په بېوزلو هېوادونو کې د لوی اقتصاد ناکاره پالیسۍ کوم تصادفي عمل نه دی، نو نیمګړی او ناکاره تعلیمي سیستم یې هم تصادفي عمل نه شي ګڼل کېدای. د مارکېټ نیمګړتیا یا ناکامې ښایي د ناپوهۍ له امله نه وي. پالیسي جوړوونکي او بیروکراټان ښایي په خپله د ستونزې برخه وي او هغه اصلاحات چې د دې نیمګړتیاوې د هوارې لپاره عملي کېږي، ښایي معکوسه نتیجه ولري، ځکه چې د واک پر ګدۍ ناست کسان د ستونزې په ریښو پسې نه ځي. دا ستونزه د هند په راجستان کې د روغتیایي سیستم د اصلاح په برخه کې د سېوا ماندیر «Seva Mandir» په نامه د یوې نا دولتي موسسې په فعالیتونو کې ښه انځور شوې ده. په هند کې د روغتیایي سیستم نیمګړتیا او نا اغېزمنتوب ژورې ریښې لري. په هند کې د دولت له لوري د روغتیایي خدمتونو او اسانتیاوو برابرول یوازې د شعار او نظر تر بریده دي، خو په عمل کې حتی تر ټولو بېوزله هندیان دولتي روغتیایي خدمتونو ته لاسرسی نه لري، بلکې خلک خصوصي روغتونونو ته مراجعه کوي چې خدمات یې ډېر ګران، غیر منظم او حتی کله نا کله غیر معیاري وي. خلک د ناپوهۍ او مستۍ له مخې دا کار نه کوي، بلکې دولتي خدمات او کار نه شته. که یو هندی روغتیایي مرکز ته لاړ شي، نو هلته به نه یوازې ډاکټر او نرس پیدا نه کړي، بلکې د ټرلو دروازو له امله به د روغتون یا کلنیک ودانۍ ته هم داخل نه شي. سېوا ماندیر موسسې په ۲۰۰۶ کال کې

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



د اقتصاد پوهانو له یوې ډلې سره یو پلان طرحه کړ، څو د راجستان په کلیو او بانډو کې روغتیاپالان او ډاکټران کار ته تشویق شي. دا یوه ډېره ساده طرحه وه: د ډاکټرانو لپاره د حاضرۍ ډیجیټلي ماشینونه ولګول شول. ډاکټران اړ وو چې دندې ته د راتګ، په کار کې د موجودیت او د بېرته د تګ پر مهال خپل کارتونه په ورځ کې درې ځله په ماشین کې چک کړي. که دغې طرحې کولای شول چې د روغتیایي ستونزو کمیت او کیفیت اصلاح او په دې برخه کې ټولې ستونزې حل کړي، نو دا به اوس د پراختیا په برخه کې د لویو ستونزو د حل لپاره یوه ساده تیوري یا نظریه وای. د دې طرحې په عملي کولو سره د ډاکټرانو د حضور او موجودیت ستونزه د لنډ وخت لپاره حل شوه، خو یو کال وروسته د روغتیا محلي ادارې د سیوا ماندیر طرحه ونګوله. بېرته د پخوا په څېر غیر حاضري او له کار څخه تېښته پیل شوه. د حاضرۍ برېښنایي ماشینونه خراب یا مات شول او حکومتي ادارو له سیوا ماندیر موسسې سره د هغو په بیا فعالولو کې مرسته نه کوله. د زور له لارې په ورځ کې درې ځله د حاضرۍ ورکولو ته د ډاکټرانو مجبورول کوم ابتکار نه و. دا په حقیقت کې هغه طریقه ده چې په ټولو صنایعو حتی په هندي صنایعو کې هم ترې کار اخیستل کېږي. په دې توګه، امکان نه لري چې د روغتیایي خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې دا تشویقونکې طرحه دې د ناپوهۍ له امله ناکامه شوې وي. هغه څه چې د پروګرام د عملي کېدو پر مهال پېښ شول په اسانۍ د پوهېدو وړ دي. حکومتي روغتیایي ادارو له دې امله په کار کې بېغوري کوله چې له ډاکټرانو سره یې لاس یو کړی و او ډاکټرانو د همېشنۍ تېښتې په جرم کې شریکې وې. کله چې بنسټونه په خپله د ستونزې ریښه وي، نو د

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



مارکېټ د کوچنیو ستونزو د حل دا ډول نسخې کار نه ورکوي. دلته سیاستوال فاسد نه وو او نه هم داسې ډلې وې چې د بنسټي اصلاحاتو مخه یې نیوله، بلکې محلي روغتیایي ادارو د سیوا ماندیر د طرحې د سبوتاژ او نه عملي کېدو هڅه کوله. د هند دا پېښه موږ ته څرګندوي چې د بازار د کوچنیو نیمګړتیاوو نظریه که څه هم په ښکاره اسانه برېښي، خو په حقیقت کې غولوونکې ده: هغه بنسټونه چې د بازار د نیمګړتیا او ناکامۍ سبب شوي دي، د دې نیمګړتیاوو د حل لپاره د تشویقي پروګرامونو د عملي کېدو مخه هم نیسي. تر څو چې د ستونزو ریښې و نه پلټل شي، د هوساینه د ډیزاین او جوړولو هڅې به ثمر ته ونه رسېږي.

## د بهرنیو مرستو ناکامي

د القاعدې له لوري د ۲۰۰۱ کال د سپټمبر یوولسمې تر بریدونو وروسته د امریکا په مشرۍ بهرنیو ځواکونو په افغانستان کې د طالبانو ځپونکی رژیم چې د القاعدې مشرانو ته یې پناه ورکړې وه، را نسکور کړ. افغان جهادي مشران چې د طالبانو د رژیم په راپرځولو کې یې له متحده ایالتونو سره مرسته کړې وه او د حامد کرزي په ګډون یو شمېر نور جلا وطنه افغان سیاستوال د ۲۰۰۱ کال په ډسمبر کې په بُن کې سره جرګه شول او د یوه تړون له لارې یې په افغانستان کې د نوي ډیموکراټیک نظام بنسټ کېښود. د بُن تړون له مخې لومړنی ګام د لویې جرګې جوړول و، چې حامد کرزی یې د موقت حکومت د مشر په توګه وټاکه. د افغانستان د راتلونکې په اړه ډېرې هیلې وې. زیاتره افغانان نوي نظام ته خوښ وو او غوښتل یې چې طالبان نور هېر کړي. افغانستان ته پرېمانه بهرنۍ

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

Downloaded By: Afghan Salar Library



مرستې چالانې شوې او نړيوالې ټولنې فکر کاوه چې د افغانستان ټوله او يوازينۍ اړتيا همدا مرستې دي. د ملګرو ملتونو مرستندويه پلاوی او ګڼې نورې نړيوالې انجيوګانې په پلازمېنه کابل کې مېشت شول. په تېرو پنځو لسيزو کې له ناکامو او بېوزلو هېوادونو سره د بهرنيو مرستو ناکامۍ ته په کتو، هغه څه چې په افغانستان کې وروسته پېښ شول، د تعجب وړ نه دي. که د تعجب وړ دي او که نه، بيا هم تېره تجربه تکرار شوه. د مرستندويو ادارو ګڼ کارکوونکي په خپلو شخصي الوتکو کې کابل ته راغلل، انجيوګانې چې بېلابېلې تګلارې او اجنډاوې يې درلودې ښار ته را ورسېدې او د حکومت او نړيوالې ټولنې د استازو ترمنځ په لوړه کچه خبرې پيل شوې. افغانستان ته په ميلياردونو ډالر راغلل، خو ډېره کمه برخه يې پر زېربنا، ښوونځيو، د پرانيستو بنسټونو د پراختيا په موخه پر اغېزناکو عامه خدمتونو او د قانون او نظم پر ټينګښت ولګول شوې. له دې امله چې په افغانستان کې زېربنا ويجاړه شوې وه، د مرستو يوه برخه د ملګرو ملتونو او نورو نړيوالو ادارو د کارکوونکو لپاره د يوې هوايي کرښې په اجاره کولو باندې ولګول شوه. په دويم قدم کې موټر چلوونکو او ژباړونکو ته اړتيا وه. هغه کسان چې څه نا څه انګليسي يې زده وه او همدارنګه يو شمېر ښوونکي په لوړو معاشونو مقرر شول چې دا معاشونه د عادي افغانانو د معاشونو څو برابره لوړ وو. دا چې په بهرنيو مرستندويه موسسو کې زياتره ګومارل شوي افغانان له کافي مهارتونو څخه برخمن نه وو، مرستې د زېربنا د جوړولو پر ځای د افغان دولت د کمزورتيا لامل شوې. د افغانستان په مرکزي سيمو کې کليوالو د راډيو له لارې اورېدلي وو چې په سيمه کې يې د ميليونونو ډالرو په ارزښت د سرپناه جوړونې پروګرام پيلېږي. د افغان

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



دولت د یوه مشهور جنګسالار اسماعیل خان د بار وړونکو موټرو په مرسته سیمې ته لرګي ولېږدول شول، خو دا لرګي ډېر غټ وو او په کورونو کې ترې استفاده نه شوای کېدای، چې بالاخره کلیوالو دا لرګي د سون لپاره وکارول. له کلیوالو سره ژمنه شوي میلیونونه ډالر څه شول؟ د دې پیسو ۲۰ سلنه په جینیوا کې د ملګرو ملتونو دفتر مصرف کړې وې، پاتې ۲۰ سلنه په بروکسل کې د مرستندویه موسسې دفتر واخیستې او ۲۰ سلنه یې د درې نورو ډلو ترمنځ ووېشل شوې. د مرستو ډېره کمه برخه له ایران څخه د لرګیو په اخیستلو او د اسماعیل خان د موټرو په واسطه د هغو پر انتقال ولګول شوې. کلیو ته د دې بې سایزه لرګیو رسېدل یوه بله معجزه وه. دا په افغانستان کې یوازینی مثال او پېښه نه ده. ګڼې څېړنې ښیي چې د بهرنیو مرستو له ۱۰ تر ۲۰ سلنه په اصلي هدف لګول کېږي. اوسمهال د فساد د هغو دوسیو څېړنه روانه ده چې ادعا کېږي ملګري ملتونه او محلي چارواکي په کې ښکېل دي. خو د بهرنیو مرستو ټوله برخه په فساد کې هم نه ځي، بلکې د چارواکو د بې کفایتۍ او یا هم تر دې ناوړه د مرستندویه موسسو له لوري ضایع کېږي. د بهرنیو مرستو په برخه کې د افغانستان تجربه په حقیقت کې له نورو هېوادونو سره یوه ښه مقایسه وړاندې کوي. په تېرو پنځو لسیزو کې د نړۍ بېلابېلو هېوادونو ته د پراختیایي مرستو په نوم سلګونه میلیارده ډالر ورکړل شوي دي، چې لویه برخه یې د فساد او اضافي لګښتونو له امله ضایع شوې ده، لکه افغانستان. تر ټولو ناوړه دا چې دغه مرستې په افریقا کې د موبوټو په څېر دیکتاتورانو لاس ته ورغلې دي. نوموړي دغه مرستې د سیاسي ملاتړ په پېرلو او د ځان

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



په شتمن کولو باندې ولګولې. هغه بشري مرستې چې په دې وروستیو کې په پاکستان او هایتي کې له ناورین ځپلو سره وشوې، تر هغې ډېرې اغېزناکې وې چې دولتونو ته لاس په لاس په کېدې. د پراختیا په نامه د دې مرستو پر ناکامۍ سربېره، بهرنۍ مرستې د لوېدیځو دولتونو، نړیوالو سازمانو لکه ملګرو ملتونو او انجیوګانو چې په نړۍ کې له بېوزلۍ سره د مبارزې ادعا کوي، مروجه پالیسي ده. د بهرنیو مرستو دا ناکامه تجربه بیا -بیا تکرارېږي. دا مفکوره چې شتمن لوېدیځ هېوادونه باید له بېوزلۍ سره د مبارزې لپاره له افریقا، سوېلي اسیا، کارابین او مرکزي امریکا سره په لویه کچه پراختیایي مرستې وکړي، د بېوزلۍ د ریښې په اړه د ناسمې پوهې له امله ده. د افغانستان په ګډون د نړۍ ګڼ هېوادونه د خپلو زېربنونکو بنسټونو له امله بېوزله دي، چې یادو بنسټونو د مالکیت حقوق، عامه نظم او قانون له ستونزو سره مخ کړي او په ملي او محلي کچه یې داسې واکمنې ډلې رامنځته کړي چې پر اقتصادي او سیاسي چاپېریال مسلط دي. دغه ډول بنسټي ستونزې د بهرنیو مرستو اغېزمنتوب له منځه وړي، ځکه چې چور کېږي او په اصلي هدف نه لګول کېږي. تر ټولو بده دا چې دغه مرستې داسې نظامونه حمایه کوي چې د ټولنې د درد او کړاو لامل ګڼل کېږي.کله چې دوامداره اقتصادي وده له پرانیستو بنسټونو سره تړلې وي، هغو نظامونو ته د مرستو ورکول چې زېربنونکي بنسټونه لري، د ستونزې حل لاره نه ګڼل کېږي. له دې انکار نه شي کېدای چې د نویو ښوونځیو جوړول او ښوونکو ته معاشونه ورکول تر بشري مرستو ښې پایلې لري. که څه هم سلګونه مرستندویان کابل ته راغلل او مرستې یې د عادي افغانانو په ژوند کې هېڅ مثبت بدلون را نه وست، خو پر دې سربېره

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



د ښوونځیو په جوړولو او د زده کوونکو په شمېر کې د پاموړ زیاتوالی راغی، په ځانګړې توګه د افغان نجونو لپاره چې د طالبانو په وخت کې له زده کړو محرومې وې، ښوونځي پرانیستل شول. اوس مهال د بهرنیو مرستو د اغېزمنتوب په برخه کې یوه نظریه دا ده چې دغه مرستې باید 'مشروطې' شي. د دې نظریې له مخې بهرنۍ مرستې باید مشروطه وي او له مرسته اخیستونکو هېوادونو یې په بدل کې ځیني تعهدات واخیستل شي. مثلاً؛ د ازاد بازار یا ډیموکراسۍ منل. د جورج ډبلیو بوش اداري د «زریزې ننګونو پر وړاندې د مبارزې» تر نامه لاندې د پروګرام له لارې د مرستو د مشروط کېدو په برخه کې اوچت ګامونه پورته کړل، چې له مخې یې راتلونکې مرستې په بېلابېلو اقتصادي او سیاسي برخو کې په اصلاحاتو پورې مشروطې شوې. خو مشروطې مرستې د غیر مشروطو په پرتله دومره اغېزناکې هم نه دي. هغه هېوادونه چې دا شرایط یې پوره کړي او هغه چې نه یې دي پوره کړي، دواړه یو برابر مرستې ترلاسه کوي. دلیل یې ساده دی: هغوی مرستو ته اړتیا لري، که هغه بشري وي یا پراختیایي. دا په بشپړه توګه د اټکل وړ دي چې بهرنۍ مرستې د یوه هېوادونو پر بنسټونو ډېرې لږې مثبتې اغېزې لرلی شي. دا به ډېره حیرانوونکې وي چې سیاکا سټیونز په سیریلیون او موبوټو په کانګو کې د بهرنیو مرستو په بدل کې زېږښونکو بنسټونو ته چې د دوی حیات ور پورې تړلی، د پای ټکی کېږدي. خو دا ټول په دې معنا نه دي چې له بشري مرستو پرته باید نورې مرستې ودرول شي. د بهرنیو مرستو درول غیر عملي دي او ښایي د بشري ناورین د رامنځته کېدو لامل شي.د دې مرستو بندول ځکه غیر عملي دي چې

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



د لوېدیځو هېوادونو وګړي په نړۍ کې د بشري او اقتصادي ناورین په اړه د ګناه احساس کوي او بهرنۍ مرستې هغوی ته دا ډاډ ورکوي چې په دې برخه کې یو څه کېږي. ولو که دا مرستې اغېزناکې او ګټورې هم نه وي، خو د دوام لپاره یې تمایل موجود دی. همدارنګه په لوی شمېر نړیوال سازمانونه او انجیوګانې هم د موجوده وضعیت په اړه د ډاډمنتیا لپاره خپلو فعالیتونو ته دوام ورکوي. دغه راز پر اړمنو ملتونو د مرستو بندول هم لوی زړه غواړي. دلته دوه درسه اخیستلی شو: لومړی، بهرنۍ مرستې نن ورځ د ناکامو دولتونو د ستونزو د حل په برخه کې اغېزناکې نه دي. دولتونه د بېوزلۍ د کړۍ ماتولو لپاره پرانیستو سیاسي او اقتصادي بنسټونو ته اړتیا لري. بهرنۍ مرستې په دې برخه کې ډېر لږ کار کولای شي او د دې مرستو ماهیت ته په کتو، په راتلونکي کې هم ترې د ښو تمه نه شي کېدای. د نااندولۍ او بېوزلۍ د ریښو راسپړنه له دې کبله مهمه ده چې په غولوونکو ژمنو باید تېر نه وځو. دویم، دا چې د پرانیستو سیاسي او اقتصادي بنسټونو پراختیا مهمه ده، نو دغې پراختیا ته د زمینې برابرولو لپاره بهرنۍ مرستې ګټورې دي.

## پیاوړتیا

د ۱۹۷۸ کال د مې میاشتې په دولسمه د برازیل د 'ساوپاولو' ایالت په 'ساو برناډو' ښار کې د 'سکانیا موټر جوړونې فابریکه' کې عادي ورځ وه، خو کارګر نارامه برېښېدل. په ۱۹۶۴ کال کې د ولسمشر «جاو ګولارت» ډیموکراتیک دولت پر وړاندې د پوځ تر کودتا وروسته، په برازیل کې پر اعتصاب بندیز ولګېد. خو په دې ورځو کې په برازیل کې تازه خبر خپور شوی و، چې دولت د انفلاسیون په

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



ارقامو کې ګوتې وهلي، څو د خلکو د ژوند لګښتونه کم وښيي. کله چې سهار ۷ بجې د کار رسمي وخت پیل شو، کارګرو خپل وسایل پر ځمکه کېښودل. 'ګیلسن مینزس' چې په فابریکه کې د کارګرانو اتحادیې استازی و، له اتحادیې سره په اړیکه کې شو. په ساو برنادو کې د فلزاتو د تولیدي فابریکو عمومي مشر ۳۳ کلن «لویز انیاسیو لولا دا سیلوا» و. لولا ماسپښین مهال فابریکې ته را ورسېد. د فابریکې مسوولینو له نوموړي وغوښتل چې کارګرانو ته قناعت وکړي څو بېرته کار ته ستانه شي، خو هغه انکار وکړ. د سکانیا اعتصاب لړۍ ډېر ژر ټول برازیل ته وغځېده. دا اعتصاب ظاهراً د کارګرانو د کم مزد په غبرګون کې و، خو لولا وروسته ولیکل: «زه فکر کوم موږ نه شو کولای چې سیاسي او اقتصادي عوامل له یو بله جلا کړو...مبارزه د مزد پر سر وه، خو د مزد پر سر دغې مبارزې کارګره طبقه سیاسي بریالیتوب ته ورسوله.»

د برازیل د کارګر غورځنګ بیا را ژوندي کېدل په دغه هېواد کې د یوې نیمې لسیزې دیکتاتور پوځي رژیم پر وړاندې پراخ ولسي غبرګون و. په په برازیل کې د ډیموکراسۍ په راتلو سره کیڼ اړخی روڼ اندی «فرناندو هنریک کاردوسو» هم د لولا په څېر واک ته د رسېدو هیله درلوده. هغه په ۱۹۷۳ کال کې وویل چې په برازیل کې به د ډیموکراتیک نظام د رامنځته کېدو لپاره د پوځي نظام مخالفې ټولې ټولنیزې ډلې سره جرګه شي. هغه څرګنده کړه:«هغه څه چې لازم دي، د مدني ټولنې بیا فعالول دي... تحصصي اتحادیې، سوداګریزې ټولنې، کلیساګانې، د محصلینو ټولنې، څېړنیز مرکزونه، د مناظرې حلقې او ټولنیز خوځښتونه.» په بله وینا، د ډیموکراسۍ د بیا

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



احيا او د برازيلۍ ټولنې د بدلون په موخه د يوه پراخ ايتلاف جوړولو ته اړتيا وه. د سکانيا فابريکه د دې ايتلاف د جوړېدو مرکز و. په ۱۹۷۸ کال کې لولا د يوه کارگر گوند د جوړېدو ايډيا مطرح کړه. پلان دا و چې ياد گوند به يوازې د کارگري اتحاديې لپاره نه وي، بلکې د لولا په وينا نوی کارگر گوند بايد د ټولو خواريکښو او بېوزلو وگړو لپاره يو چتر وي. د اتحاديې مشرانو له نورو ټولنيزو خوځښتونو سره په گډه د يوه جوړښت په رامنځته کولو پيل وکړ. د ۱۹۷۹ کال د اگست په اتلسمه د کارگر گوند د تشکيل لپاره په ساوپاولو کې غونډه جوړه شوه. په دې غونډه کې پخوانيو سياسي مخالفينو، د اتحاديې مشرانو، محصلينو، روڼ اندو او د سلگونو نورو ټولنيزو خوځښتونو استازو برخه اخيستې وه. کارگر گوند د ۱۹۷۹ کال په اکتوبر کې د «ساو جوداس تاديو» په يوه رستورانت کې خپل موجوديت اعلان کړ. گوند ډېر ژر په هېواد کې له پرانيستې سياسي فضا څخه گټه واخيسته. د ۱۹۸۲ کال په سيمه ييزو ټاکنو کې کارگر گوند په لومړي ځل خپل کانديدان معرفي کړل او د ښاروالۍ ټاکنې يې وگټلې. د ۱۹۸۰ يمې لسيزې په اوږدو کې کله چې په برازيل کې ولسواکي د بيا راژوندي کېدو په حال کې وه، د محلي حکومت لويه برخه د کارگر گوند لاسته ورغله او تر ۱۹۸۸ کال پورې يې د ساو پاولو او پورتو الگري لويو ښارونو په گډون د ۳٦ ايالتونو ښاروالۍ ترلاسه کړې. د ۱۹۸۹ کال په ولسمشريزو ټاکنو کې چې د تر پوځي کودتا وروسته په برازيل کې لومړنۍ ټاکنې وې، لولا د کارگر گوند په استازيتوب په لومړي پړاو ټاکنو کې ۱۷ سلنه او د فرناندو کولار په وړاندې په دويم پړاو سيالۍ کې ۴۴ سلنه رايې وگټلې. په محلي حکومت کې د کارگر گوند د نفوذ په زياتېدو سره چې په ۱۹۹۰ يمه

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

Downloaded By: Afghan Salar Library



لسیزه کې اوج ته ورسېد، دغه گوند له نورو ټولنیزو محلي خوځښتونو سره گډه کار پیل کړ. کارگر گوند له ۱۹۸۸ کال وروسته په پورتو الگري کې د «مشارکتي بودیجې» بهیر پیل کړ او عامو خلکو ته بلنه ورکړل شوه چې د ښار لپاره د لومړیتوبونو د ټاکلو لپاره د میکانیزم په جوړولو کې برخه واخلي. دغه میکانیزم یو داسې سیستم رامنځته کړ چې د محلي حکومتونو په کچه د ځواب ورکونې او مسوولیت منلو پر یوه نړیوال موډل بدل شو. دا سیستم د عامه خدمتونو او په ښار کې د خلکو ژوند د ښه والي په برخه کې ډېر اغېزناک ثابت شو. په محلي کچه د گوند بریالي جوړښت وکولای شول چې په ملي کچه پراخ او بریالي انسجام ته لار هواره کړي. که څه هم لولا د ۱۹۹۴ کال او ۱۹۹۸ کال په ټاکنو کې د فرناندو هنریک کاردوسو په وړاندې ماتې وخوړه، خو د ۲۰۰۲ کال په ټاکنو کې د برازیل د ولسمشر په توگه وټاکل شو. د برازیل د کارگرانو گوند له هماغه وخته تر ننه په واک کې دی. په برازیل کې د یوه پراخ سیاسي ایټلاف جوړېدو چې د بېلابېلو ټولنیزو خوځښتونو او کارگري ټولنو گډوله و، د برازیل پر اقتصاد د پامور مثبت اغېز وکړ. له ۱۹۹۰ کال وروسته اقتصاد په چټکۍ وغوړېد او د بېوزلۍ کچه له ۴۵ سلنې څخه په ۲۰۰۶ کال کې ۳۰ سلنې ته راټیټه شوه. هغه نا انډولي چې د پوځي حکومت په وخت کې د پراخېدو په حال کې وه، واک ته د کارگر گوند په راتگ سره په کمسارې ډول راکمه او د تعلیم سطحه خورا لوړه شوه. برازیل اوسمهال د بریکس سازمان (Brazil, Russia, India, and China)غړی دی او په حقیقت کې د لاتینې امریکا یوازینی هېواد دی چې په نړیوالو ډیپلوماتیکو کړیو کې وزن

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



لري. له ۱۹۷۰ يمې لسيزې را وروسته د برازيل پرمختګ د کوم نړيوال سازمان يا اقتصاد پوه له خوا ډيزاين نه شو او نه هم چا برازيلي پاليسي جوړوونکو ته دا مشوره ورکړه چې د مارکېټ د ناکامۍ مخه څنګه ونيسي. دا د بهرنيو مرستو او د موډرنيزېشن د طبيعي پروسې نتيجه هم نه وه، بلکې د خلکو د بېلابېلو اقشارو او ډلو ټپلو يو زړور ايتلاف و چې په برازيل کې يې پرانيستي سياسي بنسټونه رامنځته کړل او دغو بنسټونو بالاخره د پرانيستو اقتصادي بنسټونو ملا ور وتړله. د برازيل بدلون هم په اولسمه پېړۍ کې په برېتانيا کې د پرانيستو سياسي بنسټونو له بدلون سره پيل شو. خو ملتونه څنګه کولای شي چې پرانيستي بنسټونه رامنځته کړي؟

لکه څرنګه چې و مو ليدل، تاريخ د هغو اصلاحي غورځنګونو له مثالونو ډک دی چې د اوليګارشۍ اوسپنيز قانون ته تسليم شوي او تر پخوا يې لا ډېر زبېښونکي بنسټونه جوړ کړي دي. موږ په ۱۶۸۸ کال کې په برېتانيا، په ۱۷۸۹ کال کې په فرانسې او په ۱۸۶۸ کال کې په جاپان کې د ميجي په بيا راتګ سره، د سياسي انقلابونو له لارې د پرانيستو سياسي بنسټونو د جوړېدو پروسه وليده. خو دا ډول انقلابونه معمولاً ډېرې ورانۍ او کړاوونه زېږوي او برياليتوب يې حتمي نه وي. بلشويک انقلاب خپل اهداف په روسيه کې د تزار د زبېښونکي رژيم پر ځای د يوه عادلانه نظام رامنځته کول تبليغول، خو له بده مرغه نتيجه يې برعکس وه او بلشويکانو په روسيه کې تر پخوا لا ډېر زبېښونکي او ځپونکي بنسټونه سمبال کړل. د چين، کيوبا او ويتنام تجربه هم عين شی وه. ګڼ شمېر غير کمونېستي اصلاحاتو هم کومه نتيجه نه لرله. جمال ناصر ژمنه وکړه چې په مصر کې به پر مساواتو ولاړه موډرنه ټولنه جوړوي، خو وروسته يې د

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



حسن مبارک فاسد رژیم ته لار هواره کړه. رابرټ موګابي ته په زیمبابوې کې د توکمیز تبیض پر وړاندې د ستر مبارز په سترګه کتل کېدل، خو تر خپلواکۍ وروسته هم د زیمبابوې په زېښنونکو بنسټونو کې کوم بدلون رانغی او حتی اقتصاد یې تر خپلواکۍ مخکې دورې په پرتله لا پسې خراب شو. هغه څه چې د سیاسي انقلاب او د تدریجي بنسټي بدلون ترمنځ چې په شمالي امریکا، برېتانیا او بوتسوانا کې پېښ شول، عام او مشترک ټکی جوړوي، په ټولنه کې د بېلابېلو ډلو او اقشارو پیاوړتیا ده. پلورالېزم د پرانیستو سیاسي بنسټونو د مرکزي هستې په توګه سیاسي واک په ټولنه کې په پراخه کچه وېشي او که بدلون له زېښنونکو بنسټونو پیلېږي، نو دا کار د پیاوړتیا پروسې ته اړتیا لري، لکه په برېتانیا او فرانسه کې مو چې ولیدل. د پیاوړتیا د دې تاریخي پروسو او د برازیل د ۱۹۷۰ یمې لسیزې د تحول ترمنځ ډېر مشابهتونه شته. که څه هم د کارګر ګوند یوه مهمه پایه د کارګرو اتحادیه وه، خو د لولا په څېر مشرانو له نورو روڼ اندو سیاستوالو سره په ګډه په هماغه لومړیو کې دا هڅه کوله چې یاد خوځښت پر یوه ستر ایتلاف بدل کړي. کله چې کارګر ګوند د محلي حکومتونو واک ترلاسه کړ او خلکو ته یې د پراخ مشارکت زمینه برابره کړه، له محلي خوځښتونو سره یې همغږي زیاته او د ادغام پروسه یې رامنځته کړه. د برېتانیا د اولسمې او د فرانسې د اتلسمې پېړۍ د انقلابونو برعکس، په برازیل کې د بنسټي اصلاحاتو لپاره یو ګرم انقلاب پیل نه شو، بلکې دا د پیاوړتیا یوه ارامه پروسه وه چې د ساو برنادو له فابریکو یې سر راپورته کړ او له پوځي رژیم څخه د ولسواکۍ په لور د بنسټي اصلاحاتو یوه اغېزناکه لړۍ پیل

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



شوه. تر ټولو مهمه دا چې په برازیل کې د پیاوړتیا بهیر په ترڅ کې د ډیموکراسۍ په لور حرکت د پرانیستو سیاسي بنسټونو په لور د حرکت مسیر ډاډمن او تضمیناوه. لکه څرنګه چې و مو لیدل، ډیموکراسي د پلورالیزم د ټینګېدو ضمانت نه کوي. دا حقیقت د برازیل او وینزویلا د کثرت پاله بنسټونو د پراختیا ترمنځ په توپیر کې په ښه توګه څرګندېدای شي. وینزویلا هم په ۱۹۵۸ کال کې د ډیموکراسۍ په لور حرکت وکړ، خو دا بدلون د ولس ترمنځ د پیاوړتیا له پروسې پرته ترسره شو او د سیاسي واک د پلورالایز وېش لامل نه شو، بلکې فاسدو سیاستوالو، فاسدو شبکو او دوامداره شخړو ته یې لار پرانیسته، نتیجه یې دا شوه چې کله به رایه ورکوونکي د رایو مرکزونو ته لاړل، حتی لېوال وو چې د هوګو چاوېز په څېر دیکتاتورانو ته هم رایه ورکړي. په پایله کې وینزویلا تر اوسه هم له زبېښونکو بنسټونو رنځېږي. په داسې حال کې چې برازیل دغه طلسم مات کړ. د پیاوړتیا د پروسې د پیل، د هغې لپاره د زمینې برابرولو او له دې لارې د پرانیستو سیاسي بنسټونو د پراختیا لپاره باید څه وشي؟ په حقیقت کې د دې بنسټونو د رامنځته کېدو لپاره هېڅ لیکلې کړنلاره یا لاربنود نه شته. ځینې فکټورونه شته چې د پیاوړتیا پروسه ممکنوي: د یوه اندازه متمرکز نظم موجودیت، یعنې دا چې ټولنیز خوځښتونه موجوده رژیم چلنج کړي، نه دا چې فوراً ناقونې او ګډوډي رامنځته کړي؛ همدارنګه د پخوانیو دودیزو بنسټونو موجودیت لکه په بوتسوانا کې د کګوتلا جرګه؛ د مدني جوړښتونو او ټولنو موجودیت چې د خلکو غوښتنې همغږې کړي، تر څو مخالف خوځښتونه د واکمن پاړکي له لوري ژر زیانمن نه شي او نه هم د هغو ډلو د لاس اله شي چې د زبېښونکو بنسټونو د نیولو په

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



هڅه کې وي. خو زیاتره دغه فکټورونه یا عوامل له تاریخي پلوه له مخکې د وړاندوینې وړ نه دي او ډېر اهسته رنګ راوړي. د برازیل پېښې وښوده چې مدني ټولنې او نور خوځښتونه څنګه یوه هسته یا ایټلاف جوړولای شي، خو دا ډېره ورو پروسه ده او د متفاوتو شرایطو له امله یې بریالیتوب د اټکل وړ نه دی. یو بل کلیدي عامل چې د پیاوړتیا پروسه کې مهم رول لوبوي، هغه رسنۍ دي. له واک څخه د ناوړه استفادې په برخه کې د پراخو معلوماتو له شتون پرته د ټولنې پیاوړتیا ستونزمنه ده. په یوولسم څپرکي کې مو په متحده ایالتونو کې د رسنیو پر رول خبرې وکړې. رسنۍ د دوامداره سیاسي اصلاحاتو په برخه کې د ټولنې له پیاوړتیا سره مرسته کوي، چې په دې اړه مو هم په یوولسم څپرکي کې په برېټانیا کې د ولسواکۍ د ټینګښت په پروسه کې بحث وکړ. د برېټانیا د پرتمین انقلاب، د فرانسې انقلاب او په نولسمه پېړۍ کې د ولسواکۍ په لور د مزل په جریان کې چاپي خپرونې او کتابونو هم د خلکو په پوهاوي او وینښتابه کې مهم رول ولوباوه. دغه راز رسنۍ په ځانګړې توګه د معلوماتي ټکنالوژۍ پرمختللې ډول رسنۍ لکه وېبلاګ، چټ، فېسوک او ټویټر په ایران کې د ۲۰۰۹ کال په ټاکنو کې د احمدي نژاد له لوري د درغلیو پر ضد اعتراضونو کې مهم رول ولوباوه او وروسته د عرب پسرلي په پراخو پاڅونونو کې هم اغېزناکې ثابتې شوې. استبدادي رژیمونه د رسنیو په ارزښت پوهېږي او د مخنیوي هڅه یې کوي. د دې یو څرګند مثال په پیرو کې د البرټو فوجیموري په حکومت کې لیدل کېږي. که څه هم فوجیموري په ډیموکراټیک ډول انتخاب شو، خو لږ وروسته یې په پیرو کې استبدادي حکومت

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



جو کړ او په ۱۹۹۲ کال کې په داسې حال کې چې په واک کې هم و، په کودتا یې لاس پورې کړ. تر دې وروسته که څه په پیرو کې ټاکنې ترسره کېدې، خو فوجیموري یو فاسد نظام رامنځته کړ او د زور او بډې ورکونې له لارې یې حکومت وکړ. هغه په دې برخه کې پر خپل ډېر نږدې ملګري او د ملي استخباراتو د څواکمنې ادارې مشر «ویلادیمیرو مونټسینوس» باندې تکیه وکړه. ویلادیمیرو یو ډېر فعال سړی و او ټول هغه اسناد یې له ځان سره وساتل چې دولت یو شمېر کسانو ته په پټه بډې او پیسې ورکولې. نوموړي حتی د ځینو کسانو ویډیوګانې هم اخیستې وې. د دې تر شا یو منطق و او هغه دا چې بډه اخیستونکي سیاستوال او افراد هم باید له فوجیموري او ویلادیمیرو سره په جرم کې شریکان وپېژندل شوي وای. د حکومت تر نسکورېدو وروسته یاد اسناد د رسنیو او نویو حکومتي چارواکو لاس ته ورغلل. افشا شوي اسناد د یوه دیکتاتور لپاره د رسنیو ارزښت په ډاګه کوي. د سترې محکمې د یوه قاضي ارزښت په میاشت کې د ۵۰۰۰ او ۱۰،۰۰۰ ډالرو ترمنځ و، په ګوند او له ګونده بهر سیاستوالو ته هم همدومره پیسې ورکول کېدې. خو د ورځپاڼو او ټلوېزیوني شبکو قیمت تر دې هم لوړ و چې میلیونونه ډالر کېدل. فوجیموري او د هغه د استخباراتي ادارې مشر ویلادیمیرو د ټلویزیونونو د کنټرول لپاره له یو میلیون څخه تر ۹ میلیونو ډالرو پورې هم د بډو په توګه ورکړي وو. د فوجیموري حکومت دغه راز یوې ځانګړې ورځپاڼې ته تر یو میلیون ډالرو پورې او ځینو ته یې یوازې د یوه سرلیک پر سر د ۳،۰۰۰ او ۸،۰۰۰ ډالرو تر منځ بډې ورکړې وې. فوجیموري او مونټیسینوس د قاضیانو او سیاستوالو په پرتله د رسنیو کنټرول ته ډېر ارزښت او لومړیتوب ورکاوه. د مونټسینو

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



یو ملګری جنرال بېلو په یوه ویډیو کې وایي:«که موږ ټلوېزیونونه کنټرول نه کړو، هیڅ نه شو کولای.»

د چین اوسني زبېښونکي بنسټونه هم د رسنیو د سانسور او کنټرول په برخه کې جدي دي. یو چینایي شنونکی په دې اړه وایي:«په سیاسي اصلاحاتو کې د ګوند د رهبرۍ د خوندیتوب په موخه درې اصله باید په پام کې ونیول شي: ګوند باید پر وسله وال پوځ کنټرول ولري، ګوند باید پر کادرونو نظارت وکړي او ګوند باید رسنۍ کنټرول کړي.» ازادې رسنۍ او نوې ارتباطي ټکنالوژي یوازې د هغو کسانو د فعالیتونو او غوښتنو د همغږي کولو په برخه کې چې د پرانیستو بنسټونو لپاره مبارزه کوي، اغېزناک او مرستندویه دي. د رسنیو همکاري به هغه وخت ګټوره او اغېزناکه وي، کله چې د ټولنې یوه لویه برخه د سیاسي بدلونونو لپاره غږ پورته کوي،خو دا بدلون باید د قومي غوښتنو او د زبېښونکو بنسټونو د لاسته راوړلو لپاره نه وي، بلکې له زبېښونکو بنسټونو څخه د پرانیستو بنسټونو په لور یو پراخ حرکت وي. لکه څرنګه چې په بېلابېلو مثالونو کې مو روښانه کړل، دا چې دا ډول یو بدلون به پیل شي او د پیاوړتیا د راتلونکو پروسو لپاره به لار پرانیستل شي او که نه؛ د سیاسي او اقتصادي بنسټونو په تاریخ او د تاریخ په نا اټکل شوي مسیر کې په مهمو کوچنیو توپیرونو پورې به اړه ولري.

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



# ماخذونه

Abraham, Arthur, and Habib Sesay (1993). "Regional Politics and Social Service Provision Since Independence." In C. Magbaily Fyle, ed. The State and the Provision of Social Services in Sierra Leone Since Independence, 1961–1991. Oxford, U.K.: Codesaria.

Acemoglu, Daron (2005). "Politics and Economics in Weak and Strong States." Journal of Monetary Economics 52: 1199–226.

——(2008). "Oligarchic Versus Democratic Societies." Journal of European Economic Association 6: 1–44.

Acemoglu, Daron, Davide Cantoni, Simon Johnson, and James A. Robinson (2010). "From Ancien Régime to Capitalism: The Spread of the French Revolution as a Natural Experiment." In Jared Diamond and James A. Robinson, eds. Natural Experiments in History. Cambridge, Mass.: Harvard University Press.

——(2011). "Consequences of Radical Reform: The French Revolution." American Economic Review, forthcoming.

Acemoglu, Daron, Simon Johnson, and James A. Robinson (2001). "The Colonial Origins of Comparative Development: An Empirical Investigation." American Economic Review91: 1369–1401.

——(2002). "Reversal of Fortune: Geography and Institutions in the Making of the Modern World Income Distribution." Quarterly Journal of Economics 118: 1231–94.

——(2003). "AnAfrican Success Story: Botswana." In Dani Rodrik, ed. In Search of Prosperity: Analytic Narratives on Economic Growth. Princeton, N.J.: Princeton University Press.

——(2005a). "Rise of Europe: Atlantic Trade, Institutional Change and Economic Growth." American Economic Review95: 546–79.

——(2005b). "Institutions as the Fundamental Cause of

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



Long-Run Growth." In Philippe Aghion and Steven Durlauf, eds. Handbook of Economic Growth. Amsterdam: North- Holland.

Acemoglu, Daron, Simon Johnson, James A. Robinson, and Pablo Querubín (2008). "When Does Policy Reform Work? The Case of Central Bank Independence." Brookings Papers in Economic Activity, 351–418.

Acemoglu, Daron, Simon Johnson, James A. Robinson, and Pierre Yared (2008). "Income and Democracy." American Economic Review98: 808–42.

——(2009). "Reevaluating the Modernization Hypothesis." Journal of Monetary Economics 56: 1043–58.

Acemoglu, Daron, and James A. Robinson (2000a). "Why Did the West Extend the Franchise? Growth, Inequality and Democracy in Historical Perspective." Quarterly Journal of Economics 115: 1167–99.

——(2000b). "Political Losers as Barriers to Economic Development." American Economic Review90: 126–30.

——(2001). "A Theory of Political Transitions." American Economic Review91: 938–63.

——(2006a). Economic Origins of Dictatorship and Democracy. New York: Cambridge University Press.

——(2006b). "Economic Backwardness in Political Perspective." American Political Science Review 100: 115–31.

——(2008a). "Persistence of Power, Elites and Institutions." American Economic Review98: 267–93.

——(2008b). "The Persistence and Change of Institutions in the Americas." Southern Economic Journal 75: 282–99.

Acemoglu, Daron, James A. Robinson, and Rafael Santos (2010). "The Monopoly of Violence: Evidence from Colombia." Unpublished.

Acemoglu, Daron, and Alex Wolitzky (2010). "The

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



Economics of Labor Coercion." Econometric, 79: 555–600.

Aghion, Philippe, and Peter Howitt (2009). The Economics of Growth. Cambridge, Mass.: MIT Press.

Alexander, Jocelyn (2006). The Unsettled Land: State- making and the Politics of Land in Zimbabwe, 1893–2003. Oxford, U.K.: James Currey.

Allen, Robert C. (2003). Farm to Factory: A Reinterpretation of the Soviet Industrial Revolution. Princeton, N.J.: Princeton University Press.

——(2009a). The British Industrial Revolution in Global Perspective. New York: Cambridge University Press.

——(2009b). "How Prosperous Were the Romans? Evidence from Diocletian's Price Edict (301 AD)." In Alan Bowman and Andrew Wilson, eds. Quantifying the Roman Economy: Methods and Problems. Oxford, U.K.: Oxford University Press.

Alston, Lee J., and Joseph P. Ferrie (1999). Southern Paternalism and the Rise of the American Welfare State: Economics, Politics, and Institutions in the South. New York: Cambridge University Press.

Amsden, Alice H. (1992). Asia's Next Giant, New York: Oxford Universty Press.

Austen, Ralph A., and Daniel Headrick (1983). "The Role of Technology in the African Past." African Studies Review26: 163–84.

Austin, Gareth (2005). Labour, Land and Capital in Ghana: From Slavery to Free Labour in Asante, 1807–1956. Rochester, N.Y.: University of Rochester Press.

Bakewell, Peter J. (1984). Miners of the Red Mountain: Indian Labor in Potosí, 1545–1650. Albuquerque: University of New Mexico Press.

—— (2009). A History of Latin America to 1825. Hoboken, N.J.: Wiley-Blackwell.

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



Banerjee, Abhijit V., and Esther Duflo (2011). Poor Economics: A Radical Rethinking of the Way to Fight Global Poverty. New York: Public Affairs.

Banerjee, Abhijit V., Esther Duflo, and Rachel Glennerster (2008). "Putting a Band-Aid on a Corpse: Incentives for Nurses in the Indian Public Health Care System." Journal of the European Economic Association 7: 487–500.

Banfield, Edward C. (1958). The Moral Basis of a Backward Society. Glencoe, N.Y.: Free Press.

Bang, Peter (2008). The Roman Bazaar. New York: Cambridge University Press.

Barker, Graeme (2006). The Agricultural Revolution in Prehistory: Why Did Foragers Become Farmers? New York: Oxford University Press.

Bar-Yosef, Ofer, andAvner Belfer-Cohen (1992) . "From Foraging to Farming in the Mediterranean Levant." In A. B. Gebauer and T. D. Price, eds. Transitions to Agriculture in Prehistory. Madison, Wisc.: Prehistory Press.

Bateman, Fred, and Thomas Weiss (1981). A Deplorable Scarcity: The Failure of Industrialization in the Slave Economy. Chapel Hill: University of North Carolina Press.

Bates, Robert H. (1981). Markets and States in Tropical Africa. Berkeley: University of California Press.

——(1983). Essays in the Political Economy of Rural Africa. New York: Cambridge University Press.

——(1989). Beyond the Miracle of the Market. New York: Cambridge University Press.

——(2001). Prosperity and Violence: The Political Economy of Development. New York: W.W. Norton.

Benedictow, Ole J. (2004). The Black Death, 1346–1353: The Complete History. Rochester, N.Y.: Boydell Press.

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



Berliner, Joseph S. (1976). The Innovation Decision in Soviet Industry. Cambridge, Mass.: Harvard University Press.

Besley, Timothy, and Stephen Coate (1998). "Sources of Inefficiency in a Representative Democracy: A Dynamic Analysis." American Economic Review88: 139–56.

Besley, Timothy, and Torsten Persson (2011) . Pillars of Prosperity: The Political Economics of Development Clusters. Princeton, N.J.: Princeton University Press.

Bloch, Marc L. B. (1961). Feudal Society. 2 vols. Chiacgo: University of Chicago Press.

Blum, Jerome (1943). "Transportation and Industry in Austria, 1815–1848." The Journal of Modern History 15: 24–38.

Bogart, Dan, and Gary Richardson (2009). "Making Property Productive: Reorganizing Rights to Real and Equitable Estates in Britain, 1660 to 1830." European Reviewof Economic History 13: 3–30.

——(2011). "Did the Glorious Revolution Contribute to the Transport Revolution? Evidence from Investment in Roads and Rivers." Economic History Review. Forthcoming.

Bourguignon, François, and Thierry Verdier (1990). "Oligarchy, Democracy, Inequality and Growth." Journal of Development Economics 62: 285–313.

Brenner, Robert (1976). "Agrarian Class Structure and Economic Development in Preindustrial Europe." Past and Present 70: 30–75.

——(1993). Merchants and Revolution. Princeton, N.J.: Princeton University Press.

Brenner, Robert, and Christopher Isett (2002). "England's Divergence from China's Yangzi Delta: Property Relations, Microeconomics, and Patterns of Development." Journal of Asian Studies 61: 609–62.

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



Brewer, John (1988). The Sinews of Power: War, Money and the English State, 1688–1773. Cambridge, Mass.: Harvard University Press.

Briggs, Asa (1959). Chartist Studies. London: Macmillan.

Brunton, D., and D. H. Pennignton (1954). Members of the Long Parliament. London: George Allen and Unwin.

Bundy, Colin (1979). The Rise and Fall of the South African Peasantry. Berkeley: University of California Press.

Burke, Edmund (1790/1969). Reflections of the Revolution in France. Baltimore, Md.: Penguin Books.

Cartwright, John R. (1970). Politics in Sierra Leone 1947–67. Toronto: University of Toronto Press.

Casaús Arzú, Marta (2007). Guatemala: Linaje y Racismo. 3rd ed., rev. y ampliada. Guatemala City: F&G Editores.

Chaves, Isaías, and James A. Robinson (2010). “Political Consequences of Civil Wars.” Unpublished.

Cleary, A. S. Esmonde (1989). The Ending of Roman Britain. London: B.T. Batsford Ltd.

Clower, Robert W., George H. Dalton, Mitchell Harwitz, and Alan Walters (1966). Growth Without Development; an Economic Survey of Liberia. Evanston: Northwestern University Press.

Coatsworth, John H. (1974). “Railroads, Landholding and Agrarian Protest in the Early Porfiriato.” Hispanic American Historical Review54: 48–71.

——(1978). “Obstacles to Economic Growth in Nineteenth- Century Mexico.” American Historical Review83: 80–100.

——(2008). “Inequality, Institutions and Economic Growth in Latin America.” Journal of Latin American Studies 40: 545–69.

Cole, G.D.H., and A. W. Filson, eds. (1951). British Working Class Movements: Select Documents 1789–1875. London: Macmillan.

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



Conning, Jonathan (2010). "On the Causes of Slavery or Serfdom and the Roads to Agrarian Capitalism: Domar's Hypothesis Revisited." Unpublished, Department of Economics, Hunter College, CUNY.
Corti, Egon Caeser (1928). The Reign of the House of Rothschild. New York: Cosmopolitan Book Corporation.
Crouzet, François (1985). The First Industrialists: The Problem of Origins. New York: Cambridge University Press.
Crummey, Donald E. (2000). Land and Society in the Christian Kingdom of Ethiopia: From the Thirteenth to the Twentieth Century. Urbana: University of Illinois Press.
Dalton, George H. (1965). "History, Politics and Economic Development in Liberia." Journal of Economic History 25: 569–91.
Dark, K. R. (1994). Civitas to Kingdom: British Political Continuity 300–800. Leicester, U.K.: Leicester University Press.
Daunton, Martin J. (1995). Progress and Poverty: An Economic and Social History of Britain, 1700–1850. Oxford, U.K.: Oxford University Press.
Davies, Robert W. (1998). Soviet Economic Development from Lenin to Khrushchev. New York: Cambridge University Press.
Davies, Robert W., and Stephen G. Wheatcroft (2004). The Years of Hunger: Soviet Agriculture, 1931–33. New York: Palgrave Macmillan.
Davies, Victor A. B. (2007). "Sierra Leone's Economic Growth Performance, 1961–2000." In Benno J. Ndulu et al., eds. The Political Economy of Growth in Africa, 1960–2000. Vol. 2. New York: Cambridge University Press.
Dawit Wolde Giorgis (1989). Red Teas: War, Famine and Revolution in Ethiopia. Trenton, N.J.: Red Sea Press.
De Callataÿ, François (2005). "The Graeco-Roman

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

Downloaded By: Afghan Salar Library



Economy in the Super Longrun: Lead, Copper, and
Shipwrecks." Journal of Roman Archaeology 18: 361–72.
de las Casas, Bartolomé (1992). A Short Account of the Destruction of the Indies. New York: Penguin Books.
Dell, Melissa (2010). "The Persistent Effects of Peru's Mining Mita." Econometrica 78: 1863–903.
Denny, Harold (1937). "Stalin Wins Poll by a Vote of
1005." NewYork Times, December 14, 1937, p. 11.
de Sahagún, Bernardino (1975). Florentine Codex: General History of the Things of NewSpain. Book 12: The Conquest of Mexico. Santa Fe, N.M.: School of American Research.
Diamond, Jared (1997). Guns, Germs and Steel. New
York: W.W. Norton and Co.
Dobb, Maurice (1963). Studies in the Development of
Capitalism. Rev. ed. New York: International Publishers.
Dosal, Paul J. (1995). Power in Transition: The Rise of
Guatemala's Industrial Oligarchy, 1871–1994. Westport, Conn.: Praeger.
Douglas, Mary (1962). "Lele Economy Compared to the
Bushong." In Paul Bohannan and George Dalton, eds. Markets in Africa. Evanston, Ill.: Northwestern University
Press.
——(1963). The Lele of the Kasai. London: Oxford
University Press.
Doyle, William (2001). An American Insurrection: The
Battle of Oxford Mississippi. New York: Doubleday.
——(2002). The Oxford History of the French Revolution.
2nd ed. New York: Oxford University Press.
Dreyer, Edward L. (2007). Zheng He: China and the Oceans in the Early Ming Dynasty, 1405–1433. New York: Pearson Longman.
Du Bois, W.E.B. (1903). The Souls of Black Folk. New
York: A.C. McClurg & Company.
Dunn, Richard S. (1969). "The Barbados Census of

Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



1680: Profile of the Richest Colony in English America." William and Mary Quarterly 26: 3–30.

DuPlessis, Robert S. (1997). Transitions to Capitalism in Early Modern Europe. New York: Cambridge University Press.

Easterly, William (2006). The White Man's Burden: Why the West's Efforts to Aid the Rest Have Done So Much Ill and So Little Good. New York: Oxford University Press.

Elton, Geoffrey R. (1953). The Tudor Revolution in Government. New York: Cambridge University Press.

Engerman, Stanley L. (2007). Slavery, Emancipation & Freedom: Comparative Perspectives. Baton Rouge: University of Lousiana Press.

Engerman, Stanley L., and Kenneth L. Sokoloff (1997). "Factor Endowments, Institutions, and Differential Paths of Growth Among New World Economies." In Stephen H. Haber, ed. How Latin America Fell Behind. Stanford, Calif.: Stanford University Press.

——(2005). "The Evolution of Suffrage Institutions in the New World." Journal of Economic History 65: 891–921.

Evans, Eric J. (1996). The Forging of the Modern State: Early Industrial Britain, 1783–1870. 2nd ed. New York: Longman.

Evans, Peter B. (1995). Embedded Autonomy: States and Industrial Transformation. Princeton, N.J.: Princeton University Press.

Ewald, Janet (1988). "Speaking, Writing and Authority: Explorations in and from the Kingdom of Taqali." Comparative Studies in History and Society 30: 199–224.

Fagan, Brian (2003). The Long Summer: How Climate Changed Civilization. New York: Basic Books.

Faulkner, Neil (2000). The Decline and Fall of Roman Britain. Stroud, U.K.: Tempus Publishers.

Feinstein, Charles H. (2005). An Economic History of South Africa: Conquest, Discrimination and

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



Development. New York: Cambridge University Press.
Ferguson, Niall (1998). The House of Rothschild: Vol. 1: Money's Prophets, 1798–1848. New York: Viking.
Fergusson, Leopoldo (2010). "The Political Economy of Rural Property Rights and the Persistance of the Dual Economy." Unpublished. http://economia.uniandes.edu.co.
Finley, Moses (1965). "Technical Innovation and Economic Progress in the Ancient World." Economic History Review18: 29–4.
——(1999). The Ancient Economy. Berkeley: University of California Press.
Fischer, David H. (1989). Albion's Seed: Four British Folkways in America. New York: Oxford University Press.
Fogel, Robert W., and Stanley L. Engerman (1974). Time on the Cross: The Economics of American Negro Slavery. Boston: Little, Brown.
Foley, James A. (2003). Korea's Divided Families: Fifty Years of Separation. New York: Routledge.
Freudenberger, Herman (1967). "The State as an Obstacle to Economic Growth in the Hapsburg Monarchy." Journal of Economic History 27: 493–509.
Galenson, David W. (1996). "The Settlement and Growth of the Colonies: Population, Labor and Economic Development." In Stanley L. Engerman and Robert E. Gallman, eds. The Cambridge Economic History of the United States, Volume I: The Colonial Era. New York: Cambridge University Press.
Ganson, Barbara (2003). The Guaraní Under Spanish Rule in the Río de la Plata. Palo Alto, Calif.: Stanford University Press.
García-Jimeno, Camilo, and James A. Robinson (2011). "The Myth of the Frontier." In Dora L. Costa and Naomi R. Lamoreaux, eds. Understanding Long-Run Economic Growth. Chicago: University of Chicago Press.

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



Gerschenkron, Alexander (1970). Europe in the Russian Mirror. New York: Cambridge University Press.

Ghani, Ashraf, and Clare Lockhart (2008). Fixing Failed
States: A Framework for Rebuilding a Fractured World. New York: Oxford University Press.

Gibson, Charles (1963). The Aztecs Under Spanish
Rule. New York: Cambridge University Press.

Goldstein, Marcus, and Christopher Udry (2008). "The
Profits of Power: Land Rights and Agricultural Investment in Ghana." Journal of Political Economy 116: 981–1022.

Goldsworthy, Adrian K. (2009). HowRome Fell: Death
of a Superpower. New Haven, Conn.: Yale University Press.

Goody, Jack (1971). Technology, Tradition and the State
in Africa. New York: Cambridge University Press.

Gregory, Paul R., and Mark Harrison (2005). "Allocation Under Dictatorship: Research in Stalin's Archives." Journal
of Economic Literature 43: 721–61.

Grieb, Kenneth J. (1979). Guatemalan Caudillo: The Regime of Jorge Ubico, 1931–1944. Athens: Ohio University Press.

Gross, Nachum T. (1973). "The Habsburg Monarchy,
1750–1914." In Carlo M. Cipolla, ed. The Fontana Economic History of Europe. Glasgow, U.K.: William
Collins Sons and Co.

Guiso, Luigi, Paola Sapienza, and Luigi Zingales
(2006). "Does Culture Affect Economic Outcomes?"
Journal of Economic Perspectives 20: 23–48.

Haber, Stephen H. (2010). "Politics, Banking, and
Economic Development: Evidence from New World
Economies." In Jared Diamond and James A. Robinson,
eds. Natural Experiments of History. Cambridge, Mass.: Belknap Press of Harvard University Press.

Haber, Stephen H., Herbert S. Klein, Noel Maurer, and
Kevin J. Middlebrook (2008). Mexico Since 1980. New

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



York: Cambridge University Press.
Haber, Stephen H., Noel Maurer, and Armando Razo (2003). The Politics of Property Rights: Political Instability, Credible Commitments, and Economic Growth in Mexico, 1876–1929. New York: Cambridge University Press.
Haggard, Stephan (1990). Pathways from the Periphery: The Politics of Growth in the Newly Industrializing Countries. Ithaca, N.Y.: Cornell University Press.
Halliday, Fred, and Maxine Molyneux (1981). The Ethiopian Revolution. London: Verso.
Hanna, Willard (1978). Indonesian Banda: Colonialism and Its Aftermath in the Nutmeg Islands. Philadelphia: Institute for the Study of Human Issues.
Harding, Harry (1987). China's Second Revolution: Reform After Mao. Washington, D.C.: Brookings Institution Press.
Harrison, Lawrence E., and Samuel P. Huntington, eds. (2000). Culture Matters: HowValues Shape Human Progress. New York: Basic Books.
Hassig, Ralph C., and Kongdan Oh (2009). The Hidden People of North Korea: Everyday Life in the Hermit Kingdom. Lanham, Md.: Rowman and Littlefield Publishers.
Hatcher, John (2008). The Black Death: A Personal History. Philadelphia: Da Capo Press.
Heath, Dwight (1972). "New Patrons for Old: Changing Patron-Client Relations in the Bolivian Yungas." In Arnold Strickton and Sidney Greenfield, eds. Structure and Process in Latin America. Albuquerque: University of New Mexico Press.
Heinicke, Craig (1994). "African-American Migration and Mechanized Cotton Harvesting, 1950–1960." Explorations in Economic History 31: 501–20.
Helmke, Gretchen (2004). Courts Under Constraints:

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



Judges, Generals, and Presidents in Argentina. New York: Cambridge University Press.

Hemming, John (1983). The Conquest of the Incas. New York: Penguin Books.

Herbst, Jeffrey I. (2000). States and Power in Africa. Princeton, N.J.: Princeton University Press.

Hill, Christopher (1961). The Century of Revolution, 1603–1714. New York: W. W. Norton and Co.

——(1980). "A Bourgeois Revolution?" In Lawrence Stone, ed. The British Revolutions: 1641, 1688, 1776. Princeton, N.J.: Princeton University Press.

Hilton, Anne (1985). The Kingdom of Kongo. New York: Oxford University Press.

Hilton, Rodney (2003). Bond Men Made Free: Medieval Peasant Movements and the English Rising of 1381. 2nd ed. New York: Routledge.

Hirst, John B. (1983). Convict Society and Its Enemies: A History of Early New South Wales. Boston: Allen and Unwin.

——(1988). The Strange Birth of Colonial Democracy: NewSouth Wales, 1848–1884. Boston: Allen and Unwin.

——(2003). Australia's Democracy: A Short History. London: Allen and Unwin.

Hopkins, Anthony G. (1973). An Economic History of West Africa. New York: Addison Wesley Longman.

Hopkins, Keith (1980). "Taxes and Trade in the Roman Empire, 200 BC–400 AD." Journal of Roman Studies LXX: 101–25.

Horrox, Rosemary, ed. (1994). The Black Death. New York: St. Martin's Press.

House of Commons (1904). "Papers Relating to the Construction of Railways in Sierra Leone, Lagos and the Gold Coast."

Hu-DeHart, Evelyn (1984). Yaqui Resistance and

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



Survival: The Struggle for Land and Autonomy, 1821–1910. Madison: University of Wisconsin Press.

Iaryczower, Matías, Pablo Spiller, and Mariano Tommasi (2002). "Judicial Independence in Unstable Environments: Argentina 1935–1998." American Journal of Political Science 46: 699–716.

Inikori, Joseph (1977). "The Import of Firearms into West Africa, 1751–1807." Journal of African History 18: 339–68.

International Crisis Group (2005). "Uzbekistan: The Andijon Uprising," Asia Briefing No. 38, www.crisisgroup.org/en/regions/asia/centralasia/uzbekistan/B038-uzbekistan-the-andijonuprising.aspx.

Israel, Paul (2000). Edison: A Life of Invention. Hoboken, N.J.: John Wiley and Sons.

Iwata, Masakazu (1964). Ōkubo Toshimichi: The Bismarck of Japan. Berkeley: University of California Press.

Jackson, Michael (2004). In Sierra Leone. Durham, N.C.: Duke University Press.

Jansen, Marius B. (2000). The Making of Modern Japan. Cambridge, Mass.: Harvard University Press.

Jászi, Oscar (1929). The Dissolution of the Habsburg Monarchy. Chicago: University of Chicago Press.

Johnson, Chalmers A. (1982). MITI and the Japanese Miracle: The Growth of Industrial Policy, 1925–1975. Palo Alto, Calif.: Stanford University Press.

Jones,A.M.H. (1964). The Later Roman Empire. Volume 2. Oxford, U.K.: Basil Blackwell.

Jones, Eric L. (2003). The European Miracle: Environments, Economies and Geopolitics in the History of Europe and Asia. 3rd ed. New York: Cambridge University Press.

Jongman, Willem M. (2007). "Gibbon Was Right: The Decline and Fall of the Roman Economy." In O. Hekster et

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



al., eds. Crises and the Roman Empire. Leiden, the Netherlands: BRILL.

Josephson, Matthew (1934). The Robber Barons. Orlando, Fla.: Harcourt.

Kandiyoti, Deniz (2008). "Invisible to the World? The Dynamics of Forced Child Labour in the Cotton Sector of Uzbekistan." Unpublished. School of Oriental and Africa Studies.

Kapuściński, Ryszard (1983). The Emperor: Downfall of an Autocrat. San Diego: Harcourt Brace Jovanovich.

Keck, Margaret E. (1992). The Workers' Party and Democratization in Brazil. New Haven, Conn.: Yale University Press.

Keen, David (2005). Conflict and Collusion in Sierra Leone. New York: Palgrave Macmillan.

Kelley, Jonathan, and Herbert S. Klein (1980). Revolution and the Rebirth of Inequality: A Theory of Inequality and Inherited Privilege Applied to the Bolivian National Revolution. Berkeley: University of California Press.

Keyssar, Alexander (2009). The Right to Vote: The Contested History of Democracy in the United States. Revised Edition. New York: Basic Books.

Killick, Tony (1978). Development Economics in Action. London: Heinemann.

Knight, Alan (2011). Mexico: The Nineteenth and Twentieth Centuries. New York: Cambridge University Press.

Knights, Mark (2010). "Participation and Representation Before Democracy: Petitions and Addresses in Premodern Britain." In Ian Shapiro, Susan C. Stokes, Elisabeth Jean Wood, and Alexander S. Kirshner, eds. Political Representation. New York: Cambridge University Press.

Kropotkin, Peter (2009). Memoirs of a Revolutionary. New York: Cosimo.

Kupperman, Karen O. (2007). The Jamestown Project. Cambridge, Mass.: Belknap Press of Harvard University Press.

Landes, David S. (1999). The Wealth and Poverty of

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



Nations: Why Some Are So Rich and Some So Poor. New York: W. W. Norton and Co.

Lane, Frederick C. (1973). Venice: A Maritime Republic .
Baltimore, Md.: Johns Hopkins University Press.

La Porta, Rafael, Florencio Lopez-de-Silanes, and
Andrei Shleifer (2008). "The Economic Consequences of
Legal Origins." Journal of Economic Literature 46: 285–
332.

Law, Robin C. (1977). The Empire, c.1600–c.1836: West
African Imperialism in the Era of the Atlantic Slave Trade. Oxford, UK: The Clarendon Press.

——(1980). "Wheeled Transportation in Pre-Colonial West
Africa." Africa 50: 249–62.

——, ed. (1995). From Slave Trade to "Legitimate" Commerce: The Commercial Transition in Nineteenthcentury
West Africa. New York: Cambridge University
Press.

Leith, Clark J. (2005). Why Botswana Prospered. Montreal: McGill University Press.

Lenger, Friedrich (2004). "Economy and Society." In
Jonathan Sperber, ed. The Shorter Oxford History of
Germany: Germany 1800–1870. New York: Oxford
University Press.

León, Juanita (2009). Country of Bullets: Chronicles of
War. Albuquerque: University of New Mexico Press.

Lerner, Abba P. (1972) . "The Economics and Politics of
Consumer Sovereignty." American Economic Review 62:
258–66.

Levy, David M., and Sandra J. Peart (2009). "Soviet
Growth and American Textbooks." Unpublished.

Lewis, I. M. (1961). A Pastoral Democracy. Oxford, U.K.: Oxford University Press.

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



——(2002). A Modern History of the Somali. 4th ed. Oxford, U.K.: James Currey.

Lewis, W. Arthur (1954). "Economic Development with Unlimited Supplies of Labour." Manchester School of Economic and Social Studies 22: 139–91.

Lindert, Peter H. (2004). Growing Public. Volume 1: Social Spending and Economic Growth Since the Eighteenth Century. New York: Cambridge University Press.

——(2009). Growing Public. Volume 2: Further Evidence: Social Spending and Economic Growth Since the Eighteenth Century. New York: Cambridge University Press.

Lipset, Seymour Martin (1959). "Some Social Requisites of Democracy: Economic Development and Political Legitimacy." American Political Science Review 53: 69–105.

Lipset, Seymour Martin, and Stein Rokkan, eds. (1967). Party System and Voter Alignments. New York: Free Press.

López, Claudia, ed. (2010). Y Refundaron la Patria … de cómo mafiosos y políticos reconfiguraron el Estado Colombiano. Bogotá: Corporación Nuevo Arco Iris: Intermedio.

Lovejoy, Paul E. (2000). Transformations in Slavery: A History of Slavery in Africa. 2nd ed. New York: Cambridge University Press.

MacFarquhar, Roderick, and Michael Schoenhals (2008). Mao's Last Revolution. Cambridge, Mass.: Harvard University Press.

Mann, Michael (1986). The Sources of Social Power. Volume 1: A History of Power from the Beginning to A.D. 1760. New York: Cambridge University Press.

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



——(1993). The Sources of Social Power. Volume 2: The Rise of Classes and Nation-states, 1760–1914. New York: Cambridge University Press.

Manning, Patrick (1990). Slavery and African Life: Occidental, Oriental, and African Slave Trades. New York: Cambridge University Press.

Mantoux, Paul (1961). The Industrial Revolution in the Eighteenth Century. Rev. ed. New York: Harper and Row.

Martin, Simon, and Nikolai Grube (2000). Chronicle of

Martin, Simon, and Nikolai Grube (2000).

the Maya Kings and Queens: Deciphering the Dynasties of the Ancient Maya. New York: Thames and Hudson.

Martinez, José (2002). Carlos Slim: Retrato Inédito. Mexico City: Editorial Oceano.

Masire, Quett K. J. (2006). Very Brave or Very Foolish? Memoirs of an African Democrat. Gaborone, Botswana: Macmillan.

McCreery, David J. (1994). Rural Guatemala, 1760–1940. Palo Alto, Calif.: Stanford University Press.

McGregor, Richard (2010). The Party: The Secret World of China's Communist Rulers. New York: Harper.

McMillan, John, and Pablo Zoido (2004). "How to Subvert Democracy: Montesinos in Peru." Journal of Economic Perspectives 18: 69–92.

Melbourne, Alexander C. V. (1963). Early Constitutional Development in Australia: NewSouth Wales 1788–1856; Queensland 1859–1922. With notes to 1963 by the editor. Edited and introduced by R. B. Joyce. 2nd ed. St. Lucia: University of Queensland Press.

Meredith, Martin (2007). Mugabe: Power, Plunder, and the Struggle for Zimbabwe's Future. New York: Public Affairs Press.

Michels, Robert (1962). Political Parties: A Sociological Study of the Oligarchical Tendencies of Modern Democracy. New York: Free Press.

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



Mickey, Robert W. (2008). Paths out of Dixie: The Democratization of Authoritarian Enclaves in America's Deep South, 1944–1972. Unpublished book manuscript.

Migdal, Joel S. (1988). Strong Societies and Weak States: State-Society Relations and State Capabilities in the Third World. Princeton, N.J.: Princeton University Press.

Mithen, Stephen (2006). After the Ice: A Global Human History 20,000–5000 BC. Cambridge, Mass.: Harvard University Press.

Mokyr, Joel (1990). The Lever of Riches: Technological Creativity and Economic Progress. New York: Oxford University Press.

——(2009). The Enlightened Economy. New York: Penguin.

Moore, Andrew M. T., G. C. Hillman, and A. J. Legge (2000). Village on the Euphrates: From Foraging to Farming at Abu Hureyra. New York: Oxford University Press.

Morgan, Edmund S. (1975). American Slavery, American Freedom: The Ordeal of Colonial Virginia. New York: W. W. Norton and Co.

Munro-Hay, Stuart C. (1991). Aksum: An African Civilisation of Late Antiquity. Edinburgh: Edinburgh University Press.

Myers, Ramon H., and Yeh-Chien Wang (2002). "Economic Developments, 1644–1800." In Willard J. Peterson, ed. The Cambridge History of China. Volume 9, Part 1: The Ch'ing Empire to 1800. New York: Cambridge University Press.

Naidu, Suresh (2009). "Suffrage, Schooling, and Sorting in the Post-Bellum South." Unpublished. Department of Economics, Columbia University. Available at tuvalu.santafe.edu/~snaidu/papers/suffrage_sept_16_2010_combined.pdf.

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



Narayan, Deepa, ed. (2002). Empowerment and Poverty Reduction: A Sourcebook. Washington, D.C.: The World Bank.

Neal, David (1991). The Rule of Lawin a Penal Colony. New York: Cambridge University Press.

Neale, J. E. (1971). Elizabeth I and Her Parliaments, 1559–1581. London: Cape.

Nogal, C. Álvarez, and Leandro Prados de la Escosura (2007). "The Decline of Spain (1500–1850): Conjectural Estimates." European Review of Economic History 11: 319–66.

North, Douglass C. (1982). Structure and Change in Economic History. New York: W. W. Norton and Co.

North, Douglass C., and Robert P. Thomas (1973). The Rise of the Western World: A NewEconomic History. New York: Cambridge University Press.

North, Douglass C., John J. Wallis, and Barry R. Weingast (1989). Violence and Social Orders: A Conceptual Framework for Interpreting Recorded Human History. Princeton, N.J.: Princeton University Press.

North, Douglass C., and Barry R. Weingast (1989). "Constitutions and Commitment: Evolution of Institutions Governing Public Choice in 17th Century England." Journal of Economic History 49: 803–32.

Nove, Alec (1992). An Economic History of the USSR 1917–1991. 3rd ed. New York: Penguin Books.

Nugent, Jeffrey B., and James A. Robinson (2010). "Are Endowments Fate? On the Political Economy of Comparative Institutional Development." Revista de Historia Económica (Journal of Iberian and Latin American Economic History) 28: 45–82.

Nunn, Nathan (2008). "The Long-Term Effects of Africa's Slave Trades." Quarterly Journal of Economics 123: 139–76.

Nunn, Nathan, and Leonard Wantchekon (2011). "The

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



Slave Trade and the Origins of Mistrust in Africa," forthcoming in the American Economic Review.

O'Brien, Patrick K., Trevor Griffiths, and Philip Hunt (1991). "Political Components of the Industrial Revolution: Parliament and the English Cotton Textile Industry, 1660–1774." Economic History Review, New Series 44: 395–423.

Ogilvie, Sheilagh (2011). Institutions and European Trade: Merchant Guilds 1000–1500. New York: Cambridge University Press.

Olson, Mancur C. (1984). The Rise and Decline of Nations: Economic Growth, Stagflation, and Social Rigidities. New Haven, Conn.: Yale University Press.

O'Rourke, Kevin H., and Jeffrey G. Williamson (2002). "After Columbus: Explaining the Global Trade Boom 1500–1800." Journal of Economic History 62: 417–56.

Owen, E. Roger (1981). The Middle East in the World Economy, 1800–1914. London: Methuen and Co.

Owen, E. Roger, and Şevket Pamuk (1999). A History of Middle East Economies in the Twentieth Century. Cambridge, Mass.: Harvard University Press.

Owen, Thomas C. (1991). The Corporation Under Russian Law, 1800–1917. New York: Cambridge University Press.

Palmer, Robin H. (1977). Land and Racial Domination in Rhodesia. Berkeley: University of California Press.

Palmer, Robin H., and Q. Neil Parsons, eds. (1977). The Roots of Rural Poverty in Central and Southern Africa. London: Heinemann Educational.

Pamuk, Şevket (2006). "Estimating Economic Growth in the Middle East Since 1820." Journal of Economic History 66: 809–28.

Pan, Philip P. (2008). Out Of Mao's Shadow: The Struggle for the Soul of a NewChina. New York: Simon &

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



Schuster.
Pankhurst, Richard (1961). An Introduction to the Economic History of Ethiopia, from Early Times to 1800. London: Lalibela House.
Parsons, Q. Neil (1998). King Khama, Emperor Joe and the Great White Queen. Chicago: University of Chicago Press.
Parsons, Q. Neil, Willie Henderson, and Thomas Tlou (1995). Seretse Khama, 1921–1980. Bloemfontein, South Africa: Macmillan.
Perkins, Dwight H., Steven Radelet, and David L. Lindauer (2006). Development Economics. 6th ed. New York: W. W. Norton and Co.
Pettigrew, William (2007). "Free to Enslave: Politics and the Escalation of Britain's Transatlantic Slave Trade, 1688–1714." William and Mary Quarterly, 3rd ser., LXIV: 3–37.
——(2009). "Some Underappreciated Connections Between Constitutional Change and National Economic Growth in England, 1660–1720." Unpublished paper. Department of History, University of Kent, Canterbury.
Phillipson, David W. (1998). Ancient Ethiopia: Aksum, Its Antecedents and Successors. London: British Museum Press.
Pincus, Steven C. A. (2009). 1688: The First Modern Revolution. New Haven, Conn.: Yale University Press.
Pincus, Steven C. A., and James A. Robinson (2010). "What Really Happened During the Glorious Revolution?" Unpublished. http://scholar.harvard.edu/jrobinson.
Pintner, Walter M. (1967). Russian Economic Policy Under Nicholas I. Ithaca, N.Y.: Cornell University Press.
Post, Jerrold M. (2004). Leaders and Their Followers in a Dangerous World: The Psychology of Political Behavior. Ithaca, N.Y.: Cornell University Press.

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



Price, David A. (2003). Love and Hate in Jamestown:
John Smith, Pocahontas, and the Heart of a NewNation. New York: Knopf.
Puga, Diego, and Daniel Trefler (2010). “International
Trade and Domestic Institutions: The Medieval Response
to Globalization.” Unpublished. Department of Economics, University of Toronto.
Putnam, Robert H., Robert Leonardi, and Raffaella Y. Nanetti (1994). Making Democracy Work: Civic
Traditions in Modern Italy. Princeton, N.J.: Princeton University Press.
Ransom, Roger L., and Richard Sutch (2001). One
Kind of Freedom: The Economic Consequences of
Emancipation. 2nd ed. New York: Cambridge University
Press.
Reid, Anthony (1993). Southeast Asia in the Age of
Commerce, 1450–1680. Volume 2: Expansion and
Crisis. New Haven, Conn.: Yale University Press.
Reinikka, Ritva, and Jacob Svensson (2004). “Local
Capture: Evidence from a Central Government Transfer
Program in Uganda.” Quarterly Journal of Economics,
119: 679–705.
Relea, Francesco (2007). “Carlos Slim, Liderazgo sin Competencia.” In Jorge Zepeda Patterson, ed. Los amos
de México: los juegos de poder a los que sólo unos
pocos son invitados. Mexico City: Planeta Mexicana.
Reno, William (1995). Corruption and State Politics in
Sierra Leone. New York: Cambridge University Press.
——(2003). “Political Networks in a Failing State: The Roots and Future of Violent Conflict in Sierra Leone,” IPG
2: 44–66.
Richards, Paul (1996). Fighting for the Rainforest: War,
Youth and Resources in Sierra Leone. Oxford, U.K.:
James Currey.

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



Robbins, Lionel (1935). An Essay on the Nature and
Significance of Economic Science. 2nd ed. London: Macmillan.
Robinson, Eric (1964). "Matthew Boulton and the Art of
Parliamentary Lobbying." The Historical Journal 7: 209–
29.
Robinson, James A. (1998). "Theories of Bad Policy."
Journal of Policy Reform 1, 1–46.
Robinson, JamesA, and Q. Neil Parsons (2006). "State
Formation and Governance in Botswana." Journal of
African Economies 15, AERC Supplement (2006): 100–
140.
Rock, David (1992). Argentina 1516–1982: From
Spanish Colonization to the Falklands War. Berkeley: University of California Press.
Romero, Mauricio (2003). Paramilitares y autodefensas,
1982–2003. Bogotá: Editorial Planeta Colombiana.
— —, ed. (2007). Para Política: La Ruta de la Expansión
Paramilitar y los Acuerdos Políticos, Bogotá: Corporación Nuevo Arco Iris: Intermedio.
Sachs, Jeffery B. (2006). The End of Poverty: Economic
Possibilities for Our Time. New York: Penguin.
Sahlins, Marshall (1972). Stone Age Economics. Chicago: Aldine.
Saunders, David (1992). Russia in the Age of Reaction
and Reform, 1801–1881. New York: Longman.
Savage-Smith, Emily (2003). "Islam." In Roy Porter, ed.
The Cambridge History of Science. Volume 4: Eighteenth-Century Science.
New York: Cambridge University Press.
Sawers, Larry (1996). The Other Argentina: The Interior
and National Development. Boulder: Westview Press.
Schapera, Isaac (1940). "The Political Organization of the Ngwato of
Bechuanaland Protectorate." In E. E. EvansPritchard
and Meyer Fortes, eds. African Political
Systems. Oxford, U.K.: Oxford University Press.

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



——(1952). The Ethnic Composition of the Tswana Tribes. London: London School of Economics and Political Science.

——(1970). Tribal Innovators: Tswana Chiefs and Social Change 1795–1940. London: The Athlone Press.

Schoenhals, Michael, ed. (1996). China's Cultural Revolution, 1966–1969. Armonk, N.Y.: M.E. Sharpe.

Sfakianakis, John (2004). "The Whales of the Nile: Networks, Businessmen and Bureaucrats During the Era of Privatization in Egypt." In Steven Heydemann, ed. Networks of Privilege in the Middle East. New York: Palgrave Macmillan.

Sharp, Kevin (1992). The Personal Rule of Charles I. New Haven, Conn.: Yale University Press.

Sheridan, Richard B. (1973). Sugar and Slaves: An Economic History of the British West Indies 1623–1775. Baltimore, Md.: Johns Hopkins University Press.

Sidrys, Raymond, and Rainer Berger (1979). "Lowland Maya Radiocarbon Dates and the Classic Maya Collapse." Nature 277: 269–77.

Smith, Bruce D. (1998). Emergence of Agriculture. New York: Scientific American Library.

Sokoloff, Kenneth L. (1988). "Inventive Activity in Early Industrial America: Evidence from Patent Records, 1790–1846." Journal of Economic History 48: 813–30.

Sokoloff, Kenneth L., and B. Zorina Khan (1990). "The Democratization of Invention During Early Industrialization: Evidence from the United States, 1790–1846." Journal of Economic History 50: 363–78.

Steffens, Lincoln (1931). The Autobiography of Lincoln Steffens. New York: Harcourt, Brace and Company.

Stevens, Donald F. (1991). Origins of Instability in Early Republican Mexico. Durham, N.C.: Duke University Press.

Stone, Lawrence (2001). The Causes of the English

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



Revolution, 1529–1642. New York: Routledge.
Tabellini, Guido (2010). "Culture and Institutions:
Economic Development in the Regions of Europe." Journal
of the European Economic Association 8, 677–716.
Tarbell, Ida M. (1904). The History of the Standard Oil
Company. New York: McClure, Phillips.
Tawney, R. H. (1941). "The Rise of the Gentry." Economic History
Review11: 1–38.
Temin, Peter, and Hans-Joachim Voth (2008). "Private
Borrowing During the Financial Revolution: Hoare's Bank
and Its Customers, 1702–24." Economic History Review
61: 541–64.
Thompson, E. P. (1975). Whigs and Hunters: The Origin
of the Black Act. New York: Pantheon Books.
Thompson, I.A.A. (1994a). "Castile: Polity, Fiscality and
Fiscal Crisis." In Philip T. Hoffman and Kathryn Norberg,
e d s . Fiscal Crisis, Liberty, and Representative Government 1450–1789.
Palo Alto, Calif.: Stanford
University Press.
——(1994b). "Castile: Absolutism, Constitutionalism and
Liberty." In Philip T.
Hoffman and Kathryn Norberg, eds. Fiscal Crisis, Liberty,
and Representative Government 1450–1789. Palo Alto,
Calif.: Stanford University Press.
Thornton, John (1983). The Kingdom of Kongo: Civil
War and Transition, 1641–1718. Madison: University of
Wisconsin Press.
Todkill, Anas (1885). My Lady Pocahontas: A True Relation of Virginia.
Writ by Anas Todkill, Puritan and
Pilgrim. Boston: Houghton, Mifflin and Company.
Truth and Reconciliation Commission (2004). Final
Report of the Truth and Reconciliation Commission of
Sierra Leone. Freetown.

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*

***Downloaded By: Afghan Salar Library***



Vansina, Jan (1978). The Children of Woot: A History of the Kuba People. Madison: University of Wisconsin Press.

Wade, Robert H. (1990). Governing the Market: Economic Theory and the Role of Government in East Asian Industrialization. Princeton, N.J.: Princeton University Press.

Wallerstein, Immanuel (1974–2011). The Modern World System. 4 Vol. New York: Academic Press.

Ward-Perkins, Bryan (2006). The Fall of Rome and the End of Civilization. New York: Oxford University Press.

Weber, Max (2002). The Protestant Ethic and the Spirit of Capitalism. New York: Penguin.

Webster, David L. (2002). The Fall of the Ancient Maya. New York: Thames and Hudson.

Webster, David L., Ann Corinne Freter, and Nancy Gonlin (2000). Copan: The Rise and Fall of an Ancient Maya Kingdom. Fort Worth, Tex.: Harcourt College Publishers.

Wheatcroft, Stephen G., and Robert W. Davies (1994a). "The Crooked Mirror of Soviet Economic Statistics." In Robert W. Davies, Mark Harrison, and Stephen G. Wheatcroft, eds. The Economic Transformation of the Soviet Union, 1913–1945. New York: Cambridge University Press.

——(1994b). "Population." In Robert W. Davies, Mark Harrison, and Stephen G. Wheatcroft, eds. The Economic Transformation of the Soviet Union, 1913–1945. New York: Cambridge University Press.

Wiener, Jonathan M. (1978). Social Origins of the New South: Alabama, 1860–1885. Baton Rouge: Louisiana State University Press.

Williamson, John (1990). Latin American Adjustment: HowMuch Has Happened? Washington, D.C.: Institute of International Economics.

Wilson, Francis (1972). Labour in the South African Gold

***Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/***

*Downloaded By: Afghan Salar Library*



Mines, 1911–1969. New York: Cambridge University Press.

Wilson, Woodrow (1913). The NewFreedom: A Call for the Emancipation of the Generous Energies of a People. New York: Doubleday.

Woodward, C. Vann (1955). The Strange Career of Jim Crow. New York: Oxford University Press.

Woodward, Ralph L. (1966). Class Privilege and Economic Development: The Consulado de Comercio of Guatemala, 1793–1871. Chapel Hill: University of North Carolina Press.

Wright, Gavin (1978). The Political Economy of the Cotton South: Households, Markets, and Wealth in the Nineteenth Century. New York: Norton.

——(1986). Old South, New South: Revolutions in the Southern Economy Since the Civil War. New York: Basic Books.

——(1999). "The Civil Rights Movement as Economic History." Journal of Economic History 59: 267–89.

Zahedieh, Nuala (2010). The Capital and the Colonies: London and the Atlantic Economy, 1660–1700. New York: Cambridge University Press.

Zewde, Bahru (2002). History of Modern Ethiopia, 1855–1991. Athens: Ohio University Press.

Zohary, Daniel, and Maria Hopf (2001). Domestication of Plants in the Old World: The Origin and Spread of Cultivated Plants in West Asia, Europe, and the Nile Valley Third Edition, New York: Oxford University Press.

*Facebook:https://www.facebook.com/groups/1822812871297698/*